کشف الباری
عما فی
صحیح البخاری
تصنیف

کشف الباری

عما فی

صحیح البخاری

تالیف ← صدر وفاق المدارس مولانا سلیم اللہ خان شیخ الحدیث
جامعہ فاروقیہ کراچی

کتاب الحیض

خصوصیات

جلد ١٨

- د احادیثو تخریج
- د تعلیقات بخاری تخریج
- د اسماء الرجال مختصر تعارف
- د گرانو لغاتو لغوی صرفی او نحوی حل
- ماقبل باب سره د ربط پوره تحقیق
- د شرحی دهري خبري لاندي په حاشیه کښي حواله
- د ترجمة الباب مقصد بیانولو کښي پوره تحقیق
- د مختلفو مذاهبو تحقیقی بیان او بیا د مذهب حنفی ترجیح
- د بخاری د احادیثو اطراف خودل

خورونکی: ← فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور
موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵ .... ۰۳۱۵۹۵۹۵۷۱۷

دکتاب نوم:- کشف الباری عما فی صحیح البخاری

شارح:- صدر وفاق المدارس مولانا سلیم الله خان

شیخ الحدیث جامعه فاروقیه کراچئ

د ملاويدو پتې: د فيصل کتب خانه پېښور څخه علاوه

- رحیمی کتب خانه خوست -- ۰۷۹۹۱۶۱۳۱۳
- اسلامی کتب خانه خوست --
- دیوبند کتب خانه خوست -- ۰۷۹۹۸۸۶۶۸۰
- روغانیول کتب خانه جلال آباد
- دعوت کتب خانه جلال آباد -- ۰۷۷۶۰۹۷۹۶۵
- رشیدیه جدید کتب خانه کابل
- انتشارات نعمانیه کابل
- انتشارات علامه تفتازانی کابل -- ۰۷۷۷۴۹۰۵۰۰
- قدرت کتب خانه کابل --
- واحدی کتب خانه خوست
- صداقت کتب خانه کابل -- ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷
- مکتبة القرآن والسنة کابل
- مکتبه صدیقیه غزنی
- مکتبه فریدیه خوست
- مسلم کتب خانه جلال اباد -- ۰۷۷۶۰۰۶۴۱۶
- غزنوی کتب خانه غزنی -- ۰۷۴۸۵۷۵۱۹۹

خورونکی: ← فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور

موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵ .... ۰۳۱۵۹۵۹۵۸۱۷

بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رب العالمين، على ما أنعم ويسر، فهو ولى كل خير، إليه يرجع كل فضل، وهو الذى بنعمته تتم الصالحات، وبتيسيره يصل العبد الضعيف إلى الفضائل والمكرمات، والصلوات الناميات الزاكيات، والتسليمات المباركات على سيدنا ومولانا محمد سيد السادات، صاحب المعجزات الباهرات، والكلمات العاليات، الدرجات الرفيعات.

وصلى الله وسلم وبارك عليه وعلى آله وأصحابه واتباعه إلى يوم الدين، وحشرنا ووالدينا ومشائخنا وذريتنا وكل من له حق علينا تحت لواء الحمد، يوم لاينفع مال ولابنون إلامن أتى الله بقلب سليم.

وبعد:

الله تعالى چې كوم برزګان دخپل دين د خدمت دپاره منتخب كړى دى په هغوى كښې يو شخصيت شيخ الحديث استاذ العلماء حضرت مولانا سليم الله خان صاحب دامت بركاتهم هم دې.دحضرت شيخ الحديث سليم الله خان دامت بركاتهم دينى خدمات د چا څخه پټ پناه نه دى.په دې خدماتو كښې يو خدمت د علم حديث سره تعلق ساتى.كوم چې يو طرف ته د تدريس په صورت كښې د شپې او ورځې خوريږى.او بل طرف ته د تاليف او تصنيف په صورت كښې هم جارى او سارى دې.هم د دې سلسلې په زنزير كښې يوه كړۍ د صحيح البخارى يوه عظيم الشانه شرح ،،كشف البارى عما فى صحيح البخارى ،،هم ده. د كومې چې تراوسه پورې چاپ شوو پنځلو جلدونو كښې د صحيح البخارى د دويم جلد شرح كافى حده پورې شوې ده او د اولنى جلد د څه حصې شرح منظر عام ته راغلې ده.

د تخصص فى الفقه د فراغت څخه پس احقر ته هم د حضرت شيخ الحديث دامت بركاتهم په تقرير باندې د كاركولو موقع ملاؤ شوه.په دې سلسله كښې احقر ته د كتاب الحيض د تحقيق او مراجعت كار حواله كړې شوې وو.اګرچه د خپلې كم علمۍ او د تاليف او تصنيف سره د كم مناسبت په وجه دې عظيم خدمت ته تياريدل يوه مشكله مرحله (ګرځ) وه.خوهركله چې عزتمندو استاذانو خاص كر قدرمند او مشفق او مربى حضرت مولانا محمد يوسف افشانى صاحب زيد مجده راته داډ ګيرنه راكړه نو احقر د الله تعالى په ذات باندې بهروسه او كړه او دې خدمت ته په ذهن او زړه سره تيار شو.

نود حضرت شيخ الحديث صاحب دامت بركاتهم په حكم سره د حضرت الاستاذ مولانا نور البشر صاحب دامت فيوضهم په سرپرستۍ كښې مې كار شروع كړه.اولګ بګ درې كاله د شپې او

ورځې محنت،اود تحقيق اوترتيب اومراجعت دمختلفومراحلوڅخه تيريدوڅخه پس نن د الله تعالی په فضل سره داكارچهاپ شواومنظرعام ته راغلو.

كتاب الحيض ټول په ديرشويابونو باندې مشتمل دې.په دې ديرشويابونوكښې ټول۴۷ احاديث دی.په دې ۴۷ احاديثوكښې ۳۴ احاديث مرفوع دی اوباقی ديارلس (۱۳) تعليقات دی.دغه شان په كتاب الحيض كښې د حضرات صحابه كراموتابعينو ۱۵آثارهم مروی دی.

الحمد لله د ټولويابوپه شرح كښې د هغه خبروخيال ساتلې شوې دې دكومواهتمام چې په مخكنو جلدونوكښې شوې وو.لكه دهرباب دسابقه باب سره مناسبت، دترجمة الباب مقصد ،دهريوحديث اوهريوتعليق دترجمة الباب سره مناسبت، درجال حديث تراجم اوتعليق، دلغاتوحل، اود عربی عباراتونوترجمه اومفهوم وغيره.

حضرت شيخ الحديث دامت بركاتهم د بوډاتوب،اود زياتو مصروفياتواوسختې كمزورئ باوجود وخت په وخت كاركتلې دې.دقابل اصلاح ځايونوښودنه ئې راته كړې ده.اوپه كوموكومو ځايونوكښې چې د تصحيح ضرورت وونودهغې طرف ته ئې راته لارخودله ده.اوبيادحكم مطابق د هغه كارونو تصحيح ئې هم كړې ده.

دحيض ،نفاس اواستحاضه مسائل پيژندل ډيرزيات ضروری دی.ځكه چې دروښانه شريعت ډير بنيادی احكام لكه طهارت، مونځ، دكلام پاک تلاوت روژې ،اعتكاف،حج ،طواف اوعدت وغيره ،داټول احكام دحيض،نفاس اواستحاضه په مسائلو باندې موقوف دی. هم د دې وجې علامه شامی رحمه الله فرمائی چې د حيض ،نفاس او استحاضه مسائل زده كول ډير اهم او ضروری او د اهمو واجباتو څنی دی.او د دې علت دا دې چې د يو څيز د پيژندلو اهميت او ضروری كيدل د هغې څيز دنقصان نه پيژندلو په وجه وی او دا معلومه ده چې د حيض ،نفاس او استحاضه مسائلو نه پيژندلو نقصان اوضرر د نورو مسائلو نه پيژندلو د نقصان په نسبت ډير زيات دې.د دې وجې د دې مسئلو پيژندل د نورو مسئلود پيژندلو څخه زيات ضروری دی.[] حاشيه ابن عابدين (۴۷۴\۱)-

نود حيض ،نفاس او استحاضه د مسئلو د ضرورت او اهميت په وجه د دې مسائلو په آسان او سهل انداز كښې د بيش كولو اهتمام كړې شوې دې.اوخاص كر د استحاضه د بعضې ګرانو مسئلو چې څومره كيدې شوه د هغې د حل كولو كوشش شوې دې.

د كار پوره بروف ريډنګ (تصحيح) احقر په خپله كړې دې.او د كار كولو په دوران كښې چې په كوم مشكلات پيښيدل نو د هغې د حل دپاره راته د حضرت مولانا نور البشرصاحب دامت بركاتهم څخه علاوه د استاذ محترم حضرت مولانا عزيز الرحمن صاحب دامت بركاتهم او خاص

كړ د استاذ محترم حضرت مولانا حبيب الله زكريا صاحب دامت بركاتهم او د تصنيف او تاليف د شعبه د نورو ملګرو مدد او تعاون حاصل وو. استاذ الحديث ناظم اعلى جامعه فاروقيه حضرت مولانا عبيدالله صاحب زيد مجدهم كوم چې د شعبه تاليف وتصنيف مسؤل دې راسره د تصنيف ،تاليف تحقيق او مراجعت په دې محنت طلب او نازک کار کښې پوره تعاون كړې دې او په دې کښې چې د څومره وسائلو او اسبابو ضرورت پيښ شوې دې هغه ئې راته راكړې دى او وخت په وخت ئې قيمتي مشورې هم راكړې دى په دې باندې احقر د هغوى د زړه د كونى (بيخ) څخه ډير زيات مشكور او ممنون دې. الله تعالى دې دې ټولو حضراتو ته ډيرې ښې بدلې وركړى.

په آخر كښې د احقر د ټولو څخه اولنې خواست د اهل علم حضراتو څخه دا دې چې دا يو خاص قسم علمى كار دې د كوم دپاره چې په څو قسمه علومو كښې مهارت پكار دې. خو زۀ د دې صلاحيتونو څخه خالى يم د دې وجې كيدې شى چې د كار په ترتيب او تحقيق كښې د لاعلمئ په وجه څه خبرې پاتې شوى وى د دې وجې د عالمانو په خدمت كښې ډير په ادب او احترام سره خواست دې چې هغوى دې راته دغه په ګوته كړى انشاء الله زه د خپلو غلطو په اصلاح باندې خوشحاليږم. او مونږ به د دغه حضراتو ډير شكر ګذار يو.

دويم خواست د خاصو او عوامو څخه دا دې چې د حضرت شيخ الحديث دامت بركاتهم العاليه دپاره خصوصى دعاګانې كوئ چې الله تعالى دوى ته د صحت او عافيت سره اوږد عمر وركړى .حضرت شيخ الحديث حفظهم الله تعالى و رعاه د ژوند هر يو باب زمونږ دپاره د خپلولو او د تابعدارئ كولو نمونه ده. الله تعالى دې حضرت ته د ټولو ذمه واريانو څخه په ښه طريقه د فارغيدو توفيق وركړى

دعا ده چې الله تعالى دا كار د احقر مرتب دپاره او دده د استاذانو دپاره او د ده د مور پلار او متعلقينو دپاره او په دې كښې چې چا هر قسم مدد كړى وى د هغوى دپاره او د ټولو دوستانو دپاره د آخرت ذخيره او ګرځوى. آمين.

مبارك على بن محمد رياض

دجامعه فاروقيه كراچۍ د تاليف او تصنيف د شعبه استاذ او ملګرى

۱۲ ربيع الثانى ۱۴۳۵ هجرى مطابق ۲۲ فرورى ۲۰

اوزه احقر مترجم شاه فيصل بن نبى ګل ترې نن د خيالى په ورځ ۱۰ ذى القعده ۱۴۳۷ هجرى موافق ۱۳ اګست ۲۰۱۶ عيسوى فارغ شوم.

صفحه نمبر عنوانات

عنوانات	صفحه نمبر

صفحه نمبر عنوانات

عنوانات — صفحه نمبر

عنوانات **صفحه نمبر**

عنوانات | صفحه نمبر

صفحه نمبر عنوانات

عنوانات — صفحه نمبر

عنوانات	صفحه نمبر

عنوانات	صفحه نمبر

عنوانات	صفحه نمبر

عنوانات | صفحه نمبر

عنوانات | صفحه نمبر

عنوانات **صفحه نمبر**

عنوانات	صفحه نمبر

عنوانات	صفحه نمبر

عنوانات	صفحه نمبر

عنوانات | صفحه نمبر

عنوانات	صفحه نمبر

عنوانات | صفحه نمبر

عنوانات	صفحه نمبر

عنوانات | صفحه نمبر

عنوانات | صفحه نمبر

عنوانات	صفحه نمبر
قوله::إذا صلت	۳۵۸
قوله::الصلاة أعظم	۳۵۸
مستحاضه سره د جماع جواز د لزوم په طریقه	۳۵۹
دمذکوره اثر ترجمة الباب سره مناسبت	۳۵۹
الحدیث الأول	۳۵۹
ترجمه	۳۵۹
تراجم رجال	۳۶۰
شرح حدیث	۳۶۰
د حدیث ترجمة الباب سره مناسبت	۳۶۰
ماقبل سره ربط	۳۶۱
د ترجمة الباب مقصد:	۳۶۱
دعلامه عینی رحمه الله رائې	۳۶۱
دعلامه ابن بطال رحمه الله رائې	۳۶۱
دعلامه رشید احمد گنگوهی رحمه الله رائې	۳۶۱
د ابن منیر رحمه الله د ابن بطال رحمه الله په توجیه باندې نقد	۳۶۲
د ابن رشید رحمه الله د ابن منیر رحمه الله په توجیه باندې نقد	۳۶۲
د علامه عینی رحمه الله په دغه پورته ټولو توجیهاتو باندې نقد	۳۶۲
دشیخ الحدیث زکریا رحمه الله رائې	۳۶۳
د ترجمة الباب دویم جز	۳۶۳
الحدیث الأول	۳۶۴
ترجمه	۳۶۴
تراجم رجال	۳۶۴
شعبة	۳۶۹
حسین المعلم	۳۶۹
عبدالله بن یزید	۳۶۹
سمرة بن جندب	۳۷۱
قوله::أن امرأة	۳۷۴
قوله::ماتت في بطن	۳۷۴
یواشکال اودهغې جواب	۳۷۴
قوله::فقام وسطها	۳۷۴
دجنازې مونځ دامام دپاره د اودریدوځائې	۳۷۴
د مالکیه مذهب	۳۷۴

عنوانات — **صفحه نمبر**

فہرست اسماء الرجال المترجم لھم

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

کتاب الحَيْض

ماقبل سره ربط: امام بخاری رحمه الله د کتاب الغسل نه پس د کتاب الحیض ذکر فرمائی. چونکه دغسل جنابت تعلق د سړی اوښځې دواړو سره دې په دې وجه نې د غسل احکام اول ذکر کړل اوحیض د ښځو سره خاص دې په دې وجه دغسل نه پس اوس د حیض احکام ذکر کولې شی. [۱]

په ښځو راتلونکې وینه درې قسمه وی.[۲] ① حیض ② استحاضه ③ نفاس.

د لفظ حیض لغوی تحقیق: د حیض لغوی معنی سیلان یعنی بهیدل ده. چنانچه "حَاضَ السَّيلُ وفَاضَ" او "حَاضَ الوادي" هغه وئیلی شی کله چه اوبه په وادئی کښې اوبهیږی او "حَاضَتِ السَّمرةُ تَحِيضُ حَيضاً" هم هغه وخت وئیلی شی کله چه د کیکرد ونې نه سرې اوبه راوځی. دغه شان "حَاضَتِ المرأةُ تَحِيضُ حَيضاً ومَحَاضاً وحيضاً" هله وئیلی شی کله چه ښځې باندې د وینو راتلو په وختونو کښې وینه راشی.[۳]

امام زهری رحمه الله فرمائی چه حوض ته حوض هم ځکه وائی چه دهغې طرف ته اوبه رابهیږی.[۴]

او د یوقول مطابق د حیض لغوی معنی "الدمُ الخَارج" ده. چنانچه "حَاضَتِ الأرنب" هغه وخت وئیلی شی کله چه خرګوش یعنی سوې باندې وینه راشی.[۵] لیکن په دې دواړو اقوالوکښې تضاد نشته دې ځکه چه حیض دم خارج هم دې او په دې کښې صفت د سیلان یعنی د بهیدو صفت هم دې. حَاضَ، حَاصَ، جَاضَ اوحَادَ ټول هم د حیض په معنی کښې استعمالیږی.[۶]

قوله::الحَيْضِ بالفتح مصدرِ مره دې کوم ته چه مصدرِعدد هم وائی چه دهریوکار عدد بیانوی او دا فعل ثلاثی مجرد نه "فَعْلَةٌ" په فتح د فاء او سکون د عین په وزن باندې راځی لکه وقفت، وقفة ووقفتین ووقفات چه زه یوځل دوه ځل یا درې ځل نه زیات حصارشوم [۷] لهذا د حیضة معنی هم "المرةُ الواحدةُ" ده یعنی د یوځل وینه.[۸]

---

[۱]) فضل الباري: ۲/ ٤٢٤.
[۲]) الكفاية على هامش فتح القدير: ١٤٢/١.
[۳]) عمدة القاري: ٣٧٧/٣معارف السنن: ٤٦٩/١معجم الصحاح: ٢٧٨-٢٧٧.
[۴]) لسان العرب: ٤١٩/٣.
[۵]) عمدة القاري:٣٧٧/٣.
[۶]) عمدة القاري: ٣٧٧/٣لسان العرب: ٤١٩/٣معارف السنن: ٤٦٩/١.
[۷]) المغرب في ترتيب المعرب: ٢٣٧/١شرح ابن عقيل: ١٣٢/٣.
[۸]) معجم الصحاح ص: ٢٧٧مختار الصحاح ص:٩٣.

قوله:: الحِيضة په کسره سره، د حيض وينې ته هم وائی اود حيض چيرې ته هم يعنی کرسف ته وائی. چنانچه په حديث کښې دی چه حضرت عائشه رضي الله عنها به د تواضع په توګه فرمائيل:

((ليتني كنت حيضة ملقاة))

ترجمه: افسوس چه زه غورزيدونکي کپړه وې.ددې جمع الحِيض په کسره دحاء او فتح د ياء راځی.

قوله:: المِحيَضَة،په کسره دميم اوسکون د حاء،ددې معنی هم دحيض چيرې يعنی د کرسف دی ددې جمع محايض راځی.

په لفظ د حائض سره متعلق د علماء نحو اختلاف: لفظ حائض بغيرد تاء فصيح لغت دې او علامه جوهري رحمه الله د امام فراء رحمه الله نه نه حائضة په تاء سره هم نقل کړې دې.[1] د نحو دعلماؤ ددې لفظ باره کښې کافی اختلاف دې. چنانچه امام خليل رحمه الله فرمائی چه کله بالفعل وينه نه راځی نو داسې ښځې ته به حائض ونيلی شی اودا لفظ بالفعل د حيض وينه نه موجود کيدو د وجې نه حائضي (بمنزلة المنسوب إلى الحيض، يعنی: د حيض والا) په معنی کښې دې. لکه لفظ ذارع (زغره اغوستونکې) نابل (غشې ويشتونکې) تامر (د کهجورو والا) لابن (دپيرو پينووالا) طالق (طلاق شوې ښځه) طامث (د حيض والا ښځه) او قاعد (آئسه ښځه) وغيره هم دغه شان مستعمل دی.لهذا ددې قول مطابق "امرأة حائضة" به هغه وخت ونيلی شی کله چه په ښځه بالفعل وينه راځی. يعنی د قول تعبيرد فرق سره دامام زمخشر رحمه الله نه هم نقل دی. چنانچه هغوی هم لفظ حائض استعمال د غير حالت حيض دپاره خودلې دې او حائضة په تاء سره استعمال بالفعل په حيض کښې اخته ښځې دپاره خودلې دې.

يواشکال اودهغې جواب: په دې وجه امام زمخشری رحمه الله ددې اشکال په جواب کښې په قرآن پاك کښې لفظ "مرضعة" په تاء سره ولې استعمال شو؟ فرمائی چه مرضعة هغه ښځې ته وائی چه بالفعل پيئی ورکوی او په آيت مبارك کښې هم دغه معنی مراد ده خو مرضع د پينوورکونکې ښځه (چه بالفعل پيئی نه ورکوی) ته وائی.

امام سيبويه رحمه الله فرمائی چه دا لفظ دمذکرصفت دې اوهغه مذکر لفظ شئ، يا لفظ انسان، يا لفظ سړې وی يعنی شيئ حائض، أوإنسان حائض أو شخص حائض، لهذاددې قول مطابق "امرأة حائض" ونيل به صحيح نه وی اود کوفيانو مذهب دادې چه دا لفظ دعلامت دتانيث نه مستغنی دې ځکه چه دا صرف هم دمؤنث صفت واقع کيږی.(لهذا د دې قول مطابق "امرأة حائضة" ونيل به صحيح نه وی)ليکن دکوفيين په مذهب باندې نقض وارد کيږی اوهغه نقض دادې چه لفظ بَازِل (تجربه کار) او لفظ ضامر (نرې اومانده بدن والا) هم د حائض په وزن باندې دې مګر دا الفاظ مؤنث سره خاص نه دی بلکه د مذکر اومؤنث دواړو دپاره استعماليدې شی.چنانچه "جمل بازل" هم ونيلې شی او "ناقة بازل" هم ونيلی شی. دغه شان جمل ضامر هم ونيلی شی اوناقة ضامر هم ونيلی شی.[2]

---

[1] معجم الصحاح ص: ۲۷۷ مختارالصحاح ص:۹۳معارف السنن: ۱/ ٤۶۹.

[2] عمدة القاری: ۲۷۷، ۳/ ۳۸٤.

د حائض جمع حُيَّض او حَوَائِض راځي [۱] په ښځو کښې بچو نه پيدا کېدونکې او سوي باندې هم وينه راځي او د يو قول مطابق سپنې او ښه او چمچور کښې باندې هم وينه راځي. [۲]

د حيض وينې ته د حيض نه علاوه هم په نورو لسو نومونو سره تعبير کولې شي چنانچه حيض ته (الطّمث، العِراك، الضِحك، القُرء، الإعصار، الإكبار، الفِراك، الدِراس، الطَّمس او النفاس هم وائي. د حيض سره دا ټول يولس نومونه شو په دې کښې مشهور رومبنې شپږ دي. [۳]

دحيض شرعي تعريف: د حيض تعريف د شريعت په اصطلاح کښې دا دې: «دم صادر من رحم خارج من فرج داخل ولو حكماً بدون ولادة» [۴] يعني حيض هغه وينه ده چه بغير د ولادت ولد رحم نه شروع شي او د فرج داخل نه بهر راشي که حقيقتاً وي او که حکماً.

په تعريف کښې ذکرشوو قيودو اوفصولو فائدې: په مذکوره تعريف کښې د رحم نه مراد وعاء الولد يعني بچه دانۍ ده. ددې قيد فائده داده چه په دې سره استحاضه، نکسير، ددېرنه وتونکې وينه د زخم نه بهېدونکې وينه اود ولادت نه وړاندې راتلونکې وينه ټول خارج کيږي. ځکه چه د استحاضه وينه د رحم نه نه خارج کيږي بلکه د عازل نومې رګ نه خارج کيږي. [۵] دا رګ رحم سره نيزدې پورته طرف ته واقع کيږي. [۶]

ولادت نه وړاندې راتلونکې وينه اود مشهور قول موافق په صغيره باندې راتلونکې وينه هم استحاضه ده په دې وجه دا دواړه هم د رحم د قيد نه خارج کيږي. (د صغيره په حکم کښې اختلافي اقوال او تطبيق به د راتلونکې عنوان لاندې ذکر کولې شي). او چونکه د رحم نه هم د ښځې رحم مرا دې په کوم باندې چه مقام بحث پخپله قرينه ده په دې وجه ځناورو او خنثیٰ مشکل باندې راتلونکې وينه هم ددې نه خارج ده.

قوله: خارج من فرج داخل: په قيد سره د امام محمد رحمه الله غير مفتٰى به قول نه احتراز کول مطلوب دې ځکه چه هغوی فرمائي چه د حيض حکم صرف د نزول دم په احساس کېدو سره ثابتيږي خروج دم ضروري نه دې.(ددې اختلاف نور تفصيل عنوان "د حيض حکم به کله ثابتيږي" لاندې راځي).

په تعريف کښې د "لوحكماً" قيد اضافه کولو سره طهر مخلل او خالص سپينوالي نه علاوه ټول رنګونه داخل کول مقصود دي چه هغه سره ددې چه په حقيقت کښې وينه نه وي خو داهم د دم يعني وينې په حکم کښې دي. مثلاً دوه ورځې وينه راغله بيا څلور ورځې طهر پاتې شو بيا دوه ورځې وينه راغله نو دا به ټول اته ورځې حيض شي او په مينځ کښې چه کوم د څلورو ورځو طهر دې دا د پنځلس ورځو نه دکم کېدو د وجې نه په حکم د دم متوالي دې.

---

[۱] مجمع بحار الأنوار: ۶۱۵/۲ مجمع الصحاح ص: ۲۷۷ مختار الصاح ص: ۹۳.

[۲] مجمع بحار الأنوار: ۶۱۶/۲ إرشاد الساری: ۵۳۳/۱.

[۳] معارف السنن: ۴۶۹/۱.

[۴] رسائل ابن عابدين، الرسالة الرابعة: منهل الواردين من بحار الفيض على ذخير المتأهلين فى مسائل الحيض: ۷۴/۱-۷۳.

[۵] رسائل ابن عابدين، الرسالة الرابعة: ۷۳/۱.

[۶] الكنز المتوارى: ۲۴۵/۳.

د بدون ولادة قیدسره د نفاس نه احتراز دې ځکه چه نفاس د ولادت نه پس وی. په مذکوره تعریف کښې د إیاس د قید اضافه نه ده کړې شوې ځکه چه د آنسه متعلق مختار قول هم دغه دې که هغه د نصاب حیض په اندازه توره یا خالص سره وینه ښکاری نودغه حیض دې لهذا په داسې صورت کښې دغه په تعریف کښې داخل دې اوکه چرې دتورې یا خالص سرې وینې رنګ اونه وینی نودغه استحاضه ده اواستحاضه درحم د قید نه خارج ده[1] په دې وجه د دغه قید داضافه ضرورت نشته دې.

په صغیره باندې د راتلونکې وینې حکم: د متقدمینو اومتاخرین په مینځ کښې په دې امر کښې اختلاف دې چه صغیره باندې راتلونکې وینه استحاضه ده یا څه بل څه دی؟ نو په دې سلسله کښې متقدمین حضرات فرمائی چه دا استحاضه ده خو بعض متاخرین فرمائی چه دا استحاضه نه ده بلکه د دریواړو قسمونونه جدا یوځلورم قسم دې کوم ته چه د دم ضائع نوم ورکړې شوې دې. دا حضرات د استحاضه نه ګرځولو یوه دا وجه بیانوی که چرې دا د ا ستحاضه وینه وه نو په دې باندې به د استحاضه احکام لکه مونځ اودس او روژه وغیره ټول احکام جاری کیدل لیکن په صغیره باندې د دغه وینې د وجې نه د استحاضه احکام نه جاری کیږی. او دویمه وجه دا بیانوی که چرې استحاضه دم حیض سره یوځائی شی نودا فاسد کوی خو په صغیره باندې راتلونکې وینه که چرې دم حیض سره ملاؤ شی نوددې دپاره مفسد نه ده.

ددې اختلاف لرې کولودپاره صاحب د کفایه امام نجم الدین زاهدی رحمه الله په حواله سره نقل کوی چه دا صرف یو ظاهری اختلاف دې ځکه چه متقدمینو د استحاضه دوه قسمونه بیان کړی دی. مفسد اوغیر مفسد اوهم ددغه غیر مفسد دقبیل نه په صغیره باندې راتلونکې وینه هم ده.[2] په دې تقریر سره په ذکر شوې مسئله کښې چه کوم ظاهری تعارض دې هغه ختمیږی. واضحه دې وی چه د حیض ذکرکړې شوی تعریف بنیادحیض "من قبیل الأنجاس" ګرځولو باندې دې اوکه چرې حیض "من قبیل الأحداث" اوګرځولې شی نوددې تعریف به داسې شی «صفة شرعية مانعة عما اشترط له الطهارة، كالصلاة ومس المصحف وعن الصوم ودخول المسجد والقربان بسبب الدم المذكور» یعنی حیض د خروج دم د وجې نه لاحق کیدونکې د شریعت یو داسې صفت دې چه مونځ مصحف ته لاس لګول جمات ته داخلیدل اود جماع (وغیره) نه منع کوی.

د حیض د دواړو تعریفونود اختلاف ثمره: علامه رافعی رحمه الله فرمائی چه ددې اختلاف ثمره به د أیمان په باب کښې ښکاره کیږی.د مثلاپه توګه که خاوند دانقطاع دم حیض نه پس قسم اوخوری چه «إن كنت حائضاً فعبدي حر» نود دویم تعریف په اعتبارسره به غلام آزاد شی اود اول تعریف په اعتبارسره به آزاد نه شی.[3]

د دې مثال د وصف جنابت په شان دې لکه چه جنابت د منی په خروج او د التقاء ختانین د وجې نه لاحقکیږی او روژه مونځ او مصحف ته لاس لګول وغیره نه منع کوی. هم دغه شان حیض هم دې چه دخروج دم د وجې نه لاحق کیږی او روژه مونځ اومصحف ته لاس لګول وغیره نه منع کوی.[4]

---

[1] رسائل ابن عابدين. الرسالة الرابعة: ٧٤/١-٧٣.

[2] الكفاية على فتح القدير: ١٤٢/١.

[3] تقريرات رافعي: ٢٤٥/٢.

[4] ردالمحتار على الدرالمختار: ٢٤٥/٢.

د اياس معنى: «(إن الإياس مأخوذ من اليأس وهو القنوط ضد الرجاء قال المطرزي: أصله إيئاس على وزن إفعال من أيأسه: إذا جعله يائساً منقطع الرجاء، فكأن الشرع جعلها منقطعة الرجاء عن رؤية الدم حذفت الهمزة التي هي عين الكلمة تخفيفاً)» [۱]يعنى إياس د يأس نه ماخوذ دې دكوم معنى چه دنااميدنى ده اونااميدى د اميد ضددې. مطرزى فرمائى چه ددې لفظ اصل إيئاس دې چه د إفعال په وزن باندې دې او أيأسه هغه وخت ونيلى شى كله چه څوك نااميده او مايوس كړې شى نولكه چه (آئسه ته آئسه هم ددې وجې نه وائى چه) شريعت د دم حيض د رؤيت نه نااميده كړې ده. عين كلمه چه همزه دې دا تحقيقاً حذف كړې شو نود إيئاس نه إياس جوړ شو.

ښځه د ائسه په حكم كښې كله داخليږى؟: د امام اعظم رحمه الله نه په دې سلسله كښې څه تحديد نقل نه دې. د امام اعظم رحمه الله په نيز اياس هم دغه دې چه كله چرې مبتلى به ښځه دعمر هغه حصې ته اورسى په كوم كښې چه ددې په شان په ښځوباندې حيض راتلل بنديږى. نو په داسې صورت كښې به په دې باندې د اياس احكام جارى كيږى يعنى په عدت وغيره كښې به د مياشتو اعتباركيږى. خو نورو فقهاؤ د اياس د مودې پنځه پنځوس كالوسره تحديد كړې دې او زمونږ په زمانه كښې فتوى هم په دې باندې ده. لهذا د دغه مذكوره مودې نه پس كه چرې يوه ښځه وينه اووينى نوهغه به د حيض وينه نه شميرلې كيږى په دې شرط سره چه هغه توره يا خالص سره نه وى.

بل كه چرې د اياس د ثبوت نه پس يوې ښځې د مياشتو په اعتبارسره عدت تيركړې وى. دې نه پس هغې بل خائى كښې نكاح هم كړې وى اوبيا وينه راتلل شروع شى يا حمل ئې اوشى نو آيا په داسې صورت كښې به نكاح فاسد ګرځولې شى او د نوى سر نه به په اعتبار دحيض عدت تيره وى يابيا به نكاح صحيح ګرځولې شى. اود مستقبل په حواله سره په اعتبارد حيض دعدت تيرولوحكم وركولې شى؟ صاحب د هدايه او ابن نجيم رحمهما الله د ظاهر الرواية كيدو د وجې نه رومبى قول اختياركړې دې خو الصدر الشهيد اوصدرالشريعه دويم قول راجح ګرځولې دې.همدا دويم قول علامه ابن عابدين رحمه الله دهدايه دتصحيح نه اولى ګرځولې دې اوهم دا صاحب النهرالفائق "أعدل الروايات" ګرځولې دې.[۲]

---

[۱]) ردالمحتار على الدرالمختار: ۳۰۸/۲.

[۲]) ردالمحتار على الدرالمختار: ۳۱۲/۲-۳۰۸.

الصدرالشهيد: عمر بن عبدالعزيز بن عمر بن مازه أبومحمد حسام الدين المعروف بالصدر الشهيد، إمام الفروع والأصول، المبرز فى المعقول والمنقول، كان من كبار الأئمة وأعيان الفقهاء، له اليد الطولى فى الخلاف والمذهب. تفقه على أبيه برهان الدين عبدالعزيز، وأقر بفضله الموافق والمخالف. وكانت ولادته سنة ثلاث وثمانين وأربعمائة، كذا قاله قاضى القضاة العلامة السبكى فى طبقات الشافعية. وله الفتاوى الصغرى والكبرى وشرح أدب القضاء للخصاف وشرح الجامع الصغير. (الفوائد البهية، ص: ۱٤۹).

صدرالشريعة: عبدالله صدر الشريعة الأصغرابن مسعود بن تاج الشريعة محمود بن صدر الشريعة أحمدبن جمال الدين عبدالله المحبوبى، صاحب شرح الوقاية، المعروف بين الطلبة بصدر الشريعة. هو الإمام المتفق عليه والعلامة المختلف إليه، حافظ قوانين الشريعة، شيخ الفروع والأصول، عالم المعقول والمنقول، فقيه أصولى خلافى جدلى محدث مفسر نحوى لغوى أديب نظار متكلم منطقى عظيم القدر جليل المحل. غذى بالعلم والأدب وورث المجد عن أب فأب. أخذ العلم عن جده الإمام تاج الشريعة محمود بن صدرالشريعة الخ وكان ذا عناية بتقييد نفائس جده وجمع فوائده.

د حیض حکم به کله ثابتیږی؟: امام محمد رحمه الله فرمائی چه کله ښځې ته دځپل مقر نه د وینې د وتلو احساس اوشی نودحیض حکم ثابتیږی سره دذې که د فرج داخل نه تردغه وخته پورې خارج شوې نه وی خو امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام ابویوسف رحمه الله فرمائی چه دحیض حکم هغه وخت ثابتیږی کله چه وینه دفرج داخل نه بهر راشی.

ثمره داختلاف به په هغه صورت کښې ښکاره کیږی که چرې یوې روژه دارې ښځې ته خاص مقام (فرج داخل) د کپړې کیخودو نه پس د نمر ډوبیدو نه وړاندې د نزول دم احساس اوشی اوهغې د غروب نه پس کپړه اوغورزوله نو په داسې صورت کښې به دامام محمد رحمه الله په نیزدغه ښځه ددې روژې قضا راوړی ځکه چه هغې ته د نزول دم احساس د نمر د ډوبیدو نه وړاندې شوې وو دکوم د وجې نه چه دحیض حکم د نمر ډوبیدونه هم وړاندې ثابت شوې وو اوحیض چونکه د روژې نه مانع دې په دې وجه به قضا لازمی راوړی. خو د شیخین رحمهما الله په نیز هغه به د دغه ورځې د روژې قضا نه کوی ځکه چه وینه د فرج داخل نه بهر نه ده راغلې صرف د نزول دم احساس ورته شوې دې او په دې سره دحیض حکم نه ثابتیږی. لیکن که وینه د فرج داخل نه بهر راغلې وی نو په داسې صورت کښې به په اتفاق سره د روژې قضاراوړی. ځکه چه په داسې صورت کښې په اتفاق سره د حیض د ثبوت د حکم علت موندلې شوې دې. ([1]).

داستحاضه تعریف: استحاضه په لغت کښې هغه وینې ته وائی چه دحیض دمخصوص وختونونه علاوه جاری وی.([2]) اودشریعت په اصطلاح کښې هغه وینې ته وائی چه دغیررحم نه شروع کیدوسره د فرج داخل نه بهر راشی که هغه وینه حقیقتاً وی اوکه حکماً. لکه د شپږو ورځو عادت ښځې ته د اووه ورځو پورې وینه، بیا دوه ورځې طهر اوبیا دووه ورځې وینه راغله دا ټولې ۱۱ ورځې شوې. په دې کښې د شروع شپږ ورځې دحیض اوباقی پنځه ورځې د استحاضه دی. اود استحاضه دوران کښې دوه ورځې چه په حقیقت کښې د طهر وې د پنځلسو ورځونه دکموالی په وجه ددم متوالی په حکم کښې دی. استحاضه ته دم فاسد هم وائی. ([3])

د لفظ نفاس لغوی تحقیق: نفاس مصدر دې دکوم معنی چه د بچی پیداکیدل دی او په دې مرض کښې اخته ښځې ته نُفَساء وائی.د نفساء جمع نفاس راځی.دلغت علماء فرمائی چه دعربو په کلام کښې

شرح كتاب الوقاية من تصانيف جده تاج الشريعة وهوأحسن شروحه ثم اختصر الوقاية وسماه "النقاية وألف في الأصول متناً لطيفاً سماه "التنقيح ثم صنف شرحاً نفيساً سماه "التوضيح مات سنة سبع وأربعين وسبعمائة. (الفوائد البهية ، ص : ۱۱۰-۱۰۹، الأعلام للزركلي: ۵۱/۵تاج التراجم: ۲۱۸/۱).

البهنسي: محمدبن محمد بن رجب شمس الدين وقيل: نجم الدين البهنسي. الأصلالدمشقي الحنفي. ولد بدمشق في صفر سنة ۹۲۷هجري وفق سنة ۱۵۲۱م وتوفي بدمشق في جمادى الآخر سنة ۹۸۶هجري وفق سنة ۱۵۷۸م. (معجم المؤلفين: ۲۱۷/۱۱، ردالمحتار: ۳۱۱/۲).

[1] النهرالفائق: ۱۲۹/۱فتح القدير: ۱۴۲/۱، والله اعلم بالصواب

[2] النهاية لابن الأثير: ۴۶۰/۱عمدةالقاري: ۲۷۷/۳معارف السنن: ۴۶۹/۱.

[3] رسائل ابن عابدين: ۷۴/۱.

د فعلاء جمع د فعال په وزن باندې نه راځي سوا د نفساء اوعشراء چه دد ې جمع نفاس او عشار (د فعال په وزن) راځي. د نفساء جمع نفساوات هم راځي.[1]

نفاس د حيض په معنی کښې هم استعماليږي لکه چه وړاندې تلو سره به د حضرت ام سلمه رضي الله عنها په روايت کښې به راځي چه کله په يوه موقع باندې ناځاپې حضورپاك سره په حالت د اضطجاع کښې د حيض عارضه پيښه شوه اوهغه په مزه شان اوخوئيده نو حضورپاك هغې ته اوفرمائيل "أنفست؟" آيا تاته دحيض عارضه درپيښه شوه؟ نودلته په دې حديث کښې حيض نفاس سره تعبيرکړې شوې دې.[2]

البته فرق صرف دومره دې چه فعل نفاس "نفست بالفتح والضم (معروف اومجهول)دواړه شان دنفاس په معنی کښې استعماليدېشي ليکن دحيض په معنی کښې صرف "نفست بالفتح(معروف)استعماليږي.[3]

د نفاس شرعي تعريف: د شريعت په اصطلاح کښې د نفاس تعريف دادې: ((دم صادر من رحم خارج من فرج داخل ولو حكماً عقيب خروج أكثر ولد لم يسبقه ولد، منذ أقل من ستة أشهر)) يعنی نفاس هغه وينه ده چه د بچی د پيداکيدونه پس د رحم نه شروع کيدو سره فرج داخل نه بهر راځي، که هغه وينه حقيقتاً وی او که حکماً وی مگر شرط دادې چه د دويم بچی پيداکيدل د شپږو مياشتو نه وړاندې نه وی.

په تعريف کښې ذکر قيود اوفصول فائدې: په مذکوره تعريف کښې د فرج داخل د قيد نه د بچی د پيداکيدودپاره دخيټې شلولو صورت (آپريشن) نه احتراز دې څکه چه په داسې صورت کښې سره ددې چه احکام د ولادت مثلاً نقضا، عدت وغيره ثابتيږی مگر احکام نفاس نه ثابتيږی او جاری کيدونکې وينه به د زخم وينه شميرلې شی. په دې خاص صورت کښې به احکام د نفاس هله ثابتيږی کله چه وينه درحم نه خارج شی او دفرج داخل نه بهر راشی.

قوله::ولوحكماً په قيد سره طهر متخلل او بياض خالص نه سواټول رنګونه داخلول مقصوددی لکه دولادت نه وړاندې ۱۵ورځې وينه راغله بيا ۲۰ورځې طهر وو، بيا ۵ ورځې وينه راغله نودا به ټول ۴۰ورځې نفاس شی اود مينځ والاشل ورځې سره ددې چه طهرتام دې خو په نفاس کښې سره ددې چه تام اوشی نوبيا هم د دوو وينو په مينځ کښې فاصل نه جوړيږی په دې شرط چه دويمه وينه د نفاس په موده کښې دننه وی.دغه شان که د بچی د ولادت نه پس وينه بالکل رانه شی نو په داسې صورت کښې هم د صحيح قول مطابق هغه ښځه نفساء شميرلې کيږی دولوحکماًپه قيدسره داخاص صورت هم په تعريف کښې داخليږی.

قوله::لم يسبقه ولد منذ أقل من ستة أشهر په قيدسره ثانی التوأمين (يعنی په يوځائی پيدا شوو بچوکښې دويم بچی) نه احتراز دې څکه چه چرې دويم بچی د شپږو مياشتونه وړاندې وی نودهغه د پيداکيدونه پس جاری کيدونکی وينه به د نفاس نه وی بلکه په دغه خاص صورت کښې به نفاس صرف د ړومبی بچی د پيداکيدونه پس جاری کيدونکې وينه وی.[4]

---

[1] ترتيب الصحاح للجوهري ص: ۱۰۵۹.

[2] صحيح البخاري كتاب الحيض باب من سمى النفاس حيضاً رقم الحديث:۲۹۸.

[3] النهاية لابن الأثير: ۲/۷۷۷.

[4] رسائل ابن عابدين. الرسالة الرابعة: ۱/ ۷٤.

داستحاضه او نفاس احكام تبعاً ذكركولووجه امام بخاری رحمه الله په كتاب الحيض كښې د نفاس او استحاضه احكام هم ذكر كړي دي خوچونكه دحيض ابواب زيات دي(۱)اووددې واقع كيدل هم په نسبت د نفاس او استحاضه زيات وي.(۲) په دې وجه امام بخاری رحمه الله دا كتاب د حيض په عنوان سره معنون كړې اوتبعاً ئې د نفاس او استحاضه احكام هم ذكركړي دي.(۳)

د نفاس او استحاضه احكام تبعاً ذكركولويوه وجه دا هم ده چه د نفاس وينه او استحاضه په حقيقت كښې هم دم حيض دې. چنانچه دم حيض په ايام حمل كښې د بچې خوراك وي اوكوم چه بچ شي هغه جمع كيږي اود ولادت نه پس راوځي. هم دغه شان استحاضه هم ددم حيض يو وران شوې صورت دې ځكه چه وينه كله په طبعي انداز سره راوځي نوحيض شميرلې كيږي اوكله چه د طبعي انداز نه په بل صورت كښې راځي نوهغې ته استحاضه وائي. په دې وجه د بعض حضراتو وينا ده چه په لفظ د استحاضه كښې انقلابي معنې وي په دغه معنى چه دحيض نه بدل شي استحاضه جوړه شي اود بعضو وينا ده چه په دې لفظ كښې د كثرت رعايت دې په داسې توګه استحاضه هغه وينې ته وائي چه د حيض په موده باندې زياتيږي.(۴) د پخوانو طبيبانو هم دغه خيال دې چه په ايام حمل كښې هم دحيض وينه د بچې (جنين) خوراك او دده د غوښې اوځرمن جوړيدو په كار راځي مګر د دې وخت د ډاكټرانو رائې داده چه د استقراء حمل نه پس د رحم دننه غشاء كلكيږي اوپيړيږي اود جنين (بچې) حفاظت كوي او د حيض وينه په طبعي توګه طبعاً بنديږي. هم دغه وجه ده چه د حمل په حالت كښې د حيض راتلل طبعي فعل نه دې بلكه مرض شميرلې كيږي اودجنين خپله وينه غوښه اوځرمن هم پخپله دهغه په اندامونوكښې پيداكيږي اود مور د طبعي وينې نه هغه صرف خپل خوراك او هوا حاصلوي. لكه د نوى طبيبانو د تحقيق مطابق د جنين په غتيدو كښې د حيض د وينې هيڅ دخل نشته دې.دغه شان په سينوكښې دپيئو پيداكيدل هم دطبعي اوصفاوينې نه كيږي نه چه د حيض دوينې نه ځكه چه د حيض د وينې ادرار(دور، موده) خودمياشتې وي اود پيئو پيداكيدل هروخت كيږي لهذا پيئې د صفا اوطبعي وينې نه په سينو كښې دننه تياريږي.هم دغه وجه ده چه په سل ودق او آتشك او جذام كښې راګيروښځو پيئې هم ددغه جراثيمونه بالكل پاك اوصفا وي اوبچو ته دغه بيمارئې د مور د پيئونه هيڅ كله نه لګي.البته دبيمارو قرب اودهغې دبدن اولباس خيرنوالي وغيره هغه بيمار وي.(۵)

وقول الله تعالى ﴿وَيَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ ۖ قُلْ هُوَ اَذًى ۙ فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِي الْمَحِيْضِ ۙ وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ ۚ فَاِذَا تَطَهَّرْنَ فَاْتُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ اَمَرَكُمُ اللّٰهُ ۗ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ﴾ /البقرة: ۲۲۲/.

ترجمه اوخلق تاسونه دحيض دحكم پوښتنه كوي تاسوورته اووايئې چه هغه ګنده څيزدې، نو په حيض كښې تاسو د ښځونه جدا اوسيږئې اوهغوى ته مه نيزدې كيږئې تركومې چه هغوى پاكې نه شي. بياچه كله هغوى په ښه شان سره پاكې شي نوهغوى سره ورځئې د كوم ځائې نه چه الله تعالى

(۱) لامع الدراری: ۲۳۸/۲الكنزالمتواری: ۲٤٥/۳الأبواب والتراجم:۶۳
(۲) عمدة القاری:۲٥٤/۳.
(۳) إرشادالساری: ۵۳۱/۱.
(۴) تقريربخاری: ۹٤/۲.
(۵) أنوار الباری:۳۷۱/۱۰.

ناسو ته اجازت دركړې دې. يقينًا الله تعالى محبوب ساتى توبه كونكى او محبت ساتى پاك صفا اوسيدونكى.([1])

په قرانى اياتونو راوړلوكښې د امام بخارى صنيع: د امام بخارى طرزدې چه كله د يوخاص جنس ابواب شروع كوى نود هغې په مناسبت سره څه آيت هم ذكركوى. د كوم منشاء چه دا وى چه دا آيت د دې موضوع د ابواب دپاره جامع او د اصل حيثيت لرى. او اوس چه ددې جنس څومره ابواب هم ذكركولې شې هغه به ددې آيت تفسير اوتشريح ګڼرلې شى.([2])

بل څنګه چه دا آيت د احكام حيض دپاره جامع دى دغه شان د احكام حيض په ابتداء باندې هم دال دې. چنانچه امام بخارى هم د دغه جامعيت، شمول اود احكام حيض په ابتداء باندې د دلالت كولو د وجې نه كتاب الحيض د سورت بقره دپورته ذكرشوى آيت نه شروع كړې دې.([3])

(وقول الله تعالى) د اصيلى په روايت كښې په جر سره نقل دې. په دې صورت كښې به د دې عطف په ما قبل كښې د حيض په لفظ باندې وى. لكه څنګه چه لفظ كتاب مضاف دې او په يو روايت كښې رفع سره هم نقل دې او په دې صورت كښې به د دې عطف په لفظ كتاب باندې وى.([4])

قوله: المَحِيض: مفعل په كسره د عين په وزن دې او باب (ض) د صحيح الآخر اومثال واوى نه مطلقًا مَفْعِل وزن د اسم ظرف مكان په معنى كښې استعماليږى. لكه مَضْرِب، مَحْبِس، مَجْلِس، مَحِيض، مَبِيْت، مَقِيْل وغيره اودمصدر ميمى ثلاثى مجردنه مفعَل فتح دعين په وزن باندې راځى لكه مَقْتَل، مَضْرَب، مَعْلَم وغيره مګر كله دمَفْعِل په وزن هم راځى لكه مَكْبِرْ، مَرْجِع، مَبِيْت، مَقِيْل، مَحِيْض، مَعْجِز، مَزِيْد وغيره.

حاصل د كلام دادې چه وزن مفعِل د ظرفيت والا په معنى كښې اصالةً او حقيقتًا استعماليږى او مصدريت (مصدر ميمى) والا په معنى كښې مجازاً استعماليږى.([5])

په آيت مبارك كښې لفظ محيض دوو ځايونوكښې ذكر دې. حضرات احناف او حضرات شوافع امام محمد امام نووى علامه زمخشرى ابن عطيه امام طبرى اوجمهور مفسرين رحمهم الله په نيز په رومبى مقام كښې لفظ محيض داسم مصدر په معنى كښې دې.([6]) او په دې باندې دليل دا پيش كوى چه هم په دې آيت كښې ﴿هُوَ أَذًى﴾ چه دغه محيض تكليف دې اووصف أذى محيض سره هم په هغه صورت كښې يوځائى كيدې شى كله چه لفظ محيض دمصدر په معنى كښې وى لهذا تقديرى عبارت به داسې شى. ((ويسئلونك عن حكم المحيض)).([7])

---

[1]) بيان القرآن: ١٤٤/١.

[2]) فضل البارى: ٤٦٢/٢.

[3]) تقرير بخارى: ٩٤/٢.

[4]) إرشادالسارى: ٥٣١/١.

[5]) أحكام القرآن لابن العربى: ٢٢٢/١تفسيرالطبرى: ٢٢٤.

[6]) المجموع شرح المهذب: ٣٤٣/٢شرح صحيح البخارى: ٢١٦/١روح المعانى: ٥١٥/١الدرالمصبون: ٥٤٣/١أحكام القرآن للقرطبى: ٤٧٥/٣الكشاف للزمخشرى: ٤٣٢/١.

[7]) أحكام القرآن للجصاص: ٤٠٧/١الدرالمصبون: ٥٤٣/١.

امام رازی رحمه الله فرمائی چه لفظ محیض په دوارو ځایونوکښې په حقیقی معنی (ظرف مکان) کښې دې. ددې دپاره که چرې مونږ دلته محیض ظرف مکان (فرج)په معنی کښې نه اخلو بلکه د ظرف زمان یا مصدر په معنی کښې اخلو نو په وړاندې مقام کښې هم د دغه معنی مراد کیدو په صورت کښې د آیت مبارك معنی داشی(فاعتزلوا النساء فی زمان الحیض)چه د حیض په زمانه کښې د ښځونه ځان اوساتئی په کوم سره چه د پوره بدن نه داستمتاع ممانعت مفهوم کیږی او ښکاره خبره ده چه داحکم خلاف واقع دې. د کوم په نتیجه کښې به لازماً نسخ د آیت یا تخصیص د آیت لاز اختیارولې شی ځکه چه فوق السرة (د نامه نه پورته) او تحت الرکبته (زنګونونه ښکته) د استمتاع په جواز باندې اجماع ده.
خو محیض د ظرف مکان په معنی کښې د اخستو په صورت کښې معنی صحیح پاتې کیږی اودځه قسم محظو لازم نه راځی. لهذا معنی به شی: ((فاعتزلوا النساء فی موضع الحیض)) یعنی ښځوسره دهغوی په فرج کښې د جماع نه ځان اوساتئی (د حیض په زمانه کښې). اودا امر بالکل واضح دې چه کله یو لفظ په دوو معانوکښې مشترك وی او په یوه معنی باندې د لفظ محمول کولوکښې څه محظور نه لازمیږی او په بله معنی کښې دمحمول کولوپه صورت کښې یو محظور لازم نه راځی نودغه لفظ په داسې معنی باندې محمول کول اولی دی په کوم کښې چه څه محظور لازم نه راځی.
امام زهری رحمه الله فرمائی چه دا ټول بحث خو هغه وخت دې کله چه لفظ محیض په معنی مصدری او ظرف مکان کښې مشترك اومنلې شی ولې حقیت دادې چه دمحیض استعمال د ظرف مکان دپاره زیات هم دې اومشهورهم، په دې وجه محیض د ظرف مکان په معنی کښې اخستل په هر اعتبارسره صحیح دی.[1]
قاضی ابن العربی رحمه الله په ړومبی مقام کښې درېواړه احتمالات ذکرکړی دی هغه فرمائی چه د لفظ محیض نه اسم مصدر ظرف مکان او زمان درېواړه معنې مراد کیدې شی.[2]
ترکومې چه تعلق دې د ﴿هُوَ أَذًى﴾ نه د استدلال نوجواب دادې چه حیض کله فی نفسه أذی اوتکلیف دې؟ دا خود یو خاص قسم وینې نوم دې کوم چه بدن دې ولې أذی اوتکلیف د یومخصوص کیفیت نوم دې کوم چه عرض دې او جسم نفس عرض نه کیږی په دې وجه لازمی به داسې ویناکولې شی چه مراد دادې ((أن الحیض موصوف بکونه أذی)) یعنی حیض دهغه خاص کیفیت سره موصوف دې اوچه کله دا جائزدی نو بیا به داهم جائز وی چه محیض د ظرف مکان په معنی کښې وی اوأذی سره موصوف هم وی لهذا تقدیری عبارت به داشی((هو ذو أذی، أي: موضع الحیض ذوأذی))چه فرج د تکلیف والاځائی دې.[3]
امام نووی رحمه الله په دې باندې اجماع نقل کړې ده چه په ړومبی ځائی کښې لفظ د محیض د اسم مصدر په معنی کښې دې[4]مګر د اجماع دا قول په ظاهره دامام رازی رحمه الله او قاضی ابن العربی رحمه الله د اختلاف د وجې نه صحیح نه معلومیږی. والله تعالی اعلم بالصواب.

---

[1]) التفسیر الکبیر للرازی: ۵۵/۶.
[2]) أحکام القرآن لابن العربی: ۲۲۲/۱.
[3]) التفسیر الکبیر للرازی: ۵۵/۶.
[4]) المجموع شرح المهذب: ۳۴۳/۲.

پاتې شوه خبره په دویم مقام باندې چه د لفظ محیض نه څه مراددې، نودا امام نووی رحمه الله لیکلی دی چه په دې دویم مقام کښې درې احتمالات کیدې شی دزمان حیض هم اود اسم مصدر هم. جمهور مفسرین حضرات رحمهم الله اود ابن عباس رضی الله عنهما رائې داده چه په دویم مقام باندې د لفظ حیض نه مراد ظرف مکان یعنی موضع حیض (فرج) دې اوهم دغه دازواج مطهرات رضی الله عنهن نه هم نقل دی.[1] خو امام رازی رحمه الله فرمائی چه لفظ محیض په دواړو ځایونوکښې خپله حقیقی معنی (ظرف مکان) کښې دې.[2] اود شوافع رحمهم الله په نیز دواړو مقاموباندې محیض اسم مصدریعنی د حیض په معنی کښې دې.[3]

﴿قُلْ هُوَ أَذًى﴾: لفظ أذی سره متعلق څلور اقوال دی: ① امام سدی رحمه الله اوامام قتاده رحمه الله فرمائی چه أذی، قذر یعنی ګندګی ده. ② امام مجاهد رحمه الله اوفرمائیل چه دا دم یعنی وینه ده. ③ دریم قول دادې

چه أذی نجاست ته وائی. ④ څلورم قول دادې چه أذی داسې مکروه اوناخوښه څیزته وائی چه د خپلې بدبوئی او نجاست د وجې نه د انسان دپاره دتکلیف سبب وی.
قاضی ابن العربی رحمه الله څلور واړه اقوال ذکر کولونه پس څلورمن قول صحیح ګرځولې دې ځکه چه څلورم قول رومبنو دریواړو ته شامل دې.[4]
نورو شراح حضراتو هم نیزدې نیزدې د دې لفظ هم دغه معنی بیان کړې ده. چنانچه علامه خطابی رحمه الله فرمائی: «الأذی: المکروه الذي لیس بشدید کما قال الله تعالی: ﴿لَنْ يَضُرُّوكُمْ إِلَّا أَذًى﴾»[5] یعنی أذی داسې تکلیف ته وائی په کوم کښې چه سختی نه وی.[6]
لهذا په مذکوره مقام کښې به هم دغه معنی مراد وی اود آیت مراد به داوی چه حالت حیض کښې موضع اذی یعنی موضع حیض نه به ځان ساتلې شی نه چه د پوره بدن نه. ځکه چه په دې تکیف کښې دومره شدت هم نشته چه د جمیع بدن طرف ته حکم د اجتناب متعدی شی. په دې وجه به د اهل کتاب اومجوسیانو په شان به داسې نه شې کولې چه ددوی نه به بالکلیه اجتناب کولې شی تردې چه هغوی به د کورونونه هم اوویستلې شی.[7]
امام قرطبی رحمه الله د دغه پورتنی مقام تفسیر کولوسره فرمائی چه حیض په أذی سره تعبیرکولووجه داده چه أذی هریو تکلیف ورکونکی څیزته وائی اوچونکه حیض هم د خپل بدبوئی د وجې نه پخپله دښځې اود خاوند دپاره هم دتکلیف سبب وی په دې وجه دا د أذی سره تعبیرکړې شوې دی. چنانچه په حدیث کښې هم دا لفظ د أذی هم په دې معنی کښې استعمال شوې دې. ارشاد نبوی ﷺ دې: «وأدناها إماطة الأذی عن الطریق» یعنی دایمان د ټولو نه ادنی شعبه داده چه د لارې نه تکلیف ورکونکې څیز لرې کړې شی. او فی الجمله لفظ أذی قذر یعنی خیرې اوګندګئی نه کنایه ده لکه چه د

---

[1] المجموع شرح المهذب: ۳۴۳/۲روح المعانی:۵۱۵/۱.
[2] التفسیرالکمبیر للرازی: ۵۵/۶.
[3] شرح صحیح البخاری: ۲۱۶/۱.
[4] أحکام القرآن لابن العربی:۲۲۳/۱.
[5] (آل عمران:۱۱۱)
[6] فتح الباری:۵۲۶/۲عمدة القاری:۳۷۷/۳شرح صحیح البخاری: ۲۱۶/۱.
[7] شرح صحیح البخاری: ۲۱۶/۱.

حضورپاك ﷺ ارشاد دې «أميطوا عنه الأذى» د أذى نه مراد د نوى پيداشوى بچى د سر وينسته دى كوم چه په اوومه ورځ باندې خرولې شى او په حديث مبارك كښې دې ته أذى په معنى د خيرى اوگندگئى سره تعبيركړې شوى دى. دغه شان په ناخوښه خبره باندې هم د أذى اطلاق كيږى. [1]

لكه چه دالله تعالى ارشا مبارك دې: ﴿لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذٰى﴾: **ترجمه**: تاسو په احسان كولوسره يا په تكليف رسولوسره (يعنى ناخوښه خبره كولوسره) خپل خيرات مه برباد كوئى. علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه حيض ته أذى دهغې دبدبوئى او گندگئى او نجاست د وجې نه وائى. [2]

د ايت مبارک د ذکرکولوفائده: په دې مقام باندې يو اشكال كيږى چه د امام بخارى رحمه الله دلته د دغه آيت ذكر كولو څه فائده ده اوودې نه ئى څه حكم وغيره نه دې مستنبط كړې؟ جواب دادې چه د آيت مبارك ذكركولو كم نه كم فائده داده چه په دې سره د حيض د نجس كيدو او په حالت دحيض كښې د وجوب اعتذال د حكم پته لګى. [3]

دحيض په حالت كښې د جماع كولوسره متعلق د مذاهب بيان: دحيض په حالت كښې د جماع په حرمت باندې د ټولو اتفاق دې بلكه داحلال ګنړل ئى كفرګرځولې دې. [4]

بل د نامه نه ترزنګونونو پورې نه علاوه د بدن نه د استمتاع په جواز باندې هم اجماع ده البته دجماع نه بغير د نامه نه تر زنګونونو پورې مينځمې حصه د بدن نه د استمتاع بلا حائل باره كښې اختلاف دې. امام ابوحنيفه رحمه الله امام مالك رحمه الله امام شافعى رحمه الله اواكثر اهل علم داهم حرام ګرځوى او امام احمد رحمه الله امام محمد رحمه الله اسحاق رحمه الله امام ابوداؤد رحمه الله وغيره دې ته جائز وئيلى دى. [5]

دعلامه شوكانى رحمه الله كلام: علامه شوكانى رحمه الله فرمائى د حيض په حالت كښې د جماع حرمت قرآنى نص احاديث صحيحه او اجماع نه ثابت دې او په دې حالت كښې جماع حلال ګنړونكې كافر دې او څوك چه دا حلال نه ګنړى اوهغه په هيره سره داسې اوكړى يا هغه ته د حيض پته نه وى يا هغه ته د حرمت جماع علم نه وى يا هغه مكره وى نو په دې ټولو صورتونوكښې په ده باندې نه ګناه شته اونه كفاره ليكن داحلال ګنړونكې هم كه چرې قصداً داسې فعل كوى نولكه چه هغه د ګناه كبيره ارتكاب اوكړو. ددې په ګناه كبيره كيدو دامام شافعى رحمه الله نه نص نقل دې. په داسې سړى باندې توبه لازم ده. البته د وجوب كفاره په سلسله كښې د علماؤ په مينځ كښې اختلاف دې.

تر كومې چه تعلق دې د غيرجماع يعنى د عين فرج نه يوخوا ته د بدن د باقى حصې نه داستمتاع نوددې دوه صورتونه دى: ① د نامه د پاسه اود زنګونونه ښكته د بدن نه استمتاع نودا په اتفاق سره حلال دى بلكه د دې په جواز باندې يو جماعت اجماع هم نقل كړې ده. ② د قُبل او دُبرنه علاوه د نامه نه لاندې تر زنګونو پورې مينځمې حصه د بدن (فخذ وغيره) نه استمتاع وى نو په دې كښې درې اقوال دى:

---

[1] أحكام القرآن للقرطبي: ۸۵/۳.

[2] فتح الباري: ۵۲۶/۲.

[3] عمدة القاري: ۳۷۸/۳.

[4] المجموع شرح المهذب: ۳۵۹/۲.

[5] المجموع شرح المهذب: ۳۶۶/۲-۳۶۴ معارف السنن: ۵۱۰/۱ أحكام القرآن للجصاص: ۴۰۸/۱ الكشاف للزمخشري: ۴۳۳/۱.

رومبی اومشهورقول دادې چه د استمتاع داصورت هم حرام دې او هم دا د امام مالک رحمه الله امام ابو حنيفه رحمه الله اود ډيرو اهل علم لکه سعدبن المسيب شريح، طاؤوس، عطاء، سليمان بن يسار اوقتاده رحمهم الله مذهب دې. (۱)

دويم قول دادې چه دا حرام نه دی بلکه جائز دی اوهم دا د حضرت عکرمه امام مجاهد امام شعبی امام نخعی امام حاکم سفيان ثوری اوزاعی امام احمدبن حنبل محمدبن الحسن أصبغ اسحاق بن راهويه ابوثور ابن المنذر او داؤد رحمهم الله مذهب دې.

دريم قول دادې چه که مباشر دتقوی په وجه يا د شهوت د کمزورتيا د وجې نه په ضبط نفس باندې قادر دې نود هغه دپاره به د استمتاع دا صورت جائز وی اوکه چرې قادر نه وی نو جائزنه دی. (۲)

دحيض په حالت کښې د جماع د دويم صورت د مجوزينو دلائل: ① صحيح مسلم کښې دحضرت انس رضی الله عنه نه روايت دې چه يهوديانو به خپلې ښځې دحيض په حالت کښې د کورونه ويستلې هغوی سره به ئې نه خوراک څښاک کولو اونه به ئې جماع وغيره کوله نوصحابه کرامو رضی الله عنهم په دې حواله سره د حضورپاك نه سوال اوکړو نو الله تعالی دا آيت مبارك نازل کړو: ﴿ وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ ﴾الآيه او بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل: «اصنعوا کل شیء إلا النکاح» يعنی بغيرد جماع نه باقی حصې دبدن نه استمتاع جائز ده. (۳)

② کله چه دحضرت عائشه رضی الله عنها نه پوښتنه اوکړې شوه چه د حيض په حالت کښې د سړی دپاره څه حکم دې؟ نوهغې رضی الله عنها اوفرمائيل: «کل شیء إلا الفرج» بغيرد جماع نه دبدن دباقی حصې نه استمتاع جائز ده. (۴)

دحيض په حالت کښې دجماع د دويم صورت د مانعينو دلائل: ① صحيح مسلم کښې دعائشه رضی الله عنها نه روايت دې چه کله به مونږ (ازواج مطهرات) نه څوك دحيض په حالت کښې شو اوحضورپاك به مباشرت کول غوښتل نوهغې ته به ئې د لنګ اچولو حکم کولو دې نه پس به ئې مباشرت کولو. دغه شان د مضمون روايت د حضرت ميمونه رضی الله عنها نه هم نقل دې چه حضورپاك به د خپلو بيبيانونه د حيض په حالت کښې د لنګ نه پورته حصه دبدن نه استمتاع کوله. (۵)

② حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه «أيکم يملك إربه کما کان رسول الله صلی الله عليه وسلم يملك إربه» يعنی څوك دې په تاسو کښې چه په خپل شرمګاه باندې داسې قدرت لری لکه څنګه چه حضورپاك لرلو. (۶)

③ امام مالك رحمه الله په موطاکښې د زيد بن اسلم رضی الله عنه مرسل روايت نقل کړې دې په کوم کښې چه دی يو سړی د حضورپاك نه سوال اوکړو چه زما دپاره څه حلال دی کله چه زما بی بی حائضه وی؟ نو حضورپاك اوفرمائيل «لتشد عليها إزارها ثم شأنك بأعلاها» يعنی ستاد پاره د (بی بی) د ازار بند ترلونه

---

(۱) وهوالمنصوص لإمام الشافعی رحمه الله فی کتاب الأم کتاب الحيض باب ما يحرم أن يؤتی من الحائض: ۱۲۹/۲.

(۲) نيل الأوطار: ۲۹۷/۱فتح الملهم: ۹۷-۳/۹۶.

(۳) باب جواز غسل الحائض رأس زوجها الخ رقم الحديث: ۶۹۴المجموع شرح المهذب: ۳۶۲/۲.

(۴) شرح ابن بطال: ۴۱۷/۱مکتبة الرشد التمهيد لما فی الموطامن المعانی والأسانيد: ۱۷۳/۳فتح الملهم: ۹۶/۳.

(۵) صحيح مسلم کتاب الحيض باب مباشرة الحائض فوق الإزار رقم الحديث: ۶۷۹، ۶۸۱.

(۶) المرجع السابق رقم الحديث: ۶۸۰

يورته حصه د بدن نه استمتاع حلال ده.([1])داحديث شريف په هغه حکم بيانولوکښې بالکل صريح دې چه د نامه نه لاندې استمتاع جائز اوحلال نه ده ځکه چه حضورپاك په صفا اوواضحه انداز کښې صرف د نامه د پاسه د بدن د حصې نه د استمتاع اجازت ورکړې دې. ([2])

④ امام ابوداؤد رحمه الله هم حزام بن حکيم عن عمه په سندسره هم د دې مضمون يوروايت نقل کړې دې او په دې باندې ئې سکوت فرمائيلې دې. ([3])

اوداخبره د تحقيق نه ثابته ده چه دامام ابوداؤد رحمه الله په يوحديث باندې خاموشي اختيارول د دې قابل حجت کيدو دليل دې. کما قاله ابن الصلاح والنووي، رحمهما الله بلکه پخپله امام ابوداؤد رحمه الله نه د دې خبرې صراحت موجود دې چه دکوم حديث سره متعلق هغه سکوت اختيارکړې او په هغې باندې څه کلام اونه کړی نوهغه حديث دهغوی په نيزد حجت قابل دې.([4])دا روايت حافظ ابن حجر رحمه الله هم تلميص الحبير کښې ذکرکړې دې اوپه دې باندې کلام نه دې کړې.([5])

⑤ حضرت عمر رضي الله عنه فرمائي چه ماد رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه حالت حيض کښې د سړی دپاره څه حلال دی؟ نوحضورپاك اوفرمائيل «مافوق الإزار»([6])

دمجوزينوحضراتوطرف نه دممانعت درواياتو جواب:مجوزين حضرات فرمائي چه په کومو رواياتو کښې **مافوق الإزار** الفاظ دی هغه روايات په استحباب باندې محمول دی.([7]) د دې دپاره چه د حضورپاك د قول «**اصنعوا كل شيء إلا النكاح**» اودحضورپاك فعل «**كان يباشر نساءه فوق الإزار**»په مينځ کښې جمع شی.([8])

دمانعين حضراتو جواب: مانعين حضرات فرمائي سره د دې چه حديث «**اصنعوا كل شيء إلا النكاح**» صراحتًا په جواز باندې دلالت کوی مګرد حرمت قول سدالل ذريعه دې. ځکه چه حدود الله اومحارم ته نيزدې تلوکښې دا انديښنه وی چه په حدوکښې تجاوز يا محارم کښې واقع نه شی لکه چه د رمې د چا چراګاه سره نيزدې څرولوکښې د رمې دغه چراګاه ته د ننوتلو ويره وی. چنانچه صحيحين کښې

---

[1]) الموطا للإمام مالک کتاب الصلاة رقم الحديث: ١٤٦.

[2]) أوجز المسالک: ٥٨٢/١-٥٨١.

[3]) سنن أبي داؤد کتاب الطهارة باب في المذی رقم الحديث: ٢١٢.

[4]) الباعث الحثيث (شرح اختصار علوم الحديث) أبوداؤد منظان الحديث الحسن ص: ١٣٦مکتبة المعارف للنشر والتوزيع، النکت على کتاب ابن الصلاح: ٤٣٥/١دار الراية للنشر والتوزيع تدريب الراوی فی شرح تقريب النواوی: ٢٤٦/١-٢٤٥دارالعاصمة للنشر والتوزيع.

[5]) تلخيص الحبير في تخريج أحاديث الرافعي الكبير باب الحيض: ٢٩٤/١مؤسسة قرطبة، دارالمشكاة فتح الملهم: ٩٧/٣

[6]) شرح معاني الآثار کتاب النکاح باب الحائض رقم الحديث: ٤٣٧٧عالم الکتب مسندالإمام أحمد، مسندعمر بن الخطاب رضى الله عنه: ٢٤٧/١رقم الحديث:٨٦مؤسسة الرسالة.

[7]) أوجز المسالک کتاب الطهارة: ٥٨٠/١معارف السنن: ٥١٠/١.

[8]) المجموع شرح المهذب: ٣٦٣/٢.

د نعمان بن بشير رضي الله عنه مرفوع روایت دی. «من وقع في الشبهات كراع يرعى حوال الحمى، يوشك أن يواقعه»[1] يعني كوم سړی چه محارم ته نيزدې شو نواند يښنه ده چه هغه ددې ارتکاب اوکړی او د مانعينو دلائل د عنوان لاندې چه کوم روايات ذکرکړې شوی دی هغه ټول هم ددې حکم سدالل ذريعه کيدو طرف ته اشاره کوی.[2]

دعلامه شبيراحمدعثماني رحمه الله كلام: علامه شبيراحمدعثماني رحمه الله فرمائی چه دومره خبره خو واضحه ده چه ﴿ فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِي الْمَحِيْضِ ﴾کښې دحيض په حالت کښې د ښځونه د جدائی اختيارولومطلب هيڅ کله دانه دې چه دوی سره خوراك څښاك او ملامست (يوځل ښکلول) وغيره هم ترك کړې شی ځکه چه داخود يهودو فعل دې بلکه مطلب دادې چه په داسې حالت کښې هغوی سره صرف جماع مه کوئی. هم دغه دحضرت انس رضي الله عنه د روايت «اصنعوا كل شيء إلا النكاح» اودحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها د قول «كل شيء إلا الفرج»صريح مدلول دې او چونکه ﴿فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِي الْمَحِيْضِ﴾ ترتب ﴿هُوَ اَذًى﴾ باندې کيږی په دې وجه د اعتزال اوجدائيئ د حکم اعتبار هم په محل أذى يعنی فرج باندې وی اوداسې به مراد بالکل واضح شی چه د حيض په حالت کښې جدائی اختيارولو مطلب د جماع نه ځان ساتل دی.

وړاندې دی چه ﴿ وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ﴾ د کوم نه چه هم دغه معلوميږی چه دا نوې حکم صرف د تاکيدپاره نه دې بلکه دتحريم جماع نه پس ددې مبادئی قريبه نه هم منع کول اوبنديدلوډپاره دی. دغه د نفس جماع حرمت ﴿ فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِي الْمَحِيْضِ ﴾ سره به اوشی اود مبادئی قريبه حرمت﴿ وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ﴾ سره اوشی. بيا چونکه دغه قرب منهی عنه يعنی﴿ وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ﴾ مجمل وونو محضورپاك په خپل قول «لك مافوق الإزار» اوفعل «كان يباشرنساءه فوق الإزار» سره ددې قريب منهی عنه تحديداوکړو اوحرمت فرج او حريم فرج يعنی«مابين السرة والركبة»طرف ته اشاره اوکړه. لهذا په دې اجمال اوتفصيل سره معلومه شوه چه دحضورپاك قول «إلا النكاح» نه مراد هم «النكاح وما قاربه» دې.يعنی جماع اوکوم چه محل د جماع سره نيزدې دی اودحضرت عائشه رضي الله عنها قول «إلا الفرج» نه مراد هم «الفرج وحريمه» دې يعنی فرج او دې سره نيزدې حصه دبدن.

دمبادئی قريبه نه د ممانعت تمثيل: ددې خبرې مثال چه د قرب شئ نه منع کول دهغه شئ د بعض مبادئی قريبه نه په منع کولو باندې دلالت کوی. پخپله په قرآن مجيد کښې موجود دی. چنانچه علامه آلوسی رحمه الله ﴿ وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰى ﴾[3] په تفسيرکښې فرمائی چه «أي: بمباشرة مباديه القريبة أو البعيدة فضلاً عن مباشرته» يعنی مباشرت د زنا خو لرې خبره ده د زنا مبادئی قريبه او بعيده ارتکاب هم مه کوئی.

---

[1]) رواه البخاري في كتاب الإيمان باب فضل من استبرألدينه رقم الحديث: ٥٢ومسلم في المساقاة باب أخذا لحلال وترك الشبهات رقم الحديث: ٤٠٩٤ هذا لفظ البخاري ولفظ مسلم: (ومن وقع في الشبهات وقع في الحرام، كالراعي يرعى حوالحمى، يوشك أن يرتع فيه).

[2]) فتح الملهم: ٩٧/٣.

[3]) الإسراء: ٣٢.

هم دغه تفسير ﴿ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ ﴾ [1] دي. خکه چه فواحش ته نيزدې کيدل دهغې د ارتکاب دپاره داعى دي. هم دغه شان د يوسف عليه السلام په قصه کښې دى چه ﴿ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِنْدِي وَلَا تَقْرَبُونِ ﴾ [2]
أي لاتقربوني بدخول بلادي فضلاً عن الأحسان في الإنزال والضيافة يعنى ماته رانيزدې کيدل خو لرې خبره ده زما په بادشاهئى کښې هم داخل نه شي څه به لاتاسره د اکرام اوميلمستيا معامله اوکړې شي.
لهذا دلته په آيت دحيض کښې دجدا اوسيدو حکم ورکولو نه پس دغه ښځوته دنيزدې کيدو نه منع كول په حقيقت کښې د جماع مبادئى قريبه يعنى مابين السرة والركبة نه منع كول دى. ددې نه معلومه شوه چه د آيت مبارك ظاهر هم د جمهور رحمهم الله د قول موافق دى. [3]
د علامه ابن الهمام رحمه الله كلام: علام ابن همام رحمه الله فرمائى چونکه امام ابوداؤد رحمه الله په خپل دې روايت کښې «د کوم ذکر چه د مانعين دليل نمبر ۴ لاندې تيرشوې دې» باندې سکوت فرمائيلې دې په دې وجه داحجت دې. دې نه علاوه دا روايت حسن دې لکه څنګه چه بعض حضراتو دا حسن ګرخولې دې اويا صحيح دې لکه چه شارح ابوزرعه رحمه الله دا صحيح ګرخولې دې اوداخبره په خپل ځائى باندې مسلم ده چه د روايت د صحيح کيدو بنياد د سند په رجال باندې وى. چنانچه علامه شوکانى رحمه الله فرمائى چه دامام ابوداؤد رحمه الله ددې روايت په سند کښې دوه راويان صدوق او باقى ټول ثقات دى. لهذا د شارح ابوزرعه رحمه الله دا روايت صحيح ګرخول ټيك دى. دا روايت دامام مسلم تخريج کړې شوې روايت «اصنعوا كل شيء إلا النكاح» سره معارض خو دې مګر امام مسلم رحمه الله چونکه دداسې رُوات نه هم روايت کوى په چاکښې چه جرح موجودوى. په دې وجه به ترجيح د امام ابوداؤد رحمه الله روايت ته وى. بيا چونکه دا روايت محرم دې اود امام مسلم رحمه الله روايت مبيح دې او عندالتعاض هم محرّم ته ترجيح کيږى په دې وجه به هم ترجيح هم د ابوداؤد رحمه الله روايت ته وى. دغه شان ﴿ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّى يَطْهُرْنَ [4] ﴾ کښې دوه احتماله دى: ① چه نهى صرف عين د جماع نه وى. ② چه نهى عام وى.
که چرې رومبې احتمال مراد وى نو په داسې صورت کښې په دويم مقام «ماتحت الإزار» کښې د حديث په ذريعه حرمت ثابت کيدې شي. په دې باندې دا اشکال نه شى کيدې چه مونږ په قرآن پاك باندې په خبرواحد سره زياتې کړې دې څکه چه دا د خبرواحدذريعه د زياتوالى د قبيل نه نه دې بلکه د قرآن کريم مطلق حکم مقيد کولو د قبيل نه دې. چنانچه دقرآن کريم حکم مطلق وو چه بغيرد جماع نه ټول حلال دى نوحديث دا اطلاق مقيد کړو چه ماتحت الإزار هم استمتاع حلال نه ده. لهذا داسې ګنړل پکاردى چه د حديث په ذريعه د يوداسې حکم نه تعرض کړې شوې دې کوم چه قرآن نه دې بيان کړې.
اوکه چرې دويم احتمال مراد وى نو جماع او نور ټول استمتاعات به هم حلال نه وى نه به مافوق الإزار حلال وى اونه به ماتحت الإزار. اوس به د حديث په ذريعه د بعض احکامو تخصيص کيږى. چنانچه مافوق الإزار نه په استمتاع باندې چونکه اجماع ده په دې وجه به مافوق الإزار ددې نهى نه خاص شي.

---

[1]) الأنعام: ١٥٢.
[2]) يوسف:۶
[3]) فتح الملهم: ٣/٩٩-٩٨.

باقي د بدن توله حصه به دنهي لاندې داخله شي او جماع او استمتاع ماتحت الإزار دواړو باندې به د حرمت حکم باقي پاتې شي.[1]

د امام ابوبکر الجصاص رحمه الله کلام: امام ابوبکر الجصاص رحمه الله فرمائي چه آيت مبارك په دوه شان سره په ماتحت الإزار باندې دلالت کوي يوخودا چه ﴿فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِي الْمَحِيْضِ﴾ ظاهر بالکليه د اجتناب تقاضا کوي خوچه کله د استمتاع مافوق الإزار په اباحت باندې اتفاق اوشو نومونږ داد دليل کيدو د وجې نه تسليم کړو اود مافوق الإزار د حلت حکم مواولګولو. مګر چونکه د ماتحت الإزار په حلت باندې دليل قائم نه دې په دې وجه دا هم يوشان د حرمت د حکم لاندې باقي پاتې دې.

او دويم دا چه ﴿وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ﴾ ظاهر بالکليه د اجتناب تقاضا کوي لهذا عندالاختلاف هم دا څيز به مستثنى ګرځولې شي د کوم دليل چه موجود وي. چنانچه د حضرت عائشه حضرت ميمونه او عمر رضي الله عنهم وغيره روايات د دليل په توګه موجود دی کوم چه په ماتحت الإزار باندې د حرمت دلالت کوي.

د دريم فريق حضرت انس رضي الله عنه ورانډې ذکر کړې شوې روايت او د حضرت عائشه رضي الله عنها د هغه روايت نه استدلال کوي په کوم کښې چه حضورپاك صلی الله علیه وسلم حضرت عائشه رضي الله عنها ته اوفرمائيل «ناوليني الخمرة» يعنى ماله پوزکې راکړه نوحضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل زه په حيض کښې يم. په دې باندې حضورپاك صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل «ليست حيضتك في يدك» يعنى د حيض نجاست ستا په لاسونو کښې نه دې.

دا حضرات فرمائي چه داحديث په دې امر باندې دلالت کوي چه دښځې هر هغه اندام په کوم کښې چه د حيض وينه نشته دهغې حکم د حيض په حالت کښې هم هغه دې چه د تولو اندامونو د طهارت په حالت کښې دې. ددې حضراتو د دلائلو جواب دادې چه د حضرت انس رضي الله عنه په حديث کښې د آيت د نزول سبب اود يهودو دص حرکتونو بيان دې په کوم کښې چه حضورپاك د يهودو د مخالفت حکم اوفرمائيل چه د حيض په حالت کښې دوی (ښځې) د کورونو نه مه اوباسئى او مه دوى سره ناسته پاسته پريږدئى.

او«اصنعوا كل شيء إلا النكاح» نه ممکن دی چه «جماع فيما دون الفرج» مراد وى ځکه چه دا هم د جماع يوقسم دې. خو د حضرت عمر رضي الله عنه روايت په دې مسئله کښې د قول فيصل درجه لرى او هغه حديث د حضرت انس رضي الله عنه نه متاخر هم دې. ځکه چه حضرت انس رضي الله عنه د نزول آيت د احوال خبرورکوى او حضرت عمر رضي الله عنه داخبره ورکوى چه پخپله هغه د حضورپاك نه د دې مسئله تپوس اوکړو اودا لامحاله د آيت د نازليدلو نه هم پس کيدې شى ځکه چه دا سوال کول چه د حيض په حالت کښې د بدن د کومو اندامونو نه استمتاع حلال ده؟ هم هغه وخت کيدې شى کله چه ددې نه وړاندې د حرمت حکم معلوم شوې وى. بل که چرې د حضرت عمر رضي الله عنه د مسئلې تپوس کول د آيت د نازليدلو وخت کښې وې نو حضورپاك به په جواب کښې هم په دغې باندې اکتفاء کوله کوم چه د حضرت انس رضي الله عنه په حديث کښې ذکر دى. اوکه چرې په دواړو روايتونوکښې تعارض اومنلې شى نوبيابه هم د حضرت عمر رضي الله عنه روايت ته ترجيح وى ځکه چه «الحظر والإباحة إذا اجتمعا فالحظر أولى» يعنى کله چه حرمت او اباحت دواړه راجمع شى نو ترجيح به حرمت ته حاصله وى اوچونکه د حضرت عمر رضي الله عنه په روايت کښې د حرمت بيان دې په دې وجه به ترجيح هم دې ته وى.

[1] فتح الملهم: ۳/۹۸-۹۷ فتح القدير (بتغيير يسير): ۱/۱۷۰-۱۶۹.

دغه شان د ماقبل د تشريح نه واضحه شوې ده چه دقرآن پاك ظاهر هم د حديث عمر ﷺ موافق دې خو د حضرت انس ﷺ په حديث سره د حكم قرآني تخصيص لازم راځي او قاعده ده چه «مايوافق القرآن أولى ممايخصه» يعنې كوم حكم چه د قرآن موافق وي هغه زيات بهتردې د داسې حكم نه په كوم كښې چه د حكم قرآني تخصيص لازم راشي. بل دا چه دحضرت انس ﷺ حديث مجمل او عام دې اودحضرت عمر ﷺ حديث ددې دپاره مفسردې خكه چه په دې كښې ماتحت الإزار او مافوق الإزار د دواړو حكم جدا جدا ذكركړې شوې دې. لهذا د ترجيح ددې ټولو وجوهاتو په رڼا كښې به هم د حضرت عمر ﷺ حديث ته ترجيح وي. والله أعلم بالصواب.[1]

دطهرد انقطاع د دم په معنى كښې د استعماليدو دلائل: ابن جرير د امام مجاهدنه سه سند حسن سره نقل كوى چه ﴿حَتّٰى يَطْهُرْنَ﴾ دا انقطاع دم دې.حضرت عكرمه سفيان اوعثمان بن الاسود نه هم ﴿حَتّٰى يَطْهُرْنَ﴾ معنى«حتى ينقطع عنهن الدم»نقل دې[2]بل ابن جرير،ابن المنذر، ابن ابى حاتم او امام بيهقى رحمهم الله هم د ابن عباس ﷺ نه ﴿حَتّٰى يَطْهُرْنَ﴾تفسير «حتى يطهرن من الدم» سره نقل كړې دې.[3]

د تطهر داغتسال په معنى كښې د استعماليدو دلائل: ابن جرير په سند حسن سره د ابن عباس ﷺ نه ددې آيت تفسير داسې نقل كړې دې: «فإذاطهرت من الدم وتطهرت بالماء» دغه شان امام مجاهد، حسن، سفيان او عثمان بن الاسود رحمهم الله نه هم نقل دى.[4]

دلته ددې خبرې وضاحت كول ضرورى دى چه اغتسال د تطهر حقيقى معنى نه ده خكه چه د تطهر استعمال دغير اغتسال په معنى كښې هم عام دې چونكه داد مبالغه صيغه ده اود حيض نه دطهارت كامله هم د اغتسال په ذريعه حاصليدې شى په دې وجه په دې موقع باندې دا لفظ د اغتسال په معنى كښې واخستلې شو.[5]

د انقطاع دم نه پس اود اغتسال نه وړاندې د وطى كولوحكم: په دې مسئله كښې د فقهاء كرامو حضراتو په مينځ كښې اختلاف دې چه دخاوندد‌پاره د وينې بنديدو نه پس اود اغتسال نه وړاندې ښځې سره كوروالې كول جائز دى كه نه؟ نو په دې سلسله كښې د بعض حضراتو مذهب خودا دې چه صرف هم د وينې په بنديدو سره د كوروالى اباحت ثابتيږى كه كمه موده يعنى په عادت باندې وينه بنده شوې وى يا په اكثرموده باندې.

---

[1] احكام القرآن للجصاص: ۴۰۹/۱.

[2] تفسير ابن أبى حاتم، تفسير قوله تعالى ﴿وَلَاتَقْرَبُوْهُنَّ﴾ :۴۰۱/۱مكتبة نزار مصطفى الباز، مكة المكرمع تفسير القرآن العظيم لابن كثير، سورة البقرة الآية: ۲۲۲، ۳۰۴/۲مؤسسة قرطبة، أحكام القرآن للتهانوى: ۴۱۳/۱.

[3] تفسير ابن أبى حاتم، تفسير قوله تعالى ﴿وَلَاتَقْرَبُوْهُنَّ﴾ :۴۰۱/۱مكتبة نزار مصطفى الباز، مكة المكرمع تفسير القرآن العظيم لابن كثير، سورة البقرة الآية: ۲۲۲، ۳۰۴/۲مؤسسة قرطبة، أحكام القرآن للتهانوى: ۴۱۳/۱.

[4] تفسير ابن أبى حاتم، تفسير قوله تعالى ﴿فَإِذَاتَطَهَّرْنَ﴾ :۴۰۲/۱مكتبة نزار مصطفى الباز، مكة المكرمع تفسير القرآن العظيم لابن كثير، سورة البقرة الآية: ۲۲۲، ۳۰۴/۲مؤسسة قرطبة، أحكام القرآن للتهانوى: ۴۱۳/۱.

[5] روح المعانى: ۵۱۶/۱ أحكام القرآن للتهانوى: ۴۱۴/۱.

داحضرات ﴿وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ﴾ نه استدلال كوى چه حتى دلته دغايت دپاره مستعمل دې دكوم تقاضاچه داده چه ددې مابعد حكم كښې دماقبل خلاف وى لهذا د وينې د بنديدو نه پس به د خاوند دپاره كوروالې كول حلال وى كه هغه دوينې بنديدل په عادت باندې وى يا په اكثر موده باندې.
بل كه چرې دا لفظ په تشديدسره اولوستلې شى نوبيابه هم د انقطاع دم والامعنى مرادوى ځكه چه طَهُرت او تَطَهَّرت دواړه په انقطاع دم معنى كښې استعماليدې شى لكه چه ((تقطع الحبل)) معنى ((انقطع الحبل)) او ((تكسر الحوز)) معنى ((انكسر الحوز)) ده.
ائمه ثلاثه امام مالك امام شافعى اوامام احمدبن حنبل رحمهم الله فرمائى چه د وينې بنديدل په عادت باندې وى يا په اكثرموده د حيض باندې، تركومې چه ښځه غسل نه كوى د كوروالى اباحت به نه ثابتيږى ځكه چه ﴿فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ﴾ كښې د وطى د اباحت دپاره دوه شرطونه ذكر دى. يوانقطاع دم او دويم غسل كول ځكه چه تطهرن كښې د غيرغسل احتمال نه شى كيدې. لهذا كله چه دواړه شرطونه موجود شى نودخاونددپاره به كوروالې حكول حلال شى. لكه چه آيت ﴿فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ۗ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا﴾ كښې د اول خاونددپاره د حلال كيدو دوه شرطونه دى.يونكاح اوبل طلاق. په دې وجه صرف د يوشرط په موجود كيدو هغه د اول خاونددپاره حلال نه وى.هم دغه شان كه څوك وائى چه((لا تعط زيدا شيئا حتى يدخل الدار فإذا دخلها وقعد فيها فأعطه دينارا)) نو ددې مطلب اومفهوم بالكل واضح دې چه استحقاق دينارمشروط بشرطين دې يودخول دار او بل قعود فى الدار.
حضرات احناف رحمهم الله فرمائى كه چرې د وينې بنديدل په عادت باندې (يعنى د لسو ورځونه په كم باندې) وى نو چه ښځه تركومې غسل اونه كړى يا د يوكامل مونځ وخت تيرشوې نه وى هم دحائضه په حكم كښې به وى خوكه غسل اوكړى يا د يوكامل مونځ وخت تيرشى نوهغه به اوس يوه پاكه شميرلې كيږى اود خاونددپاره به كوروالې كول هم حلال وى اوكه چرې داد عدت آخرى حيض وو نوعدت به ئې هم پوره شى. اوكه چرې د وينې بنديدل د لسو ورځونه پس وى نواوس به هغه هم پاكه شميرلې كيږى اود غسل نه وړاندې هم د خاوند دپاره كوروالې كول حلال وى لكه چه د جنبى ښځې سره چه دخاوند كوروالې كول حلال دې.البته د كوروالى نه وړاندې د ښځې دپاره غسل كول مستحب دى.(۱)

د احناف رحمهم الله يواصول: د حضرات احناف رحمهم الله يواصول دى چه هغوى متعدد قراءات د مستقل آيات په حكم كښې ګنړى اودهغې نه جدا جدا احكام مستنبط كوى لهذا دلته هم هغوى قراءت د تشديد د لسو ورځونه كم كښې د وينې بنديدل د حيض والاصورت باندې محمول كړى دى. ځكه چه تطهّر د باب تفعل نه دې په دې كښې په نسبت د فعل لازم اودمجرد معنوى زياتوالې كيږى يعنى علاوه دقدرتى اوحسى طهارت نه په خپل كسب اوفعل سره هم طهارت حاصلول ضرورى دى او هغه به دغسل په ذريعه سره وى. په دې وجه د احنافو مذهب دادې چه په مذكوره صورت كښې هم د غسل نه پس دهغې خاوند كوروالې كولې شى.
ددې عقلى دليل دادې چه د وينې كله ادرار كيږى اوكله انقطاع. په دې وجه په كمه موده كښې د ختميدونكې وينې د دوباره راتلو احتمال موجود وى. په دې وجه عموماً د ښځوعادت هم دا وى چه هغوى ته د بيا وينې راتلو خيال وى سره ددې چه دمعمول اوعادت موافق وينه بنده شوې هم وى. البته

(۱) أحكام القرآن للجصاص: ۱/۴۲۳-۴۲۲ التسهيل العلوم التنزيل: ۱/۱۰۹.

دغسل كولونه پس هغه مطمئن كيږي.نولكه څنگه چه هغوي ته قلبي اطمينان بغيرد قدرتي او اختياري دواړه قسم طهارت نه نه حاصليږي دغه شان په قرآن مجيد كښې هم د دغه خارجي او واقعاتي امورو لحاظ كولوسره د دواړو طهارتونو په حصول باندې احكام وركړې شوې دى. په خلاف د دويم صورت چه كله د وينې انقطاع د حيض په اكثر موده باندې وى نوچونكه ددې نه پس د زياتوالي هډو احتمال باقي نه پاتې كيږي نودهغې دپاره به د تخفيف والا د قراءت حكم چليږى او قدرتي او سماوي طهارت به كافي وى ځكه چه طهر لازم دې. لهذا د حيض اكثر موده پوره كيدو نه پس چونكه طهارت حسيه حاصل شوې دې په دې وجه بغيرد غسل نه هم جماع جائز ده كوم چه صرف د حيض اودهغې د گندگئي د وجې نه ممنوع شوې وه سره ددې چه د غسل استحباب په دې صورت كښې هم د احنافو په نيز شته اود مونځ فرضيت هم متوجه شو لكه چه ددې ادا كول بغيرد حكمي طهارت (غسل) نه جائزنه دې په دې وجه غسل ضروري شو.[1]

بل د قراءت تخفيف تقاضاداده چه دوينې بنديدوسره چه دا عارضي حرمت ختم شي اوښځه پاكه شميرشي خود قراءت تشديد تقاضا داده چه حلت په غسل باندې موقوف وى. په دې وجه مناسب هم دغه ده چه دا دواړه قراءتونه د دوومستقل آياتونو په څائي اودرولوسره دا په دوو مختلفو حالتونو باندې محمول كړې شى ځكه چه كه انقطاع دم على اكثرالحيض والا صورت كښې حلت په غسل باندې موقوف كړې شى نومطلب دا شو چه لكه ښځه تردغه وخته پورې حكماً هم حائضه ده خوداحكم د شريعت منافي دې ځكه چه شرعاً د اكثرمودې نه پس وجوب صلاة يعنى د مونځ واجب كيدل اود شريعت نور احكام متوجه كيږي. اوداسې به په هغه صورت كښې وى كله چه ښځه پاكه شوې وى.لهذا داكثر مودې نه پس حلت په غسل باندې موقوف كول د شرعت دحكم منافي كيدو د وجې نه هم صحيح نه دى په دې خلاف د انقطاع دم على العادة چه په دې صورت كښې شريعت د طهارت قطعي حكم نه دې لگولې ځكه چه په دې كښې د حيض د وينې راتلو احتمال كيدې شي. هم دغه وجه ده كه چرې وينه واپس راؤگرځي اودلسمې ورځې نه تجاوزاونه كړى نوپه اتفاق سره ټول حيض شميرلې شي.

په دې باندې دا اشكال نه وى چه د وينې واپس راگرځيدل خود غسل يا يوكامل مونځ وخت تيريدو نه هم ممكن دى؟ ځكه چه دغسل كولونه پس د طهارت حكم پخپله شريعت لگولې دې. دغه شان د حيض د وينې بنديدونه پس كه چرې يوكامل مونځ وخت تير شى نود مونځ واجب كيدل او نور احكام متوجه كيږى خودا ټول د حائضه په احكام كښې نه دى ځكه چه كه د غسل كولونه پس يا د كامل مونځ وخت تيريدونه پس دم حيض واپس راشى نود طهارت حكم منسوخ كيږى اود حيض حكم واپس راگرځي.[2]

د امام ابوبكر الجصاص رحمه الله تحقيق: امام ابوبكرالجصاص فرمائى چه كه چرې ﴿حَتّٰى يَطْهُرْنَ﴾ مخفف اولوستلې شى نوددې معنى به د وينې د بنديدو شى د اغتسال معنى په دې وجه نه شى كيدې ځكه چه كه چرې حائضه د حيض په حالت كښې غسل هم اوكړى نوبيابه هم هغه ناپاكه شميرلې شي. په دې وجه صرف د انقطاع دم والامعنى به متعين كيږى په كوم سره چه ښځه د حيض د حالت نه اوځى. خود مشدد لوستلو په صورت كښې د وينې بنديدل او اغتسال دواړو معانو احتمال دې. مگر چونكه

---

[1] أنوار البارى: ۳۶۵/۱.

[2] روح المعانى: ۵۱۶/۱أحكام القرآن للتهانوى: ۴۱۵/۱-۴۱۴.

قراءت تخفيف محكم دې ځکه چه ددې معنی واحد متعين ده اوقراءت تشديد متشابه دې ځکه چه معنی واحد متعين نه ده بلکه ددواړو معانو په دې کښې احتمال دی اود متشابه داحکم دې چه داد محکم طرف ته راؤګرځولې شی په دې وجه قراءت دتشديد هم د قراءت تخفيف طرف ته راګرځولې شی.اوس به د دواړو قراءتونو حاصل معنی داشی چه ددې عارضی حرمت دپاره انقطاع دم غايت دې.

باقی﴿فَإِذَا تَطَهَّرْنَ﴾کښې هم دمخکښې په شان دواړه احتمالات دی پدې وجه به داهم د قراءت تخفيف طرف ته راګرځولې شی اوحاصل عبارت به داسې شی «حتی يطهرن فإذا تطهرن فأتوهن» اومعنی به هم بالکل صحيح شی لکه چه څوك داسې اووائی«لاتعط زيداشيئاً حتی يدخل الدار،فإذادخلهافأعطه» او ﴿فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ﴾ حکم غايت يعنی ﴿حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ﴾ دپاره تاکيد جوړيږی.نتيجتاً به د آيت کريمه تقاضا دا شی چه د وينې بنديدل(په کوم سره چه ښځه د حيض د حالت نه اوځی) نه پس کوروالی کول مباح وی.

بل په آيت مبارك يو احتمال داهم دې چه ﴿فَإِذَا تَطَهَّرْنَ﴾ معنی «إذاحل لهن أن يتطهرن بالماء أوالتيمم» وی لکه چه «إذاغابت الشمس فقدأفطرالصائم» معنی ده.«قدحل له الإفطار» او «من كُسِرَ أوعَرِجَ فقدحل عليه الحج من قابل» معنی ده.«فقدجازله أن يحل» لهذاچه کله دلته هم ددې معنی احتمال دې نوغايت به هم دغې په حقيقت باندې باقی ساتلې شی اود حرمت وطی حکم به نه شی لګولې.

ترکومې چه خبره ده د ﴿فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ﴾ نه د خپل مذهب په صحت باندې د دليل نيولو نوجواب دادې چه په دې آيت کښې هم غايت په خپله هم حقيقی معنی کښې مستعمل دې د دويم خاوند نکاح د کوم نه مراد چه وطی دې د دريو طلاقو کيدونکی د حرمت دپاره غايت دې په داسې توګه چه ددويم خاوندپه وطی کولوسره دا حرمت ختميږی اود دويم خاوند طلاق ورکولو باندې نه موقوف کيږی په دې وجه ددې نه استدلال کول صحيح نه دی.

ددې تقرير نه پس حضرات شوافع دپاره خونه دخپل مذهب په صحت باندې دليل باقی پاتې کيږی اونه د نوروحضراتو دقول په نفی باندې،ليکن حضرات احناف دواړه قراءتونه په دوو مختلفو حالتونو باندې محمول کولوسره دواړه په خپلو حقيقی معنوکښې استعمالوی. چنانچه د تخفيف والا قراءت په اکثرموده باندې او د تشديد والا قراءت په اقل موده باندې محمولوسره مختلف احکام مستنبط کوی.(١)

د علامه انورشاه کشميری رحمه الله تحقيق: علامه انور شاه کشميری رحمه الله فرمائيلی چه په آيت مبارك کښې "جواز إتيان" په دوو امورو باندې معلق کړې شوی دی او طهارت حسيه (د وينې بنديدل) دی دکوم طرف ته چه ﴿حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ﴾ سره اشاره ده او دويم طهارت حکميه (غسل) دې. دکوم طرف ته چه ﴿فَإِذَا تَطَهَّرْنَ﴾ سره اشاره ده. قرآن کريم اقل حيض اواکثرحيض دتعيين اوتفصيل نه بغيرعلی الاطلاق د دواړو طهارتونو په حصول باندې احکام ورکړی دی. په دې وجه د قرآن مجيد اطلاق به هم په صورت اطلاق کښې ساتلی شی اود جزئيات تفصيل به مجتهد ته حواله کوو. چنانچه کله مجتهد د خپل منصب تفحص لاندې معلومه کړه چه د حيض وينه د لسو ورځونه زياتيږی نه نودائی دخپل اجتهاد په ذريعه (نه چه د قرآنی نص د وجې نه) دا جزئی مخصوص او مستثنی کولو حق حاصل شو په دې وجه دې ته په هيڅ صورت د نص مخالفت نه شی وئيلې. البته که قرآن مجيد انقطاع دم علی

---

(١) أحكام القرآن للجصاص: ٤٢٣/١.

الاکثر په صورت کښې غسل ضروري کړي وي نو بيا به دې ته خامخا د قرآني نص مخالفت ونيلې شو. ليکن قرآن مجيد دې خاص څيزطرف ته اشاره نه ده کړې بلکه په مختلف خارجي عاداتو باندې دمسئلې فيصله په اجمالي توګه باندې اوکړه. نه ئې د اقل اواکثر تفصيل اوکړو او نه ئې په دې باندې د مسئلې بنياد ښکاره کړو. مجتهد راغلو د دغه جزئياتو چهان بين ئې اوکړو اودا فيصله ئې اوکړه که چرې د وينې بنديدل په اکثر موده باندې وي نود جماع د جواز مدار به صرف په قدرتي او سماوي طهارت باندې وي. په دې وجه د وينې په بنديدو باندې د جماع اجازت ورکړو او په کمه موده باندې د وينې د بنديدو په صورت کښې مدار په طهارت اختياريه باندې کيخودو اوبغير د غسل نه ئې د جماع اجازت ورنه کړو.[1]

دعلامه ابن رشد مالکي رحمه الله اعتراض: علامه ابن رشد مالکي رحمه الله ددې تقرير تضعيف کړې دې. د هغوى وېناده چه ﴿يَطْهُرْنَ﴾ نه اکثر موده او ﴿فَإِذَا تَطَهَّرْنَ﴾ نه اقل موده مراداخستل غايةً اوپه استيناف کښې بې ربطي پيدا کولوپه شان دى. اودا داسې دى لکه چه څوك اووائي: «فأتعط فلاناً درهماً حتى يدخل الدار، فإذا دخل المسجد فأعطه درهماً» يعني ته فلانکي ته درهم مه ورکوه، تردې چه هغه په کورکښې داخل شي، نوهغه جمات ته داخل شي نوهغه له درهم ورکړه. اوس ښکاره خبره ده چه داسې کلام په عربوکښې غيرمستعمل دې څکه چه په غايت او استيناف کښې بې ربطي بالکل واضح ده هم دغه شان بې ربطي ﴿يَطْهُرْنَ﴾ نه اکثر مراد اخستل او ﴿فَإِذَا تَطَهَّرْنَ﴾ نه اقل موده مراد اخستلو کښې ده. ددې دپاره ضروري دى چه مجتهددې يوه معنى (انقطاع دم او اغتسال) متعين کولونه پس په دويم مقام کښې هم هغه معنى مراد واخلي چه په غايت او استيناف کښې بې ربطي پيدانه شي.[2]

د ابن رشد مالکي رحمه الله د اعتراض جواب: ددې اشکال د جواب حاصل دادې چه په حقيقت کښې آيت ﴿وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ﴾ معنى «حتى يطهرن ويتطهرن فإذا تطهرن ويطهرن فأتوهن من حيث أمركم الله» ده. ددې دوارو جملونه يو يوفعل د اختصاردپاره حذف کړې شوې دې څکه چه د يو ذکر د بل په حذف اوتقدير باندې قرينه ده. کله چه اصل کلام سره دمقدراتو پيش کړې شو نومذکوره اشکال هم لرې شو. څکه چه ﴿فَإِذَا تَطَهَّرْنَ﴾ دپاره په غايت کښې تطهر موجوددې په کوم سره چه دبې ربطي اشکال ختميږي دويم جواب دادې چه د ﴿فَإِذَا تَطَهَّرْنَ﴾ تعلق د غايت سره نه دې بلکه صدر کلام﴿وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ﴾ سره دې په داسې معنى چه په حالت د حيض کښې ښځوسره قربت مه کوئى بياچه کله هغوى پاکې شي نو مقاربت کوئى. دې ته په اصطلاح کښې تردد عکس وائى.[3]

دحائضه اونفساء دپاره د مونځ روژې پريخودو حکم: علامه نووي رحمه الله فرمائى چه د حائضه په حق کښې د علماء اهل سنت اجماع ده چه دحيض په حالت کښې په ښځه باندې مونځ کول حرام دى که هغه فرض مونځ وى اوکه نفل او په دې باندې هم اجماع ده چه دحائضه نه د مونځ فرضيت ساقط دې. په دې وجه د پاکيدو نه پس دهغه مونځونو کوم چه د حيض په ورځو کښې ساقط وو قضاء به نه کوى.

---

[1] فيض البار(بتغيير يسير): ۳۷۲/۱ أنوار الباري: ۳۶۶/۱۰.

[2] بدية المجتهد: ۵۶۲/۱ فيض الباري: ۳۷۳/۱.

[3] فيض الباري: ۳۷۴/۱-۳۷۳ أنوارالباري: ۳۶۷/۱۰.

بل ابوجعفر رحمه الله د ابن جرير طبري رحمه الله په حواله سره نقل کوی چه هغوی په خپل کتاب "اختلاف الفقهاء" کښې دحائضه په حق کښې ټول مونځونه اوټولې روژې (که فرض وی اوکه نفل) او طواف (که فرض وی که نفلی) په ممانعت باندې اجماع نقل کړې ده. امام ترمذی ابن المنذر اوابن جرير اونورو فقهاء کرامو رحمهم الله په دې باندې هم اجماع نقل کړې ده چه په حائضه باندې د مونځونو قضاء نشته دې البته د روژو قضاء شته.[1]

علامه عيني رحمه الله فرمائي په حائضه باندې د مونځونو قضاء نشته دې او په دې کښې د ائمه حضراتو هيڅ اختلاف نشته دې بغيرد خوارج نه.[2] ځکه چه هغوی د روژې د قضاء په شان د مونځونو قضاء هم ضروری ګڼړی.[3] ددې روايت نه هم د خوارج دمسلك پته لګی. دحضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه دهغې نه يوې صحابيه معاذه رضي الله عنها تپوس اوکړو چه څه وجه ده چه حائضه خو د روژو قضاء راوړی ولې د مونځونو قضاء راوړل په هغې باندې نشته دې؟ نوحضرت عائشه رضي الله عنها په جواب کښې ارشاد اوفرمائيلو «أحرورية أنت؟» يعنی ولې ته خارجيه ئې؟ نوهغې اوفرمائيل نه زه خارجيه نه يم. نو ام المؤمنين عائشه صديقه رضي الله عنها اوفرمائيل چه مونږ ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کښې د روژو د قضاء حکم راکړې شوې وو اود مونځونود قضاء حکم نه وو راکړې شوې.[4] (په دې وجه به د روژو قضاء کيږی او د مونځونو قضاء به نه کيږی) حضرت عائشه رضي الله عنها د خارجيه کيدو متعلق ځکه تپوس کړې وو ځکه چه دخوارج وينا ده چه حائضه باندې د مونځونو قضاء هم ده.[5]

د روژې اومونځ ترک کولو وجه: د ترک صلاة حکم په دې وجه دې چه د مونځ د صحت دپاره طهارت شرط دې خو دحيض حالت د طهارت منافی دې اوهم په دې وجه دترک صلوة حکم معقول المعنی ګرځولې شوې دې. البته د روژې دپاره طهارت شرط نه دې خو بياهم د ترک صوم حکم دې. نودا حکم غير معقول المعنی کيدو د وجې نه امر تعبدی اوغير مدرك بالقياس ګرځولې شوې دې.[6]

دعلامه انورشاه کشميری رحمه الله تحقيق: علامه انور شاه رحمه الله فرمائی د مانځه دپاره د طهارت شرط کيدل دغه شان د حج د بعض مناسك دپاره د طهارت واجب کيدل اود بعض دپاره سنت کيدل خود ټولو په نيز مسلم دی لکه چه ستردعورت دې چه په خارج کښې او په اکثروختونو او احوالوکښې هم فرض دی. ليکن مونځ او واجبات حج کښې هم دا د خاص شرط په توګه کيخودلې شوې دې. ليکن په ما باندې دا امر واضحه شوې دې چه طهارت د روژې دپاره هم ضروری دې بلکه په ټولو عباداتوکښې ددې رعايت دې. په طهارت کښې کمې اوکوتاهی کيدو سره په اصل عبادت کښې کمې واقع کيږی. چنانچه هم ددې طرف ته د جنبی سړی باره کښې حديث «لاصوم له» يعنی ددغه جنبی روژه نه کيږی. اود ښکر لګونکی اوچاله چه لګوی دهغه د پاره حديث «أفطر الحاجم والمحجوم»

---

[1] عمدة القاری: ۴۶/۳ المجموع شرح المهذب: ۳۵۱/۲معارف السنن: ۵۰۲/۱.

[2] عمدة القاری: ۴۶/۳.

[3] المغنی لابن قدامة: ۱۸۸/۱عمدة القاری: ۴۶/۳معارف السنن: ۵۰۲/۱.

[4] صحيح البخاری کتاب الحيض باب لاتقضی الحائض الصلاة رقم الحديث: ۷۶۳-۷۶۱وسنن أبی داؤد کتاب الطهارة باب فی الحائض لا تقضی الصلاة رقم الحديث: ۲۶۳-۲۶۲ وجامع الترمذی کتاب الطهارة ماجاء فی الحائض أنها لا تقضی الصلاة رقم الحديث: ۱۳۰ جامع الأصول الکتاب الأولو الباب السابع فی الحيض، الفصل الأول، النوع الرابع فی حکم الصلاة والصوم الخ، رقم الحديث:۵۴۰۵ ۳۵۶/۷.

[5] عمدة القاری:۴۶/۳ المغنی لابن قدامة: ۱۸۸.

[6] المجموع شرح المهذب: ۳۴۵/۲فتح الباری: ۵۳۴/۲عمدة القاری: ۳۹۹/۳معارف السنن: ۵۰۵/۱-۵۰۴.

(يعني د ښكرلګونكي او چاله چه لګوى روژه نه كيږى) كښې اشاره ملاوېږى ځكه چه د جنبى حاجم او محجوم روژه فى نفسه صحيح وى مګر د جنابت اوفعل د حجامت د وجې نه يقيناً په ثواب كښې كمې واقع كيږى كوم چه په حديث كښې افطارصوم سره تعبيركړې شوې دې.
ددې مثال داسې دې لكه چه غيبت افطار صوم ګرځولې شوې دې ځكه چه غيبت د روژې دپاره افطار معنوى يعنى معناً أكل الحم دې سره ددې چه حساً نه دې د كوم په وجه چه په ثواب كښې كمې واقع كيږى اوهم دا افطارصوم سره تعبيركړې شوې دې. غرض دا لكه څنګه چه دغيبت كولود وجې نه په معنوى توګه كمې راځى سره ددې چه په فقهى اعتبار سره نه راځى دغه شان زما په نيز په عدم طهارت سره معنوى اوباطنى نقص په هرعبادت كښې راځى او هم د ټولو عبادتونوكمال د طهارت مقتضى دې. لهذا لكه څنګه چه حدث د مونځ منافى دې د صوم هم منافى دې. دا جدا خبره ده چه د منافات نوعيت جدا جدا دې.([1])
د حضرت شاه صاحب رحمه الله دمذكوره تحقيق تائيد ملك العلماء علامه كاسانى رحمه الله صاحب بدائع نه هم ملاوېږى ځكه چه هغوى ليكلى دى د جنبى روژه صحيح اود حيض اونفاس والا ښځې غيرصحيح ځكه ده چه د حيض اونفاس حالت دحدث نه زيات اشد واغلظ دې.([2])
ددې نه تائيد په دې معنى دې چه د عدم طهارت په مراتب باندې هم نظر كيدل پكاردى مثلاً يوعدم طهارت حدث اصغردې چه مونځ خونه شى كولې مګر قرآن مجيد زبانى يعنى په ياد سره لوستلې شى او په جمات كښې هم داخليدې شى. دويم حدث اكبر (جنابت) دې چه تلاوت هم نه شى كولې نه جمات ته تلې شى مګر روژه ساتلې شى. دريم عدم طهارت حالت د حيض اونفاس دې كوم چه د جنابت نه زيات هم دې چه په كښې روژه هم صحيح نه ده. ([3])
دقضاءصوم اوعدم قضاء صلاة په تعليل كښې د فقهاؤ اختلاف: دحضرات فقهاء كرام رحمهم الله په قضاء صوم اوعدم قضاصلوة علت كښې اختلاف دې. امام الحرمين شافعى رحمه الله فرمائى چه مونږ ددې فرق وجه نه پيژنو چه صرف د قضاء صوم حكم ولې دې خو چونكه د شريعت حكم دې په دې وجه ددې اتباع بغيرد ادراك فرق هم ضرورى دې. هم دغه شان قول د ابوالزناد رحمه الله نه هم نقل دې هغوى فرمائى: (إن السنن ووجوه الحق لتأتى كثيرا على خلاف الرأي فما يجد المسلمون بدأمن اتباعها، من ذلك: الحائض تقضى الصوم دون الصلاة)
يعنى ډير شرعى احكام خلاف رائې هم وى په هغې باندې عمل كولونه بغيرمسلمانانوسره بله هيڅ لارنه وى، هم ددغې نه يوحكم د حائضه د روژې قضاء كول اودمونځونو قضاء نه كول دى.
امام نووى رحمه الله فرمائى چه امام الحرمين او ابوالزناد رحمهما الله ذكر كړې شوې قول په حقيقت كښې قضاء صوم او عدم قضاء صلوة كښې د فرق نه كولو اعتراف دې.([4]) صاحب د بدائع علامه كاسانى رحمه الله فرمائى چه شرعاً سختى او مشقت اوچت كړې شوې دې ځكه چه اول خو ښځې پخپله ضعيف الخلقت او كمزورې وى بيا د حيض اونفاس د وينې جارى كيدو د وجې نه نوره هم كمزورى پيدا كيږى نوكه په داسې حالت كښې روژې هم ضرورى كړې شوې وې نو په هغوى باندې به ډېل مشقت راغلې

---

[1]) فيض البارى: ٣٧٨/١أنوار البارى: ٣٩٩/١٠.
[2]) بدائع الصنائع: ٣٠٣/١.س
[3]) أنوار البارى: ٣٩٩/١٠.
[4]) المجموع شرح المهذب: ٣٤٥/٢معارف السنن: ٥٠٣/١.

وې په دې وجه ښځې د حیض په حالت کښې د دغه فریضه نه خلاصې کړې شوې دی په خلاف د جنبی چه دهغه په روژه ساتلوسره هیڅ تنګی اوسختی نه وی. په دې وجه په جنبی باندې دواړه (مونځ او روژې) قضاء لازم وی خو حائضه اونفساء د مونځونو قضاء نه کوی ځکه چه دمونځونو د ډیروالی د وجې نه دهغې په قضاء راوړلوکښې تکلیف دې اوحرج اوتکلیف شرعاً مدفوع دې او په ټول کال کښې د دریو یا لسو ورځو روژو قضاء کښې هیڅ حرج نشته دې. په دې وجه به د روژو قضاء لازم وی.
دویمه وجه صاحب د بدائع هم دغه ذکرکړې ده چه نص غیرمعقول المعنی دې لهذا د روژو قضاء به خلاف قیاس لازمی وی[1]امام نووی رحمه الله اوعلامه عینی رحمه الله فرمائی چه مونځونه خو ډیر قضاء کیږی او په قضاء کښې مشکلات هم ډیر دی په دې وجه معاف شو. خو روژې په ټول کال کښې یوځو قضاء کیږی په دې وجه د دې د قضاء ادا کولوحکم اوشو ځکه چه ددې په قضاء کښې سختی هم نشته. [2]
امام نووی رحمه الله نور فرمائی ددې فرق چه کوم تعلیل مونږ ذکرکړې دې هغه ډیر موزون او مناسب دې په دې وجه باندې په دې باندې اعتماد کول پکاردی. وړاندې فرمائی چه امام شافعی رحمه الله د مونځ د فرضیت په ساقط کیدو باندې د یوبل دلیل نه استدلال کړی دې. هغوی فرمائی چه هرمکلف سړی ته دهغه په حسب حال (سفر وی که مرض وی) د مونځ کولوحکم ورکړې شوې دې خو حائضه د مکلف کیدو سره په مونځ کولوباندې مامورہ نه ده دکوم نه چه معلومه شوه لکه په دې چه مونځ هډو فرض نه دې. بل د مونځ په شان د جنازې مونځ د تلاوت سجده د شکر سجده هم په حائضه او نفساء په حق کښې ممنوع اوحرام ده ځکه چه ددې ټولو دپاره طهارت د شرط په توګه بیان کړې شوې دې. [3]
البته مستحب دادی چه د هرمونځ په وخت کښې دې اودس اوکړی د مونځ په ځائی کښې دې د مونځ کولو په اندازه سره کینی اوتسبیح تحمیددې کوی چه هغه د عبادت عادت ئې باقی پاتې شی. [4]

د قران پاک دتلاوت حکم: د حائضه اونفساء په حق کښې تلاوت د قرآن پاك ممنوع اوحرام دې سره ددې چه د یو آیت نه هم کم وی. صاحب دهدایه قاضی خان او امام کرخی رحمهم الله هم دا قول صحیح ګرځولې دې خو امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه په اراده د تلاوت د آیت نه کم مباح دې اودا قول صاحب د خلاصه امام طاهر بن عبدالرشید رحمه الله صحیح ګرځولې دې. [5]

دامام طحاوی رحمه الله د کلام توجیهات: صاحب د محیط علامه برهان الدین محمود بن احمد رحمه الله د امام طحاوی رحمه الله د قول دا توجیه لیکلې ده چه د آیت نه کم کښې د نظم اومعنې دواړو په لحاظ سره کمې دې په دې وجه سره په دې مونځ هم نه صحیح کیږی او په عام محاوراتوکښې هم داسې جملې په ژبه باندې جاری کیږی. لهذا په دې کښې د قرآن نه کیدو شك پیدا شوېه دې وجه د یوآیت نه د کم تلاوت کولې شی. [6]

---

[1] بدائع الصنائع: ۳۰۳/۱.
[2] المجموع شرح المهذب:۳۵۱/۲عمدة القاری:۴۴۶/۳.
[3] شرح المهذب: ۳۵۳/۲-۳۵۲.
[4] البحرالرائق: ۳۳۶/۱رسائل ابن عابدین، الرسالة الرابعة: ۱۱۰، عمدة القاری: ۴۴۷/۳.
[5] رسائل ابن عابدین: ۱۱۰، الفتاوی الهندیه: ۴۳/۱ البحرالرائق: ۳۴۶/۱-۳۴۵معارف السنن: ۵۰۸/۱خلاصه الفتاوی کتاب الصلاة الفصل الحادی عشر فی القراءة: ۹۳/۱ مکتبة رشیدیه.
[6] المحیط البرهانی فی الفقه النعمانی: ۲۹۸/۱دارالکتب العلمیة.

علامه انورشاه کشمیري رحمه الله اوفرمائیل چه غالباً د آیت نه د کم جواز په دې وجه دې چه د الله تعالی د کلام اعجازي اړخ په آیت کښې ښکاره کیږي که هغه د وړوکې نه وړوکې آیت ولې نه وي او هم په دې وجه دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په نیز د مونځ فرض په دې سره اداکیږي. لهذا دیوآیت نه د کم جواز ددې معجزه یعنی د اعجازي کلام نه کیدو د سبب نه دی.[1]

علامه انور شاه کشمیري رحمه الله د امام طحاوي رحمه الله د قول توجیه بیانولونه پس لیکي چه امام طحاوي په دې باندې متنبه فرمائیلي ده چه د آیت نه کم اومفردات قرآن خونه قرآن دې اونه د قرآن په حکم کښې دې. لهذا د جنابت په حالت کښې یا د حیض اونفاس په حالت کښې د هغې لوستل او لاس لګول جائز دی. یقیناً که امام طحاوي رحمه الله دې طرف ته لار خودنه نه وې کړې نو مونږ به هم حیران پاتې وو چه د آیت نه کم قرآن دې اوکه نه؟ ځکه چه په سر سری لحاظ سره ذهن هم دې طرف ته ځی چه ددې دوو ګټو په مینځ کښې موجود هر یو لفظ قرآن دې. البته د آیت نه کم ته به "إنه من القرآن" (یعنی داد قرآن نه دې) یا "جزء من القرآن" (د قرآن جزدې) وئیلې شی.

خلاصه داده چه داعجاز قرآني تحقق کامل به د آیت په صورت کښې وی اوترکومې چه کلمات یوکامل آیت نه وی نودا به معجز هم نه وی. په دې وجه کلمات مفرده وغیره ته "من کلام الله" (داد الله تعالی د کلام نه دې) خو وئیلې شی مګر عین کلام الله ورته نه شی وئیلې اوداسې به د دې درجه دعین قرآن د درجې نه کمه شی.[2]

ذکرکړې شوې تفصیل هغه وخت دې چه کله په اراده د قرآن اولوستلې شی، که چرې په اراده د ثناء یا په اراده د افتتاح اولولی نود صحیح روایت موافق دا ممنوع نه دې. چنانچه په دې باندې اتفاق دې چه تسمیه په اراده د افتتاح لوستل منع نه دی. دغه شان فاتحه په توګه ددعا لوستلوکښې یا نور قرآني آیاتونه په کوم کښې چه د دعا والا معنی وي په لوستلوکښې څه حرج نشته مګر هندواني رحمه الله ددې تردید کړې دې.

دا تردید په شان د فاتحه کښې خو واضح دې ځکه چه اباحت غیرقرآن کیدو کښې دې خود فاتحه قرآن کیدل حقیقتاً هم دی او حکماً هم، لفظاً هم دې اومعناً هم ځکه چه دا کلام معجز دې. په داسې معنی چه دې سره چیلنج هم کیدې شی اوددې په شان د پیش کولونه هرقسم عجز هم یقیني دې. ددې دپاره په قصد مجردسره ددې قرانیت نه شی ختمولې په خلاف د الحمدلله چه دا په اراده د ثناء لوستل جائز دې.ځکه چه په دې کښې خصوصیت قرآنی غیر لازم دې اوپه فاتحه کښې لازم او قطعی دې. چنانچه د خبرو اترو دوران کښې په ژبه باندې جاري کیدونکی وړوکی وړوکی آیاتونه لکه ﴿ثُمَّ نَظَرَ﴾ او ﴿وَلَمْ يُولَدْ﴾ وغیره لوستل منع نه دی.[3]

د ذکرو اذکارحکم: ترکومې چه د ذکراذکارتعلق دې نود حائضه نفساء اوجنبی دپاره د دې لوستل مطلقًا جائز دی اوهم په دې کښې دعا قنوت هم داخل ده سره ددې چه دامام محمد رحمه الله نه ددې د

---

[1] فیض الباري: ۳۷۹/۱ أنوار الباري: ۴۰۵/۱.

[2] فیض الباري: ۳۷۹/۱.

[3] البحر الرائق: ۳۴۶/۱ معارف السنن: ۵۰۹/۱.

كراهت يوقول نقل دي ځكه چه په دې كښې د قرآن كيدو شك دې. مګر د دعا قنوت د قرآن نه كيدو باندې اجماع قطعي شوې ده په دې وجه د دغه شبه هيڅ اعتبار نشته دې.[1]

مصحف ته د لاس لګولو حكم: د حائضه اونفساء دپاره قرآن كريم ته لاس لګول ممنوع اوحرام دى البته د قرآن كريم نه علاوه نور كتابونه لكه كتب تفسير، حديث، فقه، متفرق پاڼې او الواح اودراهم وغيره كښې چرته چه آيات ليكلې شوې وى هغه ځائى باندې لاس لګول جائزنه دى دې نه علاوه نورې حصې ته لاس لګول جائز دى. بل هغه غلاف كوم چه د قرآن كريم نه جدا وى دهغې په ذريعه يا د نورې كپړې په ذريعه قرآن كريم اوچتول او لاس لګول جائز دي. البته كه يوه كپړه وراغوستې شوې وى لكه لوپټه قميص وغيره نودهغې په ذريعه لاس لګول او قرآن نيول جائزنه دى. هغه څيزونه په كوم كښې چه ذكرونه او دعاګانې ليكلې شوې وى هغې ته لاس لګول هم جائز دى البته بهتر اومستحب په دې كښې او كتب تفسير حديث اوفقه كښې دادى چه بغيراودس نه ورته لاس اونه لګولې شى.[2]

جمات ته دداخليدلو حكم: دحائضه نفساء دپاره جمات كښې داخليدل منع اوحرام دى كه هغه د تيريدو په اراده وى يا د حصاريدو په اراده وى البته د ضرورت په وخت جائز دى لكه د يوخناور يا ځاروى يا غل يا يخنئى يا تندې د ويرې نه، ليكن اولى اوبهتر په دې صورت كښې دادى چه تيمم كولو سره دې داخل شى.[3]

د طواف حكم: د حائضه او نفساء دپاره طواف كول حرام اومنع دى ليكن كه وئى كړو نوصحيح خو به شى مګر ګناهګاره به وى او كفاره به هم لازم وى. لهذا د طواف زيارت په صورت كښې بدنه واجب وى او په نورو طوافونو كښې به دم واجب وى.[4]

﴿فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ﴾ (ترجمه اوتشريح يسير) بيا چه كله هغه (ښځې) په ښه شان سره پاكې شى (چه د ناپاكښې شك شبه پاتې نه شى) نوهغوى له ورځئى (يعنى هغوى سره كوروالې كوئى) د كوم ځائى چه تاسو ته الله تعالى اجازت دركړې دې (يعنى: د مخكښې نه).[5]

امراتيان، امر اباحت دې كوم چه د جماع اوصحبت نه كنايه دې اولفظ من د فى په معنى كښې دې لكه چه آيت﴿أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا مِنَ الْأَرْضِ﴾ او آيت مبارك ﴿إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ﴾ أي: فى يوم الجمعة كښې من، دفى په معنى كښې دې. اصم د دې جز معنى داسې بيان كړې ده چه تاسو دغه ښځوله په داسې حالت كښې راشئى په كوم حالت كښې چه تاسو ته د راتلو حكم دې. يعنى چه نه تاسو د روژې په حالت كښې ئى نه مو احرام تړلې وى اونه معتكف ئى(ځكه چه په دې حالتونو كښې جماع ناجائز ده).

ابن عباس رضي الله عنهما ابورزين او امام ضحاك رحمهما الله فرمائى: ((مِن قِبَلِ الطهر، لامن قبل الحيض)) يعنى دوى سره په طهر كښې صحبت كوئى نه چه په حالت د حيض كښې. محمد بن الحنفيه رحمه الله فرمائى چه معنى داده په حلاله طريقه سره راځئى نه چه د زنا په طريقه سره.[6]

---

[1]) البحرالرائق: ۳۴۷/۱-۳۴۶معارف السنن: ۵۰۹/۱.
[2]) البحرالرائق:۳۴۸، ۳۵۰/۱.
[3]) رسائل ابن عابدين ص: ۱۱۳.
[4]) رسائل ابن عابدين ص: ۱۱۳ الفتاوى الهندية: ۴۳/۱.
[5]) بيان القرآن للتهانوى: ۱۴۶/۱.

يوځوکړښې وړاندې داخبره تيره شوې ده چه ﴿فَأْتُوهُنَّ﴾ امر اباحت دې اود جماع يعنى اتيان فى القبل نه کنايه ده. ددې وجه داده چه الله تعالى ښځې د حرث موضع ګرځولوسره دوى له د پټى سره تشبيه ورکړې ده لکه څنګه چه پټې د تخم اچولو نه پس د غلې د پيداوار مرکزدې دغه شان ښځې هم د نطفه حصاريدونه پس د اولاد د پيدائش مرکزدې. د الله تعالى ارشاد دې ﴿نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ﴾ ستاسو بيبيانې ستاسو دپاره په منزله د پټى دى اوچونکه داولاد پيدائش هم د فرج په لار ممکن دې په دې وجه ايتان فى القبل متعين دې او ايتان فى الدبر حرام دې.[2]

قوله: إيتان المرأة في الدبر: د ښځوسره په دبرکښې وطى کولوپه سلسله کښې حضرات حنفيه حنابله اوجمهوررو اهل سنت رحمهم الله مسلك دادې چه دا بد کار حرام دې. د امام شافعى رحمه الله نه په دې مسئله کښې دوه قوله نقل دى. په شروع کښې امام شافعى رحمه الله د جواز قائل وو. چنانچه ابن الحکم رحمه الله د امام شافعى رحمه الله نه نقل کوى «لم يصح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم فى تحريمه ولا فى تحليله شيء، والقياس أنه حلال» د حضورپاك نه ددې «إيتان المرأة فى الدبر» د حلت يا حرمت په حواله سره څه خبره په صحت سره نقل نه ده اود قياس تقاضاده چه دا فعل دې حلال وى. څکه چه امام شافعى رحمه الله «إيتان المرأة فى الدبر» په «وطى فى الساقين» باندې قياس کولو.

امام حاکم رحمه الله د ابن عبدالحکم رحمه الله نه د امام شافعى رحمه الله اوامام محمد رحمه الله په مينځ کښې په دې مسئله کښې کيدونکې مناظره هم نقل کړې ده. په کوم کښې چه د ابن عبدالحکم رحمه الله د بيان مطابق امام شافعى رحمه الله د امام محمد رحمه الله دمستدل ﴿نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ﴾ چه موضع حرث صرف فرج دې په جواب کښې فرمائى چه بياخوصرف هم په فرج باندې اکتفا کول پکاردى. ولې «وطى فى ساقيها» يا «بيدها» کښې "حرث" شته؟ امام محمد رحمه الله اوفرمائيل چه نه. امام شافعى رحمه الله اوفرمائيل چه آيا دا فعل هم حرام دې؟(څکه چه موضع حرث دلته هم موجود نه دې) نو امام محمد رحمه الله اوفرمائيل چه نه، نو امام شافعى رحمه الله اوفرمائيل «فكيف تحتج بما لا تقول به؟» بيا تاسو دداسې خبرې نه څنګه استدلال کوئى د کوم چه تاسو په خپله قائل نه ئى؟[3]

ابن عبدالحکم رحمه الله خو دامام شافعى رحمه الله حجت مکمل ذکرکړې مګر د امام محمد رحمه الله په حجت کښې د تساهل نه کار اخستې دې ګنى د يوامام او مجتهد مقام ددې نه زيات اوچت دې چه هغه د يوکمزورى قياس جواب ورنه کړې شى څکه چه خبره بالکل واضحه ده چه په عرف کښې غير فرج او دبر کښې امناء (منى خارج کول) جماع او وطى هډو ګڼړلې نه شى په دې وجه په غيرفرج او دبرسره خو

---

[1]) أحكام القرآن للقرطبي: ٣/٩١-٩٠التفسير المظهري: ٢٨٠/١تفسير ابن كثير: ٥٢٣/١أحكام القرآن للجصاص: ٤٢٥/١التبيان فى إعراب القرآن: ١٨٧/١.

[2]) أحكام القرآن للقرطبي: ٩٣/٣أحكام القرآن للجصاص: ٤٢٥/١روح المعانى:٧٠٧/١ دارإحياء التراث العربى التفسير المظهري: ٢٨٠/١.

[3]) التفسير المظهري: ٢٨١/١-٢٨٠ أحكام القرآن للجصاص: ٤٢٦/١أحكام القرآن للتهانوى: ٤٢١/١روح المعانى: ٧٠٨/١تفسير ابن كثير: ٥٣٤/١.

په آیت کریمه کښې هیڅ تعارض نشته بلکه په آیت کښې خو فرج او دبر نه د غیرموضع حرث حرمت بیان کړې شوې دې. د کوم نه پس چه موضع حرث یعنی قُبل خپل پخپله متعین کیږي. (۱)

بل وطی فی الدبر که هغه سړی سره وی اوکه ښځې سره چونکه ددې د اباحت هیڅ ضرورت نشته په دې وجه دعلت استقذار د وجې نه دواړه حرام دی او وطی فی القبل اباحت اود نسل زیاتیدود وجې نه ضروری وو په دې وجه دا حلال دی (سواد حیض اونفاس د حالت نه) او وطی فی الساقین أوالفخذین کښې د استقذار څه علت نشته دې په دې وجه دا حرام هم نه دی. (۲)

ابونصر الصباغ رحمه الله فرمائی چه امام ربیع رحمه الله حلفاً به فرمائیل چه «لقد کذب –یعنی: ابن عبدالحکم– علی الشافعي في ذلك، فإن الشافعي نص علی تحریمه في ستة کتب من کتبه» ترجمه: تحقیق ابن عبدالحکم دامام شافعی رحمه الله طرف ته د دروغو نسبت کړې دې څکه چه پخپله دامام شافعی رحمه الله نه د هغه په کتابونو کښې د شپږو کتابونونه د دې په حرمت باندې نص موجود دې. (۳)

لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله د امام ربیع رحمه الله دا فیصله غلطه ګرځولې دې. څکه چه ابن عبدالحکم د امام شافعی رحمه الله نه په دې نقل کښې متفرد نه دې بلکه د هغه رور د هغه متابعت کړې دې. لهذا د تحقیق نه هم دا خبره ثابتیږي چه دامام شافعی رحمه الله نه دواړه قوله نقل دی. دویم قول دکوم طرف ته چه هغه رجوع کړې ده اود جمهورو موافقت ئې کړې دې هغه دتحریم قول دې. (۴)

دغه شان دامام مالك رحمه الله نه امام حاکم، خطیب بغدادی او دارقطنی رحمهم الله په مختلف طرق سره داسې روایات نقل کړی دی په کوم کښې چه دامام مالك رحمه الله نه د جواز قول نقل دې مګر ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه د دغه روایاتو په اسناد کښې سخت ضعف دې خو بل طرف ته پخپله دامام مالك رحمه الله د جمهورو په موافقت کښې اود هغه (امام مالك رحمه الله) طرف ته د جواز قول منسوب کونکو تکذیب هم نقل دې. چنانچه معمر بن عیسی رحمه الله د امام مالك رحمه الله نه نقل کوی چه «إن ذلك حرام» یعنی داسې کول حرام دی.

دغه شان ابوبکر بن زیاد نیشاپوری رحمه الله فرمائی چه ماته اسماعیل بن حسین اودهغوی نه اسرائیل بن روح رحمه الله دا خبره بیان کړې چه ما (اسرائیل بن روح) د امام مالك رحمه الله نه تپوس اوکړو چه تاسو «إتیان النساء في أدبارهن» باره کښې څه فرمایئ؟ نوهغوی په جواب کښې اوفرمائیل «ما أنتم إلا قوم عرب هل یکون الحرث إلا موضع الزرع؟ لا تعدوا الفرج» یعنی تاسو خو خالص عربی خلق ئی (ښه ده داخو اوښایه) آیا د فصل د ځائې، د دانه کرلو د ځائې نه علاوه هم کیږي؟ (یعنی هیڅ کله نه کیږي) نو د فرج نه تجاوز مه کوئی. اسرائیل بن روح رحمه الله اوفرمائیل چه خلق خودا وائی چه تاسو دجواز قائل یئی نو وئې فرمائیل

---

(۱) روح المعانی: ۷۰۸/۱؛ أحکام القرآن للتهانوی: ۱/ ۴۲۲-۴۲۱.
(۲) التفسیر المظهری: ۱/ ۲۸۱.
(۳) تفسیر ابن کثیر: ۱/ ۵۳۴.
(۴) التفسیر المظهری: ۱/ ۲۸۱؛ أحکام القرآن للتهانوی: ۱/ ۴۲۲.

((يكذبون علي، يكذبون علي)) داخلق په ما دروغ وائي، دا خلق په ما دروغ وائي. علامه ابن كثير رحمه الله فرمائي چه ((فهذا هو الثابت عنه)) يعني هم دغه د امام مالك رحمه الله نه په صحيح توګه ثابت دی. (١)

د إتيان في الدبر په حرمت باندې ډير احاديث هم نقل دي. علامه ابن قيم جوزي رحمه الله فرمائي چه دا روايات او احاديث د صحابه كرامو رضي الله عنهم يو لوئي جماعت روايت كړي دي. په كوم كښې چه حضرت عمر بن الخطاب، علي بن ابي طالب، خزيمه بن ثابت، ابوهريره، ابن عباس، عبدالله بن عمر، ابن مسعود، عقبه بن عامر، براء بن عازب، طلق بن علي، ابوذر او جابر بن عبدالله رضي الله عنهم شامل دي.

قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله دا ټول روايات او په دې باندې چه كوم كلام دې دهغې د ذكركولونه پس فرمائي سره ددې چه دا روايات ضعيف دي ليكن بعض ته په بعض باندې تقويت حاصليږي او په دې سره علم قطعي حاصلږي چه د حضورپاك نه په دې امر كښې ممانعت راغلي دې په داسې توګه چه د دې رد كونكي څه څيز نشته. لهذا هم دا د حرمت قول اختيارول واجب دي. والله اعلم.(٢)

كوم حضرات چه د جواز قائل دی هغوی د ابن عمر رضي الله عنهما ددې صحيح روايت نه استدلال كوي چه دهغوی نه په مختلف طرق سره نقل دې چه آيت ﴿نِسَآؤُكُمۡ حَرۡثٞ لَّكُمۡ فَأۡتُواْ حَرۡثَكُمۡ أَنَّىٰ شِئۡتُمۡ﴾ بنخوسره په دبركښې د جماع باره كښې نازل شوې دې. هم دغه شان په المعجم الكبير كښې په جيد سندسره هم د ابن عمر رضي الله عنهما نه نقل دی چه آيت (مذكوره) جماع في الدبر دپاره په توګه د رخصت نازل شوې.(٣)

قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله فرمائي چه داد ابن عمر رضي الله عنهما وهم دې اوهغوی د آيت صحيح تاويل كولوكښې غلطي كړې ده ځكه چه كه سبب نزول هم دا اوګرځولې شي نو بيابه د آيت حكم اوواقعه يا سبب نزول كښې مطابقت پاتې نه شی ځكه چه حكم آيت موضع حرث يعني د قبل په لاره راتلل دی نه چه په دبركښې ځكه چه دبركښې موضع حرث نه دې.لهذا آيت مبارك په هيڅ شان سره هم اباحت ((إتيان في الدبر)) دپاره حجت نه شی جوړيدې.

بعض حضراتو فرمائيلي چه دا وهم اوغلطي د ابن عمر رضي الله عنهما نه بلكه دهغوی نه روايت كونكي حضرت نافع رحمه الله غلطي اودهغوی وهم دې. وجه داده چه كله عبدالله بن حسن رحمه الله د سالم بن عبدالله رحمه الله نه تپوس اوكړو چه داحديث څنګه دې چه مونږ ته نافع رحمه الله د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت كولوسره بيانوی چه ابن عمر رضي الله عنهما به په دبركښې په جماع كولوسره هيڅ حرج نه ګڼړلو؟ نو سالم بن عبدالله رحمه الله اوفرمائيل :

((كذب العبد وأخطأ، إنما قال عبدالله: يؤتون في فروجهن من أدبارهن))

چه دغلام نه په پوهيدلوكښې غلطي شوې ده ځكه چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما خودا فرمائيلي وو چه د ښځو فرج كښې د شاد طرف نه راتللوسره هم جماع كولې شي.(دكوم په پوهيدلوكښې چه د نافع رحمه الله نه غلطي شوې ده).مګرقاضي صاحب رحمه الله فرمائي چه دسالم رحمه الله داخبره صحيح نه معلوميږی ځكه چه حضرت نافع رحمه الله په دې كښې خان له نه دې بلكه دهغوی نه علاوه نورو حضراتوهم د ابن عمر رضي الله عنهما نه دا حديث روايت كړې دې. كذا ذكر الشيخ ابن الحجر رحمه الله لهذا صحيح هم دغه دی چه د ابن عمر رضي الله عنهما

---

١) تفسير ابن كثير: ٥٣٤/١-٥٣٣أحكام القرآن للتهانوي: ٤٢٣/١.

٢) التفسير المظهري: ٢٨٣/١-٢٨١أحكام القرآن للقرطبي: ٩٥/٣حاشية تفسير ابن كثير: ٥٣٣/١.

٣) تفسير الطبري: ٤٠٤/٤ رقم الحديث: ٤٣٢٥ المعجم الأوسط للطبراني: ١٤٥/٤-١٤٤ رقم الحديث: ٤٥٢٦. واضحه دې وی چه تفسير طبري كښې دا روايت (نزلت في إتيان النساء في أدبارهن) الفاظوسره نقل دې مګر بخاري شريف كښې صرف (أنزلت في كذا وكذا) الفاظ دی كوم چه په دبركښې د جماع كولوپه جوازكښې صريح نه دی.

وهم دي. چنانچه ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه: «إن ابن عمر–والله يغفرله–قد أوهم» تحقيق ابن عمر رضي الله عنهما ته وهم شوې الله تعالى دې دهغوى مغفرت اوفرمائي.[1]

ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه د آيت د نزول سبب په حقيقت كښې دادې چه انصارد مدينې ترڅغه وخته پورې مشركان وو او يهود اهل كتاب به په يوځائې نيزدې نيزدې اوسيدل. انصارو به يهود اهل كتاب ته په خپل ځان باندې په علم كښې فضيلت وركولو او په ډيرو كارونو كښې به ئې دهغوى مننه كوله د جماع په حواله سره د يهودو طريقه كار دا وو چه هغوى به خپلو ښځوسره په يوطرف كوروالې كولو نو انصاروهم دغه طريقه اختياركړه. خو قريشو به په جماع كښې مختلف اندازونه اختيارول. كله چه د مهاجرينو مدينې طيبې ته راتګ شروع شو اود انصارو ښځوسره هغوى ودونه اوكړل نو په خپلو مختلف انداز او طريقوسره ئې جماع كول شروع كړه كوم چه د انصارو ښځو ناخوښه كړل اود خاوند د تابعدارئې نه ئې انكاراوكړو. كله چه داخبر رسول الله ﷺ ته اورسيدو نو په دې موقع باندې دا آيت مبارك نازل شو.

دغه شان مسنداحمد او ترمذي ()كښې د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه حضرت عمر رضي الله عنه د حضور پاك په خدمت كښې حاضرشو اوعرض ئې اوكړو اې د الله رسول ﷺ زه هلاك شوم. حضورپاك تپوس اوكړو ته څه څيز هلاك كړې؟ نو حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل «حولت رحلي الليلة» ما د شپې كجاوه اولټه كړه.نوحضورپاك جواب ورنه كړو ترڅو چه الله تعالى دا آيت مبارك نازل كړو نو حضورپاك اوفرمائيل«أقبل وأدبر واتق الدبر والحيضة»يعني كه غوارې د مخې په لار راشه ياد شانه د وړاندې لار طرف ته راشه (بس) د دبر او حيض د حالت نه ځان اوساته. حضورپاك چه څنګه د﴿فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِي الْمَحِيْضِ﴾ تفسير «اصنعوا كل شيء إلا النكاح» سره اوكړو اود آيت حقيقي معنى او حقيقي مراد ئې واضح كړو هم دغه شان ﴿نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ﴾ تفسير په خپل ارشاد «أقبل وأدبر واتق الدبر والحيضة» سره اوفرمائيلو اودآيت حقيقي مطلب ئې پخپله واضحه كړو ګني د رومبى آيت ظاهر حالت دحيض كښې بالكليه ځان ساتل اود دويم آيت ظاهر په تعميم مواضع باندې دلالت كوي.[3]

علامه ابن كثير، علامه قرطبي او نورو مفسرينو حضراتو په دې مقام باندې تفصيلي بحث كړې دې. دهغه ټولو خلاصه داده چه دابن عمر رضي الله عنهما نه د جواز قول اوقول حرمت دواړه نقل دى مګر راجح او صحيح قول د حرمت دې چه د جمهور صحابه كرام رضي الله عنهم مذهب موافق دې. دغه شان كوم ځائې چه په دې مسئله كښې د امام مالك رحمه الله نه د جواز قول نقل دې هم هلته د جمهورو په مطابقت كښې قول تحريم هم نقل دې او امام مالك رحمه الله دهغه خلقو تكذيب كړې دې، چاچه دهغوى طرف ته د جواز نسبت كړې دې. پاتې شوه خبره د امام شافعي رحمه الله نودهغوى طرف ته د جوازو نسبت صحيح نه دې ځكه چه د امام شافعي رحمه الله په شپږو كتابونوكښې ددې په حرمت باندې نص موجوددې.[4] والله اعلم.

---

[1]) سنن أبي داؤد كتاب النكاح باب في جامع النكاح، رقم الحديث: ۲۱۶۴.

[2]) جامع الترمذي أبواب تفسير القرآن، باب: ومن سورة البقرة رقم الحديث: ۲۹۸۰منسدالإمام أحمد،مسندعبدالله بن عباس رضي الله عنهما: ۷۶۱/۱ رقم الحديث:۲۷۰۳.

[3]) التفسير المظهري: ۲۸۴/۱-۲۸۳تفسير ابن كثير: ۵۳۴/۱أحكام القرآن للقرطبي: ۹۵/۳-۹۳أحكام القرآن للتهانوي: ۴۲۳/۱-۴۲۰.

[4]) تفسير ابن كثير:۵۳۴/۱أحكام القرآن للقرطبي: ۹۵/۳-۹۳أحكام القرآن للتهانوي: ۴۲۳/۱-۴۲۰.

١ - باب: كَيفَ كَانَ بَدْءُ الْحَيْضِ، وَقَوْلِ النَّبِيِّ ﷺ (هٰذَا شَيْءٌ كَتَبَهُ اللهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ)

باب: أي: هذا باب. لفظ باب مرفوع دې او مبتداء محذوف هذا دپاره خبردې. لفظ باب د تنوين سره هم لوستلې شي اود مابعدطرف ته اضافت سره هم لوستلې شي. لفظ باب په اصل کښې بَوَب وو واؤ متحرك ماقبل مفتوح کيدو د وجې نه واؤ په الف سره بدل کړې شو نو باب شو. جمع أبواب او أبوبة راځي او باب نه مراد نوع دې لکه چه ((من فتح باباً من العلم)) کښې لفظ باب د نوع په معنی کښې دې، أي: نوعاً من العلم.

لفظ كيف اسم دې ځکه چه په دې باندې حرف جر بلاتاويل داخليږي لکه ((على كيف تبيع الأحمرين)) دكيف اعراب دادې چه دلته كيف حال واقع شوې دې تقديري داسې دې: ((على أي حالة كان ابتداء الحيض)) چه د حيض شروع څنګه او په کومه توګه اوشوه.

كان د افعال ناقصه نه دې کوم چه د ماضي په زمانه باندې دلالت کوي اودې خبرې تعرض او بحث نه کوي چه په زمانه د حال کښې فعل يوشان باقي دې که نه؟ هم ددې نه لفظ كان د لفظ صار نه ممتاز کيږي ځکه چه ددې معنی د يو حالت نه بل حالت ته د وربدليدلو ده. هم دغه وجه ده چه ((كان الله)) وئيل جائز او ((صار الله)) ناجائز دې.

لفظ بدء دوه شان دې: البدء، بفتح الباء وسكون الدال وفي آخره همزة، په معنی د شروع دې او البدو، بضم الباء والدال وتشديد الواؤ په معنی د ظهور دې.([1]) که چرې دلته لفظ بدء دې نوددې معنی ده چه د حيض شروع څنګه اوشوه اوکه چرې بدو دې نود دې معنی ده د حيض ظهور څنګه اوشو. دا دريم باب دې کوم چه امام بخاري رحمه الله كيف كان نه شروع کړې دې.([2])

د ترجمة الباب مقصد اود علامه انورشاه کشميري رحمه الله رائې: علامه انورشاه کشميري رحمه الله فرمائي چه ددې ترجمة الباب نه د امام بخاري رحمه الله مقصد دلته هم د بدء الوحي په شان دې يعنی اول داخودل دی چه د جنس حيض وجوداو ظهور په دنياکښې څنګه اوشو. اوبيا به مسائل اواحکام بيانولې شي. د حيض صرف د شروع احوال بيانول د بخاري رحمه الله مقصد نه دې.([3])

بعض حضرات فرمائي چه د ترجمة الباب مقصد دادې چه امام بخاري رحمه الله په دې باب کښې د حيض د شروع په سلسله کښې د رواياتو په اختلاف باندې تنبيه فرمائيل غواړي چه آيا حيض د آدم عليه السلام د زمانې نه شروع شوې يا د دې شروع د بني اسرائيلو نه شوې.([4])

د علامه شبيراحمدعثماني رحمه الله رائې: علامه شبيراحمدعثماني رحمه الله فرمائي چه د اما بخاري رحمه الله په دې باب کښې د حيض تاريخ خودل غواړي چه د حيض شروع د کوم وخت نه شوې.([1])

---

[1]) عمدة القاري: ٣٧٨/٣.

[2]) الأبواب والتراجم: ٦٣ الكنز المتواري: ٢٤٦/٣.

[3]) فيض الباري: ٤٨٦/١ أنوار الباري: ٣٥١/١٠.

[4]) الأبواب والتراجم: ٦٣ الكنز المتواري: ٢٤٦/٣.

د حيض تاريخ بيانولو ضرورت ولې پيښ شو؟: د حيض د تاريخ بيانولو ضرورت په دې وجه پيښ شو خكه چه په دې سلسله كښې درې روايات دى. يو د حضرت عائشه رضي الله عنها روايت دې كوم چه امام بخارى رحمه الله دلته تعليقاً ذكر كړې دې ددې روايت تقاضا داده چه دحيض شروع د حضرت آدم عليه السلام د زمانې نه شوې خو دويم او دريم روايت دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه اوحضرت عائشه رضي الله عنها قول دې كوم چه عبدالرزاق رحمه الله په خپل مصنف (٢)كښې روايت كړې دې. اوهم ددې طرف ته امام بخارى رحمه الله په خپل قول ((وقال بعضهم: كان أول الخ)) سره اشاره هم كړې ده. چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه حافظ عبدالرزاق رحمه الله د ابن مسعود رضي الله عنه نه په سند صحيح سره روايت كړې دې چه:

((كان الرجال والنساء في بني إسرائيل يصلون جميعاً، فكانت المرأة تتشرف للرجل، فألقى الله عليهن الحيض ومنعهن المساجد))يعنى دبنى اسرائيلوسړو اوښخو به يوځائى مونځ كولو نودهغوى ښځو سړو ته كتل شروع كړه دكوم په نتيجه كښې چه الله تعالى په هغوى باندې حيض مسلط كړو اوهغوى د جماتونود راتلو نه منع كړې.

ددې دواړو موقوفه روايتونو ظاهردادې چه د حيض شروع د بنى اسرائيلود ښځونه شوې ده ددوى نه به وړاندې ښځو باندې حيض نه راتلو كوم چه د روايت مرفوعه د ظاهر نه خلاف دې. امام بخارى رحمه الله د محدثينو د اصولو په رڼا كښې مرفوع روايت ته په موقوف روايت باندې ترجيح وركړه اووئى فرمائيل((وحديث النبي صلى الله عليه وسلم أكثر)) چه د حضوراكرم صلى الله عليه وسلم حديث اشمل، يعنى ټولو ښځوته شامل دې. لهذا هم دې ته به ترجيح وى. خو علماء موجهين رحمهم الله پ دې روايتونوكښې د تطبيق كوشش كړې دې(٣)

دعلامه داوُدى رحمه الله رائې: چنانچه علامه داؤدي فرمائى چه په دې رواياتوكښې هيڅ تعارض اوتضاد نشته دې خكه چه نساء بنى اسرائيل هم دبنات آدم نه دى. په دې باندې حافظ ابن حجر رحمه الله اوفرمائيل لكه چه ددې قول مطابق بنات آدم لفظاً خو عام دې مگردې نه مراد خاص د بنى اسرائيلو ښځې دى.

د حافظ ابن حجر رحمه الله رائې: بيائى اوفرمائيل چه زما په نيزد تطبيق صورت دادې چه د حيض شروع خو هم داول نه وه مگر په نساء بنى اسرائيل باندې د سزا په توگه ددې مقدار زيات كړې شوې وو خكه چه امام طبرى رحمه الله وغيره د ابن عباس رضي الله عنهما نه دحضرت ابراهيم عليه السلام د بى بى متعلق ارشاد بارى تعالى ﴿وَامْرَأَتُهُ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ﴾ تفسير فحاضت سره روايت كړې دې او په دې كښې هيڅ شك نشته دې چه د حضرت ابراهيم عليه السلام زمانه د بنى اسرائيل د زمانې نه وړاندې وه. دغه شان امام حاكم رحمه الله او ابن المنذر رحمه الله په صحيح سندسره د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت كړې دې چه: ((إن ابتداء الحيض كان على حواء بعد أن أهبطت من الجنة)) يعنى بيشكه دحيض شروع د حضرت حواء عليها السلام نه شوې كله چه هغه د جنت نه دزمكې طرف ته راكوزه كړې شوې وه.(٤)

---

(١) فضل البارى: ٢/٤٦٤.

(٢) مصنف عبدالرزاق، كتاب الصلاة باب شهود النساء الجماعة: ٣/٥٨ رقم الحديث: ٥١٢٩-٥١٢٨ (ددواړو احاديثو الفاظ دلته ذكركړې شوى دحديث د الفاظونه مختلف دى البته مفهوم د ټولو يودې).

(٣) لامع الدرارى: ٢/٢٣٩ الكنز المتوارى: ٣/٢٤٦.

(٤) فتح البارى: ١/٥٢٧.

دعلامه رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله رائې: دحضرت ګنګوهي رحمه الله هم دغه رائې ده چه د اول په نسبت د بنی اسرائيلو په ښخوکښې ددې حيض کثرت اوزيادت وو په کوم چه لفظ إرسال شاهد دې. (١)

دشيخ الحديث حضرت زکريا رحمه الله رائې: حضرت شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائی: ((وهوالأوجه عندي)) يعنی زما په نيز هم دغه قول زيات خوښ کړې شوې دې. (٢)

دعلامه انورشاه کشميری رحمه الله رائې: علامه انورشاه کشميری رحمه الله فرمائيلی زما په نيز په رواياتو کښې دتطبيق صورت دادې چه دحيض شروع خو هم د زمانې د شروع نه شوې وه کوم چه د عتاب په توګه وو مګر په نساء بنی اسرائيل باندې ددې تسلط د قهر لقمت اوسزا په توګوه اوشو. (٣)

دعلامه عينی رحمه الله نقد: علامه عينی رحمه الله د علامه داؤدی رحمه الله او حافظ ابن حجر رحمه الله بيان کړې شوې تطبيقات غير صحيح ګرځولی دی. دعلامه داؤد رحمه الله بيان کړې شوی تطبيق باندې نقدکولوسره فرمائی چه مونږ ددې خبرې نه انکار نه کوو چه نساء بنی اسرائيل د بنات آدم نه دی مګر دلته کلام په اوليت کښې دې اودامخالفت هم په دې صورت کښې ختميدې شی چه په دواړو اوليتونوکښې تطبيق ورکړې شی. دغه شان دعلامه داؤدی رحمه الله د قول متعلق چه دا اووئيلې شو چه ددې قول مطابق بنات آدم عام لفظ دې اودې نه مراد خاص دې نوداخبره هم صحيح نه ده ځکه چه دحضورپاک کلام عموم ولې په يوبل باندې خاص کولې شی؟ دويم تطبيق کوم چه حافظ ابن حجر رحمه الله بيان کړې دې هغه هم دمعنوی ذوق نه خالی دې ځکه چه دلته اول إرسال لفظ دې نه چه صرف لفظ إرسال اوهم اوليت دلته زير بحث دې دکمی زياتی سوال هم په مينځ کښې نشته دې. بل ددې څه دليل دې چه اول په حيض کښې کمې وو په کوم کښې روستو بيا زياتې اوشو؟ اودا چا نقل کړل؟

دعلامه عينی رحمه الله رائې: ددې نقد نه پس علامه عينی رحمه الله اوفرمائيل چه زما په نيز د تطبيق صورت دادې چه ممکن دی د کثرت عناد د وجې نه الله تعالی د بنات بنی اسرائيل حيض منقطع کړې وی چه دوی له اود دوی خاوندانو له دعناد سزا ورکړې شی او څه موده هم په دغه حال باندې تيريدو نه پس الله تعالی په هغوی باندې رحم کړې وی اوبيائې دحيض دعادت اجراء کړې وی ځکه چه دالله تعالی هم د حکمت او رحمتلاندې حيض د وجود نسل سبب جوړ کړې دې چه د کومو ښخو په رحم کښې د حيض صلاحيت وی هم هغه حمل قبلوی. په دې وجه په صغر سنی يعنی کم عمرئی او سن اياس يعنی زيات عمر کښې نه حيض وی اونه حمل حصاريږی. غرض دا چه کله دحيض شروع شوې وی نوهم هغه د مدت انتقطاع په لحاظ سره أول إرسال ګرځی لهذا د اوليت اطلاق هم په دې اعتبارسره شوې دې کوم چه د امور نسبيه نه دی. (٤)

دعلامه عينی رحمه الله په رائې باندې نقد: علامه رشيداحمد ګنګوهی رحمه الله په دې موقع باندې ليکلی دی چه کوم اعتراض علامه عينی رحمه الله په حافظ ابن حجر رحمه الله باندې کړې دې هغه به پخپله هم په هغه باندې وارد کيږی چه د انقطاع او اجراء دليل څه دی؟ بلکه يوبل اعتراض داهم کيدې شی چه هغه د حيض انقطاع عقوبت خودلې اوارسال ئې رحمت حالانکه رسول الله صلی الله عليه وسلم حيض ته نقص دين فرمائيلې.

---

[1]) لامع الدراری: ٢٣٩/٢الکنزالمتواری: ٢٤٦/٣الأبواب والتراجم: ٦٣

[2]) الکنزالمتواری: ٢٤٦/٣الأبواب والتراجم: ٦٣

[3]) فيض الباری: ٤٨٦/١.

[4]) عمدة القاری: ٣٨٠/٣-٣٧٩لامع الدراری: ٢٣٩/٢الکنزالمتواری: ٢٤٧/٣أنوار الباری: ٣٥٢/١٠.

چنانچه «باب ترك الحائض الصوم» كښې روايت دې چه كله ښځو د حضورپاك نه د ددين د نقصان په حواله سره تپوس اوكړو نو حضورپاك اوفرمائيل: «أليس إذا حاضت لم تصل ولم تصم، فذلك من نقصان دينها» يعنى ولې داسې نه ده چه يوه ښځه په حيض كښې راګيره شي نو مونځونه نه كوى اونه روژې ساتي؟ نو بس هم دغه ددې د دين نقصان دې.[1]

دعلامه انورشاه كشميرى رحمه الله دطرفنه ددې نقد جواب: علامه كشميرى رحمه الله اوفرمائيل چه د محقق عينى رحمه الله د طرف نه دا جواب وركړې كيدې شي چه هم دارسال د لفظ نه دا استنباط كيږى چه ددې نه پس د انقطاع صورت پاتې شوې دې اوكيدې شي هم ددې نه محقق عينى رحمه الله احتمال مذكوره راويستې دې. «والله اعلم»

ددويم اعتراض جواب دادې چه په حيض كښې دواړه ارخونه دی په دې لحاظ سره چه هم ددې د وجې نه په ارحام كښې د حمل قبلولو صلاحيت پيداكيږى اوهغه دتوالد اوتناسل ذريعه ده، يقيناً چه رحمت دې. بل دا چه د طب په رڼا كښې هم دحيض صحيح صورت د ښځې د رحم د اندام دپاره د صحت دليل دې اوددې بې قاعدګى يا غيرمعتاد كمې زياتې دبيمارئى يا استحاضه شكل دې.

پاتې شوه ددين د نقصان والا خبره نوهغه د ظاهر او ښكاره والى په لحاظ سره ده چه په ظاهره د يوشرعى او سماوى عذر لاندې ښځه د فرائض د اداكولو نه محروم كيږى ليكن په حقيقى او معنوى اعتبار سره صرف ددې په وجه سره د هغې دين د كمې مرتبې والاكيږى نه اونه دا وئيلې كيدې شي چه خامخا هغه په داسې حالت كښې د الله تعالى عذاب لقمت يا عتاب لاندې راغلې ده. دا خو هم داسې دى لكه چه مونږ ښځوته په جمعه اود جهاد په جماعاتو كښې د عدم شركت په سبب ناقصات الدين نه شوونيلې. الغرض په چا باندې چه څومره فرائض دى هغه به دهغې په اداكولو سره كامل الدين ګڼرلې شى سره ددې چه هغه د نورو په مقابله كښې د اعمالو په لحاظ سره كم وى.[2]

هم دغه وجه ده چه كله اسماء بنت يزيدبن السكن انصاريه رضي الله عنها دنبى كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې حاضره شوه اوعرض ئې اوكړو:..... زه دښځودطرف نه دهغوى د نمائنده كيدو سره راغلې يم چه د ټولو عرض معروض تاسوس ته پيش كړم. الله تعالى تاسو د سړو او ښځو ټولو دپاره مبعوث كړې ئې لهذا مونږ ټول ايمان راوړو او ستاسو اتباع مو اوكړه. ليكن مونږ ټولې ښځې ذات يو په كورونوكښې راګيرې شوې د پردې اوحجاب پابند اوهم په كورونوكښې ناسته زمونږ كاردې. سړى هم زمونږ نه خپل خواهشات پوره كوى اومونږ دهغوى د اولاد بوج هم زغمو اود «بهر اوسيدو د آزادئى د وجې نه» سړو ته د جمعه وجماعات او جنازه كښې د شركت د وجې نه نيكئى او فضائل ملاويږى اوكله چه هغوى جهاد ته ځى نومونږ دهغوى د مالونو او اولاد هم حفاظت كوو نو آيا په داسې صورت كښې دهغوى د مذكوره اعمالونه په اجر اوثواب كښې مونږ هم څه حصه وى كه نه؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم چه دحضرت اسماء رضي الله عنها عرض معروض واوريدو نو دصحابه كرامو طرف ته متوجه كيدو سره ئې سوال اوكړو چه آيا تاسو كله د يوې ښځې خبرې اترې او د دين د سوال باره كښې ددې نه كله ښكلې وينا اوريدلې ده؟ عرض اوكړې شو نه، اې دالله رسول صلى الله عليه وسلم بياحضورپاك د اسماء رضي الله عنها طرف ته متوجه شو وئې فرمائيل «انصرفي يا أسماء! وأعلمي من وراءك من النساء أن حسن إحداكن لزوجها وطلبها لمرضاته واتباعها

---

[1] لامع الدراري: ۲/۱٤٠ الكنز المتواري: ۳/۲٤٨-۲٤۷ أنوار البارى: ۱۰/۳۵۲.

[2] أنوار البارى: ۱۰/۳۵۳-۳۵۲.

لموافقته بعدل كل ماذكرت للرجال»، فانصرفت أسماء وهي تهلل وتكبر استبشارا بما قال لها رسول الله ﷺ[1]

ترجمه: "اسماء ره لاړه شه اوتولو ښځوته اووايه که دهغوی رويه دخپل خاوندانوسره ښه ده اودوی دهغوی د مرضياتو طلب اوکوشش کوی اود هغوی داتباع او موافقت کوشش کوی نوداځيزونه به دابنځي (د اخروی مراتب په لحاظ سره) دهغه سړو برابر کوی څوك چه دغه پورتنی اعمال کوی".
داخوشخبری د الله تعالی د پيغمبر عليه السلام نه اوريدو سره حضرت اسماء رضي الله عنها د ډيرې خوشحالئی نه تهليل او تکبير ونيلوسره واپس شوه.
په دې حديث کښې د عدل لفظ دې چه ښځې د مذکوره خبرو د وجې نه به مجاهدين اوکامل الايمان سړو برابر شی نوکتلې به شی چه هغه دينی نقص چرته لاړو؟
غرض حاصل د کلام دادې چه کوم امر ته په حديث کښې نقصان دين ونيلې شوې دې هغه په ظاهری لحاظ سره کمې ضرور دې مګر په حقيقت کښې د عذر اومجبورئی د حالت د وجې نه کمې او نقص داعمال، دينی نقص نه دې اود شارع عليه السلام مقصد صرف دادې چه ښځوته کوم دعقل اودين حصه ورکړې شوې ده هغه دهغوی د حده پورې د معاش او معاد د اصلاح دپاره کافی ده. ليکن که هغوی د خپل عمل ددائرې نه اوځی د سړو خاص معاملاتو اوبهرنی امورو په ملکی سياسيات وغيره کښې حصه اخستل غواړی نوددوی نه د څه د بهترئی اميد نشته دې بلکه ددوی نه په اکثروختونوکښې به د سړو عقلونه هم خراب کړی اود قسم قسم فسادونو او فتنو دروازې کولاؤ شی. [2]

دعلامه قسطلانی رحمه الله رائې: علامه قسطلانی رحمه الله د علامه بدرالدين دمامينی رحمه الله په حواله سره ليکلی دی چه هغوی په مصابيح الجامع کښې دا توجيه ذکر کړې ده چه ارسال حيض نه مراد دمنع د حکم اجراء ده د کوم شروع چه د بنی اسرائيلود ښځونه شوې. په نورو الفاظوکښې د حيض وجود خو هم د شروع نه وومګرمخصوص احکام دټولونه اول په اسرائيلی ښځو باندې نازل شو«أول أرسل الحيض على بنی إسرائيل» نه هم دغه مراد دې.[3]

دعلامه قسطلانی رحمه الله په رائې باندې نقد: علامه رشيداحمد ګنګوهی رحمه الله فرمائی چه په دې توجيه باندې حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح [4] په روايت سره اشکال کيږی چه د حيض د وجې نه د مونځ حکم دحضرت حواء عليها السلام د زمانې نه دې خکه چه کله هغې دحضرت آدم عليه السلام نه د مونځ حکم معلوم کړو نوهغوی اوفرمائيل چه زه نه پوهيږم بيا داالله تعالی د طرف نه وحی نازل شوه چه مونږ روژه دې ترك کړی، دمونځ قضاء به نه وی او د روژې قضاء به وی. [5]

«وقول النبي صلى الله عليه وسلم: هذا شيء كتبه الله على بنات آدم» اود نبی کريم ﷺ ارشاد دې چه دا (حيض) يوداسې څيزدې کوم چه الله تعالی په بنات آدم عليه السلام باندې ليکلې دې.

د مذکوره تعليق تخريج: دا هم د امام بخاری رحمه الله د جمله تعليقاتونه دی کوم چه هغوی په راتلونکی «باب الأمر بالنفساء إذا نفسن» کښې موصولاً ذکر کړې دې البته هلته د "هذا شيء" په ځائې "هذا أمر" الفاظ

[1] الاستيعاب فی أسماء الأصحاب: ۲۳۷/۴.
[2] أنوار الباري: ۳۵۳/۱۰.
[3] إرشاد الساري: ۵۳۲/۱الکنز المتواري: ۲۴۸/۳لامع الدراري: ۲۴۰/۲أنوار الباري: ۲۵۳/۱۰.
[4] ص: ۱۴۸-۱۴۷.
[5] الکنز المتواري: ۲۴۸/۳لامع الدراري: ۲۴۰/۲أنوار الباري: ۳۵۳/۱۰.

مروی دی. دې نه پس «باب تقضی الحائض المناسك كلها إلا الطواف» كښې هم دا روايت موصولاً ذكر كړې دې.[١] ليكن هلته "هذاشيئ" په ځائې باندې "ذلك شيئ" الفاظ سره نقل دی.[٢]

دتعليق مقصد: ددې تعليق ذكر كولوسره دامام بخاری رحمه الله مقصد دې خبرې ته ترجيح وركول دی چه دحيض وجودد بنات آدم دپيدائش نه دې ځكه چه تعليق مذكورهم په دې باندې دال دې اوهم ددې وجې نه دواړه روايتونه ذكر كولونه پس امام بخاری رحمه الله فرمائی«وحديث النبي ﷺ أكثر».[٣]

وَقَالَ بَعْضُهُمْ: «كَانَ أَوَّلُ مَا أُرْسِلَ الْحَيْضُ عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ»، قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ: «وَحَدِيثُ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم أَكْثَرُ»

بعض اهل علم وئيلی دی چه د ټولو نه اول حيض بنی اسرائيلوكښې راغلې. د "بعضهم" نه مراد حضرت ابن مسعود رضی الله عنه او حضرت عائشه رضی الله عنها ده.[٤]

د مذكوره تعليق تخريج: دامعلق روايت په حقيقت كښې دحضرت عائشه رضی الله عنها اوحضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه قول دې كوم چه محدث عبدالرزاق رحمه الله ددې دواړو حضراتو نه په صحيح سندسره روايت كړې دې مګر داخبره دې واضحه وی چه دمحدث عبدالرزاق رحمه الله تخريج كړې شوې ددې دواړو حضراتو د روايتونو الفاظ په صحيح بخاری كښې د دغه پورتنی نقل كړې شوی معلق روايت د الفاظونه مختلف دی. البته مفهوم دټولو هم يودې.

دمحدث عبدالرزاق رحمه الله تخريج كړې شوې دعائشه رضی الله عنها د روايت الفاظ دادی«عبدالرزاق عن معمر عن هشام بن عروة عن أبيه عن عائشة قالت: كان نساء بنی إسرائيل يتخذن أرجلاً من خشب يتشرفن للرجال فی المساجد فحرم الله عليهن المساجد، وسلطت عليهن الحيضة»يعنی حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه د بنی اسرائيلوښځوبه د لرګی مصنوعی خپې جوړولې دې دپاره چه په جماتونو كښې سرو ته اوكتلې شی ددې ښځو ددې كار د وجې نه الله تعالی په هغوی باندې جماتونوته راتلل حرام كړل اوپه هغوی باندې حيض مسلط كړو.

اود حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د روايت الفاظ دادی: «عبدالرزاق عن الثوري عن الأعمش عن إبراهيم عن أبي معمر عن ابن مسعود قال: كان الرجال والنساء في بني إسرائيل يصلون جميعاً فكانت المرأة لها الخليل تلبس القالبين تطول بهما لخليلها، فألقي عليهن الحيض، فكان ابن مسعود يقول: أخروهن حيث أخرهن الله. فقلنا لأبي بكر: ما القالبين؟ قال: رقيصين من خشب» يعنی حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه د بنی اسرائيلوسړی اوښځې ټولو به يوځائی مونځ كولو، په دوی كښې به د يوې ښځې دوست وو د چاد پاره چه به دغه ښځې قالبين اچول دې دپاره چه اوچته شی اوهغه خپل دوست اووينی. ددې ښځوددې حركت د وجې نه په هغوی باندې حيض مسلط كړې شو. په دې وجه به ابن مسعود رضی الله عنه فرمائيل چه دا ښځې شاته كړئی لكه څنګه چه الله تعالی دوی شاته كړی دی. راوی وائی چه بيا مونږ د ابوبكر رضی الله عنه نه تپوس اوكړو دا قالبين څه څيزدې؟ نوهغوی اوفرمائيل د لرګی نه جوړې شوې مصنوعی خپې.

د مذكوره تعليق مقصد: ددې تعليق نه د امام بخاری رحمه الله مقصد د حيض د شروع كيدو سره متعلق دويم قول ذكر كول دی دې دپاره چه ددې نه پس هغه دا فيصله اوكړی چه د هغوی په نيز دواړو

---

[١] فتح الباری: ٥٢٧/١تغليق التعليق: ١٦٧/٢عمدة القاری: ٣٧٨إرشادالساری:٥٣٢/١.

[٢] إرشاد الساری: ٥٣٢/١.

[٣] تقرير بخاری: ٩٤/٢.

[٤] فتح الباری: ٥٢٧/١عمدة القاری: ٣٧٨/٣إرشادالساری: ٥٣٣/١الكنزالمتواری: ٢٤٦/٣لامع الدراری: ٢٣٨/٢.

اقوالو کښې راجح کول یو دي. چنانچه ددې تعلیق نه پس ((وحدیث النبي صلی الله علیه وسلم أكثر)) وئیلو سره فیصله اوفرمائیله چه دهغوی په نیز راجح رومبې قول دې.([1])

د مذکوره تعلیقاتو ترجمة الباب سره مناسبت: ددې دواړو معلق روایتونو ترجمة الباب سره مناسبت واضح دې. په ترجمة الباب کښې دا سوال اوچت کړې شو چه حیض کله شروع شوې اود ترجمة الباب نه لاندې په شروع کښې دوه معلق روایتونه پیش کولوسره د حیض د شروع کیدوسره متعلق دوه قوله ذکر کړل اوبیائې په دې کښې یو قول ته ترجیح ورکړه.([2])

علمي نکته: علامه شبیراحمد عثماني رحمه الله فرمائي چه امام بخاري رحمه الله د ابن مسعود رضي الله عنه او حضرت عائشه رضي الله عنها غوندې جلیل القدر صحابه په "بعضهم" سره تعبیرکوی، معاذالله پدې کښې دهغوی سپکاوې مقصود نه دې بلکه که په اصل کښې د **بعضهم** سره څه تحقیر مترشح کیږی نوهغه د قائل تحقیر نه دې بلکه د قول تحقیر دې. هم دلته داسې اوګنړئی چه امام بخاري امام ابوحنیفه ته په **بعض الناس** سره تعبیرکوی په دې سره د امام صاحب سپکاوې مقصودنه دې بلکه بعض خایونوکښې امام شافعي هم **بعض الناس** سره تعبیرکړې دې. او دومره خبره ضرور ده چه امام بخاري ته د امام ابوحنیفه مذاق سره طبعي مناسبت نه وو څکه چه دهغه شیخ نعیم بن حماد دامام ابوحنیفه دیرزیات مخالف وو([3])

قوله:: (قال ابوعبدالله): دابوعبدالله نه مراد پخپله هم امام بخاري رحمه الله دې([4]) ابوذر، ابوالوقت او د ابن عساکر روایت کښې "قال أبوعبدالله" ساقط دې.

قوله:: (وحدیث النبي صلی الله علیه وسلم أكثر): امام بخاري رحمه الله فرمائي اود نبي کریم صلی الله علیه وسلم حدیث اشمل یعنی ټولو ښځوته شامل دې.

د بخاري رحمه الله مقصد: د حیض د شروع سره متعلق دواړه روایتونه ذکرکولونه پس امام بخاري رحمه الله روایت اولی ته ترجیح ورکولوسره فرمائي: ((وحدیث النبي صلی الله علیه وسلم أكثر))([5])

په عام اومتداول نسخوکښې "أكثر" هم په ثاء المثلثة سره ذکردې دکوم مطلب چه دې دحضورپاك حدیث د قوت او دلیل په اعتبارسره صحابه کرام رضي الله عنهم او غیرصحابه د ټولود کلام نه زیات دې. علامه کرماني رحمه الله د أكثر تشریح أشمل سره کړې ده دکوم مطلب چه د حضورپاك حدیث ټولو ښځوته شامل دې سره ددې که هغه د نساء بني اسرائیل وی. یاددې نه اول یا ددې نه پس د زماني ښځې وی صرف نساء بني اسرائیل سره خاص نه دې څکه چه د بنات آدم لفظ عام دې. بعض نسخوکښې أكثر په ځائې أكبر نقل دې نوپه داسې صورت کښې به معنی شي((وحدیث النبي صلی الله علیه وسلم أعظم وأجل وأكد ثبوتا)) چه د حضورپاك حدیث په اعتبارد ثبوت زیات مؤکد او ډیر عظیم دې.([6])

---

[1]) تقریربخاري: ۳۱۰/۲.

[2]) تقریر بخاري: ۳۱۰/۲.

[3]) فضل الباري: ۴۶۴/۲.

[4]) عمدة القاري: ۳۷۹/۳إرشادالساري: ۵۳۳/۱.

[5]) لامع الدراري: ۲۳۹/۲الکنزالمتواري:۲۴۶/۳ فضل الباري: ۴۶۴/۲فیض الباري:۴۸۶/۱.

[6]) فتح الباري: ۵۲۷/۱عمدة القاري: ۳۷۹/۳شرح الکرماني:۱۵۸/۳الکنزالمتواري:۲۴۶/۳لامع الدراري: ۲۳۸/۲.

اشکال اودهغې جواب: اشکال دادې چه سره ددې په ظاهره قول دحضرت عائشه رضي الله عنها او ابن مسعود رضي الله عنه دواړه موقوف دې مګرحکماً مرفوع دی ځکه چه داتاریخ خودل څه عقلی څیزنه دې؟ جواب دادې سره ددې چه په دې کښې د عقلی کیدو احتمال نشته مګر ممکن دې چه اسرائیلیات رسیدلې وی یادهغې نه اخذ کړې شوې څه خبره وی. بهرحال یوروایت ته د ترجیح ورکولوپه ځانې په دې کښې تطبیق هم ورکولې شی دکوم مکمل تفصیل چه وړاندې تیر شوې دې. (۱)

دویم اشکال: «أول ما أرسل الحيض على بني إسرائيل» باندې اشکال کیږی چه د حیض اجراء خو بنات اسرائیل باندې اوشوه نه چه دهغوی په ځامنو باندې بیانی علی بنی اسرائیل ولې اوفرمائیل؟ نو جواب دادې چه دلته مضاف محذوف دې اوتقدیری عبارت داسې دې: «أي: على بنات بني إسرائيل» او په دې باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک «كتبه الله على بنات بني آدم» شاهد دې. (۲)

اعراب: على بني إسرائيل په محل دنصب کښې واقع دې او کان دپاره خبر دې او أول ما أرسل الحيض، د کان اسم دې اوما مصدریه دې. لهذا تقدیری عبارت به داسې شی «كان أول إرسال الحيض على بني إسرائيل» (۳)

فائده: دحضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها او ابن مسعود رضي الله عنه نه نقل کړې شوې روایت ذکر کولونه پس حضرت مولانا انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه ددې روایت نه معلومه شوه چه ښځې د جماتونو نه منع کول پخوانی سنت دی (۴)

بل چه کله شریعت د قبائح او منکراتو د بچ کولودپاره ښځې د جماتونو غوندې مقدس مقاماتو نه منع کړې نودهغوی د پاره دعام د سیل ځایونو بازارونو او مخلوط تعلیمی ادارو وغیره ته د تللو په درجه اولی باندې ممانعت وی. (۵)

باب الأمر بالنفساء إذا نفسن (۶)

دماقبل سره ربط: د اکثر نسخونه دا ترجمة الباب ساقط دې البته په کومو نسخوکښې چه ترجمة الباب قائم دې دهغه نسخو په اعتبارسره سابقه باب سره ربط دادې چه په تیرشوی باب کښې د حیض تاریخ د بحث موضوع جوړه کړه او اوس په دې باب کښې حائضه سره متعلق د احکامو تذکره کیږی ځکه چه دلته دنفساء نه مراد حائضه ده. (۷)

---

(۱) فضل الباري: ۴۶۵/۲.

(۲) عمدة القاري: ۳۷۹/۳.

(۳) إرشادالساري: ۵۳۳/۱عمدة القاري: ۳۵۲/۱.

(۴) فيض الباري: ۴۸۶/۱أنوارالباري: ۱/۳۵۲.

(۵) أنوار الباري: ۳۵۲/۱.

(۶) په دې تقریرکښې دَ متن په توګه دَصحیح بخاری کومه نسخه استعمال کړې شوې ده په هغې باندې داکټر مصطفٰی دیب البغا تحقیقی کارکړې دې دَدې نسخه مطابق په دې مقام باندې دغه پورته ذکرشوې ترجمة الباب "باب الأمر بالنفساء إذا نفس" موجود نه دې مګر مونږ دا ترجمة الباب تسلیم کولو په تقدیر باندې تول بحثونه ذکرکړی دی اوهم دَدې دَپاره ترجمة الباب درج کړې شوې دې.

(۷) عمدة القاري: ۳۸۰/۳.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي: أي:الأمرالمتعلق بهن چه دا باب دحائضه ښځوسره متعلق د حکم په بيان کښې دې.[۱]خوشيخ المشائخ شاه ولی الله رحمه الله فرمائي:أي: الأمربأداءمناسك الحج إلا الطواف چه دا باب په هغه باره کښې دې چه حائضه ښځو له به بغيرد طواف نه د ټول مناسك حج د اداکولوحکم ورکولې شي.[۲]علامه قسطلاني رحمه الله ترجمة الباب کښې دنفساء په ځائې نساء لفظ ذکرکړې دې يعنى باب الأمرللنساءإذانفسن. [۳]النفساء مفرددې ددې جمع نفاس راځي.

قوله: إذانفسن: بعض رواياتوکښې نفسن (صيغه د جمع مؤنث) په ځائې نفس (صيغه واحدمذکر) نقل ده ليکن په هرو دوو صورتونوکښې (که جمع مؤنث صيغه وى اوکه د واحدمذکر صيغه وى) په دې کښې موجود ضمير نفساء طرف ته راګرځي کوم چه مفرد مؤنث دې. اوس که چرې جمع مؤنث دې نوددې مفرد دمؤنث طرف ته راګرځيدل به په اعتبارد جنس وى اوکه چرې مفرد مذکر دې نوددې د مؤنث طرف ته ګرځيدل په اعتبارد شخص دې. يا بيا ددې وجې نه چه دلته هيڅ قسم التباس نه لازميږى ځکه چه حيض هم ښځو سره خاص دې. ([۴])

بل الأمر بالنفساء کښې "ب" زائده ده ځکه چه نفساء ماموره ده (چه دې ته حکم ورکړې شوې دې) دې د باره چه مامور بها، يا به بيا تقديرى عبارت داسې دې «الأمرالملتبس بالنفساء»([۵])

دترجمة الباب مقصد: د ابوذر او ابوالوقت په نسخوکښې علاوه د نورو ټولو نسخو نه دا ترجمه ساقط ده([۶]) اوس که چرې دا ترجمه اومنلې شى لکه چه دابوذر او ابوالوقت په نسخوکښې ده نوددې مقصد به داوى چه په ايام حيض کښې ښځې دټولو امورو نه بې تعلق کيږى نه بلکه په دغه ايام کښې هم د ښځوسره د څه اوامر او نواهى تعلق وى.ښځې په دې ورځوکښې هم ددينى امور ذکرکولې شى او دوى په دينى ماحول کښې شريکيدو اجازت دې.اوګورئى عائشه رضي الله عنها حضورپاك دطواف او سعى نه علاوه ټول ارکان مثلاً عرفات کښې حصاريدل اومزدلفه کښې کانړى ويشتل وغيره اجازت ئې ورکړو.

اود عام نسخو مطابق چه ترجمه تسليم نه کړې شى نو په دې صورت کښې ذکرکړې شوې حديث د حضرت عائشه رضي الله عنها الفاظ «إن هذاأمركتبه الله على بنات آدم» نه د ترجمة الباب مقصد واضح کيږى د کوم تفصيل چه تير شوى باب کښې دترجمة الباب مقصد په عنوان سره تيرشوې دې او په حديث اوترجمة الباب کښې مناسبت هم بالکل واضح دې چه په دواړو کښې د بدايت حيض موضوع ده.([۷])

د شيخ الحديث زکريا رحمه الله رائې: حضرت شيخ الحديث زکريا رحمه الله د ترجمة الباب سره متعلق فرمائي چه «والظاهر حذفه» چه ددې ترجمه نه کيدل ظاهر دى ګنى وړاندينئى ترجمه به بغيردحديث شي ليکن که ترجمه تسليم کړې شى نوددې نه مقصد به په حيض او نفاس کښې د حکم اتحاد بيانول وى،

---

[۱]) فتح الباري: ۵۲۷/۱.

[۲]) رسالة شرحتراجم أبواب صحيح البخاري ص: ۱۹،الأبواب والتراجم: ۶۳ الکنزالمتواری: ۲٤۸/۳.

[۳]) إرشادالساري: ۵۳۳/۱ الکنز المتواری: ۲٤۹/۳.

[۴]) عمدة ا لقاري: ۳۰/۳ إرشادالساري: ۵۳۳/۱.

[۵]) عمدة القاري:۳۸۰/۳إرشادالساري: ۵۳۳/۱تحفة الباري: ۲٤۱/۱.

[۶]) فتح الباري: ۵۲۷/۱عمدة القاري: ۳۸۰/۳الکنزالمتواری:۲٤۸/۳.

[۷]) فضل الباري:٤۶۵/۲.

خکه چه د ترجمة الباب لاندې ذکرشوي حديث کښې دی چه حضورپاك دحضرت عائشه رضي الله عنها نه د حيض متعلق په دې الفاظو "أنفست؟" کښې تپوس کړې وو. لکه چه په حيض باندې د نفاس اطلاق کولوسره ئې د تحاد حکم طرف ته اشاره اوفرمائيله. مګر بيا پخپله په دې غرض باندې اشکال کولو سره دا رد کړو چه داغرض خو دير زر «باب من سمى النفاس حيضاً» لاندې راخي اوبيائې دويم غرض بيان اوفرمائيلو چه زما په نيز د امام بخاري رحمه الله مقصد دادې چه حائضه ته د احرام تړلو په موقع باندې د غسل حکم ورکړې شي.

په دې غرض باندې دې دا اشکال نه وی چه بياخو به دا ترجمة الباب په کتاب الحج کښې کيدل پکاردی خکه چه دا ترجمه لکه څنګه چه کتاب الحج سره متعلق ده هم هغه شان کتاب الحيض سره هم متعلق ده او په بخاري شريف کښې دا دير مثالونه دی چه د کومو مسئلو تعلق دوو کتابونوسره وی نو امام بخاري رحمه الله دغه مسائل په دواړو کتابونو کښې درج کوی. چنانچه «باب ترك الحائض الصوم» او «باب اعتكاف المستحاضة» دا ابواب په کتاب الحيض کښې هم دی اوکتاب الصوم کښې هم. دغه شان «باب: كيف تقضى الحائض المناسك كلها الخ» او «كيف تهل الحائض؟» دا ابواب کتاب الحيض او کتاب الحج دواړو کښې دی. الغرض چه دکومو مسائلو تعلق دوو کتابونو سره وی نوامام بخاري رحمه الله مسائل په دواړو کتابونوکښې درج کوی.(١)

الحديث الأول

[٢٩٠]- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الْقَاسِمِ، قَالَ: سَمِعْتُ الْقَاسِمَ بْنَ مُحَمَّدٍ [ص:٦٧]، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَائِشَةَ تَقُولُ: خَرَجْنَا لاَ نَرَى إِلاَّ الْحَجَّ، فَلَمَّا كُنَّا بِسَرِفَ حِضْتُ، فَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي، قَالَ: «مَا لَكِ أَنُفِسْتِ؟». قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: «إِنَّ هَذَا أَمْرٌ كَتَبَهُ اللَّهُ على بَنَاتِ آدَمَ، فَاقْضِي مَا يَقْضِي الْحَاجُّ، غَيْرَ أَنْ لاَ تَطُوفِي بِالْبَيْتِ» قَالَتْ: وَضَحَّى رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نِسَائِهِ بِالْبَقَرِ(٢)[٢٩٩، ٣١٠، ٣١١، ٣١٣، ١٤٤٢، ١٤٨١، ١٤٨٥، ١٤٨٢، ١٤٨٧، ١٥٥٧، ١٥٢٧، ١٢٢٣، ١٢٣٣، ١٢٩١، ١٢٩٤ - ١٢٩٢، ٢٧٩٣، ٤١٣٤، ٤١٤٢، ٥٢٢٨، ٥٢٣٩، ٢٨٠٢، وانظر ١٢٠٢]

---

(١) الكنزالمتواری: ٢٤٨/٣ الأبواب والتراجم: ٦٣

(٢) قوله: "عائشة : الحديث أخرجه البخاری فی باب: تقضى الحائض المناسک كلها إلا الطواف بالبيت، رقم الحديث ٣٠٥، وباب امتشاط المرأة عند غسلها من الحيض، رقم الحديث: ٣١٦وباب كيف تهل الحائض بالحج والعمرة رقم الحديث: ٣١٩وباب المرأة تحيض بعد الإفاضة رقم ا لحديث ٣٢٨وفی الحج باب الحج على الرجل رقم الحديث: ١٥١٦، ١٥١٨ وباب كيف تهل الحائض والنفساء رقم الحديث: ١٥٥٦ وباب قول الله تعالى ﴿ٱلْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَٰتٌ﴾ : ١٥٦٠ وباب التمتع والقرآن والإفراد بالحج الخ رقم الحديث: ١٥٦١،١٥٦٢ وباب طواف القارن رقم الحديث: ١٦٣٨ وباب تقضی الحائض المناسک كلهاإلا الطواف بالبيت الخ رقم الحديث: ١٦٥٠ وباب ذبح الرجل البقر عن نسائه من غير أرمهن رقم الحديث: ١٧٠٩ وباب ما يأكل من البدن وما يتصدق رقم الحديث: ١٧٢٠ وباب الزيارة يوم النحر رقم الحديث: ١٧٣٣ وباب إذا حاضت المرأة بعد ما أفاضت رقم الحديث: ١٧٥٧، ١٧٦٢ وباب الإدلاج من المحصب رقم الحديث: ١٧٧١، ١٧٧٢ وفی العمرة باب العمرة ليلة الحصبة وغيرها رقم الحديث: ١٧٧٣

ترجمه: حضرت عائشه ﷞ فرمائي چه مونږ د حج په اراده اووتلو، كله چه مونږ مقام سرف ته اورسيدو نو زه حائضه شوم، په دې خبره باندې ما ژړل نو رسول الله ﷺ تشريف راوړو. حضورپاك تپوس اوكړو په تاس څه چل اوشو آيا حائضه شوې ئي؟ ما اوونيل او جى، په دې باندې حضورپاك اوفرمائيل دا يوداسې څيزدې كومو چه الله تعالى د آدم ﷷ د لونړو دپاره ليكلې دې په دې وجه ته هم د حج افعال پوره كړه البته دبيت الله طواف مه كوه. حضرت عائشه ﷞ فرمائي چه رسول الله ﷺ د خپلو بيبيانو طرف نه د غوا قرباني اوكړه.

تراجم رجال

على بن عبدالله: دا اميرالمؤمنين فى الحديث الحجه، امام ابوالحسن على بن عبدالله بن جعفر بن نجيح سعدى بصرى ﷫ دې چه د ابن المدينى په نوم سره مشهوردې. ددوى حالات «كتاب العلم باب الفهم فى العلم» رومبى حديث لاندې تفصيلاً تيرشوى دى.[1]

علامه عينى ﷫ فرمائي ﷫ چه امام ابن المدينى ﷫ دهغه اشخاصونه دې دچاچه د خپل ښارطرف ته نسبت خلاف قياس دې. [2] چنانچه ابن الاثير ﷫ فرمائي چه "مدني" بحذف الياء والهاء مدينه رسول ﷺ طرف ته مسنوب دې.[3]

اسماعيل بن جماد ﷫ فرمائي چه كله نسبت مدينهٔ رسول ﷺ طرف ته وى نو "مَدَنِيْ" لوستلې شى اوچه كله مدينهٔ منصورطرف ته نسبت وى نو "مديني" (بإعادة الياء بين الدال والنون)به لوستلې شى دې دپاره چه په نسبت كښې فرق اوشى.[4]

سفيان: دا امام سفيان بن عيينه ﷫ دې د دوى حالات بدء الوحى د رومبى حديث په ضمن كښې مختصراً[5] او «كتاب العلم باب قول المحدث: حدثنا أو أخبرنا وأنبأنا» په ضمن كښې تفصيلاً تير شوى دى[1]

وباب الاعتمار بعدالحج بغير هدى رقم الحديث: ١٧٨٦ وباب أجرالعمرة على قدر النصب رقم الحديث ١٧٨٧ وباب المعتمر إذا طاف طواف العمرة ثم خرج الخ رقم الحديث: ١٧٨٨ وفى الجهادباب الخروج اخر الشهر رقم الحديث ٢٩٥٢ وباب إرداف المرأة خلف أخيها رقم الحديث: ٢٩٨٤ وفى المغازى باب حجة الوداع رقم الحديث: ٤٣٩٥، ٤٤٠١، ٤٤٠٨ وفى الطلاق باب قول الله تعالى ﴿ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللهُ فِيْٓ أَرْحَامِهِنَّ ﴾ الآية رقم الحديث: ٥٣٢٩وفى الاضاحى باب الأضحية للمسافر والنساء رقم الحديث: ٥٥٤٨ وباب من ذبح ضحية غيره رقم الحديث ٥٥٥٩ وفى الأدب باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: ((تربت يمينك))و ((عقرى حلقى)) رقم الحديث: ٦١٥٧ وفى التمنى باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: ((لواستقبلت من أمرى ما استدبرت)) رقم الحديث:٧٢٢٩ وأخرجه مسلم فى الحج باب بيان وجوه الإحرام الخ رقم الحديث: ٢٩١٠-٢٩٣٥ وأبوداؤد فى المناسك باب فى إفراد الحج رقم الحديث: ١٧٧٨، ١٧٨٣ والنسائى فى الحج باب إباحة فسخ الحج بعمرة الخ رقم الحديث: ٢٨٠٥وابن ماجه فى المناسك باب الحائض تقضى المناسك إلا الطواف رقم الحديث: ٢٩٦٣ جامع الأصول حرف الحاء الكتاب الأول فى الحج والعمرة الباب الثالث فى الإفراد الخ الفصل الثالث فى التمتع: ١٥١/٣-١٤٠ رقم الحديث: ١٤١٥.

[1]) كشف البارى: ٢٩٧-٣٠٢/٣.
[2]) عمدة القارى: ٣٨٠/٣.
[3]) منال الطالب: ٦١٣عمدة القارى: ٣٨٠/٣.
[4]) معجم الصحاح للجوهرى:٩٧٧ عمدة القارى: ٣٨٠/٣.
[5]) كشف البارى:٢٣٨/١.

عبدالرحمن بن قاسم: دا عبدالرحمن بن قاسم بن محمدبن خلیفهٔ ثاني ابوبکر صدیق رضی الله عنه قرشي تیمي دی. ددوی کنیت ابو محمدالمدني دی. [1] داد حضرت عائشه رضی الله عنها په ژوند کښې پیداشوی. [2]

دوی د خپل پلار قاسم بن محمد، سعید بن المسیب عبدالله بن عبدالله بن عمر سالم بن عبدالله بن عمر نافع مولی ابن عمر محمدبن جعفر بن الزبیر رحمهم الله وغیره نه روایت کوی. [3]

ددوی نه سماك بن حرب، محمدبن مسلم بن شهاب، زهری، عبیدالله بن عمر العمری، محمدبن عجلان، هشام بن عروه، منصور بن زادان، یحیی بن منصور بن زادان، یحیی بن سعیدانصاری، موسی بن عقبه، ایوب سختیاني، حمیدالطویل، مالك بن انس، شعبه، صخربن جویریه، حماد بن سلمه، سفیان ثوری، عبدالرحمن بن عمرو الاوزاعی، عبدالملك بن جریج، لیث بن سعد، لیث بن ابی سلیم، عمرو الحارث مصری، یزیدبن الهاد، محمدبن اسحاق بن یساره، عبدالعزیز ماجشون، عبدالرحمن بن عبدالله مسعودي او سفیان بن عیینه رحمهم الله وغیره ډیر حضرات روایت کوی. [4]

ابن سعد [5] اومصعب بن عبدالله زبیری رحمهماالله فرمائی چه دعبدالرحمن بن قاسم د پلار نوم قریبه بنت عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه دی. [6] لیکن دخلیفه بن خیاط اوحاکم ابواحمد وینا ده چه دوی د والده نوم اسماء بنت عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه دی. [7]

مصعب بن عبدالله زبیری رحمه الله فرمائی «**كان من خيار المسلمين وكان له قد في أهل المشرق**» [8] یعنی عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله عامة المسلمین د بهترین انسانانونه وو اود اهل مشرق په نیز هغوی ته ډیر قدر اومنزلت حاصل وو. سفیان بن عیینه رحمه الله فرمائی «**حدثنا عبدالرحمن بن القاسم وكان أفضل أهل زمانه**» [9] هم دغه شان په یویله موقع باندې سفیان بن عیینه رحمه الله فرمائی: «**سمعت عبدالرحمن بن القاسم وما بالمدينة يومئذ أفضل منه**» یعنی ما د عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله نه احادیث اوریدلی دی او هغه وخت په مدینه طیبه کښې دهغوی نه بهتر څوك نه وو. [10] امام مالك رحمه الله فرمائی «**لم يخلف أحد أباه في مجلسه إلا عبدالرحمن بن القاسم**» [11] یعنی هیڅ یوسړې دخپل پلار په مجلس کښې دهغه جانشین نه شی جوړیدې سوا د عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله نه ځکه چه هم هغوی ته دا شرف حاصل شوی دی. علی بن المديني رحمه الله فرمائی چه ما سفیان بن عیینه رحمه الله داسې ویناکولوسره اوریدلې چه «**لم يكن بالمدينة رجل أرضى من عبدالرحمن بن القاسم**» [12]

---

[1] کشف الباري: ۳/۱۰۶-۱۰۲.

[2] تهذیب الکمال: ۱۷/۳٤۷تهذیب التهذیب: ۶/۲۵٤سیرأعلام النبلاء: ۶/۵.

[3] تهذیب الکمال: ۱۷/۳٤۷تهذیب التهذیب: ۶/۲۵٤.

[4] دَ شیوخ اوتلاز دَ تفصیل دَپاره اوګورئی تهذیب الکمال: ۱۷/۳٤۸.

[5] طبقات ابن سعد: ۵/۱۸۷.

[6] تهذیب الکمال: ۱۷/۳٤۹تهذیب التهذیب: ۶/۲۵٤.

[7] تهذیب الکمال: ۱۷/۳۵۰.

[8] تهذیب الکمال: ۱۷/۳٤۹تهذیب التهذیب: ۶/۲۵٤.

[9] صحیح البخاری کتاب الحج باب الطیب بعد رمی الجمار الخ رقم الحدیث: ۱۷۵التاریخ الکبیر رقم الأعلام: ۱۰۸۶.

[10] صحیح البخاری کتاب اللباس باب ماوطئ من التصاویر رقم الحدیث: ۵۹۵۹.

[11] تهذیب الکمال: ۱۷/۳۵۱تهذیب التهذیب: ۶/۲۵٤.

[12] تهذیب الکمال:۱۷/۳۵۰الجرح والتعدیل: ۵/۳٤۰.

امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی «ثقة ثقة ثقة»[١] احمد بن عبدالله عجلی، ابوحاتم او امام نسائی رحمهم الله فرمائی "ثقة"[٢] یحیی بن سعید رحمه الله فرمائی چه ماد هشام بن عروه نه واؤریده هغوی د عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله نه روایت نقل کړې دې بیائی اوفرمائیل «ملی عن ملی» یعنی «عبدالرحمن عن أبیه»[٣]

ابن سعد او ابوعبید قاسم بن سلام رحمهماالله او نورو ډیرو حضراتو فرمائیلی چه دهغوی انتقال ۱۲۶هجری کښې شوې. خلیفه بن خیاط اوابن حبان رحمهماالله [٤] هم دغه قول اختیارکړې چه د هغوی انتقال ۱۲۶هجری کښې په مدینه کښې شوې.[٥] مګر په بل مقام باندې دخلیفه نه روایت دې چه دعبدالرحمن بن القاسم اوعبدالله بن ابی نجیح رحمهما الله وصال ۱۳۱هجری کښې شوې[٦] او هم دغه قول د فلاس رحمه الله ، هیثم بن عدی او ابن عدی رحمه الله او ابن قانع رحمه الله اختیارکړې دې. [٧] لیکن دا دویم قول وهم دې[٨] اوصحیح هم دغه دې چه دهغوی وصال ۱۲۶هجری کښې شوې. [٩]
علامه واقدی رحمه الله لیکی چه کله ولیدبن یزید خلیفه جوړ شو نوهغه ابوالزناد، عبدالرحمن بن قاسم، ربیعه اومحمد بن المنکدر رحمهماالله راؤغوښتل. چنانچه دا حضرات د شام طرف ته د خلیفهٔ وقت سره ملاقات له روان شو مګر عبدالرحمن بن قاسم رحمه الله په دې دوران کښې بیمارشو اود شام د زمکې په مقام فدین کښې وفات شو. [١٠]
علامه شمس الدین ذهبی رحمه الله فرمائی چه د هغوی انتقال په کال ۱۲۶هجری کښې مقام حوران کښې شوې اوهغه وخت هغوی د اویاؤ په دهائی کښې وو[١١] ابن سعد رحمه الله فرمائی «وکان ثقة ورعا کثیر الحدیث» [١٢] ابن حبان رحمه الله دهغوی ذکر په کتاب الثقات کښې کړې دې. [١٣] هغوی په رشته کښې د جعفر صادق رحمه الله ماما وو.[١٤] علامه ذهبی رحمه الله فرمائی چه دهغوی پیدائش د امیر معاویه رضی الله عنه په دور

---

[١] تهذیب الکمال: ۳۵۰/۱۷ الجرح والتعدیل: ۳۴۰/۵ تهذیب التهذیب: ۲۵٤/۶.
[٢] تهذیب الکمال: ۳۵۱/۱۷ تهذیب التهذیب: ۲۵٤/۶.
[٣] الجرح والعدیل: ۳٤۰/۵ تهذیب الکمال: ۳۵۰/۱۷.
[٤] تهذیب الکمال: ۳۵۱/۱۷ تهذیب التهذیب: ۲۵٤/۶ تقریب التهذیب: ٤۶۰/۱ کتاب الثقات لابن حبان: ۳۹/٤ شذرات الذهب: ۲۹۵/۱ الکامل فی التاریخ: ۵۰۵/٤ خلاصة الخزرجی: ۲۳۳ الکاشف: ۱۷۶/۲.
[٥] کتاب الثقات لابن حبان: ۳۹/٤.
[٦] تهذیب الکمال: ۳۵۱/۱۷.
[٧] تهذیب التهذیب: ۲۵٤/۶.
[٨] تهذیب الکمال: ۳۵۱/۱۷.
[٩] تهذیب الکمال: ۳۵۲/۱۷ تهذیب التهذیب: ۲۵۵/۶.
[١٠] تهذیب الکمال: ۳٤۹/۱۷.
[١١] سیرأعلام النبلاء: ۶-۵/۵ تاریخ الإسلام للذهبی: ٤۸۱/۳.
[١٢] تهذیب الکمال: ۳۵۲/۱۷ تهذیب التهذیب: ۲۵۵/۶.
[١٣] ۳۹/٤.
[١٤] سیرأعلام النبلاء: ۶/۵.

خلافت کښې شوې دې او زه حيران يم چه هغوی د جابر او سهل بن سعد رضی الله عنهما نه روايات نه دی نقل کړی. (١) نور فرمائی: «وكان إماماً حجةً، ورعاً، فقيه النفس، كبير الشأن» (٢).

قاسم: دا قاسم بن محمد ابن ابی بکرصديق رضی الله عنه دې. ددوی حالات «كتاب الغسل باب من بدأ بالحلاب أو الطيب عند الغسل» لاندې تفصيلاً تيرشوی دی.

عائشة: دا ام المؤمنين حضرت سيده عائشه بنت ابی بکر صديق رضی الله عنهما ده. ددوی حالات «بدء الوحی» ددويم حديث لاندې تفصيلاً تيرشوی دی. (٣)

شرح حديث

قوله: (خَرَجْنَا):

د حجة الوداع د پاره کله روانيږي اوشوه؟: په دې سلسله کښې د شراح حديث او مؤرخينو اختلاف دې چه د حجة الوداع د پاره حضورپاك په کوم تاريخ او کومه ورځ روان شوې؟ په دې باره کښې درې قسم اقوال دی: (٤)

ړومبې قول د امام طبری رحمه الله په حواله سره نقل کولې شی چه د هغوی رائې داده حضورپاك د حجة الوداع دپاره د ذی قعده ٢٤ تاريخ د جمعه په ورځ روان شوې. علامه ابن قيم جوزی رحمه الله دا قول د امام طبری رحمه الله وهم گرځولوسره فرمائی چه امام طبری رحمه الله ته د حديث الفاظ «لست بقين» سره وهم شوې خکه چه هغه په دې الفاظو سره دا گمان کړې چه داسې په هغه صورت کښې ممکن دې کله چه وتل د جمعه په ورځ اومنلې شی خکه چه د ذوالحجه ړومبې تاريخ د زيارت او ذوالقعده آخری تاريخ د چارشنبې په ورځ متعين دې او جمعه سره شپږ ورځې هم په چارشنبه باندې ختميږی. ددې دپاره د وتلودپاره هم د جمعه ورځ متعين ده. (٥)

دبعض عبارتونو نه دا مفهوم کيږی چه امام طبری رحمه الله ته د حديث الفاظ «وذلك لخمس بقين من ذی القعدة» سره وهم شوې دې. (٦) خکه چه د ذی الحجه ړومبې تاريخ د زيارت په ورځ وو په کوم کښې چه دهيڅ قسم اختلاف نشته دې نه د محدثينو په مينځ کښې اونه د مؤرخينو خکه چه د ټولو په دې باندې اتفاق دې چه وقوف عرفه د جمعه په ورځ شوې (بغيرد علامه واقدی رحمه الله نه چه دهغوی وينا ده چه وقوف عرفه د هفتې په ورځ شوې وو مگر دې قول سره علامه واقدی رحمه الله منفرددې **وهذا لم يقله أحد غيره**) (٧) کله چه په جمعه باندې نهم تاريخ (وقوف عرفه) اوشوه نو زيارت به اتم تاريخ وی لهذا هم د زيارت په ورځ به ړومبې تاريخ هم وی نو په چارشنبه باندې دص ذوالقعده آخری تاريخ شو. اوس که پنځه ورځې شاته شې نو پنځه ويشتم تاريخ په هفته باندې کيږی او څليريشتم په جمعه باندې کيږی

١) حواله بالا.
٢) حواله بالا.
٣) كشف البارى: ٢٩١/١.
٤) أوجز المسالك: ٨٠/٨.
٥) زادالمعاد: ٢/٣٠٢-٣٠١ أوجز المسالك: ٨٠/٨.
٦) هذا ما يفهم من عمدة القارى: ٢٤١/٩ وشرح الزرقانى على الموطا: ٣٤٣/٢.
٧) أوجز المسالك: ٨٠/٨.

او په روايت كښې دي چه پنځه تاريخونه باقي پاتې وو كله چه مونږ اووتلو. معنى دا شوه چه په څليريشتم باندې اووتل او په څليريشتم باندې وتل هم د جمعه ورځ كيدې شي.[1]

ددې صورت او د وړاندينى د ذكركولو صورت په وهم كښې فرق دادې چه «لخمس بقين» والاصورت كښې دجمعه ورځ شميرنه كړې شوه يعنى يوم الخروج شميرنه كړې شوه او د لست بقين والاصورت كښې د جمعه ورځ يعنى يوم الخروج هم شمير كړې شوه.

بهرحال د كلام حاصل دادې چه د امام طبرى رحمه الله په نيز وتل د جمعه په ورځ د ۲۴ ذى القعده په تاريخ شوې كومه چه فحش غلطى ده ځكه چه په صحيحين كښې دحضرت انس رضي الله عنه نه روايت دې چه مونږ د وتلو په ورځ د ماسپښين مونځ رسول الله ﷺ سره څلور ركعته اداكړه اود مازيګر مونځ دوه ركعته (قصر) مقام ذوالحليفه كښې اداكړو. نوكه چرې وتل د جمعه په ورځ شوې وې نو حضورپاك د جمعه مونځ ولې ادانه كړو؟[2]

دويم قول: دادې چه حضورپاك د حجة الوداع دپاره ۲۴ذى القعده د زيارت په ورځ روان شوې خو لاتردغې پورې د مياشت پوره كيدو كښې شپږ ورځې باقى پاتې وې (په دې شرط چه مياشت د شپږو او شميرلې شى ځكه چه كه مياشت د يوكم ديرشو شمير كړې شى نو بيا ۲۴ذى القعده باندې د جمعه ورځ راځى نه چه د زيارت) ځكه چه د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ په ذوالحليفه كښې د شپې تيرولونه پس كله روان شو نوهغه وخت د ذى القعده پنځه تاريخونه باقى وو اوحضرت عمر رضي الله عنه فرمائى د حجة الوداع والا په كال د عرفه وقوف دجمعه په ورځ شوې وو. لهذا د ذى القعده روميې تاريخ د زيارت په ورځ اود ذى القعده آخرى تاريخ به د چارشنبې په روځ وى اودا خبره به صحيح وى چه د حضورپاك د حجة الوداع دپاره دمدينې طيبې نه خروج ذوالقعده په ختميدوباندې شپږ تاريخونه وړاندې د زيارت په ورځ اوشو. ددې قول نور وضاحت دحضرت انس رضي الله عنه د روايت نه كيږى چه مونږ د حضورپاك سره په مدينه كښې د ماسپښين مونځ څلورركعته اداكړو. نوكه خروج پنځه تاريخه وړاندې وې نويقيناً به هم د جمعه ورځ وه اودا امر فيصله شوې دې چه دجمعه په ورځ څلور ركعته نه اداكيږى په دې وجه هم دغه متعين دى چه هم د زيارت په ورځ د حجة الوداع دپاره خروج كړې اوهسې به هم حضورپاك د زيارت په ورځ سفر كولو. دې نه هم خروج فى يوم الجمعة قول باطل كيږى.[3] داقول ابن حزم رحمه الله علامه عينى رحمه الله او په يوكڼرشمير كښې د شراح حديث اوحضرات مؤرخينو اختيار كړې دې.[4] اوهم دغه قول مشهورهم دې.[5]

مګر په دې قول باندې اعتراض كيږى چه دحضرت عائشه رضي الله عنها اوحضرت ابن عباس رضي الله عنهما د صحيحين په روايت كښې خو راځى چه حضورپاك د حجة الوداع دپاره ذواقعده مياشت پوره كيدو نه پنځه ورځې وړاندې روان شو بيا د شپږو ورځو وړاندې والا قول څنګه صحيح كيدې شى؟ نوددې په جواب كښې ابن حزم رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله فرمائى په دې روايت كښې د خروج نه خروج من ذي الحليفة

---

[1]) هذا مايفهم من عمدة القارى: ۲٤١/۹.

[2]) زادالمعاد: ۲/۱۰۲-۳۰۲.

[3]) زادالمعاد: ۲/۱۰۳-۱۰۲عمدة القارى: ۲٤١/۹شرح الزرقانى على المؤطا: ۳٤۳/۲ أوجزالمسالك: ۸۱/۸

[4]) أوجزالمسالك: ۸۱/۸.

[5]) حجة الوداع وعمرات النبى صلى الله عليه وسلم ص: ۱۹.

مراد دي او ښكاره خبره ده چه د ذوالحليفه نه وتل د ذى القعده دمياشتې د پوره كيدونه ۵ورځې وراندې وو.([1])
ليكن په دې تاويل او جواب باندې يو زبردست اشكال كيږى چه هم په بخارى شريف كښې په يويل مقام باندې ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه «انطلق النبى صلى الله عليه وسلم من المدينة لخمس ليال بقين من ذي القعدة» يعنى حضورپاك د مدينې طيبې نه په داسې وخت كښې روان شو چه تردغه وخته پورې د ذى القعده پوره كيدو كښې پنځه شپې باقى وې. نو په دې روايت كښې د مدينې طيبې تصريح ده چه د خروج نه مراد خروج من المدينة دې لهذا دا تاويل قابل د قبلولونه دې.([2])
بل دعلامه ابن حزن رحمه الله د قول تائيد ددې روايت نه هم كيږى كوم چه علامه عينى رحمه الله د واقدى رحمه الله په حواله سره نقل كړى دى چه ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې: «أن هلال ذي الحجة كان ليلة الخميس اليوم الناس من قوم خروجه» يعنى د ذى الحجه مياشت د زيارت په شپه د حجة الوداع داره د خروج اتمه ورځ وه. نو ددې روايت نه هم دغه مفهوم كيږى چه د حجة الوداع دپاره وتل د زيارت په ورځ وو. هم دا قول محى الدين عربى رحمه الله المسامرات كښې اختيار كړې. هغوى فرمائى: «وخرج رسول الله صلى الله عليه وسلم عائداً إلى مكة...... وذلك يوم الخميس لست بقين من ذي القعدة بعد أن صلى الظهر بالمدينة، فصلى العصر من ذلك اليوم بذي الحليفة، وبات ليلة الجمعة واستهل هلال ذي الحجة ليلة الخميس اليوم الثامن من يوم الخروج من المدينة.....» يعنى حضورپاك دمكې طرف ته هد زيارت په ورځ د ذى القعده د پوره كيدونه شپږ ورځې وراندې په مدينه كښې د ماسپښين مونځ اداكولونه پس او بيا هم ددغه ورځ د مازيگر مونځ په ذوالحليفه كښې اوكړو اوهم هلته ئې د جمعه د شپې قيام اوكړو اود مدينې نه د خروج په اتمه ورځ د زيارت په شپه د ذوالحجه مياشت ښكاره شوه.([3])
داقول علامه ابن قيم رحمه الله ([4])صاحب الخميس ([5])حافظ ابن حجر رحمه الله ([6])علامه زرقانى رحمه الله ([7]) ملا على قارى رحمه الله ([8])علامه قسطلانى رحمه الله([9])علامه ابن كثير رحمه الله ([10])اوابن هشام رحمه الله ([11])وغيره اختيار كړې دې.
حافظ ابن كثير فرمائى چه حضورپاك دمدينې نه دحجة الوداع دپاره دذوالقعده پوره كيدونه ۵ تاريخه وړاندې روان شولكه چه په صحيحين كښې ابن عباس رضي الله عنهما([1])اوعائشه رضي الله عنها([2])د روايتونونه

---

[1]) زادالمعاد: ۲/۱۰۴-۱۰۳عمدة القارى: ۹/۲٤۱أوجزالمسالک: ۸/۸۱.
[2]) أوجزالمسالک: ۸/۸۱.
[3]) أوجزالمسالک: ۸/۸۱.
[4]) زادالمعاد: ۲/۱۰۳.
[5]) أوجزالمسالک: ۸/۸۲.
[6]) فتح البارى: ۳/۵۱۹.
[7]) شرح الزرقانى على المؤطا: ۲/۳٤۳وشرح الزرقانى على المواهب اللدنية: ۱/۳۳۱.
[8]) مرقاة المفاتيح: ۵/٤۹۵.
[9]) إرشادالسارى: ٤/۵۱.
[10]) البداية والنهاية:۵/۱۱۹.
[11]) السيرة النبوية لابن هشام: ٤/۶۰۱.

ثابتیږی مګر د ابن حزم رحمه الله رائی داده چه د مدینې طیبې نه د زیارت په ورځ راوتلې لیکن د ابن حزم رحمه الله په رائې کښې نظر اواشکال دې ځکه چه د ذی الحجه رومبې تاریخ د زیارت په ورځ وو اودا خبره په تواترسره ثابته ده چه په هغه کال وقوف عرفه د جمعه په ورځ شوې وو اوچه کله داخبره ثابته شوه چه وقوف عرفه د جمعه په ورځ شوې وو کوم چه د ذي الحجه نهم تاریخ دې نو یقینًا د زیارت په ورځ اولنې تاریخ شو اود چارشنبه په ورځ به د ذوقعده آخری تاریخ وی. اوس که پنځه ورځې شاته لاړشې نو خروج هم د جمعه په ورځ جوړیږی نه چه د زیارت په ورځ اوداخبره داول قول لاندې تیره شوې ده چه د جمعه دپاره د خروج قول کول فحش غلطی ده. لهذا چه کله د زیارت ورځ یوم الخروج نه شی جوړیدې اونه د جمعه ورځ نو یوم الخروج هفته خپل پخپله متعین شوه.([3])

لیکن په دې قول باندې اشکال کیږی چه بیا خرجنا لخمس څنګه صحیح کیږی؟ ځکه چه هفته یوم الخروج ګرځولونه پس خو شاته څلور تاریخونه باقی پاتې کیږی. ددې اشکال یوجواب خودادې چه راوی میاشت د دیرشو شمیرکولو سره لخمس بقین ونیلې ووو مګر په اتفاق سره میاشت د یوکم دیرشو راؤوتله اوشاته ټول هم څلور تاریخونه پاتې شو.([4])

ددې جواب نور وضاحت داسې اوګنړئی چه ممکن دی میاشت د دیرشو په ځائی د یوکم دیرشو راوتلې وی اوراوی میاشت د پوره دیرشو شمیرکولوسره خبرورکړې وی ځکه چه عرب په عام توګه تاریخ خودلوکښې دخلقو دا عادت دې چه کله هغوی د میاشتې د باقی ورځو خبر ورکوی نوهغه مکمل اعتبارکولوسره خبرورکوی. بیا دا روستئی خبره ده چه میاشت د دیرشو راځی که د یوکم دیرشو اودا هم داسې ده لکه چه څوك په ۲۵ تاریخ باندې په څه کاغذ وغیره باندې دا اولیکی «کتب لخمس بقین» اوبیا میاشت د یوکم دیرشو راؤځی.

بل که مونږ په ځائی د شپو د ورځو اعتباراوکړو نوبیاهم اشکال لرې کیدې شی ځکه چه د ایام په اعتبارسره بغیرد څه شك نه هم ۵ ورځې باقی وې اوداد عربو عادت دې چه کله په تاریخ کښې شپې او ورځې جمع شی نوهغوی د لیالی او اول شهر کیدود وجې نه ایام او ورځو باندې غالب ساتی نوکله خو ذکر د لیالی کوی اوددې نه مراد ایام وی.([5])

ددې اشکال یوجواب داهم دې چه راوی یوم الخروج هم تسلیم کړې وو په دې وجه ئې لخمس بقین اوونیل. ددې دواړو جوابونو تائید دحضرت جابر رضی الله عنه ددې قول نه هم کیږی چه «أنه خرج لخمس بقين من ذي القعدة أولأربع»([6]) یعنی حضورپاك د ذی القعده دپوره کیدو نه پنځم یا څلورم تاریخ باندې روان

---

[1]) صحيح البخاری كتاب الحج باب مايلبس المحرم من الثياب والأردية والأزر رقم الحديث: ١٥٤٥.

[2]) صحيح البخاری كتاب الحج باب مايأكل من البُدن وما يتصدق رقم الحديث: ١٧٢٠ومسلم كتاب الحج باب بيان وجوه الإحرام الخ رقم الحديث: ٢٩٢٥.

[3]) البداية والنهاية: ١١٩/٥-١١٧.

[4]) زادالمعاد: ١٠٥/٢البداية والنهاية:١١٩/٥أوجزالمسالک: ٨٢/٨

[5]) زادالمعاد: ١٠٥/٢.

[6]) البداية والنهاية: ١١٩/٥أوجزالمسالک:٨٢/٨، وهذا لفظ البيهقى من طريق أحمد بن حفص بن عبدالله عن أبيه عن إبراهيم بن طهمان عن جعفر بن محمد عن أبيه عن جابر. (دلائل النبوة: ٤٣٢/٥).

شو. او په مكه مكرمه كښې حضورپاك ۴ ذوالحجه باندې داخل شو لكه چه صحيح بخاري او صحيح مسلم كښې موجود د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د حديث نه ثابتيږي. د صحيح بخاري د روايت الفاظ دادي «فقدم مكة لأربع ليال خلون من ذي الحجة» يعنې حضورپاك په مكه مكرمه كښې ۴ ذى الحجه باندې داخل شو.(۱) اوهغه د اتوار ورځ وه كله چه حضورپاك په مكه كښې داخل شو. د دخول مكه د اتوار په ورځكيدلو نه هم ددې خبرې تائيد كيږي چه دمدينې نه روانيدل د هفتې په ورځ شوى.(۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه ددې قول تائيد د ابن سعد اوحاكم رحمهما الله نه په إكليل كښې نقل شوى روايت نه هم كيږي چه رسول الله ﷺ د مدينې نه د هفتې په ورځ روان شواو دغه وخت لا د ذوالقعده پنځه تاريخونه باقي وو.(۳)

دعلامه ابن قيم رحمه الله د استدلال طرز: علامه ابن قيم رحمه الله فرمائي چه ۲۵ ذى القعده د هفتې په ورځ د وتلو قول ځكه اختيار كړې شو ځكه چه په حديث كښې صراحت دې چه حضورپاك ﷺ د ذى قعده دمكمل كيدونه ۵ تاريخونه وړاندې روان شو اوهغه پنځه تاريخونه د هفتې اتوار پير نهې او چارشنبې ورځې دى. اوس كه د ابن حزم رحمه الله قول تسليم كړې شى نود **الخمس بقين** په ځائې به **لسبع بقين** شى اوكه يوم الخروج يعنې زيارت شميرنه كړې نو بياهم **لست بقين** جوړيږى او كه دا دواړه **لست بقين** وى يا **لسبع بقين** وى دحديث نه خلاف دى. اوكه په ځائې د ورځو د شپو اعتبار اوكړې شى نوبيابه هم **لست بقين** جوړشى، **لخمس بقين** په هيڅ صورت نه جوړيږى. لهذا د زيارت په ورځ د خروج قول كولو په صورت كښې حديث «**لخمس بقين من ذي القعدة**» او «**خروج في يوم الخمس**» كښې جمع ممكن نه ده ليكن كه په يوم السبت كښې خروج تسليم كړې شى نو يوم الخروج يعنې هفتې سره شاته هم پنځه ورځې بچ كيږى. بل د روانيدو نه وړاندې دحضورپاك خلقو ته داحرام او لباس وغيره متعلق په منبر باندې اودريدو سره تعليم وركول هم په دې باندې دلالت كوى چه د حجة الوداع دپاره روانيدل دهفتې په ورځ اوشو ځكه داسې تعليم وركول او خطبه بيانول ښكاره خبره ده چه د جمعې په ورځ وو ځكه چه كه چرې بله ورځ وه نوحضورپاك به دخلقو د راجمع كولودپاره اعلان كولو ليكن داسې هيڅ نقل نه دى. لهذا ښكاره خبره ده چه دا خطبه تعليمى ئى هم د جمعه په ورځ ارشاد فرمائيلې ده او بيا په هفته باندې د مدينې نه روان شو.(۴)

د شيخ الحديث زكريا رحمه الله رائې: شيخ الحديث حضرت زكريا رحمه الله فرمائي چه زما په نيزد ابن قيم رحمه الله قول راجح دې ځكه چه دمكې او د مدينې مينځمې منزلونه ربه دې واقعه كښې اود ابن عمر رضي الله عنهما حديث المساجد كښې تول اته دى. دا حديث امام بخاري رحمه الله روايت كړې دې او په دې كښې د مكې اومدينې مساجد شمير كړى دى.(۵)

---

(۱) رواه الإمام البخاري فى الحج باب مايلبس المحرم من الثياب والأردية والأزر رقم الحديث: ۱۵۴۵ والإمام مسلم في الحج باب جواز العمرع فى أشهر الحج رقم الحديث: ۳۰۱۰، ۳۰۱۳-۳۰۱۲.

(۲) فتح البارى: ۵۱۹/۳ أوجزالمسالک: ۸۲/۸ مرقاة المفاتيح: ۴۶۱/۵.

(۳) فتح البارى: ۵۱۹/۳.

(۴) زادالمعاد: ۱۰۳/۲.

(۵) صحيح البخارى كتاب الصلاة باب المساجد لاتى على طرق المدينة الخ رقم الحديث: ۴۹۲-۴۸۳.

نو ښکاره خبره ده چه روانیدل ۲۵ تاریخ د ذیقعده د هفتې په ورځ اوشوه، دا میاشت د ۲۹ ورځو وه اود ذوالحجه رومبې په اتفاق سره د زیارت ورځ وه اودحضورپاك مکې ته رسیدل هم په اتفاق سره ۴ ذی الحجه د اتوار په ورځ شوې وو. او البدایه والنهایه[۱] کښې چه کوم په روایت دبخاری شریف ۵ذوالحجه قول دې داد کتابت غلطی ده ځکه چه په دې حدیث کښې صحیح بخاری[۲] الفاظ دادی پس حضورپاك د ذوالحجه څلور شپې تیریدو باندې مکې مکرمې ته تشریف راوړو دغه شان ټول روایات جمع کیږی. [۳]

حاصل د کلام دادې چه یوم الخروج په سلسله کښې درې اقوال دی رومبې قول د امام طبری رحمه الله د چه جمعه یوم الخروج ګرځو. دویم قول د ابن حزم رحمه الله او علامه عینی رحمه الله اونورو ډیرو شراحو حدیث رحمهم الله دې چه زیارت یوم الخروج ګرځوی. او دریم قول دعلامه ابن قیم رحمه الله حافظ ابن حجر رحمه الله ملاعلی قاری اونور محققین علماؤرحمهم الله دې چه هفته یوم الخروج ګڼړی اوهم دغه قول د احادیث صحیحه موافق دې. والله اعلم.

د (لانری الا الحج) محل اعراب: داجمله حالیه ده کومه چه په محل د نصب کښې واقع ده. «لانری» بضم النون «لانظن» په معنی کښې دې.

ایا ټول خلق د حج په احرام کښې وو؟: د الا الحج معنی ده "الاقصدالحج" چه زمونږ صرف دحج اراده وه ځکه چه په شروع شروع کښې به اهل عرب د حج په میاشتو کښې عمره کول ممنوع ګڼړله. په دې وجه حضرت عائشه رضی الله عنها د پخوانو عقائدو مطابق خبر ورکړو چه زمونږ صرف د حج اراده وه یا بیا حضرت عائشه د اکثریت باره کښې خبر ورکړو چه اکثر خلق د حج په اراده سره روان وو اوبیا حضرت عائشه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم باره کښې ښائی چه حضورپاك دحج په اراده سره وو. ځکه چه ترکومې دپخپله دحضرت عائشه رضی الله عنها د احرام تعلق دې نوهغې دعمرې احرام تړلې وو [۴]

احرام سره متعلق متعارضه روایات: حضرت قاسم [۵] عمره بنت عبدالرحمن [۶] او اسود [۷] رحمهم الله په روایاتو کښې دی چه حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه زمونږ صرف دحج اراد ه وه لیکن دحضرت عروه بن زبیر رحمه الله په روایت کښې دی «فأهللنا بعمرة» [۸] دویم روایت کښې دی «منامن أهل بعمرة ومنامن أهل بحجة وعمرة ومنامن أهل بالحج» چه صرف دحج اراده نه وه بلکه په مونږ کښې بعض د عمره په احرام کښې وو بعض دحج اوعمره دواړو په احرام کښې وو او بعض د حج په احرام کښې وو [۹] داسې

---

[۱] ۱۱۷/۵.

[۲] صحیح البخاری کتاب الحج باب مایلبس المحرم من الثیاب والأردیة والأزر رقم الحدیث: ۱۵٤۵.

[۳] حجة الوداع وعمرات النبی صلی الله علیه وسلم ص: ۱۹تقریر بخاری: ۱۸۳/۲.

[٤] عمدة القاری: ۳/۳۸۱. ابن التین رحمه الله فرمائی چه بعض حضراتو لاتری بفتح النون هم ضبط کړې دې عمدة القاری: ۳۸۰/۳.

[۵] نفس هذه الروایة وفی باب تقضی الحائض المناسک کلها الخ رقم الحدیث: ۳۰۵.

[۶] صحیح البخاری کتاب الحج باب ذبح الرجل البقر عن نسائه من غیر أمرهن رقم الحدیث: ۱۷۰۹.

[۷] صحیح البخاری کتاب الحج باب التمتع والقران والإفراد الخ رقم الحدیث: ۱۵۶۱.

[۸] صحیح البخاری کتاب الحج باب کیف تهل الحائض الخ رقم الحدیث: ۱۵۵۶.

[۹] صحیح البخاری کتاب الحج باب التمتع والقران والإفراد الخ رقم الحدیث: ۱۵۶۱.

دحضرت قاسم حضرت عمره بنت عبدالرحمن او حضرت اسود رحمهم الله اوحضرت عروه رضی الله عنه په روایاتو کښې تعارض پیدا شو.[1]

د علامه کرمانی اوعلامه زرقانی رحمهماالله رائې علامه کرمانی اوعلامه زرقانی رحمهماالله وغیره په دې دواړه قسم روایاتو کښې تطبیق ورکولوسره فرمائی چه اولنی قسم روایات (کوم چه په احرام د حج باندې دلالت کوی) د امر په شروع باندې محمول دی چه کله دمدینې نه روانیدل نوهغه وخت دټولو اراده د حج وه ځکه چه په شروع شروع کښې د دغه خلقو ګمان وو چه د حج په میاشتوکښې عمره کول منع دی. اودویم قسم روایات د امر په آخر باندې محمول دی چه کله مقام سرف ته اورسیدل نو حضورپاك د خلقو په وړاندې د احرام مختلف صورتونه بیان کړل اودهغوی دپاره ئې د حج په میاشتوکښې عمره جائز اوګرځوله. لهذا «لانری إلا الحج» کښې د روانیدو د وخت د ارادې بیان دې. او «فمنامن أهل بعمرة الخ» کښې دمقام سرف د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خطبې ورکولونه پس چه کوم صورت پیښ شو دهغې بیان دې.[2]

دحافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر دغه پورتنې تطبیق ذکرکولونه پس دحضرت عروه بن زبیرنه نقل شوی روایات ذکرکوی په کوم کښې چه دی رسول الله صلی الله علیه وسلم د حج په میاشتوکښې عمره کول جائزاوګرځول[3] بیا اوفرمائیل چه امام بخاری «باب التمتع والقران والإفراد الخ» کښې د ابن عباس رضی الله عنهما داقول هم ذکر کړې دې په کوم کښې چه دی اهل عرب به دحج په میاشتوکښې عمره کول ګناه ګڼړله[4] لکه چه امام بخاری پخپله هم په دواړه قسم روایاتوکښې دتطبیق صورت طرف ته اشاره کړې ده.[5]

د ملاعلی قاری رحمه الله رائې: ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی «لانری إلا الحج» مطلب دادې چه په دې سفرسره زمونږ اصل اراده د حج وه دعمره سره متعلق نه وه نو زمونږ په ذهنونوکښې خبره داده اونه مونږ دحج په میاشتوکښې د عمره کولوباره کښې معلومات لرل. چنانچه امام بخاری رحمه الله د حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت نقل کړې دې چه کله صحابه کرام رضی الله عنهم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرتیاکښې روان شو نوهغوی صرف د حج اراده لرله. روستو بیا حضورپاك دهغوی په وړاندې د احرام دنورو صورتونو بیان اوکړو.[6] اود حج په میاشتوکښې عمره کول ئې جائزاوګرځول.[7]

---

[1] شرح الکرمانی: ۸۲/۸شرح الزرقانی علی الموطا: ۳۴۴/۲فتح الباری: ۵۴۰/۳عمدة القاری: ۲۶۲/۹أوجزالمسالک: ۸۴/۸-۸۳.

[2] شرح الکرمانی: ۸۲/۸شرح الزرقانی علی الموطا: ۳۴۴/۲فتح الباری: ۵۴۰/۳عمدة القاری: ۲۶۲/۹أوجز المسالک: ۸۴/۸-۸۳.

[3] صحیح البخاری کتاب العمرة باب الاعتمار بعدالحج الخ رقم الحدیث: ۱۷۸۶مسندالإمام أحمدمسندعائشة رضی الله عنها رقم الحدیث: ۲۶۶۱٤.

[4] صحیح البخاری کتاب الحج باب التمتع والقران والإفراد الخ رقم الحدیث: ۱۵۶٤

[5] فتح الباری: ۵٤۰/۳.

[6] صحیح البخاری کتاب العمرة باب الاعتمار بعدالحج الخ رقم الحدیث: ۱۷۸۶.

[7] مرقاة المفاتیح: ٤۶۱/۵.

شيخ الحديث زكريا رحمه الله فرمائي چه ددې قول مطابق «لانرى إلا الحج» كښې د سفرد استثناء نور قسمونه مثلاً د جهاد د سفر وغيره په اعتبار سره به وي. [1]

دعلامه رشيداحمد گنگوهي رحمه الله رائې: علامه گنگوهي رحمه الله فرمائي چه «لانرى إلا الحج» والا روايت كښې حضرت عائشه رضي الله عنها مجازاً د ټولو صحابه كرامو د فعل نسبت خپل خان طرف ته كړې دې لكه چه د حضرت عائشه رضي الله عنها نه نقل دى: «فلما قدمنا تطوفنا» [2] بيا چه كله مونږ مكې ته اورسيدو نومونږ طواف اوكړو خودا متعين ده چه حضرت عائشه رضي الله عنها په طواف كونكو كښې شامل نه وه ځكه چه هغه حائضه وه خوبيائي هم د صحابه كرامو د جماعت د فعل نسبت خپل خان طرف ته كوى. [3] نودا نسبت مجازاً دې او نور احرام حج او اهلال عمره والا رواياتو كښې د حقيقت بيان دې.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه: «فلما قدمنا تطوفنا بالبيت» عام خص منه البعض د قبيل نه دې او مطلب دادې چه بغير د حضرت عائشه رضي الله عنها نه باقى ټولو طواف اوكړو اودا تخصيص پخپله حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائيلې دې. هغه فرمائي: «فحضت فلم أطف» ماد حيض د وجې نه دبيت الله طواف اونه كړې شو. ددې نه داخبره واضحه كيږى چه "تطوفنا" عام خص منه البعض د قبيل نه دې. [4]

د علامه ابوالحسن سندهي رحمه الله رائې: علامه سندهي رحمه الله فرمائي چه «لانرى إلا الحج» معنى داده چه دكوم مقصد دپاره د خروج تحقق شوې ووهغه حج وو. بياچاچه عمره اوكړه نوهغه عمره د حج تابع وه اوداسې د حضرت عائشه رضي الله عنها د قول چه هغه دعمرې په احرام كښې وه او «لانرى إلا الحج» به نې د اكثريت په اعتبارسره وئيلى وى او «لبينا بالحج» او «مهلين بالحج» والا احاديثو كښې هم دغه دويم احتمال متعين دې. اود رومبى احتمال په اعتبار سره به د دغه احاديثو متعلق وئيلى شى چه ممكن دى بعض راويانو دحضرت عائشه رضي الله عنها قول «لانرى إلا الحج» نه دا معنى گنړلې وى چه هغې هم د حج احرام تړلې وو. نوبيا دغه راويانو هم دا مفهوم نقل كول بالمعنى كولوسره «لانرى إلا الحج» په ځائې «لبينا بالحج» او «مهلين بالحج» سره ادا كړل اوداسې كيدل بعيدهم نه دى ځكه چه ډير ځل رواياتو كښې اختلاف او اضطراب هم ددې نقل بالمعنى په وجه سره شوى دى «ولاأرى عاقلا يشك فيه». [5]

دحضرت عائشه رضي الله عنها احرام دحج افراد ووكه دحج تمتع؟ علامه ابن قيم رحمه الله فرمائي دحضرت عائشه رضي الله عنها په قصه كښې د علماؤ اختلاف دې چه دهغې احرام د حج تمتع وو كه صرف د حج افراد وو؟ اوكه چرې د تمتع وو نو آيا هغې عمره فسخ كړې وه اود حج افراد احرام نې تړلې وويا په عمره باندې د حج احرام تړلوسره نې قران كړې وو؟ اوكومه عمره چه هغې دتنعيم نه كړې وه هغه په دې باندې واجب وه كه نه؟ اودحضرت عائشه قصې سره چه كومه مسئله تړلې ده په هغې كښې هم د علماؤ اختلاف اوشو او هغه دا دې چه ښځې كله د عمرې احرام تړلې وى اوهغې ته حيض اوشى او

---

[1] أوجزالمسالک: ۸٤/۸.

[2] سنن أبى داؤد، كتاب المناسک باب فى إفراد الحج رقم الحديث: ۱۷۸۳-۱۷۸۲، صحيح البخارى كتاب الحج باب التمتع والقران والإفراد الخ رقم الحديث: ۱۵۶۱.

[3] بذل المجهود: ۱۱۲/۷أوجزالمسالک: ۸٤/۸

[4] فتح البارى: ۵٤۰/۳.

[5] حاشية السندى على صحيح البخارى: ۳۰۹-۳۱۰/۱،هامش بذل المجهود: ۱۱٤/۷.

دعرفات دتلونه وړاندې طواف نه شي کولې نوآیا هغې له دعمرې احرام فسخ کلوسره د حج افراد احرام تړل پکاردی یا په عمره باندې د حج احرام تړلوسره قران اوکړی؟ چنانچه فقهاء کوفه په کوم کښې چه امام ابوحنیفه رحمه الله اود هغه ملګری شامل دی د ړومبی قول قائل دی او فقهاء حجاز امام شافعي او امام مالك رحمهما الله د دویم قول قائل دی اوهم دغه مذهب د امام احمد رحمه الله اود متبعینودې.[1]

دحضرت عروه رحمه الله په روایت باندې نقد: شیخ ابی رحمه الله شرح مسلم کښې فرمائی چه د حضرت عائشه رضي الله عنها د احرام سره متعلق روایت مختلف دی. دحضرت عروه رحمه الله په روایت کښې دی: «**أهللنا بعمرة**» خود قاسم رحمه الله په روایت کښې دی«**لبينا بالحج**» اوهم د قاسم رحمه الله په دویم روایت کښې دی «**لانعرف إلا الحج**» اودا دواړه روایتونو په دې امر کښې صریح دی چه حضرت عائشه رضي الله عنها د حج په احرام کښې وه اود اسود رحمه الله په روایت کښې دی: «**ملبين لانذكر حجاً ولا عمرةً**».[2]

نورفرمائی د علماء حدیث حضرت عائشه رضي الله عنها (کوم چه دحضرت عروه رحمه الله په طریق سره نقل دی) کښې هم اختلاف دې. چنانچه امام مالك رحمه الله فرمائی «**ليس العمل على حديثها قديماً ولا حديثاً**».[3]

قاضی اسماعیل رحمه الله فرمائی: حضرت عائشه رضي الله عنها د حج په احرام کښې وه ځکه چه داد اکثر روایت دېلکه عمره، قاسم اواسود رحمهم الله.

دحضرت عروه رحمه الله روایت غلط اوګرځولې شو او بیا هم دغه تغلیط ته ترجیح هم ورکړې شوه. دکوم سبب چه دا بیان کړې شو چه حضرت عروه رحمه الله د حماد رحمه الله په روایت کښې فرمائی «**حدثني غيرواحد أن النبي صلى الله عليه وسلم قال لها: دعي عمرتك**» دکوم نه چه دا واضحه کیږی چه حضرت عروه رحمه الله دحضرت عائشه رضي الله عنها نه داحدیث پخپله نه دې اوریدلې اونه ددې سره متعلق څه وضاحت په حدیث کښې موجود دې. البته ددې خبرې هم احتمال دی چه دحضرت عروه رحمه الله نه د حدیث بیانونکوکښې یوحضرت عائشه رضي الله عنها هم وی. بل دحضرت قاسم رحمه الله اوحضرت عمره رحمه الله په روایت کښې د حضرت عائشه رضي الله عنها د حج د عمل نقشه د شروع نه ترآخره پورې رابنکلې شوې ده. په دې وجه د حضرت یحیی رحمه الله اوحضرت عمره رحمه الله روایت کله قاسم رحمه الله ته بیان کړې شو نوهغوی اوفرمائیل: «**أتتك والله بالحديث على وجهه**».[4]

د حافظ ابن حجر رحمه الله د طرف نه ددې نقد جواب: ددې نقد په جواب کښې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دحضرت عروه رحمه الله نص، نص صریح دې چه حضرت عائشه رضي الله عنها دعمرې په احرام کښې وه. خود اسود رحمه الله وغیره حدیث اهلال حج کښې صریح نه دې لهذا د حضرت عروه رحمه الله د روایت دتغلیط په ځائې به جمع بین الروایتین اختیارولې شی. (د کوم صورت چه دادې چه داحرام حج والاروایات د امر په شروع باندې محمول دی او اهل عرب اشهرحج کښې عمره ناجائزګڼړله بیا چه کله حضورپاك د حج په میاشتوکښې دعمرې کولواجازت ورکړو نوبیا چاد حج او د عمرې دواړو احرام تړلې وو نوچا صرف

---

[1] زادالمعاد: ۱۶۷/۲-۱۶۶أوجز المسالک: ۴۰۱/۸-۴۰۰لامع الدراری: ۲۰۸/۵.

[2] إكمال إكمال المعلم: ۳۲٤/۳أوجز المسالک: ٤٠١/٨.

[3] كذا في الأصلو ولعل الصواب: حديث عروة عن عائشة. كما في الفتح: ٥٤٠/٣والعبدة: ٢٦٢/٩.

[4] إكمال إكمال المعلم: ۳۲٤/۳أوجز المسالک: ٤٠١/٨.

دحج یاصرف د عمري احرام تړلې وو اود حضرت عروه رحمه الله په روایت کښې هم ددې بیان دې. ځکه چه دحضرت عروه رحمه الله «أعلم الناس بحدیثها» یعنې حضرت عائشه رضي الله عنها حدیث دټولو نه زیات پیژندونکې دې. بیا داخبره هم نه ده چه حضرت عروه رحمه الله په دې حدیث کښې متفردوی ځکه چه صحابی رسول حضرت جابر رضي الله عنه[1] حضرت مجاهد رحمه الله اوحضرت طاؤوس رحمه الله دهغوی موافقت کړې دې.[2]

شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمائی چه ددې حضراتو ټول روایات امام مسلم رحمه الله نقل کړی دی په کوم کښې چه دحضرت عائشه رضي الله عنها احرام عمره تصریح ده لهذا ددې روایات صریحه حضرت قاسم رحمه الله او نورو حضراتو روایات محتمله مجمله په مقابله کښې اولی وی.[3]

د حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها داحرام سره متعلق په مختلفو روایاتو کښې حافظ ابن حجر رحمه الله یویل تطبیق هم بیان کړې دې اوهغه دادې چه حضرت عائشه رضي الله عنها په شروع کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نورو صحابه کرامو په شان د حج افراد احرام تړلې وو اوهم د دغه حالت حضرت اسود، قاسم اوعمره رحمهم الله په روایاتو کښې بیان کړې دې. بیا حضورپاك «فسخ الحج إلى العمرة» حکم اوفرمائیلو نوحضرت عائشه رضي الله عنها هم دنورو صحابه کرامو رضي الله عنهم په شان حج فسخ کړو اود عمره احرام ئې اوتړلو اوهم ددې حالت په حدیث عروه رحمه الله کښې بیان دې. بیا حضرت عائشه رضي الله عنها د حیض په حالت کښې مکې ته داخله شوه نودحیض د وجې نه ئې طواف نه شو کولې نوحضورپاك په دې موقع باندې دوباره د حج احرام دتړلو حکم ورکړو.[4]

دحافظ ابن حجر رحمه الله په ذکرکړې شوی تطبیق باندې دکلام په ذریعه یوځو وجوهات: شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمائی چه د تطبیق دې صورت طرف ته امام نووی رحمه الله[5] او نور حضرات رحمهم الله مائل دی مګر دا تطبیق او توجیه د یوځو وجوهاتو په سبب صحیح نه دی.

ړومبۍ وجه ړومبې وجه داده چه دحضرت عروه رحمه الله روایات د کوم د وجې نه چه ددې تطبیق ضرورت پیښ شو. پخپله هغه روایات ددې تطبیق نه انکارکوی ځکه چه په دې روایات کښې صراحت سره ذکر دی چه صدیقه عائشه رضي الله عنها شروع کښې سواء د عمره بل څه احرام نه وو تړلې. چنانچه امام بخاری رحمه الله «عقیل عن الزهري عن عروة عن عائشة» په طریق سره روایت نقل کړې دې.[6] په کوم کښې چه دی «ولم أهلل إلا بعمرة فأمرني أن أنقض رأسي وأهل بالحج وأترك العمرة ففعلت ذلك» په دې حدیث کښې صراحت دې چه حضرت عائشه رضي الله عنها د شروع نه د عمرې په احرام کښې وه.

دویمه وجه: دویمه وجه داده چه په ډیرو احادیثو کښې دا تقسیم بیان کړې شوې دې چه کله حضورپاك دا اوفرمائیل «من أحب أن يُهل بعمرة فليهل» نوبعض د عمرې احرام اوتړلو او بعض د حج. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه «وكنت ممن أهل بعمرة» یعنې زه دهغه کسانو نه ووم چاچه دعمرې احرام تړلې وو.

---

[1] رواه الإمام مسلم فی کتاب الحج باب بیان وجوه الإحرام وأنه یجوز إفراد الحج والتمتع والقران الخ رقم الحدیث: ۲۹۳۷، ۲۹۳۳.

[2] فتح الباري: ۵٤۰/۳ أوجز المسالک: ٤۰۲/۸.

[3] أوجز المسالک: ٤۰۲/۸.

[4] فتح الباري: ۵٤۰/۳.

[5] المنهاج للنووی المعروف بشرح النووي: ۳۸٦/۸. ابی صاحب الإکمال إکمال إکمال العلم: ۳۲٤/۳.

[6] صحیح البخاری کتاب الحیض باب کیف تهل الحائض بالحج والعمرة رقم الحدیث: ۳۱۹.

په دې باندې دا اشكال نه شي كيدې «وكنت من أهل بعمرة» نه مراد هغه عمره ده د كوم احرام چه د حج د فسخ كولونه پس تړلې وو خكه چه كه چرې دا احرام د فسخ حج نه پس احرام وې نو بيا «وكنت من أهل بعمرة» او «من أهل بحج» كښې به څنګه تقابل صحيح كيدلو؟ بل ددې حديث نه هم زيات واضحه الفاظ دحضرت جابر رضي الله عنه د روايت دى. [1]په كوم كښې چه دى: «وأقبلت عائشة بعمرة» حضرت عائشه رضي الله عنها د عمرې په احرام سره راغله.

دريمه وجه: دريمه وجه داده چه كوموخلقو دحج احرام تړلې وو نوهغوى دحكم ملاويدلونه پس خپل خپل احرامونه د حج دعمرې د افعالو په ذريعه فسخ كړې وو نو په دې موقع باندې خو حضرت عائشه رضي الله عنها په حيض كښې وه بيا آخر هغې خپل احرام حج (كه چرې د حج احرام تسليم كړې شي) څنګه فسخ كړې وى؟ خكه چه هغه خودحيض د وجې نه د عمرې د افعالود اداكولونه قاصر وه. لهذا حقيقت دكوم نه چه عدول نه شي كيدلې هم دغه دې چه حضرت عائشه رضي الله عنها په شروع كښې دعمرې احرام تړلې وو كما قال به الجمهور.

دجمهورو پخپل مينځ كښې اختلاف:سره ددې چه وړاندې تلوسره د جمهورو په خپل مينځ كښې اختلاف دې چه آيا حضرت عائشه رضي الله عنها دعمرې احرام فسخ كولوسره د حج احرام تړلې وو يا هم په دغه احرام باندې د حج احرام داخلولو سره قارنه شوې وه؟([2])

چنانچه احناف حضرات د رومبى قول قائل دى اوحضرات ائمه ثلاثه د دويم قول. اودا اختلاف په اصل كښې په يوبل اختلاف باندې مبنى دى هغه دا چه د احنافو حضراتو په نيز قارن، عمره اوحج دواړو افعال جدا جدا او مستقل ادا كوى. نود حضرت عائشه رضي الله عنها د پاره خودا ممكن نه وه چه د حج د وخت نه اول د عمرې دپاره افعال اداكړې شى لامحاله دهغې دپاره عمره فسخ كولو سره ني د حج احرام اوتړلو. او ائمه ثلاثه فرمائى چه دعمرې افعال به د حج په افعال كښې داخل شى. چونكه دحج نه وړاندې هغې د عمرې افعال نه شو اداكولې په دې وجه دهغې د پاره ګنجائش وو چه هغه دې دعمرې په احرام باندې د حج احرام اوتړى. ([3])

د احنافو مستدلات: حضرات احنافو په خپله دې مدعا باندې چه حضرت عائشه رضي الله عنها عمره فسخ كړې وه په مختلفو وجوهاتوسره استدلال كړې دې يو داچه حضوړپاك صلى الله عليه وسلم حضرت عائشه رضي الله عنها ته فرمائيلى وو «دعى عمرتك» چه خپله عمره پريږده.([4])

دويمه وجه داده چه حضوړپاك داهم فرمائيلى وو «امتشطي وانقضي رأسك»([5]) چه خپل سركولاؤكړه ګمنزنى كړه. ښكاره خبره ده چه د احرام په حالت كښې ګمنز كول جائزنه دى خكه چه د وينښتو پريوتو خطره وى. اوس په دې مقام باندې دا تاويل كول چه ګمنزبه داسې طريقه اوكړه چه د سرويښته مات نه

---

[1]) رواه الإمام مسلم فى كتاب الحج باب بيان وجوه الإحرام، وأنه بجوز إفراد الحج والتمتع والقران الخ رقم الحديث: ۲۹۳۷.

[2]) أوجزالمسالك: ۸/ ۴۰۳-۴۰۲.

[3]) أوجز المسالك:۸/ ۴۱۲لامع الدرارى:۵/ ۲۰۹.

[4]) صحيح البخارى: كتاب الحيض باب نقض المرأة شعرها عندغسل المحيض رقم الحديث: ۳۱۷وكتاب العمرة باب الاعتمار بعدالحج بغيرهدى، رقم الحديث: ۱۷۸۶.

[5]) المرجع السابق.

شی ډیر ضعیف تاویل دې اوحدیث د ظاهر خلاف دې ځکه چه په یقینی توګه باندې «انقضي رأسك وامتشطي» به د عمرې د احرام د ختمولو سره کنایه منلې کیږی ځکه چه داحرام په حالت کښې نه سر کولاوولې شی اونه ګمنزولې شی. او په دې تقدیر باندې به د رسالت مآب ﷺ د ارشاد مطلب داشی چه دعمرې وخت خو اووتلو په دې وجه دهغې احرام ختم کړنی اود حج احرام اوتړنی او احرام نی داسې اوتړلو چه اول نی دغسل حکم ورکړو لکه څنګه چه د سنن ابی داؤد په روایت کښې دې ځکه چه په احرام کښې غسل مسنون دې. دغه شان د سر ویښته کولاوول اود ګمنزکولوحکم نی هم ورکړو او ښکاره خبره ده چه دا ټول احکام هغه وخت ورکړې شو چه د عمرې احرام ختمول مقصود وو. که چرې هم دغه احرام باقی ساتل مقصود وې نود سرکولاوولو او ګمنزولو څه ضرورت وو؟ داسې صورت خو وونه چه په دغه څادر باندې بل څادر تړلې کیدو بلکه صرف د نیت بدلولو ضرورت وو. بیا چه کله حضورپاك د عمرې احرام ختم کړو نوښکاره خبره ده چه حضرت عائشه رضی الله عنها قارنه نه شوه بلکه مفرده شوه. معلومه نه ده چه شوافع څنګه د عمرې په احرام باندې د حج احرام منی. د حضورپاك په ارشاداتوکښې خوادا خبره بالکل واضح ده چه حضورپاك د عمرې نه دمنع کیدو هدایت کړې وو لکه څنګه چه په دغه پورته ذکرکړې شوی مختلف الفاظ د حدیث دعمرې احرام فسخ کولو باندې واضحه دلالت کوی. (۱)

علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه د عمرې پریخودلو مفهوم دادې چه دعمرې افعال پریږدی. دغه شان «أمسكي عن عمرتك» سره متعلق تاویل کړې شوې دې چه احرام خو دې هم هغه شان پاتې وی البته افعال مؤخرکړه. سوال دادې چه کله عمره د طواف او سعی نوم دې اودا دواړه افعال حج سره ادا شوی دی نوبیادتاخیرکولومقصدڅه دې؟ بیا چه کله حج سره دعمرې فرائض هم اداکړې شو نوعمره اوشوه اود شوافع دمذهب مطابق هغه قارنه اوګرځولې شوه. اوس جدا عمره کول اوهغه د سابقه عمرې د پاره بدل ګرځول څه معنی لری؟ کله چه مبدل منه موجود دې نو د بدل څه مطلب؟ حضرات شوافع وائی چه عمره خوشوې وه مګر عائشه رضی الله عنها ته تسلی نه وه دهغې دتسلئی دپاره نی دوباره عمره اوکړه. جواب دادې که چرې هم دغه وجه وه نوبیا د«مكان عمرتي التي لسكت» ونیلو څه ضرورت وه؟ اوکه چرې حضرت عائشه رضی الله عنها دغه شان قارنه اومنلې شی اویو طواف اوسعی هم کافی اومنلې شی نوبیا خو دلته بغیرد ارادې نه د حضرت عائشه رضی الله عنها عمل د پیغمبر علیه السلام د عمل موافق شوې وو. ددې نه زیات د خوشحالئی او تسلئی دهغې دپاره څه کیدې شوچه دهغې عمل د حضورپاك د عمل موافق شو. مګر د حیرانتیاخبره داده چه حضورپاك دهغې د زړه د ساتنې دپاره دویمه عمره خو ورباندې کوی مګر دا نه فرمائی چه غم ولې کوې ته خو هم زما په شان قارنه یئې. (۲)

دریمه وجه داده چه حضورپاك ﷺ فرمائیلی وو«هذه عمرتك مكان عمرتك» (۳) داستا عمره ده اوداد عمرې خانی ځلورمه وجه دا چه حضرت عائشه رضی الله عنها عرض کړې وو «أعتمرتم ولم أعتمر» (۴) پنځمه وجه داچه

---

(۱) إيضاح البخاري: ۱۱/۱۱۶-۱۱۵.

(۲) إيضاح البخاري: ۱۱/۱۱۶.

(۳) صحيح البخاري: كتاب الحج باب كيف تهل الحائض والنفساء رقم الحديث: ۱۵۵۶.

(۴) صحيح البخاري: كتاب الحج باب الحج على الرحل، رقم الحديث: ۱۵۱۸.

حضرت عائشه رضي الله عنها په ډېرښه اندازکښې فرمائيلی وو «أتنطلقون بحج وعمرة وأنطلق بحج؟» [1] چه تاسو خودې حج اوعمره دواړه کولوسره لاړشنې اوزه به صرف حج کوم خم به؟د مسند احمدالفاظ څنګه چه فتح الباري کښې دی دادی: «وأرجع بحجة ليس معها عمرة» [2]

ولې او زه به صرف حج کوم خم به کوم سره چه عمره نه وی. سوال دادې چه په دې باندې حضورپاك ولې اونه فرمائيل چه اې عائشه رضي الله عنها زه هم ستا په شان يم؟ څکه چه حضورپاك قارن وو او په قول د ائمه ثلاثه حضرت عائشه رضي الله عنها هم دحضوراکرم ﷺ په شان قران کړې وو. نوبياحضرت عائشه رضي الله عنها ولې اوفرمائيل چه تاسو دې حج اوعمره يوسنې لاړشنې اوزه به صرف حج اوړم خم به؟ او حضورپاك ولې اونه فرمائيل لکه څنګه چه زما قران دې هغه شان ستاهم قران دې؟ دې نه علاوه د نورو ډېرو رواياتونه معلومېږی چه حضرت عائشه رضي الله عنها دعمرې احرام فسخ کړې وو [3] چنانچه علامه عابد سندهی رحمه الله «مسندأبي حنيفة برواية الحصكفي» کښې دا لاندينی روايات ذکرکړی دی:

(۱) «أبوحنيفة عن حماد عن إبراهيم عن الأسود عن عائشة رضي الله عنها: أنها قدمت متمتعة وهي حائض، فأمرها النبي صلى الله عليه وسلم فرفضت عمرتها واستأنفت الحج إذا فرغت من حجها، أمرها رسول الله صلى الله عليه وسلم أن تصدر إلى التنعيم مع أخيها عبدالرحمن»

يعنی دحضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه هغې (مکې) ته د تمتع په نيت سره تشريف راوړلې وو اوهغه دحيض په حالت کښې وه. په دې باندې حضورپاك هغې ته د (عمرې ترك کولو) حکم ورکړو. نوددې حکم په تعميل کښې هغې عمره ختمه کړه اود نوی سر نه ئې د حج احرام اوتړلو تردې چه بيا کله هغه د حج نه فارغه شوه نوهغې ته حضورپاك حکم ورکړو چه دتنعيم دمقام طرف ته دخپل رور عبدالرحمن سره لاړشه (اودترك کړې شوې عمرې قضااوکړه).

(۲) «أبوحنيفة عن الهيثم عن رجل عن عائشة رضي الله عنها: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم ذبح لرفضها العمرة بقرة» يعنی د حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ دهغې (عائشه رضي الله عنها) دعمرې د ترك کولود وجې نه يوه غوا (ددم په توګه) ذبح کړې وه.

(۳) «أبوحنيفة عن عبدالملك عن ربعي بن حراش عن عائشة رضي الله عنها: أن النبي صلى الله عليه وسلم أمر برفضها العمرة دما» يعنی د حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه نبی کريم ﷺ دهغې د عمرې د ترك کيدو دوجې نه د دم ادا کولو حکم ورکړې وو.

(۴) «أبوحنيفة عن حماد عن إبراهيم عن الأسود عن عائشة رضي الله عنها أنها قالت: يانبي الله! يصدر الناس بحجة وعمرة، وأصدر بحجة» الحديث. [4] يعنی دحضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه هغوی اوفرمائيل اې دالله نبی! خلقوخو حج اوعمره دواړه اوکړل واپس شو اوزه به صرف حج کوم واپس کيږم به. (چونکه حضرت عائشه رضي الله عنها د حيض د وجې نه عمره نه وه کړې په دې وجه څه خفه وه اوهم د دغه خفګان اظهارهغې

---

[1] صحيح البخاري: كتاب التمني، باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: (ولواستقبلت من أمري ما استدبرت) رقم الحديث: ۷۲۳۰.
[2] مسندالإمام أحمدمسندعائشة رضی الله عنها، رقم الحديث: ۲۵۸۳۰.
[3] لامع الدراري: ۲۰۹/۵.
[4] مسندالإمام الأعظم بتنسيق النظام في مسندالإمام ص: ۱۱۳.

په دې حديث كښې حضورپاك ته اوكړو چه ارمان هغه هم حج اوعمره دواړه اداكولو سعادت حاصلولوسره واپس شوې وې.

په دې څلورو واړو مسند روايتونوكښې تصريح ده چه حضرت عائشه رضي الله عنها عمره فسخ كړې وه بل امام ابوداؤد رحمه الله هم دې طرف ته مائل دې ځكه چه هغوى په خپل سنن كښې دحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها په قصه باندې داترجمه قائم كړې ده: ((باب المهلة بالعمرة تحيض فيدركها الحج فتنقض عمرتها وتهل بالحج، هل تقضي عمرتها)اوبيانى ددې ترجمې لاندې دحضرت عائشه رضي الله عنها د عمرې داحرام روايت ذكركړې دې.(١)

بعض حضراتو ((تنطلقون بحجة وعمرة وأنطلق بحج)) كښې تاويل كړې دې چه ددې مطلب دې ((تنطلقون بحجة وعمرة مفردة وأنطلق بحجة غيرمفردة)) يعنى تاسو ټول خو حج او عمره جدا جدا كولوسره واپس كيږئى اوزه به حج قران كولوسره واپس كيږم؟ ليكن دا تاويل د بعيدكيدو نه علاوه دظاهرى هم سراسر خلاف دې. كه دحديث په دې الفاظوكښې دا تاويل تسليم هم كړې شى نودبخارى شريف روايت كوم كښې چه حضرت عائشه رضي الله عنها حضورپاك صلى الله عليه وسلم ته فرمائى: ((كل أصحابك يرجع بحجة وعمرة غيري)) په دې كښې دا تاويل نه شى چليدې ځكه چه ټول كسان د حج افراد په احرام كښې نه وو بلكه په هغوى كښې يوجماعت د حج قران كونكوهم وو.

بل امام بخارى رحمه الله د قاسم رحمه الله او اسود رحمه الله نه روايت نقل كړې دې چه حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل: ((يارسول الله! أيصدر الناس بنسكين وأصدر بنسك....الحديث))(٢) يعنى ټول خلق خو به دواړه عبادتونه (حج اوعمره) اوړلوسره واپس كيږى او زه به صرف هم يوعبادت اوړلوسره ځم، نو په دې موقع باندې حضورپاك ولې اونه فرمائيل: ((إنك أيضاً ترجع بنسكين)) يعنى غم مه كوه ته به هم دواړه عبادتونه اوړلوسره واپس كيږې.(٣)

دغه شان دقاسم رحمه الله په روايت كښې دى چه حضورپاك حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها ته فرمائيلي وو ((كوني في حجك عسى الله أن يرزقكها......))الحديث (٤)اوس كه چرې حضرت عائشه رضي الله عنها قارنه وه نوبيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارك ارشاد ((عسى الله أن يرزقكها)) به څه معنى وى؟ ځكه چه د عسى استعمال دهغه امورو دپاره كيږى چه متوقع الوجود وى يعنى دهغې په وجودكښې راتلل قريب زمانه كښې متوقع وى خو هغې ته دقارنه ونيلو مطلب دادې چه حج اوعمره فى الحال دواړه موجود دى نه چه متوقع الوجود. اود ((كوني في حجك)) معنى ده ((كوني في انتظاره ورجائه ولاتيأسي منه)) چونكه امر ((لايقضي الفور)) يعنى د فور تقاضانه كوى په دې وجه هيڅ لرې نه ده چه دلته هم د لږ وخت نه پس د تجديداحرام امر وى ځكه چه كله حضرت عائشه رضي الله عنها دعمرې احرام ترك كړو نودهغې نه لږشان وخت پس حضورپاك هغې ته د

(١) رقم الكتاب:١١،رقم الباب:٨٠ رقم الحديث:١٩٩٥.

(٢) رواه البخارى فى كتاب العمرة، باب أجرالعمرة على قدر النصب. رقم الحديث: ١٧٨٧ومسلم فى كتاب الحج باب بيان وجوه الإحرام وأنه يجوز إفراد الحج والتمتع والقران الخ. رقم الحديث: ٢٩٢٧.

(٣) أوجزالمسالك: ٨/٤١٥-٤١٤.

(٤) صحيح البخارى كتاب الحج باب قول الله تعالى:﴿ اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ ﴾ رقم الحديث: ١٥٦٠.

حج داحرام ترلو حکم فرمائيلې وو. دا ټول تفصيل په هغه صورت کښې دې چه کله په ږرقکها کښې هاد حج طرف ته راجع کړی.(۱)

ليکن که د سياق حديث موافق ضميردعمرې طرف ته راجع کړې او په عسی کښې چه کومه د ترجي والامعنی ده هغه دعمرې سره متعلق وی نوبياخو بالکل واضح دلالت کوی چه حضرت عائشه رضي الله عنها عمره فسخ کړې وه.(۲)

علامه سندهي رحمه الله اوفرمائيل چه د «کوني في حجك» ظاهر دادې چه حضرت عائشه رضي الله عنها د حج په احرام کښې وه اودا د اعتمار عائشه والا د روايت خلاف ده مګردواړو کښې تطبيق ممکن دې په داسې معنی چه «کوني في حجك» نه مراد وی «کوني فيما هوالمقصود بالخروج من الحج بنقض إحرام العمرة وتجديد الحج» يعنی د مدينې نه خورج سره چه کوم مقصد وو عمره ترک کولوسره دهغې په افعال کښې مشغول شی. (۳) والله اعلم.

د ائمه ثلاثه رحمهم الله مستدل اودهغې جواب: شيخ الحديث حضرت زکريا رحمه الله فرمائي چه دائمه ثلاثه پخپله مدعاباندې دټولو نه صريح دليل د مسلم شريف روايت دې په کوم کښې چه دی حضور پاك حضرت عائشه رضي الله عنها ته اوفرمائيل «يسعك طوافك لحجتك وعمرتك»(۴)نوبه دې کښې دوه خبرې دی.

رومبی خبره داده چه دامام بخاری رحمه الله روايات د امام مسلم رحمه الله په رواياتو باندې مقدم دی. دويمه خبره داده چه دحضورپاك ارشاد په دې باندې مبنی دې چه کيدې شی هغه وخت حضورپاك ته دا ياد نه وی راغلې چه حضرت عائشه رضي الله عنها د حيض د وجې نه طواف اونه کړې شواو حضورپاك هغې ته د عمرې دختمولو حکم ورکړې وو لکه چه د صحيح بخاری په روايت کښې (۵)دی چه کله حضرت عائشه رضي الله عنها رسول الله صلى الله عليه وسلم ته شکايت اوکړو نو حضورپاك اوفرمائيل «وما طفت ليالي قدمنا مكة؟» ولې تا طواف اونه کړوکوم وخت چه مونږ مکې ته راغلو؟ حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل نه، نوددې روايت نه معلوميږی چه حضورپاك ته د حضرت عائشه رضي الله عنها د حيض د وجې نه طواف نه کول ياد نه وو.(۶)

علامه خليل احمدسهارنپوری فرمائي چه که چرې مونږ دا تسليم هم کړوچه حضرت عائشه قارنه وه نوبياهم زمونږ د احنافو د رائې دپاره څه ضروری نه دی چه دا اومنلې شو حضرت عائشه رضي الله عنها دحج او عمرې اراده کړې وه اوقارنه نه وه مګر بيا د عمرې احرام ترک کولوسره هغه مفرده بالحج شوې وه.(۷)

قوله: «فلما كنا بسرف حضت»: سرف: د سين فتحه او راء په کسره سره منصرف اوغيرمنصر دواړه شان لوستلې شی.(۱) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه موضع سرف د مکې نه تقريباً لس ميله فاصله

---

(۱) لامع الدراری: ۲۱۱/۵-۲۱۰.

(۲) لامع الدراری:۲۱۱/۵أوجز المسالك:۴۱۵/۸.

(۳) حاشية السنديعلى صحيح البخاری: ۲۰۹/۱لامع الدراری: ۲۱۱/۵-۲۱۰.

(۴) رواه الإمام مسلم فی الحج باب بيان وجوه الإحرام وأنه يجوز إفراد الحج والتمتع والقران الخ رقم الحديث: ۲۹۳۳.

(۵) صحيح البخاری کتاب الحج باب التمتع والقران والإفراد بالحج وفسخ الحج لمن لم يكن معه هدی، رقم الحديث: ۱۵۶۱.

(۶) أوجز المسالك: ۴۱۵/۸.

(۷) بذل المجهود: ۱۱۲/۷.

باندې واقع دې. (۲)علامه عيني رحمه الله هم دا قول اختيار کړې دې اود ۹، ۷او ۶ ميلو يا دوولسو ميلو اقوال ئې د قيل سره ذکرکړی.(۳) ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي سرف دمکې نه شپږ ميله يا اوولس ميله يا دولس ميله فاصله باندې واقع د يوځائې نوم دې اوبيائې د ۱۷ او ۱۲ ميل قول غير صحيح ګرځولې دې.(۴)

د مقام سرف د عجائباتونه دی چه حضورپاك په عمرة القضاء کښې هم په دې ځائې کښې حضرت ميمونه رضي الله عنها سره نکاح اوکړه او په واپسئ باندې هم په دې ځائې رخصتي اوشوه اود کومې ونې لاندې چه رخصتي اوشوه هم هلته دميمونه رضي الله عنها تدفين هم شوې.(۵)

امام نووی رحمه الله د ابن حزم ظاهری رحمه الله نه نقل کړی دی چه د حيض شروع ۳ ذی الحجه د هفتې په ورځ شوې وه.(۶)

قوله:: (فدخل عَلَيّ رسول الله صلى الله عليه وسلم وأنا أبكي): حضرت عائشه رضي الله عنها ددې ويرې نه ژړل چه دهغې حج به فوت شي.(۷)

قوله:: (فقال: مالك نفست؟): حافظ ابن حجر رحمه الله ليکی چه امام خطابی رحمه الله فرمائی: اصل ددې کلمې نفس په معنی د دم دې مګر اهل لغت د فعل په وجه (د صيغې) په لحاظ ادواړوکښې يعنی حيض اونفاس کښې فرق کړې دې او هغه دا چه د حيض دپاره (نَفِسَت المرأة) (د نون فتحه سره) وائی اود ولادت دپاره (نُفِست المرأة) (د نون ضمه سره) وائی. حافظ رحمه الله فرمائی چه هم دغه قول د ډيرو اهل لغت دې البته ابوحاتم رحمه الله د اصمعی رحمه الله نه نقل کړی دی چه "نُفِست" د نون په ضمه سره حيض اونفاس دواړو دپاره وئيلې شي.(۸)

خو امام نووی رحمه الله ليکلی دی چه ابوحاتم د اصمعی رحمه الله نه نقل کړی دی چه دا لفظ د نون فتحه سره اود نون ضمه سره دواړه شان په حيض اونفاس کښې استعمالولې شي.(۹)

لکه چه د اصمعی رحمه الله نه دوه روايتونه دی يوروايت دادې چه دا لفظ "نُفِست" (صيغه مجهول سره) د حيض اونفاس دواړومعنوکښې استعمالولې شی او "نَفِست"(معروف صيغه سره) صرف دحيض په معنی کښې استعماليږی او دويم روايت دادې چه دا لفظ معروف اومجهول دواړه شان د حيض او نفاس دواړو معنوکښې استعماليږی. بله خبره دا چه امام نووی رحمه الله دا لفظ د نون فتحه او فاء کسره سره نقل کړې دې اوددې نه پس ئې فرمائيلی دی چه په روايت کښې هم دغه معروف صحيح او لغت

---

(۱) فتح الباری: ۵۲۸/۳شرح الکرمانی: ۱۵۸/۳المنهاج للنووی: ۳۸۲/۸إرشادالساری:۵۳٤/۱تحفة الباری: ۲٤۱/۱.
(۲) فتح الباری: ۵۲۸/۱.س
(۳) عمدة القاری:۳۸۱/۳.
(٤) مرقاة المفاتيح: ٤۹۲/۵.
(۵) حجة الوداع وعمرات النبی صلی الله عليه وسلم ص:۵۸بذل المجهود: ۱۱۲/۷.
(٦) المنهاج للنووی المعروف بشرح النووی: ۳۹٤/۸.
(۷) مرقاة المفاتيح: ٤۹۲/۵.
(۸) فتح الباری:۵۳۱/۱.
(۹) المنهاج للنووی المعروف بشرح للنوی: ۱۹۷/۳.

کښي مشهور دی چه "نفست" (د نون فتحه سره) د حیض په معنی کښي دي او د ولادت دپاره نفست د نون ضمه سره ونیلې شی.[1]

ابوعبید هروی رحمه الله فرمائی د ولادت دپاره خو په دواړه شان استعمالیږی اودحیض دپاره صرف د نونه فتحه سره.[2] بهرحال دا لفظ د نفس نه ماخوذ دې د معنی چه په لغت کښي دم یعنی وینه ده اوحیض اونفاس دواړو ته نفس دلغوی معنې په اعتبارسره ونیلې شی.[3] بل زمونږ ددې بخاری په روایت کښي دا لفظ دنون فتحه او ضمه دواړه شان سره ثابت دې.[4]

حضرت عائشه رضی الله عنها دحیض شکایت په کومه ورځ اوکړو؟ دومره خبره خو متعین ده چه دحضرت عائشه رضی الله عنها د حیض شروع ۴ ذی الحجه موضع سرف کښي شوې البته په دې کښي اختلاف دې چه حضورپاک ته شکایت په ۴ذی الحجه موضع سرف کښي اوکړو یا په یوم الترویه یعنی اتم د ذی الحجه چرته په بل مقام اوکړو؟ نوددې روایت نه معلومیږی چه په موضع سرف کښي شکایت اوکړو اوهم په دې باندې علامه ابن قیم رحمه الله جزم کړې دې خو په صحیح مسلم کښي دحضرت جابر رضی الله عنه [5] دروایت تقاضاداده چه په یوم الترویه کښي شکایت اوکړو[6] اوهم دې طرف ته د علامه قسطلانی رحمه الله هم خیال دې.[7] لیکن حقیقت دادې چه په دې روایاتوکښي تعارض نشته دې خکه چه کله په موضع سرف کښي د حیض شروع اوشوه نو اول نی هم هلته شکایت اوکړو. بیا چه کله په یوم الترویه ۸ذی الحجه باندې د منی دپاره روانیدل اوشو نوحضرت عائشه رضی الله عنها حضورپاک ته دخپلې ماهوارنی بیمارئی بیا شکایت اوکړو خکه چه د حج عمل شروع کیدونکې وو دکوم د وجې نه چه حضرت عائشه رضی الله عنها ته دا اندیښنه پیداشوه چه چرته دهغې حج هم فوت نه شی.

شیخ الحدیث حضرت زکریا فرمائی چه هم په صحیح مسلم کښي [8]دحضرت عروه رحمه الله په طریق سره دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت نقل شوې یو روایت نه معلومیږی چه حضرت عائشه رضی الله عنها د ماهوارنی شکایت په یوم عرفه یعنی ۹ذی الحجه کښي اوکړو.هم دغه شان د یوبل روایت نه معلومیږی چه لیله عرفه یعنی د عرفه په شپه نی شکایت اوکړو[9] دغه شان په روایاتوکښي اختلاف څلورته اورسیدو① ۴ذی الحجه موضع سرف ② یوم الترویه (۸ذی الحجه) ③یوم عرفه ④ لیله عرفه[10]

موضع طهرکښي اختلاف: دحضرت عائشه رضی الله عنها په موضع طهرکښي هم اختلاف دې چه هغه چرته اوکله پاکه شوه؟ د بعض قول دې چه دعرفه په ورځ پاکه شوه لکه چه دمجاهد رحمه الله نه روایت دې (خود

---

[1] حواله بالا.
[2] المنهاج للنووی المعروف بشرح النووی: ۱۹۸/۳عمدة القاري: ۳۸۱/۱تحفة الباری: ۲٤۱/۱شرح الکرمانی: ۱۵۹/۳.
[3] شرح الکرمانی:۱۵۹/۳.
[4] فتح الباری: ۵۳۱/۱.
[5] صحیح مسلم کتاب الحج باب وجوه الإحرام الخ، رقم الحدیث: ۲۹۳۷.
[6] فتح الباری: ۷۷۵/۳عمدة القاري: ۱۷۲/۱۰فتح الملهم:۲۷/۶أوجز المسالک: ٤۰۹/۸بذل المجهول: ۱۱۲/۷.
[7] إرشادالساری: ۳۱۰/٤.
[8] صحیح مسلم کتاب الحج باب وجوه الإحرام الخ رقم الحدیث: ۲۹۱۱.
[9] صحیح مسلم کتاب الحج باب وجوه الإحرام الخ رقم الحدیث: ۲۹۱۲.
[10] أوجز المسالک: ٤۰۹/۸.

عروه رحمه الله نه نقل دی چه حضرت عائشه رضي الله عنها باندې هم په دغه دحيض حالت کښې دعرفه ورځ راغلې وه. (١)علامه ابن قيم رحمه الله فرمائی چه دواړه روايتونه صحيح دی اوعلامه ابن حزم دا په دوو مختلف معنو باندې محمول کړی دی. چنانچه دحضرت مجاهد رحمه الله په روايت کښې دعرفه د طهرنه مراد د وقوف عرفه دپاره غسل کول دی خکه چه حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی(تطهر بعرفة اوتطهر غيرطهر دې) او دحضرت قاسم رحمه الله نه نقل دی چه په يوم النحرکښې طهرواقع دې. (٢) دغه شان علامه نووی رحمه الله د ابن حزم نه نقل کړی دی چه دهغې طهر يوم النحر کښې د هفتې په ورځ شوی وو. (٣)
علامه زرقانی رحمه الله فرمائی چه ټول روايات په دې باندې متفق دی چه طواف افاضه (طواف زيارت) حضرت عائشه رضي الله عنها په يوم النحرکښې کړې وو باقی دحضرت مجاهد رحمه الله او حضرت قاسم رحمه الله په روايتونوکښې داسې تطبيق کيدلې شی چه وينه خو هم دعرفه په ورځ بنده شوې وه مګر طهرنی منی ته په راتلوسره اوليدلو. (٤)
حافظ ابن حجر رحمه الله په دې روايتونوکښې داسې تطبيق ورکوی چه په عرفه کښې هغې طهر اوليدلو ليکن منی ته د راتلو پورې دغسل موقع ملاؤنه شوه يا بيا داسې چه وينه په عرفه کښې بنده شوې وه مګر طهر ئې منی ته په راتلو سره اوليدلو. وهذا أولى.(٥)
علامه ابن قيم رحمه الله فرمائی چه سنن ابی داؤدکښې کتاب المناسك(٦)په يوروايت کښې دی حضرت عائشه رضي الله عنها د بطحاء په شپه پاکه شوه اوددې سند هم صحيح دې. (٧)مګر ابن حزم رحمه الله وئيلی دی چه دا روايت منکردې.(٨)
شيخ زکريا رحمه الله فرمائی چه زما په نيزظاهرداده چه دا (د سنن ابی داؤد) په روايت کښې د ناقل نه تصحيف شوې دې. صحيح د واؤ حاليه د اضافه سره دې يعنی د بطحاء په شپه راغله خوتردغه وخته پورې عائشه رضي الله عنها پاکه شوې وه. هم د سنن ابی داؤد د يوروايت الفاظ دادی: ((**فلما كانت ليلة بطحاء وطهرت عائشة**))(٩)**ترجمه**: کله چه د بطحاء شپه راغله نوحال دادې چه عائشه رضي الله عنها پاکه شوې وه. (١٠)
علامه ابن قيم رحمه الله فرمائی چه د سنن ابی داؤد دا روايت د حماد بن سلمه نه علاوه حماد بن زيد او وهيب بن خالد هم روايت کړې دې. (١)مګر په دې روايتونوکښې داجمله چه حضرت عائشه رضي الله عنها

---

[١] صحيح مسلم كتاب الحج باب وجوه الإحرام الخ رقم الحديث: ٢٩١١، ٢٩٣٤.
[٢] صحيح مسلم كتاب الحج باب وجوه الإحرام الخ رقم الحديث: ٢٩١٩.
[٣] زادالمعاد: ٢/١٧٧-١٧٦شرح الزرقانی علی المؤطا: ٢/٣٧٥فتح الباری:٣/٧٧٦أوجز المسالک: ٨/٢٨ ٤بذل المجهول:٧/١١٣-١١٢فتح الملهم:٦/٢٧المنهاج للنووی: ٤/٣٩٤.
[٤] شرح الزرقانی علی المؤطا: ٢/٣٧٥.
[٥] فتح الباری:٣/٧٧٦.
[٦] سنن أبی داؤد كتاب المناسک باب فی إفراد الحج رقم الحديث: ١٧٧٨.
[٧] زادالمعاد: ٢/١٧٧.
[٨] ايضاً.
[٩] سنن أبی داؤد كتاب المناسک باب فی إفراد الحج رقم الحديث: ١٧٨٢.
[١٠] حجة الوداع وعمرات النبی صلى الله عليه وسلم ص: ٦٢-٦١.
[١١] سنن أبی داؤد كتاب المناسک باب فی إفراد الحج رقم الحديث: ١٧٧٨.

دبطحاء په شپه پاكه شوې موجود نه ده. بل ددې لاندې وجوهاتو په وجه هم حماد بن زيد اودهغوى دملګرو روايت د حمادبن سلمه د روايت نه مقدم دې.

①حمادبن زيد د حماد بن سلمه په نسبت احفظ او اثبت دې ② د حماد بن زيد وغيره په روايت كښې حضرت عائشه رضي الله عنها پخپله د خپل ځان باره كښې خبرورکوى خود حماد بن سلمه په روايت كښې دهغې باره كښې بل څوك خبر وركوى. ③ امام زهرى رحمه الله دعروة عن عائشه رضي الله عنها په طريق سره روايت نقل كړې دې په كوم كښې چه دى: «فلم أزل حائضا حتى كان يوم عرفة» يعنى زه د حيض په حالت كښې ووم تردې چه دعرفه ورځ راغله. هم دغه هغه غايت دې كوم چه حضرت قاسم رحمه الله او مجاهد رحمه الله بيان كړې دې. البته صرف دومره فرق دې چه امام مجاهد رحمه الله د حضرت عائشه رضي الله عنها نه طهرد په عرفه كښې بيان كړې او حضرت قاسم رحمه الله يوم النحر روايت كړې. (١)

قوله:: (إنّ هذا أمر كتبه الله على بنات آدم): الله تعالى حيض په بنات آدم باندې مقدر كړې دې او په دې كښې حواء عليها السلام هم داخل ده. ځكه چه كله هغې د منع كړې شوې ونې نه ميوه اوخوړله نوهغې حضرت حواء عليها السلام په وينوباندې ككړه كړه. په دې باندې الله تعالى حضرت حواء عليها السلام ته اوفرمائيل چه كله دې منع كړې شوې ونې ته په وينوباندې ككړه كړې نوموږ به هم تا اوستا لونړه د قيامته پورې په وينوباندې ككړه كوو. نو هم دهغه وخت نه الله تعالى په ټولو بنات آدم باندې د موربى بى حواء عليها السلام په تبعيت كښې حيض مقدر كړو. (٢)

په هذا سره دحيض طرف ته اشاره ده او أمر د شئ په معنى كښې دې. علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه په روايت كښې د أمر لفظ دې او په ترجمه كښې لفظ شئ ذكردې نودا خويا د نقل حديث بالمعنى د قبيل نه دې او يا بيا دواړه لفظونه ثابت دى. (٣) په دې باندې علامه عينى رحمه الله فرمائى چه دداسې احتمال بيانولو ضرورت نشته دې ځكه چه ددواړو لفظونو ثابتيدل متعين دى (٤)

بل ملاعلى قارى رحمه الله فرمائى چه د رسول الله ﷺ په دې ارشاد مبارك كښې د حضرت عائشه رضي الله عنها تسلى ده ځكه چه «البلية إذا عمت طابت» كله چه څه مصيبت عام وى نو هغه زغمل آسانيږى. (٥)

قوله:: (فاقضي ما يقضي الحاج): دلته قضاء د ادا په معنى كښې ده ځكه چه لفظ قضاء د ادا په معنى كښې هم استعماليږى. (٦) لكه څنګه چه ارشاد بارى تعالى دې ﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَوٰةُ فَانتَشِرُوا ﴾ إي: إذا أديت. (٧)

قوله:: (غير ألا تطوفي بالبيت): لفظ غير منصوب دې. په دې جمله باندې اشكال كيږى چه ددې تقديرى عبارت «غير عدم الطواف» جوړيږى كوم چه صحيح نه دې ځكه چه مقصود ددې نقيض يعنى

---

(١) زادالمعاد: ١٧٧/٢.
(٢) مرقاة المفاتيح: ٤٩٢/٥.
(٣) شرح الكرمانى: ١٥٩/٣عمدة القارى:٣٨١/٣.
(٤) عمدة القارى: ٣٨١/٣.
(٥) مرقاة المفاتيح: ٤٩٢/٥.
(٦) عمدة القارى: ٣٨١/٣فتح البارى: ٥٢٨/١شرح الكرمانى: ١٥٩/٣عمدة القارى:٣٨١/٣.
(٧) عمدة القارى: ٣٨١/٣.

طواف دي نه چه عدم طواف؟ جواب دادې چه په دې جمله كښې "لا" زائده دې او تطوفي د "أن" ناصبه د وجې نه منصوب دې. دويم جواب دادې چه "أن" مخففة من المثقلة اوګرځولې شي او تطوفي د لا، نهى د وجې نه مجزوم اوګرځولې شي نوداسې به هم دغه اشكال لرې شي او په دې دويم صورت كښې به معنى شي «لاتطوفي مادمت حائضاً» چه ته تركومې د حيض په حالت كښې ئې طواف مه كوه.[1]

دحائضه دپاره د طواف ممانعت اود هغې په علت كښې د فقهاؤ اختلاف: علامه نووي رحمه الله فرمائي چه د رسول الله ﷺ په دې ارشاد مبارك كښې ددې خبرې دليل دې چه حائضه طواف نه شي كولې او په دې باندې د ټولو اتفاق دې. مګر د طواف دپاره د طهارت شرط كيدل يا نه كيدلو په سلسله كښې د ائمه د اختلاف په رڼا كښې ددې حكم (د حائضه دپاره طواف ممنوع ګرځولو) په علت كښې هم اختلاف دې. د ائمه ثلاثه رحمهم الله مذهب دادې چه د طواف د پاره طهارت شرط دې اود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دطواف د پاره طهارت شرط نه دې. لهذا د جمهورو د مذهب موافق ددې حكم علت په حائضه كښې د طهارت د شرط نه موجود كيدل دى اود امام رحمه الله د مذهب موافق ددې حكم علت دادې چه د حائضه دپاره په جمات كښې داخليدل ممنوع دى او بيت الله په جمات كښې دې په دې وجه هغه طواف نه شي كولې.[2]

علامه كاساني رحمه الله فرمائي چه احناف (كثرالله سوادهم) په نيز د طواف دپاره حدث جنابت او حيض، نفاس نه طهارت شرط نه دې اونه فرض دې بلكه واجب دى. په دې وجه كه چابغيرد طهارت نه طواف اوكړونو طواف خو به ئې اوشي مګر د ترك واجب د وجې نه به واپس راګرځول لازم وي. د امام شافعي رحمه الله دليل دادې چه حضورپاك طواف مونځ ګرځولې دې چنانچه په حديث كښې دى «الطواف صلاة»[3] (طواف مونځ دې) لهذا چه كله طواف مونځ دې نود مونځ په شان به طواف هم بغيرد طهارت نه كيږي.

د احنافو حضراتو دليل د قرآن پاك دا آيت دې: ﴿ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴾ (سورت حج: ۲۹) لكه څنګه چه الله رب العزت د مطلق طواف حكم فرمائيلې دې د طهارت وغيره هيڅ شرط نشته دې اوس دا مطلق حكم د خبرواحد په ذريعه مقيد كول به صحيح نه وي څكه چه دا په نص باندې د خبر واحد په ذريعه زياتې كول دى اودا جائزنه دې بلكه دا حديث به په تشبيه باندې محمول كولې كيږي لكه چه دالله تعالى ارشاد دې: ﴿ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ ﴾ (سورت أحزاب: ۶)، أي: كأمهاتهم، نوهم داسې به دحديث معنى وي. «الطواف كالصلاة» چه طواف د مونځ په شان دې او دا تشبيه في بعض الوجوه به وي څكه چه كلام په تشبيه كښې عموم نه وي لهذا تشبيه به په ثواب كښې وي يا بيا په اصل فرضيت كښې، اويا بيا مونږ دا اووايو چه طواف د مونځ په شان دې حقيقتاً مونځ نه دې نو په دې حيثيت سره د طواف دپاره به طهارت شرط يا فرض نه وي څكه چه دا په حقيقت كښې مونځ نه دې ليكن په دې حيثيت سره چه داد مونځ په شان دې ددې دپاره به طهارت واجب ګرځولې شي څكه چه قدر ممكن دواړو دليلونونويعنى قرآن اوسنت باندې عمل اوكړې شي.[4]

---

[1] شرح الكرماني: ۱۵۹/۳إرشادالساري:۵۳٤/۱عمدة القاري: ۳۸۱/۳.

[2] المنهاج للنووي المعروف بشرح النووي: ۳۸۲/۸عمدة القاري: ۲٦٤/۹فتح الملهم: ۳۱/۶.

[3] السنن الكبرى للبيهقي كتاب الحج باب إقلال الكلام لغير ذكرالله في الطواف: ۱۳۸/۵رقم الحديث: ۹۲۹۳.

[4] بدائع الصنائع: ۶۹،۷۱/۳

د احنافو په ذکرکړې شوې علت باندې اعتراض اودهغې جواب: ورانديې چه د ذکرکړې شوې حکم کوم علت حضرات احنافو بيان کړې چه طواف د بيت الله په جمات کښې کيږي اوحائضه جمات ته نه شي داخليدلې په دې وجه طواف هم نه شي کولې. په دې علت باندې علامه عبدالحئ لکهنوي رحمه الله اعتراض کړې دې چه دا علت قاصره دې خکه چه ددې مطلب خودا شو که يوه ښځه همت اوکړي اود جمات نه بهر طواف اوکړي نود احنافو په نيز به ددې طواف اوشي حالانکه داسې طواف نه شي ادا کيدې ،خکه چه حضورپاك على الاطلاق "ألا تطوفي في بألبيت" فرمانيلې دې،؟ ددې اشکال په جواب کښې علامه خليل احمد سهارنپوري رحمه الله فرمائي چه د احنافو بيان کړې شوې علت قاصره نه دې خکه چه د جمات نه بهرد بيت الله طواف کول د سره هډو جائزنه دې خکه چه د طواف د صحت دپاره دا هم شرط دې چه په جمات کښې دننه وي. چنانچه لاندې د يوڅو عبارتونو ذکر کولې شي د کوم نه چه واضحه کيږي چه د طواف د صحت دپاره ضروري دي چه هغه دې هم په جمات کښې دننه وي. (۱)

① ((في البدائع: "ولوطاف حول المسجد وبينه وبين البيت حيطان المسجد، لم يجزه لأن حيطان المسجد حاجزة، فلم يطف بالبيت لعدم الطواف حوله، بل طاف بالمسجد لوجود الطواف حوله، لاحول البيت ولأنه لوجاز الطواف حول المسجد مع حيلولة حيطان المسجد، لجاز حول مكة والحرم، وذا لا يجوز، كذا هذا")) يعنى که چرې چا د ،بيت الله په خائې، د جمات نه چاپيره طواف اوکړو کوم وخت چه د دغه سړي او د بيت الله په مينخ کښې ديوالونه حائل وو نوداسې طواف جائزنه دې خکه چه په مينخ کښې د جمات ديوالونه حائل دي، د کوم په وجه چه په حقيقت کښې دې سړي د بيت الله طواف اونه کړو بلکه د جمات طواف ئې اوکړې دې خکه چه هغه د جمات نه چاپيره چکرې وهلې دي. بل که د جمات نه چاپيره طواف کول جائز وې سره ددې چه په مينخ کښې د جمات ديوالونه حائل وي نوبيا به د مکې نه اود حرم مکه نه چاپيره طواف کولو سره طواف کيدلو او چونکه په داسې کولوسره طواف نه کيږي لهذا دغه شان يعنى د جمات نه چاپيره طواف کولوسره هم طواف نه کيږي.

② ملا على قاري رحمه الله فرمائي: ((ولوطاف خارج المسجد فمع وجود الجدران لايصح إجماعًا، وأما إذا كان جدرانه منهدمة، فكذا عند عامة العلماء خلافًا لمن لم يعتد بخلافه))[۲] يعنى که چاد جمات نه بهر طواف اوکړو نو په مينخ کښې د جمات د ديوالونو په موجودګئ کښې به په اجماع سره طواف صحيح نه وي. اوکه چرې د جمات ديوالونه اونړولې شي نوبيا هم د ټولو علماو په نيز طواف صحيح نه وي په خلاف دهغه خلقو دچا اختلاف کول چه په هيڅ شمير کښې نه دي.بل علامه سهارنپوري فرمائي چه په دې باب کښې آخرى حددادې چه دواړه څيزونودطواف دپاره شرط دي يعنى مکان دطواف،جمات،هم او طهارت هم،که چرې يو شرط هم موجودنه شي نوطواف به جائزنه وي په دې وجه هيڅ يوعلت قاصر نه دې(۳)

قوله:: (قالت: وضحى رسول الله صلى الله عليه سولم عن نسائه بالبقر):

[۱]) بذل المجمهود: ۱۰۷/۷.

[۲]) شرح لباب المناسک: ۱۶۷.

[۳]) بذل المجهود: ۱۰۸/۷.

غوائی قربانی کړې وه یا هدی کړې وه؟: امام بخاری دلته او **كتاب الأضحى** کښې (۱) دغه شان امام مسلم هم دا روایت «ابن عيينة عن عبدالرحمن بن القاسم عن أبيه عن عائشة رضی الله عنها» په طریق سره هم په دې الفاظو «ضحى رسول الله صلى الله عليه وسلم» سره ذکر کړې دې (۲) امام مسلم دا روایت «عبدالعزيز بن أبي سلمة الماجشون عن عبدالرحمن» په طریق سره هم ذکر کړې دې. مګر په هغه روایت کښې **ضحى** په ځائې **أهدي** الفاظ دی (۳)

علامه ابن قیم رحمه الله هدی کیدل راجح ګرځولې دی. په ابن حزم رحمه الله باندې رد کولوسره فرمائی چه د هغوی مذهب دادې چه دحاجی دپاره هدی سره قربانی هم مشروع ده لیکن (علامه ابن قیم رحمه الله فرمائی چه) صحیح دادی د حاجی دپاره هدی هم داسې ده لکه د مقیم دپاره اضحیه (قربانی) خکه چه د چانه نقل نه دی چه حضورپاك اود صحابه کرامو رضی الله عنهم نه چاهم هدی او اضحیه نه ده جمع کړې بلکه دهغوی هدی به هم دهغوی قربانی وه. بل دا دعائشه رضی الله عنها نه چه دا نقل دی «ضحى عن نسائه بالبقر» نو په حقیقت کښې داهم هدی ده مګر په دې باندې د اضحیه د لفظ اطلاق کړې شوې دې خکه چه ازواج مطهرات په حج تمتع سره وې او په هغوی باندې هدی لازم وه. په دې وجه چه کومه غوا دهغوی د طرف نه ذبح کړې شوه هغه هم هدی وه کومه چه په هغوی باندې لازمی وه. (۴)

لیکن د حافظ ابن حجر رحمه الله خیال مختلف دې. کتاب الحج کښې هدی کیدو ته ترجیح ورکولوسره فرمائی چه په ظاهره دا د راویانو تصرف دې خکه چه د حضرت ابوهریره رضی الله عنه په روایت کښې تصریح ده چه دا غواد هغه ازواج مطهرات د طرف نه ذبح کړې شوه چاچه عمره کړې وه. په دې سره دهغه خلقو روایت ته تقویت ملاویږی چاچه د هدی لفظ روایت کړې دې او په دې سره دا هم واضحه شوه چه دا هدی دتمتع وه. (۵)

او په **كتاب الأضاحى** کښې **اضحيه** کیدو ته ترجیح ده: چنانچه حدیث «**ضحى النبي صلى الله عليه وسلم عن أزواجه بالبقر**» لاندې فرمائی دا روایت په دې امر کښې واضح دې چه مذکوره ذبح اضحیه وه (۶)

شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دحضرت عائشه رضی الله عنها په حدیث باندې "**باب الأضحية للمسافر والنساء**" قائم کړې دې دغه شان ددې نه پس "**باب من ذبح ضحية غيره**" قائم کړې دې. نودا دواړه ابواب پدې باندې دلالت کوی چه امام بخاری رحمه الله هم دا حدیث په **اضحيه** باندې محمول کوی (۷)

لیکن من حیث الروایه هم هدی کیدل راجح دی خکه چه په متمتعین باندې هدی لازم ده او سنن ابی داؤد کښې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه نقل دی چه دا غوا د هغه ازواج مطهرات د طرف نه ذبح کړې شوه چاچه عمره کړې وه لهذا هم هدی کیدل راجح دی (۸)

---

(۱) صحيح البخاري كتاب الأضاحي باب الأضحية للمسافر والنساء رقم الحديث: ۵۵۴۸.
(۲) صحيح مسلم كتاب الحج باب بيان وجوه الإحرام الخ رقم الحديث: ۲۹۱۸.
(۳) رواه الإمام مسلم في الحج باب بيان وجوه الإحرام. وأنه يجوز إفراد الحج والتمتع والقران الخ رقم الحديث: ۲۹۱۹.
(۴) زادالمعاد: ۲/۲۶۳.
(۵) فتح الباري: ۷۰۳/۳.
(۶) فتح الباري: ۵/۱۰.
(۷) أوجز المسالك: ۹٤/۸.
(۸) كتاب المناسك باب هدي البقر رقم الحديث: ۱۷۵۱.

په هدی کښې اشتراک: د رسول الله ﷺ دخپلو زیاتو ازواج مطهرات دطرف نه یوه غوا ذبح کول ددې حبرې دلیل دې چه په هدایا او اضاحی کښې اشتراک جائزدې اوهم دغه د جمهورو علماؤ امام ابوحنیفه رحمه الله، امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله مذهب دې. د امام مالك رحمه الله په نیزدا اشتراك ناجائزدې. چنانچه په موطاکښې دامام مالك رحمه الله نه نقل دی چه هغوی د بعض اهل علم نه اوریدلی دی چه یو بدنه (اوښ یا غوا) کښې دې ښځې او سړی دواړه شریك نه وی بلکه هر یو ته د جدا بدنه هدی کول پکاردی. (۱)

علامه احمد دردیر رحمه الله فرمائی چه هدی که واجب وی اوکه تطوع، په دې کښې اشتراك صحیح نه دې نه په ذات کښې اونه په اجرکښې. که چرته دوو کسانو شراکت اوکړو نوددواړو هدی جائزنه شوه. د سوقی رحمه الله فرمائی پس د هدی معامله د قربانئی نه مختلف ده چه د قربانئی په اجرکښې اشتراك صحیح دې. (۲) بعض مالکیه او داؤدظاهری وائی چه هدی تطوع کښې اشتراك جائزدې صرف په هدی واجب کښې اشتراك جائزنه دی. (۳)

او ابن رشدمالکی رحمه الله دتفصیلی کلام نه هم دغه معلومیږی چه دامام مالك رحمه الله په نیزپه هدی تطوع کښې اشتراك جائز دې اوکه هدی واجب وی تطوع، په دې کښې د اشتراك دعدم جواز قول نی د ابن قاسم رحمه الله روایت گرخولې دی. (۴)

حاصل د کلام دا شوچه دامام مالك رحمه الله نه دوه روایتونه نقل دی. دابن قاسم رحمه الله په روایت هدی کښې اشتراك مطلقاً ناجائزدې که واجب وی که تطوع، نه اشتراك فی الذات اونه اشتراك فی الاجر خو دویم روایت دادې چه دامام مالك رحمه الله هدی تطوع کښې اشتراك جائزدې او په اضحیه کښې صرف اشتراك فی الاجر جائزدې.

امام بخاری رحمه الله د ابوجمره رحمه الله نه دا روایت نقل کړې دې چه هغوی د ابن عباس رضی الله عنهما نه د هدی باره کښې سوال اوکړو نو هغوی اوفرمائیل: «**فیهاجزوأوبقرة أوشاة أوشرك فی دم**»(۵) یعنی تمتع کښې اوښ غوا یا چیلئی (قربانی واجب ده) یا یوه قربانی (اوښ او غوا) کښې شریکیدل پکاردی.

حافظ ابن حجر رحمه الله ددې په شرح کښې فرمائی چه: شرك په کسر د شین او سکون د راء، مطلب دادې چه دهدی په خناورکښې په داسې توګه باندې شرکت کول چه یوخناور د پوره جماعت د طرف نه کافی وی. دا روایت په صحیح مسلم کښې د حضرت جابر رضی الله عنه نه نقل کړې شوی روایت موافق دې (۶) په کوم کښې چه دی حضورپاك صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د حج په موقع باندې دا ارشاد اوفرمانیلو چه هغه په اوښ او غوا یویو څاروی کښې اووه اووه کسان شریکیدې شی. او هم دغه د امام شافعی رحمه الله او جمهورعلماؤ مذهب دې که هدی واجب وی یا هدی تطوع او که غواړې نود ټولو شرکاؤ نیت د ثواب وی یا د بعض د ثواب اود بعض د غوښې نیت وی.

---

(۱) الموطا للإمام مالک ص: ۴۰۹.

(۲) الشرح الکبیر مع حاشیة الدسوقی: ۳۴۲/۲.

(۳) فتح الباری: ۶۸۲/۳أجز المسالک: ۶۴۱/۷کشف المغطاعن وجه الموطا. ص: ۴۰۹.

(۴) بدایة المجتهد: ۸۴/۴

(۵) کتاب الحج باب (فمن تمتع بالعمرة الی الحج فما استیرمن الهدی) رقم الحدیث: ۱۶۸۸أوجزالمسالک: ۶۴۰/۷

(۶) صحیح مسلم کتاب الحج باب بیان وجوه الإحرام، وأنه یجوز إفراد والحج والقران الخ رقم الحدیث: ۲۹۴۰.

امام ابوحنيفه رحمه الله اود هغوی د ملګرو مذهب دا دی چه د شرکت دپاره د ټولو شرکاؤ متقرب کيدل يعنی د ثواب نيت کيدل شرط دی البته جهت قربت (دم تمتع، دم احصار، دم قران او دم جزاالصيد) اتحاد شرط نه دی. مګر خوښه کړی شوی خبره هم دغه ده چه جهت قربت هم يووی. امام زفر رحمه الله د قربت سره اتحاد جهت قربت هم شرط ګرځوی.

د ابن عمر رضی الله عنهما په حواله سره نقل دی چه هغه په شروع کښې د اشتراك قائل نه وو خو ترکومې هغه ته سنت (حديث) اورسيدلو نوهغه رجوع اوکړه. چنانچه مسنداحمد(۱)روايت دی چه امام شعبی رحمه الله د ابن عمر رضی الله عنهما نه پوښتنه اوکړه چه آيا اوښ اوغوا د اووه کسانو د طرف نه کافی کيږی؟ نو ابن عمر رضی الله عنهما په جواب کښې اوفرمائيل چه ولې ددې اووه ساګانې وی څه؟ امام شعبی رحمه الله اوفرمائيل چه (نه مګر) د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اصحابو خيال هم دغه دی چه حضورپاك اوښ او غوا د اووه کسانو طرف نه مشروع ګرځولې ده. په دې باندې ابن عمر رضی الله عنهما يوسړی ته اووئيل چه آيا داخبره هم دانسې ده؟ نوهغه اووئيل اوجې، ابن عمر رضی الله عنهما اوفرمائيل چه ماته خوددې علم هم نشته دی.(۲)

امام موفق رحمه الله د ائمه د مذاهب ذکر کولونه پس فرمائی چه حديث جابر رضی الله عنه د امام مالك رحمه الله قول ردکوی.(۳)پدې موقع قاضی اسماعيل مالکی رحمه الله د امام مالك دفاع کولوسره فرمائی چه د حضرت جابر رضی الله عنه حديث د هغه وخت واقعه ده کوم وخت چه حضورپاك او صحابه کرام په مقام حديبيه کښې محصور وو اود محصر هدی واجب نه وی بلکه تطوع وی او په هدی تطوع کښې د يوقول مطابق د امام مالك رحمه الله په نيز اشتراك جائز دی او وړاندې ذکر کړې شوی د حضرت ابوجمره رحمه الله روايت (کوم چه د اشتراك په صحت باندې دال دی) په حواله سره قاضی صاحب فرمائی چه د ابن عباس رضی الله عنهما نورو ثقه اصحابو د ابوجمره رحمه الله مخالفت کړې دی خکه چه هغه د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت کړې دی چه «أن ما استيسر من الهدي شاة»(۴) يعنی د هدی چه کوم څناور په آسانتيا سره ملاويږی هغه چيلئی ده اوبيا ددغه اصحابو روايات نی په اسانيد صحيحه سره ذکرکړی دی. يوبل حديث ذکرکولو سره فرمائی چه محمدبن سيرين د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت کړې دی چه هغوی فرمائی: «ماكنت أري أن دماً واحداً يقضي عن أكثر من واحد» چه زه نه پوهيږم يوه ساه (او يوه وينه) به د يرنه دزياتوکسانودپاره کافی کيږی.(۵)

ددې په جواب کښې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ابوجمره رحمه الله او د نورو اصحابو په رواياتوکښې څه تعارض يا منافرت نشته دی خکه چه ابوجمره رحمه الله صرف د اشتراك ذکر اضافه کړې دی کوم چه نورو رواتو نه دې کړې. باقی د شاة يعنی چيلئی په ذکرکولوکښې د هغوی موافقت کړې دی لهذا هيڅ تعارض نشته دی. او ترکومې چه تعلق دی ددې امر چه ابن عباس رضی الله عنهما صرف شاة ذکر کولو باندې ولې اکتفااوکړه؟ نوددې وجه د ابن عباس رضی الله عنهما په هغه خلقو باندې رد کول مقصود وو چه هدی

---

(۱) مسندالإمام أحمد حديث ابن عمر رضی الله عنهما: ۴۶۱/۳۸رقم الحديث: ۲۳۴۷۸مؤسسة الرسالة. إسناده ضعيف لضعف مجالدبن سعيد. لكن سلف بهذا الإسناد برقم: ۱۴۵۹۳.إلا أن الشعبي قال فيه: حدثني جابر بن عبدالله: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم سن الجزور والابقرة عن سبعة. وهوعن جابر صحيح، وروى عنه من غير هذا الطريق.

(۲) فتح الباري: ۶۸۲/۳أوجزالمسالك: ۶۴۰/۷.

(۳) المغنى لابن قدامة: ۲۹۵/۳.

(۴) السنن الكبرى للبيهقي، كتاب الحج باب من استيسر من الهدى: ۳۵/۵رقم الحديث: ۸۸۹۴الموطا للإمام مالك، كتاب الحج باب من استيسر من الهدى: ۴۰۷.

(۵) فتح الباري: ۶۸۲/۳.

ابل او بقر (اوښ او غوا) سره خاص كوي. باقي د ابن سيرين رحمه الله روايت منقطع دې اوكه چرې متصل هم وي نوهغه به په دې باندې محمول كولې شو چه ابن عباس رضي الله عنهما ددې خبرې خبر وركړو چه هغه د اجتهاد د وجې نه په دې نه پوهيدلو چه يوخناور دې د يو نه د زياتو خلقو د طرف نه كافي شي خوچه كله د اشتراك د صحيح كيدو حديث هغوى ته اورسيدو نوهغوى هم په هغې باندې ابوجمره رحمه الله ته فتوى وركړه.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دغه شان ټول روايتونه راجمع كيږي او جمع بين الروايات په نسبت د هغه امر بهتر دى چه د يوداسې سړي روايت مطعون كړې شي د چا ثقاهت او حديث حجت كيدو باندې چه د علماؤ اجماع ده اوهغه هم دغه ابوجمره الضبعي رحمه الله دې (۱)

په يوښاروى كښې څومره كسان شريكيدې شى؟ بياد قائلين اشتراك په مينځ كښې په دې امر كښې هم اختلاف دې چه په يوخناوركښې څومره كسان شريكيدې شى. د جمهورو علماؤ په نيز په يو خناور يا ښاروى (اوښ يا غوا) كښې اووه كسان شريكيدې شى. خو اسحاق بن راهويه، ابن خزيمه شافعي او په يو روايت كښې سعيد بن المسيب رحمهم الله مذهب دادې چه په يو ښاروى كښې د لسو پورې كسان شريكيدې شى.(۲) اوهم دغه د ابن حزم ظاهري رحمه الله مسلك دې. (۳)

دا حضرات ددې رواياتونه استدلال كوى: ① د رافع بن خديج رحمه الله نه نقل يوروايت كښې دى چه: «ثم عدل عشرة من الغنم بجزور». ترجمه: بيا حضورپاك لس چيلئى د يواوښ برابر ګرځولې دې. (۴)

② دحضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دې چه صحابه رضي الله عنهم د حضورپاك په معيت كښې يواوښ د لسو كسانو طرف نه نحر ګرځولې دې. علامه ابن قيم رحمه الله فرمائي چه دا روايت د امام مسلم رحمه الله په شرط باندې دې مګر هغوى دا روايت نه دې ذكركړې بلكه دحضرت جابر رضي الله عنه هغه روايت ئې ذكر كړې دې په كوم كښې چه دى: «أمرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم أن نشترك في الإبل والبقركل سبعة منا في بدنة» ترجمه: مونږ ته حكم راكړو حضورپاك صلى الله عليه وسلم چه په مونږ كښې اووه اووه كسان په يويو بدنه كښې شريك وى. (۵)

③ د مسند احمدروايت دې: «عن ابن عباس رضي الله عنهما: كنا مع النبي صلى الله عليه وسلم في سفر، فحضر النحر، فذبحنا البقر عن سبعة والبعير عن عشرة» ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه مونږ په يوسفركښې حضورپاك سره وو چه په دغه دوران كښې لوئى اختر راغلو نو مونږ غوا د اووه كسانو طرف نه او اوښ د لسو كسانو طرف نه ذبح كړو. (۶)

---

(۱) فتح الباري:۳/۶۸۲.

(۲) فتح الباري: ۳/۶۸۲،زادالمعاد: ۲/۲۶۵ أوجز المسالك: ۷/۴۱،.

(۳) المحلى بالآثار: ۵/۱۵۷أوجز المسالك: ۷/۴۱،.

(۴) أخرجه البخاري في الشركة باب من عدل عشرة من الغنم بجزوررقم الحديث: ۲۵۰۷،زادالمعاد: ۲/۲۶۵.

(۵) زادالمعاد: ۲/۲۶۶-۲۶۵.

(۶) مسندبني هاشم، مسندعبدالله بن عباس: ۱/۷۱۳رقم الحديث: ۲۴۸۴،عالم الكتب. والترمذي في الحج، باب ماجاء في الاشتراك في البدنة والبقرة، رقم الحديث: ۹۰۵وفي الأضاحي باب ماجاء في الاشتراك في الأضحية رقم الحديث: ۱۵۱۰۱والنسائي في الضحايا باب ما تجزئ عنه البدنة في الضحايا، رقم الحديث: ۴۳۹۷، وابن ماجه في الأضاحي باب: عن كم تجزئ البدنة والبقرة رقم الحديث: ۳۱۳۱.

۴ روايت كښې دى چه حضورپاك ﷺ د خپلو ازواج مطهرات د طرف نه د غوا قرباني كړې وه.(۱) اوهغوى نهه وې، نودا روايت هم ددې خبرې دليل دې چه د اووه نه زيات كسان يعنى د لسو پورې شريكيدلې شى.(۲)
حضرات جمهورو ددې مختلف جوابونه وركړى دى. يوجواب دادې چه داد شروع قصه ده. دويم جواب دادې چه د لسو كسانود شركت والاروايات د نورو رواياتو يعنى د اووه كسانود شركت والارواياتو په مقابله كښې مرجوح دى ځكه چه د اووه والاروايات په تعداد كښې هم زيات دى او په صحت كښې هم فائق دى. په نورو الفاظوكښې د اووه كسانو د شركت والاروايات مفصل هم دى اومصرح هم دى. خو هغه روايات د كوم نه چه ابن حزم رحمه الله استدلال كړې دې مجمل دى لهذا مفصل او مصرح رواياتو ته به ترجيح وى.(۳) دريم جواب دادې چه په غنائم كښې يو اوښ په لسو كسانوكښې تقسيم كول د مال غنيمت د تقسيم برابرولود پاره وو خو په هدايا كښې د اووه كسانو پورې شركت تقدير شرعى باندې مبنى دې.(۴)

يوه غوا د نهو ازواج مطهرات د طرف نه څنګه كافى شوه؟: بل دلته يو مشهور اشكال دې اوهغه دادې چه غوا يوه وه او ازواج مطهرات نهه نويوه غوا دټولودپاره څنګه كافى شوه؟لكه چه ابن حزم رحمه الله ددې نه استدلال كوى، ځكه چه د جمهورو په مذهب يوه غوا دنهو كسانود طرف نه نه شى كافى كيدې.

د علامه خليل احمدسهارنپورى رحمه الله رائې: علامه خليل احمدسهارنپورى رحمه الله جواب وركړې دې چه غوا خو هم د اووه ازواج مطهرات د طرف نه وه اود باقى د طرف نه به څه چيلئى وغيره قربانى كړې شوې وى.(۵)

دعلامه رشيداحمدګنګوهى رحمه الله رائې: علامه رشيد احمد ګنګوهى رحمه الله فرمائى زما په نيزد ټولونه ښه جواب دادې چه حضورپاك د حضرت عائشه رضي الله عنها د طرف نه ځان له غوا ذبح كړې وه لكه چه د صحيح مسلم جابر رضي الله عنه په روايت كښې دى(۶) اودباقى بيبيانود طرف نه جدا غوا وه لكه چه د سنن ابى داؤد په روايت كښې (۷)دى اوحضرت عائشه رضي الله عنها په دوى كښې داخل نه وه ځكه چه دسنن ابى داؤد د روايت الفاظ "دهغه بيبيانود طرف نه چاچه عمره كړې وه" ددې نه مانع دى ځكه چه حضرت عائشه رضي الله عنها زمونږ په نيز مفرد بالحج وه.البته داسوال باقى پاتې كيږى چه حضرت عائشه رضي الله عنها خارج كولوسره هم د ازواج مطهرات شمير اته پاتې كيږى؟ نوزما په نيز بعيدنه ده چه حضورپاك حضرت سوده رضي الله عنها دحضرت عائشه رضي الله عنها په غواكښې شريكه كړې وى ځكه چه هغې خپل نمبر حضرت عائشه رضي الله عنها ته وركړې وو. ددې توجيه په رڼاكښې دحضرت عائشه رضي الله عنها په حديث باندې د شذوذد حكم لګولوهم

---

(۱) صحيح البخارى كتاب الحيض باب الأمر بالنفساء إذا نفسن، رقم الحديث: ۲۹۴زادالمعاد: ۲۶۵/۲.
(۲) زادالمعاد: ۲۶۵/۲.
(۳) زادالمعاد: ۲۶۵/۲.
(۴) المرجع السابق.
(۵) بذل المجهود:۱۱۴/۷أوجزالمسالك:۹۳/۸.
(۶) رواه الإمام مسلم فى الحج باب جواز الاشتراك فى الهدى الخ رقم الحديث: ۳۱۹۲-۳۱۹۱.
(۷) روان الإمام أبوداؤد فى المناسك باب فى هدى البقر رقم الحديث: ۱۷۵۱.

حاجت نه پاتې کیږی([1])لکه چه حافظ ابن حجر دشذوذ حکم لګولی دی([2])دحضرت عائشه رضي الله عنها هغه روایت په کوم چه د شذوذ حکم لګولی شوی دی د عمار ذهنی په طریق سره نقل دی د کوم الفاظ چه دادی((ذبح عنا رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم حججنا بقرة بقرة))([3]) ترجمه حضورپاک زمونږ د حج والا په کال زمونږ د طرف نه یوه یوه غوا ذبح کړې وه. ددې روایت نور تفصیل په راتلونکو کربنوکښې راځی.
علامه زرقانی رحمه الله په دې روایتونو باندې په ښه ارت مټ لیکل کړی دی اود امام نسائی رحمه الله دا روایت کوم چه د عمار دهنی رحمه الله په طریق سره دحضرت عائشه رضي الله عنها نه نقل دې ترجیح ورکړې ده.([4])
او حافظ ابن حجر رحمه الله چه په دې حدیث باندې د شذوذ حکم کړی دی.([5]) په دې کښې علامه زرقانی رحمه الله هغه پسې کیدو سره لیکلی دی چه دحدیث عائشه رضي الله عنها راوی عمار الدهنی صحیح مسلم او سنن اربعه راوی دې دهغه زیاتوالې به مقبول وی چه کوم لفظ نورو یاد نه دې ساتلې هغه ده یاد کړې اوبیاد دې راوی زیاتوالې د نورو راویانو خلاف هم نه دې ځکه چه دمعمر رحمه الله په روایت کښې کوم الفاظ دی چه ((ماذبح إلا بقرة)) یعنی حضورپاک صرف غوا ذبح کړې. دې نه مراد جنس دې د کوم مطلب چه دادې اوښ یا چیلئی نه ده قربانی کړې بلکه صرف غوا ئی قربانی کړې وه. په دې وجه داد هغه صریح روایت خلاف نه دې په کوم کښې چه دهریود طرف نه د غوا ذبح کولو ذکر راغلې دې. او د شذوذ حکم خو به هله کولې شی کله چه په دوو روایتونوکښې تطبیق ممکن نه وی اودلته ممکن دی.
([6])لهذا ددې تطبیق نه پس دا ثابتیږی چه: ((یونس عن الزهري عن عمرة عن عائشة رضي الله عنها)) په طریق سره روایت شوې: ((أن رسول الله صلى الله عليه وسلم نحر عن أزواجه بقرة واحدة))([7]) یعنی حضورپاک د خپلو بیبیانودطرف نه یوه غوا ذبح کړې،د معمر رحمه الله روایت. ((ماذبح إلا بقرة)) اود ابوهریره رضي الله عنه روایت. ((ذبح عمن اعتمر من نسائه في حجة الوداع بقرة بينهن)) یعنی حضورپاک د حجة الوداع په موقع دخپلو هغه بیبیانود طرف نه چاچه عمره کړې وه دهغوی په مینځ کښې یوه غوا ذبح کړه نه تقویت او تائیدنه ملاویږی لکه چه حافظ ابن حجر رحمه الله ګمان دې. ځکه چه د مذکوره تطبیق نه پس یونس واحدة روایت کولوکښې متفرد کیږی لکه ځنګه چه قاضی اسماعیل رحمه الله هم په دې روایت باندې د شذوذ حکم لګولې دې اود حضرت ابوهریره رضي الله عنه په روایت کښې ددې خبرې صراحت نشته چه د غوا نه علاوه ئی څه نه وی ذبح کړې سره ددې چه د روایت نه هم دغه معلومیږی، ګنی روایت صریحه فی التعدد سره تعارض لازمی راځی.([8])

---

[1]) لامع الدراری: ۲۱۲/۵.
[2]) فتح الباری: ۷۰۳/۳لامع الدراری: ۲۱۲/۵.
[3]) السنن الکبری للنسائی: ۴۵۲/۲ رقم الحدیث: ۴۱۲۹مسندأبی عوانة: ۳۱۸/۲رقم الحدیث: ۳۲۷۶.
[4]) شرح الزرقانی علی المواهب اللدنیة: ۴۳۶/۱۱-۴۳۵.
[5]) فتح الباری:۷۰۳/۳.
[6]) شرح الزرقانی علی المواهب اللدنیة: ۴۳۶/۱۱-۴۳۵أوجزالمسالک: ۹۱/۸.
[7]) السنن الکبری للنسائی: ۴۵۲/۲ رقم الحدیث:۴۱۲۷ورواه أبوداؤد فی المناسک باب فی هدی البقر، رقم الحدیث: ۱۷۵۰وابن ماجه فی الأضاحی باب عن کم تجزئ البدنة والبقرة رقم الحدیث: ۳۱۳۵.
[8]) أوجزالمسالک: ۹۱/۸.

شيخ الحديث حضرت زكريا رحمه الله دحافظ ابن حجر رحمه الله كلام او په هغې باندې د زرقاني رحمه الله رد ذكركولونه پس فرمائي چه دا ترديدمضبوط نه دې خكه چه عمار دهني رحمه الله (د چا روايت ته چه علامه زرقاني رحمه الله ترجيح وركړې ده) او په يونس كښې اختلاف شوې دې نو ترجيح به يونس ته وى خكه چه سره ددې چه عمار ثقه دې مگر د يونس برابر كيدې نه شي خكه چه يونس ثقه هم دې اوحافظ هم دې بل حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه عمار بن معاويه صدوق دې مگر په هغه باندې د شيعه كيدو الزام هم دې. لهذا چه كله د دغه دوارو راويانو په خپل مينځ كښې بيان وحدت او تعدد كښې اختلاف شو نو د يونس روايت ته به ترجيح حاصله وى.

دې نه علاوه ابوداؤد رحمه الله او منذرى رحمه الله هم د يونس روايت ذكركړې دې او په دې باندې ئې سكوت اختيار كړې دې. اودا كوم چه علامه زرقاني رحمه الله وئيلى دى چه دعمار زيادت معارض نه دې نوداخبره صحيح نه ده خكه چه د يونس په روايت كښې د وحدت بقرة صراحت دې د كوم په وجه چه يونس رحمه الله اوعمار دهني رحمه الله دوارو په روايتونوكښې جمع اوتوفيق ممكن نه دې اوبيا معمر رحمه الله د يونس رحمه الله متابعت هم كړې دې اودا وينا چه دمعمر رحمه الله په روايت كښې جنس مراددې غلطه ده خكه چه په بقرة كښې "ة" په جنس او وحدت كښې فرق كوى او په وحدت باندې دلالت كوى لهذا د بقرة نه جنس مراد اخستل صحيح نه دى. چنانچه علامه عيني رحمه الله فرمائي (١)چه بقرة كښې د تمرة او تمر په شان فرق "ة" نه كيدو په صورت كښې احتمال كيدې شي چه د يوې نه زياتې غواگانې ئې ذبح كړې وى. په نورو الفاظو كښې د "ة" كيدو په صورت كښې د يونه د زيات هډو څه احتمال نه شي كيدې. بيا د يونس د روايت دپاره دحضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت هم شاهد دې او په دې روايت كښې زمونږ دپاره دوه شان حجت دې: ① "ة" فارقه بين الوحدة والجنس د وجې نه. ② لفظ "بينهن" د وجې نه خكه چه كه د يوې نه زياتې غواگانې وې نوبيا د "بينهن" څه مطلب دې؟ دا لفظ خو صراحتاً په اشتراك باندې نص دې چه هغوى ټولې په يوه غوا كښې شريكې وې. دغه شان دامام مسلم رحمه الله د حضرت جابر رضي الله عنه نه (٢)نقل كړې شوې روايت هم د حضرت يونس رحمه الله د روايت د پاره شاهد دې خكه چه په هغې كښې هم د بقرة صراحت دې.(٣)

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: وړاندې دا خبره تيره شوې ده چه د اكثرنسخونه دا ترجمة الباب ساقط دې اود هغه نسخو په اعتبارسره حديث اوترجمة الباب كښې مناسبت هم واضح دې چه په دوارو كښې بدايت حيض او د حيض د تاريخ تذكره ده او په كومو نسخوكښې چه ترجمة الباب "باب الأمر بالنفساء إذا نفسن" قائم دې دهغه نسخو په اعتبارسره دحديث باب ترجمة الباب سره مناسبت دادې چه په ترجمة الباب كښې خودلى شوى دى چه د حيض په حالت كښې هم ښخوسره د اوامر او نواهى تعلق وى او حديث باب كښې دحضرت عائشه رضي الله عنها په عمل سره خودلى دى چه د حيض په حالت كښې ښځه طواف اوسعى نه علاوه د حج ټول اركان اداكولې شي. (٤)

---

(١) عمدة القارى: ٣٨٢/٣.

(٢) رواه الإمام مسلم فى الحج باب جواز الاشتراك فى الهدى الخ رقم الحديث: ٣١٩٢ السنن الكبرى للنسائى: ٤٥٢/٢ رقم الحديث: ٤١٣٠.

(٣) أوجز المسالک: ٩٢/٨-٩١.

(٤) فضل البارى: ٤٦٥/٢.

۲ - غَسْلِ الْحَائِضِ رَأْسَ زَوْجِهَا وَتَرْجِيلِهِ

ماقبل سره ربط: دواړو ابوابوکښې مناسبت دادې چه د وړاندينی باب په شان دا باب هم په احکام حيض باندې مشتمل دې.[۱]

د ترجمة الباب مقصد

دعلامه رشيداحمدګنګوهی رحمه الله رائې: حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله په دې باب سره دا خودل غواړی چه د حائضه د مقاربت نه چه قرآن پاك کومه منع کړې ده. دهغې نه مراد خاص جماع او دواعی جماع دی. د هرقسم مقاربت اونيزديکت نه ممانعت نه دې اود يهودو غلطی خودل مقصد دې چه د حيض په حالت کښې ښځې سره خوراك څښاك او په يومکان کښې اوسيدل نی هم منع ګنړل. لهذا حائضه له د خپل خاوند سر وينځل ګمنزول خو جائزدی.[۲]

د شيخ الحديث زکريا رحمه الله رائې: حضرت شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائی چه زما په نيز احتمال دادې چه امام بخاری رحمه الله په دې ترجمة الباب سره دهغه روايت د ترديدطرف ته اشاره کوی کوم چه د ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دې چه هغه خپلې ترور حضرت ميمونه رضي الله عنها کره تشريف راوړو. ترور نی چه کله اوکتل چه دهغې د وراره ويښته خيرن او شيندلې پراته دی نوتپوس نی اوکړې اې بچيه! څه خبره ده؟ ستاويښته داسې خيرن ولې دی نو وراره جواب ورکړو چه ام عمار به زما په ويښتوکښې ګمنز کوله مګر دې ورځوکښې هغه په حيض کښې ده (لکه چه ابن عباس رضي الله عنهما د حيض په حالت کښې داعمل ناخوښه ګنړلو) نو ترور حضرت ميمونه رضي الله عنها نی اووئيل بچې حيض څه په لاس کښې خونه وی. دې نه پس نی اوفرمائيل رسول الله صلی الله عليه وسلم به زمونږ (ازواج) نه د يوې په غيږ کښې سر کيخودو سره ددې چه هغه بی بی به د حيض په حالت کښې وه. يعنی حضرت ميمونه رضي الله عنها د خپل وراره ابن عباس رضي الله عنهما د رائې ترديد اوکړو. ممکن ده چه ددې واقعه نه پس ابن عباس رضي الله عنهما دخپلې رائې نه رجوع کړې وی.[۳]

الحديث الأول

[۲۹۲/۲۹] - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ، قَالَ: حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «كُنْتُ أُرَجِّلُ رَأْسَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَأَنَا حَائِضٌ»[۴]

ترجمه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه مابه د حضورپاك صلی الله عليه وسلم په سرمبارك کښې د حائضه کيدو په حالت کښې هم ګمنز کوله.

---

[۱] عمدة القاری: ۳/۳۸۲.
[۲] لامع الدراری: ۲/۲٤۲.
[۳] لامع الدراری: ۲٤۲.
[٤] د حديث ۲۹۱/۲۹۲ تخريج به د وړاندينی حديث لاندې ذکرکولې شی.

تراجم رجال

عبدالله بن يوسف: دا مشهور امام اومحدث ابومحمد عبدالله بن يوسف تنيسى كلاعى دمشقى رحمه الله دي. ددوى مختصر حالات بدء الوحى د دويم حديث لاندې [1] اوتفصيلى حالات كتاب العلم باب ليبلغ العلم الشاهد الغائب د رومبى حديث لاندې تيرشوى دى. [2]

مالك: دا امام دارالهجره عالم المدينه امام مالك بن انس بن مالك بن ابى عامر بن عمرو الاصبحى المدنى رحمه الله دې. ددوى كنيت ابوعبدالله دې. د دوى مختصر حالات بدء الوحى دويم حديث لاندې [3] اوتفصيلى حالات كتاب الايمان باب من الدين الفرار من الفتن د وراندې حديث لاندې ذكر كولې شى. [4]

هشام: داد عروة بن الزبير بن العوام رحمه الله خوئي دې. د دوى مختصر حالات بدء الوحي دويم حديث لاندې [5] اوتفصيلى حالات كتاب الايمان باب أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تيرشوى دى. [6]

عروة: دا عروة بن الزبير بن العوام رحمه الله دې. د دوى مختصر حالات بدء الوحي دويم حديث لاندې [7] او تفصيلى حالات كتاب الايمان باب أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تيرشوى دى. [8]

عائشة: دا ام المؤمنين سيده عائشه بنت ابى بكر الصديق رضي الله عنهما ده. د دوى حالات بدء الوحي دويم حديث لاندې تيرشوى دى. [9]

شرح حديث

ددې حديث نه دا معلومه شوه چه ښځه د حيض په حالت كښې هم د خاوند په سركښې ګمنز كولې شى [10] بل داهم معلوم شوچه خاوند د خپلې ښځې نه خدمت اخستې شى خوچه هغه راضى وى [11] او دا اجماعى مسئله ده. [12]

د حديث ترجمة الباب سره مناسبت

د حافظ ابن حجر رحمه الله رائې: امام بخارى رحمه الله د ترجمة الباب دوه جزونه كړى دى يوغسل او بل ترجيل حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه د حديث ترجمة الباب سره مناسبت ترجيل (د ګمنز كولو) په لحاظ سره

---

[1] كشف البارى: ٢٨٩/١.
[2] كشف البارى: ١١٣/٤.
[3] كشف البارى: ٢٩٠/١.
[4] كشف البارى: ٨٠/٢.
[5] كشف البارى: ٢٩١/١.
[6] كشف البارى: ٤٣٢/٢.
[7] كشف البارى: ٢٩١/١.
[8] كشف البارى: ٤٣٦/٢.
[9] كشف البارى: ٢٩١/١.
[10] عمدة القارى: ٣٨٣/٣.
[11] عمدة القارى: ٣٨٣/٣شرح ابن بطال: ٤١٨/١.
[12] عمدة القارى: ٣٨٣/٣.

خو ښکاره دې چه د باب په دوارو احاديثو کښې ددې ذکرموجود دې البته غسل رأس ذکر نشته دې مګر دا خويا په ترجيل باندې قياس کړې شوې دې يا امام بخاري رحمه الله ددې جز په ذريعه د حديث هغه طريق طرف ته اشاره کړې ده کوم چه باب مباشرة الحائض کښې راتلونکې دې ځکه چه په هغې کښې د غسل رأس صراحت دې.(۱)

د شيخ الحديث زکريا رحمه الله رائې: شيخ الحديث زکريا رحمه الله د حافظ ابن حجر رحمه الله توجيه نقل کولو سره ليکلې دي چه زما په نيز دويم صورت «د اشاره والا» متعين دې.(۲) ځکه چه دا صورت د تراجم امام بخاري رحمه الله په حواله سره جمع کړې شوې اويا (۷۰) اصولونه يوولسم اصل عين موافق دې.(۳)

دعلامه عيني رحمه الله رائې: علامه عيني رحمه الله فرماني چه د باب په دوارو احاديثو کښې د ترجمه دويم جز "ترجيل رأس" سره مطابقت خوښکاره دې د باقي رومبي جز "غسل الحائض رأس زوجها" سره څه مطابقت موجود نه دې. بل د حافظ ابن حجر رحمه الله په توجيهاتو باندې ردکولو سره فرماني چه "اوبعض خلقو چه د قياس او اشاره والاتاويلات کړې دی نوهغه دواړه بې حقيقت دی، د قياس والاتاويل خو په دې وجه چه تراجم ابواب ته د وضع اوتصنيف څه شرعي حيثيت خو حاصل نه دې چه په يوحکم باندې دويم قياس کړې شي يعنې چونکه د ترجيل ترجمه قائم کول صحيح دی په دې وجه په دې باندې قياس کولوسره مونږ ته دغسل رأس د ترجمه قائم کولوحق هم ملاؤ شو. د تراجم حيثيت صرف دعنوانات دې اوددې د صحت دارومدار دهغې لاندې پيش کړې شوې احاديثوسره مطابقت باندې دې اوچه کله دا خبره حاصل نه ده نو زياتي او غيرمطابق ترجمه اوعنوان ذکر کول لاحاصل دی."

اود اشاره والا تاويل ځکه صحيح نه دې ځکه چه داخبره د. چانه هم نقل کيدې نه شی چه ترجمه او عنوان خو په دې باب کښې وی اومترجم له «د کوم دپاره چه هغه عنوان دلته قائم کړې شوې دې» هغه باب پريږدی او په دريم باب کښې راشي ځکه چه دلته ددې باب نه پس يوباب "باب قراءة الرجل في حجر امرأته" راځي. بيادويم باب "من سمى النفاس حيضا" به راځي. دې نه پس "باب مباشرة الحائض" راځي په کوم کښې د حافظ ابن حجر رحمه الله د وينا مطابق ددې ځائي عنوان معنون له ذکر دې.(۴)

الحديث الثاني

[۲۹۲] - حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، قَالَ: أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ، أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَهُمْ قَالَ: أَخْبَرَنِي هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، أَنَّهُ سُئِلَ أَتَخْدُمُنِي الْحَائِضُ أَوْ تَدْنُو مِنِّي الْمَرْأَةُ وَهِيَ جُنُبٌ؟ فَقَالَ عُرْوَةُ: كُلُّ ذَلِكَ عَلَيَّ هَيِّنٌ، وَكُلُّ ذَلِكَ تَخْدُمُنِي وَلَيْسَ على أَحَدٍ فِي ذَلِكَ بَأْسٌ أَخْبَرَتْنِي عَائِشَةُ: «أَنَّهَا كَانَتْ تُرَجِّلُ، تَعْنِي رَأْسَ رَسُولِ اللَّهِ صلى اللهُ عَلَيْهِ

---

(۱) فتح الباري: ۵۲۸/۱.

(۲) لامع الدراري: ۲٤۲/۵.

(۳) الامع الدراري: ۲٤۲/۵الكنز المتواري: ۳۵۷/۱.

(٤) عمدة القاري: ۳۸۳/۳-۳۸۲.

وَسَلَّمَ، وَهِيَ حَائِضٌ، وَرَسُولُ اللَّهِ صلى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَئِذٍ مُجَاوِرٌ فِي الْمَسْجِدِ، يُدْنِي لَهَا رَأْسَهُ، وَهِيَ فِي حُجْرَتِهَا، فَتُرَجِّلُهُ وَهِيَ حَائِضٌ» [١٩٢٦-١٩٢٤، ١٩٤١، ٥٥٨١](١)

ترجمه: دحضرت عروه رحمه الله نه چا سوال اوکړوآیا حائضه زما خدمت کولې شي یا د ناپاکنی په حالت کښې ښځه ماسره نیزدې کیدې شي؟ نوعروه رحمه الله اوفرمائیل زما په نیز په دې کښې هیڅ حرج نشته دې. دغه شان ښځې زماهم خدمت کوی او په دې کښې د چا د پاره هم څه حرج نشته دې. ماته حضرت عائشه رضي الله عنها اوونیل چه هغې به د حیض په حالت کښې د حضورپاك په سرمبارك کښې ګمنز کوله حالاکه حضورپاك به هغه وخت په جمات کښې معتکف وو حضورپاك به خپل سرمبارك رانیزدې کولو اوحضرت عائشه رضي الله عنها د حائضه کیدو سره به هم د خپلې کمرې نه ګمنزکوله

تراجم رجال

إبراهيم بن موسى: دا ابراهیم بن موسی بن یزید بن زادان التمیمی الرازی الفراء رحمه الله دې. ددوی کنیت ابواسحاق او لقب صغیر دې اودې هم په دغه لقب باندې مشهوراومعروف وو.(٢)

دامام احمدبن حنبل رحمه الله نه نقل دی چه هغوی به په هغه خلقو باندې نکیر فرمائیلو چه ابراهیم بن موسی رحمه الله به ئی د صغیر په لقب سره بللو. هغوی رحمه الله به د ابراهیم بن موسی رحمه الله باره کښې فرمائیل «هوكبيرفي العلم والجلالة» (٣)یعنی ابراهیم بن موسی لوئی صاحب علم او صاحب جلال سړې وو. ابراهیم بن موسی رحمه الله د هشام بن یوسف صنعانی، ولید بن مسلم، یحیی بن ابی زائده، عیسی بن یونس، عبده بن سلیمان،خالد الواسطی، ابوالاحوص اویزید بن زریع رحمهم الله وغیره نه دحدیث روایت کړې.(٤)

ددوی نه روایت کونکوکښې امام بخاری، امام مسلم، امام ابوداؤد (نور اصحاب صحیح ددوی نه بالواسطه روایت کوی) یحیی بن موسی البلخی، ابو حاتم، ابوزرعه، عمرو بن منصور النسائی، محمدبن مسلم بن واره الرازی، محمدبن یحیی الذهلی او ابو اسماعیل محمدبن اسماعیل الترمذي رحمهم الله وغیره دی. (٥)

---

(١) قوله:"عائشة : الحديث، رواه البخاری فی نفس الباب قبل هذه الرواية أيضاً تحت رقم الحديث: ٢٩٥وكذافی باب: مباشرة الحائض: ٣٠١، وفی الاعتكاف فی باب: الحائض ترجل رأس المعتكف، رقم الحديث:٢٠٢٨وباب: لايدخل البيت إلا لحاجة رقم الحديث: ٢٠٢٩ وباب: غسل المعتكف، رقم الحديث: ٢٠٣١-٢٠٣٠وباب: المعتكف يدخل رأسه البيت للغسل رقم الحديث: ٢٠٤٦وفی اللباس فی باب: ترجيل الحائض زوجها، رقم الحديث: ٥٩٢٥ ورواه مسلم فی الحيض فی باب: جوازو غسل الحائض رأس زوجها وترجيله...... الخ رقم الحديث: ٦٨٤ والترمذی فی الصوم باب: المعتكف يخرج لحاجته أم لا؟ رقم الحديث: ٨٠٤ وأبوداؤد فی الصوم فی باب: المعتكف يدخل البيت لحاجته رقم الحديث: ٢٤٦٩-٢٤٦٧والنسائی فی الحيض فی باب: ترجيل الحائض رأس زوجهاالخ رقم الحديث: ٢٨٦وباب غسل الحائض رأس زوجها رقم الحديث: ٣٨٩-٣٨٧ وابن ماجه فی الطهارة فی باب: الحائض تتناول الشئ فی المسجد، رقم الحديث: ٦٣٣

(٢) تهذيب الكمال: ٢١٩/٢ تهذيب التهذيب: ١٧٠/١.

(٣) تهذيب الكمال: ٢١٩/٢ تهذيب التهذيب: ١٧١/١عمدة القاری: ٣٨٣/٣.

(٤) تهذيب التهذيب: ١٧٠/١.

(٥) تهذيب التهذيب ١٧١/١د تلامذه ومشائخ د تفصيل دپاره اوګورئ تهذيب الكمال: ٢١٩/٢.

الإكمال کښې دی چه ابراهيم بن موسی رحمه الله نه امام بخاری رحمه الله اويا او امام مسلم رحمه الله ډيرش احاديث روايت کړی دی.[1]امام ابوزرعه رحمه الله فرمائی:«ابراهيم بن موسى أتقن من أبى بكر بن أبى شيبة وأصح حديثا منه، لا يحدث إلا من كتابه، لا أعلم أنى كتبت عنه خمسين حديثا من حفظه، وهو أتقن من صفوان بن صالح» يعنی دابراهيم بن موسی رحمه الله (په علم حديث کښې) پوخوالی او مهارت د امام ابوبکر بن ابی شيبه په نسبت زيات دې او په صحيح احاديثو روايت کولو کښې هم دهغوی نه وړاندې دې. دهغوی د تحديث طريقه دا وه چه هغوی به د خپل کتاب نه احاديث بيانول (اود حديث په روايت کښې کولو کښې د احتياط دا حال وو چه) زه نه پوهيږم چه ما دهغوی نه پنځوس احاديث هم داسې ليکلې وی چه هغوی په حفظ سره بيان کړې وی اوهغوی د علم په پوخوالی او حافظه کښې د صفوان بن صالح نه هم وړاندې وو.[2]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی «ابراهيم بن موسى من الثقات وهو أتقن من أبى جعفر الجمال».[3]امام ابوزرعه رحمه الله فرمائی چه ما د ابراهيم بن موسی رحمه الله رازی او ابوبکر بن ابی شيبه رحمه الله نه يويو لکه احاديث ليکلی دی.[4]امام نسائی رحمه الله فرمائی ثقة[5]ابن حبان رحمه الله دهغوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې.[6] امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی «كان عند إبراهيم حديث بخط إدريس فحدث به فأنكروه عليه، فتركه»[7] يعنی د ابراهيم بن موسی رحمه الله سره د ادريس رحمه الله ليکلې شوې يوحديث وو کله چه هغوی دا حديث بيان کړو نو محدثينو په دې باندې نکير اوفرمائيلو کوم نه پس چه ابراهيم بن موسی رحمه الله دغه حديث پريخودو.
په دې باندې حافظ ابن حجر رحمه الله اوفرمائيل چه «وهذا يدل على شدة توقيه»[8] يعنی د ابراهيم بن موسی رحمه الله داعمل د حديث په معامله کښې دهغوی د احتياط په سختوالی باندې دلالت کوی.

امام خليلی رحمه الله فرمائی د مقام "ری" د هغه لويو لويو اوحفاظ علماؤ نه کوم چه دامام احمد رحمه الله او امام يحيی رحمه الله برابر وو ابراهيم بن موسی رحمه الله هم وو چاچه (دعلم حديث د حصول دپاره) دعراق يمن او شام وغيره سفرونه هم اوکړل. د امام احمد رحمه الله به ئې ډير تعريفونه کول.[9]
علامه شمس الدين الذهبی رحمه الله فرمائی «مات فى حدود سنة ثلاثين» يعنی د دوی انتقال ۲۳۰هجری په آخره کښې شوې.[10] نورد وفات د کال په حواله سره يوقول داهم دې چه دهغوی انتقال ۲۱۹هجری

---

[1]) إكمال تهذيب الكمال: ۳۰۰/۱.
[2]) سير أعلام النبلاء: ۱٤۱/۱۱ الجرح والتعديل: ۸۲/۲تهذيب الكمال: ۲۲۰/۲تهذيب التهذيب: ۱۷۱/۱الكاشف: ۵۰/۱.
[3]) سير أعلام النبلاء: ۱٤۱/۱۱ الجرح والتعديل: ۸۲/۲تهذيب الكمال: ۲۲۰/۲تهذيب التهذيب: ۱۷۱/۱.
[4]) سير أعلام النبلاء: ۱٤۱/۱۱ تهذيب الكمال: ۲۲۰/۲تهذيب التهذيب: ۱۷۱/۱الكاشف: ۵۰/۱.
[5]) سير أعلام النبلاء: ۱٤۱/۱۱تهذيب الكمال: ۲۲۰/۲.
[6]) ۷۰/۸.
[7]) تهذيب التهذيب: ۱۷۱/۱تهذيب الكمال: ۳۰۰/۲.
[8]) تهذيب التهذيب: ۱۷۱/۱.
[9]) تهذيب التهذيب: ۱۷۱/۱تهذيب الكمال: ۲۹۹/۲.
[10]) سير أعلام النبلاء: ۱٤۱/۱۱.

کنبي شوي[1] علامه مغلطاني رحمه الله فرمائی چه ابراهیم بن موسی رحمه الله او محمد بن مهران الجمال انتقال ۲۲۰ هجری نه پس شوي دي.[2]

هشام بن یوسف: دا هشام بن یوسف صنعاني رحمه الله دي.د دوی کنیت ابوعبدالرحمن دي دا فارسی النسل وو او صنعا یمن کنبي د قضاء په عهده باندي فائز وو.[3]

هشام بن یوسف رحمه الله د معمر بن راشد، ابن جریج، قاسم بن فیاض، سفیان ثوری، عبدالله بن بجیر بن زیسان، عبدالله بن سلیمان نوفلی، رباح بن عبیدالله بن عمرالعمری، ابراهیم بن عمر بن کیسان او نعمان بن ابی شیبه جندی رحمهم الله وغیره د حدیث روایت کړی. او د هغوی نه روایت کونکو کنبي د هغه دتره خوئي زکریا بن یحیی بن تمیم بن عبدالرحمن صنعاني، محمدبن ادریس شافعي، علی بن المدیني، یحیی بن معین، عبدالله بن محمد المسندي، ابراهیم بن موسی الرازي، اسحاق بن راهویه علي بن بحر بن بري، موسی بن هارون البردي او اسحاق بن ابی اسرائیل رحمهم الله وغیره دي.[4]

امام عبدالرزاق رحمه الله فرمائي: «**إن حدثکم القاضي – هشام بن یوسف – فلا علیکم أن لاتکتبوا عن غیره**»[5]

ترجمه: که چرې قاضي هشام بن یوسف رحمه الله تاسو ته څه حدیث بیان کړی نو بیاستاسو د پاره په هغې کنبي هیڅ حرج نشته دي چه تاسو د بل چا نه د حدیث کتابت اونه کړئي. هم پخپله د هشام بن یوسف رحمه الله نه روایت دي چه کله سفیان ثوری رحمه الله یمن ته تشریف راوړو نوهغوی خواهش ښکاره کړو چه د هغوی دپاره یوتیز لیکونکي اولټولي شی نوددي کاردپاره ئي زه خوښ کړم نوهم ما به د هغه نه روایات لیکل.[6]

یحیی بن معین رحمه الله فرمائي: «**لم یکن به بأس، کان هو أضبط عن ابن جریج من عبدالرزاق**» یعنی د هشام بن یوسف رحمه الله نه په روایاتو اخستوکنبي هیڅ حرج نشته دي هغه د ابن جریج رحمه الله نه احادیثو روایت کولوکنبي د عبدالرزاق رحمه الله په مقابله کنبي ډیرمضبوط وو. په یوه بله موقع باندي فرمائي: «**هشام بن یوسف أثبت من عبدالرزاق في حدیث ابن جریج وکان أقرأ الکتب ابن جریج من عبدالرزاق وکان أعلم بحدیث سفیان من عبدالرزاق وهو ثقة**»[7] یعنی هشام بن یوسف رحمه الله د ابن جریج رحمه الله نه حدیث نقل کولوکنبي د عبدالرزاق رحمه الله نه زیات مضبوط دي او هغه د عبدالرزاق په مقابله کنبي د ابن جریج رحمه الله کتابونه هم زیات لوستونکي وو. او دغه شان د سفیان ثوری رحمه الله احادیث هم د عبدالرزاق رحمه الله نه زیات پیژندل او هشام بن یوسف رحمه الله یو ثقه راوی وو.

---

[1] إكمال تهذيب الكمال: ۳۰۰/۱.

[2] إكمال تهذيب الكمال: ۲۱۹/۱.

[3] الجرح والتعديل: ۸۸/۹ کتاب الثقات لابن حبان: ۲۳۲/۹ تهذيب الكمال: ۳۰/۲۶۶-۲۶۵ سير أعلام النبلاء: ۵۸۰/۹ تهذيب التهذيب: ۵۷/۱۱ الكاشف: ۲۱۲/۳ السلوک في طبقات العلماء والملوک: ۱۴۰/۱-۱۳۹.

[4] تهذيب التهذيب: ۵۷/۱۱ دتلامذه او مشائخ د تفصيل دپاره اوګورئي تهذيب الكمال: ۲۶۶/۳.

[5] الجرح والتعديل: ۸۹/۹ تهذيب الكمال: ۲۶۷/۳۰ سير أعلام النبلاء: ۵۸۱/۹.

[6] سير أعلام النبلاء: ۵۸۱/۹ تهذيب الكمال: ۲۶۷/۳۰ الجرح والتعديل: ۸۹/۹.

[7] الجرح والتعديل: ۸۹/۹ تهذيب الكمال: ۲۶۷/۳۰.

امام ابوزرعه رحمه الله فرمائي: «هشام أصح اليمانيين كتاباً»[1] ابن حبان رحمه الله دهغوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې.[2] امام عجلی رحمه الله فرمائی ثقة.[3] امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی ثقة متقن.[4] حاکم رحمه الله فرمائی ثقة مامون.[5] علامه شمس الدین الذهبی رحمه الله د هشام بن یوسف رحمه الله تعارف په ډیرو درنو الفاظو کښې کړې دې اوهغه فرمائی چه هشام بن یوسف رحمه الله د عبدالرزاق د زمانې د خلقو نه دې.[6] امام خلیلی رحمه الله فرمائی: ثقة متفق علیه.[7] دهشام بن یوسف رحمه الله انتقال ۱۹۷هجری کښې تقریباً د اویاؤ کالو په عمر کښې شوې.[8]

ابن جریج: د جیم په ضمه او راء په فتحه سره دامشهور امام عبدالملك بن عبدالعزیز بن جریج مکی قرشی مدنی رحمه الله دې. دا په اصل کښې د رومی نسل نه وو دهغه دوه کنیتونه وو یو ابوخالد او بل ابوالولید.[9] ابن جریج د حکیمه بنت رقیه، خپل پلار عبدالعزیز، امام زهری، عطاء بن ابی رباح، اسحاق بن ابی طلحه، صالح بن کیسان، طاؤوس، ابن ابی ملیکه، عطاء الخراسانی، عکرمه بن خالد المخزومی، عکرمه مولی بن عباس، عمرو بن دینار، سعیدبن الحویرث، محمدبن المنکدر، نافع مولی ابن عمر، هشان بن عروه، موسی بن عقبه، ایوب سختیانی، عبدالله بن کیسان، سهیل بن ابی صالح، عبدالحمید بن جبیر، عبدالله بن طاؤوس، علاء بن عبدالرحمن، یعلی بن مسلم، یوسف بن ماهك، یوسف بن یونس اومعمر بن راشد رحمهم الله وغیره نه د حدیث روایت کړې.
اوددوی نه روایت کونکوکښې دهغوی دواړه ځامن عبدالعزیز اومحمد، امام اوزاعی، لیث، یحیی بن سعیدالانصاری، عبدالوهاب الثقفی، عیسی بن یونس، حفص بن غیاث، مسلم بن خالد الزنجی، ابن عیینه، اسماعیل بن علیه، ابن المبارك، یحیی بن زائده، هشان بن یوسف اومکی بن ابراهیم رحمهم الله وغیره دی.[10] د ابن جریج رحمه الله نه روایت دې چه هغوی ۱۷کاله عطاء بن ابی رباح رحمه الله سره دتحصیل علم دپاره تیر کړل.[11] هم دغه وجه ده چه دهغوی اکثر روایات هم د دوی نه مروی دی. امام مجاهد رحمه الله صرف د قراءات دوه حرفونه ه روایت کړی دی. طاؤوس رحمه الله هم یو حدیث روایت کړې دې اوعکرمه العباسی رحمه الله نه مرسلاً روایت کوی.[12] ځکه چه ابن جریج رحمه الله ته د عکرمه مولی ابن عباس نه سماع حاصله نه ده.[13]

---

[1] سیر أعلام النبلاء: ۵۸۱/۹الجرح والتعدیل: ۸۹/۹تهذیب الکمال: ۲۶۸/۳۰.
[2] ۲۳۲/۹.
[3] تهذیب الکمال: ۲۶۸/۳۰.
[4] سیر أعلام النبلاء: ۵۸۱/۹الجرح والتعدیل: ۸۹/۹تهذیب الکمال: ۲۶۸/۳۰.
[5] إکمال تهذیب الکمال: ۱۵٤/۱۲.
[6] إکمال تهذیب الکمال: ۱۵۵/۱۲.
[7] سیر أعلام النبلاء: ۵۸/۹.
[8] سیر أعلام النبلاء: ۵۸۱/۹ تهذیب الکمال: ۲۶۸/۳۰کتاب الثقات لابن حبان: ۲۳۲/۹عمدة القاری: ۳۸۳/۳.
[9] عمدة القاری: ۳۸۳/۳الکنی والأسماء حرف الخاء من الکنی من کنیة أبوخالد ص: ۵۰۳.
[10] د تلامذه او شیوخ دتفصیل دپاره اوګورئی: تهذیب الکمال: ۳٤٦/۱۸-۳۳۹سیر أعلام النبلاء: ۳۲۷/٦-۳۲٦.
[11] تهذیب الکمال: ۳٤۸/۱۸سیر أعلام النبلاء: ۳۲۷/٦تهذیب التهذیب: ٤۰٤/٦.
[12] سیر أعلام النبلاء: ۳۲٦/٦صفة الصفوة، الطبقات الثالثة من أهل مکة: ۲۱٦/۲.
[13] تهذیب الکمال: ۳٤۲/۱۸تهذیب التهذیب: ٤۰۲/٦.

امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه د ټولو نه د کتابونود لیکلوکار کونکې ابن جریج او ابن ابی عروبه رحمهما الله دی.[1] عطاء بن ابی رباح رحمه الله فرمائی: «سید شباب أهل الحجاز ابن جریج» [2] یعنی ابن جریج د اهل حجاز د ځوانانو سردار دې. یحیی بن سعید رحمه الله فرمائی: «وابن جریج أثبت من مالك في نافع» [3] یعنی ابن جریج رحمه الله د نافع رحمه الله نه په روایت کولوکښې د مالك رحمه الله نه زیات مضبوط دې. امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی «عمرو بن دینار وابن جریج أثبت الناس في عطاء» [4] یعنی عمرو بن دینار رحمه الله او ابن جریج رحمه الله د عطاء بن ابی رباح رحمه الله نه احادیث روایت کولوکښې د ټولو نه زیات مضبوط دې. نور فرمائی «کان من أوعیة العلم» [5] یعنی ابن جریج د علم نه ډك لوښی په شان وو. مخلد بن الحسین رحمه الله فرمائی «ما رأیت خلقا من خلق الله أصدق لهجة من ابن جریج» [6] یعنی ما د ابن جریج د خبرو اترو نه زیاتې خبرې اترې د چانه دی لیدلی.

امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی: «ابن جریج ثبت صحیح الحدیث لم یحدث بشئ إلا أتقنه» [7] یعنی ابن جریج رحمه الله د اعتمادقابل او صحیح الحدیث راوی دې هغه هیڅ یو روایت بغیرد پوخوالی نه دې روایت کړې. د یحیی بن معین رحمه الله نه تپوس اوکړې شو چه «ابن جریج أحب إلیك أو عبد الملك بن أبي سلیمان؟» یعنی تاسو د حدیث په معامله کښې ابن جریج ډیر خوښوئی که عبد الملك بن ابی سلیمان؟ نوهغوی اوفرمائیل «کلهما ثقتان» چه دواړه ثقه راویان دی.[8] د عطاء بن ابی رباح رحمه الله نه تپوس اوکړې شو «من نسأل بعدك یا أبا محمد؟» یعنی تاسو نه پس مونږ د حدیث په معامله کښې چاته رجوع اوکړو؟ نو هغوی اوفرمائیل «هذا الفتی – إن عاش – یعنی: ابن جریج» [9] یعنی د ابن جریج رحمه الله طرف ته ئې اشاره اوکړه وئې فرمائیل که چرې دا ځوان ژوندې وی نو زما نه پس ده طرف ته رجوع کوئی. علی بن عبدالله رحمه الله فرمائی: «لم یکن في الأرض أحد أعلم بعطاء من ابن جریج» [10] یعنی په دې زمکه باندې دعطاء (بن ابی رباح) علم د ابن جریج نه زیات پیژندونکې بل څوك نشته دې. امام عبدالرزاق رحمه الله فرمائی «ما رأیت أحسن صلاة من ابن جریج» [11] نور فرمائی چه: «کنت إذا رأیت ابن جریج علمت أنه یخشی الله» یعنی ما د ابن جریج په کتو سره معلوم کړې ووچه هغه د الله تعالی نه ویریدونکې دې.[12]

---

[1] تهذیب الکمال: ۳٤٦/۱۸سیر أعلام النبلاء: ۳۲۸/٦.
[2] تهذیب الکمال:۳٤۷/۱۸سیر أعلام النبلاء: ۳۲۸/٦.
[3] تهذیب الکمال:۳٤۸/۱۸سیر أعلام النبلاء: ۳۲۸/٦تهذیب التهذیب: ٤۰٤/٦.
[4] حواله بالا.
[5] تهذیب الکمال: ۳٤۹/۱۸سیر أعلام النبلاء: ۳۲۹/٦ تهذیب التهذیب: ٤۰٤/٦.
[6] تهذیب الکمال: ۳٥۱/۱۸سیر أعلام النبلاء: ۳۳۰/٦ تهذیب التهذیب: ٤۰٥/٦.
[7] الجرح والتعدیل: ٤۲۲/٥.
[8] حواله بالا.
[9] تهذیب الکمال: ۳٤۷/۱۸سیر أعلام النبلاء: ۳۲۸/٦تهذیب التهذیب: ٤۰٤/٦.
[10] سیر أعلام النبلاء: ۳۳۱/٦ الجرح والتعدیل: ٤۲۲/٥.
[11] تهذیب الکمال: ۳٥۱/۱۸سیر أعلام النبلاء: ۳۳۰/٦تهذیب التهذیب: ٤۰٥/٦.
[12] سیر أعلام النبلاء ۳۳۲/٦.

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی «صالح الحدیث»[۱] امام ابوزرعه رحمه الله فرمائی «بخ، من الأئمة» [۲] امام خراش رحمه الله فرمائی «کان صدوقا»[۳]. امام عجلی رحمه الله فرمائی «مکی ثقة»[۴]. ابن حبان د هغوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې.[۵] لیکن ابو الاثر رحمه الله دامام احمدبن حنبل رحمه الله نه نقل کوی چه «إذا قال ابن جریج (قال فلان) و (أخبرت) جاء بمناکیر، وإذا قال: (أخبرني) و (سمعت) فحسبك به» هم دغه شان ابوالحسن المیمونی رحمه الله هم دامام احمدبن حنبل رحمه الله نه نقل کوی چه «إذا قال ابن جریج (قال) فاحذره، وإذا قال: (سمعت) أو (سألت) جاء بشئ، لیس فی النفس منه شئ» [۶] یعنی که ابن جریج قال فلان یا أخبرت ونیلو سره حدیث نقل کړی نودغه حدیث مه اخلئی خوکه چرې سمعت یا سألت په شان الفاظو سره حدیث نقل کړی نودداسې احادیثو په صحت هیڅ کلام نشته دې.

یزید بن زریع رحمه الله فرمائی «کان ابن جریج صاحب غثاء» [۷] یعنی ابن جریج گډوډ کلام کونکې وو. مالك بن انس رحمه الله فرمائی «کان حاطب لیل» یعنی ابن جریج رطب ویابس جمع کونکې راوی وو.[۸].

د دې ټولو اقوالو حاصل دادې چه ابن جریج مدلس وو اوکله چه هغه قال فلان یا أخبرت وغیره په شان مبهم الفاظو سره روایت کوی نوهغه روایت د حجت قابل نه وی اوکله چه أخبرنا یاسمعت یاسألت وغیره په شان الفاظوسره روایت کوی نوهغه روایت د حجت قابل وی. بهرحال ابن جریج رحمه الله په اتفاق سره ثقه راوی دې. هم دغه وجه ده چه صحاح سته، مسند احمد، المعجم الکبیر للطبرانی وغیره د حدیث کتابونه د ابن جریج رحمه الله د روایاتونه ډك دی. چنانچه علامه ذهبی رحمه الله فرمائی «وروایات ابن جریج وافرة فی الکتاب السنة، وفی مسند أحمد ومعجم الطبراني الأکبر وفی الأجزاء»[۹]

اوحافظ ابن حجر رحمه الله ابن جریج رحمه الله په خپل کتاب طبقات المدلسین دریمه طبقه کښې ذکرکړې دې[۱۰] په دې دریمه طبقه کښې حافظ ابن حجر رحمه الله هغه مدلسین راجمع کړی دی د چا روایات چه ائمه حدیث په دې شرط باندې قبول کړی دی چه په هغې کښې د سماع وغیره تصریح وی خو بعض ائمه د دغه رواتو روایات علی الاطلاق رد کوی اوبعض علی الاطلاق قبول کوی.[۱۱]

علامه ذهبی رحمه الله د ابن جریج سره متعلق ټولو اقوال ذکرکولونه پس دهغوی باره کښې فیصله کونکې انداز کښې فرمائی: «الرجل فی نفسه ثقة، حافظ، لکنه یدلس بلفظة "عن" و "قال". وقد کان صاحب تعبد وتهجد»

---

[۱]) إکمال تهذیب الکمال: ۳۲۱/۸.

[۲]) إکمال تهذیب الکمال: ۳۲۱/۸.

[۳]) حواله بالا

[۴]) حواله بالا.

[۵]) ۹۳/۷.

[۶]) تهذیب الکمال: ۳۴۸/۱۸سیر أعلام النبلاء: ۳۲۸/۶تهذیب التهذیب: ۴۰۴/۶.

[۷]) تهذیب الکمال: ۳۴۹/۱۸سیر أعلام النبلاء: ۳۲۹/۶.

[۸]) حواله بالا

[۹]) سیر أعلام النبلاء: ۳۳۲/۶.

[۱۰]) طبقات المدلسین: ۴۱/۱ مکتبة المنار.

[۱۱]) طبقات المدلسین مقدمة ابن حجر: ۱۳/۱.

ومازال يطلب العلم حتى كبر وشاخ» [1] هم علامه ذهبي رحمه الله فرمائي چه ابن جريج رحمه الله به اجازه او مناوله غوند طرق سره هم حديث روايت كولو او په دې كښې به ئې د توسيع نه كار اخستلو. [2] چنانچه پخپله ابن جريج رحمه الله فرمائي: «لم أسمع من الزهري، إنما أعطاني جزءا كتبته، وأجازه لي» ما د زهري رحمه الله نه هيڅ نه دي اوريدلي (البته) هغوى ماته يوه نسخه راكړه كوم چه ما اوليكله او هغه ماته د دې نه د حديث روايت كولو اجازت راكړو. [3] هم دغه شان ابو بكر بن ابى سبره رحمه الله فرمائي چه ماته ابن جريج د جيد احاديثو ليكلو اوونيل نوماد هغه د پاره داسې زر احاديث اوليكل اود هغه طرف ته مې اوليګل. نه ما دغه احاديث په هغه باندې اولوستل اونه هغه زما په وړاندې دا اولوستل. [4] ددې قصې نه پس محمدبن عمر رحمه الله فرمائي چه ماد ابن جريج رحمه الله نه واوريده چه هغه به د ډيرو زياتو احاديثو سندونه داسې بيانول «حدثنا أبوبكر بن أبي سبرة» [5]

بل عبد الرحمن بن ابى الزناد رحمه الله فرمائي چه ما ابن جريج رحمه الله اوليدلو چه هغه هشام بن عروه رحمه الله له راغلو او هغوى ته ئې اوونيل: «يا أبا المنذر! الصحيفة التي أعطيتها فلانا هي من حديثك؟ قال: نعم!» چه اې ابو منذر كومه نسخه چه تاسو فلانكي ته وركړې ده آيا هغه هم ستاسو احاديث دي؟ نو هشام بن عروه رحمه الله اوفرمائيل اوجي. دې نه پس محمدبن عمر رحمه الله فرمائي چه ما ابن جريج رحمه الله داسې سند بيانولو سره واوريدو: «حدثنا هشام بن عروة» [6]

جرير الضبي رحمه الله فرمائي چه ابن جريج رحمه الله به متعه جائز ګڼړله اوهغه شپيتو ښځو سره متعه كړې. [7]

خو امام شافعي رحمه الله فرمائي ابن جريج رحمه الله اوياؤ ښځو سره متعه كړې. [8]

دا صحيح ده چه ابن جريج رحمه الله په فقهي توګه باندې د متعه د جواز قائل وو ليكن په دې سره دهغه شيعه كيدل په يوشان هم نه ثابتيږي. هم دغه وجه ده چه حافظ ابن حجر رحمه الله هدي الساري كښې كله دغه روات ذكر كړل په كوم چه طعن كړې شوې دې نو په دغه فهرست كښې ابن جريج شامل نه وو. [9]

بل يو زمانه پس ابن جريج رحمه الله د خپلې دې نظريې او فتوې نه رجوع كړې وه. [10]

د ابن جريج رحمه الله د تاريخ وفات په حواله سره مختلف اقوال دي: يحيى بن سعيد القطان، مكي بن ابراهيم، ابونعيم او نور محدثين رحمهم الله فرمائي چه د ابن جريج رحمه الله انتقال ۱۵۰ هجري كښې شوې او امام علي بن المديني رحمه الله فرمائي چه ۱۵۱ هجري كښې انتقال شوې. [11]

---

[1] سير أعلام النبلاء: ۳۳۲/٦.

[2] سير أعلام النبلاء: ۳۳۲/٦.

[3] إكمال تهذيب الكمال: ۳۱۹/۸.

[4] إكمال تهذيب الكمال: ۳۱۹/۸.

[5] إكمال تهذيب الكمال: ۳۱۹/۸.

[6] إكمال تهذيب الكمال: ۳۱۹/۸.

[7] سير أعلام النبلاء: ۳۳۱/٦.

[8] إكمال تهذيب الكمال: ۳۲۳/۸.

[9] هدى الساري الفصل التاسع: ٥٤٨.

[10] التفسير المظهري: ۷۷/۲.

[11] سير أعلام النبلاء: ۳۳٤/٦ تهذيب الكمال: ۳٥۲/۱۸ تقريب التهذيب: ٦۱۷/۱

هشام: داد عروة بن الزبير بن العوام رحمه الله خوني دې. د دوی مختصر حالات بدء الوحي دویم حدیث لاندې [1] اوتفصیلی حالات كتاب الإيمان باب أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تيرشوی دی. [2]

عروة: دا عروة بن الزبير بن العوام رحمه الله دې. د دوی مختصر حالات بدء الوحي دویم حدیث لاندې [3] اوتفصیلی حالات كتاب الإيمان باب أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تيرشوی دی. [4]

عائشة: دا ام المؤمنين سيده عائشه بنت ابی بكر الصديق رضي الله عنهما ده. د دوی حالات بدء الوحي دویم حدیث لاندې تيرشوی دی. [5]

شرح حديث

قوله:: كل ذلك على هين: ددې جملې نه وړاندې چه کومه جمله استفهاميه ذکر ده يعنی «أتخدمني أوتدنو؟» نودا په دې خبره باندې دلالت کوی چه كل ذلك نه مقصود د جواز خدمت او د قرب د جواز طرف ته اشاره کول دی زما په نيز په دې دواړو کښې څه حرج نشته. [6]

چه دا اشکال نه وی ذلك نه دتثنيه طرف ته څنګه اشاره ده؟ ځکه چه په ذلك سره د تثنيه طرف ته هم اشاره کيږی چنانچه په قرآن پاك کښې دی: ﴿عَوَانٌ بَيْنَ ذَٰلِكَ﴾ [7] أي: ماذكر من الفارض والبكر. [8]

قوله:: وكل ذلك: ددې دويمې جملې نه مراد حائضه او جنبی دې. [9]

قوله:: وليس على أحد في ذلك بأس: د ظاهری کلام تقاضا خو داوه چه حضرت عروه بن الزبير رحمه الله خپل طرف ته نسبت کولوسره داسې فرمانې: «ليس على الخ». ليکن هغوی د عموم قصد کولوسره مبالغةً داسې کلام راوړلو په کوم کښې چه دهغوی ذات دټولو نه اول داخل دې يعنی صرف زما دپاره نه بلکه د هيچا پاره هم څه حرج نشته. [10] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمانی چه حضرت عروه رحمه الله جنابت د حيض تابع کړې دې چه د حيض حکم خودلوسره داسې اشاره اوکړه چه کله د حيض داحکم دې نود جنابت به په طريقه اولی هم دغه حکم وی ځکه چه د حيض خيرې اوګندګی د جنابت نه زيات دې. دغه شان خدمت په هم د ترجيل تابع کړې دې. [11]

---

[1] كشف الباري: ٢٩١/١.
[2] كشف الباري: ٤٣٢/٢.
[3] كشف الباري: ٢٩١/١.
[4] كشف الباري: ٤٣٦/٢.
[5] كشف الباري: ٢٩١/١.
[6] عمدة القاري: ٣٨٤/٣.
[7] عمدالقاري: ٣٨٤/٣|رشادالساري: ٥٣٦/١.
[8] التفسير المظهري: ٨٢/٢.
[9] عمدالقاري: ٣٨٤/٣|رشادالساري: ٥٣٦/١.
[10] عمدة القاري: ٣٨٤/٣.
[11] فتح الباري: ٥٢٩/١.

هم دا خبره علامه عيني رحمه الله بيانولوسره فرمائي چه حديث صرف د حائضه نه د خدمت اخستلو په جواز باندې دلالت کوي او د جنبي نه په جواز قرب باندې ددې حديث نه دلالت قياسي دې.[1]

قوله:: مجاور: أي: معتكف. [2] مجاور "جوار" نه ماخوذ دې د کوم معنی چه داعتکاف ده.[3] دحضرت عائشه رضي الله عنها حجره جمات سره ملاؤشوې وه.[4]

احکام ومسائل: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه ددې روايت نه معلومه شوه د حائضه بدن اودهغې خوله پاکه ده اود کوم مباشرت نه چه معتکف منع کړې شوې دې دهغې نه مراد جماع او مقدمات جماع دي.[5]

دغه شان ددې روايت نه معلومه شوه که چرې معتکف خپل سر يا لاس يا خپې د جمات نه بهراوباسی نو اعتکاف نه فاسد کيږي. اودې نه دا هم معلومه شوه چه د ښځې نه په غسل وغيره کښې خدمت اخستل دهغې په رضامندئ سره جائز دی ليکن بغيرد مرضئ نه جائزنه دې. ځکه چه په هغې باندې خو ضروري او لازم صرف د کوروالی تعلق کښې اتباع اود خاوند په کورکښې هروخت اوسيدل دی. بل ددې روايت نه معلومه شوه چه حائضه جمات کښې نه شی داخليدلې.[6]

لطيفه: په دې پورتنی حديث کښې دا لطيفه ده چه د ابن جريج د شاګردنوم هم هشام دې اود استاذ نوم هم هشام دې ليکن شاګرد دې هشام بن يوسف او استاذ دې هشام بن عروه.[7]

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: ددې حديث ترجمة الباب سره مناسبت لاندې هم هغه تفصيلی بحث دې کوم چه د سابقه حديث لاندې تيرشوې دې.

۳-باب: قِرَاءَةِ الرَّجُلِ فِيْ حَجْرِ امْرَأَتِهِ وَهِيَ حَائِضٌ

قوله:: الحجر: په فتحه د حاء او کسره اوسکون د جيم د غيږې په معنی کښې راغلې ددې جمع حجور ده اود في حجر امرأته محل اعراب داددې چه دا منصوب على الحال دې اوتقديري عبارت داسې دې: «قراءة الرجل حال كونه متكئا على حجر امرأته» اوکله في د على په معنی کښې ده. كمافي قوله تعالى: ﴿ فِيْ جُذُوْعِ النَّخْلِ ﴾ أي: على جذوع النخل.[8]

ماقبل سره ربط: دواړو ابوابوکښې مناسبت دادې چه په دواړوکښې حائضه سره متعلق يويو حکم بيان شوې دې.[9]

---

[1] عمدة القاري: ۳/ ۳۸٤.

[2] فتح الباري: ۱/ ۵۲۹عمدة القاري: ۳/ ۳۸٤إرشادالساري: ۱/ ۵۳٦.

[3] النهاية لابن الأثير: ۱/ ۳۰۷.

[4] فتح الباري: ۱/ ۵۲۸عمدة القاري: ۳/ ۳۸٤.

[5] فتح الباري: ۱/ ۵۲۹.

[6] عمدة القاري: ۳/ ۳۸۵-۳۸٤.

[7] فتح الباري: ۱/ ۵۲۸عمدة القاري: ۳/ ۳۸٤.

[8] عمدة القاري: ۳/ ۲٦۰-۲۵۹إدارة الطباعة المنيرية.

[9] عمدة القاري: ۳/ ۲٦۰إدارة الطباعة المنيرية.

د ترجمة الباب مقصد

د ابن بطال رحمه الله او ابن ملقن رحمه الله رائې: د ابن بطال رحمه الله او ابن ملقن رحمه الله رائې داده چه ددې ترجمة الباب نه د امام بخاري رحمه الله مقصد د حائضه دپاره **حمل مصحف بالعلاقه** (غلاف سره قرآن پاك اوچتول) اود قرآن كريم قراءت كولو جواز خودل دى.[۱] په دې رائې باندې تقدير كولوسره علامه عينى رحمه الله فرمائى په حديث كښې هيڅ څه اشاره.دمذكوره حمل متعلق نشته دې. په حديث كښې خو اتكاء ده كوم چه غير حمل دې اود يوسړى په حجر حائض كښې كيدو سره د حمل جواز نه راؤخى.[۲]

دعلامه كرمانى رحمه الله او علامه عينى رحمه الله رائې: اوپخپله دعلامه كرمانى رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله رائې داده چه دامام بخاري رحمه الله مقصد جواز قراءت قرب موضع الجناسه (د نجاست ځائى سره نيزدې د قراءت جواز) خودل دى. [۳]بل علامه كرمانى رحمه الله هم د ابن بطال رحمه الله رائې ذكركولونه پس په دې باندې رد كړې دې.[۴] دكوم سره متعلق چه علامه عينى رحمه الله فرمائى د علامه كرمانى رحمه الله د ردتعلق د قرآن پاك دقراءت د جواز سره دې خكه چه په حديث باندې داسې هيڅ څه څيز نشته په كومن سره چه جوازِ قراءتِ قرآن للحائض (د حائضه دپاره د قرآن كريم تلاوت جائز كيدو) باندې استدل اوشى. [۵]

ليكن ددې نه باوجود دې حضراتو (علامه كرمانى رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله) په بيان كړې شوې رائې باندې هم اشكال كيږى اوهغه داچه اول خودا مسئله (د نجاست ځائى سره نيزدې د قراءت جواز) څه اهمه مسئله نه وه، په كوم چه امام بخاري رحمه الله ته د تنبيه ضرورت پيښ شو اوكه چرې هم دغه مقصد ئى وې نو په ځائى د «قراءة الرجل في حجر امرأته» به ئى «قراءة الرجل بقرب النجاسة» ترجمه قائم كوله.

دعلامه انورشاه كشميرى رحمه الله رائې: د علامه انورشاه كشميرى رحمه الله رائې داده چه امام بخاري رحمه الله په دې باب كښې داخودل غواړى چه د حائضه ښځې په غيږ كښې سر كيخودو سره د قرآن كريم تلاوت كول جائز دى. دې نه پس فرمائى چه دغه شان مسئله د احنافو په نيز هم ده اود فقه په كتابونوكښې چه كومه دامسئله ده چه مړى ته دغسل وركولونه وراندې دهغه د جنازې سره نيزدې كيناستل يا بل داسې پليت څيزسره خواكې د قرآن مجيدتلاوت كول مكروه دى.[۶] نودا مسئله او په باب كښې ذكرشوې مسئله كښې د فرق وجه داده چه دحائضه ښځې نجاست د كپړو لاندې پټ دې خكه چه كه دهغې لباس پاك وى نوكراهت به هم نه وى.[۷]

دشيخ الحديث زكريا رحمه الله رائې: حضرت شيخ الحديث زكريا رحمه الله فرمائى چه شارحينو حضراتو ددې ترجمة الباب مختلف اغراض بيان كړى دى مګر زما په نيز د ټولو نه بهتره توجيه هم هغه ده كومه چه

---

[۱] شرح ابن بطال: ۴۱۹/۱.
[۲] عمدة القارى: ۲۶۱/۳.
[۳] عمدة القارى: ۲۶۱/۳شرح الكرمانى: ۱۶۳/۳.
[۴] شرح الكرمانى: ۱۶۳/۳-۱۶۲.
[۵] عمدة القارى: ۲۶۱/۳.
[۶] البحرالرائق: ۳۰۱/۲دارالكتب العلمية الدرالمختارمع ردالمحتار: ۸۴/۳-۸۳دار عالم الكتب.
[۷] فيض البارى: ۸۸/۱-۴۸۷أنوارالبارى: ۳۷۵/۱۰.

علامه ابن بطال رحمه الله او ابن ملقن رحمه الله وغيره ذكر كړي ده چه دامام بخاري رحمه الله مقصد حمل مصحف بالعلاقه جواز خودل دی. یعنی د امام بخاری رحمه الله مقصد یومختلف فیه مسئله طرف ته اشاره کول دی اوهغه داده چه آیا حائضه او جنبی غلاف یا جزوان وغیره سره قرآن کریم اوچتولې شی که نه؟ نوامام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب سره د حمل د جواز طرف ته اشاره کړې ده اود حضرات حنفیه او حنابله د مذهب تائیدئې کړې دې ځکه چه ددې حضراتو هم دغه مذهب دې او هم په دې کښې په مالکیه او شوافع باندې رد هم دې ځکه چه هغوی د عدم جواز قائل دی.

ددې نه علاوه دعلامه کرمانی رحمه الله رائې ذکرکولونه پس په هغه باندې رد کولوسره فرمائی چه علامه کرمانی رحمه الله چه د علامه ابن بطال رحمه الله په رائې سره دعدم اتفاق اظهارکړې دې نو په دې کښې څه د حیرانتیا خبره نشته ځکه چه هغه شافعی دې اودا ویناکول به کله هم برداشت نه کړی چه دامام بخاری رحمه الله مقصد په شوافع باندې رد دې. باقی چونکه د امام بخاری رحمه الله د تراجم شایان شان هم دغه دې چه په دې سره د یواختلافی مسئلې طرف ته اشاره وی نه چه د یو متفق علیه مسئلې طرف ته. په دې وجه هم هغه توجیه بهتر ده کومه چه علامه ابن بطال رحمه الله وغیره ذکرکړې.(۱)

دې نه علاوه شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمائی چه حافظ ابن حجر رحمه الله هم د ترجمة الباب نه هم هغه مقصد ګنړلې کوم چه علامه ابن بطال رحمه الله بیان کړې دې خو په واضحه الفاظو کښې ددې رائې اظهار نه دې کړې. چنانچه حافظ ابن حجرفرمائی: «وذلك مصير منهما إلى جواز حمل الحائض المصحف لكن من غير مسه، مناسبته لحديث عائشة من جهة أنه نظر حمل الحائض العلاقة التي فيها المصحف بحمل الحائض المؤمن الذي يحفظ القرآن، لأنه حامله في جوفه وهوموافق المذهب أبي حنيفه رحمه الله» ترجمه: ددې دواړو تابعینود اثر نه معلومه شوه چه هغوی بغیرد مس حمل مصحف د حائضه دپاره جائز ګنړل اوددې ترجمة الباب مناسبت حدیث عائشه رضي الله عنها سره داسې دې چه امام بخاری رحمه الله علاقه (جزوان) سره دحائضه حمل مصحف ته، د حائضه مومن په غیر کښې د اخستلو په شان ګرځولې دې چه د هغه په سینه کښې هم قرآن مجید دې اوهغه (امام بخاری رحمه الله) په دې مسئله کښې د امام ابو حنیفه رحمه الله د مذهب موافق دې.(۲)

ددې کلام نه صفا او په واضحه توګه سره معلومیږی چه د صاحب کلام رائې هم هغه ده کومه چه د علامه ابن بطال رحمه الله او علامه ابن ملقن رحمه الله وغیره ده. شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمائی چه زما په نیز دا ترجمه د شیخ الهند رحمه الله د بیان کړې شوی اصول تراجم نه یوویشتم اصل سره متعلق ده.(۳)

وَكَانَ أَبُو وَائِلٍ: يُرْسِلُ خَادِمَهُ وَهْىَ حَائِضٌ إِلَى أَبِي رَزِينٍ، فَتَأْتِيهِ بِالْمُصْحَفِ، فَتُمْسِكُهُ بِعِلَاقَتِهِ. یعنی ابوائل رحمه الله به خپله وینځه دحیض په حالت کښې ابورزین رحمه الله له ورلیګله او خادمه به قرآن مجید دهغه ځائی نه جزوان کښې اینغښتلې شوې په خپل لاس سره نیولې راوړلو.

---

(۱) لامع الدراری: ۲۴۲-۲/۲۴۳الکنزالمتواری: ۲۵۲/۳-۲۵۱.

(۲) الکنزالمتواری: ۲۵۲/۳لامع الدراری: ۲۴۳/۲.

(۳) حواله بالا، وذلک الأصل الحادی والعشرون أن الإمام البخاری رحمه الله کثیراً ما یترجم بجزء من الحدیث أو بکلام اخر، ولا یرید بلفظ الترجمة مدلوله الأصلی اللفظی الصریح، بل یرید مدلوله الا لتزامی الثابت بالإشارة والإیمان، فمایورد فی الباب یکون موافقاللثانی، ومن أراد تطبیقه بالأول أی: المدلول اللفظی یقع فی التخبط، کما یظهر من أول أبوابه...... الخ (الکنزالمتواری: ۳۶۷/۱-۳۶۶).

د تعليق تخريج: د ابووائل رحمه الله دا اثر ابن ابی شيبه رحمه الله په صحيح سندسره موصولاً ذکر کړی دی. هغوی فرمائی ((حدثنا جرير عن مغيرة: كان أبو وائل.......))[1]

دتعليق ترجمة الباب سره مناسبت

دعلامه ابن ملقن رحمه الله رائې: علامه ابن ملقن رحمه الله فرمائی چه ددې مذکوره اثر ترجمة الباب سره مناسبت دادې چه کله امام بخاری رحمه الله د حائضه دپاره د جزوان په ذريعه دحمل مصحف جواز بيان کړو نود دې مثال ئې حافظ قرآن اوګرځولو چه دهغه په سينه کښې قرآن وی. نولکه څنګه چه د حائضه دپاره جائز دی چه هغه د جزوان په ذريعه قرآن مجيد اوچت کړی هم دغه شان د حافظ قرآن دپاره هم حجر حائضه (د حائضه غيږ) کښې تلاوت د کلام الله هم جائز دې. په داسې معنی چه د حائضه لباس په منزله د جزوان وی او پخپله حافظ قرآن په منزله د مصحف اوکلام پاک وی.[2]

چنانچه علامه ابن ملقن رحمه الله حديث عائشه رضی الله عنها (کوم چه هم په دې باب کښې ذکر دې) ترجمة الباب سره مناسبت بيانولو سره هم دغه ليکی چه د امام بخاری رحمه الله مقصد د حائضه دپاره جزوان سره د حمل مصحف جواز بيانول دی. نو په حديث کښې ددې دليل او مثال موجود دې چه حضورپاك به په حجر عائشه رضی الله عنها کښې تلاوت فرمائيلو سره د دې چه هغه به د حيض په حالت کښې وه. نوثياب د عائشه بی بی رضی الله عنها په منزله د علاقه اوجزوان شو اوشارع عليه السلام په منزله د مصحف اوقرآن مجيد شو يعنې د حائضه دپاره حمل مصحف جزوان سره جائزدې لکه چه څنګه به حضرت عائشه رضی الله عنها د خپل لباس په ذريعه حضورپاك تلاوت کولوسره اوچت کړې وو کوم چه په منزله د مصحف دې ځکه چه رسول الله صلی الله عليه وسلم حامل قرآن دې.[3]

دعلامه عينی رحمه الله رائې: علامه عينی رحمه الله فرمائی چه ترجمه او په مذکوره اثرکښې مناسبت دادې چه په دواړو کښې د حائضه دپاره د دوو جائزوخبرو ذکرشوی دې. مطلب داچه څنګه د حائضه په غيږکښې يوسړې د کلام پاك تلاوت کولې شی دغه شان حائضه د جزوان په ذريعه قرآن مجيدهم اوچتولې شی. د اول ذکر په ترجمه کښې دې او د دويمې خبرې ذکر په اثرکښې دې. ددې نه د زيات مناسبت توجيهات راويستل به د تکليف نه خالی نه وی.[4]

د حافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله د اثر او حديث عائشه رضی الله عنها په مينځ کښې مناسبت بيانولوسره چه کوم کلام کړې دې دهغې نه معلوميږی چه د هغوی په نيز هم ترجمة الباب او اثرکښې هم هغه مناسبت دې کوم چه علامه ابن الملقن رحمه الله بيان کړې دې. البته د دواړو په طرز کلام کښې دومره فرق ضرور ښکاری چه علامه ابن ملقن رحمه الله خو ثياب حائضه په منزله د جزوان او شارع عليه السلام په منزله د مصحف ګرځولې دې.[5] نو حافظ ابن حجر رحمه الله مؤمن په منزله د جزوان او زړه دمؤمن په منزله د مصحف ګرځولې دې.[6]

---

[1] مصنف ابن أبي شيبة كتاب الصلاة باب الرجل على غير وضوء والحائض يمسان المصحف؟: ۵/۱۳۸-۱۳۷رقم الحديث: ۷۵۰۰رقم الباب: ۶۵۰ إدارة القرآن والعلوم الإسلامية.

[2] التوضيح لشرح الجامع الصحيح لابن الملقن رحمه الله:٢٤/٥.

[3] التوضيح لشرح الجامع الصحيح لابن الملقن رحمه الله:٢٤/٥.

[4] عمدة القاري: ۲۶۰/۳إدارة الطباعة المنيرية.

[5] التوضيح: ٢٤/٥.

[6] فتح الباري: ۵۲۹/۱.

دعلامه رشيداحمدگنگوهي رحمه الله **رائې:** علامه رشيداحمدگنگوهي رحمه الله فرمائي چه مذکوره اثر د ترجمة الباب دپاره مؤيد کيدل ښکاره دی اوهغه داسې چه په مذکوره اثرکښې نقوش سره د تلبس او تعلق ذکردې او ترجمة الباب کښې الفاظوسره د تلبس او تعلق ذکردې او هم دواړه (نقوش اوالفاظ) محترم اود تعظيم لائق دی.(۱) شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائي چه ترجمة الباب لاندې چه دترجمه کوم غرض مونږ بيان کړې دې (يعنې د حائضه دپاره دجزوان په ذريعه د حمل مصحف جواز) نودا مذکوره اثر هم د دغه غرض د تعيين دپاره دې.(۲)

تنبيه: شاته دا خبره تيره شوې ده چه د حائضه دپاره د جزوان په ذريعه د قرآن مجيد د اوچتولو مسئله مختلف فيه ده. چنانچه په ائمه اربعه کښې امام ابوحنيفه رحمه الله او امام احمد رحمه الله د جواز او امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله د عدم جواز قائل دی. د علامه عيني رحمه الله نه دلته د مذاهب په نقل کولو کښې يوه غلطي شوې ده اوهغه دا چه هغوی قول د جوازد ائمه اربعه مذهب گرځولې دې. شيخ زکريا رحمه الله فرمائي دا په ظاهره د کاتب يا طباعت غلطي معلوميږي چه لفظ د مالك نه وړاندې ومنعه پاتې شوې دې. په دې باندې دې دا اشکال نه وی چه بيا خو امام احمد رحمه الله دماليکه او شوافع د ډلې نه شو خکه چه دا په ضعيف روايت باندې محمول دی او صحيح هم دغه دی چه امام احمد رحمه الله د جواز قائل وو. چنانچه امام موفق رحمه الله دامام احمد مذهب اود امام ابوحنيفه رحمه الله د مذهب موافق گرځولو نه پس فرمائي چه: ((وخرج القاضي رواية أخرى أنه لا يجوز، والصحيح جوازه))چه قاضي رحمه الله د امام احمد رحمه الله نه د عدم جواز د روايت هم تخريج کړې دې او صحيح قول هم د جواز دې.(۳)

(فتمسكه بعلاقة): العلاقة په کسرسره هغه رسئی اوتار ته وائی په کوم سره چه جزوان تړلې کيږی.(۴) علامه عيني رحمه الله فرمائي چه علاقه هغه ده کوم سره چه مصحف زوړند کړې شی. هم دغه شان ((علاقة السيف وعلاقة القوس والسوط)) وغيره وی.(۵)

قوله::أبووائل: دا مشهور تابعي ابووائل شقيق بن سلمه رحمه الله دې. د دوی تفصيلي حالات ((كتاب الإيمان باب خوف المؤمن من أن يحبط عمله وهو لا يشعر)) لاندې تيرشوی دی.(۶)

قوله::أبورزين: دا مشهور تابعي ابورزين مسعود بن مالك اسدی کوفي مولى ابي وائل رحمه الله دې. دوی د معاذ بن جبل، ابن مسعود، عمرو بن ام مکتوم، علی بن ابی طالب، ابوموسی اشعری، ابوهريره، ابن عباس، مصدع ابی يحيی او فضل بن بندار رضي الله عنهم وغيره د حديث روايت کړې.
اوددوی نه روايت کونکوکښې دهغوی خوئی عبدالله، اسماعيل بن ابی خالد، عاصم بن ابی النجو، عطابن السائب، اعمش، منصور، موسٰ بن ابی عائشه، اسماعيل بن سميع، مغيره بن مقسم، زبير بن عدی اوعلقمه بن مرثد رحمهم الله وغيره شامل دی.(۱)

---

(۱) لامع الدراري: ۲/ ۲٤٤الكنز المتواري:۳/ ۲۵۲.
(۲) لامع الدراري: ۲/ ۲٤٤الكنز المتواري:۳/ ۲۵۲.
(۳) لامع الدراري: ۲/ ۲٤٤الكنز المتواري:۳/ ۲۵۲.
(۴) مجمع الأنوار: ۳/ ۶۵۷الكوثر الجاري: ۱/ ٤٤۹.
(۵) عمدة القاري: ۳/ ۲۶۰.
(۶) كشف الباري: ۲/ ۵۵۹.

امام ابوزرعه رحمه الله فرمائی «اسمه مسعود، کوفی ثقة».[2] ابن حبان رحمه الله دهغوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې.[3] امام عجلی رحمه الله فرمائی «مسعود أبورزين الأسدي: كوفي ثقة».[4] دلته دې داخبره واضحه وی چه ابوزرین اسدی دوه دی. یو ابوزرین الأسدی المسمی به عبید دې.[5] اودویم ابو زرین الاسدی مسعودبن مالك دې. هم دغه شان مسعود بن مالك هم دوه دی. یوخو هم دغه ابو زرین مسعود بن مالك اسدی کوفي دې او دویم مسعود بن مالك بن معبد اسدي کوفی دې.[6]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د اشتباه سبب امام اعمش رحمه الله دې ځکه چه امام اعمش رحمه الله دواړه (مسعود بن مالك بن معبد او مسعود بن مالك ابوزرین) نه حدیث روایت کړې دې. خوهغوی دواړه خپل نومونه دخپل والد په نوم د قبیلې طرف ته نسبت او د ښارطرف ته نسبت کښې متفق دی. نور فرمائی ددې تولو خبرو حاصل دادې چه دابوزرین په نوم کښې اختلاف دې او اصح دادې چه ابو زرین هم دغه مسعود بن مالك دې. ددې دواړو په ولاء کښې هم اختلاف دې. (چنانچه مسعودبن مالك بن معبد اسدی کوفی مولی سعید بن جبیر دې او مسعودبن مالك ابوزرین مولی ابی وائل دې) او مسعود بن مالك بن معبد چه کوم د سعیدبن جبیر رحمه الله نه روایت کوی، ابوزرین د مسعودبن مالك نه ډیر وړوکې دې مګر دا چه په نوم کښې دواړه مشترك دی او زما خیال دادې چه چه ابوزرین المسمی به عبید هم هغه دې ځوك چه په کال ۶۰هجری کښې یاددې نه وړاندې دابن زیاد په دورکښې قتل کړې شوې وو اود دویم ابوزرین المسمی به مسعودبن مالك انتقال تقریباً ۹۰هجری کښې شوې. چنانچه ابن قانع د مسعوبن مالك ابوزرین د وفات تاریخ کال ۸۵هجری بیان کړې دې.[7] بل دا چه مسعودبن مالك ابوزرین رحمه الله د صحاح سته راوی دې.[8]

الحديث

[۲۹۳]- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ الفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ، سَمِعَ زُهَيْرًا، عَنْ مَنْصُورِ بْنِ صَفِيَّةَ، أَنَّ أُمَّهُ، حَدَّثَتْهُ أَنَّ عَائِشَةَ حَدَّثَتْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَانَ يَتَّكِئُ فِي حَجْرِي وَأَنَا حَائِضٌ، ثُمَّ يَقْرَأُ القُرْآنَ»[9] [۷۱۱۰]

---

[1] تهذیب التهذیب: ۱۱۸/۱۰د تلامذه او مشائخ د تفصیل دپاره اوګورئ: تهذیب الکمال: ۴۷۷/۲۷.
[2] تهذیب الکمال: ۴۷۸/۲۷.
[3] ۴۴۰/۵.
[4] تهذیب التهذیب: ۱۱۹/۱۰.
[5] تهذیب الکمال: ۴۷۹/۲۷ تهذیب التهذیب: ۱۱۸/۱.
[6] تهذیب الکمال: ۴۷۷/۲۷-۴۷۵ تهذیب الکمال: ۱۱۸/۱۰-۱۱۷ کتاب المتفق والمفترق: ۵۷۶/۳-۵۷۷رقم الصفحه المسلسل: ۱۹۸۷-۱۹۸۶رقم الترجمة: ۱۴۱۰.
[7] تهذیب التهذیب: ۱۱۹/۱۰تقریب التهذیب: ۱۷۲/۲رقم الترجمة: ۶۶۳۳ تحفة التحصیل فی ذکر رواة المراسیل ص: ۳۰۱.
[8] تقریب التهذیب: ۱۷۶/۲ عمدة القاری: ۲۶۰/۳.
[9] قوله: "عائشة الحدیث رواه البخاری رحمه الله فی کتاب التوحید أیضاً فی باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: "الماهر بالقرآن مع الکرام البررة" رقم الحدیث: ۷۵۴۹ ومسلم فی کتاب الحیض باب جواز غسل الحائض رأس زوجها وترجیله، رقم الحدیث: ۶۹۳ وأبوداؤد فی کتاب الطهارة باب مؤاکلة الحائض ومجامعتها رقم الحدیث: ۲۶۰ والنسائی فی کتاب الحیض باب الرجل یقرأالقرآن ورأسه فی حجر امرأته وهی حائض رقم الحدیث: ۲۷۵جامع الأصول فی أحادیث الرسول رقم الحدیث: ۵۳۹۵ ۳۵۰/۷ دارالفکر.

ترجمه: حضرت عائشه رضی الله عنها بیان اوفرمائیلو چه نبی کریم ﷺ به زما په غیږکښې سرمبارك کیخودو سره قرآن مجید لوستلو حالانکه زه به هغه وخت حائضه ووم.

تراجم رجال

أبونعیم الفضل بن دکین: دا مشهو محدث ابونعیم الفضل بن دکین الملائی لکوفی الاحول رحمه الله دې. ددوی تفصیلی حالات کتاب الایمان باب فضل من استبرألدینه لاندې تیرشوی دی. (۱)

زهیربن معاویة: دا زُهیر- بالتصغیر- بن معاویه بن خدیج- بضم الحاء المهملة وفتح الدال المهملة وبالجیم- بن الرحیل- بضم الراء المهملة وفتح الحاء المهملة- بن زهیربن خیثمه جعفی کوفی رحمه الله دې. ددوی کنیت ابوخیثمه دې. ددوی تفصیلی حالات کتاب الایمان باب الصلاة من الایمان لاندې تیرشوی دی. (۲)

منصور ابن صفیة: دا منصوربن عبدالرحمن بن طلحه بن حارث بن طلحه بن ابی طلحه بن عبدالعزیز بن عثمان بن عبدالدار بن قصی القرشی العبدری الحجبی المکی رحمه الله دې.(۳) دې دخپلې مور صفیه بنت شیبه د شهرت د وجې نه هم دهغې طرف ته منسوب دې.(۴)

هغه د خپلې مور صفیه بنت شیبه، خپل ماما مسافع بن شیبه الحجبی، سعیدبن جبیر، محمدبن عباد بن جعفر اوابوسعید مولی ابن عباس رحمهم الله وغیره نه د حدیث روایت کړې دې. اوددوی نه ددوی رور محمد، زائده، ابن جریج، وهیب، زهیربن معاویه، زهیر بن محمد، معروف بن مشکان، داؤد بن عبدالرحمن العطار، فضیل بن سلمیان، سفیان ثوری اوابن عیینه رحمهم الله وغیره د حدیث روایت کوی.(۵)

ابوحاتم رحمه الله فرمائی «صالح الحدیث»(۶) اثرم رحمه الله فرمائی چه امام احمدبن حنبل رحمه الله اوابن عیینه رحمه الله د منصورابن صفیه تعریف کړې دې(۷) ابن سعد رحمه الله فرمائی «کان ثقة قلیل الحدیث»(۸) امام نسائی رحمه الله فرمائی ثقة(۹) ابن حبان رحمه الله دهغوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې.(۱۰) ابن عیینه رحمه الله فرمائی «کان یبکی وقت کل صلاة»(۱۱) علامه ذهبی رحمه الله فرمائی «مکی صدوق»(۱۲) لیکن ابن حزم رحمه الله

---

۱) کشف الباري: ۲/۶۶۹.

۲) کشف الباري: ۲/۳۶۷.

۳) تهذیب التهذیب: ۱۰/۳۱۰.

۴) فتح الباري: ۱/۵۲۹.

۵) تهذیب التهذیب: ۱۰/۳۱۰شانخ اوتلامذه دتفصیل دپاره اوګورئی تهذیب الکمال: ۲۸/۵۳۹-۵۳۸کتاب المتفق والمفترق: ۳/۵۱۲رقم الصفحه المسلسل: ۱۹۲۲رقم الترجمة: ۱۳۴۱.

۶) الجرح والتعدیل: ۸/۲۱۰.

۷) حواله بالا.

۸) تهذیب التهذیب: ۱۰/۳۱۰.

۹) میزالاعتدال: ۴/۱۸۶رقم الترجمة: ۸۷۸۷تهذیب التهذیب: ۱۰/۳۱۰.

۱۰) ۷/۴۷۶.

۱۱) تهذیب التهذیب: ۱۰/۳۱۰.

۱۲) میزان الاعتدال: ۴/۱۸۶.

فرمائی «ليس بالقوي»[1] په دې باندې رد كولوسره حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه «أخطأ ابن حزم في تضعيفه»[2]
ابن حبان رحمه الله فرمائی چه د دوی انتقال ۱۲۹هجری كښې شوې[3]ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله د وفات كال ۱۳۷ يا ۱۳۸هجری نقل كړې دې.[4]
صفيه بنت شيبة:دا صفيه بنت شيبه بن عثمان بن ابی طلحه بن عبدالعزيز بن عبدالدار بن قصی بن كلاب، الفقيهه العالمه القرشيه العبدريه المكيه الحجبيه ام منصور بن عبدالرحمن رضي الله عنها ده.[5]ددې په صحابيه كيدوكښې اختلاف دې.دارقطنی رحمه الله خو د صحابيه كيدو قول كمزورې گرخولې دې.
ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله ددې په سختئی سره ترديد كولو سره فرمائی«وأبعد من قال لا رؤية لها، فقد ثبت حديثها في صحيح البخاري تعليقا، قال: قال أبان بن صالح عن الحسن بن مسلم عن صفية بنت شيبة قالت: سمعت النبي صلى الله عليه وسلم. وأخرج ابن منده من طريق محمد بن جعفر بن الزبير عن عبيدالله بن عبدالله بن أبي ثور عن صفية بنت شيبة قالت: والله لكأني أنظر إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم حين دخل الكعبة......الحديث» يعنی كوموحضراتو چه دا اووئيل چه صفيه بنت شيبه ته رؤيت حاصل نه دې، نودهغوی داخبره د حقيقت نه ډيره لرې ده، ځكه چه په صحيح بخاری كښې د صفيه بنت شيبه حديث تعليقاً ثابت دې، په كوم كښې چه د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم نه د سماع تصريح ده. (ابن ماجه رحمه الله هم دا روايت په دې طريق سره موصولاً هم ذكركړې دې) اودغه شان ابن منده رحمه الله هم محمدبن جعفر په طريق سره د صفيه بنت شيبه نه يو روايت نقل كړې دې په كوم كښې چه د رؤيت صراحت دې.[6]
بل امام ابوداؤد رحمه الله هم د ابن اسحاق رحمه الله په طريق سره د صفيه بنت شيبه يوروايت نقل كړې دې د كوم په آخر كښې چه دی:«وأنا أنظر إليه» يعنی ما حضورپاك ته كتل. حافظ مزی رحمه الله ددې روايت نقل كولونه پس ليكلی دی چه: «هذا الحديث يضعف قول من أنكر أن تكون لها رؤية، فإنه إسناد حسن» يعنی دا حديث دهغه حضراتو قول كمزورې كوی چه د صفيه بنت شيبه په حق كښې د رؤيت منكر دی، ځكه چه ددې حديث سند حسن دې.[7] البته ابن حبان رحمه الله دوی ثقات التابعين كښې ذكركړې دې.[8]
صفيه بنت شيبه رضي الله عنها د نبی كريم صلى الله عليه وسلم نه د امهات المؤمنين نه حضرت عائشه ام حبيبه او ام سلمه رضی الله عنهن او عبدالله بن عمر، سماء بنت ابی بكر، بره المعروفه ب حبيبة بنت ابی تجراه، ام عثمان بنت ابی سفيان اود شيبه بن عثمان ام ولد وغيره رضی الله عنهن نه د حديث روايت كړې دې.
اوددې نه روايت كونكوكښې دهغې خوئی منصوربن عبدالرحمن، د هغې وراره عبدالحميد بن جبير

---

[1] تهذيب التهذيب: ۳۱۱/۱۰ميزان الاعتدال: ۱۸۶/٤.
[2] تقريب التهذيب: ۲۱۵/۲.
[3] كتاب الثقات لابن حبان: ٤۷٦/۷.
[4] تهذيب التهذيب: ۳۱۰/۱۰تقريب التهذيب: ۲۱۵/۲.
[5] سيرأعلام النبلاء: ۵۰۸/۳-۵۰۷رقم الترجمة: ۱۱۸.
[6] الإصابة في تمييز الصحابة: ۳٤۸/٤دارالفكر.
[7] تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف: ۳٤۳/۱۱المكتب الإسلامي، الدار القيمة.
[8] كتاب الثقات لابن حبان: ۱۹۷/۳قلت: لعل الناقلين والكاتبين أخطئوا في النقل والكتابة، لأنه ابن حبان رحمه الله لم يذكرها في ثقات التابعين، بل إنما ذكرها فيمن روى عن النبي صلى الله عليه وسلم من النساء...... الخ وما ذكره ابن حبان رحمه الله صريح في أن لها رؤية وصحبة وسماعا من النبي صلى الله عليه وسلم، والله أعلم بالصواب.

بن شیبه دویم وراره مسافع بن عبدالله بن شیبه د وراره خونی مصعب بن شیبه بن جبیر بن شیبه اودهغه نمسي محمدبن عمران الحجبی، ابراهیم بن مهاجر، حسن بن مسلم، قتاده، مغیره بن حکیم، عبیدالله بن عبدالله بن ابی ثور، یعقوب بن عطاء بن ابی رباح رحمهم الله وغیره شامل دی.[۱] یعني بن معین رحمه الله فرمائی چهٔ ابن جریج رحمه الله هم دهغوی زمانه لیدلي ده لیکن سماع ورته حاصله نه ده.[۲] بله دا چه صفیه بنت شیبه رضي الله عنها د صحاح سته راویه ده.[۳]

عائشة: دا ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه بنت ابی بکر الصدیق رضي الله عنهما ده.[۴]

شرح حدیث

قوله: كان يتكئ في حجري وأنا حائض ثم يقرأ القرآن: امام بخاري رحمه الله دا روایت کتاب التوحید کښې په دې الفاظوسره راوړلي دي: «كان يقرأ القرآن ورأسه في حجري وأنا حائض»، د کوم نه چه مفهوم کیږی چه د اتکاء نه مراد د حضورپاك خپل سرمبارك دهغې په غیږکښې کیخودل دی.[۵]

محقق ابن دقیق العید رحمه الله فرمائی چه د حضورپاك په دې حالت کښې د قرآن مجید د تلاوت فرمائیلو ذکر ددې امر طرف ته اشاره کوی چه حائضه تلاوت نه شي کولې. ځکه چه که چرې پخپله هغې ته اجازت وې نودهغې په غیږکښې د امتناع قراءت هډو سوال نه پیداکیدلو؟ د کوم د دفعیه دپاره چه د قراءت غیر د ثبوت پیش کولو ضرورت پیښ شو.[۶]

علامه نووی رحمه الله فرمائی چه په دې حدیث سره د محل نجاست سره نیزدې د قراءت د جواز حکم هم معلوم شو.[۷] لیکن په دې باندې علامه عینی رحمه الله نقد کولوسره فرمائی چه په دې کښې نظر دی ځکه چه حائضه خو پخپله پاکه ده اونجاست د وینې دی چه دحیض په زمانه کښې هروخت نه ښکاره کیږی د کوم د وجې نه چه د قراءت د جواز حکم اوشو. مګر په دې باندې قیاس کولوسره مونږ د قرآن قراءت بیت الخلاء سره نیزدې هم غیرمکروه اومنو نودا به مناسب او موزون نه وی ځکه چه د قرآن دتعظیم د وجې نه دا هم مکروه کیدل پکاردی. ځکه چه نیزدې شئ هم دهغه شئ حکم اخلی.[۸]

دحدیث ترجمة الباب سره مناسبت: دترجمة الباب اوحدیث د ظاهری الفاظو په اعتبار سره خو په دواړو کښې مناسبت واضح دې چه په دواړوکښې د حائضه په غیږ کښې د قراءت د جواز بیان دې. البته ابن بطال رحمه الله او ابن ملقن رحمه الله وغیره د ترجمة الباب کوم غرض بیان کړې دې په هغه اعتبار سره په دواړو کښې مناسبت دادې چه په روایت کښې د حضرت عائشه رضي الله عنها کېږې په منزله دعلاقه دی اوشارع علیه السلام په منزله د مصحف دې نولکه چه عائشه رضي الله عنها د خپل لباس په ذریعه د حیض په حالت کښې حضورپاك چه حامل قرآن دې اوچت کړې دې اود ترجمة الباب نه غرض هم دغه دې چه د حیض

---

[۱]) تهذیب التهذیب: ۴۳۰/۱۲ دنور تفصیل دپاره اوګورئی: تهذیب الکمال: ۲۱۱/۳۵.
[۲]) تهذیب الکمال: ۲۱۲/۳۵ تهذیب التهذیب: ۴۳۰/۱۲.
[۳]) تقریب التهذیب: ۶۴۷/۲
[۴]) کشف الباری: ۲۹۱/۱.
[۵]) فتح الباری: ۵۳۰/۱ عمدة القاری: ۲۶۲/۳.
[۶]) فتح الباری: ۵۳۰/۱ عمدة القاری: ۲۶۲/۳.
[۷]) فتح الباری: ۵۳۰/۱ عمدة القاری: ۲۶۲/۳.
[۸]) عمدة القاری: ۲۶۲/۳.

په حالت كښې حمل دمصحف بالعلاقه جائز دي.[1]

۴-باب: مَنْ سَمَّى النِّفَاسَ حَيْضًا

ماقبل سره ربط: ددې باب سابقه باب سره مناسبت دادې چه باب سابق كښې حائضه سره متعلق يوحكم بيان كړې شوې وو او په دې باب كښې امام بخارى رحمه الله د حيض اونفاس د احكامو په مينځ كښې مساوات كيدو طرف ته اشاره كړې ده.[2]

ددې باب لاندې دوه بحثونه دى: ① بحث حل ترجمه. ② بحث غرض ترجمه.

دومبې بحث: حل ترجمه: رومبې بحث د حل ترجمه سره متعلق دې اوهغه دادې چه امام بخارى رحمه الله باب قائم كړې دې «**باب من سمى النفاس حيضا**» يعنى نفاس ته حيض ونيل، خو په حديث باب كښې ددې عكس دې ځكه چه په حديث كښې حيض ته نفاس وئيلې شوې دې. هم دغه وجه ده چه بعض شراح وييلى چه ددې نه مقصد دحيض اونفاس نه د هر يو په بل باندې د جواز اطلاق بيانول دى اوهغه داسې چه كله په حديث كښې حيض ته نفاس اوونيلې شو نو امام بخارى رحمه الله ددې نه دا نتيجه اخذ كړه چه هم دغه شان نفاس ته به حيض ونيل هم صحيح وى كوم چه هغوى په دغه مذكوره ترجمه قائم كولوسره واضح كړه.[3]

د بعض حضراتو وينا ده چه په ترجمه كښې تقديم اوتاخير دې. حيض مفعول اول او نفاس مفعول ثانى دې. اوس به مطلب داشى چاچه حيض ته د نفاس نوم وركړو. لهذا دغه شان به ترجمة الباب او حديث باب كښې مطابقت پيدا شى.[4]

اود بعض حضراتو وينا ده چه ترجمة الباب مقلوب دې ولې چه صحيح داسې وه «**باب من سمى الحيض نفاسا**»[5] او يوقول داهم دې چه سمى نه مراد أطلق دې يعنى «**من أطلق لفظ النفاس على الحيض**» اوداسې به بغير څه تكلف نه په ترجمه او حديث كښې مطابقت پيداشى ځكه چه په حديث كښې هم لفظ نفاس سره په حيض باندې اطلاق كړې شوې دې.[6]

دامام مهلب رحمه الله رائې: امام مهلب رحمه الله فرمائى چه كله امام بخارى رحمه الله دنفاس سره متعلق څه حديث دخپل شرط موافق پيدا نه كړو اودلته په حديث باب كښې په حيض باندې د نفاس اطلاق هم كړې شوې وو نوددې نه هغوى دا استنباط اوكړو چه حيض اونفاس به حكم كښې هم برابر دى اودې طرف ته اشاره كولودپاره ئې ترجمة الباب په دې انداز سره قائم كړو.[7]

ليكن په دې رائې باندې اعتراض كيږى چه په ترجمة الباب كښې خودتسميه ذكر دې نه چه د حكم؟ نوشيخ الحديث زكريا رحمه الله ددې اعتراض جواب وركولوسره فرمائى چه دا اعتراض صحيح نه دې

[1] الكنزالمتوارى: ۲۵۳/۳لامع الدرارى: ۲۴۵/۲-۲۴۴.
[2] هذا ملخص من الكنزالمتوارى: ۲۵۴/۳-۲۵۳.
[3] فيض البارى: ۴۸۸/۱.
[4] فتح البارى: ۵۳۰/۱فيض البارى: ۴۸۸/۱.
[5] فتح البارى: ۵۳۰/۱الكنزالمتوارى: ۲۵۳/۳.
[6] فتح البارى: ۵۳۰/۱ارشادالسارى: ۵۳۷/۲.
[7] فتح البارى: ۵۳۰/۱شرح ابن بطال: ۴۲۱/۱.

خكه چه مصنف رحمه الله په تسميه سره په حكم باندې استدلال كړې دې اودا جامع صحيح څه دلغت كتاب نه دې چه د مصنف رحمه الله مراد هم تسميه وى.[1]

د امام خطابى رحمه الله رائې: امام خطابى رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله ته په مذكوره ترجمه قائم كولوكښې وهم شوې دې خكه چه په حديث باب كښې حيض ته نفاس نه دې وئيلې شوې بلكه په حقيقت كښې لفظ **نفست** په مشتركه توګه باندې وزن بدلولوسره (د نون فتحه اوضمه سره) په دواړو معانوكښې(بفتح النون بمعنى حيض اوبضم النون بمعنى نفاس)استعماليږى لهذا چه كله ددې لفظ استعمال د حيض په معنى كښې هم دې نو بيا دا څنګه وئيلې شى چه نفاس ته حيض وئيلې شوې؟[2]

ددې اشكار جواب وركولوسره علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله ته هيڅ وهم نه دې شوې خكه چه كله مذكوره فرق ثابت دې چه لفظ نفست فتحه سره په معنى دحيض او په ضمه سره په معنى د نفاس استعماليږى او مذكوره روايت په ضمه دنون هم ثابت دې نوبيا داسې ويناكول به هم صحيح وى چه په حديث كښې نفاس ته حيض وئيلې شوې دې. بله داخبره ده چه دا احتمال هم شته چه دامام بخارى رحمه الله په نيز مذكوره فرق هډو ثابت نه وى بلكه دهغوى په نيز دا لفظ دواړه شان په معنى د نفاس د ولادت وى نو په داسې صورت كښې داسې وينا كول به هم صحيح شى چه نفاس ته حيض وئيلې شوې دې. لكه چه د بعض حضراتو نه عدم فرق هم نقل دې چه دا لفظ **نفست** دواړه شان سره په دواړو معانوكښې استعماليږى.[3]

دابن بطال رحمه الله او محدث ابن منير رحمه الله رائې: علامه ابن بطال رحمه الله [4]اومحدث ابن منير رحمه الله [5]رائې هم هغه ده كومه چه دا مام مهلب رحمه الله ده اود دې دواړو حضراتو د رائې حاصل دادې چه كله دواړه (حيض اونفاس) كښې اشتراك اسمى موجود دې اوهغه داسې چه نفس يعنى دم والا معنى په دواړو كښې موجود ده اودا خبره هم ده چه په حديث باب كښې حيض-ته نفاس وئيلې شوې دې نوضرورى شوه چه هم د دغه اشتراك اسمى د وجې نه نفاس ته هم حيض اووئيلې شى او دواړه حكم (ترك صلاة) كښې هم يوشان دى. په دې وجه تركومې چه د نفساء وينه بنده شوې نه وى دحائضه په شان د نفساء دپاره هم د ترك صلاة حكم دې.[6]

دعلامه كرمانى رحمه الله په رائې باندې نقد كولوسره علامه عينى رحمه الله فرمائى چه داسې وينا كول چه كيدې شى د امام بخارى رحمه الله په نيز لفظ نفست كښې بيان كړې شوې فرق ثابت نه وى صحيح نه دې خكه چه داسې خبره خو ديوامام لغت باره كښې وئيلې كيدې شى اوبنكاره خبره ده چه امام بخارى رحمه الله امام لغت نه دې بلكه امام حديث دې. دغه شان دعلامه ابن بطال رحمه الله او امام مهلب رحمه الله په رائې باندې نقد كولو سره فرمائى چه ددې حضراتو د رائې حاصل دادې چه دحيض اونفاس په مفهوم كښې مساوات دې خو په حقيقت كښې داسې نه ده. خكه چه جائز دى چه په دواړو كښې عموم

---

[1]) الكنزالمتوارى: ۲۵۵/۳.

[2]) عمدة القارى: ۲۶۲/۳فتح البارى: ۵۳۱/۱-۵۳۰الكنزالمتوارى: ۲۵٤/۳.

[3]) شرح الكرمانى: ۱٦٤/۳عمدة القارى: ۲٦۲/۳الكنزالمتوارى: ٤٥٤/۳.

[4]) شرح ابن بطال: ٤۲۱/۱.

[5]) عمدة القارى: ۲٦۲/۳.

[6]) شرح ابن بطال: ٤۲۱/۱.

خصوص من وجه نسبت وی.([1])

دعلامه عینی رحمه الله رائې: دعلامه عینی رحمه الله رائې داده چه او خوددې ترجمه څه خاص فائده نشته او د تسلیم کولو په صورت کښې فائده ددې ترجمه دتوجیه داکیدې شی چه کله دامام بخاری رحمه الله په نیزد حیض اونفاس دواړو په مفهوم کښې څه فرق نه وو نودهغوی دپاره د یو د ذکر او د دویم د مراد اخستلو جواز پیداشو. اولکه څنګه چه په حدیث کښې ذکر د نفاس اوشو اومراد حیض دې هم دغه شان امام بخاری رحمه الله هم ذکرد نفاس اوکړو او اراده ئې د حیض اوکړه، لهذا دهغوی قول «باب من سمى النفاس حيضاً» مطلب «باب من ذكر النفاس حيضاً» کیدل پکاروویعنی ذکرئې د نفاس اوکړو اومرادئې ترې حیض واخستو. هم دغه شان په حدیث کښې ذکر نفاسَ دې اومراد حیض دې ځکه چه کله حضور پاك دام سلمه رضی الله عنها ته أنفست اوفرمائیلو اوهغې په جواب کښې نعم اوونیل حالانکه هغه حائضه وه نو لکه چه هغې هم نفاس هم حیض ګرځولې دې. دغه شان دحدیث ترجمة الباب سره مطابقت کیږی.([2])

د علامه ابن رشید رحمه الله رائې: علامه ابن رشید رحمه الله فرمائی چه دامام بخاری رحمه الله مقصددا خودل دی چه (دم خارج من الرحم) نوم اصالةً نفاس دې اوهم دې لفظ نفاس سره ددې تعبیرکول داعم او اشمل معنی سره تعبیردې اولفظ حیض سره ددې تعبیرکول اخص معنی سره تعبیرکول دی. لهذا د حضورپاك (دم خارج من الرحم) نفاس سره تعبیرکول داعم اواشمل معنی په لحاظ سره دې اود حضرت ام سلمه رضی الله عنها حیض سره تعبیر کول داخص معنی په لحاظ سره دې. په دې لحاظ سره ترجمة الباب ام سلمه رضی الله عنها د تعبیر موافق وی.([3])

علامه کرمانی رحمه الله حل ترجمه سره متعلق یوه توجیه داهم ذکر کړې دې چه دلته حرف جر مقدر دې او تقدیری عبارت داسې دې: «باب من سمى حيضاً بالنفاس» داسې به په ترجمه اوحدیث کښې مطابقت پیدا شی.([4])

دعلامه ابوالحسن سندهی رحمه الله رائې: علامه ابوالحسن سندهی رحمه الله حل ترجمه سره متعلق یوڅو توجیهات ذکر کولو نه پس لیکی چه زما په نیز دټولو نه خوښه او زړه ته نیزدې توجیه داده اوکه په دغه زړه کښې یوه لطیف غوندې نکته هم وی نویقیناً د صنعت قلب د بلاغت یوقسم به وی لکه چه دلته هم ذکر دی اوهغه داچه دامام بخاری رحمه الله ددې ترجمة الباب نه دې طرف ته اشاره ده چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم اطلاق اوتسمیهٔ نفاس اصل اوګرځولې شی او تسمیه د حضرت ام سلمه رضی الله عنها فرع اوګرځولې شی.([5])

دویم بحث غرض ترجمه

دعلامه ابن بطال، محدث ابن منیر، امام مهلب، شاه ولی الله اوشیخ الحدیث زکریا رحمهم الله رائې: علامه ابن بطال رحمه الله محدث ابن منیر رحمه الله اوامام مهلب رحمه الله حل ترجمه سره متعلق چه څه

---

[1]) عمدة القاری: ۲۶۳/۳.

[2]) حواله بالا.

[3]) فتح الباری: ۵۳۰/۱.

[4]) شرح الکرمانی: ۱۶۵/۳.

[5]) حاشیة السندی: ۱۰۵/۱-۱۰۴.

فرمائيلي دي دهغې نه ددې حضراتو رائې غرض ترجمه سره متعلق هم واضح کيږي اوهغه ذاسې چه ددې حضراتو په نيز دامام بخاري رحمه الله مقصد په حيض او نفاس کښې اشتراك اسمى کيدو د وجې نه په دې کښې تسويه في الاحکام ثابت کول دي. دکوم تفصيل چه دحل ترجمه لاندې تيرشوي دي. هم دغه رائې د شيخ المشائخ شاه ولي الله رحمه الله هم ده. چنانچه هغوی فرمائي "دامام بخاري رحمه الله مقصد دادې چه دحيض اطلاق په نفاس باندې په اهل عربوکښې مشهوردې، لهذا کوم احکام چه دحيض وي هم هغه به دنفاس هم وي. هم په دې وجه شارع عليه السلام د نفاس د احکامو جدا تفصيل نه دې کړې. هم دغه غرض دامام بخاري رحمه الله دحديث الباب د قصې نه دې چه په دې کښې يولفظ ددويم دپاره استعمال شوي دې فتدبروتشکر". (۱)

هم دارائې اختيارول اودنورتفصيل کولوسره شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائي زماپه نيزهم دامام بخاري رحمه الله دغه مقصد دې چه کله هغوی دنفاس سره متعلق يوحديث دخپل شرط برابر اونه موندلو نودې ترجمه قائمولوسره ئې دا ثابته کړه چه حيض اونفاس په احکام کښې هم متحد دی خکه چه په دې کښې لفظي اتحاد هم دې اومعنوی هم. اتحاد لفظي خوداسې دې چه لفظ د نفاس دواړو معانو کښې استعماليږي او اتحادمعنوی داسې دې چه دواړه دم خارج من الرحم کيدو کښې مشترك دی. (۲)

دې نه پس فرمائي چه په رائې باندې دا اشکال نه وی چه حيض اونفاس کښې تسويه في الاحکام څنګه منلې کيدې شي خکه چه په بعض احکامو کښې اختلاف ثابت دې؟ اود تسويه احکام دا معنی نه ده چه په ټولو احکامو کښې برابردی بلکه معنی داده چه کوم احکام دحيض دپاره ثابت وی هغه دې د نفاس دپاره هم ثابت وی. «الاماخصه الدليل» مګر دا چه هغه احکام يودليل خاص کړې وی نو په هغې کښې به حکم يوشان نه وی. اوددې مثال داسې دې لکه چه ديعلى بن اميه رضي الله عنه په روايت کښې دی چه حضور پاك فرمائيلي «اصنع في عمرتك ماتصنع في حجتك» يعنې په خپله عمره کښې هغه کارونه سرته اورسوئې کوم چه تاسو په خپل حج کښې کوئې. سره ددې چه دحج او عمرې په بعض افعالو کښې اختلاف هم دې. (۳)د علامه عيني رحمه الله رائې حل ترجمه کښې تيره شوې ده.

هغه مسائل کوم کښې چه دحيض اونفاس احکام مختلف دي: علامه ابن عابدين رحمه الله فرمائي د نفاس حکم هم دحيض په شان دې سواد اووه څيزونونه اوهغه امور سبعه دادي: بلوغ، استبراء، عدت، داقل نفاس حدمقررنه دې، اکثرموده څلويښت ورځې ده، چه صوم کفاره کښې دم نفاس شروع شي،نودې سره تتابع منقطع کيږي. ددې په وجه سره طلاق سنت اوبدعت کښې فصل نه حاصليږي.(۴)

حيض اونفاس کښې تسويه في الاحکام سره متعلق دعلامه رشيداحمدګنګوهي رحمه الله رائې: علامه ګنګوهي رحمه الله فرمائي چونکه حيض اونفاس دواړه هم د رحم نه خارج کيږي او بيا په حيض باندې د نفاس اطلاق هم په حديث سره ثابت دې نوددې عکس هم صحيح شو يعنې په نفاس باندې د حيض اطلاق، خکه چه د دواړو احکام في الجمله مشترك دی اومقصد دادې چه د دواړو وصف خروج من

---

(۱) شرح تراجم أبواب البخاري: ۱۹/۱.

(۲) الکنزالمتواری: ۳/۲۵۵-۲۵٤.

(۳) الکنزالمتواری: ۳/۲۵۵.

(۴) حاشية ابن عابدين کتاب الطهارة باب الحيض: ۱/٤۹۶دارعالم الکتب.

الرحم كښې اشتراك يا د يولفظ په بل باندې جواز د اطلاق ددې خبرې تقاضا نه كوى چه دا دواړه په جمع احكام كښې هم برابردى. بلكه د هريومخصوص احكام دى البته بعض احكام كښې اشتراك دې د كوم د وجې نه چه د يو په بل باندې اطلاق په توګه د اخلاق مجازى صحيح دې. (۱)
نورفرمائى چه دويم صورت داهم كيدې شى چه حيضاً مفعول اول اوګرځولې شى او النفاس مفعول ثانى اوګرځولې شى دې دپاره چه ترجمة الباب سره د باب مطابقت ښكاره شي او غرض دادې چه په دواړو كښې اشتراك اسمى دې د شرعى احكامو په لحاظ سره نه. حاصل د كلام دا چه دا په كومو رواياتو كښې په حيض باندې دنفاس اطلاق شوې دې نوهغه صرف لفظى او اسمى اشتراك دې. (۲)
شيخ الحديث زكريا رحمه الله فرمائى چه كيدې شى د حضرت ګنګوهى رحمه الله اشاره دې طرف ته وى چه كله په دې كښې اشتراك د احكام نشته نوبيا د اتحاد اسمى هم څه خاص فائده نشته، خاص كرچه د جامع صحيح لوئى مقصد احاديث د احكام بيانول دى. هم په دې وجه علامه عينى رحمه الله اوفرمائيل ((لافائدة في الترجمة))او حافظ ابن حجر رحمه الله هم د امام مهلب وغيره په رائې باندې اعتراض كولوسره دې طرف ته اشاره كړې ده. (۳)
دعلامه انورشاه كشميرى رحمه الله رائې: علامه انورشاه كشميرى فرمائى دامام بخارى مقصد صرف د لغت بيان نه دې بلكه هغه ددې په ضمن كښې داهم خودل غواړى چه دم نفاس په حقيقت كښې هم دم حيض دې چه پس د بچى پيدا كيدون د رحم خله كولاويدو د وجې نه خارج كيږى چه په وجه د حمل د رحم خله بنديدود وجې نه بنده شوې وه. كله چه بچې پيدا شو اود رحم خله كولاؤشوه نوهم هغه بنده شوې وينه دحيض خارج شوه. په دې وجه دبعض حضراتو رائې داده چه حيض چونكه څلور مياشتې پس د ماشوم خوراك جوړيږى په دې وجه د هرې مياشتې دزياتې نه زياته موده دحيض د لسو ورځو په حساب سره اكثرموده د نفاس هم صرف څلويښت ورځې كيدې شى. نوددې تحقيق نه معلومه شوه چه حامله باندې حيض نه راځى اود شريعت قواعد هم ددې تقاضا كوى. ځكه چه كه دا خبره تسلم كړې شى چه حامله باندې حيض راځى نوبيا د شريعت نه استبراء د رحم باب به ختمولې كيږى ځكه چه شريعت همدغه دم حيض داستبراء رحم علامت ګرځولې دې. لهذا دامكان حيض په صورت كښې به دبراءت رحم هيڅ علامت پاتې نه شى اوداسې به داباب ټول په ټوله ختمولې شى(۴)بل داهم يو مختلف فيه مسئله ده چه چه حامله باندې حيض راځى كه نه؟ امام مالك اوامام شافعى فرمائى چه په حامله باندې حيض راځى اوامام ابوحنيفه او امام احمد فرمائى چه په حامله باندې حيض نه راځى (۵).
علامه انورشاه كشميرى رحمه الله دخپل تحقيق ذكركولو نه او داختلافى مسئله طرف ته اشاره كولونه پس ليكى چه ددې ترجمة الباب نه هم د امام بخارى رحمه الله غرض د احنافو حضراتو مذهب ته تقويت

---

(۱) الكنزالمتوارى: ۲۵۵/۳-۲۵۳.
(۲) الكنزالمتوارى: ۲۵۸/۳-۲۵۶.
(۳) الكنزالمتوارى:۲۵۸/۳.
(۴) فيض البارى:۴۸۸/۱.
(۵) شرح الزرقانى على المؤطاء كتاب الطهارة جامع الحيضة: ۱۷۳/۱دارالكتب العلمية، التمهيد لما فى المؤطامن المعانى والأسانيد: ۸۷/۱۶-۸۶مؤسسة القرطبة، عمدةالقارى كتاب الحيض باب مخلقة وغير مخلقة: ۴۳۲/۳ دارالكتب العلمية فتح البارى كتاب الحيض باب مخلقة وغيرمخلقة: ۴۱۹/۱دارالمعرفة

ورکول دی څوك چه ددې خبرې قائل دی چه حامله باندې حیض نه راځي. (١)
حاصل د کلام دا شوچه د ترجمة الباب د مقصد په حواله سره څلورقسمه اقوال دی. رومبی قول دعلامه ابن بطال رحمه الله امام مهلب رحمه الله محدث ابن منیر رحمه الله شاه ولی الله رحمه الله اوشیخ زکریا رحمه الله وغیره دې چه د امام بخاری رحمه الله مقصد په حیض اونفاس کښې تسویه د احکام بیانول دی. «إلاماخصه الدلیل». دویم قول دعلامه عینی رحمه الله دې چه د امام بخاری مقصد داخودل دی چه د حیض اونفاس نه یوذکر کولوسره دویم مراد اخستلې کیدې شی. اودریم قول د علامه گنگوهی رحمه الله دې چه مقصد داخودل دی چه په دواو کښې اشتراك اسمی کیدو د وجې نه دا نه لازمیږی چه دواړه دې په جمع احکام کښې هم برابر وی. څلورم قول د انور شاه کشمیری رحمه الله دې چه دامام بخاری رحمه الله مقصد د دغه حضراتو مذهب ته تقویت ورکول دی څوك چه د "الحامل لاتحيض" قائل دی. په دې اقوال اربعه کښې د بنده په نیزهم اول قول راجح دې.

الحديث الأول

[٢٩٣]- حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، أَنَّ زَيْنَبَ بِنْتَ أُمِّ سَلَمَةَ، حَدَّثَتْهُ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ حَدَّثَتْهَا قَالَتْ: بَيْنَا أَنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مُضْطَجِعَةٌ فِي خَمِيصَةٍ، إِذْ حِضْتُ، فَانْسَلَلْتُ، فَأَخَذْتُ ثِيَابَ حِيضَتِي، قَالَ: «أَنُفِسْتِ» قُلْتُ: نَعَمْ، فَدَعَانِي، فَاضْطَجَعْتُ مَعَهُ فِي الْخَمِيلَةِ (٢) [٣١٦، ٣١٧، ١٨٢٨]

ترجمه: حضرت ام سلمه رضی الله عنها فرمائی چه زه نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره په یوڅادر کښې رانغښتې شوې ووم په دې کښې په ما حیض راغلو په دې وجه په مزه شان بهر راؤوتلم اود خپل حیض کپړې مې واچولې. حضورپاك صلی الله علیه وسلم تپوس اوکړو ولې په تاباندې «نفاس» حیض راغلو؟ ما عرض اوکړو اوجی نو حضورپاك زه راؤغوښتلم اوزه په څادرکښې حضورپاك سره سملاستم.

تراجم رجال

مكي بن إبراهيم: دا امام مکی بن ابراهیم بن بشیر بن فرقد تمیمی حنظلی بلخی رحمه الله دې. د دوی کنیت ابوالسکن دې بعض حضراتو ددوی د نیکه نوم فرقد بن بشیر خودلې دې. ددوی حالات كتاب العلم باب من أجاب الفتيا بإشارة اليد الخ لاندې تیرشوی دی. (٣)

هشام: دا ابوبکر هشام بن ابی عبدالله دستوائی رحمه الله دې. د دوی حالات كتاب الإيمان باب زيادة الإيمان ونقصانه لاندې تیرشوی دی. (٤)

---

(١) فیض الباری: ٤٨٩/١.

(٢) قوله: "أم سلمة الحديث، رواه البخاري رحمه الله في باب النوم مع الحائض وهي في ثيابها أيضاً رقم الحديث: ٣٢٢وفي باب من أخذ ثياب الحيض رقم الحديث ٣٢٣ وفي كتاب الصوم باب القبلة للصائم رقم الحديث: ١٩٢٩ ورواه مسلم في كتاب الحيض باب الاضطجاع مع الحائض في لحاف واحد رقم الحديث: ٦٨٣ورواه النسائي رحمه الله في الطهارة باب مضاجعة الحائض رقم الحديث: ٢٨٤.

(٣) كشف الباري: ٤٨١/٣.

(٤) كشف الباري: ٤٥٦/٢.

يحيى بن أبي كثير: دا مشهورامام يحيى بن ابى كثير طائى يمامى رحمه الله دي. د دوى حالات كتاب العلم باب كتابة العلم د دويم حديث لاندې تيرشوى دى.[1]

أبوسلمة بن عبدالرحمن بن عوف: دادحضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه خوئى، د مدينې منورې د فقهاء سبعه نه يو لونى فقيه اومشهور تابعى اومحدث دې. د دوى حالات كتاب الإيمان باب صوم رمضان احتساباً من الإيمان د رومبى حديث لاندې تيرشوى دى.[2]

زينب بنت أم سلمة: داد حضوراكرم صلى الله عليه وسلم ربيبه، حضرت ام سلمه رضي الله عنها لور، زينب بنت ابى سلمه عبدالله بن عبدالاسدبن هلال مخزوميه قرشيه رضي الله عنها ده. ددې حالات كتاب العلم باب الحياء فى العلم لاندې تيرشوى دى.[3]

أم سلمة: دا ام المؤمنين ام سلمه هندبنت ابى اميه رضي الله عنها ده[4] ددوى حالات كتاب العلم باب العلم والعظة بالليل لاندې تيرشوى دى.

شرح حديث قوله

قوله:: في خميصة: خميصة: بفتح الخاء المعجمة والصاد المهملة ج: خمائص، داسې ځلورګوټه څادر د كوم دوارو طرفوته چه نقش ونګار وى اود بعض وينا داده چه خميصة د ريښمونه جوړشوې تورې يا د سور رنګ پيرې كپړې ته وائى په كوم چه ګلونه اوبوټى هم شوې وى.[5] صحاح كښې ليكلى دى چه خميصة تور ځلورګوټه څادر ته وائى په كوم چه ګلونه او بوټى شوې وى كه چرې هغه منقش نه وى نو بيا خميصة ورته نه شى وئيلې.[6]

امام اصمعى رحمه الله فرمائى چه خمائص د ريښمويا ورئى نه جوړشوې تورمنقش څادرته وائى.[7] دلته د بخارى شريف په روايت كښې خميصة لفظ واردشوې دې خوددې حديث په نورو طرق كښې خملة لفظ راغلې دې اوخملة جالروالا څادر ته وائى. امام نووى رحمه الله فرمائى چه هره هغه كپړه چه جاليداره وى چه هغه دكوم رنګ هم وى هغې ته خملة وائى البته بعض تور كيدل لازمى ګرځولې دى.[8]

نودلته خود بخارى شريف په روايت كښې خميصه او په نور طرق كښې خملة راغلې دې ليكن ممكن دى چه هغه څادر دواړه شان وى يعنى هغه څادر منقش هم وى او جاليدار هم وى.[9]

قوله:: فانسلت: بلالمين لام اول مفتوح اولام ثانى ساكن دې اومعنى داده چه پټه شان اووتلم.[10]

---

[1] كشف البارى: ٢٦٧/٤.
[2] كشف البارى:٣٢٣/٢.
[3] كشف البارى: ٦١٠/٤.
[4] كشف البارى: ٣٩٣/٤.
[5] لسان العرب: ٢٢٠/٤عمدة القارى: ٢٦٣/٣.
[6] معجم الصحاح: ٣١٨لسان العرب: ٢١٩/٤معجم مقاييس اللغة: ٢١٩/٢مادة: خمص.
[7] لسان العرب: ٢٢٠/٤عمدة القارى: ٢٦٣/٣.
[8] لسان العرب: ٢٢٢/٤النهاية لابن الأثير: ٥٣٤/١شرح الكرمانى: ١٦٤/٣عمدة القارى: ٢٦٤/٣.
[9] فتح البارى:٥٣١/١.

امام بخاری رحمه الله دا روایت شیبان عن یحیی په طریق سره هم روایت کړې دې اودې کښې **فانسللت** نه پس **فخرجت منها** الفاظو اضافه هم ده یعنې **فخرجت من الخميصة**.[2]

امام نووی رحمه الله فرمائی چه ممکن دی چه حضرت ام سلمه رضي الله عنها د کمبل یا څادر نه بهردې اندیښنې د وجې نه وتلې وی چه هسې نه دغه وینه د حضوریاك په جسم اطهر باندې اونه لګی یا هغې خپل څان ناپاکه محسوس کولوسره دا برداشت نه کړل چه هغه دې د دغه ناپاکئی په حالت کښې حضوریاك سره سملی یا بیا هغې ته اندیښنه اوشوه چه هسې نه حضوریاك ته د جماع تقاضا وی اوهغه په دغه حالت دحیض کښې ده اودې کښې جماع جائزنه ده نو په دې وجه هغه پټه شان اووتله اوخپلې دحیض کپړې ئې واغوستې دې دپاره چه حضوریاك ته هم دهغې دحائضه کیدو علم اوشی.[3]

قوله:: ثیاب حیضتی: محدثین حضرات فرمائی چه حیضتی په کسره د حاء او فتح د.حاء دواړه شان نقل دې. البته په دواړو صورتونوکښې دِ معنې په اعتبارسره فرق دې. د کسرې په صورت کښې به معنی داوی چه ما دحیض په حالت اوکیفیت کښې استعمالیدونکې کپړې واغوستې ځکه چه دحِیضَة معنی ده په حالت د حیض اوکیفیت دحیض کښې استعمالیدونکې کپړې اوږ فتحه په صورت کښې به معنی دا وی چه ما د حیض په زمانه کښې استعمالیدونکې کپړې واخستې ځکه چه حَیضَة نفس د حیض په معنی کښې دې.[4]

امام خطابی رحمه الله او امام نووی رحمه الله دکسره والا روایت ته ترجیح ورکړې ده اوامام قرطبی رحمه الله د فتحه والاروایت ته ترجیح ورکړې ده. ځکه چه په بعض طرق کښې بغیرد تاء **حیضی** هم راغلې دې، د کوم نه چه د فتحه والاد روایت تائید کیږی.[5]

قوله:: أنفست: دامام خطابی رحمه الله په حواله سره تیرشوی دی چه هغه فرمائی چه اصل لفظ د نفست نفس په معنی د دم (وینې) دې کوم چه په حیض اونفاس دواړو کښې مشترك دې. البته دا ضرور دی چه دلغت علماؤ ددې لفظ بناء فعل کښې فرق کړې دې اوهغه فرق دادې چه په فتحه د نون یعنی معروف کیدو په صورت کښې به د حیض په معنی کښې وی او په ضمه د نون یعنی مجهول کیدو په صورت کښې به دنفاس په معنی کښې وی او هم دغه د اکثر لغویین قول دې. مګر حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ابوحاتم رحمه الله د امام اصمعی رحمه الله نه نقل کړی دی چه دا لفظ د نون په ضمه سره یعنی د مجهول صیغې سره حیض اونفاس دواړو معنی کښې مستعمل دې.[6] دې لفظ سره متعلق باقی تفصیل وړاندې تیرشوې دې. ددې روایت نه معلومه شوه چه هم په یو لحاف کښې حائضه سره سملاستل جائز دی په دې شرط چه د نامه لاندې د زنګونونو پورې نه څان اوساتلې شی.[7]

---

[1] فتح الباری: ۵۳۱/۱.

[2] فتح الباری: ۵۳۱/۱.

[3] فتح الباری: ۵۳۱/۱عمدة القاری: ۲۶٤/۳شرح الکرمانی: ۱٦٤/۳ارشادالساری: ۵۳۸/۱.

[4] فتح الباری: ۵۳۱/۱ارشادالساری: ۵۳۸/۱.

[5] حواله بالا

[6] فتح الباری: ۵۳۱/۱.

[7] فتح الباری: ۵۳۱/۱شرح الکرمانی: ۱٦٤/۳ارشادالساری: ۵۳۸/۱عمدة القاری: ۲٦٤/۳.

علامه انورشاه كشميري رحمه الله فرمائي چه ددې حديث نه معلومه شوه چه په هغه زمانه كښې به ښځې د حيض په ورځوكښې داستعمال كپړې جدا ساتلې او په عاموحالاتوكښې به داستعمال كپړې نورې ساتلې.[۱]

په دې واقعه سره دهغه وخت د سلامت ذوق اونفاست طبع اندازه هم كيدې شي چه دكپړو دعالم كمي داو خاص كر د د بيبيانو په كورونود نبي ﷺ كښې اختيارى فقر اوفاقه او غربت په حالاتوكښې داسې اهتمام كول معمولي خبره نه وه [۲]

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: د حديث ترجمة الباب سره مناسبت دحل ترجمه د عنوان لاندې تير شوې دې

۵-باب: مُبَاشَرَةِ الْحَائِضِ

ماقبل سره ربط: وړاندينى باب سره ربط دادې چه دواړو ابوابوكښې د مباشرت حيض ذكر دې.[۳] ځكه چه دلته هم د مباشرت حائض نه مراد التقاء البشرين يعنى د دوو څرمنونو په خپل مينځ كښې ملاويدل او يوځائې سملاستل او اوده كيدل دى. [۴]

د ترجمة الباب مقصد: امام بخاري رحمه الله په دې ترجمة الباب كښې حائضه سره د مباشرت جواز بيانول غواړي.[۵] اودلته دمباشرت نه مراد جماع نه ده ځكه چه هغه حائضه سره هيڅ صورت جائزنه ده.[۶]

الحديث الأول

[۲۹۵/۲۹۶]-حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ، قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ كِلاَنَا جُنُبٌ» «وَكَانَ يَأْمُرُنِي، فَأَتَّزِرُ، فَيُبَاشِرُنِي وَأَنَا حَائِضٌ»[۷]

ترجمه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه ما اونبي كريم ﷺ به هم په يولوښى سره غسل كولو او دواړه به جنبي وو. او حضورپاك به ماته حكم فرمانيلو نو ما به ازار تړلو بيابه ئې ماسره استراحت كولو

[۱] فيض الباري: ۱/۴۸۹.
[۲] أنوارالباري: ۱۰/۳۸۲.
[۳] عمدة القاري: ۳/۲۶۵.
[۴] فتح الباري: ۱/۵۳۲شرح الكرماني:۳/۱۶۵إرشادالساري:۱/۵۳۸عمدة القاري:۳/۲۶۵.
[۵] عمدة القاري: ۳/۲۶۵.
[۶] حواله بالا
[۷] قوله: "عائشة الحديث قد مر طرفه فى كت اب الغسل باب غسل الرجل مع امرأته رقم الحديث: ۲۵۰. روى البخاري هذا الطرف فى نفس هذا الباب رقم الحديث: ۳۰۲ وفى الاعتكاف باب غسل المعتكف رقم الحديث: ۲۰۳۰ ورواه مسلم فى الحيض باب مباشرة الحائض فوق الإزار رقم الحديث: ۶۷۹ والترمذي فى الطهارة باب ماجاء مباشرة الحائض رقم الحديث:۱۳۲وأبوداؤد فى الطهارة باب فى الرجل يصيب منها دون الجماع رقم الحديث: ۲۶۸ والنسائي فى الحيض باب مباشرة الحائض الخ رقم الحديث: ۲۸۷-۲۸۶.

(يعني يوبه اوده كيدلو) حال دادې چه زه به په حيض كښې ووم. او حضورپاك به خپل سرمبارك زما طرف ته كولو په داسې حالت كښې چه حضورپاك به په اعتكاف كښې وو او ما به د حيض په حالت كښې دحضورپاك سرمبارك وينځلو.

تراجم رجال

قبيصة بن عقبة: دا قبيصه بن عقبه بن محمد بن سفيان سُوائى كوفى رحمه الله دې. ددوى كنيت ابوعامردې. ددوى حالات كتاب الايمان باب علامة المنافق د دويم حديث لاندې تير شوى دى.[1]

سفيان الثوري: دا مشهور امام حديث تبع تابعى ابوعبدالله سفيان بن سعيدبن مسروق ثورى كوفى رحمه الله دې. ددوى حالات هم كتاب الايمان باب علامة المنافق د دويم حديث لاندې تير شوى دى.[2]

منصور بن المعتمر: دا مشهور محدث ابوعتاب منصوربن المعتمر السلمى الكوفي رحمه الله دې. د دوى حالات كتاب العلم باب من جعل لأهل العلم أياما معلومة دريمې حديث لاندې تيرشوى دى.[3]

إبراهيم بن يزيد النخعي: داد كوفې مشهور تابعى فقيه ابوعمران ابراهيم بن يزيد بن قيس بن اسود نخعى رحمه الله دې. د دوى مور بى بى مُليكه بنت يزيد ده چه د اسودبن يزيد اوعبدالرحمن بن يزيد خورده. د دوى حالات كتاب الايمان باب ظلم دون ظلم د رومبې حديث لاندې تيرشوى دى.[4]

أسودبن يزيد: دا اسود بن يزيد بن قيس نخعى رحمه الله دې. ددوى حالات كتاب العلم باب من ترك بعض الاختيار الخ د رومبى حديث لاندې تيرشوى دى.[5]

عائشة: دا ام المؤمنين حضرت سيده عائشه بنت ابى بكر صديق رضي الله عنهما ده. ددوى حالات «بدءالوحى» ددويم حديث لاندې تفصيلاً تيرشوى دى.[6]

شرح حديث

دمباشرت معنى ملامست اوالتقاء البشرة بالبشرة ده. يعني ددوو بدنونو خپل مينځ كښې ملاويدل اودا ماخوذدې د «لمس بشرة الرجل بشرة المرأة» نه دكوم معنى چه د سړى بدن د ښځې بدن سره ملاويدل.[7] كله لفظ دمباشرت په معنى د جماع هم استعماليږى.[8] ليكن دلته هم رومبې معنى مراد ده.[9]

د حائضه د مباشرت صورتونو اودهغې احكام: ددې نه پس دې دا واضحه وى چه دمباشرت حائضه درې صورته دى.

---

[1]) كشف البارى: ۲۷۵/۲.
[2]) كشف البارى: ۲۷۸/۲.
[3]) كشف البارى:۲۷۰/۳.
[4]) كشف البارى: ۲۵۳/۲.
[5]) كشف البارى: ۵۵۳/٤.
[6]) كشف البارى: ۲۹۱/۱.
[7]) النهاية لابن الأثير: ۱۳۶/۱-۱۳۵عمدة القارى:۲۶۶/۳.
[8]) حواله بالا.
[9]) عمدة القارى: ۲۶۶/۳.

د مباشرت حائضه دومبې صورت: رومبې صورت جماع في الفرج دې. ددې حرمت نص قرآني احاديث صحيحه او اجماع نه ثابت دې. لهذا دا حلال ګنړل اوکونکې کافر دې اوکه يو سړې دا حلال نه ګنړې مګر په هيره سره يا د حرمت د حکم نه د ناخبرتيا په وجه سره يا مجبوراً ددې ارتکاب اوکړو نو په هغه باندې څه ګناه نشته اونه کفاره شته خوکه هغه ئې حلال نه ګنړلو سره هم دا کار بنه قصداً عمداً کوی نو امام شافعي رحمه الله فرمائي چه دا د ګناه کبيره ارتکاب دې. (۱)

البته په دې مسئله کښې د کفارې په وجوب کښې اختلاف دې. امام ابوحنيفه رحمه الله امام مالک رحمه الله امام شافعي رحمه الله (في قول الجديد) امام احمد رحمه الله (في رواية) ابوسليمان خطابی، ابن منذر، عطاء بن ابی رباح، ابن ابی مليکه، امام شعبی، امام نخعی، امام مکحول، امام زهری، ايوب سختيانی، ابوالزناد، ربيعه، حمادبن ابی سليمان، سفيان ثوری اوليث بن سعد رحمهم الله وغيره فرمائي چه دده په ذمه باندې توبه اواستغفار لازم دې کفاره نه. او ابن عباس، قتاده، امام اوزاعی، امام احمد، اسحاق، امام شافعي (في قول القديم) سعيدبن جبير، حسن بصری او ابن جرير رحمهم الله وغيره فرمائي چه کفاره واجب ده. (۲)

بيا په قائلين وجوب کفاره کښې هم اختلاف دې. سعيدبن جبير رحمه الله اوحسن بصری رحمه الله فرمائي چه ددې کفاره غلام آزادول دی او امام شافعي رحمه الله (في قول القديم) او نور حضرات فرمائي چه ددې کفاره دينار يا نصف دينار دې ځکه چه د ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دی چه نبی کريم ﷺ د حائضه سره جماع کونکی باره کښې فرمائيلی «يتصدق بدينار أو بنصف دينار» (۳)

بياد کفاره په توګه دينار يا نصف دينار قائلين کښې هم اختلاف دې چه دينار به کوم وخت واجب کيږی او نصف دينار به کوم وخت واجب کيږی؟ نوجمهورو دا امر اختيارکړې دې چه د حيض د شدت په زمانه کښې به دينار او د ضعف په زمانه کښې نصف دينار وی اوهم دغه مشهور دی. خو امام ابواسحاق اسفرائينی رحمه الله نه نقل دی چه که چرته جماع قبل انقطاع الدم (د حيض وينه بنديدونه وړندې) اوکړی نو دينار به وی او که چرې جماع بعد انقطاع الدم وقبل الاغتسال (د وينې بنديدونه پس اوغسل نه وړاندې) اوکړه نو نصف دينار به وی. هم دا قول قاضی رحمه الله او ابوالطيب رحمه الله اختيارکړې دی. د کفاره په توګه تصدق دينار يا نصف دينار قائلينو استدلال د ابن عباس رضي الله عنهما د دغه پورتنی روايت نه دې. (۴)

حضرات جمهور رحمهم الله ځوک چه دعدم وجوب کفاره قائل دی د ابن عباس رضي الله عنهما ددې حديث باره کښې فرمائي چه د محدثينو حضراتودې په ضعف او مضطرب کيدو باندې اتفاق دې. (۵) د ابن عباس رضي الله عنهما داروايت امام حاکم رحمه الله هم په خپل مستدرک کښې ذکرکړې دې اوفرمائيلی دی چه داحديث صحيح دې. (۶) مګر د امام حاکم رحمه الله دا تصريح د ائمه حديث رحمهم الله د تصريحاتو خلاف

---

(۱) شرح الکرمانی: ۱۶۵/۳عمدة القاری: ۲۶۶/۳المجموع شرح المهذب: ۳۵۹/۲.
(۲) المجموع شرح المهذب: ۳۶۱/۲-۳۶۰عمدة القاری: ۲۲۶/۳معالم السنن: ۸۴/۱-۸۳.
(۳) المجموع شرح المهذب: ۳۵۹/۲عمدة القاری: ۲۲۶/۳معالم السنن: ۸۴/۱-۸۳
(۴) المجموع شرح المهذب: ۳۶۰-۲/۳۵۹عمدة القاری: ۲۲۶/۳.
(۵) المجموع شرح المهذب: ۳۶۰/۲.
(۶) المستدرک للإمام الحاکم: ۲۷۸/۱رقم الحديث: ۶۱۲.

ده او بيا امام حاكم رحمه الله د انمه حديث په نيز متساهل هم دي لهذا هم دانمه حديث تصريحاتو ته به ترجيح حاصله وي. امام شافعي رحمه الله فرمائي چه دا روايت ثابت نه دي. امام بيهقي رحمه الله دا حديث ددې ټول طرق راجمع كولوسره په دې باندې د ضعيف كيدو حكم لګولې دې.(۱).اود امام بيهقي رحمه الله په حافظ، متقن اومحقق كيدو باندې د ټولو اتفاق هم دي.(۲) هم دغه شان ددې روايت په متن كښې هم سخت اضطراب دې. چنانچه په پورتني روايت كښې هم حكم تصدق د شك په بنيادباندې دې چه يا خو به ديناروى اويا به نصف دينار وى. په يوبل روايت كښې دى چه ((يتصدق بدينار، فإن لم يجد، فبنصف دينار)(۳)يو دينار به صدقه كوى كه دومره نه شى كولې نو بيا به نصف دينار كوى)په دريم روايت كښې دى چه ((إن كان دماً أحمر، فدينار وإن كان أصفر، فنصف دينار))كه چرې وينه د حيض سره وى نو بيا يو پوره دينار اوكه چرې زيړه وى نو نصف دينار). هم دغه شان په يو څلورم روايت كښې دى چه ((إن كان الدم عبيطاً، فليتصدق بدينار، وإن كان صفرة، فنصف دينار))(۴)كه چرې وينه تازه وى نو ېكاردى چه يو دينار صدقه كړى اوكه زيړه وى نو نيم دينار).(۵) لهذا صحيح هم دغه دى چه په دې صورت (د حرمت علم كيدو نه باوجود د جماع كولوصورت) كښې توبه او استغفار لازم دې كفاره نه. دې نه علاوه نور حضرات فرمائي چه تصديق دينار، يا نصف دينار روايات په استحباب باندې محمول دى يعنى كه چرته غواړى نو صدقه دې كړى اوكه نه غواړى نو نه دې كوى.(۶)

د حائضه د مباشرت دويم صورت: د حائضه د مباشرت دويم صورت دادې چه د نامه نه قپورته او د زنګون نه ښكته حصه د بدن كښې ذكر، ښكلولو معانقه اولمس وغيره طريقه سره مباشرت اوكړى، ددې صورت مباشرت حكم دادې چه دا صورت بالاجماع حلال دې.(۷)

دحائضه د مباشرت دريم صورت: د حائضه د مباشرت دريم صورت دادې چه چه دنامه نه لاندې د زنګونونو پورې بغيرد فرج او دبر نه جماع اوكړى. ددې صورت حكم دادې چه حضرت جمهور رحمهم الله امام ابوحنيفه، امام مالك امام شافعي په نيز د جماع دا صورت حرام دې اوهم دغه د سعيدبن المسيب، شريح، طاؤوس، عطاء، سليمان بن يسار او قتاده رحمهم الله قول دې. خو امام ابويوسف، امام محمد او امام احمد رحمهم الله په نيز صرف شعاردم، يعنى د فرج نه ځان ساتل ضرورى دى د باقى بدن د حصې نه استمتاع حلال ده هم دغه د عكرمه، مجاهد، شعبى، سفيان ثورى، اوزاعى، اسحاق بن راهويه، ابوثور او ابن المنذر رحمهم الله وغيره قول دې.(۸) په دغه پورتنى اختلاف كښې د فريقين دلائل كتاب الحيض د شروع مباحث كښې په تفصيل سره ذكركړې شوى دى.

---

(۱) السنن الكبرى للإماما البيهقى كتاب الحيض باب ماروى فى كفارة من أتى امرأته حائضاً: ۴۷۵/۱-۴۶۹ رقم الحديث: ۱۵۳۰-۱۵۱۱

(۲) حواله بالا.

(۳) السنن الكبرى للإماما البيهقى رحمه الله كتاب الحيض باب ماروى فى كفارة من أتى امرأته حائضاً: ۴۶۹-۴۷۵/۱ رقم الحديث: ۱۵۱۶-۱۵۲۸.

(۴) السنن الكبرى للإماما البيهقى رحمه الله كتاب الحيض باب ماروى فى كفارة من أتى امرأته حائضاً رقم الحديث: ۱۵۲۴.

(۵) عمدة القارى: ۲۶۶/۳.

(۶) عمدة القارى: ۲۶۶/۳المجموع شرح المهذب: ۳۶۰/۲.

(۷) عمدة القارى: ۲۶۶/۳.

(۸) عمدة القارى:۲۶۶/۳.

قوله:: (قولها: فأتزر: أتزر، دا لفظ همزه مفتوحه او تاء مشدده سره دی.د كوم اصل چه أأتزر دی. رومبی همزه متحرك مفتوح دويم ساكن او بيا تاء اودويم همزه په تاء كښې مدغم كړې شوې دې. دا د أفتعل، فعل مضارع صيغه واحد متكلم په وزن باندې دې.(۱)

ليكن علامه ابن اثير، علامه زمخشرى اوصاحب مفصل رحمهم الله أتزر په ادغام لوستل غلط گرخولى دى خكه چه د دغه حضراتو فرمانيل دى چه د همزه په تاء كښې ادغام جائزنه دى. علامه كرمانى رحمه الله او علامه عينى رحمه الله فرمائى چه حضرت عائشه رضی الله عنها د فصحاء عرب نه ده لهذا د هغې دا لفظ ادغام سره بيانول ددې د جواز دپاره دليل اوحجت دې خكه داغلط گرخول پخپله غلط دى. نور ممكن دى چه دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روايت كونكو (دا لفظ) داسې ادغام سره روايت كړې وى ليكن پخپله حضرت عائشه رضی الله عنها ادغام سره تلفظ نه وى فرمائيلې. په دې صورت كښې به غلطى د رواتو د طرف نه وى نه چه دحضرت عائشه رضی الله عنها د طرف نه. (۲)

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: دحديث ترجمة الباب سره مناسبت د حديث د ټكړې «فمباشرنی» سرخ بالكل واضح دې په داسې معنى چه دواړو كښې د مباشرت حائض تذكره ده. (۳)

الحديث الثاني

[۲۹۹]- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ خَلِيلٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاقَ هُوَ الشَّيْبَانِيُّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الأَسْوَدِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَتْ إِحْدَانَا إِذَا كَانَتْ حَائِضًا، فَأَرَادَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُبَاشِرَهَا " أَمَرَهَا أَنْ تَتَّزِرَ فِي [ص:۶۸] فَوْرِ حَيْضَتِهَا، ثُمَّ يُبَاشِرُهَا، قَالَتْ: وَأَيُّكُمْ يَمْلِكُ إِرْبَهُ، كَمَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْلِكُ إِرْبَهُ " تَابَعَهُ خَالِدٌ، وَجَرِيرٌ، عَنِ الشَّيْبَانِيِّ (۴)

ترجمه: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائى چه په مونږ ازواج كښې به كله څوك حائضه شوه او په دې حالت كښې به حضورپاك هغې سره د استراحت اراده كوله نود ازار تړلو حكم به نى وركولو باوجودد حيض د زياتى بيا به نى استراحت كولو (يعنى يوځائى به اوده كيدل). حضرت عائشه رضی الله عنها اوفرمائيل تاسو كښې داسې څوك دې چه په خپل خواهش باندې اختيار لرى لكه چه حضورپاك لرلو؟ على بن مسهرسره خالد او جرير هم داحديث د شيبانى نه روايت كړې دې.

تراجم رجال

اسماعيل بن الخليل: دا اسماعيل بن الخليل الخزاز الكوفى رحمه الله دې ددوى كنيت ابوعبدالله دې. دوى د على بن مسهر، عبدالرحيم بن سليمان، حفص بن غياث، يحيى بن زكريا بن ابى زائده او سلمه بن رجاء رحمهم الله وغيره نه د حديث روايت كړې دې. اوددوى نه امام بخارى، امام مسلم، امام

(۱) فتح البارى: ۱/۵۳۲عمدة القارى: ۳/۲۶۵.
(۲) عمدة القارى: ۳/۲۶۶-۲۶۵شرح الكرمانى:۳/۱۶۵.
(۳) عمدة القارى: ۲/۳۹۳.
(۴) قوله:"عائشة الحديث مر تخريجه فى نفس هذاالباب تحت رقم الحديث:۳۰۰.

ابوداؤد، عبدالله بن عبدالرحمن الدارمی، محمدبن اسحاق الصغانی، یعقوب بن شیبه او بشر بن موسی اسدی رحمهم الله وغیره حدیث روایت کړی دی.[1]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی «كان من الثقات»[2]

محمدبن عبدالله خزرمی رحمه الله فرمائی: «كان ثقة»[3]

ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکرکړې دې.[4]

امام عجلي رحمه الله فرمائي: «كان ثقة صاحب سنة»[5]

ابن نمير رحمه الله ددوی نه کتابت حدیث کړی دې.[6]

ابونعیم استر آبادی رحمه الله ددوی تاریخ وفات ۲۲۴هجری ذکرکړې دې. لیکن ائمه رجال رحمهم الله تاریخ وفات ۲۲۵هجری ذکرکړې دی[7]اوهم دغه صحیح دې. چنانچه امام بخاري رحمه الله فرمائي: «جاءنا نعيه سنة خمس وعشرين ومائتين».[8]

علي بن مسهر:دا حافظ ابوالحسن علی بن مسر القرشی الکوفی رحمه الله چه دمقام موصل قاضی هم پاتې شوې وو.[9]

هغوی د یحیی بن سعید انصاری، هشام بن عروه، عبیدالله بن عمر، موسی الجهنی، اسماعیل بن ابی خالد ،اعمش، عبدالملك بن ابی سلیمان، مطرف بن طریف، ابواسحاق الشیبانی، ابومالك الاشجعی، ابوحیان التیمی، اجلح بن عبدالله الکندی، داؤد بن ابی هند، ابوبرده بن ابی موسی، مختار بن فلفل، عاصم الاحوال، زکریا بن ابی زائده، سعیدبن ابی عروبه، عبدالله بن عطاء، عثمان بن حکیم الانصاری او محمدبن قیس الاسدی رحمهم الله وغیره نه د حدیث روایت کړې دې.

ددوی نه ابوبکر بن ابی شیبه، عثمان بن ابی شیبه، خالد بن مخلد، اسماعیل بن الخلیل، بشر بن آدم، زکریا بن عدی، عبدالله بن عامربن ذراره بن ابی المغراء، محرز بن عون، سهل بن عثمان، سویدبن سعید، علی بن حجر او هناد بن السری رحمهم الله وغیره حدیث روایت کړی دی.[10]

امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائي: «صالح الحديث، أثبت من أبي معاوية الضرير في الحديث»[11]

یحیی بن معین رحمه الله فرمائي: «كان على أثبت من ابن نمير»[12]

---

[1] تلامذه او مشائخ تفصیل دپاره اوګورئ تهذیب الکمال:۸۳/۳.

[2] الجرح والتعدیل: ۱۰۹/۲.

[3] تهذیب الکمال:۸۵/۳.

[4] کتاب الثقات لابن حبان: ۹۹/۸.

[5] تهذیب التهذیب: ۲۹٤/۱.

[6] تهذیب الکمال:۸۵/۳تقریب التهذیب: ۱۰۷الکاشف:۲٤۵/۱.

[7] تهذیب الکمال:۸۵/۳تهذیب التهذیب: ۲۹٤/۱تقریب التهذیب: ۱۰۷الکاشف:۲٤۵/۱.

[8] عمدة القاري: ۲۶۷/۳.

[9] تهذیب الکمال:۱۳۵/۲۱تهذیب التهذیب: ۳۸۳/۷سیر أعلام النبلاء: ٤۸٤/۸الجرح والتعدیل: ۲۶۳/۶.

[10] تلامذه او مشائخ تفصیل دپاره اوګورئ تهذیب الکمال:۱۳۵/۲۱سیر أعلام النبلاء:٤۸۵/۸.

[11] تهذیب الکمال:۱۳۷/۲۱تهذیب التهذیب: ۳۸۳/۷سیر أعلام النبلاء:٤۸۵/۸الجرح والتعدیل: ۲۶٤/۶.

[12] تهذیب الکمال:۱۳۸/۲۱تهذیب التهذیب: ۳۸٤/۷سیر أعلام النبلاء: ٤۸۶/۸.

امام عجلی رحمه الله فرمائی: «كان ممن جمع الحديث والفقه، ثقة». امام ابوزرعه رحمه الله فرمائی: صدوق، ثقة [1]
امام نسائی رحمه الله فرمائی ثقة.[2]
ابن حبان رحمه الله هغوی په کتاب الثقات کښې ذکرکړی دی.[3]
ابن سعد رحمه الله فرمائی «كان ثقة كثير الحديث»[4]
د ابن معین رحمه الله نه تپوس اوکړې شو «هو (علی بن مسهر) أحب إليك أو أبوخالد الأحمر؟» نو هغوی اوفرمائيل ابن مسهر بیاتپوس اوکړې شو «ابن مسهر أو إسحاق بن الأزرق؟» نوبیانی هم د ابن مسهر نوم واخستو. بیا تپوس اوکړې شو «ابن مسهر أو يحيى بن أبي زائدة؟» نو په جواب کښې ارشاد اوفرمائیلو كلاهما ثقة [5] دهغوی رحمه الله انتقال ۱۸۹هجری کښې شوې دې.[6]

أبوإسحاق الشيباني: دامشهورتابعی سليمان بن ابی سلیمان فیروز رحمه الله دې.[7] دې په خپل کنیت ابواسحاق الشیبانی الکوفی سره مشهوردې [8]
هغوی د ابراهيم نخعی، اشعث بن ابی الشعثاء، اسعدبن یزید، ابوالزناد، ابو برده بن ابی موسی الاشعری، سعیدبن ابی برده، عبدالله بن شدادبن الهاد، عبدالرحمن بن الاسودبن یزید النخعی، عدی بن ثابت، عکرمه مولی ابن عباس، محارب بن دثار او یزید بن الاصم رحمهم الله وغیره نه د حدیث روایت کوی. اود او د دوی نه د دوی خوئی اسحاق، ابواسحاق السبیعی، عام الاحول، ابراهیم بن طهمان، ابو اسحاق الغزاری، سفیان ثوری، شعبه، حفص بن غیاث، ابن عیینه، عبادبن العوام، علی بن مسهر، عوام بن خوشب، محمدبن فضیل او جعفر بن عون رحمهم الله وغیره حدیث روایت کوی. [9] یحیی بن معین رحمه الله فرمائی ثقة حجة. [10]
ابوحاتم رحمه الله فرمائی: «ثقة، صدوق، صالح الحديث» [11]
امام نسائی رحمه الله فرمائی ثقة.[12]
امام عجلی رحمه الله فرمائی: «كان ثقة، من كبار أصحاب الشعبي» [13]

---

[1] حواله بالا.
[2] تهذيب الكمال:۱۳۸/۲۱تهذيب التهذيب:۳۸٤/۷إكمال تهذيب التهذيب: ۳۷۷/۹.
[3] ۱۳۱/٤رقم الترجمة: ۳۲۷۳.
[4] تهذيب التهذيب: ۳۸٤/۷إكمال تهذيب الكمال:۳۷۷/۹.
[5] تهذيب الكمال:۱۳۷/۲۱تهذيب التهذيب: ۳۸۳/۷سيرأعلام النبلاء: ٤۸٥/۸.
[6] كتاب الثقات لابن حبان: ۱۳۱/٤تهذيب الكمال: ۱۳۸/۲۱تهذيب التهذيب: ۳۸٤/۷سيرأعلام النبلاء: ٤۸٦/۸.
[7] عمدة القاري: ۲٦۷/۳كتاب الثقات لابن حبان: ۱۸٤/۲رقم الترجمة: ۱٤۲۰.
[8] تهذيب الكمال:٤٤٤/۱۱تهذيب التهذيب:۱۹۷/٤الجرح والتعديل: ۱۳۰/٤سيرأعلام النبلاء: ۱۹۳/٦.
[9] تلامذه او مشائخ تفصیل دپاره اوګورئی تهذیب الکمال:٤٤٤/۱۱سیرأعلام النبلاء:۱۹۳/٦.
[10] تهذيب الكمال:٤٤٦/۱۱تهذيب التهذيب:۱۹۷/٤الجرح والتعديل: ۱۳۰/٤ سيرأعلام النبلاء: ۱۹۳/٦.
[11] الجرح والتعديل: ۱۳۰/٤.
[12] تهذيب الكمال: ٤٤٦/۱۱تهذيب التهذيب: ۹۷/٤.
[13] تهذيب الكمال:٤٤٦/۱۱تهذيب التهذيب: ۱۹۷/٤ سيرأعلام النبلاء: ۱۹٤/٦.

علامه جوزجانی رحمه الله فرمائي چه امام احمدبن حنبل رحمه الله ته به د ابواسحاق شيبانی رحمه الله احاديث خوښيدل. تردې چه هغوی به د ابواسحاق شيبانی رحمه الله د ثقاهت سره متعلق فرمانيل: «هوأهل أن لاندع له شيئا» يعنی هغه ددې خبرې مستحق دې چه دهغوی د رواياتونه هيڅ هم پرينخودې شی يعنی هرڅه قبول کړې شی.[۱] ابوبکر بن عياش رحمه الله فرمائي: «کان الشيباني فقيه الحديث»[۲] ابن عبدالبر رحمه الله فرمائي: «هوثقة حجة عند جميعهم»[۳]

ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکرکړې دې.[۴]

ددوی د تاريخ وفات په حواله سره مختلف اقوال دی: ① يحيی بن بکير رحمه الله فرمائي ۱۲۹هجری کښې وفات شوې. ② عمرو بن علی او ابوعيسی الترمذي رحمه الله فرمائي چه ۱۳۸هجری کښې وفات شوې. ③ هم دغه شان ابومعاويه او محمدبن عبدالله بن نمير رحمهماالله فرمائي چه ۱۳۹هجری کښې وفات شوې. ④ او امام بخاری رحمه الله فرمائي ۱۴۱ يا ۱۴۲هجری کښې انتقال شوې.[۵]

علامه ذهبی رحمه الله د دې اقوال اربعه نه قول اول فحش غلطی او قول رابع بعيدګرځولې دې. البته قول ثالث يعنی ابومعاويه اومحمدبن عبدالله بن نمير بيان کړې شوې قول ته ئی قول متجه وئيلې دې يعنی دا قول قبلولې شی.[۶] ابن حبان رحمه الله او علامه عينی رحمه الله قول رابع يعنی دامام بخاری رحمه الله قول اختيارکړې دې. والله اعلم بالصواب.[۷]

عبدالرحمن بن الأسود: دا عبدالرحمن بن الاسود بن يزيد النخعی رحمه الله دې څوك چه دکبار تابعينونه دې. ددوی حالات كتاب الوضوء باب لايستنجي بروث لاندې تير شوی دی.

أسود بن يزيد: دا اسودبن يزيد بن قيس النخعی رحمه الله دې. د دوحالات کتاب العلم باب من ترك بعض الختيار الخ لاندې تيرشوی دی.[۸]

عائشة: دا ام المؤمنين حضرت سيده عائشه بنت ابی بکر صديق رضي الله عنهما ده. ددوی حالات «بدء الوحی» ددويم حديث لاندې تفصيلاً تيرشوی دی.[۹]

شرح حديث

قولها: فورحيضتها: علامه خطابی رحمه الله فرمائي چه «فور الحيض: أوله ومعظمه يعني» دې نه مراد د حيض د شروع او د زياتيدو زمانه ده.[۱] علامه جوهری رحمه الله فرمائي «فورة الحر: شدته» يعنی فور د شدت په معنی کښې دې نو په دې اعتبارسره فورحيضتها معنی به د شدت حيض زمانه وی.[۲]

---

[۱]) حواله بالا

[۲]) تهذيب التهذيب: ۱۹۸/٤.

[۳]) حواله بالا.

[٤]) كتاب الثقات لابن حبان: ۱۸٤/۲رقم الترجمة: ۱٤۲۰.

[٥]) تهذيب الكمال: ٤٤۷/۱۱ تهذيب التهذيب: ۱۹۸/٤ سير أعلام النبلاء: ۱۹٤/٦.

[٦]) سير أعلام النبلاء: ۱۹٤/٦.

[۷]) كتاب الثقات لابن حبان: ۱۸٤/۲رقم الترجمة: ۱٤۲۰عمدة القاري: ۲٦۷/۳.

[۸]) كشف الباري: ٥٥۳/٤.

[۹]) كشف الباري: ۲۹۱/۱.

په دې قيدسره دحيض د شروع او روستو زماني فرق راؤخي. دكوم تائيد چه د ابن ماجه عن ام سلمه رضي الله عنها روايت «كان يتقي سورة الدم ثلاثاً ثم يباشرها بعد ذلك» نه هم كيږي اودا روايت دهغه رواياتو منافي هم نه دې په كوم كښې چه مطلقاً د مباشرت ذكردې خكه چه د حالاتود اختلاف سره دعمل اختلاف پاتې دې[1] بل د ابوداؤد په روايت كښې په خاني د "فور فوح حاء سره دې مگرمعنى د دواړو هم يوه ده[2]

«وأيكم يملك إربه» د لفظ "أرب" تحقيق: دالفظ دوه شان سره ضبط كړې شوې دې. يوأرب يعنى دهمزه او راء فتحه سره او دويم إرب يعنى د همزه كسره او راء سكون سره. اول حاجت او وطر «جماع» په معنى كښې دې او دويم د اندام مخصوصه په معنى كښې دې.

اوددې جملې هم دوه مطلبونه دى يودا چه رسول الله ﷺ سره ددومره قوت او جوش په خپل حاجت او خواهش باندې قابو اوقدرت لرلو. چنانچه دانه شو كيدلې چه يود شريعت نه خلاف امر واقع شي خوتاسو خلق دومره طاقت نه لرئى لهذا خپل خان په حضورپاك باندې مه قياس كوئى بلكه احتياط كوئى هسې نه چه تاسود «من يرتع حول الحمى يوشك أن يقع فيه» مصداق جوړشنى اويود شريعت نه د خلاف كار مرتكب شئى. او دويم مطلب دادې چه حضورپاك په خپل اندام او حاجت باندې قابو لرله او ددې نه باوجود به ئى هم مباشرت فرمائيلو. نو بيا تاسو خودومره قابونه لرئى لهذا تاسو له خو به په درجه اولى جائزوى. ددې جملې په معنى كښې دا دوه وجهې دى او دواړه هم متضاد دى.

صاحب مجمع البحار فرمائى چه حضرت عائشه رضي الله عنها دا بيان كول غواړى چه حضورپاك به سره د مباشرت په شرمگاه كښې واقع كيدونه په امن كښې وو اودا په امن كښې پاتې كيدل ددې خبرې علت دې چه د بل چا دپاره دې دا حكم ثابت نه وى خكه چه په نوروكښې دا علت موجودنه دې بلكه حضرات مجوزين هم دا قول عائشه رضي الله عنها د نورو دپاره ددې عمل مباشرت د جواز علت گرخوى اوهغه داسې چه كله حضورپاك سره د قدرته د مباشرت عمل فرمائيلو نو بيا د نورو په حق كښې دا عمل خنگه غيرمباح كيدې شى؟ اوقدرت ئى هم نه وى.[5]

تَابَعَهُ خَالِدٌ وَجَرِيرٌ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ

امام بخارى رحمه الله داخودل غواړى چه خالد بن عبدالله الواسطى او جرير بن عبدالحميد داحديث د ابواسحاق الشيبانى رحمه الله نه روايت كولوكښې دعلى بن مسهر متابعت كړې دې[6] د خالد بن عبدالله الواسطى رحمه الله دا متابعت ابوالقاسم التنوخى «وهب بن بقية عن خالد» په طريق سره موصولاً

---

[1]) فتح الباري: ۵۳۲/۱.

[2]) معجم الصحاح للجوهري: ۵۲۷.

[3]) فتح الباري: ۵۳۳/۱عمدة القاري: ۲۶۸/۳.

[4]) شرح الكرماني: ۱۶۷/۳ عمدة القاري: ۲۶۸/۳.

[5]) مجمع بحار الأنوار: ٤۳/۱الكنز المتواري: ۲۵۸/۳-۲۵۷.

[6]) عمدة القاري: ۲۶۸/۳فتح الباري: ۵۳۳/۱ تغليق التعليق: ۱۶۸/۲.

الواسطي رحمه الله دا متابعت ابوالقاسم التنوخي «وهب بن بقية عن خالد» په طريق سره موصولاً ذکر کړې دې (١) اود جرير بن عبدالحميد متابعت امام ابوداؤد رحمه الله امام اسماعيلي او امام حاکم رحمهم الله موصولاً ذکر کړې دې. (٢) د امام ابوداؤد رحمه الله تخريج کړې شوې موصول روايت دادې:
«حدثنا عثمان بن أبي شيبة حدثنا جرير عن الشيباني عن عبدالرحمن بن الأسود عن أبيه عن عائشة رضي الله عنها قالت: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يأمرنا في فوح حيضنا أن نتزر ثم يباشرنا وأيكم يملك إربه، كما كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يملك أربه» (٣) او د امام حاکم رحمه الله تخريج کړې شوې موصول روايت دادې: «حدثني علي بن عيسى حدثنا مسدد بن قطن عن عثمان بن أبي شيبة حدثنا جرير عن الشيباني عن عبدالرحمن بن الأسود عن أبيه عن عائشة رضي الله عنها قالت: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يأمرنا في فور حيضتنا أن نتزر، ثم يباشرنا، وأيكم يملك أربه، كما كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يملك أربه» (٤)
حافظ ابن حجر رحمه الله د خالد بن عبدالله الواسطي رحمه الله روايت دهغه په سندسره تغليق التعليق کښې هم ذکرکړې دې. (٥) بل دا روايت منصور بن ابی الاسود رحمه الله هم د ابواسحاق الشيباني رحمه الله نه هم په دې سند سره روايت کړې دې. (٦)
دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: دحديث اودغه شان د پورتنو متابعاتو ترجمة الباب سره مناسبت بالکل واضح دې چه په دې ټولو کښې د مباشرت حيض تذکره ده. (٧)

الحديث الثالث

[٢٩٧]- حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ، قَالَ: حَدَّثَنَا الشَّيْبَانِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ شَدَّادٍ، قَالَ: سَمِعْتُ مَيْمُونَةَ، تَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «إِذَا أَرَادَ أَنْ يُبَاشِرَ امْرَأَةً مِنْ نِسَائِهِ أَمَرَهَا، فَاتَّزَرَتْ وَهِيَ حَائِضٌ» وَرَوَاهُ سُفْيَانُ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ (٨)

ترجمه: حضرت ميمونه رضي الله عنها فرمائي چه کله به نبي کريم صلى الله عليه وسلم خپل ازواج مطهرات نه چاسره مباشرت کول غوښتل اوهغه به حائضه وه نود حضورپاك په حکم سره به هغې اول ازار تړلو. دا روايت سفيان هم د ابواسحاق الشيباني نه روايت کړې دې.

---

(١) فتح الباري: ٥٣٣/١ عمدة القاري: ٢٦٨/٣ تغليق التعليق: ١٦٩/٢.
(٢) عمدة القاري: ٢٦٨/٣ فتح الباري: ٥٣٣/١ تغليق التعليق: ١٦٩/٢ سنن أبي داؤد كتاب الطهارة باب في الرجل يصيب منها مادون الجماع رقم الحديث: ٢٧٣ المستدرک على الصحيحين للإمام الحاكم كتاب الطهارة: ٢٧٩/١ رقم الحديث: ٦١٤
(٣) سنن أبي داؤد كتاب الطهارة باب في الرجل يصيب منها مادون الجماع رقم الحديث: ٢٧٣ .
(٤) المستدرک للإمام الحاكم كتاب الطهارة: ٢٧٩/١ رقم الحديث: ٦١٤
(٥) ١٦٩/٢.
(٦) فتح الباري: ٥٣٣/١.
(٧) عمدة القاري: ٣٩٦/٣.
(٨) قوله: "ميمونة الحديث ورواه مسلم في الحيض باب الاضطجاع مع الحائض في لحاف واحد رقم الحديث: ٦٨٢ وابوداؤد في الطهارة باب في الرجل يصيب منها مادون الجماع رقم الحديث: ٢٦٧ والنسائي في الحيض باب ذكر ما كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصنعه إذا حاضت إحدى نسائه رقم الحديث: ٣٧٦.

تراجم رجال

ابونعمان: دا ابونعمان محمدبن الفضل السدوسی، الملقب عارم رحمه الله دی. ددوی حالات كتاب الايمان باب قول النبی صلی الله عليه وسلم: الدين النصيحة ددويم حديث لاندې تيرشوی دی.[۱]

عبدالواحد: داعبدالواحدبن زياد البصری رحمه الله دی. ددوی حالات كتاب الايمان باب الجهاد من الايمان لاندې تير شوی دی.[۲]

أبواسحاق الشيبانی: دا ابواسحاق سليمان بن ابی سليمان فيروز الكوفی رحمه الله دې.د دوی حالات د وړاندينی حديث لاندې تيرشوی دی.

عبدالله بن شداد: داعبدالله بن شداد الهاد الليثی الفقيه المدنی ثم الكوفی دې.ددوی كنيت ابو الوليد دې[۳]اوددوی مورسلمی بنت عميس الخثعميه رضی الله عنها ده چه دحضرت اسماء بنت عميس رضی الله عنها سكه خوراوام المؤمنين ميمونه بنت الحارث رضی الله عنها او ام الفضل بنت الحارث رضی الله عنها او لبابه الصغری رضی الله عنها دمورشريكه خورده اوددې تولو مور هنده بنت عوف بن زهير بن الحارث بن حماطه ده.[۴]حضرت سلمی بنت عميس رضی الله عنها اود حضرت حمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه په نكاح كښې وه. بيا چه كله په غزوه احد كښې حضرت حمزه رضی الله عنه شهيد كړې شو نوهغې رضی الله عنها سره حضرت شداد رضی الله عنه نكاح اوكړه اوبيا هم ددوی په زوجيت كښې هم د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په زمانه كښې د حضرت عبدالله بن شداد ولادت اوشو.[۵]

حضرت عبدالله بن شداد رحمه الله دخپل پلار شداد، عمر، علی، معاذ بن جبل، طلحه بن عبيدالله، ابن مسعود، ابن عباس، عباس، ابن عمر، اسماء بنت عميس، ميمونه بنت الحارث، عائشه اوام سلمه رضی الله عنهم وغيره نه د حديث روايت كړې دې.

او ددوی نه ابواسحاق الشيبانی، سعدبن ابراهيم، معبدبن خالد، حكم بن عتيبه، ربعی بن حراش، محمد بن كعب القرظی، منصوربن المعتمر، عبدالله بن شيرمه، معاويه بن عمار الدهنی او ابوجعفر الفراء رحمهم الله وغيره دحديث روايت كړې.[۶]يحيی بن سعيد رحمه الله فرمائی: «عبدالله بن شداد أحب إلى من أبی صالح مولى أم هانئ»[۷]يعنی عبدالله بن شداد زما په نيز د ابوصالح مولی ام هانی په مقابله كښې زيات خوښ دې. امام ابوزرعه رحمه الله فرمائی: مدنی ثقة[۸] امام عجلی فرمائی: «هومن كبار التابعين وثقاتهم»[۹]، امام نسائی رحمه الله فرمائی: ثقة.[۱۰] ابن حبان رحمه الله دهغوی ذكر كتاب الثقات كښې كړې دې.[۱]

---

[۱]) كشف الباری: ۷٦۸/۲.

[۲]) كشف الباری: ۳۰۱/۲.

[۳]) تهذيب الكمال: ۱۵/۸۲-۸۱سير أعلام النبلاء: ٤۸۸/۳تهذيب التهذيب: ۲۵۱/۵خلاصة الخزرجی ص: ۲۰۱.

[۴]) تهذيب الكمال: ۸۲/۱۵.

[۵]) تهذيب الكمال: ۸۲/۱۵سير أعلام النبلاء: ٤۸۸/۳.

[۶]) دَ تلامذه ومشائخ دَ تفصيل دپاره اوګورئی تهذيب الكمال: ۸۲/۱۵.

[۷]) الجرح والتعديل: ۹۵/۵رقم الترجمة:۷۷۰۷.

[۸]) حواله بالا.

[۹]) تهذيب الكمال: ۸٤/۱۵تهذيب التهذيب: ۲۵۲/۵معرفة الثقات للإمام العجلی: ۳٦/۲مكتبة الدار.

[۱۰]) تهذيب الكمال: ۸٤/۱۵تهذيب التهذيب: ۲۵۲/۵.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه په دې باندې اتفاق دې چه حضرت عبدالله بن شداد رحمه الله په جنګ جماجم كښې ورك شوې وو.[2] امام عجلي رحمه الله فرمائي چه عبدالله بن شداد رحمه الله او عبدالرحمن بن ابى ليلى رحمه الله اسونه په جنګ كښې په نهر دجيل كښې داخل شوې وو دكوم نه پس چه دهغوى هيڅ خبر ملاؤنه شو.[3] او ابن حبان رحمه الله هم په دې باندې د جزم اظهار فرمائيلې دې چه هغوى په نهر دجيل كښې ډوب شوې وو.[4] دا حادثه ۸۱ يا ۸۲هجرې كښې پيښه شوې وه.[5]

ابن سعد رحمه الله فرمائي: «كان ثقة، قليل الحديث، شيعياً» يعنې عبدالله بن شداد رحمه الله د شيعانِ على نه وو[6] عطاء بن السائب رحمه الله فرمائي چه ما عبدالله بن شداد رحمه الله په داسې ويناكولوسره اوريدلې چه: «وددت أني قمت على المنبر من غدوة إلى الظهر، فأذكر فضائل على بن أبي طالب رضي الله عنه، ثم أنزل، فيضرب عنقي» زما دا خبره خوښه ده چه د سحرنه ترماسپښين پورې په منبرباندې كينم د حضرت على رضي الله عنه مناقبت اوفضائل بيانوم، بيا چه كله د منبرنه كوز شم، نوچه زما سټ اووهلې شي.[7] علامه ذهبى رحمه الله ددې حكايت نقل كولو نه پس فرمائي «هذا غلو وإسراف» يعنې داد حضرت على رضي الله عنه په محبت كښې غلو اوزياتې دې.[8] بل علامه ذهبى رحمه الله فرمائي: «حديث عبدالله مخرج في الكتب الستة، ولا نزاع في ثقته»[9].

شرح حديث

حديث سره متعلق ټول بحثونه دړومبى حديث لاندې تيرشوى دى.

قوله: رواه سفيان عن الشيباني: امام بخاري رحمه الله داخودل غواړى چه د ابواسحاق شيباني رحمه الله نه داروايت سفيان رحمه الله هم نقل كړې دې.[10] شراح حضراتو ليكلى دى چه د سفيان نه مراد سفيان ثورى رحمه الله دې.[11] علامه كرمانى رحمه الله فرمائي چه د سفيان نه مراد سفيان ثورى وى يا ابن عيينة، چونكه دواړه دامام بخاري رحمه الله په شرط باندې موافق دى په دې وجه سفيان په صورت د ابهام ذكركولو كښې هيڅ حرج نشته دې.[12]

---

[1]) ۲۶٤/۲رقم الترجمة:۲۰٤۳.

[2]) الإصابة فى تمييز الصحابة: ۶۰/۳رقم الترجمة: ۶۱۷۶ تهذيب الكمال:۸۵/۱۵تهذيب التهذيب: ۲۵۲/۵.

[3]) الإصابة فى تمييز الصحابة: ۶۰/۳رقم الترجمة: ۶۱۷۶ تهذيب الكمال:۸۵/۱۵تهذيب التهذيب: ۲۵۲/۵معرفة الثقات للإمام العجلى: ۳۶/۲رقم الترجمة: ۹۰۳..

[4]) كتاب الثقات لابن حبان: ۲۶٤/۲.

[5]) الإصابة فى تمييز الصحابة: ۶۰/۳ تهذيب الكمال:۸۵/۱۵سير أعلام النبلاء: ٤۸۹/۳.

[6]) سير أعلام النبلاء: ٤۸۸/۳.

[7]) سير أعلام النبلاء: ٤۸۹/۳.

[8]) حواله بالا.

[9]) حواله بالا

[10]) عمدة القارى: ۲۶۹/۳فتح البارى: ۵۳۳/۱.

[11]) حواله بالا.

[12]) شرح الكرمانى: ۱۶۸/۳.

علامه عيني رحمه الله د صاحب تلويح په حواله سره فرمائي چه دامام بخاري رحمه الله مقصد دحضرت سفيان ثوري رحمه الله ددې متابعت نه دمتابعت معنوی طرف ته اشاره کول دی ځکه چه د سفيان ثوري رحمه الله متابعت معنوی دې لفظی نه دې. اودا متابعت امام ابوداؤد رحمه الله موصولاً روايت کړې دې. هغوی فرمائي: ((حدثنا محمد بن الصباح بن سفيان، حدثنا سفيان عن أبي إسحاق الشيباني سمعه من عبدالله بن شداد يحدثه عن ميمونة أن النبي صلى الله عليه وسلم مرطٌ وعلى بعض أزواجه منه وهي حائض وهو يصلي وهو عليه)) يعني د حضرت ميمونه رضي الله عنها نه روايت دې چه حضورپاك يوڅادر اغوستو سره مونځ کولو، کله چه د حضورپاك د دغه څادر څه حصه نيزدې دحضورپاك په يوه زوجه باندې هم پروت وو اوهغه دغه وخت د حيض په حالت کښې وه. بل دا چه د سفيان ثوري رحمه الله په شان خالدبن عبدالله الواسطي او جرير بن عبدالحميد هم دا حديث د ابواسحاق الشيباني رحمه الله نه روايت کولوکښې دعبدالواحد متابعت کړې دې. ددې نه معلوميږي چه ابواسحاق الشيباني رحمه الله دا حديث د مسند عائشه رضي الله عنها نه هم روايت کولو (كما مر في الرواية السابقة) اوکله به ئې د مسند ميمونه رضي الله عنها نه هم روايت کولو اوهم دواړو سندونو سره د ابواسحاق رحمه الله نه خالد بن عبدالله الواسطي او جرير بن عبدالحميد نه اوريدلې دې خو په نورو رواتوکښې دواړو سندونو نه يوسره د ابواسحاق شيباني رحمه الله نه نقل کړې دې. (١) هم دغه شان حفص بن غياث، ابومعاويه او اسباط بن محمد هم داحديث د ابواسحاق الشيباني رحمه الله نه مسند ميمونه رضي الله عنها سره روايت کړې دې. (٢) علامه کرماني رحمه الله فرمائي چه امام بخاري رحمه الله د رواه الفاظ وئيلي تابعه ئې نه دی فرمائيلی، په دې وجه چه روايت، دمتابعت نه اعم دې نوکيدې شي چه امام بخاري رحمه الله دا روايت په توګه دمتابعت نه وی ذکرکړې. (٣)

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: دحديث اوذکرکړې شوی متابعت ترجمة الباب سره مناسبت واضح دې چه په دې ټولو کښې دمباشرت حائض تذکره ده. (٤)

٦- باب: تَرْكِ الْحَائِضِ الصَّوْمَ

ماقبل سره ربط: سابقه باب سره مناسبت دادې چه دواړه ابواب حيض سره متعلق په يويو حکم باندې مشتمل دی. (٥)

په ترجمة الباب کښې د ترک صلاة د ذکرنه کولو وجه: ابن رشيد رحمه الله وغيره فرمائي چه دلته هم امام بخاري رحمه الله د خپل عادت مطابق په ترجمة الباب کښې مشکل ذکرکړې دې اوواضحه او ښکاره شئ ئې نه دې ذکرکړې. (٦)

(١) فتح الباري: ٥٣٣/١.

(٢) فتح الباري: ٥٣٣/١ عمدة القاري: ٢٦٩/٣.

(٣) شرح الكرماني: ١٦٨/٣.

(٤) عمدة القاري: ٣٩٨/٣.

(٥) عمدة القاري: ٢٦٩/٣.

(٦) فتح الباري: ٥٣٤/١.

يا په نورو الفاظو کښې داسې هم وئيلې کيدې شي چه دحائضه دپاره دترک صلوة حکم هم دې اودترک صوم هم او د دواړو هم په حديث باب کښې ذکردې. بيادې نه باوجود امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې په خاص توګه د روژې د پريخودو ذکرولې اونه کړو.(۱)
نوشراح وجه دا ليکلې ده چه د حائضه دپاره دترک صلوة حکم خو واضح دې کوم چه د طهارت د نه کيدو د وجې نه دې څکه چه د صحت صلوة دپاره طهارت شرط دې خود صحت صوم يعنی د روژې دپاره طهارت شرط نه دې مګر ددې نه باوجود د ترک صوم حکم دې. ددې نه معلومه شوه چه د حائضه دپاره دترک صوم حکم امر تعبدی دې په دې وجه امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب کښې په خاص توګه د ترک صوم ذکر اوکړو.(۲)
د شيخ الحديث زکريا رحمه الله رائې: حضرت شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمانی زما په نيز دترک صلوة نه ذکرکولودا وجه نه ده څکه چه د ترک صلوة باب وړاندې راځي. خو چونکه په ترک صوم کښې قضاء وی او ترک صلوة کښې قضاء نه وی نولکه چه ددواړو ترک کول جدا جدا قسم نه شو په دې وجه امام بخاری رحمه الله وجوب قضاء او عدم وجوب قضاء په اعتبار سره جدا جدا عنوان اوتړلو.(۳) اوچونکه په صوم کښې قضاء هم ده په دې وجه ئې دا مقدم کړو.(۴)
د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله داخودل غواړ چه دحائضه دپاره د روژې اجازت نشته.(۵)

الحديث الأول

[۲۹۸]-حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي زَيْدٌ هُوَ ابْنُ أَسْلَمَ، عَنْ عِيَاضِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَضْحًى أَوْ فِطْرٍ إِلَى المُصَلَّى، فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ، فَقَالَ: «يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ» فَقُلْنَ: وَبِمَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ، وَتَكْفُرْنَ العَشِيرَ، مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الحَازِمِ مِنْ إِحْدَاكُنَّ»، قُلْنَ: وَمَا نُقْصَانُ دِينِنَا وَعَقْلِنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «أَلَيْسَ شَهَادَةُ المَرْأَةِ مِثْلَ نِصْفِ شَهَادَةِ الرَّجُلِ» قُلْنَ: بَلَى، قَالَ: «فَذَلِكِ مِنْ نُقْصَانِ عَقْلِهَا، أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ» قُلْنَ: بَلَى، قَالَ: «فَذَلِكِ مِنْ نُقْصَانِ دِينِهَا» (۶)[۹۱۳، ۱۳۹۳، ۱۸۵۰، ۲۵۱۵]

---

(۱) عمدة القاری: ۳/۲۶۹.
(۲) فتح الباری: ۱/۵۳٤عمدة القاری: ۳/۲۶۹.
(۳) الکنزالمتواری: ۳/۲۵۸تقريربخاری:۲/۹۸.
(٤) تقريربخاری: ۲/۹۹.
(۵) فضل الباری: ۲/٤۷۱.
(۶) قوله: "أبی سعيدالخدری : الحديث رواه الإمام البخاری رحمه الله فی العيدين أيضاً باب الخروج إلی المصلی بغيرمنبر رقم الحديث: ۹۵۶وفی الزکاة باب الزکاة علی الأقارب رقم الحديث: ۱٤۶۲ وفی الصوم باب الحائض تترک الصلاة والصوم رقم

ترجمه: ابوسعيد خدري رضي الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ د لونی اختر يا وړوکی اختر په موقع باندې عيدګاه ته تشريف يوړو هلته حضورپاك دښځو طرف ته لاړو اوونی فرمائيل اې بيبيانو صدقه کونی ځکه چه ما په جهنم کښې هم ښځې زياتې ليدلی دی. هغوی عرض اوکړو يا رسول الله داسې ولې دی؟ حضورپاك اوفرمائيل تاسو لعن طعن ډير کوئی اود خاوند ناشکری کونی ددې نه باوجود په عقل او دين کښې ناقص کيدود وجې نه. ما تاسو نه هيڅوك زيات يو قابل اوتجربه کاز سړې ليونې کونکې نه دې ليدلې.ښځو عرض اوکړو زمونږ په دين او زمونږ په عقل کښې څه نقصان دې؟ حضورپاك اوفرمائيل ولې د ښځې ګواهي د سړی په مقابله کښې د نيم برابر نه ده؟ هغوی اووئيل اوجی. حضورپاك اوفرمائيل بس هم دغه ددې عقل نقصان دې. بيا حضورپاك تپوس اوکړو ولې داسې نه ده چه کله ښځه حائضه وی نوهغه نه مونځ کولې شی اونه روژه ساتلې شی؟ ښځو اووئيل هم دغه شان ده. حضورپاك اوفرمائيل هم دغه ددوې د دين نقصان دې.

تراجم رجال

سعيدبن أبي مريم: دا سعيدبن الحكم بن محمدبن سالم جُمحی مصری رحمه الله دې. ددوی حالات كتاب العلم باب من سمع شيئا فراجع حتى يعرفه دړومبی حديث لاندې تيرشوی دی.(۱)

محمدبن جعفر: دامحمدبن جعفر بن ابی كثير الانصاری الزرقی رحمه الله دې. دوی د اسماعيل بن جعفر، يحيی بن جعفر اويعقوب بن جعفر رور دې.(۲)

هغوی د زيدبن اسلم، حميدالطويل، ابراهيم بن عقبه، حرام بن عثمان الانصاری، حميد بن ابی زينب، يحيی بن سعيد الانصاری، هشام بن عروه، ابراهيم بن طهمان، شريك بن ابی نمر او علاء بن عبدالرحمن رحمهم الله وغيره نه د حديث روايت كړې دې. اوددوی نه عبدالله بن نافع الصائغ، زياد بن يونس،سعيدبن ابی مريم،عبدالعزيز بن عبدالله الاويسی،عبيد بن ميمون،خالدبن مخلد، اسحاق بن محمدالفراری اومعتمر بن سليمان التيمی رحمهم الله وغيره دحديث روايت كونكی دی.(۳)

امام يحيی بن معين رحمه الله فرمائی: **ثقة**(۴)علی بن المدينی رحمه الله فرمائی: **معروف**.(۵)امام نسائی رحمه الله فرمائی: **صالح**.(۶)نور امام نسائی رحمه الله فرمائی: **مستقيم الحديث**.(۷) ابن حبان رحمه الله د هغوی ذكر كتاب الثقات كښې كړې دې.(۱) امام عجلی رحمه الله فرمائی : **مدنی ثقة**(۲)علامه ذهبی رحمه الله فرمائی دهغوی انتقال ۱۷۰هجری كښې خواؤشا شوې دې.(۳)

الحديث:۱۹۵۱ وفی الشهادات باب شهادة النساء رقم الحديث: ۲۶۵۸ ومسلم فی العيدين باب صلاة العيدين رقم الحديث: ۲۰۵۳ والنسائی فی العيدين باب استقبال الإمام الناس بوجهه فی الخطبة رقم الحديث: ۱۵۷۷.

(۱) كشف الباری:۱۰۶/٤.

(۲) تهذيب الكمال: ۵۸۳/۲٤سير أعلام النبلاء: ۳۲۲/۷تهذيب التهذيب: ۹٤/۹الجرح والتعديل: ۲۹۶/۷.

(۳) تلامذه ومشائخ دَ تفصيل دپاره اوګورئی تهذيب الكمال: ۵۸۳/۲٤.

(۴) تهذيب الكمال: ۵۸۳/۲٤سير أعلام النبلاء: ۳۲۲/۷تهذيب التهذيب: ۹٤/۹الجرح والتعديل: ۲۹۶/۷.

(۵) تهذيب الكمال: ۵۸۵/۲٤ تهذيب التهذيب: ۹۵/۹الجرح والتعديل: ۲۹۶/۷.

(۶) تهذيب الكمال: ۵۸۵/۲٤ تهذيب التهذيب: ۹۵/۹.

(۷) تهذيب التهذيب: ۹۵/۹.

زید بن أسلم: دا ابواسامه یا ابوعبدالله زید بن اسلم قرشي دوی مدني رحمه الله دې. ددوی حالات کتاب الإیمان باب کفران العشیر الخ لاندې تیر شوی دی. [4]

عیاض بن عبدالله: داعیاض بن عبدالله بن سعد بن ابی سرح العامری القرشي المکي رحمه الله دې. [5]

دوی د حضرت عمر، ابوهریره، ابوسعید اوحضرت جابر رضي الله عنهم نه حدیث روایت کړی. اوددوی نه زید بن اسلم، محمدبن عجلان، سعیدالمقبری، بکیربن الاشج، داؤد بن قیس الفراء، حارث بن عبدالرحمن بن ابی زباب، اسماعیل بن امیه، سعید بن ابی هلال اوعبدالله بن عبدالله بن عثمان بن حکیم أبن حزام الاسدی رحمهم الله وغیره حدیث روایت کوی. [6]

امام یحیی بن معین رحمه الله فرمائی: **ثقة**. [7] امام نسائی رحمه الله فرمائی: **ثقة**. [8]. ابن حبان رحمه الله دهغوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې. [9]

ابن یونس رحمه الله فرمائی چه دعیاض بن عبدالله د پیدائش ځائی مکه ده او هم په مکه کښې ۱۱۰هجری کښې وفات شوې. [10]

أبوسعید الخدري: داصحابی رسول ﷺ سعد بن مالك بن سنان ابوسعیدخدری رضي الله عنه دې. ددوی حالات کتاب الإیمان باب من الدین الفرار من الفتن لاندې تیرشوی دی. [11]

شرح حدیث

قوله:: في أضحی أوفي فطر: حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عیني رحمه الله وغیره فرمائی چه دا شك د یوراوی د طرف نه دې. [12] خوعلامه کرماني رحمه الله فرمائی چه مذکوره شك دحضرت ابوسعید خدری رضي الله عنه د طرف نه دې. [13] ددې په جواب کښې علامه عیني رحمه الله فرمائی چه په دې باره کښې هیڅ تعیین نشته. په دې وجه په یقیني توګه سره نه شي وئیلې کیدې چه دا شك د چا دطرف نه دې. [14]

---

[1] ۴۰۲/۷ دارالفکر.

[2] تهذیب التهذیب: ۹۵/۹.

[3] سیرأعلام النبلاء: ۳۲۲/۷.

[4] کشف الباري: ۲۰۳/۲.

[5] تهذیب الکمال: ۵۶۷/۲۲ تهذیب التهذیب: ۲۰۰/۸ الجرح والتعدیل: ۵۳۸/۶ رقم الترجمة: ۱۱۵۳۴.

[6] تلامذه ومشائخ دَ تفصیل دپاره اوګورئی تهذیب الکمال: ۵۶۷/۲۲.

[7] تهذیب الکمال: ۵۶۷/۲۲ تهذیب التهذیب: ۲۰۱/۸ الجرح والتعدیل: ۵۳۸/۶.

[8] حواله بالا

[9] ۲۶۴/۵.

[10] تهذیب التهذیب: ۲۰۱/۸ تقریب التهذیب: ۵۳۸.

[11] کشف الباري: ۸۲/۲.

[12] عمدة القاري: ۲۷۰/۳ فتح الباري: ۵۳۴/۱.

[13] شرح الکرماني: ۱۶۹/۳.

[14] عمدة القاري: ۲۷۰/۳.

لفظ «أضحى» دهمزه فتحه او ضاد په سکون سره مستعمل کیږی.[1] علامه جوهری رحمه الله لیکلی دی «الأضحية» هغه چیلئی ته وائی کومه چه د لونی اختر په ورح ذبح کولې شی. اوامام اصمعی رحمه الله په دې کښې څلور لغات ذکرکړی دی. ① إضحية: دهمزه کسره سره. ② أضحية: د همزه ضمه سره. ③ ضحية: د ضاد فتحه سره. ④ أضحاة.[2] د إضحية او أضحية جمع أضاحي راځي. د ضحية جمع ضحايا اود أضحاة جمع أضحى راځی. أضحی مذکر اومؤنث دواړه شان استعمالیږی.[3] بیا یوم الأضحی ته یوم الأضحی هم په دې وجه وائی چه د قربانئی عمل ضحی یعنی ساختی (دورځ راختو) وخت وی.[4]

قوله: :فمر علی النساء: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دلته دا روایت په اختصارسره ذکرکړې دې او کتاب الزکاة کښې مکمل ذکرکړې دې. هلته د روایت الفاظ څه داسې دی: «إلى المصلى، فوعظ الناس وأمرهم بالصدقة، فقال: أيها الناس! تصدقوا، فمر على النساء» اوددې نه وړاندې کتاب العلم کښې هم دغه حدیث د حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نه په دې معنی کښې تیرشوې دې چه د حضوریاك نه ښځو وعده اخستې وه چه تاسو صلی الله علیه وسلم په خاص توګه ښځوته وعظ اونصیحت اوکړئی نودا وعده ئی د قربانئی داخترپه ورځ پوره کړه.[5]

قوله: :یامعشر النساء: دلیث رحمه الله نه نقل دی چه معشر هرهغه ډلې ته وائی د کومې احوال اومعاملات چه یوشان وی که هغه د سړو وی اوکه د ښځو وی یا ددواړو جماعت وی یا صرف د سړو یا صرف د ښځو جماعت وی. اوثعلب رحمه الله نه نقل دی چه دمعشر اطلاق صرف د سړو په جماعت باندې کیږی.[6] مګر چونکه په مذکوره حدیث کښې لفظ معشر اطلاق د ښځوډپاره شوې دې په دې وجه د ثعلب رحمه الله تحقیق ناقابل قبول دې.[7]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه کیدې شی د ثعلب رحمه الله مراد داوی چه په حالت د اطلاق کښې لفظ معشر اطلاق سړو سره خاص کیږی او په حالت دتقیید کښې ددې لفظ اطلاق په ښځو باندې هم کیدې شی لکه چه دلته روایت کښې معشر النساء وئیلې شوې.[8] معشر جمع د معاشر راځی.[9]

قوله: :أریتکن: أریت دهمزه ضمه او راء په کسره سره فعل مجهول په معنی أخبرت دې. اودلته متعدی به سه مفعول دې. مفعول اول تاء ده کوم چه ضمیر مرفوع متصل دپاره د واحد متکلم دې اومفعول ثانی کنّ دې اومفعول ثالث أکثر أهل النار دې.[10]

---

[1] إرشادالساري: ٥٤٢/١.
[2] معجم الصحاح: ٦١٥
[3] معجم الصحاح: ٦١٦
[4] عمدة القاري: ٢٧٠/٣.
[5] فتح الباري: ٥٣٤/١.
[6] فتح الباري: ٥٣٤/١عمدة القاري: ٢٧٠/٣ إرشاد الساري: ٥٤٢/١.
[7] حواله بالا
[8] فتح الباري: ٥٣٥/١ إرشاد الساري: ٥٤٢/١.
[9] عمدة القاري: ٢٧٠/٣.
[10] عمدة القاري: ٢٧١/٣.

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دا رؤیت د معراج په شپه (لیلة الإسراء) کښې شوې وو او صلاة الکسوف کښې دامضمون د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه داسې نقل دې: ((أریت النار، فلم أر منظراً کالیوم قط أفظع ورأیت أکثر أهلها النساء)) یعنی ماته دوزخ اوخودلې شو نو ما د نن ورځې په شان خطرناك منظر اول چرته نه دې لیدلې اوما اوکتل چه په دې کښې اکثر ښځې دی.[1] حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه (صلاة الکسوف) کښې ذکرشوې حدیث د ابن عباس رضی الله عنهما نه معلومیږی چه دا رؤیت د کسوف د مونځ په حالت کښې شوې. [2]

په دې دواړو اقوالوکښې تضاد نشته ځکه چه ممکن دی په دواړو موقعوباندې حضورپاك داسې لیدلې وی. [3]

په جهنم کښې دښځودکثرت سره متعلق یواشکال: دلته ددې روایت نه معلومیږی چه په جهنم کښې به د ښځو کثرت وی خودحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه: ((إن أدنی أهل الجنة منزلة من له زوجتان من الدنیا)) یعنی د ټولو نه دکمې درجې جنتی هغه دې چاته چه به په جنت کښې د انسانانونه دوه بیبیانې ملاویږی. ددې روایت مقتضٰی خو داده چه ښځې به دریوکښې دوه حصې وی یعنی په جنت کښې به د ښځو شمیر د سړو په نسبت زیات وی.[4]

د اشکال جواب: علامه عینی رحمه الله ددې اشکال په جواب کښې فرمائیلی دی چه دا کثرت دوقوع به د شفاعت نه پس وی.[5] مطلب داچه سره ددې چه په جهنم کښې به د ګناهګارو ښځو شمیرد سړو په نسبت زیات وی مګر څه به د سزا تیرولونه پس کله د شفاعت په وجه د دوزخ نه راوتل اوجنت ته د داخلیدلو سلسله وی نوبیا به په جنت کښې د ښځو شمیر زیات شی په دې وجه به دیوجنتی په نکاح کښې دوه دوه راځی. بعض حضراتو دا جواب ورکړې دې چه ((رأیت أکثر أهلها النساء)) په تخویف اوتغلیظ باندې مبنی دې مګر دا جواب صحیح نه دې ځکه چه د حضوراکرم خبر ورکول د رؤیت نه پس دې. بیا دا تخویف یا تغلیظ ګرځول څنګه صحیح کیدې شی .....؟ [6]امام نووی رحمه الله فرمائی چه د حضورپاك فرمان ((رأیت أکثر أهلها النساء))

کښې ددې خبرې دلیل دې چه نن هم څه خلق دجهنم په عذاب کښې اخته دی. (أعاذنا الله منه) [7]

قوله: وبم یارسول الله: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه واؤ استینافیه دې اوباء تعلیلیه دې اومیم په اصل کښې ما استفهامیه ده کوم چه تخفیفاً حذف کړې شوې دې.[8]

---

[1] عمدة القاری: ۲۷۱/۳رواه البخاری فی الکسوف فی باب صلاة الکسوف جماعة رقم الحدیث: ۱۰۵۲.
[2] فتح الباری: ۵۳۵/۱ إرشاد الساری: ۵٤۲/۱.
[3] أنوارالباری: ۳۹٤/۱۰.
[4] عمدة القاری: ۲۷۱/۳، ۱۲۱/۷دارالکتب العلمیة أوجزالمسالک: ۸٤/٤
[5] حواله بالا.
[6] حواله بالا.
[7] أوجزالمسالك: ۸۴/۴.
[8] فتح الباری: ۵۳۵/۱.

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه واؤ عاطفه دې اومعطوف علیه مقدردې. تقدیری عبارت داسې دې: «ما ذنبنا وبم» او باء سببیه ده او میم په اصل کښې ما استفهامیه دې او حالت جرکښې ما استفهامیه الف غورزول اوفتحه باقی ساتل واجب وی دې دپاره چه فتحه، په الف محذوفه باندې دلالت اوکړی لکه چه إلام او علام .... وغیره کښې هم داسې شوی دی. اود الف د حذف کولوعلت دادې چه استفهام او خبر په مینځ کښې فرق اوکړې شی. هم دغه وجه ده چه په آیت مبارک ﴿فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَاهَا﴾ او ﴿فَنَاظِرَةٌ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُونَ﴾ کښې دما استفهامیه الف محذوف دې.[۱] بل د حضرت عکرمه رحمه الله اوعیسی رحمه الله په قراءت کښې دی ﴿عَمَّا يَتَسَاءَلُونَ﴾ یعنی دما استفهامیه الف حذف نه کړې شو نوعلامه عینی رحمه الله فرمائی چه دا نادر دی.[۲]

قوله: تكثرن اللعن

د لعنت حکم: د لعنت حکم د بددعا اود الله تعالی د رحمت نه لرې کول دی اود لعنت په حرمت باندې د علماؤ اتفاق دې ځکه چه یومسلمان یا کافر د چا د خاتمې چه په قطعی او یقینی توګه باندې علم نشته، دالله تعالی د رحمت نه لرې کول ناجائزدی. البته د یوکس په کفرباندې مړه کیدل په دلیل قطعی سره ثابت وی یا دا ثابت وی چه هم په کفر باندې به مړکیږی نو په داسې صورت کښې لعنت کول جائزدی.[۳]

دغه شان بلاتعیین کسانوباندې د یوخاص صفت د وجې نه لعنت کول هم جائز دی لکه دالله تعالی لعنت دې وی په ظالمانو باندې فاسقانوباندې منافقانو باندې او په کافرانو باندې وغیره وغیره.[۴]

قوله: وتكفرن العشير: د کفرمعنی پټول اود یونعمت ناشکری اوبې قدری کول دی. اود ښځې د ناشکرئی نه مراد دلته دادې چه هغه د خاوند د احساناتو ناشکری کوی اوهغه چه ورته څه هم راوړی هغه کم شمیری.[۵]

العشیرد فعیل په وزن دې اودې اطلاق په خاوند، ملګری مجلس والااو دوست ټولو باندې کیږی.[۶] البته علامه عینی رحمه الله علامه باجی رحمه الله اوعلامه کرمانی رحمه الله وغیره فرمائی چه دلته د عشیر نه مراد خاوند دې او خاوند ته عشیر ځکه وائی چه هغه د ښځې سره اوښځه دهغه سره په یوخائی ژوند تیره وی.[۷] علامه باجی رحمه الله او حافظ ابن حجررحمه الله وغیره دویم احتمال هم ذکرکړې دې اوهغه دا چه عشیر نه مراد عام وی که هغه خاوند وی اوکه بل څوک.[۸]

---

[۱] عمدة القاري: ۲۷۱/۳ إرشادالساري: ۵٤۲/۱.
[۲] حواله بالا.
[۳] فتح الباري: ۵۳۶/۱ عمدة القاري: ۲۷۳/۳ شرح الكرماني: ۱۶۹/۳ إرشادالساري: ۵٤۳/۱.
[٤] فتح الباري: ۱/۵۳۶ عمدة القاري: ۲۷۳/۳ شرح الكرماني: ۱۶۹/۳ إرشادالساري: ۵٤۳/۱.
[۵] فتح الباري: ۵۳۵/۱ عمدة القاري: ۲۷۰/۳ شرح الكرماني: ۱۶۹/۳ إرشادالساري: ۵٤۳/۱.
[۶] عمدة القاري: ۲۷۰/۳ أوجزالمسالك: ۸۶/٤.
[۷] عمدة القاري: ۲۷۰/۳ شرح الكرماني: ۱۶۹/۳ المنتقى شرح المؤطا: ۳۲۹/۱.
[۸] فتح الباري: ۵۳۵/۱ المنتقى شرح المؤطا: ۳۲۹/۱.

علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه دحضورپاك جواب په اسلوب حكيم باندې مبنى دې هغه داسې چه د
دغه ښځو دسوال جواب «تكثرن اللعن وتكفرن العشير» باندې مكمل شوې وو. خودددې نه باوجود حضور
پاك ﷺ د دغه ښځو مذمت دعقل اودين په اعتبار ناقص كيدوسره داسې اوكړو چه دې سره سره د دغه
ښځو يوبل خراب صفت معلوم شو اوهغه خراب صفت دادې چه دا ښځې باوجود د ناقص العقل
والدين كيدو كامل العقل او پوخ دماغو والاسړې خپل تابعدار او راګيره وى. او په جواب كښې دا
شان طريقه اختيارولو ته صنعت استتباع وائى.[۱]
ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله فيه نظر ونيلوسره دا توجيح مرجوح اوګرخوله اوبيائى خپله رائې ذكركړه
چه په ظاهره دا خبره هم د ښځو «أكثرأهل النار» كيدود اسباب نه خودلې شوې ده خكه چه كله هغوى
يوهوښيار دانا اوعقل مند سړې بيكاره كوى تردې چه نامناسب اوناجائز طريقې اختيارولو باندې
مجبورشى نوهغه هم د ده د ناجائزكار په ګناه كښې شريكه شوه بلكه هغه پخپله د ګناه سبب كيدو د
وجې نه ددغه سړى نه هم د ګناه په بوج كښې راګيره شوه اودغه شان په اوركښې د داخليدلو نوره هم
زياته حقداره شوه.[۲]
دعلامه عينې رحمه الله رائې داده په دې كښې د ښځو دمذمت نه زيات د حيرانتيا د اظهار اړخ ډير
ښكاره دې.[۳]
په دې موقع باندې علامه نووى رحمه الله فرمائى چه په مذكوره روايت كښې د ښځوكثرت د لعن او خاوند
د نافرمانى سبب د هغوى دپاره په دوزخ كښې د داخليدلو وعيدكيدل ددې خبرې دليل دې چه دا
دواړه كبيره ګناهونه دى.[۴]

قوله: من ناقصات: من ناقصات صفت دې اوددې موصوف محذوف دې اوتقديرى عبارت داسې
دې «مارأيت أحدا من ناقصات.....الخ».[۵]

قوله: أذهب: أي: أشد إذهابا: داد باب افعال «الإذهاب» نه صيغه د تفضيل ده او دا د امام سيبويه
رحمه الله د مذهب موافق دې خكه چه هم هغه ثلاثى مزيد فيه نه داسم تفضيل په بنياد باندې جائز ګرخوى
خودقياس تقاضاده چه دلته «أشد ذهابا» وى.[۶]

قوله: للب الرجل الحازم من إحداكن: اللبّ: د لبّ معنى مغز ده يعنى خالص عقل په كوم
كښې چه د څه قسم دعيب يا نقص څه وجودنه وى. داسې لبّ (مغز) عقل سره خاص دې لهذا هرلبّ
(مغز) عقل دې ليكن هرعقل لبّ (مغز) نه دې.[۷]

---

[۱] شرح الطيبى كتاب الإيمان: ۱۴۵/۱ رقم الحديث: ۱۹.
[۲] فتح البارى: ۵۳۵/۱.
[۳] عمدة القارى: ۲۷۲/۳.
[۴] فتح البارى: ۵۳۶/۱ عمدة القارى: ۲۷۳/۳.
[۵] عمدة القارى: ۲۷۱/۳.
[۶] فتح البارى: ۵۳۵/۱ عمدة القارى: ۲۷۱/۳ شرح الكرمانى: ۱۶۹/۳ إرشاد السارى: ۵۴۳/۱.
[۷] شرح الكرمانى: ۱۶۹/۳ إرشاد السارى: ۵۴۳/۱ فتح البارى: ۵۳۵/۱.

قوله:: الحازم: حازم زيرك او پوخ كار سړی ته وائی.(۱) او دلته د ښځو ناقصات العقل والدين كيدو سره ددې خبرې ذكر كول چه هغوی سره دعقل او دين كښې د كموالي د وجې نه يو پوخ كار سړی خپل تابعدارجوړه وی دا په توګه د مبالغه دې اوهغه داسې چه د يوپوخ كار سړی داحال دې نوبيابه ناپخته كار سړی څه واينی.....!(۲)

قوله:: ومانقصان ديننا وعقلنا: علامه عينی رحمه الله فرمائی چونكه دې ښځو ته د خپل ناقصات العقل والدين كيدو وجه په پوهه كښې نه راتله په دې وجه ئی دحضورپاك نه پوښتنه اوكړه چه ((ومانقصان ديننا وعقلنا يارسول الله؟))(۳)

حافظ ابن حجر فرمائی چه ددې ښځو داسوال كول هم دهغوی په ناقصات كيدوباندې دلالت كوی څكه چه دغه پورته ذكرشوی دريواړه خامياني(اكثارلعن،كفران عشير،اذهاب لب رجل) منلو باوجود هغوی ته خپل ناقصات كيدل په پوهه كښې رانغللې شو او پوښتنه ئی اوكړه ((ومانقصان ديننا وعقلنا؟)) (۴)

په دې باندې نقد كولوسره علامه عينی رحمه الله فرمائی چه دا استشكال ګرځول صحيح نه دی بلكه په حقيقت كښې علت د نقصان د پټوالي په وجه دغه ښځو پوښتنه كړې وه اودا څنګه ممكن دی چه دا استشكال اوګرځولې شی. څكه چه پخپله حضورپاك ددغه خفاء دختمولوپاره داسې ارشاد فرمائی: ((أليس شهادة المرأة الخ))(۵)

قوله:: أليس شهادة المرأة: د رسول الله ﷺ جواب د ډير شفقت نرمئی او خوند نه ډك دې په كوم كښې چه حضورپاك ښځو سره دهغوی د پوهې مطابق كلام اوفرمائيلو. څكه چه د حضورپاك فرمان دې چه خلقو سره دهغوی د عقل په اندازه خبرې كونی.(۶)

شراح فرمائی چه: ((أليس شهادة المرأة بنصف شهادة الرجل)) كښې دالله تعالى ارشاد ﴿فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰىهُمَا فَتُذَكِّرَ اِحْدٰىهُمَا الْاُخْرٰى﴾ طرف ته اشاره ده. په كوم كښې چه دی د دوو ښځو ګواهي د يوسړی د ګواهئی برابره ده اوالله تعالى ددې وجه داخودلې چه يوې نه هيره شی نو بله به ئی وريادوی. ددې نه معلومه شوه چه په دوی كښې د هيرې ماده زياته ده چه يوقسم هم د عقل نقصان دې.(۷)

بل حضورپاك دنقص دبيانولوپه ځائی(أليس شهادة المرأتين مثل شهادة الرجل) او(أليس شهادة المرأة مثل نصف شهادة الرجل)تعبيرځكه استعمال كړوچه په دې كښې په نقصان عقل باندې صريح دلالت دې خو په دويم

---

(۱) حواله بالا.

(۲) فتح الباري: ۵۳۵/۱إرشادالساري: ۵۴۳/۱.

(۳) عمدة القاري:۲۷۱/۳.

(۴) فتح الباري: ۵۳۵/۱.

(۵) عمدة القاري:۲۷۱/۳.

(۶) فتح الباري: ۵۳۵/۱عمدة القاري: ۲۷۱/۳إرشادالساري:۵۴۳/۱.

(۷) فتح الباري: ۵۳۵/۱إرشاد الساري: ۵۴۳/۱.

تعبيركښې په نقصان باندې ضمناً دلالت دې.([1]) ابن التين رحمه الله فرمائي چه بعض حضراتو عقل په دیت باندې محمول کړې دې مگر داخبره بعيده ده اوسياق كلام هم ددې نفي كوي.([2])علامه عيني رحمه الله فرمائي چه په ظاهره ددې حديث نه معلوميږي چه د دنيا ټولې ښځې دعقل اودين په لحاظ سره ناقص وي حالانکه د نورو احاديثونه د ښځو د کمال ثبوت هم ملاويږي. چنانچه حضورپاك فرمائي «كمل من الرجال كثير، ولم يكمل من النساء إلا مريم بنت عمران، وآسية بنت مزاحم» يعنى په سړوكښې خو ډيرخلق د كمال دې مگر په ښځو كښې صرف دوه كامل دى حضرت مريم بنت عمران او حضرت آسيه بنت مزاحم. او دترمذی شریف په روايت كښې د څلورو ذكردې كوم چه حضرت انس رضي الله عنه روايت كړې دې چه حضورپاك فرمائي: «حسبك من نساء العالمين: مريم بنت عمران، وخديجة بنت خويلد، وفاطمة بنت محمد، وآسية امرأة فرعون»([3])
بعض حضراتوددې جواب دا وركړې دې چه دڅه كسانو وجې نه په مذكوره كليه باندې اثر نه پريوځي ځكه چه هغه ډير كم اونادر دى.([4]) دويم بهترجواب دادې كه د يوې خبرې حكم په څرته په ټول قسم باندې هم راشي نودا ضروري نه دى چه هغه حكم به دهغې په هريو كس باندې لازم وي او هيڅوك به نشي بچ كيدې.([5])

قوله:: فذلك: كاف د خطاب د كسره سره اودا خطاب هغه ښځې ته دې د چا په ذمه چه حضورپاك سره خبرې كول وو.([6])
علامه قسطلاني رحمه الله فرمائي په دې باندې اشكال كيږي چه خطاب خو ډيرو ښځوته وو بيانى فذلك ولې اوفرمائيلو دلته فذلكن كيدل پكاردي؟ نوجواب دادې چه ذلك مذكر مخاطب كښې داخبره ده چه ددې په استعمال سره د ذلكم نه استغناء حاصليږي لكه چه د الله تعالى ارشاد دې ﴿وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ مِنْكُمْ﴾ هم دغه شان په مؤنث كښې هم ده چه دمؤنث واحد په استعمال سره د جمع مؤنث مخاطب نه استغناء حاصليږي. خود بعض نحويانونه دا هم نقل دى چه كاف مكسوره مفرده دهرمؤنث د خطاب د پاره كافي دې. دويم جواب دادې چه خطاب لاعفلى التعيين دې يوې ښځې سره هم خاص نه دې دې دپاره چه دې ټولو ښځو ته على سبيل البدلية شامل وي په دې معنى چه د دوى ناقص العقل كيدل دومره اندازه كښې واضح دى چه داخطاب بعض سره خاص كول او بعض سره غيرمختص كولې نشي.([7])بل د كاف فتحه سره هم جائز دې په دې بناء باندې خطاب عام دې.([8])

ددين اوعقل نقصان په توګه د ملامتيانه دې: شراح حديث ليكلى دى چه د ښځو په حواله سره ددين نقصان اودعقل ذكر په توګه دملامتيانه دې بلكه ددې ذكرخود تنبيه په غرض دې دې دپاره چه ددغه كم

---

[1]) عمدة القاري:۲۷۲/۳.
[2]) فتح الباري: ۵۳۵/۱.
[3]) عمدة القاري: ۲۷۲/۴ إرشادالساري: ۵۴۳/۱صحيح البخاري كتاب أحاديث الأنبياء رقم الحديث: ۳۴۳۳وجامع الترمذي، كتاب المناقب، باب فضل خديجة رقم الحديث: ۳۸۷۸.
[4]) عمدة القاري:۲۷۲/۳.
[5]) عمدة القاري:۲۷۲/۳إرشادالساري: ۵۴۳/۱.
[6]) فتح الباري: ۵۳۵/۱عمدة القاري:۲۷۲/۳إرشادالساري: ۵۴۳/۱.
[7]) إرشادالساري: ۵۴۳/۱.
[8]) فتح الباري: ۵۳۵/۱عمدة القاري:۲۷۲/۳إرشادالساري: ۵۴۳/۱ شرح الكرماني: ۱۷۰/۳.

عقل والو د فتني د اخته كيدو نه انسان محفوظ وي. هم دغه وجه ده چه په مذكوره روايت كښې د عذاب ترتب په نقص دين اوعقل باندې اونه كړې شو بلكه كفران عشير او اكثار لعن غوندې گناهونوباندې اوكړې شو.[۱]

علامه نووي رحمه الله نور فرمائي چه د دين نقصان هم د گناه په كارونوكښې راگيرنه دې ليكن كله خو نقص دين په داسې توگه شي چه په هغې سره گناه لازمي راځي. لكه بغيرد عذر نه مونځ پريخودل. او كله په داسې توگه كيږي چه په هغې سره گناه نه لازميږي لكه د يو عذر د وجې نه جمعه پريخودل او كله داسې هم كيږي چه انسان د هغه فعل د كولو مكلف كيږي لكه د حائضه دپاره چه د مونځ پريخودل او روژه نه ساتلو حكم.[۲]

ايا حائضه به سره د ترك صلاة وصوم د ثواب مستحق وي؟ بيا دلته يو سوال داهم پيداكيږي چه آيا په داسې صورت كښې كله چه حائضه د مونځ ترك كولو او د روژې پريخودلو پابند ده د ثواب مستحق به وي كه نه؟ هغې ته به د دغه مونځونو او روژ ثواب ملاوېږي كه نه؟ او شريعت خودهغې د ذمې نه د دغه مونځونو قضاهم ساقط كړې ده. لكه څنگه چه بيمارته دبيمارئي په حالت كښې دهغه نفلونو ثواب ملاويږي كوم چه هغه د پابندئي سره په حالت د صحت كښې اداكول. د كوم د اداكولونه چه د بيمارئي په وجه عاجز شوې دې؟ نو علامه نووي رحمه الله فرمائي چه په ظاهره هم دغه معلوميږي چه ثواب به ورته نه ملاويږي او دواړه (حائضه اومريض) كښې وجه د فرق داده چه د مريض نوافل اداكول په نيت د هميشه والي وو اوهغه ددې د اداكولو اهل هم دې خو په حائضه كښې داسې خبره نشته دې خكه چه دهغې نيت د ايام حيض سره متعلق د مونځ روژې پريخودلو وي اوبيا حائضه اهل هم نه ده، خكه چه په هغې باندې مونځ كول حرام دي.[۳] مگر علامه عيني رحمه الله فرمائي ليكن دا كيدې شي چه د ترك حرام په وجه هغه د ثواب مستحق اوگرځي.[۴]

قوله: لم تصل ولم تصم: حافظ ابن حجرفرمائي چه په دې جمله كښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چه د شريعت د طرف نه د حائضه دپاره د مونځ روژې د ممانعت حكم ددغه مجلس نه وړاندې واقع شوې وو.[۵] باقي د حائضه دپاره د ترك صلاة و صوم حكم ددې دعلت اوعدم قضا صلاة اوقضا صوم په تعليل كښې د فقهاؤ اختلاف، دا ټول بحثونه په تفصيل سره د شروع په مباحث كښې تير شوي دي.

استنباط احكام: ① ددې روايت نه معلوميږي چه دامام د قوم سره د اختر د مونځ دپاره كولو ميدان كښې د عيدگاه طرف ته وتل مستحب دي.[۶]

② په دې كښې د صدقه او خيرات كولو د رغبت وركولوحكم دې. خاص كر د اخترونو په موقع باندې ددې حكم اهميت خكه دې چه غنيان اوفقيران يوشان شي. فقيران يتيمان مسكينان سړي او ښځې د اميرانو او غنيانو خوراك لباس فاخره وغيره ته كتلوسره افسوس او ارمان كوي نوكه چرې په دغه موقع باندې دهغوي امداداوكړې شي نوهغوي سره به هم ښكلې لباس اود خوراك څښاك سامان وي.

---

[۱] فتح الباري: ۵۳۶/۱ إرشادالساري: ۵۴۳/۱.

[۲] فتح الباري: ۵۳۶/۱عمدة القاري:۲۷۲/۳إرشادالساري:۵۴٤/۱ شرح الكرماني: ۱۷۰/۳.

[۳] فتح الباري:۵۳۶/۱عمدة القاري:۲۷۲/۳إرشادالساري: ۵٤٤/۱ شرح الكرماني: ۱۷۰/۳.

[۴] عمدة القاري:۲۷۲/۳.

[۵] فتح الباري: ۵۳۵/۱.

[۶] فتح الباري: ۵۳۵/۱عمدة القاري:۲۷۲/۳ شرح الكرماني: ۱۷۰/۳.

او بیا حضورپاكﷺ په خاص توګه باندې صرف ښځو ته په دې حکم کښې خطاب ددې دپاره کړې دې چه په هغوی کښې په عام توګه د بخل صفت زيات وی اود صدقې د اجر او ثواب علم او استحضار ورته کم وی.[1]

④ داختر په ورځوکښې عيدګاه ته د ښځو د تللو هم جواز معلوم شو.[2] دې د پاره چه هغوی هم په مونځ اودعاکښې شامل شی. ليکن دامت علماؤ فيصله کړې ده چه دا جوازد حضورپاك د زمانې مبارکې پورې وو اوس ځوانانو ښځوله د کورونو نه وتل نه دی پکار. په دې وجه خو حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل که چرې حضورپاك دغه حالات کتلې وې[3] کوم چه دحضورپاك د وفات نه پس ښځو پيداکړل نوهغوی به ئې د جماتونو د حاضرئی نه منع کړې وې لکه څنګه چه به بنی اسرائيلو ښځې رامنع کولې.[4]

علامه عينی رحمه الله چه حضرت عائشه رضي الله عنها دا قول د حضورپاك دوصال نه پس دنيزدې زمانې دې او اوس خو نعوذ بالله حالت ډير زيات خراب شوې دې په دې وجه د ښځود بهر وتلو جواز هيڅ شان سره نه شی کيدې. خاص کر د ښاريو د ښځودپاره د چا حال چه ټولو ته ښه معلوم دې.[5]

④ ابن ملقن رحمه الله فرمائی چه يوجماعت د ښځو عيدګاه ته تلل جائز ګڼړی او په دوی کښې حضرت ابوبکر، حضرت علی، حضرت ابن عمر او نور صحابه کرام رضي الله عنهم دی. او نورو حضراتو دا منع کړی دی په کوم چه عروه، قاسم، يحيى بن سعيدانصاری، امام مالك او امام ابويوسف رحمهم الله دی. د امام ابوحنيفه رحمه الله نه د دواړو روايت دې او بعض حضراتو د ځوانانو ښځودپاره ممانعت کړې دې اود ماشومانو او بوډې ګانو ښځودپاره ئې ممانعت نه دې کړې. د امام مالك رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله هم دغه مذهب دې.[6]

امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه د اسلام په شروع کښې د ښځودپاره د وتلو حکم د دښمنانو په نظرکښې تکثير سواد مسلمين په غرض سره وو.[7] زه دا وايم چه هم دې سره هغه زمانه د امن وه او نن صبا امن ډيرکم دې اوَد مسلمانانوشميرهم ډيرزيات شوې دې. په دې وجه د تکثيرسواد غرض فوت شو.[8]

او زمونږ د احنافوَ مذهب هم هغه دې کوم چه صاحب د بدائع علامه کاسانی رحمه الله ذکر کړې دې چه ټولو فقهاؤ په دې امرباندې اتفاق کړې دې چه داخترونو اود جمعو د مونځونو او دنورو مونځونو دپاره د ځوانانو ښځو د وتلو د رخصت اجازت نه وی. لقوله تعالى﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ﴾يعنی په خپلو کورونو کښې کښنئ. بل دا چه دهغوی د کورونو نه وتل به د فتنو او خرابو سبب وی. البته بوډې ګانې ښځې د اخترونو د پاره وتلې شی سره ددې چه غوره دهغوی دپاره هم بغيرد څه خلاف نه هم دغه دی چه د يو

[1] عمدةالقاری: ۲۷۲/۳.

[2] فتح الباری: ۵۳۵/۱عمدة القاری: ۲۷۲/۳.

[3] قالت: لو أدرک النبی صلى الله عليه وسلم ما أحدث النساء لمنعهن المسجد، كما منعت نساء بنی اسرائيل. رواه الإمام ابخاری فی الأذان، باب انتظار الناس قيام الإمام العالم رقم الحديث: ۸۶۹.

[4] عمدةالقاری: ۲۷۲/۳التوضيح لابن الملقن: ۵۱/۵.

[5] عمدة القاری: ۲۷۲/۳.

[6] التوضيح: ۲۵/۵.

[7] التوضيح: ۲۵/۵.

[8] عمدة القاری: ۲۷۲/۳.

مونږ دپاره دې هم نه اوخی. بیا که چرې اوخی نو په روایت د حسن عن الامام ابی حنیفه رحمه الله داختر مونږ به کوی اود امام ابویوسف رحمه الله د روایت مطابق به مونږ نه کوی بلکه صرف تکثیر سواد مسلمین به کوی اود دعا د شرکت نه به فائده اخلی. د ام عطیه رضي الله عنها نه روایت دې چه حضورپاك به نابالغ جینکئی پیغلې پرده کونکې جینکئی اود حیض والا ښځو ته هم د عیدګاه طرف ته د وتلو هدایت کولو. بیا د حیض والا د عیدګاه نه جدا مګر متصل خائی کښې جمع کیدلې اودغه شان د برکت نه ډك تقریب اود اختر په اجتماع کښې شرکت کولو اودمسلمانانو په دعاګانو کښې به ورسره وې.(۱) هغه وخت حضورپاك دا هم اوفرمائیل د الله تعالی بندیګانې د جماتونود حاضرئی نه مه منع کوئی.(۲) او سنن ابی داؤد (۳)روایت کښې دی چه هغوی دې په ساده د استعمال په کپړو کښې اوخی او عطر اوخوشبوئی کښې لړېر نه اوخی.(۴)

امام نووی رحمه الله فرمائی چه د ځوانې ښځې د پاره په اختر کښې وتل مکروه دی اودغه شان هغه ښځه هم د کومې طرف ته چه د سړو رغبت وی ځکه چه دداسې ښځودپاره بهروتلوسره هغه پخپله هم په فتنو کښې اخته کیدې شی اودهغې د وجې نه سړی هم راګیریدې شی.(۵)

⑤ ددې روایت نه معلومه شوه چه د ښځو د نصیحت او وعظ دپاره د وخت امام یا چه کله هغه موجود نه وی نو دهغه نائب جدا وخت ورکولې شی.(۶)

⑥ دنصیحت په موقع سخته لهجه هم اختیارولې شی دې دپاره چه اوریدونکی د خرابو طور طریقو نه اود انسانیت د ننګ اوصاف پریږدی.(۷)

⑦ په صدقه کولوسره دالله تعالی عذاب دفع کیږی او په دې سره د ګناهونو کفاره کیږی.(۸)

⑧ دالله تعالی د نعمت نه انکار حرام دې او کفران نعمت مذموم دې.(۹)

⑨ په مومن باندې لعن طعن او ظلم او سختی کول حرام دی اوکه داسې بار بار کوی نود سختې کبیره ګناه مرتکب کیږی به.(۱)

---

(۱) قالت أم عطیة: أمرناأن تخرج، فنخرج الحیض والعواتق.وذوات الخدور. فأما الحیض فیشهدن جماعة المسلمین ودعوتهم ویعتزلن مصلاهم. رواه السنة، فالبخاری فی العیدین باب اعتزال الحیض المصلی تحت رقم الحدیث:۹۸۱ ومسلم فی صلاة العیدین باب ذکرإباحة خروج النساء فی العیدین إلی المصلی تحت رقم الحدیث: ۲۰۵۶ والترمذی فی أبواب العیدین باب فی خروج النساء فی العیدین تحت رقم الحدیث: ۵۳۹ وأبوداؤد فی الصلاة باب خروج النساء فی العید تحت رقم الحدیث: ۱۱۳۶، والنسائی فی صلاة العیدین باب اعتزال الحیض مصلی الناس تحت رقم الحدیث: ۱۵۶۰وابن ماجة فی أبواب إقامة الصلوات ولاسنة فیها، باب ماجاء فی خروج النساء فی العیدین تحت رقم الحدیث: ۱۳۰۸.

(۲) صحیح البخاری رقم الحدیث: ۹۰۰ صحیح مسلم رقم: ۹۹۰ سنن أبی داؤد رقم ۵۶۶.

(۳) سنن أبی داؤد کتاب الصلاة والسنة فیها، باب ماجاء فی خروج النساء إلی المسجد رقم الحدیث:۵۶۵.

(۴) بدائع الصنائع: ۲۳۹-۲۳۷عمدة القاری:۲۷۲/۳.

(۵) عمدةالقاری:۲۷۳/۳.

(۶) عمدة القاری: ۲۷۳/۳ فتح الباری: ۵۳۵/۱شرح الکرمانی: ۱۷۰/۳.

(۷) فتح الباری: ۵۳۶/۱عمدة القاری: ۲۷۳/۳.

(۸) حواله بالا.

(۹) حواله بالا.

⑩ دكفر اطلاق په حديث باب كښې په ګناهونوباندې څكه كړې شوې دې (حالانكه ددې مرتكب د اسلام نه نه خارج كيږي) دې دپاره چه دداسې امورو نه احتراز اوغفلت نه وى اوداسې كونكې به سخت بد ګڼرلې شى. بل دا هم معلوم شو چه دكفر اطلاق په غيركفر باندې كيدې شى.([2])

⑪ ددې روايت نه معلومه شوه چه شاګرد د خپل استاذ نه د يوسوال په ذريعه يوه خبره په ښه شان سره زده كولې شى.([3])

⑫معلومه شوه چه دشهادت لوئى مدار په عقل باندې دې په دې وجه د ښځې شهادت دسړى د شهادت په نيمه ګرځولې شوې دې.([4])

⑬د فقيرانو مسكينانودپاره سفارش كول مستحب دى اودهغوى دپاره د نورو نه سوال هم كولې شى. لهذا كومو حضراتو چه دنورو خلقو دپاره سوال كول مكروه ګرځولى دى هغه صحيح نه دى.([5])

⑭د حديث باب نه د امت دپاره د حضورپاك عظيم اخلاق او غيرمعمولى رحمت ورأفت ثبوت ملاؤ شو د عذاب نه خلاصې وركول او رحمت ته د نيزدې كولو په فكركښې به اوسيدلو. عليه الف الف تحية وسلام.([6])

د حديث ترجمة الباب سره مناسبت: د حديث ترجمة الباب سره مناسبت د حديث د ټكړې ((ولم تصم)) كښې دې او هغه داې چه دوارو كښې د حائضه دپاره دعدم جواز صوم ذكر دې.([7])

۷-باب: تَقْضِي الْحَائِضُ الْمَنَاسِكَ كُلَّهَا إِلاَّ الطَّوَافَ بِالْبَيْتِ.

ماقبل سره ربط: په دې باب كښې دا مسئله بيان كړې شوې ده كه په يوه ښځه باندې د احرام تړلونه پس حيض راغلو نوبيابه هم هغه سواد طواف د بيت الله نه ټول مناسك حج اداكوى.([8]) هم په دې سره په دوارو ابوابوكښې مناسبت هم معلوميږى چه باب سابق كښې د حائضه د ترك صوم ذكر وو او په دې باب كښې دترك طواف ذكر دې او دواړه (صوم او طواف) هم د فرائض نه دى.([9])

قوله: المناسك: په احاديثوكښې دا درې الفاظ مَنَاسِك، نُسُك او نَسِيكَة په كثرت سره واردشوى دى. مَنَاسِك د مَنْسِك جمع ده دا لفظ د سين فتحه اوكسره دوارو سره استعماليږى اوددې اطلاق مصدر ميمى، ظرف زمان او ظرف مكان دريوارو باندې كيږى.([10]) دمصدر ميمى كيدو په صورت كښې

---

[1] عمدة القارى: ۲۷۳/۳.
[2] حواله بالا
[3] شرح الكرمانى: ۱۷۰/۳ عمدة القارى: ۲۷۳/۳.
[4] عمدة القارى: ۲۷۳/۳ شرح الكرمانى: ۱۷۰/۳.
[5] حواله بالا.
[6] فتح البارى: ۵۳۶/۱ عمدة القارى: ۲۷۳/۳.
[7] عمدة القارى: ۲۷۰/۳.
[8] عمدة القارى: ۲۷۳/۳.
[9] عمدة القارى: ۲۷۳/۳.
[10] النهاية لابن الأثير: ۷۳۶/۲ عمدة القارى: ۲۷۳/۳.

منسك معنى دعبادت كولو اوظرف زمان كيدو په صورت كښې د عبادت وختونه او ظرف مكان كيدو په صورت كښې د عبادت د ځائى به وى. په دې وجه د حج افعال ته مناسك وائى چه هغه ټول افعال په عبادت كښې داخل دى. بل لفظ مَنْسِك د مذبح او قربان گاه په معنى كښې هم استعماليږى. چنانچه نَسَكَ، يَنْسُكُ، نَسْكاً معنى ذبح، يذبح راځى.([1])
نسيكة: ددې معنى د ذبيحه ده اوجمع نُسُك راځى.([2])
نُسُك او نُسْك: ددې اطلاق په طاعت عبادت او هر هغه كار باندې كيږى چه دالله تعالى د قرب ذريعه جوړشى او ناسك معنى عبادت كونكې د كوم جمع چه نُسّاك ده.([3])

د ترجمة الباب مقصد:
د ترجمة الباب دمقصد په حواله مختلف اقوال دى:
دعلامه ابن بطال رحمه الله او علامه كرمانى رحمه الله رائې: علامه ابن بطال رحمه الله او علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه دا پوره باب دهغه حضراتو په مذهب باندې مبنى دې چه د حائضه او جنبى دپاره د قرآن قراءت ته جائز وائى. چه دامام بخارى رحمه الله مذهب هم دغه دې يا هغه د بل چا د مذهب حكايت كړې وى.([4])
دحافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه په دې باب كښې ذكركړې شوى احاديث اوآثار نه د امام بخارى رحمه الله مقصد داخودل دى چه حيض اوجنابت د ټولو عباداتو منافى نه دى بلكه باوجود د حيض اوجنابت په حالت كښې د كيدوسره ذكر اواذكار وغيره لوستل جائزدى. او چونكه دطواف نه علاوه باقى ټول افعال اومناسك د حج هم په دې حالتونوكښې جائز وى.([5]) خو بيافرمائى چه دا امام بخارى رحمه الله مقصد ګرځولو كښې نظر دې. ځكه چه مناسك حج خو په نص سره هم دغه شان ثابت دى. بيا په دې باندې نور استدلال څه ضرورت دې؟ بلكه بهترخبره هم هغه ده كومه چه ابن رشيد رحمه الله ابن بطال رحمه الله او نورو حضراتو ليكلې ده چه دامام بخارى رحمه الله مقصد د حائضه او جنبى دپاره په جوازد قراءت باندې حديث عائشه رضي الله عنها مذكورفى الباب نه استدلال كول دى په كوم كښې چه حضورپاك حضرت عائشه رضي الله عنها ته اوفرمائيل چه هغه دې د طواف نه علاوه په ټولو مناسك حج ادا كولوكښې حصه واخلى. او اعمال حج ذكر اذكار تلبيه او دعاء وغيره باندې مشتمل وى او حائضه نى په دې كښې د يونه هم منع نه كړه. لهذا كه چرته اوس د قراءت د ممانعت حكم ددې وجې نه اوكړې شى چه دا ذكردې نو په دې ذكر اوپه نورو ذكرونوكښې هيڅ فرق نشته لكه څنګه چه نور ذكرونه جائز دى هم هغه شان دا ذكر هم، يعنى تلاوت د قرآن پاك به هم جائز وى.([6])
اوكه چرې د قراءت نه ممانعت دې ويناكولوسره اوكړې شى چه امر تعبدى دې نوددې د اثبات دپاره د خاص دليل ضرورت دې خود امام بخارى رحمه الله په نيز د قراءت د ممانعت سره متعلق روايات د صحت درجې ته نه دى رسيدلى په دې وجه امام بخارى رحمه الله او نورو مجوزين حضرات لكه امام طبرى رحمه الله

---

[1]) حواله بالا.
[2]) حواله بالا.
[3]) حواله بالا.
[4]) شرح ابن بطال: ۴۲۶/۱ شرح الكرمانى: ۱۷۳/۳.
[5]) فتح البارى: ۵۳۷/۱التوضيح لابن الملقن: ۵/۵۷.
[6]) فتح البارى: ۵۳۷/۱.

ابن منذر رحمه الله او داؤد ظاهري وغيره جديث «كان يذكر الله على كل أحيانه» د عموم نه استدلال كوي چه ذكر اعم دې كه هغه د قرآن په ذريعه وي اوكه د نورو ذكرونو په ذريعه وي.([1])

دعلامه عيني رحمه الله رائې: علامه عيني رحمه الله په رومبو دوو بابونوكښې مناسبت بيان كړې چه باب سابق كښې د ترك صوم ذكر وو او دې باب كښې دترك طواف ذكر دې او دواړه هم فرض دى.([2]) دې نه پس ترجمة الباب سره آثارمذكوره في الباب مناسبت ذكركولو سره فرمائي چه مناسبت دادې چه حيض د ټولو عباداتو منافي نه دې بلكه بعض عبادتونه په دغه حالت كښې هم جائز دى لكه ذكر اذكار وغيره. او مناسك حج هم بغيرد طواف نه ددغه ټولو عبادتونونه دې چه حالت حيض ددې منافي نه دې لهذا دغه اعمال د حج هم جائز شو.([3]). مګر وړاندې تلوسره پخپله علامه عيني رحمه الله هم هغه خبره كړې ده كومه چه نورو شراح ذكركړې ده چه د بخارى رحمه الله مقصد د حائضه او جنبى دپاره د قراءت په جواز باندې استدلال كول دى.([4])

دعلامه رشيداحمدګنګوهي رحمه الله رائې: علامه رشيداحمدګنګوهي رحمه الله فرمائي چه د باب لاندې ذكركړې شوې روايت خو په ترجمة الباب كښې ذكركړې شوې معنى باندې ظاهردې چه په دواړو كښې ددې خبرې بيان دې چه حائضه بغيرد طواف نه ټول مناسك حج اداكولې شي. امام بخاري رحمه الله يو څو آثار ذكر كړي چه په دغه آثارو سره هم ترجمة الباب ثابت كړي. ددغه آثارو ذكر كولو سره امام بخاري رحمه الله د حائضه دپاره د قراءت جواز او د ذكراذكار جواز ثابت كړې. لهذا چه كله د حائضه دپاره د ذكر اذكار لوستل جائز دى نومناسك حج به هم جائز وى ځكه چه مناسك حج هم په ذكر اذكار باندې مشتمل دى. البته حائضه طواف نه شى كولې ځكه چه طواف په جمات كښې وى اوحائضه جمات ته نه شى داخليدې. او دويمه وجه داده چه طواف د مونځ په شان دې لهذا د مانځه په شان حائضه طواف هم نه شى كولې.([5]) چنانچه په روايت كښې دى چه: «الطواف حول البيت مثل الصلوة» يعنى د بيت الله طواف د مونځ په شان دې.([6])

حضرت شيخ الحديث زكريا رحمه الله فرمائي ددغه ټولو اقوالو حاصل په څلورو اقوالوكښې راوځي. رومبې قول دادې چه دامام بخاري رحمه الله مقصد د حائضه دپاره بغيرد طواف نه ټول مناسك د حج ادا كولوجواز خودل دى. دويم قول دادې چه مقصد د بخاري رحمه الله د حائضه دپاره د حائضه د قراءت په جواز باندې استدلال كول دى. دريم قول دادې د حائضه د پاره د بعض طاعاتو جواز بيانول دى بغيردهغه طاعاتو دكوم نه چه دممانعت تصريح د قرآن اوحديث وغيره نه ثابت دى لكه مونځ روژه اوطواف وغيره. څلورم قول دادې چه مقصود په خاص توګه د ممانعت د طواف بيانول دى لكه چه سابقه باب كښې په خاص توګه د روژې ذكروو.([7]) بله داخبره دې واضحه وى چه په ذكركړې شوو

---

[1]) حواله بالا.

[2]) عمدة القارى:٢٧٣/٣.

[3]) حواله بالا

[4]) عمدة القارى: ٣/٢٧٥-٢٧٤.

[5]) لامع الدرارى: ٢٦١/٣.

[6]) لامع الدرارى: ٢٦١/٣.

[7]) الكنز المتوارى: ٢٦١/٣.

احكاموكښې د حائضه اوجنبي حکم برابردې ځکه چه د حيض حدث د جنابت د حدث نه اغلظ او زيات سخت دې.([1])

اوس دغه آثار په ترتيب سره ذکرکولې شي: «وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ: لَا بَأْسَ أَنْ تَقْرَأَ الآيَةَ. وَلَمْ يَرَ ابْنُ عَبَّاسٍ بِالقِرَاءَةِ لِلْجُنُبِ بَأْساً. وَكَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَذْكُرُ اللهِ على كُلِّ أَحْيَانِهِ. وَقَالَتْ أُمُّ عَطِيَّةَ: كُنَّا نُؤْمَرُ أَنْ يَخْرُجَ الحُيَّضُ فَيُكَبِّرْنَ بِتَكْبِيرِهِمْ وَيَدْعُونَ. [ر: ٣١٨]»

قوله: (١-وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ: لَا بَأْسَ أَنْ تَقْرَأَ الآيَةَ): ابراهيم رحمه الله فرمائي د حائضه دپاره د يوايت په لوستلو کښې هيڅ حرج نشته دې.

ابراهيم: دا ابراهيم بن يزيد النخعي رحمه الله دې.([2])د دوی حالات کتاب الإيمان باب ظلم دون ظلم لاندې تير شوی دی.

تخريج: دا اثر امام عبدالله بن عبدالرحمن الدرامی رحمه الله په دې سندسره او په دې الفاظوسره موصولاً ذکرکړې دې: «حدثنا يزيد بن هارون عن هشام الدستوائي عن حماد عن إبراهيم قال: أربعة لايقرءون القرآن: عند الخلاء، وفي الحمام، والجنب والحائض إلا الآية ونحوها للجنب والحائض»([3])

يعنې ابراهيم بن يزيد نخعي رحمه الله فرمائي څلور کسان قرآن نه شي لوستلې. يو هغه چه بيت الخلاء کښې وی دويم هغه چه په حمام کښې وی دريم جنبي او څلورم حائضه ده. البته حائضه اوجنبي يوآيت يا ددې په شان لوستلې شي.

د تعليق مقصد: دامام بخاری رحمه الله مقصد دمذکوره تعليق نه دادې چه دحائضه او جنبي دپاره د قرآن کريم د قراءت جواز ثابتول دی.([4])

فائده: واضحه دې وی چه د ابراهيم نخعي رحمه الله نه صرف دغه يو قول نقل نه دې کوم چه امام بخاری رحمه الله روايت کړې دې بلکه په دې سلسله کښې د ابراهيم نخعي رحمه الله نه مختلف اقوال نقل دی. يو قول داهم دې چه د آيت نه دکم قراءت خو کولې شي ليکن دپوره آيت نه.([5]). دغه شان يوبل روايت داهم دې چه حائضه قرآن لوستلې شي او په يوروايت کښې دی چه جنبي قرآن نه شي لوستلې.([6])

دعلامه شبيراحمد عثماني رحمه الله تحقيق: علامه شبيراحمد عثماني رحمه الله فرمائي چه امام بخاری رحمه الله د حائضه او جنبي دپاره د قرآن د قراءت جواز باندې دحضرت ابراهيم نخعي رحمه الله د قول نه استدلال کړې دې. مونږ ته د امام بخاری رحمه الله په دې استدلال باندې حيرانتيا کيږي. زمونږ په نيز په استدلال کښې د پيش کولودپاره دصحيح بخاری دحديث طلب کولې شي اوپخپله امام بخاری رحمه الله د يوتابعي قول پيش کوی. اودتابعي باره کښې امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائي «هم رجال ونحن رجال» بياد امام بخاری

---

[1]) فتح الباري: ٥٣٧/١عمدة القاري:٢٧٣/٣.

[2]) كشف الباري:٢٥٣/٢.

[3]) سنن الدارمي: ٢٥٢/١رقم الحديث: ٩٩٣ قديمي.

[4]) فتح الباري: ٥٣٧/١عمدة القاري: ٢٧٥/٣-٢٧٤.

[5]) مصنف ابن أبي شيبة كتاب الطهارة باب: من رخص لجنب أن يقرأمن القرآن: ٣٨/٢-٣٧ رقم الحديث: ١٠٩٦، ١١٠٣-١١٠٤، إدارة القرآن والعلوم الإسلامية

[6]) عمدة القاري: ٢٧٤/٣.

رحمه الله قول هم واضح نه دي. ددې نه خود يوآيت د تلاوت جوازمعلوميږي. لكه چه امام بخاري رحمه الله د يوداسې قول نه استدلال كوى په كوم كښې چه د قراءت د معمولى مقدار د قراءت جواز دې. معلومه شوه چه ددې نه د امام بخاري رحمه الله د مؤقف پوره تائيدنه كيږي. ممكن ده چه ابراهيم نخعي رحمه الله دلعه د ذكر اودعا په توګه باندې د يوآيت د تلاوت اجازت وركړې وى اوزمونږ مسلك هم دغه دې چه د ذكر اودعا په نيت سره كه د قرآن آيت اولوستلې شى نو په دې كښې بديت نشته دې. زمونږ په نيز پوره ايت لوستل خو په اتفاق سره منع دى. البته د آيت نه بغيركښې د امام طحاوى رحمه الله او امام كرخى رحمه الله اختلاف دې.(١) امام طحاوى رحمه الله د آيت نه كم لوستلوته جائز وئيلى دى اوامام كرخى رحمه الله دعدم جواز حكم لګولې دې.(٢)

دمذكوره تعليق ترجمة الباب سره مناسبت: د مذكوره تعليق ترجمة الباب سره مناسبت دادې چه په دواړو كښې داخودلې شوى دى چه حيض د ټولو عباداتو منافى نه دې بلكه ذكر اذكار وغيره په دې حالت كښې هم جائز دى. او د طواف نه علاوه ټول مناسك حج اودغه شان تلاوت د كلام پاك هم په ذكركښې داخل دې په دې وجه د حائضه د پاره دا عبادتونه په خاني راوړل به هم جائز وى.(٣)

قوله:: (٢ – ولم يرابن عباس بالقراءة للجنب بأساً):ابن عباس رضي الله عنهما به د جنبى په قرآن لوستلوكښې هيڅ حرج نه ګڼړلو.

ابن عباس: داحضرت عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف، د حضورپاك ﷺ د تره خوئى دې. د دوى مختصر حالات بدء الوحي. دڅلورم حديث لاندې او تفصيلى حالات كتاب الإيمان باب كفران العشيروكفربعدكفر لاندې تيرشوى دى.(٤)

تخريج: دامام بخاري رحمه الله دا اثر ابن المنذر رحمه الله په دې سندسره او په دې الفاظوسره موصولاً ذكركړې دې: «عن محمود بن ادم، عن الفضل بن موسى، عن الحسين، يعني ابن واقد، عن يزيد النحوي عن عكرمة: أن ابن عباس كان يقرأ ورده وهو جنب».(٥) يعنى ابن عباس رضي الله عنهما به خپله وظيفه لوستله اوحال دا چه هغه به په جنابت كښې وو. دغه شان ابن ابى شيبه رحمه الله هم دا اثر موصولاً ذكر كړې دې چه ابن عباس رضي الله عنهما به يو يا دوه آياتونه لوستلوكښې هيڅ حرج نه ګڼړلو.(٦)

دتعليق مقصد: ددې تعليق نه هم دامام بخاري رحمه الله مقصد د حائضه اوجنبى دپاره د قرآن پاك دقراءت كولوجواز ثابتول دى.(٧)

(١) فضل البارى:٤٧٣/٢.
(٢) فيض البارى: ٤٩٢/١.
(٣) عمدة القاري: ٢٧٣/٣.
(٤) كشف البارى: ٤٣٥/١، ٢٠٥/٢.
(٥) الأوسط لابن المنذر: ٩٨/٢ رقم الحديث: ٦٢٤دارطيبه.
(٦) مصنف ابن أبى شيبة كتاب الطهارة باب من رخص للجنب أن يقرأمن القرآن رقم الحديث: ١٠٩٥ تغليق التعليق: ١٧١/٢عمدة القارى: ٢٧٤/٣.
(٧) فتح البارى:٥٣٧/١عمدة القارى:٢٧٥/٣-٢٧٤.

دجواز قراءت په سلسله كښې د امام بخارى رحمه الله اونورو ائمه مذاهب: امام ترمذى رحمه الله حديث ابن عمر رضى الله عنهما «لاتقرأالحائض ولاالجنب شيئاًمن القرآن» يعنى حائضه اوجنبى دې د قرآن پاك نه لوستل نه كوى روايت كولونه ليكلى دى چه هم دغه شان د حضرت على رضى الله عنه نه هم روايت دې اوهم دغه دعدم جواز قول دحضرات صحابه كرامو نه حضرت عمر، حضرت على، حضرت جابر رضى الله عنهم او تابعين نه حضرت حسن، زهرى، ابراهيم نخعى، قتاده، امام احمد، امام شافعى، اسحاق، سفيان ثورى، ابن المبارك رحمهم الله دې. ددې ټولو حضراتو په نيزهم حائضه او جنبى قرآن نه شى لوستلې بغيرد حرف يا د آيت جز وغيره نه، البته ددوى دپاره تسبيح اوتهليل اجازت دې.(١).

امام مالك رحمه الله فرمائى چه آيت اوددې برابر دې نه لولى.(٢) اود دوى نه دا هم روايت دې چه جنبى خودې نه لولى مگر حائضه لوستلې شى خكه چه كه هغه ئې نه لولى نوقرآن به ترې هير شى خكه چه ايام حيض زياتې وى اودجنابت موده كمه وى.(٣)

د احناف رحمهم الله مذهب دادې چه حالت د جنابت اوحيض اونفاس كښې تلاوت جائزنه دې. كه چرې معلم وى نوشاگرته يوه يوه كلمه جدا جدا خودلې شى. هم دغه حكم دمعلمه دپاره هم دې. دغه شان د كار په شروع كښې تسميه په مقصد د دعا يا ثناء وړوكى آيت لوستلو هم اجازت دې.(٤) البته د آيت نه كم په اراده دتلاوت قراءت كښې دوه روايتونه دى دكوم تفصيل چه كتاب الحيض د شروع مباحث كښې تيرشوې دې.

دامام بخارى رحمه الله مذهب په دې مسئله كښې د داؤد ظاهرى رحمه الله دمذهب موافق دې اوهغه دادې چه ددې حضراتو په نيز حائضه اوجنبى تلاوت كولې شى. هم دغه مذهب د سعيدبن المسيب، طبرى، ابن المنذر رحمهم الله او ابن عباس رضى الله عنهما دې.(٥) دلته امام بخارى رحمه الله دحديث عائشه رضى الله عنها اطلاق او ذكركړې شوى آثار نه استدلال كړې دې. خود حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عينى رحمه الله په قول د دې ټولو نه استدلال محل نظردې.(٦)

امام بخارى رحمه الله دټولو نه رومبې اثر د ابراهيم نخعى رحمه الله پيش كړې دې اوشاته داخبره تيره شوې ده چه د ابراهيم نخعى رحمه الله نه صرف هم دغه يوقول نقل نه دې بلكه په دې مسئله كښې د هغه نه مختلف اقوال نقل دى د كوم تفصيل چه د اثر لاندې ذكر دې اود دغه مختلف اقوالو په رڼاكښې دهغوى مذهب د ائمه اربعه د مذاهب موافق هم دې.

شراح ليكلى دى چه جمهورو دامام بخارى رحمه الله په مسلك باندې په دې احاديثوسره ردكړې دې چه د حائضه او جنبى دپاره د قرآن پاك د قراءت د ممانعت په سلسله كښې راغلى دى.(٧) علامه عينى رحمه الله د ممانعت سره متعلق دا احاديث پيش كړى دى: ① «فقال أبوداؤد........دخلت على على رضى الله عنه أنا

---

(١) جامع الترمذى كتاب الطهارة باب ماجاء فى الجنب والحائض أنهما لا يقرآن القرآن رقم الحديث: ١٣١

(٢) عمدة القارى:٢٧٤/٣.

(٣) بداية المجتهد: ٥٤٢/١المغنى لابن قدامة:٩٦/١عمدة القارى:٢٧٤/٣.

(٤) رسائل ابن عابدين١١١-١١٢.

(٥) فتح البارى: ٥٣٧/١عمدة القارى: ٢٧٤/٣إرشادالسارى: ٥٤٥/١.

(٦) فتح البارى: ٥٣٨/١عمدة القارى:٢٧٥/٣.

(٧) عمدة القارى: ٢٧٥/٣.

ورجلان.......فقال: "إن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يجيئ من الخلاء فيقرأبنا القرآن ويأكل معنا اللحم، لايحجزه عن القرآن شيء ليس الجنابة .أخرجه الأربعة»[1]

يعني حضرت علي رضي الله عنه اوفرمائيل چه حضورپاك د قضاء حاجت نه پس تشريف راوړلو نو مونږ ته به ئې قرآن لوستلو مونږ سره به غوښه خوړله اوهغوى ته په قرآن مجيد لوستلو او بل ته دخودلو نه د جنابت نه بل هيڅ څيز نه مانع كيدلو.

ددې حديث د رواتو نه عبدالله بن سلمه سره متعلق امام بخاري رحمه الله كلام كړې دې او امام شافعي رحمه الله هم دا حديث ذكر كولوسره ليكي چه: «وان لم يكن أهل الحديث يثبتونه» يعني اگرچه اهل حديث دا ثابت نه مني. او امام خطابي رحمه الله ليكلي دى چه امام احمد رحمه الله دې حديث ته ضعيف وئيلى وو اوعبدالله بن سلمه رحمه الله ئې هم تضعيف كړې وو. ابن جوزى رحمه الله هغه ته الضعفاء والمتروكون كنبې ذكركړې دې. امام بيهقي رحمه الله ليكلي دى چه دې حديث ته غيرثابت وئيلو مدار په عبدالله بن سلمه باندې دې.[2]

ددې په جواب كنبې علامه عيني رحمه الله فرمائى چه امام ترمذى رحمه الله هم دا دعبدالله بن سلمه رحمه الله حديث ذكركولو سره هم دې حديث ته حديث حسن صحيح وئيلې دې.[3] ابن حبان رحمه الله هم ددې تصحيح حكړې ده. امام حاكم رحمه الله عبدالله بن سلمه ته غيرمطعون وئيلې دې.[4] امام عجلى رحمه الله ده ته تابعي ثقة وئيلې دې هم دغه شان ابن عدى رحمه الله وئيلى دى چه زما اميددې چه عبدالله بن سلمه لابأس به دې.[5]

② «قال الترمذي وابن ماجه ...... عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "لا يقرأالحائض ولا الجنب شيئًا من القرآن »[6]

يعني د ابن عمر رضي الله عنهما نه نقل دى چه حضورپاك صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دى: حائضه اوجنبي دې دقرآن پاك نه څه نه لولي. دې حديث ته د اسماعيل بن عياش د وجې نه ضعيف وئيلې شوې دې.[7]

③ دحضرت جابر رضي الله عنه نه هم د ابن عمر رضي الله عنهما په شان نقل دى ليكن دې روايت ته د محمد بن الفضل د وجې نه ضعيف وئيلې شوې دې.[1]

---

[1] سنن أبي داؤد، كتاب الطهارة باب في الجنب يقرأ القرآن رقم الحديث: ٢٢٩سنن الترمذي كتاب الطهارة باب ماجاء في الرجل يقرأالقرآن على كل حال مالم يكن جنباً، رقم الحديث: ١٤٦سنن النسائي، كتاب الطهارة باب حجب الجنب من قراءة القرآن رقم الحديث: ٢٦٧-٢٦٦ سنن ابن ماجه أبواب اللتيمم باب ماجاء في قراءة القرآن على غيرطهارة رقم الحديث: ٥٩٤.

[2] عمدة القاري: ٢٧٥/٣.

[3] سنن الترمذي: كتاب الطهارة باب ماجاء في الرجل يقرأالقرآن على كل حال مالم يكن جنباً رقم الحديث: ١٤٦عمدة القاري: ٢٧٥/٣.

[4] عمدة القاري: ٢٧٥/٣.

[5] معرفة الثقات للعجلي: ٣٢/٢الكامل في الضعفاء لابن عدي: ١٧٠/٤رقم الترجمة: ٩٨٩تهذيب الكمال: ٥٢/١٥عمدة القاري: ٢٧٥/٣.

[6] سنن الترمذي كتاب الطهارة باب ماجاء في الجنب والحائض أنهما لا يقرآن القرآن رقم الحديث: ١٣١سنن ابن ماجه أبواب التيمم باب ماجاء في قرآءة القرآن على غيرطهارة رقم الحديث: ٥٩٦-٥٩٥.

[7] عمدة القاري: ٢٧٥/٣.

ددې دواړو په جواب کښې علامه عيني رحمه الله فرمائي دې دواړو احاديثوته د حديث علي رضي الله عنه نه تقويت ملاويږي. (٢)

چونکه دامام بخاري رحمه الله په نيز په دې باب کښې يوحديث د صحت درجې ته نه دې رسيدلې په دې وجه هغه د حائضه او جنبي دپاره د قراءت د جواز قول اختيارکړې او په دې باندې ئې دهغه احاديثو نه استدلال اوکړو چه د امام بخاري رحمه الله په نيز د صحت درجې ته رسيدلي دی.(٣)

ددويم اثر لاندې علامه رشيداحمد گنگوهي رحمه الله فرمائي چه د ابن عباس رضي الله عنهما د قول نه د احنافو حضراتو په مسلك باندې اعتراض کيږي ځکه چه ابن عباس رضي الله عنهما د جنبي دپاره د قرآن کريم قراءت ته جائز وائي. ليکن دا اعتراض جواب دادې چه کيدې شي د ابن عباس رضي الله عنهما د قراءت اجازت ورکول د آيت نه کم سره مختص وي لکه چه حضرات حنفيه هم د امام طحاوي رحمه الله د قول موافق مادون الآية قراءت جائز گڼري.(٤)

شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائي چه دا جواب د امام بخاري رحمه الله د ذکرکړې شوي د الفاظو دحده پورې خو صحيح دې ليکن شراح چه دا اثر د ابن المنذر رحمه الله په حواله سره موصولاً ذکرکړې دې د دغه اثر موصول په اعتبارسره دا جواب يا تاويل نه شي چليدلې ځکه چه په دغه اثر موصول کښې "ورد" الفاظ دی اوڅوك هم د ورد يا وظيفه يقيناً د آيت نه کم نه وی الآيه چه ددې موصول اثر په جواب کښې اووئيلې شي چه د ورد نه مراد د قراءت نه علاوه نور اذکار دی.(٥) نور فرمائي چه ددې کلام مطابق دامام بخاري رحمه الله بيان کړې شوي اثر او د ابن المنذر رحمه الله ذکرکړې شوې اثر دواړه به يو نه وی اوداسې د علامه رشيداحمد گنگوهي رحمه الله د امام بخاري رحمه الله په مذکوره اثرکښې تاويل اوتوجيه صحيح کيږي.(٦)

دمذکوره تعليق ترجمة الباب سره مناسبت: دتعليق مذکوره ترجمة الباب سره هم هغه مناسبت دې کوم چه د تيرشوي تعليق ترجمة الباب سره مناسبت وو.

قوله: ٢-وكان النبي صلى الله عليه وسلم يذكر الله على كل أحيانه: نبي کريم صلى الله عليه وسلم به هروخت دالله تعالى ذکرکولو.

تخريج: دا تعليق امام مسلم امام ابوداؤد او امام ترمذي رحمهم الله د «أبوكريب محمدبن العلاءعن يحيى بن أبي زائدة عن أبيه، عن خالدبن سلمة، عن البهي، عن عروة، عن عائشة» طريق سره موصولاً ذکرکړې دې.(٧)

---

(١) سنن الدارقطني كتاب الجنائز باب تخفيف الصلاة رقم الحديث: ١٨٧٩حلية الأولياء:٢٢/٤عمدة القاري:٢٧٥/٣.

(٢) عمدة القاري: ٢٧٥/٣.

(٣) حواله بالا

(٤) لامع الدراري ومع الكنزالمتواري:٢٦٢/٣.

(٥) الكنزالمتواري: ٢٦٣/٣.

(٦) حواله بالا.

(٧) صحيح مسلم كتاب الطهارة باب ذكرالله تعالى في حال الجنابة وغيرها رقم الحديث: ٨٢٦وسنن أبي داؤد كتاب الطهارة باب في الرجل يذكرالله تعالى على غيرطهر رقم الحديث: ١٨وجامع الترمذي كتاب ا لدعوات باب ماجاء أن دعوة المسلم مستجابة رقم الحديث: ٣٣٨٤.

دمذكوره تعليق مقصد: دامام بخاري رحمه الله مقصد دمذكوره تعليق او دغه شان د دې باب لاندې ذكر كړې شوي نورو آثارونه د جنبي او حائضه دپاره د قراءة جواز په مسئله باندې استدلال كول دي. او د استدلال طريق دادې چه كله د حديث نه ثابته ده چه حضورپاك به هروخت دالله تعالى ذكركولو نوددې نه معلومه شوه چه د جنابت په حالت كښې هم د الله تعالى ذكر به ئې نه وې ترك كړې ځكه چه په جميع احيان كښې د جنابت حالت هم داخل دې او بيا چونكه د جنبي او حائضه دواړو په احكامو كښې هم څه خاص فرق نشته دې. په دې وجه هم دغه حكم (د ذكرجواز) به د حائضه دپاره هم وي او ذكر دخپل عموم په وجه تلاوت وغيره دواړو ته شامل دې. (۱)ددې جواب دادې چه د ذكر نه مراد غير قرآن دې ځكه چه دحائضه دپاره اود جنبي دپاره د قراءت ممانعت د احاديث مرفوعه نه ثابت دې لهذا دعموم ذكر نه استدلال صحيح نه دې. (۲)

قوله:: (۴-وقالت أم عطية: كنا نؤمر أن يخرج الحيض فيكبرن بتكبيرهم ويدعون): ام عطيه رضي الله عنها اوفرمائيل مونږ ته به حكم كيدلو چه (مونږ) حائضه ښځې هم (داختر په ورځ) بهر اوخو، پس (حائضه ښځو به هم) سړو سره تكبير ونيل اودعا به ئې كوله.

أم عطية: دا صحابيه نسيبه بنت كعب انصاريه رضي الله عنها ده دا په خپل كنيت ام عطيه سره مشهوره ده. ددې حالات كتاب الوضوء باب التيمن في الوضوء والغسل لاندې تيرشوي دي.

تخريج: دا تعليق امام بخاري رحمه الله كتاب العيدين باب التكبير أيام منى وإذا غدا إلى عرفة لاندې د ((عن عمر بن حفص عن أبيه عن عاصم عن حفصة بنت سيرين عن أم عطية)) په طريق باندې موصولاً ذكركړې دې. (۳)

دمذكوره تعليق مقصد: امام بخاري رحمه الله مقصد ددې تعليق نه هم هغه دې كوم چه شاته تيرشوې دې. يعنى د جوازد قراءت د حائض او جنبى دپاره، باندې استدلال كول اوطريق داستدلال هم هغه دې چه دامام بخاري رحمه الله په نيز تلاوت وغيره تلاوت كښې ذكركيدوكښې هيڅ فرق نشته دې لهذا لكه څنګه چه دحائض اوجنبى دپاره غيرتلاوت يعنى ذكرونه وغيره جائزدى نوتلاوت هم جائزدې ځكه چه ذكرتولوته شامل دې. ددې جواب هم هغه دې چه دعموم ذكرنه استدلال كول صحيح نه دى باقى تكبير اودعا د جمهور حضراتو په نيزهم د حائضه او جنبى دپاره ممنوع نه دى. (۴)

قوله:: ويدعون: اكثرروات دا صيغه داسې نقل كړې ده اود كشميهنى رحمه الله په روايت كښې ويدعين دې. (۵)

دمذكوره تعليق ترجمة الباب سره مناسبت: دې تعليق ته هم ترجمة الباب سره هم هغه مناسبت حاصل دې كوم چه دتيرو شوو دواړو تعليقاتو ترجمة الباب سره دې.

---

(۱) لامع الدراري: ۲۶۳/۳.
(۲) أنوارالباري: ۴۱۶/۱۰.
(۳) صحيح البخاري: كتاب العيدين باب التكبير أيام منى وإذا غدا إلى عرفة رقم الحديث: ۹۷۱.
(۴) أنوارالباري: ۴۱۷/۱۰.
(۵) فتح الباري: ۵۳۷/۱.

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: أَخْبَرَنِي أَبُوسُفْيَانَ: أَنَّ هِرَقْلَ: دَعَا بِكِتَابِ النَّبِيِّ ﷺ فَقَرَأَهُ فَإِذَا فِيْهِ: (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، وَ: ﴿يٰٓأَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا إِلٰى كَلِمَةٍ﴾ الْآيَةَ).[ر:٧].

يعنى ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمانيل چه هغوى ته ابوسفيان بيان اوكړو چه هرقل د نبى كريم ﷺ نه مكتوب طلب كړو او هغه ئې اولوستلو، په هغې كښې ليكلې وو چه شروع كوم په نامه دالله تعالى چه ډير لونى مهربان او ډير رحم والا دې، او اې اهل كتاب د يوداسې كلمې طرف ته راشئى چه زمونږ او ستاسو په مينځ كښې مشتركه ده.

ابن عباس: داحضرت عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف، د حضورپاك ﷺ د تره خونى دې. د دوى مختصر حالات بدء الوحى دڅلورم حديث لاندې او تفصيلى حالات كتاب الايمان باب كفران العشيرووكفربعدكفر لاندې تيرشوى دى.(١)

تخريج: د ابن عباس رضي الله عنهما داحديث د ابوسفيان رضي الله عنه د هغه اوږدحديث ټكړه ده كوم چه ابوسفيان رضي الله عنه د بادشاه هرقل په قصه كښې روايت كړې دې. امام بخارى رحمه الله دغه ټكړه بدء الوحي نه علاوه كتاب الجهاد او كتاب التفسير كښې هم مختصر اوطويل دواړو اندازوكښې اوحصوكښې زهري عن عبيدالله عن ابن عباس په طريق سره موصولاً ذكركړې ده.(٢)

دمذكوره تعليق مقصد: ددې تعليق نه د امام بخارى رحمه الله د خپل مقصددپاره استدلال داسې دې چه نبى كريم ﷺ خپل مكتوب د روم د كافرانوطرف ته ليګلې وو او په هغه مكتوب كښې يو دوه د قرآن آياتونه هم وو اودا خبره معلومه هم ده چه كافران خو ټول په ټول پليت او جنبى وى اوبيا دغه مكتوب ته هغه لاس يوړو وئې نيولو او وئې لوستلوهم، لهذا دا ټول د جنبى دپاره د قراءت په جواز باندې دلالت كوى. ځكه چه د رسول الله ﷺ د هغه كافرانو طرف ته خپل خط روانول دهغوى د پاره دغه خط ته لاس لګول اولوستل جائزګرځول دى.(٣)

ددې په جواب كښې جمهور حضرات فرمائى چه هغه مكتوب د دغه دوو قرآنى آياتونونه علاوه نور په ډيرو څيزونو باندې مشتمل وو لكه چه دا يوداسې مكتوب وو لكه فقه يا د تفسير كتاب كښې چه يو څو آياتونه اوليكلې شى اوداسې قسم هريوكتاب ته لاس لګول او هغه لوستل جمهور حضرات منع كړې دى. بل امام احمد رحمه الله په صراحت سره فرمائيلى دى چه د تبليغ د مصلحت په رڼاكښې د يو آيات دوو ليكلو ګنجائش شته او ډير شوافع حضرات هم دغه فرمائى.(٤)

بعض حضراتو داجواب هم وركړې دې چه په دغه قصه دهرقل كښې د جنبى دپاره د قراءت په جواز باندې هيڅ دليل نشته دې. ځكه چه د جنبى دپاره ممانعت دقراءت هغه وخت دې كله چه ئې د تلاوت كولو قصد او اراده هم وى اوكوم مكتوب چه لوستلې شى دهغې نه دامعلوميږى هم چه واقعى هم

---

(١) كشف البارى: ١/٤٣٥، ٢/٢٠٥.

(٢) صحيح البخارى كتاب بدءالوحى رقم الحديث:٧وكتاب الجهاد باب دعاء النبى صلى الله عليه وسلم إلى الإسلام والنبوع الخ رقم الحديث: ٢٩٤١وكتاب التفسير باب: ﴿قُلْ يٰٓأَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا إِلٰى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ﴾ الآية رقم الحديث: ٤٥٥٣.

(٣) فتح البارى: ١/٥٣٧عمدة القارى:٣/٢٧٤.

(٤) فتح البارى: ١/٥٣٧الكنزالمتوارى: ٣/٢٦٤.

قرآن پاك لولی. باقی که څه داسې خط وغیره لولی د کوم باره کښې چه هڅو علم نه وی چه داد قرآن پاك نه دې که نه نوددې نه د ممانعت حکم نشته اوهم دغه حال د کافر هم دې. (۱)

د شیخ زکریا رحمه الله رائې: شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمائی چه دا ټول تفصیل خوهغه وخت دې کوم وخت چه په دغه مکتوب کښې لیکلې آیت قرآن ثابت وی څکه چه اول د حدیث هرقل نه لاندې په دې امر کښې اختلاف تیرشوې دې چه مذکوره آیت د هرقل د مکتوب نه وړاندې نازل شوې که روستو نازل شوې. درمختارکښې دی چه نصرانی به قرآن ته د لاس لګولو نه منع کولې شی. البته امام محمد رحمه الله دغسل نه پس ددې اجازت ورکړې دې اودهدایت په امید باندې کافرته د قرآن مجید اوفقه تعلیم هم ورکولې شی.(۲)

د مذکوره تعلیق ترجمة الباب سره مناسبت: دې تعلیق ته هم ترجمة الباب سره هم هغه مناسبت حاصل دې کوم چه دتیرو شوو دریواړو تعلیقاتو ترجمة الباب سره دې.

وَقَالَ عَطَاءٌ، عَنْ جَابِرٍ: حَاضَتْ عَائِشَةُ فَنَسَكَتِ الْمَنَاسِكَ، غَيْرَ الطَّوَافِ بِالْبَيْتِ، وَلاَ تُصَلِّي. [ر: ۶۸۰۳]

یعنی عطاء رحمه الله دجابر رضی الله عنه په حواله سره بیان کړې دې چه حضرت عائشه رضی الله عنها ته (حج کښې) حیض راغلو نوهغې ټول مناسك پوره کړل بغیرد بیت الله دطواف نه او مونځ به نې هم نه کولو.

تراجم رجال

عطاء: دعطاء نه مراد عطاء بن ابی رباح رحمه الله دې. ددوی حالات كتاب العلم باب عظة الإمام النساء لاندې تیرشوی دی.(۳)

جابر: دا جابربن عبدالله انصاری مشهور صحابی رضی الله عنه دې. د دوی احوال كتاب الوضوء باب من لم یر الوضوء إلا من المخرجین من القبل والدبر لاندې تیرشوی دی.

تخریج: دا تعلیق امام بخاری رحمه الله كتاب التمنی باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: لواستقبلت من أمري ما استدبرت کښې حسن بن عمرعن یزیدعن حبیب عن عطاء په طریق سره موصولاً ذکرکړی دی.(۴)

دمذکوره تعلیق مقصد: شاته تیرشوی دی چه دامام بخاری رحمه الله مقصد دحدیث الباب اومذکوره آثارو نه د حائضه اوجنبی دپاره د قراءت په جواز باندې استدلال کول دی. اود مذکوره تعلیق نه د استدلال وجه د ترجمة الباب مقصد دعنوان لاندې تیر شوی دی.

د مذکوره تعلیق ترجمة الباب سره مناسبت: دې تعلیق ته هم ترجمة الباب سره هم هغه مناسبت حاصل دې کوم چه تیرو شوو څلورو واړو تعلیقاتوته حاصل دې.

وَقَالَ الْحَكَمُ: إِنِّي لَأَذْبَحُ وَأَنَا جُنُبٌ، وَقَالَ اللَّهُ: ﴿وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ﴾ /الانعام: ۱۲۱/.

یعنی حکم رحمه الله فرمائی په کومه ذبیحه چه د الله تعالی نوم نه وی اخستې شوې هغه مه خورئ.

الحکم: داحکم ابن عتیبه دې. ددوی حالات كتاب العلم باب السمر بالعلم لاندې تیرشوی دی. (۱)

---

۱) فتح الباری: ۵۳۸/۱الکنزالمتواری: ۲۶٤/۳.

۲) الکنزالمتواری: ۲۶٤/۳الدرالمختار کتاب الطهارة: ۳۲۱/۱دار علم الکتب.

۳) کشف الباری: ۳۹/٤.

٤) صحیح البخاری کتاب التیمنی باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: لواستقبلت من أمری ما استدبرت رقم الحدیث ۷۲۳۰.

تخريج: دا اثر امام بغوی رحمه الله الجعديات كښې علي بن الجعد عن شعبة عن الحكم په طريق سره موصولاً ذكر كړې دې. (٢)

دمذكوره تعليق مطلب: د حكم بن عتيبه رحمه الله د قول مطلب دادې چه كه چرې هم ماته د جنابت په حالت كښې هم د ځاروی د ذبح كولو نوبت راشي نو زه به ئې ضرور ذبح كوم ځكه چه دالله تعالى ارشاد دې دهغه ذبيحه نه مه خورئې په كوم چه دالله تعالى نوم نه وی اخستې شوې او جنبی د الله تعالى نوم اخستې شي. په دې وجه كه د جنابت حالت كښې هم د ذبيحې كولو نوبت راشي نو زه به ئې ضرور ذبح كوم.

د مذكوره تعليق مقصد: ددې اثر نه هم دامام بخاری رحمه الله مقصد د جبی اوحائضه دپاره د قراءت په جواز باندې استدلال كول دی اوداستدلال طريقه داسې ده چه په اثركښې ذكركړې شوې ايت مبارك تقاضاده چه د فعل ذبح دپاره شرعاً دالله تعالى ذكر مستلزم دې اوحكم رحمه الله فرمائي چه كله د جنبی كيدو په حالت كښې د ذبح كولو موقع راغله نوبيابه هم زه ذبح كوم. ددې نه معلومه شوه چه د جنبی دپاره دالله تعالى ذكر جائزدې. هم ددې نه داهم معلومه شوه چه د جنبی دپاره تلاوت هم جائز دې ځكه چه ذكرعام دې تلاوت وغيره تلاوت دواړو ته شامل دې. (٣)

ددې نه هم د تلاوت په جواز باندې استدلال نه شي كيدې ځكه چه د ذبح په وخت د الله تعالى ذكرضروری دې دې د پاره چه د يوايت تلاوت كول اود الله د ذكر اجازت دحائضه اوجنبی د پاره د جمهورو په نيز هم شته. بله دا خبره اول هم تيره شوې ده چه دلته زيات استدلال عموم ذكرسره كړې شوې دې اود عموم ذكر نه استدلال صحيح نه دې ځكه چه ذكراو اذكار اود قرآن مجيدتلاوت ددواړو په احكام كښې فرق دې. (٤)

واضحه دې وی چه دامام بخاری رحمه الله صرف دوه آثار (اثر ابراهيم نخعی) او (د ابن عباس رضي الله عنهما اثر) ئې داسې پيش كړل چه د قرآن پاك دقراءت په جواز باندې څه دليل جوړيدې شي اود هغې جوابات هم بيان كړې شوی دی. په باقی آثارو كښې د قرآن پاك د قراءت د سر نه ذكر نشته په دې وجه دهغې نه په جواز قراءت باندې استدلال هم صحيح نه دې. ځكه چه د دې په خلاف صريح روايات د حائضه اوجنبی په حق كښې د قراءت د ممانعت موجود دی سره ددې چه كه د امام بخاری په نيز صحت ته نه دی رسيدلی ليكن چونكه روايات زيات دی اود بعض نه بعض ته تقويت هم ملاويږی په دې وجه هغه قابل د حجت او استدلال هم دی.

په دې موقع باندې حضرت علامه انور شاه كشميری رحمه الله فرمائي چه پخپله امام بخاری په صلاة الليل كښې د حضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنه د مشهورې قصې يوه ټكړه ذكركړې ده كومه چه په اشعارو مشتمل ده. (٥) اوكومه چه امام دارقطنی رحمه الله په تفصيل سره ذكركړې ده. په دې كښې ددې خبرې دليل دې چه جنبی قرآن نه شي لوستلې هغه تفصيل دادې:

---

(١) كشف الباري: ٤١٦/٤.

(٢) فتح الباري: ٥٣٨/١عمدة القاري: ٢٧٥/٣.

(٣) فتح الباري: ٥٣٨/١عمدة القاري: ٢٧٥/٣.

(٤) أنوار الباري: ٤١٩/١٠.

(٥) رواه البخاري في التهجد باب فضل من تعر من الليل رقم الحديث:١١٥٥.

((حدثنا محمد بن مخلد، حدثنا العباس بن محمد الدوري (ح) وحدثنا إبراهيم بن دبيس بن أحمد الحداد، حدثنا محمد بن سليمان الواسطي، قالا: حدثنا أبونعيم...... عن عكرمة قال: كان ابن رواحة مضطجعاً إلى جنب امرأته، فقام إلى جارية له في ناحية الحجرة، فرأته على جاريته، فرجعت إلى البيت، فأخذت الشفرة، ثم خرجت وفزع فقام، فلقيها تحمل الشفرة، فقال: مهيم؟ فقالت: لوأدركتك حيث رأيتك لوجأت بين كتفيك بهذه الشفرة، قال: وأين رأيتني؟ قالت: رأيتك على الجارية، فقال: ما رأيتني، قال: وقد نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم أن يقرأ أحدنا القرآن وهو جنب، قالت: فاقرأ، فقال:

أتانا رسول الله يتلو كتابه كما لاح مشهور من الفجر ساطع
أتى بالهدي بعد العمى فقلوبنا به مؤقنات أن ما قال واقع
يبيت يجافي جنبه عن فراشه إذا استقلت بالمشركين المضاجع

فقالت: آمنت بالله وكذبت البصر، ثم غدا على رسول الله صلى الله عليه وسلم فأخبره فضحك، حتى بدت نواجذه))[1]

ترجمه: د حضرت عکرمه رحمه الله نه روايت دې چه ابن رواحه رضي الله عنه خپلې بي بي سره يوطرف ته پروت وو چه بيا هغه خپلې وينځې له لاړو چه د کمرې په يو گوټ کنبې وه او هغې سره ئې جماع اوکړه. په دې کنبې د هغوی بي بي رابيداره شوه نوهغې خپل خاوند په خپل ځائې باندې اونه ليدلو، هغه اودريده اوبهرلاړه، نوهغې خپل خاوند وينځې سره په جماع کولو باندې اوليدلو، هغه کورته راغله او چاړه ئې راواخسته راغله، ابن رواحه رضي الله عنه اووېريدلو او اودريدو، نوهغوی خپله بي بي اوليدله چه چاړه په لاس ولاړه ده. هغوی خپلې بي بي ته اووئيل څه خبره ده؟ بي بي جواب ورکړو که چرې ما ته اوس هم په هغه حالت کنبې ليدلې وې نوخامخا به مې دا چاړه ستاد دواړو اوږو په مينځ کنبې ورخښوله. ابن رواحه رضي الله عنه اووئيل تا زه کوم ځائې اوليدلم؟ بي بي جواب ورکړو ته مې وينځې سره په جماع کولو باندې اوليدلې، نو ابن رواحه رضي الله عنه اووئيل چه بيا تا زه اونه ليدلم، هغوی اوفرمائيل چه حضورپاك په حالت د جنابت کنبې د قرآن لوستلو نه منع فرمائيلې ده. بي بي ورته اووئيل بيا لوستلو سره واوره وه، نوابن رواحه رضي الله عنه اووئيل راغلو مونږ له د الله رسول صلى الله عليه وسلم چه د الله تعالى د کتاب تلاوت هغه وخت کوی کله سحر راڅرګيږي. حضورپاك مونږ د گمراهئ نه اوويستلو او صحيح لار ئې راته اوخودله. په دې وجه زمونږ زړه پوره يقين لرى چه څه تاسو اوفرمائيل هغه به ضرور واقع کيږي. ته شپه د بسترې نه جدا تيره وي کوم وخت چه په مشرکانو باندې خپلې بسترې درنيږي. په دې باندې بي بي اووئيل زه په الله تعالى باندې ايمان راوړم اود خپل بصارت تکذيب ئې اوکړو. بيا ابن رواحه رضي الله عنه د حضورپاك په خدمت کنبې حاضر شو اوخپله واقعه ئې ورته بيان کړه. نو حضورپاك ددې په اوريدو سره دومره اوخندل چه دحضورپاك غاښونه مبارك ښکاره شو.

علامه انور شاه کشميری رحمه الله فرمائی چه ددې روايت نه معلومه شوه چه د صحابه کرامو په زمانه کنبې ټول په دې خبر وو چه د جنبي دپاره د قرآن لوستل منع دی. چنانچه د عبدالله بن رواحه رضي الله عنه بي بي هم چه قرآن مجيدئې غير قرآن سره مميز اوجدا کولې نه شو په دې خبره باندې پوهيدله او هم په دې وجه نه يوازې د عبدالله بن رواحه رضي الله عنه په خبره باندې مطمئن شوه بلکه خپله ټوله غصه ئې ختمه کړه اوخپله دسترګو ليدلې واقعه ئې هم دروغ کړه.[2]

---

[1] رواه الدارقطني في كتاب الطهارة باب في النهي للجنب والحائض عن قراءة القرآن: ۲۱۷/۱-۲۱۶رقم الحديث: ۴۳۲ط:مؤسسة الرسالة.

[2] فيض الباري: ۴۹۲/۱أنوارالباري: ۴۱۴/۱۰.

د مذکوره تعلیق ترجمة الباب سره مناسبت: د دې تعلیق هم ترجمة الباب سره هم هغه مناسبت دې کوم چه د تیرو شوو پنځو وارو تعلیقاتوته دې.

الحديث الأول

[۲۹۹]-حَدَّثَنَا أَبُونُعَيْمٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ نَذْكُرُ إِلاَّ الْحَجَّ، فَلَمَّا جِئْنَا سَرِفَ طَمِثْتُ، فَدَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي، فَقَالَ: «مَا يُبْكِيكِ؟» قُلْتُ: لَوَدِدْتُ وَاللَّهِ أَنِّي لَمْ أَحُجَّ الْعَامَ، قَالَ: «لَعَلَّكِ نُفِسْتِ؟» قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: «فَإِنَّ ذَلِكِ شَيْءٌ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ، فَافْعَلِي مَا يَفْعَلُ الْحَاجُّ، غَيْرَ أَنْ لاَ تَطُوفِي بِالْبَيْتِ حَتَّى تَطْهُرِي»[1][ر ۲۹۰]

ترجمه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه مونږ رسول الله ﷺ سره اووتلو، زمونږ اراده بغیرد حج نه بل څه نه وه. کله چه مونږ مقام سرف ته راغلو نو په ما حیض راغلو. ماله رسول الله ﷺ راغلو نوما ژړل. حضورپاك تپوس اوکړو ولې ژاړې؟ ما اووئیل چه افسوس ما دې کال د حج اراده نه وه کړې، حضورپاك اوفرمائیل زما په خیال ستا حیض راغلې دې. ما اووئیل اوجي. حضورپاك اوفرمائیل دا څیز خو الله تعالی د آدم علیه السلام د لونړو دپاره لیکلې دې. په دې وجه ته چه ترکومې پورې پاکه نه شې د بیت الله د طواف نه علاوه ټول اعمال د حاجیانو په شان پوره کړه.

تراجم رجال:

أبونعیم: دا ابونعیم فضل بن دکین رحمه الله دې. ددوی حالات كتاب الإيمان باب فضل من استبرأ لدينه لاندې تیرشوی دی.[2]

عبدالعزيز بن أبي سلمة: دا مشهور فقیه ومحدث عبدالعزیز بن عبدالله بن ابی سلمه الماجشون رحمه الله دې. ددوی حالات كتاب العلم باب السوال والفتيا عند رمي الجمار لاندې تیرشوی دی.[3]

عبدالرحمن بن قاسم: داعبدالرحمن بن القاسم بن محمدبن ابی بکر الصدیق رضي الله عنه دې. ددوی حالات كتاب الغسل باب هل يدخل الجنب يده في الإناء قبل أن يغسلها الخ لاندې تیرشوی دی.

قاسم بن محمد: دا قاسم بن محمد بن ابی بکرالصدیق رحمه الله دې. د دوی حالات كتاب الغسل باب من بدأ بالحلاب أو الطيب عند الغسل لاندې تیرشوی دی.

عائشة: دا ام المؤمنین حضرت سیده عائشه بنت ابی بکر صدیق رضي الله عنها ده. ددوی حالات «بدء الوحي» ددویم حدیث لاندې تفصیلاً تیرشوی دی.[1]

---

[1]) قوله: "عائشة : الحديث مر تخريجه في باب الأمر بالنفساء إذا نفسن، تحت رقم الحديث: ۲۹٤.

[2]) كشف الباري: ۶۶۹/۲

[3]) كشف الباري: ٥١٨/٤.

شرح حديث: ددې حديث سره متعلق ټول ابحاث باب الأمر بالنفساء إذا نفسن لاندې تيرشوي دي.

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: دحديث ترجمة الباب سره هم هغه مناسبت دې کوم چه دتيرو تعليقاتو دې.

٨-باب: الاستحاضة

ماقبل سره ربط: علامه عينى فرمائى چه باب الاستحاضة د باب سابق سره مناسبت دادې چه دواړه هم (دم حيض او دم استحاضه) د ښځو داحکامو نه دی.[٢] چنانچه ددې باب نه وړاندې امام بخاري رحمه الله د ښخودپاره دحيض مختلف احکام بيان کړل او اوس د ښخودپاره دم اسحاضه حکم بيانوى.

يوبل مناسبت داهم بيانولې شى چه په دم حيض اودم استحاضه کښې فرق کول ډير مشکل دی.[٣] او هم په دې وجه صحابياتوته به هم شك پيدا کيدلو. په دې وجه امام بخاري رحمه الله باب الاستحاضه راوړلو سره دغه اشتباه لرې کول غواړى.[٤]

حضرت شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائى زما حضرت (يعنى خليل احمدسهارنپوري) نورالله مرقده فرمائيل ما څلويښت کاله بخاري شريف اوخودلو ليکن په دې باب باندې پوهه نه شوم. خيال مې وو چه د "بذل" ليکلو په وخت به په پوهه کښې راشي خو بيا هم تراوسه پورې پوهه نه شوم.[٥]

مطلب ددې خبرې دادې چه مستحاضه ښځې د چا ذکر چه ابواب استحاضه په مختلف رواياتوکښې راغى په هغې کښې دومره اختلاف دې چه څه تعيين نه شي کيدې چه مونږ د يو متعلق څه حکم دمعتاده يا متميزه کيدو اولګوو چاچه ددې خلاف ليکلې وی دهغه ترديد اوکړو. په دې باب باندې چه څومره قدرې په وضاحت او تفصيل سره کلام امام ابوداؤد رحمه الله کړې دې بل چا نه دې کړې. امام بخاري رحمه الله صرف هم يو باب ذکرکړې دې اومسئله ئې اوخودله چه د استحاضه حکم دادې چه کله د حيض موده ختمه شي نو يوځل دې غسل اوکړى بس هم دغه کافى دې. امام بخاري رحمه الله استحاضه په تفصيل سره نه ده بيان کړې دکوم وجه چه داده په دې باب کښې چه کوم احاديث دی په هغې کښې تعارض دې يابيا هغه احاديث او روايات احکامات نه دی علاجات دی اويا بيا چونکه هغه احاديث انواع مختلفه باندې محمول دی په دې وجه ئې تعرض اونه کړو.[٦]

دترجمة الباب مقصد

دعلامه رشيداحمدګنګوهى رحمه الله رائې: حضرت مولانا رشيداحمدګنګوهى رحمه الله فرمائى دامام بخاري رحمه الله مقصد په دې ترجمة الباب سره د استحاضه حکم بيانول دی.[٧]

---

[١] کشف البارى: ٢٩١/١.
[٢] عمدة القارى: ٢٧۶/٣.
[٣] فيض البارى: ٤٩٤/١.
[٤] أنوارالبارى: ٤٢٢/١٠.
[٥] الکنزالمتوارى: ٢۶۵/٣ تقرير بخارى: ٣٠٩/٢.
[٦] الکنزالمتوارى: ٢۶۵/٣ تقرير بخارى: ٣٠٩/٢.
[٧] لامع الدرارى: ٢۶۶/٣.

ددې تفصیل دادې چه د باب استحاضه په سلسله کښې په کثرت سره احادیث راغلي دي دکوم نه چه ډیر زیات مختلف احکام ثابتیږي. دا احادیث امام ابوداؤد رحمه الله او امام طحاوي رحمه الله په تفصیل سره ذکرکړي دی. امام ابوداؤد رحمه الله خو دهریو حکم دپاره یو مستقل باب او ترجمه قائم کړې ده لکه چه الغسل لکل صلاة، الجمع بین الصلاتین، الغسل مرة عند انقضاء الحیض، الغسل کل یوم مرة، الغسل عند الطهر خاصة.
وغیره وغیره. ددې مختلف احکامو نه هریو حکم یونه یو امام اختیارکړې دې او په دې سلسله کښې د جمهور فقهاؤ او ائمه اربعه مذهب دادې چه د حیض په ختمیدو باندې یو ځل غسل کول واجب دی سره ددې چه د ائمه اربعه په انقضاء حیض او اختتام حیض مسئله کښې اختلاف دې چه آیا د انقضاء حیض د حکم مدار به په عادت باندې وی اوکه په تمیزباندې. او امام بخاري رحمه الله چه په ترجمة الباب کښې کوم حدیث ذکرکړې دې هغه هم د جمهورو د مذهب تائیدکوی د کوم نه چه معلومیږی په دې مسئله کښې امام بخاري رحمه الله جمهورو سره دې اودهغوی د مذهب تائید کوی. (1)

دترجمة الباب د مقصدسره متعلق یواشکال: په دې باندې دې دا اشکال نه وی چه حدیث الباب کښې خو د سره دغسل ذکرنشته؟

د اشکال جواب: څکه چه ډیر زر «باب إذا حاضت في شهر ثلاث حیض» لاندې بعینه هم ددې روایت ذکر دې او په هغې کښې د غسل تصریح ده. چنانچه د روایت په آخره کښې «ولكن دعي الصلاة قدر الأيام التي كنت تحيضين فيها ثم اغتسلي وصلي» اوداد امام بخاري رحمه الله د تراجم په حواله سره صنیع دې چه هغه کله دترجمه لاندې داسې احادیث ذکر کوی چه په ترجمة الباب باندې بالکل دلالت نه کوی مګر ددغه صنیع نه دامام بخاري رحمه الله مقصود په هغه روایت اوحدیث سره نورو طرفوته اشاره کول وی کوم سره چه امام بخاري رحمه الله داحدیث په خپل صحیح کښې په نورو مقاماتو کښې هم ذکرکړې وی. او هغه حدیث د دغه نورو طرق په اعتبار سره صراحت سره ترجمة الباب باندې دلالت کوی. لهذا دا ترجمه د شیخ الهند رحمه الله ذکرکړې شوې اصول تراجم نه یولسم اصل سره متعلق ده. (2)

دترجمه مقصدسره متعلق دویم قول: دویم قول داهم دې چه د امام بخاري رحمه الله مقصد د ترجمة الباب سره یو مشهورې اختلافی مسئلې طرف ته اشاره کول دی چه په خاص توګه حنفیه اومالکیه په مینځ کښې ډیره مختلف فیه ده اوهغه مسئله دا ده چه د انقضاء حیض مدار به په عادت باندې وی که تمیز الوان باندې. احناف عادت معتبرګرځوی اومالکیه ددې برعکس صرف تمیزالوان معتبرګرځوی.
امام شافعي رحمه الله اوامام احمد رحمه الله ددواړو اعتبارکوی عادت د معتاده محضه په حق کښې او تمیز د ممیزه محضه په حق کښې. که چرته دواړو کښې اشتباه وی نوامام شافعي رحمه الله تمیز الوان او امام احمد رحمه الله عادت ته ترجیح ورکوی. (3)
امام بخاري رحمه الله په دې ترجمه سره هم دې اختلاف طرف ته اشاره فرمائیلې ده او د باب روایت سره نې د فریقین د دلائل طرف ته هم اشاره کړې ده. لیکن څه فیصله نې نه ده کړې. چنانچه «إذا أقبلت الحیضة» سره نې تمیزالوان طرف ته اشاره کړې څکه چه اقبال او ادبار د مالکیه وغیره په نیز دتمیزالوان

---

(1) لامع الدراري: ۲۶۶/۳.
(2) الکنزالمتواري: ۲۶۶/۳.
(3) حواله بالا.

دپاره مصطلح دی. او «ذهب قدرها» سره نی عادت طرف ته اشاره اوکړه لکه چه دا الفاظ پخپله په عادت باندې صريح دلالت کوی.(١)

بل ددې قول مطابق مذکوره ترجمه د شيخ الهند رحمه الله د اصول تراجم نه څلورم اصل سره متعلق ده.(٢)

دحضرت مولانا شبيراحمدعثمانی رحمه الله رائې: حضرت مولانا شبيراحمدعثمانی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دا خودل غواړی چه دحيض اواستحاضه احکام مختلف دی. استحاضه يو عذر دې په کوم کښې چه به مستحاضه مونځ هم کوی روژه به هم ساتی او په دې کښې د مباشرت هم ممانعت نشته دې.(٣)

الحديث الأول

[٣٠٠]-حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا مَالِكٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ: قَالَتْ فَاطِمَةُ بِنْتُ أَبِي حُبَيْشٍ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ص:٦٩]: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي لاَ أَطْهُرُ أَفَأَدَعُ الصَّلاَةَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا ذَلِكِ عِرْقٌ وَلَيْسَ بِالحَيْضَةِ، فَإِذَا أَقْبَلَتِ الحَيْضَةُ فَاتْرُكِي الصَّلاَةَ، فَإِذَا ذَهَبَ قَدْرُهَا، فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّمَ وَصَلِّي»(٤)-[ر ٢٢٦]

ترجمه: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی حضرت فاطمه بنت جيش رضی الله عنها رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ته اووئيل اې دالله رسول! زه خو هډو پاکيږم نه، نو آيا زه بالکل مونځ پريږدم؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل داد رګ وينه ده د حيض نه ده، په دې وجه کله چه د حيض ورځې (په کوم کښې چه اول په تاباندې دعادت مطابق حيض راتلو) راشی نومونځ پريږده اوکله چه (د اندازې مطابق) هغه ورځې تيرې شی نو وينه اووينځه اومونځ کوه.

تراجم رجال

عبدالله بن يوسف: دا مشهور امام اومحدث ابومحمدعبدالله بن يوسف تنيسی کلاعی دمشقی رحمه الله دې. ددوی تفصيلی حالات كتاب العلم باب ليبلغ العلم الشاهد الغائب لاندې تيرشوی دی.(٥)

مالك: دا امام دارالهجره مالك بن انس بن مالك بن ابی عامربن عمرو الاصحی رحمه الله دې. ددوی تفصيلی حالات كتاب الإيمان باب من الدين الفرار من الفتن لاندې تيرشوی دی.(١)

---

(١) الكنزالمتواری: ٢٦٧/٣.

(٢) الكنز المتواری: ٢٦٧/٣. والأ الرابع أنه قد يترجم بمسئلة اختلفت فيها الأحاديث، فيأتی بتلك الأحاديث على اختلافها ليقرب إلى الفقيه من بعده أمرها، مثاله: (باب خروج النساء إلى البراز) جمع فيه حديثين مختلفين. انتهى. قلت: هذا أصل مطرد معروف عندالشراح، يعبرون عنه بأن الروايات التی لايترجح إحداهما على الأخرى عندالمصنف، لا يجزم بالحكم فی الترجمة..... الخ (الكنزالمتواری: ٣٥٣/١).

(٣) فضل الباری: ٤٧٥/٢.

(٤) قوله: "عائشة : الحديث مرتخريجه فی كتاب الوضوء باب غسل الدم رقم الحديث: ٢٢٨.

(٥) كشف الباری: ١١٣/٤.

هشام بن عروة: داهشام بن عروة بن الزبير بن العوام قرشي رحمه الله دي. ددوى تفصيلي حالات كتاب الإيمان باب أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تير شوى دى.([2])

عروة: دا مشهور تابعي عروة بن الزبير بن العوام بن خويلد بن اسد قرشي رحمه الله دي. د دوى تفصيلي حالات كتاب الإيمان باب أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تيرشوى دى.([3])

عائشة: دا ام المؤمنين سيده عائشه بنت ابى بكر الصديق رضي الله عنهما ده. د دوى حالات بدء الوحى دويم حديث لاندې تيرشوى دى. ([4])

شرح حديث

قولها:: لاأطهر: حضرت فاطمه بنت جيش رضي الله عنها پوهيدله چه حيض د مونځ او روژې نه مانع دې لكه چه دامام ابوداؤد رحمه الله وغيره د روايت نه معلوميږى. په دې روايت كښې دى: «إني امرأة أستحاض حيضة كثيرة شديدة، فماترى فيها قد منعتني الصلاة والصوم الخ» يعنى زه يوه داسې ښځه يم په چاچه شدت او زياتوالى سره وينه راځي نو په داسې صورت كښې زما دپاره څه حكم دې؟ اودې وينې خو زه د مونځ اوروژې نه منع كړې يم.([5])

ليكن د وينې د تسلسل د وجې نه په حضرت فاطمه بنت جيش رضي الله عنها باندې دا امر مشتبه شوې وو چه دحيض حكم ختم شو كه هغه هم دوينې د دې تسلسل د وجې نه باقي دې؟ ځكه چه دهغې ګمان دا وو چه دحيض نه پاكى او طهارت د دم حيض په منقطع كيدوباندې حاصليږى په دې وجه هغې د وينې يو شان راتلل عدم طهارت سره تعبيركولو سره اوفرمائيل: «لا أطهر» او بيائي هم ددغه اشتباه د لرې كولودپاره پوښتنه اوكړه چه حضورپاك په داسې حالت كښې مونځ پريږدم؟([6])

قوله:: عرق: دا لفظ دعين كسره سره استعماليږى اودلته ددې لفظ نه د هغه رګ طرف ته اشاره مقصود ده كوم ته چه عازل وائى.([7])

قوله:: وليس بالحيضة: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دا لفظ په حديث كښې دواړو خايونوكښې د حاء فتحه سره دې. امام خطابى رحمه الله اكثر، بلكه ټولو محدثينو حضراتو هم دغه شان نقل كړې دې.([8]) امام نووى رحمه الله فرمائى چه هم د حاء فتحه سره متعين دې ځكه چه داد رسول الله صلى الله عليه وسلم مراد سره ډير نيزدې دې. په دې وجه مقصود اثبات استحاضه اونفى د حيض ده اودا مقصود هم دحاء فتحه سره

---

[1]) كشف البارى: ٨٠/٢.
[2]) كشف البارى: ٤٣٢/٢.
[3]) كشف البارى: ٤٣٦/٢.
[4]) كشف البارى: ٢٩١/١.
[5]) فتح البارى: ٥٣١/١ إرشادالسارى: ٥٤٨/١ معارف السنن: ٤٧٧/١.
[6]) فتح البارى: ٥٣١/١ إرشادالسارى: ٥٤٨/١ معارف السنن: ٤٧٧/١.
[7]) شرح الكرمانى: ١٧٤/٣.
[8]) فتح البارى: ٥٣٩/١.

حاصليږي. (١)بل دا چه په کسره د حاء هم لوستلې شي که چرې مراد مقصود د حيض د حالت نفي وي.(٢) علامه کرماني رحمه الله فرمائي ددې نه معلومه شوه چه د مستحاضه حکم په ټولو احکامو کښې د پاکو ښځو په شان دې سوا د هغه احکامو چه د يو دليل لاندې مستثنٰى وي.(٣)

قوله:: فاغسلي عنك الدم وصلي: أي: بعدالاغتسال، مراد دادې چه کله چه د حيض ورځې تيرې شي نو وينه اووينځه اوبيا د غسل نه پس مونځ کوه. سره ددې چه په دې روايت کښې د اغتسال تصريح نشته ليکن وراندې تلوسره «باب إذا حاضت في شهر ثلاث حيض» کښې هم په دې حديث کښې د اغتسال تصريح هم ده مګر په هغه روايت کښې د غسل دم تصريح نشته. چنانچه په هغه روايت کښې دي: «ثم اغتسلي وصلي». مذکوره روايت او راتلونکې روايت دواړه د اصحاب هشام نه نقل دی څکه چه مالك بن انس رحمه الله اوابواسامه رحمه الله دواړه د هشام بن عروه رحمه الله شاګردان دی.(٤)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دامذکوره اختلاف (يعنی بعض رواياتو کښې د اغتسال ذکر او غسل دم عدم ذکر او بعض رواياتو کښې ددې برعکس کيدل) د هشام بن عروه رحمه الله د اصحاب په مينځ کښې شوی دی اوټول هم ثقه روات دی او په صحيحين کښې ددوی روايات موجود دی. لهذا دا لفظی اختلاف به په دې باندې محمول کولې شي چه هر يو راوی په خپل خپل اعتبارسره غيرواضح امر په ذکر کولوباندې اکتفاکړې ده. چنانچه بعض روات غسل دم ذکر کولو باندې اکتفا اوکړه اوبعض اغتسال ذکرکولو باندې اکتفااوکړه.(٥)

حيض او استحاضه کښې فرق اوډتميز صورتونه اوپه هغې کښې د ائمه اختلاف: داخبره اول تيره شوې ده چه حيض اواستحاضه کښې د فرق اوتميز هم دوه صورتونه دی. الوان (رنګ) سره، يا ايام عادت سره. احناف حضرات ايام عادت او مالکيه حضرات الوان معتبرګرځوی او حنابله اوشوافع د دواړو اعتبارکوی اوکه چرې په دواړو کښې اشتباه وی نو امام شافعی رحمه الله تميزالوان اوامام احمد رحمه الله د ايام عادت اعتبارکوی.

دلته په روايت کښې «إذا أقبلت الحيضة» الفاظ دی. د ائمه ثلاثه په نيز داقبال معنی ده کله چه توره وينه راتلل شروع شي اود ادبارمعنی ده کله چه توره وينه ختمه شي. نودا اقبال او ادبار د محدثينو حضراتو دوه اصطلاحات دی اوهم ددې نه ائمه ثلاثه استدلال کوی. احناف حضرات فرمائی داچه کوم د اقبال اوادبار معنی بيان کړې شوی دی داد حديث نه ثابت نه دی بلکه د خپل ځان نه دی لهذا داپه مونږ باندې حجت نه دی. زمونږ په نيز د اقبال معنی وراندې طرف ته راتلل اود ادبار معنی شاطرف ته تلل دی. لهذا د اقبال معنی د حيض عادت سره راتلل اود ادبار معنی دحيض تلل دعادت سره، شوه. هم په دې وجه زمونږ په نيز د تميز الوان اعتبار نشته اوزمونږ دليل هم دغه حديث دې چه دلته د أقبلت معنی هم هغه ده کومه چه مونږ بيان کړه ځکه چه ددې مقابل أدبرت نه راځی بلکه إذاذهب

---

(١) فتح الباري: ٥٣٩/١ شرح الكرماني: ١٧٤/٣.

(٢) فتح الباري: ٥٣١/١ دارالسلام.

(٣) شرح الكرماني: ١٧٤/٣.

(٤) فتح الباري: ٥٣١/١.

(٥) حواله بالا.

قدرها دي. د كوم نه چه معلومه شوه د ادبار معنى ده دحيض وخت ختميدل. لهذا په دې سره تمييز الوان باندې استدلال نه شى كيدې.[1]

بهرحال قطع نظر ددې نه چه د حيض او استحاضه په مينځ كښې فرق به دالوان په ذريعه كيږى يا دعادت په ذريعه د ائمه اربعه رحمهم الله په دې باندې اتفاق دې چه دانقطاع حيض نه پس به صرف يو خل غسل واجب وى. بيا كه دحيض نه پس د استحاضه شكل وى نوداحنافو په نيز به دهرمونځ دپاره اودس كول ضرورى وى اود دويم مونځ وخت راتلونه وراندې وراندې په وخت كښې د وخت د فرائض نه علاوه نور فرائض او نوافل هم ادا كولې شى اوكله چه د دويم مونځ وخت راخى نودهغې دپاره به جدا اودس كول وى اوهم دغه د امام احمد رحمه الله هم مذهب دې.[2]

شوافع حضرات فرمائى دهرمونځ دپاره به اودس كوى او په يواودس سره به هم يو فرض اداكولې شى كوم سره چه تبعاً نوافل هم صحيح دى. لكه چه د شوافع په نيز د هر مونځ دپاره اودس ضرورى دې اود احنافو اوحنابله په نيز د هر وخت د مونځ دپاره اودس ضرورى دې.[3]

مالكيه فرمائى چه دمستحاضه او معذور په حق كښې عذر هيڅ كله ناقض وضو نه وى. كه د يومونځ دپاره ئې اودس اوكړو نودهغې نه پس د دويم مونځ د وخت په راتلو باندې نوې اودس ضرورى نه دې صرف د استحباب په درجه كښې دې. الّايه چه د نقض وضو څه بل سبب پيښ شوې نه وى نو په داسې صورت كښې به نوې اودس كول وى.[4]

په دې مقام باندې حافظ ابن حجر رحمه الله دامام شافعى رحمه الله مذهب ته د جمهورو مذهب وئيلې دې ليكن دا صحيح نه دې ځكه چه «المغنى فى فقه الإمام أحمد رحمه الله»[5] د عبارت نه صفامعلوميږى چه د امام احمدبن حنبل رحمه الله مذهب د امام ابوحنيفه رحمه الله د مذهب نه مختلف نه دې.[6]

فائده: علامه عينى رحمه الله د فائده په عنوان سره دهغه ښځو نومونه ذكركړى دى چاته چه په عهدنبوى كښې د استحاضه بيمارى شوې وه. هغه نومونه دادى. ① ام حبيبه بنت جحش ② زينب ام المؤمنين ③ اسماء اخت ميمونه ④ فاطمه بنت ابى جيش ⑤ حمه بنت جحش ⑥ سهله بنت سهيل ⑦ زينب بنت جحش ⑧ سوده بنت ذمعه ⑨ زينب بنت ام سلمه ⑩ اسماء بنت مرشد الحارثيه ⑪ باديه بنت غيلان.[7]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى ددې روايت نه معلومه شوه چه د ښځې دپاره په خپل ذات پخپله د ښځو متعلق مسائل د سړى نه تپوس كول جائزدى. دغه شان د ضرورت په موقع باندې د ښځې د آواز اوريدو جواز هم معلوم شو.[8]

---

[1] الكنز المتوارى:۲۶۷/۳.

[2] فتح البارى: ۵۳۱/۱معارف السنن: ۴۸۱/۱فضل البارى:۴۷۵/۲إرشادالسارى: ۵۴۷/۱.

[3] فتح البارى: ۵۳۱/۱معارف السنن: ۴۸۱/۱فضل البارى:۴۷۵/۲إرشاد السارى: ۵۴۷/۱.

[4] حواله بالا.

[5] المغنى لابن قدامة: ۲۰۷/۱.

[6] معارف السنن: ۴۸۱/۱.

[7] عمدة القارى: ۲۷۷/۳.

[8] فتح البارى: ۵۳۲/۱-۵۳۱.

دحدیث ترجمة الباب سره مناسبت: په مذکوره حدیث اوترجمة الباب کښې مناسبت واضحه دې اوهغه داسې چه دا باب د استحاضه د حکم په بیان کښې دې او په حدیث کښې هم ددې حکم بیان کړې شوې دې.[1]

۹-باب: غَسْلِ دَمِ الْحَيْضِ

ماقبل سره ربط: علامه عینی رحمه الله فرمائی چه داباب د دم حیض د وینځلوبیان کښې دې. اوددې باب سابقه باب سره مناسبت دادې چه د دواړو تعلق د ښځو مسائلوسره دې.[2] نور فرمائی چه بعض نسخوکښې ترجمة الباب غسل دم الحیض او بعض نسخوکښې غسل دم الحائض په الفاظوسره دې. او کتاب الوضوء کښې هم امام بخاری رحمه الله دې ترجمة الباب سره یو شان یوه ترجمه قائمه کړې ده یعنی باب غسل الدم. علامه عینی رحمه الله او حافظ ابن حجر رحمه الله په دې دواړوابواب کښې فرق داسې کړې دې چه دا ترجمة الباب خاص دې او کتاب الوضوء کښې عام دې. لکه چه دا د تخصیص بعدالتعمیم دقبیل نه دې.[3]

شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمائی چه زما په نیزدا ترجمه شارحه ده. چونکه په حدیث کښې د نضح لفظ دې د کوم معنی چه د شیندلو ده او د غسل نه مراد وینځل دی نو په ترجمة الباب کښې لفظ غسل راوړلوسره امام بخاری رحمه الله اوخودل چه د نضح‌نه مراد غسل دې.[4]

د حضرت مولانا رشیداحمدګنګوهی رحمه الله رائې: حضرت مولانا رشیداحمدګنګوهی رحمه الله فرمائی امام بخاری رحمه الله اول باب غسل الدم راوړلې دې. په کوم کښې چه د هرې وینې د وینځلو حکم معلومیږی اودې سره ئې باب غسل المني راوړلې وو په کوم سره چه د غسل منی په حکم کښې څه نرمی اوآسانی هم واضحه وه. اوس دلته د دم حیض د وینځلو جدا حکم په دې وجه ښائی چه کیدې شی څوک خیال اوکړی لکه څنګه چه غسل منی کښې عام اواکثری ابتلاء په سبب سره تخفیف شوې وو دغه شان د دم حیض په وینځلوکښې هم تخفیف کیدې شی. ددې خیال لرې کولو ئې اوکړو او وئې خودل چه ددې حکم هم د نورو وینو په شان دې چه په پوره اهتمام سره د نورو نجاستونو په شان وینځل دی. لکه د غسل منی په حکم کښې خلاف قیاس د شریعت نه ثابت شوی دی په کوم چه نور نجاستونه قیاس کولې نه شی.[5]

دعلامه شبیراحمدعثمانی رحمه الله رائې: علامه شبیراحمدعثمانی رحمه الله فرمائی چونکه دحیض وینه په کوم کښې چه ناپاکئی سره سره نوره خرابی هم ده په دې وجه ددې په وینځلوکښې د مبالغې ضرورت دې. لهذا امام بخاری رحمه الله په دې ترجمة الباب کښې هم ددغه مبالغه غسل کیفیت بیانول غواړی.

[1] عمدة القاری: ۲۷۶/۳.

[2] عمدةالقاری: ۲۷۷/۳.

[3] عمدة القاری: ۲۷۷/۳فتح الباری: ۵۳۲/۱إرشادالساری: ۵۴۸/۱.

[4] تقریر بخاری:۹۸/۲.

[5] لامع الدراری: ۲۶۸/۳.

چنانچه غسل او دوينخلونه اول قرص يعنى گوتو او يا نوكونوغيره سره د رژولوذكر دي په كوم كښې چه فائده داده چه د كپړو د تارونو پورې چه كومه وينه رسيدلې ده هغه په وينخلوسره اوځي (۱)

د شيخ الحديث زكريا رحمه الله رائې: شيخ الحديث زكريا رحمه الله فرمائي زما په نيزد ترجمة الباب نه دامام بخاري رحمه الله غرض د كپړو نه د حيض دوينې نجاست ختمولو بيان كول دى او د راتلونكى باب غسل المحيض لاندې د بدن نه د حيض د وينې د نجاست ختمولو بيان به كوى. وجه داده چه د مذكوره باب لاندې امام بخاري رحمه الله كوم دوه احاديث روايت كړى دى په هغې كښې د بدن نه د حيض د وينې د ختمولو بيان دې.

الحديث الأول

[۳۰۱] - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا مَالِكٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ الْمُنْذِرِ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ أَنَّهَا قَالَتْ: سَأَلَتِ امْرَأَةٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ إِحْدَانَا إِذَا أَصَابَ ثَوْبَهَا الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ كَيْفَ تَصْنَعُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا أَصَابَ ثَوْبَ إِحْدَاكُنَّ الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ فَلْتَقْرُصْهُ، ثُمَّ لِتَنْضَحْهُ بِمَاءٍ، ثُمَّ لِتُصَلِّي فِيهِ» (۲) [ر ۲۲۵]

ترجمه: اسماء بنت ابوبكر صديق رضي الله عنهما فرمائي يوې ښځې د حضورپاك نه تپوس اوكړو چه يارسول الله صلى الله عليه وسلم! تاسو دداسې ښځې متعلق څه فرمايئى د كومې په كپړو چه د حيض وينه لګيدلې وى هغې له څه كول پكاردى؟ حضورپاك اوفرمائيل كه د يوې ښځې په كپړو باندې دحيض وينه اولګى نوهغه دې اوګروى دهغې نه پس دې په اوبو سره اووينځى بيا په دغه كپړو كښې مونځ كولې شى.

تراجم رجال

عبدالله بن يوسف: دا مشهور امام اومحدث ابومحمد عبدالله بن يوسف تنيسى كلاعى دمشقى دې. ددوى تفصيلى حالات كتاب العلم باب ليبلغ العلم الشاهد الغائب د رومبى حديث لاندې تيرشوى دى. (۳)

مالك: دا امام دارالهجره عالم المدينه امام مالك بن انس بن مالك بن ابى عامر بن عمرو الاصبحى المدنى رحمه الله دې. د دوى تفصيلى حالات كتاب الإيمان باب من الدين الفرار من الفتن د وړاندې حديث لاندې ذكر كولې شى. (۴)

هشام: داهشام بن عروة بن الزبير بن العوام قرشى رحمه الله دې. تفصيلى حالات كتاب الإيمان باب أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تيرشوى دى. (۵)

---

(۱) فضل البارى: ۴۷۶/۲.

(۲) قوله: "أسماء بنت أبى بكر" الحديث مرتخريجه فى كتاب الوضوء باب غسل الدم رقم الحديث: ۲۲۷.

(۳) كشف البارى: ۱۱۳/۴.

(۴) كشف البارى: ۸۰/۲

(۵) كشف البارى: ۴۳۲/۲.

فاطمة بنت المنذر: دا فاطمه بنت المنذر بن الزبير بن العوام قرشيه اسديه رحمها الله ده. ددې تفصيلي حالات كتاب العلم باب من أجاب الفتيا بإشارة اليد والرأس كښې د دريم حديث لاندې تيرشوى دى.[1]

أسماء بنت أبي بكر الصديق: داد خليفه اول حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه لور حضرت اسماء رضي الله عنها ده. د حضرت زبير بن العوام رضي الله عنه بى بى ده. ددې تفصيلي حالات كتاب العلم باب من أجاب الفتيا بإشارة اليد والرأس كښې د دريم حديث لاندې تيرشوى دى.[2]

شرح حديث

امام بخارى رحمه الله د حضرت اسماء بنت ابى بكر رضي الله عنها دا روايت كتاب الوضوء باب غسل الدم لاندې د يحيى القطان عن هشام په طريق سره روايت كړې دې او هم په دغه مقام باندې جمله مباحث هم ذكركړې شوى دى.[3]

علامه انورشاه كشميرى رحمه الله اوفرمائيل چه ددم حيض په نجاست باندې اجماع ده. بياهم په روايت كښې لفظ نضح راغلې دې. ددې نه معلومه شوه چه دنضح نه مراد په شريعت كښې غسل هم (وينځل) دى.[4]

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: په حديث اوترجمة الباب كښې مناسبت بالكل واضح دې ځكه چه په دواړو كښې د حيض وينه وينځلوحكم وركړې شوې دې.[5]

الحديث الثاني

[٣٠٢]- حَدَّثَنَا أَصْبَغُ، قَالَ: أَخْبَرَنِي ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ الحَارِثِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ القَاسِمِ، حَدَّثَهُ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «كَانَتْ إِحْدَانَا تَحِيضُ، ثُمَّ تَقْتَرِصُ الدَّمَ مِنْ ثَوْبِهَا عِنْدَ طُهْرِهَا، فَتَغْسِلُهُ وَتَنْضَحُ عَلَى سَائِرِهِ، ثُمَّ تُصَلِّي فِيهِ».[6]

ترجمه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه كله به په مونږ كښې په چا حيض راغلو نود كپړو پاكولووخت كښې به هغې وينه رژوله اوهغه ځائى به ئې وينځلو بيابه ئې په ټولو كپړو باندې اوبه بهيولې او بيابه ئې په هغې كښې مونځ كولو.

---

[1] كشف البارى: ٣/٤٨٦.

[2] كشف البارى: ٣/٤٨٧.

[3] فتح البارى: ١/٥٣٢، عمدة القارى: ٣/٢٨٧.

[4] فيض البارى: ١/٤٩٤.

[5] عمدة القارى: ٣/٤١٢، الكنزالمتوارى: ٣/٢٦٨.

[6] رواه أبوداؤد فى الطهارة باب في الرجل يصيب منها مادون الجماع رقم الحديث: ٢٦٩ وباب المرأة تغسل ثوبها الخ رقم الحديث: ٣٥٧ وباب الإعادة من النجاسة تكون فى الثوب رقم الحديث: ٣٨٨ والنسائى فى الطهارة باب مضاجعة الحائض رقم الحديث: ٢٨٤.

تراجم رجال

أصبغ: دا اصبغ بن الفرج بن سعيدبن نافع القرشي الاموي المصري رحمه الله دي. ددوى كنيت ابوعبدالله دي. ددوى احوال كتاب الوضوء باب المسح على الخفين لاندې تيرشوى دى.

ابن وهب: دا مشهور امام اومحدث ابومحمد عبدالله بن وهب بن مسلم قرشي فهري مصري رحمه الله دي. ددوى تفصيلي احوال كتاب العلم باب من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين لاندې تيرشوى دى.[1]

عمرو بن الحارث: داعمرو بن الحارث بن يعقوب بن عبدالله انصاري مصري رحمه الله دي. ددوى تفصيلي احوال كتاب الوضوء باب المسح على الخفين لاندې تيرشوى دى.

عبدالرحمن بن القاسم: دا مشهور امام او محدث عبدالرحمن بن القاسم بن محمد بن ابى بكر الصديق رضي الله عنهم دي. ددوى تفصيلي احوال كتاب الغسل باب هل يدخل الجنب يده الخ لاندې تيرشوى دى.

قاسم: دا قاسم بن محمد ابن ابى بكرصديق رضي الله عنهم دي. ددوى حالات «كتاب الغسل باب من بدأ بالحلاب أو الطيب عند الغسل» لاندې تفصيلاً تيرشوى دى.

عائشة: دا ام المؤمنين حضرت سيده عائشه بنت ابى بكر صديق رضي الله عنهما ده. ددوى حالات «بدء الوحى» ددويم حديث لاندې تفصيلاً تيرشوى دى.[2]

شرح حديث

قولها: كانت إحدانا: دې نه مراد ازواج نبى ﷺ دى.[3]

مطلب داچه درسول اکرم ﷺ په مبارك دوركښې چه كله د ازواج مطهرات رضى الله عنهن كپړو پورې د حيض وينه لګيدله نوهغوى به د دغه وينې نه داسې پاكى حاصلوله څنګه چه په روايت كښې ذكرشو اوداسې به دا حديث د حديث مرفوع په حكم كښې وى. د كوم تائيدچه دحضرت اسماء رضي الله عنها د حديث نه كيږى كوم چه د مذكوره روايت نه وړاندې تيرشوې دې څكه چه نبى كريم ﷺ پخپله هم دغه طريقه د وينې د ختمولو بيان فرمائيلې ده.[4]

دابن بطال رحمه الله رائې: ابن بطال رحمه الله فرمائى چه حديث عائشه رضي الله عنها د حديث اسماء رضي الله عنها د پاره تفسيردې اودا چه دحضرت اسماء رضي الله عنها په حديث كښې راغلې لفظ نضح نه مراد غسل دې لكه چه عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل او دحضرت عائشه رضي الله عنها قول «وتنضح على سائره» نه مراد رش يعنى د اوبو چنړكاؤ دې. وينځل مراد نه دى. وجه دا ده چه په كپړو كښې به په كوم ځائى وينه لګيدلې وه نوهغه ځائى به نې وينځلو لكه چه په روايت كښې ددې صراحت دې او په باقى كپړو به چونكه وينه نه وه لګيدلې نوهلته د وسوسې د ختمولو دپاره به نې د اوبوچنړكاؤ كولو. څكه چه داسې خو كيدې نه شو چه د وينې بعض ځائى اووينځلې شى اوبعض د وينې په ځائى باندې صرف د اوبو چنړكاؤ وى.[5]

---

[1]) كشف البارى: ٢٧٧/٣.

[2]) كشف البارى: ٢٩١/١.

[3]) فتح البارى: ٥٣٢/١عمدة القارى: ٢٧٨/٣.

[4]) فتح البارى: ٥٣٢/١عمدة القارى: ٢٧٨/٣.

[5]) شرح ابن بطال: ٤٣٥/١فتح البارى: ٥٣٢/١عمدة القارى: ٢٧٨/٣.

قوله: تقترص الدم من ثوبها: تقترص: بالقاف والصاد المهملة داد تفتعل په وزن باندې دې اوددې معنی ده د ګوتو د غاړو په ذریعه د وینو څاڅکې وینځل. ابن جوزی رحمه الله ددې لفظ معنی تقتطع سره کړې ده یعنې هغه به د وینې د ځائی نه هغه څاڅکې پرې کولو جدا کولوبه ئې. لیکن ددې دواړو معنو نه هم رومبې معنی زیاته مناسبت ده اود حضرت اسماء رضی الله عنها د حدیث موافق ده. ځکه چه په حدیث د اسماء رضی الله عنها فلتقرصه الفاظ دی. د کوم معنی چه د رژولو راځی نه چه د پرې کولو. بل دلته هم په یو روایت کښې **تقترص** په ځائی باندې **ثم تقرص الدم من ثوبها** الفاظ دی.[1] شراح حضراتو لیکلی دی چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د رژولوحکم ځکه ورکړو ځکه چه د وینو د دغه څاڅکود رژولونه پس وینځلوسره هغه داغونه وغیره په آسانئی سره ختمیږی اوکپړه پاکیږی.[2]

قوله: عند طهرها: دغه شان په اکثرو روایاتوکښې ذکردی. خود حموی او مستملی په روایاتو کښې عندطهره الفاظ دی او ضمیرد ثوب طرف ته راجع دې اومعنی داده چه کله به د دغه کپړې د پاکولو اراده کیدله نوبیابه ئې هغه داغ رژولو او وینځلوبه ئې. ددې نه معلومه شوه چه کله د کپړې د پاکولو زر حاجت نه وی نو نجاست پریخودلې شی بیا چه کله د پاکولو حاجت وی نو په دغه موقع دې پاکه کړی.[3]

قوله: ثم تصلی فیه: پدې کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چه پلیته کپړه کښې مونځ کول منع دی.[4] امام ابومحمدعبدالله بن ابی جمرة اندلسی رحمه الله په باب مذکورکښې دحضرت عائشه رضی الله عنها دحدیث لاندې یوڅو نکات ذکرکړی دی: ① رومبې نکته ئې دا ذکرکړې ده چه عائشه رضی الله عنها اوفرمائیل «کانت إحدانا تحیض»چه کله به مونږ ازواج مطهرات نه چاته د حیض شکایت شو نو عائشه رضی الله عنها علی العموم د ټولو ازواج مطهرات خبر ورکړو صرف دخپل ذات متعلق ئې خبر ورنه کړو. نو په دې کښې نکته داده که چرې هغې صرف دخپل ذات متعلق خبرورکړې وې نو بیا به دا احتمال کیدو چه داحکم او عمل صرف حضرت عائشه رضی الله عنها سره خاص وو خوددې برعکس علی العموم دخبر ورکولو فائده داده چه عموم ددې خبرې مقتضی دې چه دا حکم مضبوطیا پوخوالی سره د ټولو ازواج سره دې.

② دویمه نکته دا چه ددې حدیث نه معلومه شوه چه کله د یوڅیز متعلق خبر ورکول وی نوهغه خبر په واضحه او صفا انداز سره ورکول پکاردی. اوددې نه داهم مستنبط کیږی چه داحکامو د ثابتولو په غرض سره دهغه خبرو اظهار کیدې شی د کوم نه چه طبیعت کرکه کوی لکه چه دلته په حدیث باب کښې حضرت عائشه رضی الله عنها د حیض تذکره اوکړه اود هغې نسبت ئې ټولو ازواج مطهرات طرف ته اوکړو. دغه شان د نجاست دم د رژولو او بیانئی د وینځلو تذکره اوکړه.

③ دحدیث شریف الفاظ: «ثم تقرص الدم من ثوبها عند طهرها فتغسله» نه معلومه شوه د نجاست لرې کول د عبادت د وجوب دمتوجه کیدو په وخت لازم او ضروری وی. لهذا که چرې د نجاست د زر لرې کولو حاجت نه وی نو نجاست پریخودې شی.

---

[1] فتح الباری: ۵۳۲/۱ عمدة القاری: ۲۷۸/۳.

[2] عمدة القاری: ۲۷۸/۳ بهجة النفوس: ۱۶۵/۱.

[3] فتح الباری: ۵۳۳/۱ بهجة النفوس: ۱۶۵/۱.

[4] فتح الباری: ۵۳۳/۱ بهجة النفوس: ۱۶۵/۱.

④ ثم تقترص الدم، دې نه معلوميږي چه رژول د نجاست په زوال کښې ممدومعاون دې په داسې معنی چه د رژولو نه پس دنجاست ختمول آسانيږي ځکه چه دايوه عامه شان خبره ده چه که نجاست دجرم وجسم والاوي اوبغيرد رژولو نه په هغې باندې اوبه واچولې شي نوهغه نجاست په کپړه کښې خوريږي.

⑤ پنځمه نکته داده چه د ازواج مطهرات د رژولو د عمل نه معلوميږي چه په کارونوکښې کم او آسان کار اختيارول پکاردی لکه چه دلته نقل دی چه اول به اوزاج مطهرات نجاست رژولو اوبيابه ئې وينځلو نومعلومه شوه چه ازواج مطهرات به د نجاست د ختمولودپاره آسان عمل اختيارولو ځکه چه ددې عمل نه پس به نجاست په آسانئی سره ختميدو.

⑥ دحديث شريف نه يو حکم دا هم مستنبط کيږي چه په کوم کوم ځائې باندې د نجاست لګيدل يقينې وی نوهغه به وينځلې شی او چرته چه شك او وسوسه وی په هغې باندې به اوبه چنړکاؤ کولې شي دې دپاره چه وسوسه ختمه شي.

⑦ ددې حديث نه معلومه شوه چه د حائضه مونځ کول د حيض په ختميدو او د طهر په شروع کيدو اودغه شان د وينې د نجاست په ختمولو او اوبو سره پاکي حاصلولو (که چرته اوبه وی) نه پس صحيح کيږي. دې نه وړاندې حائضه مونځ نه شی کولې. اودا حکم دحديث باب نه داسې مستنبط کيږي چه حضرت عائشه ﷺ اول تول احوال او اوصاف ذکر کړل اود هغې نه پس ئې د مونځ کولو ذکر اوکړو.

⑧ دحديث عائشه ﷺ نه دا هم معلومه شوه چه د حائضه ښځې بدن او خوله پاکه او طاهر ده. ځکه چه يوه ښځه دومره ورځې په حيض کښې تيره وی نود خولې راتلل خو لازمی خبره ده او بيا په حديث کښې صرف دکپړې دهغه ځائې وينځلو حکم ورکړې شو چرته چه نجاست ليګلې وی اوباقی باندې د اوبو د چنړکاؤ ذکر دې. که چرې خوله پاکه نه وه نوبدن سره به د ټولو کپړو د وينځلو حکم وو نه صرف نضح اوچنړکاؤ به کافی نه وې.[1]

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: په حديث اوترجمة الباب کښې مناسبت بالکل واضح دې ځکه چه په دواړو کښې د حيض وينې وينځلوتذکره ده.[2]

۱۰-باب: الْاِعْتِكَافِ لِلْمُسْتَحَاضَةِ

اعتكاف: عکوف نه ماخوذدې. دکوم معنی چه دبنديدلو او منع کيدلو راځی. چنانچه ارشاد باری تعالی دې ﴿وَالْهَدْيَ مَعْكُوفًا أَنْ يَبْلُغَ مَحِلَّهُ﴾ إي: ممنوعاً. هم ددې نه اعتکاف شرعی هم دې ځکه چه معتکف خپل ځان د الله تعالی د رضا اوخوشحالئی اود الله تعالی قربَ حاصلولو دپاره دالله تعالی په کورکښې بندوی اودشريعت په اصطلاح کښې د اعتکاف تعريف دادې: **الاعتكاف: هواللبث فی المسجد بنية الاعتكاف** يعنی شرعاً اعتکاف، د اعتکاف په نيت سره په جمات کښې حصاريدو ته وائی.[3]

---

[1] بهجة النفوس: ۱۶۶/۱-۱۶۵.

[2] عمدة القاری: ۲۷۸/۳الكنز المتوارى: ۲۶۸/۳.

[3] البحرالرائق: ۵۲۲/۲البناية شرح الهداية: ۱۲۱/٤.

ماقبل سره ربط: باب غسل دم المحيض او په مذكوره باب كښې مناسبت ښكاره دې چه په دواړو كښې د ښځو متعلق احكام دى.[1]

دترجمة الباب مقصد:

د حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله دكلام نه معلوميږي چه دامام بخاري رحمه الله مقصد دمستحاضه دپاره په اعتكاف كښې د كيناستو د جواز بيان كول دى.[2] هم دا خبره د څه وضاحت سره حضرت شيخ الحديث زكريا رحمه الله بيان كړې ده هغوى فرمائى چونكه اعتكاف په مساجد كښې كيږي او مساجد د مستقدرات اونجاسات يعنى د ګندګئ نه د پاك ساتلو حكم وركړې شوې دې او مستحاضه باندې وينه راځى كوم چه نجس او ګندګى ده. نو په دې سره په ظاهره وهم كيدلو چه هغه اعتكاف نه شى كولې نوامام بخاري رحمه الله تنبيه اوكړه چه ددې اعتكاف كول جائزدى.[3]

دعلامه رشيداحمد ګنګوهى رحمه الله رائې: حضرت مولانارشيداحمد ګنګوهى رحمه الله فرمائى د امام بخاري رحمه الله مقصد داخودل دى چه د حيض په وجه كوم امور منع وو د استحاضه د وجې نه د هغې ممانعت نشته البته دومره احتياط ضرور دې چه د مساجد تلويث نه وى.[4]

الحديث الأول

[٣٠٣]- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ، قَالَ: حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَكَفَ مَعَهُ بَعْضُ نِسَائِهِ وَهِيَ مُسْتَحَاضَةٌ تَرَى الدَّمَ» ، فَرُبَّمَا وَضَعَتِ الطَّسْتَ تَحْتَهَا مِنَ الدَّمِ، وَزَعَمَ أَنَّ عَائِشَةَ رَأَتْ مَاءَ العُصْفُرِ، فَقَالَتْ: كَأَنَّ هَذَا شَيْءٌ كَانَتْ فُلاَنَةُ تَجِدُهُ(٥)- [٣٠٢]

ترجمه: دعائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم سره بعض ازواج مطهرات اعتكاف اوكړدو حالاتكه هغوى مستحاضه وې په هغوى باندې به وينه راتلله، په دې وجه به ئې د دغه وينې د وجې اكثر ركيبنى دځپل ځان لاندې كيخودله. اوعكرمه رحمه الله اوونيل عائشه رضي الله عنها د كسم اوبه اوليدلې نو وئى فرمائيل چه دا خو هم داسې معلوميږى لكه چه فلانكې صاحبه ته به د استحاضه وينه راتلله.

---

[1] عمدة القاري: ٢٧٨/٣.

[2] فتح الباري: ٥٣٣/١عمدة القاري: ٢٧٨/٣.

[3] تقرير بخاري: ٩٩/٢-٩٨.

[4] لامع الدراري: ٢٦٩/٣.

[5] قوله: عائشة: الحديث رواه البخاري فى نفس الباب أيضاً تحت رقم الحديث: ٣١١-٣١٠ وكذا فى كتاب الاعتكاف باب اعتكاف المستحاضة رقم الحديث: ٢٠٣٧ وأبوداؤد فى الصيام باب فى المستحاضة تعتكف رقم الحديث: ٢٤٧٦ وابن ماجه فى كتاب الصيام باب المستحاضة تعتكف رقم الحديث: ١٧٨٠.

تراجم رجال

اسحاق بن شاهین: دا مشهور امام اومحدث اسحاق بن شاهین بن حارث واسطی رحمه الله دی. د دوی کنیت ابوبشر بن ابی عمران دی.[۱]

هغوی د هشیم بن بشیر، خالد الطحان، ابن عیینه، بشر بن مبشر اوحکم بن ظهیر رحمهم الله وغیره نه د حدیث روایت کوی. اوددوی نه امام بخاری، امام نسائی، ابوبکربن علی المروزی، ابن خزیمه، اسلم بن سهل الواسطی، ابوحنیفه محمدبن ماهان واسطی، محمدبن الحسیب الارغیانی او ابن صاند رحمهم الله وغیره د حدیث روایت کړی دی.[۲]

امام نسائی رحمه الله فرمائی **لابأس به**.[۳] بل حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه امام نسائی د خپلو شیوخو د نومونو په تذکره کښې فرمائیلی دی: «**کتبنا عنه بواسط صدوق**» یعنی مونږ داسحاق بن شاهین نه مقام واسط کښې د حدیث کتابت کړې او دائی هم فرمائیلی چه دې صدوق دې.[۴] مسلمه الاندلسی رحمه الله فرمائی **صدوق**.[۵] ابن حبان رحمه الله د دوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې.[۶] ابن حبان رحمه الله فرمائی **مستقیم الحدیث**.[۷]

امام بخاری رحمه الله د دوی نه ۱۶ احادیث نقل کړی دی. امام حاکم رحمه الله او ابوحاتم بن حبان رحمه الله هم په خپل صحیح کښې د دوی نه احادیث روایت کړی دی.[۸] د دوی انتقال ۲۵۰ هجری نه پس شوې.[۹] او هغوی د سلوکالونه زیات عمر تیرکړې دې.[۱۰]

خالد بن عبدالله: داخالد بن عبدالله بن عبدالرحمن بن یزید الطحان الواسطی رحمه الله دې. ددوی کنیت ابوالهیثم دې او یوقول داهم دې چه د دوی کنیت ابومحمد دې.[۱۱] هم دوی سره متعلق حکایت دې چه هغوی د خپل وزن برابر درې ځل چاندی صدقه کړې وه.[۱۲] ددوی تفصیلی حالات **کتاب الوضوء باب من مضمض واستنشق من غرفة واحدة** لاندې تیرشوی دی.

---

[۱] تهذیب الکمال: ۴۳۴/۲ تهذیب التهذیب: ۲۳۶/۱.
[۲] تلامذه اومشائخ دتفصیل دپاره اوګورئ: تهذیب الکمال:۴۳۴/۱.
[۳] تهذیب الکمال: ۴۳۵/۲ تهذیب التهذیب: ۲۳۷/۱.
[۴] تهذیب التهذیب: ۲۳۷/۱.
[۵] تهذیب الکمال: ۴۳۵/۲ تهذیب التهذیب: ۲۳۷/۱.
[۶] ۱۱۷/۸.
[۷] حواله سابق.
[۸] إکمال تهذیب الکمال: ۹۶/۲.
[۹] کتاب الثقات لابن حبان: ۱۱۷/۸.
[۱۰] تهذیب الکمال: ۴۳۵/۲.
[۱۱] تهذیب الکمال: ۸/۱۰۰-۹۹.
[۱۲] عمدة القاری:۲۷۹/۳.

خالد: دا مشهور محدث ابوالمُنازل خالد بن مهران الحَذاء البصري رحمه الله دي. ددوی تفصيلی حالات كتاب العلم باب قول النبي صلى الله عليه وسلم (اللهم علمه الكتاب) لاندې تیرشوی دی.[۱]

عكرمة: دا مشهور امام حدیث و تفسیر ابوعبدالله عکرمه مولی عبدالله بن عباس مدنی رحمه الله دی. ددوی تفصيلی حالات كتاب العلم باب قول النبي صلى الله عليه وسلم (اللهم علمه الكتاب) لاندې تیرشوی دی.[۲]

عائشة: دا ام المؤمنین حضرت سیده عائشه بنت ابی بکر صدیق رضی الله عنها ده. ددوی حالات «بدء الوحی» ددویم حدیث لاندې تفصیلاً تیرشوی دی.[۳]

شرح حديث

قوله:: بعض نسائه: دا په حالت رفعی کښې دې ځکه چه دا د اعتكف فاعل دې.[۴]

قوله:: وهي مستحاضة: داجمله اسميه ده چه حال واقع کیږی. اوس دلته دا سوال پیداکیږی چه دلته د مؤنث ضمیر ولې راوړلې شو ځکه چه ضمیرد لفظ بعض طرف ته راګرځی اوهغه مذکردې؟ جواب دادې چه دا ضمیر مؤنث په دې وجه راوړلې شوې دې چه مضاف (لفظ بعض) د مضاف اليه (نساء) نه تانیث کسب کړې دې. دویم جواب دادې چونکه دلته په دې مقام باندې لفظ بعض مصداق نساء دې په دې وجه د مؤنث ضمیر راوړلې دې. بل دا خبره ده چه سره ددې استحاضه ښځوسره خاص دې مګر ددې باوجود لفظ مستحاضة سره تاء د تانيث الحاق د وجې نه کړې شوې دې چه مراد بالفعل د استحاضه والا کیدل دی. یعنی هغوی حضورپاک صلی الله علیه وسلم سره په اعتکاف کښې کیناستې حال دادې چه په هغه وخت هم ورته د استحاضه بیماری وه.[۵]

قوله:: ترى الدم: دا جمله فعليه ده کوم چه دلفظ مستحاضة دپاره صفت لازمه دې اودا جمله په دې باندې ښکاره دلیل دې چه مراد بالفعل د استحاضه والاکیدل دی. دا مراد نه دې چه دهغه ښځونه وې په چا باندې چه به د استحاضې وینه راتلله.[۶]

قوله:: بعض نسائه: ابن جوزی رحمه الله فرمائي چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ازواج مطهرات نه به په چاباندې هم استحاضه نه راتله اودلته په روایت دحضرت عائشه رضی الله عنها کښې چه کوم "بعض نسائه" راغلی دې نوددې نه مراد "بعض نساء أمته" دې یعنی د امت هغه ښځې مراد دی د چاچه حضورپاک سره څه تعلق اورشته هم وه اودلته ام حبیبه بنت جحش رضی الله عنها مراد ده چه دام المؤمنین زینب بنت جحش رضی الله عنها خور ده.

---

[۱] کشف الباری: ۳۶۱/۳.
[۲] کشف الباری: ۳۶۳/۳.
[۳] کشف الباری: ۲۹۱/۱.
[۴] عمده القاری: ۲۷۹/۳.
[۵] عمدة القاری: ۲۷۹/۳.
[۶] عمدة القاری: ۲۷۹/۳.

حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عینی رحمه الله ددې په جواب کښې اوفرمائيل چه دابن جوزی رحمه الله ددې پیش کړې شوی تاویل پخپله ددې باب دویم او دریم حدیث تردیدکوی ځکه چه په دویم روایت کښې "امرأة من أزواجه" اوپه دریم روایت کښې "بعض أمهات المؤمنين" تصریح ده. د کوم نه چه په واضحه توګه معلومیږی چه دلته هم د ازواج نبی ﷺ نه یوه مراد ده. بل د ابن جوزی رحمه الله د قول او تاویل د بطلان یو دلیل داهم دې چه د حضورپاك د شان اقدس نه ډیره لرې خبره ده چه دغیر ازواج نه یوه ښځه حضورپاك سره اعتکاف اوکړی که هرڅومره تعلق ولې نه وی.(١)

د بعض نساء مصداق: اوس سوال دا پیداکیږی چه بیا د بعض نسائه مصداق د ازواج مطهرات رضی الله عنهن نه کومه یوه زوجه ده. نو په دې سلسله کښې علامه عینی رحمه الله درې اقوال ذکرکړی دی. یوقول دادې چه ام المؤمنین حضرت سوده بنت زمعه رضی الله عنها مراد ده. دویم قول دادې چه رمله ام حبیبه بنت ابی سفیان رضی الله عنها مراد ده او دریم قول دادې چه زینب بنت جحش رضی الله عنها مراد ده.(٢)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله هم درې اقوال ذکرکړی دی. یوه سوده بنت زمعه رضی الله عنها، دویمه ام سلمه رضی الله عنها او دریمه ام حبیبه بنت ابی سفیان رضی الله عنها ځکه چه دا دریواړه ازواج مطهرات مستحاضات وې او بیا ددې دریواړو اقوالونه د سنن سعید بن منصور په تائیدسره حضرت ام سلمه رضی الله عنها مراد کیدو ته ئې ترجیح ورکړې. دسنن سعیدبن منصور هغه روایت دادې: (عن عكرمة أن أم سلمة كانت عاكفة وهي مستحاضة وربما جعلت الطست تحتها) یعنی د عکرمه رحمه الله نه روایت دې چه ام سلمه رضی الله عنها د استحاضه په حالت کښې اعتکاف کښې ناسته وه او د وجې د وجې نه به ئې د ځان لاندې رکیبنی کیخودله.(٣)

وړاندې حافظ ابن حجر رحمه الله دحدیث الفاظ فلانة د تفسیرلاندې فرمائی چه دلته هم هغه دریواړه احتمالات دی کوم چه اول بعض نسائه سره متعلق بیان شوی. اود علامه ابن جوزی رحمه الله په نیز چه د ازواج نبی ﷺ نه څوك مراد نه دی بلکه هغه مستحاضه ښځې مراد دی د کوموچه حضورپاك سره څه تعلق یا رشته وه. په دې وجه دهغوی بیان کړې شوی تاویل مطابق دلته ام حبیبه بنت جحش (اخت زینب بنت جحش زوجۀ رسول ﷺ)، زینب بنت ام سلمه (ربیبۀ رسول ﷺ)، اسماء بنت عمیس (اخت میمونه لامها)، اوحمنه بنت جحش نه یوه ښځه هم مراد کیدې شی. ځکه چه دا ټولې مستحاضات وې اوددوی حضورپاك سره تعلق او رشته داری هم وه.(٤)

حاصل دا شو چه دازواج مطهرات نه څوك مراد دی نودهغوی نه سوده بنت زمعه، ام سلمه او رمله ام حبیبه بنت ابی سفیان نه به یوه مراد وی. که چرته دابن جوزی رحمه الله په تاویل باندې عمل اوکړې شی نو رشته داری لرونکو ښځو نه ام حبیبه بنت جحش، حمنه بنت جحش (اختا زینب بنت جحش زوجۀ رسول ﷺ)، اسماء بنت عمیس او زینب بنت ام سلمه رضی الله عنها نه کومه یوه هم مراد کیدې شی. ځکه چه د نیزدې رشته دارو نه هم دغه مستحاضه وې او دغه شان ټولې یو ځائی کولو سره ددې ابهام په تفسیرکښې اووه اقوال جوړیږی.

(١) فتح الباری: ۵۳۳/۱ عمدة القاری: ۲۷۹/۳ إرشادالساری: ۵۳۹/۱.
(٢) عمدة القاری: ۲۷۹/۳.
(٣) فتح الباری: ۵۳٤/۱.
(٤) حواله بالا.

بل ابن عبدالبر رحمه الله ليکی چه زوجهٔ رسول ﷺ حضرت زينب بنت جحش، زوجهٔ طلحه حضرت حمنه بنت جحش او زوجهٔ عبدالرحمن بن عوف حضرت ام حبيبه بنت جحش دريواړه خونيندې مستحاضه وې. البته په دوی کښې مشهوره حضرت ام حبيبه بنت جحش ده.[1] په دې وجه امام ابوداؤد رحمه الله[2] چه د سليمان بن کثير عن الزهري عن عروة په طريق سره دحضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت کړې دې چه «استحيضت زينب بنت جحش، فقال لها النبي صلى الله عليه وسلم: اغتسلي لكل صلاة» يعنی حضرت زينب بنت جحش ته د استحاضې بيماری اوشوه نو حضورپاك هغې ته اوفرمائيل چه دهرمونځ دپاره غسل کوه، د کوم ذکرچه موطاامام مالك کښې هم دې.[3]او په دې کښې تصريح ده چه «التی كانت تحت عبدالرحمن بن عوف» نوددې روايت لاندې ابن عبدالبر رحمه الله جزم سره فرمائی چه دا په خطاباندې مبنی دې خکه چه د بنات جحش نه مستحاضه (کيدو کښې مشهورې) هغه وې کومې چه دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه په عقدنکاح کښې وې اوهغه ام حبيبه بنت جحش ده.[4]

امام بلقينی رحمه الله فرمائی چه په دواړو خبروکښې د تطبيق صورت دادې چه زينت بنت جحش رحمه الله وقتی استحاضه وه خودهغې خور ام حبيبه دائمی استحاضه وه داسې به په دواړو خبروکښې تطبيق اوشی.[5]

قوله:: الطست: دد لفظ اصل "طس" (سين مشدد) دې د ثقل د وجې نه يو سين په تاء سره بدل کړې شو په دې وجه د جمع اوتصغيردپاره به د اصل طرف ته راګرځولې شی. لهذا د طست جمع طساس او تصغير طُسيس راځی.[6]نور لفظ طست د سين په ځائی شين سره هم مستعمل دې يعنی طشت اوددې جمع طشوت راځی.[7]

قوله:: من الدم: کلمه د "من" تعليليه ده يعنی هغې به د وينې د وجې نه د خپل ځان لاندې طشت کيخودلو.[8]

قوله:: زعم: زعم فعل ماضی دې په دې کښې ضميرفاعل دې کوم چه دعکرمه رحمه الله طرف ته راګرځی او زعم دقال په معنی کښې دې.[9]

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله د قال په ځائی د زعم لفظ کيدې شی چه ددې وجې نه راوړې وی چه دهغوی په نيزددې قول دحضرت عکرمه رحمه الله نه روايت کيدل په صراحت سره نقل نه دی

---

[1] فتح الباري: ۵۳۳/۱عمدة القاري: ۲۷۹/۳.

[2] سنن أبی داؤد كتاب الطهارة باب ماروی أن المستحاضة تغتسل لكل صلاة رقم الحديث:۲۹۲.

[3] الموطا للإمام مالک كتاب الطهارة باب المستحاضة رقم الحديث : ۲۰۰مؤسسة زايد بن سلطان ال نهيان.

[4] الاستذكار: ۳۸۷/۱فتح الباري: ۵۳۳/۱وجزالمسالک: ۶۲۹/۱

[5] فتح الباري: ۵۳٤/۱.

[6] شرح الكرمانی: ۱۷۶/۳عمدة القاری:۲۷۹/۳.

[7] عمدةالقاری:۴۱٤/۳.

[8] فتح الباري: ۵۳٤/۱عمدة القاري: ۲۷۹/۳.

[9] عمدة القاري: ۲۷۹/۳.

بلکه هغوی د قرائن د دلالت نه دا قول دعکرمه رحمه الله نه نقل کیدل گنړلی دی. په دې وجه د قال په خانی زعم راوړلې اودا مقوله صراحت سره د حضرت عکرمه رحمه الله طرف ته نه ده منسوب کړې.[1]
بیا یاخودا قول د امام بخاری دټولو تعلیقاتونه دې یابیادخالد الخداء دقول تتمه ده اودویم (دخاد الخداء د قول تتمه کیدو)په صورت کښې به داهم د سند په درجه کښې وی ځکه چه په دې صورت کښې ددې عطف عن عکرمة باندې په اعتبارد معنی وی یعنی قال خالد: قال عکرمة وزعم عکرمة [2]
حافظ ابن حجر ددې قول تعلیقات د امام بخاری رحمه الله نه کیدل بعید گرځولی دی.[3] لیکن په دې کلام باندې رد کولوسره علامه عینی رحمه الله فرمائی په حقیقت کښې دا د علامه کرمانی رحمه الله قول ردکول دی خود دې رد څه وجه نه جوړیږی ځکه چه دواړه داحتمال په درجه کښې دی اودمعنې د عطف احتمال ددې قول تعلیقات د امام بخاری رحمه الله نه د کیدو احتمال نه رد کوی. خو پخپله عطف معنوی گرځول د ظاهر خلاف دی ځکه چه په عطف کښې اصل هم دغه دی چه هغه دې په ظاهر باندې وی.[4]

قوله:: فلانة: ددې ابهام مکمل توضیح ((بعض نسائه)) د تشریح لاندې تیرشوې دې.

مذاهب الأئمة الأربعة في اعتکاف النسوة في المسجد: ائمه ثلاثه (امام مالك، امام شافعی او امام احمد رحمهم الله) په نیزسرې اوښځه (چه هغه مستحاضه ولې نه وی ځکه چه مستحاضه هم حکماً د پاکو ښځو په شان ده) دواړو دپاره په جمات کښې اعتکاف کول صحیح دی. لکه چه د فقه کتابونو کښې په دې عبارت سره واضحه کیږی: ① ((وأما الاعتکاف فی مساجد البیوت، فلا یصح عند مالك لرجل والا امرأة، خلاف قول أبي حنیفة في أن المرأة تعتکف في مسجد بیتها))[5] یعنی د کورونو په جماتونو کښې اعتکاف کول دامام مالك رحمه الله په نیز نه د یوسړی دپاره جائز دې اونه د یوې ښځې د پاره په خلاف د امام ابوحنیفه ځکه چه دهغوی مذهب دادې چه ښځه به د خپل کور په جمات کښې اعتکاف کوی.
② ((قلت لابن القاسم: ما قول مالك في المرأة، تعتکف في مسجد الجماعة؟ قال: نعم. (قلت) أتعتکف في قول مالك في مسجد بیتها؟ (فقال) لایعجبني ذلك، وإنما الاعتکاف في المساجد التي توضع لله)) [6]
یعنی سحنون بن سعید التنوخی رحمه الله فرمائی چه ما د ابن القاسم رحمه الله نه تپوس اوکړو چه امام مالك رحمه الله د ښځې دپاره په مسجد جماعت کښې د اعتکاف کولومتعلق څه فرمائی؟ نوهغوی جواب راکړو چه اوجې، دامام مالك رحمه الله په نیز به ښځه په مسجد جماعت کښې اعتکاف کوی. سحنون بن سعید رحمه الله وانی چه بیا ما تپوس اوکړو چه آیا دامام مالك رحمه الله په نیزښځه د کور په جمات کښې اعتکاف کولې شی؟ نوهغوی اووئیل زما دا خبره خوښه نه ده اعتکاف خو صرف په مساجدکښې کیږی چه د الله تعالی د پاره وضع کړې شوی دی.

---

[1] شرح الکرمانی: ۱۷۶/۳ عمدة القاری: ۲۷۹/۳.
[2] حواله بالا.
[3] فتح الباری: ۵۳٤/۱.
[4] عمدة القاری: ۲۷۹/۳.
[5] البیان والتحصیل، فی فقه الإمام مالک رحمه الله کتاب الصیام والاعتکاف رقم المسألة: ۱۵، ۲۲۳/۲ دارالغرب الإسلامی.
[6] المدونة الکبری کتاب الاعتکاف، فی اعتکاف العبد والمکاتب والمرأة الخ: ۲۳۱/۱ مطبعة السعادة.

③ ((لايصح الاعتكاف من الرجل والا من المرأة إلا في المسجد، ولا يصح في مسجد بيت المرأة ولا مسجد بيت الرجل، وهو المعتزل المهيأ للصلاة، هذا هو المذهب وبه قطع المصنف))[1]

يعنی دسړی او ښځې اعتکاف کول صرف په جمات کښې صحيح دی اود کور د جمات نه هغه ځائی مراد دې کوم چه د مونځ کولو دپاره تيارولې شی. علامه نووی رحمه الله فرمائی چه د شوافع هم دغه مذهب دی اوهم په دې باندې مصنف جزم فرمائيلې دی.

④ ((وللمرأة أن تعتكف في كل مسجد ولا يشترط إقامة الجماعة، لأنها غير واجبة عليها، وبهذا قال الشافعي: وليس لها الاعتكاف في بيتها. وقال أبوحنيفة والثوري: لها الاعتكاف في مسجد بيتها.....الخ))[2]

يعنی ښځه په هريو جمات کښې اعتکاف کولې شی خاص مسجد جماعت شرط نه دی، ځکه چه په ښځه باندې په جمع سره مونځ کول واجب نه دی اوهم دغه د امام شافعی رحمه الله مذهب دی چه ښځه به په خپل کور کښې اعتکاف نه کوی. او امام ابوحنيفه رحمه الله او امام ثوری رحمه الله فرمائی چه ښځه به په خپل کورکښې اعتکاف کوی.

ابن بطال رحمه الله د امام شافعی رحمه الله قول نقل کړې دې چه ښځه غلام چرته چه غواړی اعتکاف کولې شی.[3]

خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه امام شافعی رحمه الله د ښځودپاره مسجدِ جماعت کښې اعتکاف کولوته د خيمو والاد روايت د وجې نه على الاطلاق مکروه وئيلې دی.

اود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز سره ددې چه د ښځې دپاره په جمات کښې اعتکاف کول جائز دی مګر اولی افضل او مستحب د ښځې دپاره هم هغه دی چه هغه دې دخپل کور په جمات کښې اعتکاف اوکړی. د ښځې دپاره په جمات کښې اعتکاف کول مکروه تنزيهی دی.[4]

دعلامه انور شاه کشميری رحمه الله تحقيق: علامه انورشان کشميری رحمه الله فرمائی زما په نيز درمختار کښې دکراهت لفظ پدې مسئله کښې په کراهت تنزيهی باندې محمول دې ځکه چه په يوداسې امر باندې چه د حضورپاك په مواجهت کښې مخې ته راغلي د مکروه تحريمی حکم لګول صحيح نه دی.[5] حضرات حنفيه دا حکم دهغه واقعه نه اخذکړې په کوم کښې چه دی يوځل رسول الله ﷺ په رمضان کښې د اعتکاف کولو اراده اوکړه نو حضرت عائشه رضي الله عنها اوحضرت حفصه رضي الله عنها هم اجازت اوغوښتلو او په جمات کښې خيمې اولګولې. دوی ته په کتو سره حضرت زينب رضي الله عنها هم يوه خيمه اولګوله.[6] په دې باندې حفګان ښکاره کولوسره حضورپاك خپله خيمه اوچته کړه او ازواج مطهرات

---

[1] المجموع شرح المهذب: ۴۷۰/۶.

[2] المغنى لابن قدامة: ۶۷/۳ دارالفكر.

[3] فتح البارى: ۳۴۹/٤ دارالسلام.

[4] بدائع الصنائع: ۲۵/۳ البحرالرائق: ۲۷/۲ المبسوط للسرخسى: ۱۳۲/۲ الدر المختار مع ردالمحتار: ۴۲۹/۳ دارعالم الكتاب.

[5] فيض البارى: ۴۹۵/۱.

[6] عن عائشة رضى الله عنهاقالت: كان النبى صلى الله عليه وسلم يعتكف فى العشر الأواخر من رمضان. فكنت أضرب له خباءً. فيصلى الصبح ثم تدخله. فاستأذنت حفصة عائشة أن تضرب خباء. فأذنت لها فضربت خباء. فلما رأته زينب بنت جحش ضربت خباء اخر. فلما أصبح النبى صلى الله عليه وسلم. رأى الأخبية. فقال: ما هذا؟ فأخبر،

هم خپلې خپلې خيمې اوچتې کړې د کوم نه پس چه حضورپاك د شوال په مياشت کښې اعتكاف اوکړو.(١) رسول الله ﷺ د خپل خفګان او ناخوښنتيا اظهار په دې جمله سره اوکړو ((آلبريردن)) يعنى ولې دوى دغه شان په جمات کښې اعتكاف کولو سره خيرښيګړه لټوى؟

علامه شبيراحمدعثمانى رحمه الله ليکلى دى که چرې په داسې صورت کښې د اعتكاف کولو کښې څه حرج نه وې نو حضورپاك به دغه شان د اعتكاف د اردې کولو نه پس خپله خيمه نه اوچتوله او نه به ئې په ازواج باندې ترك کولو. ددې نه معلومه شوه چه د ښخودپاره په جمات کښې اعتكاف کول مکروه تنيزهى دى.(٢)

ففى الدرالمختار: (أو لبث (امرأة فى مسجد بيتها) ويكره فى المسجد. په دې باندې علامه ابن عابدين شامى رحمه الله ليکى ((ويكره فى المسجد) أي: تنزيهاً، كما هوظاهر النهاية، نهر، وصرح فى البدائع بأنه خلاف الأفضل))(٣)

د علامه کاسانى رحمه الله کلام دادې:

((وأما المرأة فذكر فى الأصل أنها لا تعتكف إلا فى مسجد بيتها، ولا تعتكف فى مسجد جماعة، وروى الحسن عن أبى حنيفة أن للمرأة أن تعتكف فى مسجد الجماعة وإن شاءت اعتكفت فى مسجد بيتها ومسجد بيتها أفضل لها من مسجد حيها..... وهذا لايوجب اختلاف الروايات، بل يجوز اعتكافها فى مسجد الجماعة على الروايتين جميعاً بلا خلاف من أصحابنا، والمذكور فى الأصل محمول على نفى الفضيلة، لا على نفى الجواز توفقاً بين الروايتين، وهذا عندنا، وقال الشافعى: لا يجوز اعتكافها فى مسجد بيتها))(٤)

يعنى ښځه به صرف د خپل کور په جمات کښې اعتكاف کوى د جمع والا په جمات کښې به اعتكاف نه کوى او حسن رحمه الله د امام ابوحنيفه رحمه الله نه روايت کوى چه ښځه د جمع په جمات کښې هم اعتكاف کولې شى اوکه غواړى نود کور په جمات کښې هم اعتكاف کولې شى اود ښځې د پاره د کور په جمات کښې اعتكاف کول د محلې په جمات کښې د اعتكاف کولونه غوره دى..... علامه کاسانى رحمه الله فرمائى چه په دې سره د رواياتو اختلاف نه راځى بلکه د ښځې د پاره د جمع په جمات کښې اعتكاف کول زمونږ د اصحابو په نيز د دواړو روايتونو مطابق جائز دې. اود اصل روايت د افضليت په نفى باندې محمول دې نه چه د جواز په نفى باندې. دې دپاره چه په دواړو روايتونوکښې تطبيق اوشى اودا زمونږ داحنافو مذهب دې. امام شافعى رحمه الله فرمائى د ښځې د خپل کور په جمات کښې اعتكاف کول جائز نه دى.

فقال النبى صلى الله عليه وسلم: (البر ترون بهن؟) فترک الاعتكاف ذلک الشهر، ثم اعتكف عشرا من شوال. رواه الإمام البخارى فى الاعتكاف، فى باب اعتكاف النساء، رقم الحديث: ٢٠٣٣، وفيه: آلبر يردن؟ وراه أبوداؤد فى الصيام، باب الاعتكاف، رقم الحديث: ٢٤٦٤، والنسائى فى المساجد، باب ضرب الخباء فى المساجد رقم الحديث: ٧١٠، وابن ماجاء فى الصيام باب ماجاء فى من يبتدئ الاعتكاف وقضاء الاعتكاف رقم الحديث: ١٧٧١.

(١) فيض البارى: ٤٩٥/١.

(٢) فتح الملهم: ٣٤٧/٥ دارالقلم.

(٣) الدرالمختارمع ردالمحتار: ٤٢٩/٣ دار عالم الكتب.

(٤) بدائع الصنائع: ٢٥/٣.

د حديث ترجمة الباب سره مناسبت: د حديث ترجمة الباب سره مناسبت بالكل واضح دې چه په دواړو كښې د مستحاضه د اعتكاف بيان دې.(١)

الحديث الثاني

[٣٠٥/٣٠٣]-حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «اعْتَكَفَتْ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَأَةٌ مِنْ أَزْوَاجِهِ، فَكَانَتْ تَرَى الدَّمَ وَالصُّفْرَةَ وَالطَّسْتُ تَحْتَهَا وَهِيَ تُصَلِّي»(٢)

ترجمه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه حضورپاك سره دهغوى د بيبيانونه يوې بى بى اعتكاف اوكړو هغې به وينه او زيړوالي ليدلو خو ركيبنى به د هغې نه لاندې وه اوهغې به مونځ هم اداكولو.

تراجم رجال

قتيبة: دا شيخ الاسلام ابورجاء قتيبه بن سعيد بن جميل بن طريف ثقفى رحمه الله دېز د دوى تفصيلى حالات كتاب الإيمان باب إفشاء السلام من الإسلام لاندې تيرشوى دى.(٣)

يزيد بن زريع: دا مشهور محدث يزيد بن زريع رحمه الله دې. ددوى حالات كتاب الوضوء باب غسل المنى وفركه الخ لاندې تيرشوى دى.

خالد: دا مشهورمحدث ابوالمُنازل خالد بن مهران الخداء البصرى رحمه الله دې. ددوى تفصيلى حالات كتاب العلم باب قول النبى صلى الله عليه وسلم (اللهم علمه الكتاب) لاندې تيرشوى دى.(٤)

عكرمة: دامشهور امام حديث و تفسير ابوعبدالله عكرمه مولى عبدالله بن عباس مدنى دې. ددوى تفصيلى حالات كتاب العلم باب قول النبى صلى الله عليه وسلم (اللهم علمه الكتاب) لاندې تيرشوى دى.(٥)

عائشة: دا ام المؤمنين حضرت سيده عائشه بنت ابى بكر صديق رضي الله عنها ده. ددوى حالات «بدء الوحى» ددويم حديث لاندې تفصيلاً تيرشوى دى.(٦)

شرح حديث

قولها: **(ترى الدم والصفرة)**: شراح حضراتو ليكلى دى چه دحضرت عائشه رضي الله عنها داسې فرمائيل داستحاضه نه كنايه ده يعنى هغه دا بيانول غواړى چه كومې بى بى حضورپاك سره اعتكاف اوكړو هغه مستحاضه وه (په حالت د حيض كښې وه).(٧)

(١) عمدة القارى: ٢٧٨/٣.
(٢) قوله: عائشة الحديث مرتخريجه تحت الحديث السابق.
(٣) كشف البارى: ١٨٩/٢.
(٤) كشف البارى: ٣٦١/٣.
(٥) كشف البارى: ٣٦٣/٣.
(٦) كشف البارى: ٢٩١/١.
(٧) عمدة القارى: ٢٨٠/٣ شرح الكرمانى: ١٧٧/٣.

قوله:: والطست تحتها: داجمله حاليه ده. په يوه نسخه كښې داجمله بغيرد واؤ نه ده او هغه هم جائز ده.[1]

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: په حديث اوترجمة الباب كښې مناسبت واضحه دې چه په دواړو كښې د مستحاضه ذكر دې.[2]

الحديث الثالث

[۳۰۵]- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، «أَنَّ بَعْضَ أُمَّهَاتِ المُؤْمِنِينَ اعْتَكَفَتْ وَهِيَ مُسْتَحَاضَةٌ».[3]

ترجمه: دحضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه بعض امهات المؤمنين (ازواج نه يوې) د استحاضه په حالت كښې اعتكاف اوكړو.

تراجم رجال

مسدد: دا مسدد بن مسرهد بن مرعيل رحمه الله دې. د دوى مختصر حالات كتاب الإيمان باب من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه لاندې تير شوى دى.[4] او تفصيلى حالات كتاب العلم باب من خص بالعلم قوما دون قوم الخ دريم حديث لاندې تيرشوى دى.[5]

معتمر: دا ابومحمد معتمربن سليمان بن طرخان تيمى بصرى رحمه الله دې. ددوى تفصيلى حالات تفصيلى حالات كتاب العلم باب من خص بالعلم قوما دون قوم الخ دريم حديث لاندې تيرشوى دى.[6]

خالد: دا مشهورمحدث ابوالمُنازل خالد بن مهران الخداء البصرى رحمه الله دې. ددوى تفصيلى حالات كتاب العلم باب قول النبى صلى الله عليه وسلم (اللهم علمه الكتاب) لاندې تيرشوى دى.[7]

عكرمة: دا مشهور امام حديث و تفسير ابوعبدالله عكرمه مولى عبدالله بن عباس مدنى رحمه الله دې. ددوى تفصيلى حالات كتاب العلم باب قول النبى صلى الله عليه وسلم (اللهم علمه الكتاب) لاندې تيرشوى دى.[8]

عائشة: دا ام المؤمنين حضرت سيده عائشه بنت ابى بكر صديق رضي الله عنها ده. ددوى حالات «بدء الوحى» ددويم حديث لاندې تفصيلاً تيرشوى دى.[9]

---

[1] حواله بالا.
[2] عمدة القارى: ۲۸۰/۳.
[3] قوله: عائشة: الحديث مر تخريجه فى نفس هذا الباب تحت رقم الحديث: ۳۰۹.
[4] كشف البارى: ۲/۲.
[5] كشف البارى: ۵۸۸/٤.
[6] كشف البارى: ۵۹۰/٤.
[7] كشف البارى: ۳۶۱/۳.
[8] كشف البارى: ۳۶۳/۳.
[9] كشف البارى: ۲۹۱/۱.

شرح حديث

ددې باب لاندې امام بخاري رحمه الله درې احاديث ذکر کړي دي اوددې احاديثونه د مستحاضه په جمات کښې د حصاریدو جواز ثابتيږي. دغه شان دا هم معلومه شوه چه د مستحاضه مونځ اود هغې اعتکاف دواړه صحيح دي ځکه چه هغه هم په حقيقت کښې د نورو پاکوښځو په حکم کښې ده.[1] نور که د جمات د ملوث کيدو خطره نه وي نو د حدث هم اجازت دې لکه څنګه چه دلته طشت او رکيبئي کيخودو سره جمات په وينه سره ګنده کيدو ته پرې نه خودو او هم دغه حکم د نورو داسې خلقو دپاره هم دې د چا حدث اوعذر چه هروخت موجود وي يا يو شان د زخم نه وينه څڅيږي.[2] علامه عيني رحمه الله فرمائي چه د روايت اولى نه داهم معلومه شوه چه د استحاضه وينه تته او نرئي وي د حيض د وينې په شان نه وي.[3]

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: په حديث اوترجمة الباب کښې مناسبت واضحه دې چه حديث باب او ترجمة الباب دواړو کښې د مستحاضه ذکر دې.[4]

١١ - باب: هَلْ تُصَلِّي الْمَرْأَةُ فِي ثَوْبٍ حَاضَتْ فِيهِ.

ماقبل سره ربط: ددې باب سابقه باب سره مناسبت دادې چه په دواړو کښې د حيض د احکامو ذکر دې.[5]

د ترجمة الباب مقصد: شاه ولي الله رحمه الله فرمائي چه دلته امام بخاري رحمه الله د ښځې دپاره هم په هغه کپړو کښې د مونځ کولو جواز ثابتوي په کوم کښې چه د حيض زمانه تيره کړې ده. ددې ضرورت په دې وجه پيښ شو چه د اسلام نه وړاندې به ښځو دحيض کپړې بدلولې اودا به ئې ډير ضروري ګڼړلې. لهذا امام بخاري رحمه الله داخودل غواړي چه دايام حيض استعمال شوې کپړې که چرې ګنده شوې وي نوهم هغه حصه دې اووينځلې شي اوکه چرې د ګنده کيدو نه بچ دي نوهغه پاکې دي او په هغې کښې مونځ کولې شي.[6]

دشيخ الحديث زکريا رحمه الله رائې: شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائي چه د روايت نه صفا ظاهره ده چه کومه کپړه اغوستو سره خپله د حيض ورځې تيرې کړې وي نو د طهر په زمانه کښې هم دغه پاك کولوسره په هغې کښې مونځ کولې شي.[7]

اوس سوال دا پيداکيږي چه کله روايت صفا او واضحه دې نو بيا امام بخاري رحمه الله لفظ هل ولې زيات کړو؟ نوددې وجه داده چه د امام بخاري رحمه الله د اصول موضوعه نه دي چه که چرې په روايت کښې د هريو احتمال په بنياد باندې غور او فکراوکړې شي نوهغه د تشحيذ اذهان دپاره لفظ هل راوړلې دې

[1] فتح الباري: ١/٥٣٤شرح الکرماني: ٣/١٧٧عمدة القاري: ٣/٢٨٠.
[2] حواله بالا.
[3] عمدة القاري: ٣/٢٨٠.
[4] عمدة القاري: ٣/٢٨٠.
[5] عمدة القاري:٣/٢٨٠.
[6] شراح تراجم أبواب البخاري: ١٩ فضل الباري: ٢/٤٧٧ الکنزالمتواري: ٣/٢٧٠.
[7] تقرير بخاري: ٢/٩٩.

او دلته هم احتمال دې اوهغه احتمال دادې چه په روايت د باب كښې د مونځ تصريح نشته. اود ام سلمه رضي الله عنها «باب من سمى النفاس حيضاً» لاندې ذكركړې شوی روايت نه معلوميږي چه دهغې د حيض اوطهارت كپړې جدا جدا وې. اوس دلته په دې دواړو روايتونو كښې دا احتمال اوشو چه د مونځ دپاره څه بله كپړه وه يا هم يوه كپړه نې وه كومه چه پاكولوسره به مونځ كولو؟

امام ابوداؤد رحمه الله خپل سنن كښې ډير روايات ذكركړی دی دكوم نه چه معلوميږي چه هم په دغه كپړو كښې مونځ كول جائزدی. [۱]چنانچه په يو روايت كښې دی چه دحضورپاك نه ښځو تپوس اوكړو چه آيا مونږ په دغه كپړوكښې مونځ كولې شو چه د حيض په ورځوكښې زمونږ په بدن وې؟ حضورپاك اوفرمائيل او كه چرې په هغې كښې د وينې اثر وغيره نه وی نو كولې شي.[۲] لهذا امام بخاری رحمه الله هم دلته د حيض والاكپړوكښې د مونځ جواز ثابتوی البته د تشحيذ اذهان دپاره نې هل زيات كړو.

الحديث الأول

[۳۰۶]- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: قَالَتْ عَائِشَةُ: «مَا كَانَ لِإِحْدَانَا إِلَّا ثَوْبٌ وَاحِدٌ تَحِيضُ فِيهِ، فَإِذَا أَصَابَهُ شَيْءٌ مِنْ دَمٍ قَالَتْ بِرِيقِهَا، فَقَصَعَتْهُ بِظُفْرِهَا»[۳]

ترجمه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمانې چه مونږ سره به صرف يوه كپړه وه كومه چه به مونږ د حيض په وخت اغوستله. بيا چه به كله په هغې كښې څه وينه لګيدله نو په هغې باندې به توكانړې اچولې او بيابه هغه په نوكونو باندې مرله.

تراجم رجال

أبونعيم: دا ابونعيم فضل بن دكين رحمه الله دې. ددوی حالات كتاب الايمان باب فضل من استبرأ لدينه لاندې تيرشوی دی.[۴]

إبراهيم بن نافع: دا ابواسحاق ابراهيم بن نافع مخزومی مكی رحمه الله دې. ددوی حالات كتاب الغسل باب من بدأبشق رأسه الأيمن فى الغسل لاندې تيرشوی دی.

ابن أبي نجيح: دا ابو يسار عبدالله بن ابی نجيح ثقفی مكی رحمه الله دې. ددوی حالات كتاب العلم باب الفهم في العلم لاندې تيرشوی دی.[۵]

---

[۱] الكنزالمتواری: ۲۷۰/۳تقرير بخاری: ۹۹/۲.

[۲] هكذا فى روايات الإمام أبى داؤد رحمه الله، كتاب الطهارة باب المرأة تغسل ثوبهاالذى تلبسه فى حيضها، رقم الحديث: ۳۶۵-۳۵۸.

[۳] قوله: عائشة، الحديث، ورواه أبوداؤد فى الطهارة فى باب المرأة تغسل ثوبها الذى تلبسه فى حيضها رقم الحديث: ۳۵۸.

[۴] كشف البارى: ۶۶۹/۲

[۵] كشف البارى: ۳۰۲/۳.

مجاهد: دا شيخ القراء والمفسرين ابوالحجاج مجاهدبن جبر رحمه الله دې. د دوی حالات كتاب العلم باب الفهم في العلم لاندې تيرشوی دی.[۱]

عائشة: دا ام المؤمنين حضرت سيده عائشه بنت ابی بکر صديق رضي الله عنهما ده. ددوی حالات «بدء الوحی» ددويم حديث لاندې تفصيلاً تيرشوی دی.[۲]

ايا د حديث الباب په سندکښې انقطاع يا اضطراب دې؟: د بعض حضراتو د طرف نه په حديث الباب کښې دوه قسمه کلام شوې دې. يودا چه دحديث الباب په سندکښې انقطاع ده ځکه چه ابوحاتم، ابن معين، يحيی بن سعيد قطان، شعبه او امام احمد رحمهم الله فرمائی چه د امام مجاهد رحمه الله د حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها نه سماع ثابته نه ده. او دويم دا چه ددې حديث په سندکښې اضطراب هم دې ځکه چه هم دغه روايت امام ابوداؤد رحمه الله «محمدبن کثيرعن ابراهيم بن نافع عن الحسن بن مسلم» په طريق سره نقل کړې دې. په کوم کښې چه ابراهيم بن نافع، د حسن بن مسلم نه روايت کوی او دلته د بخاری رحمه الله په روايت کښې ابراهيم بن نافع د ابن ابی نجيح رحمه الله نه روايت کوی.

د اول جواب دادې چه پخپله امام بخاری رحمه الله ددې سند نه علاوه نورو ډيرو احاديثوکښې د امام مجاهدد حضرت عائشه رضي الله عنها نه د سماع تصريح کړې ده. دغه شان دابن المدينی او ابن حبان رحمه الله په نيزهم د امام مجاهد رحمه الله سماع دحضرت عائشه رضي الله عنها نه ثابته ده. بيا چونکه اثبات په نفی باندې مقدم دې په دې وجه به هم اثبات ته ترجيح وی. او ددويم جواب دادې چه داکوم د شيوخ اختلاف د اضطراب علت جوړکړې شوې دې صحيح نه دې ځکه چه داسې اختلاف د اضطراب سبب نه وی بلکه داخو په دې خبره باندې محمول دې چه ابراهيم بن نافع رحمه الله به دا روايت د دوو شيوخونه روايت کړې وی.

اوکه چرې دا احتمال قبول نه کړې شي نوبياهم ابونعيم رحمه الله خوك چه د امام بخاری رحمه الله شيخ دې. د امام ابوداؤد د شيخ محمدبن کثير رحمه الله نه احفظ دې. په دې وجه صرف د شيوخ داختلاف د وجې نه د باب روايت ته مضطرب نه شی وئيلې. بل خلاد بن يحيی، ابوحذيفه او نعمان بن عبدالسلام رحمهم الله نه دابونعيم رحمه الله متابعت هم ثابت دې کوم چه دتقويت سبب وی. لهذا هم دې د باب روايت به ترجيح وی اوقاعده ده چه مرجوح په راجح کښې اثرنه شی کولې. په دې وجه دامام ابوداؤد رحمه الله تخريج کړې شوی روايت سند د امام بخاری رحمه الله تخريج کړې شوې روايت په سندکښې اثرنه شی کولې.[۳]

د حديث شرح

قوله: ما كان لإحدانا إلا ثوب واحد: شراح حضراتو ليکلی دی چه دا نفی عام ده يعنی ټولو بيبيانوته شامل ده. ځکه چه نکره د نفی لاندې واقع ده کوم چه د عموم فائده ورکوی ځکه چه که چرته يوې سره هم زياتی کپړه وې نو نفی به صادق نه راتله.[۴] بله داخبره چه إحدانا مفرد مضاف دې کوم چه على الاصح د هغه صيغونه دې کومې چه د عموم فائده ورکوی.[۵]

---

[۱] کشف الباری: ۳۰۷/۲.

[۲] کشف الباری: ۲۹۱/۱.

[۳] فتح الباری: ۵۳۵/۱ عمدة القاری: ۲۸۰/۳.

[۴] إرشادالساری: ۵۵۱/۱.

[۵] شرح الکرمانی: ۱۷۷/۳ عمدة القاری: ۲۸۱/۳ تحفة الباری: ۲۵۰/۱.

اشكال اودهغې جواب: دلته اشكال پيداكيږي هغه چه د حديث باب نه معلوميږي چه ازواج مطهرات سره زياتې كپړه كومه چه په ايام حيض سره خاص وي نه وه. خود ام سلمه رضي الله عنها سابقه روايت ((في باب:من سمى نفاس حيضاً)) نه معلوميږي چه هغې سره په ايام حيض كښې د اغوستلو دپاره جدا كپړه وه، لهذا په دواړو روايتونوكښې تعارض ښكاري.

ددې اشكال جواب دادې چه حديث عائشه صديقه رضي الله عنها د اسلام د شروع په دور باندې محمول دې ځكه چه په شروع كښې تنګي او سختي وه. خود ام سلمه رضي الله عنها حديث د فتوحاتونه پس زمانه باندې محمول دې كله چه حالت آسان او معيشت ښه شوې وو نو بيا ازواج مطهرات رضى الله عنهن د ايام حيض د پاره دايام طهر نه دجدا كپړو انتظام كړې وي.([1])

ددې نه علاوه داحتمال هم دې چه د حضرت عائشه رضي الله عنها مراد ثوب واحد نه ثوب واحد مختص بالحيض وي، يعنې مونږ ازواج سره خاص په ايام حيض كښې د اغوستلو دپاره هم يوه كپړه وه، ځكه چه په روايت كښې ځه داسې خبره نشته چه د ايام طهر دپاره ځه بله كپړه موجود كيدو نفي كوي. داسې په دواړو روايتونوكښې به توافق اوشي.([2])

قوله:: قالت بريقها: قالت بريقها: أي: وضعت أوصبت عليه ريقها. شراح حضراتو ليكلي دي چه حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها د قول په فعل باندې اطلاق كړې دې.([3]) يا په نورو الفاظوكښې ئې د فعل تفسير قول سره كړې دې.([4]) علامه عيني رحمه الله فرمائي چه لفظ قول د خپلې اصلي معنى نه علاوه د مقام په مناسبت سره په نورو معانوكښې هم استعماليږي. لكه چه دلته "قالت بريقها" معنى ((صبت عليه من ريقها)) يا ((وضعت عليه ريقها)) سره كړې شوې ده. بل دا احتمال هم دې چه قالت: بلت (دلمدولو) معنى كښې وي لكه چه سنن ابى داؤد په روايت كښې قالت په ځائې بلت الفاظ نقل دي.([5])

دمدعيان عمل بالحديث داعتراض جواب: علامه انور شاه كشميرى رحمه الله فرمائي چه ددې نه معلوميږي چه په توكانړو سره هم د نجاست ازاله كيدې شي ځكه چه په توكانړوكښې د تيزابيت اثر وي په كوم سره چه د نجاست ازاله كيدې شي او داسې مدعيان عمل بالحديث چه په فقه حنفى باندې اعتراض كوي او بغيرد اوبو نه په بل ځه څيز سره د نجاست دختمولو قائل نه دى، اعتراض په دې نص صريح اوحديث صحيح سره مردود كيږي.([6])

د حافظ ابن حجر رحمه الله تحقيق: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه په روايت كښې هم په هغه كپړو كښې د مونځ كولو ذكر نشته دې په دې وجه ددې روايت نه دهغه حضراتودپاره چه داوبونه علاوه په مانعات طاهرات سره هم د نجاست د ختمولو قائل دى دليل اوحجت نه راځي بلكه دتوكانړو په ذريعه د وينې دختمولوسره مقصود د هغې اثر ختمول وو تطهيرمقصودنه وو، البته چه كله به ئې دمونځ كولو

[1] فتح البارى: ۵۳۵/۱شرح الكرمانى: ۱۷۸/۳عمدة القارى: ۲۸۱/۳ تحفة البارى: ۲۵۰/۱.

[2] فتح البارى:۵۳۵/۱.

[3] فتح البارى: ۵۳۵/۱التوشيح: ۴۰۸/۱.

[4] تحفة البارى: ۲۵۰/۱.

[5] عمدة القارى: ۲۸۱/۳.

[6] فيض البارى: ۴۹۶/۱.

اراده کیدله نودغه کپړه دوینځلونه پس به نی په هغې کښې مونځ کولولکه چه «باب غسل دم المحیض» کښې هم دعائشه رضي الله عنها په روایت کښې صراحت دې چه مونږ بیبیانو به او دغه د وینې ځاځکی رژول بیاچه کله به د مونځ کولواراده کیدله نوهغه به مو وینځلې اوبیابه مو مونځ کولو .(۱)
په دې وجه حضرات شراح فرمائی چه دلته دې دا اشکال نه وی چه په روایت مذکوره کښې خود غسل ثوب یعنی د کپړو وینځلو ذکرنشته او د باب غسل الدم المحیض په روایت کښې د غسل ثوب ذکر موجود دې لهذا په دواړو احادیثوکښې تعارض پیداشو ځکه سره د دې چه دا روایت مطلق دې مګر سابقه روایت په مقیده باندې محمول دې.(۲)
نورعلامه بیهقی رحمه الله فرمائی چه کیدې شی وینه په ډیر لږ مقدارکښې وی د کوم وینځل چه واجب نه وی. او هم په دې وجه حضرت عائشه رضي الله عنها په دې روایت کښې غسل ثوب ذکرنه وی کړې ځکه چه دوینې د زیات مقدار کیدو په صورت کښې کپړې وینځل صحیح او ثابت دی.(۳)
دعلامه عینی رحمه الله تحقیق: په دې باندې علامه عینی رحمه الله فرمائی چه حضرات صحابه اوصحابیات رضی الله عنهم وعنهن به دا سوچ نه کولو چه دا نجاست په لږ مقدارکښې دې نومعاف دې بلکه دهغوی په نیزچه به نجاست لږ وو او که زیات دمعافئی قابل نه وو. دا تاویل خو صرف هم د امام ابوحنیفه رحمه الله په مذهب باندې صحیح کیدې شی ځکه چه احناف «کثرالله سوادهم» په نیز باندې کم مقدار معاف دې په دې شرط چه د یو درهم نه کم وی. اودا روایت په هغه حضراتو باندې حجت دې چه بغیرد اوبو په بل څه بهیدونکی څیز سره نجاست ختمول صحیح نه منی ځکه چه په دې روایت کښې د توکانړو په ذریعه د نجاست د ختمولو صراحت دې. بل ددې روایت نه داهم معلومیږی چه دنجاست په ختمولوکښې د عدد اعتبارنشته بلکه مقصد صفائی او پاکوالې دې که هغه په یوځل باندې حاصل شی او که په لس ځل.(۴)
قوله:: فقصعته بظفرها: قصعة په قاف سره ددې معنی د نوکونو په ذریعه مږل راځی خو په یوه نسخه کښې قصعته په ځانی باندې مصعته نقل دې.(۵) اوددې معنی د رژولو راځی. دامام ابوداؤد رحمه الله صرف قصعته په قاف سره نقل دی.(۶) بهرحال دلته مراد په مږلو یا رژولوکښې مبالغه کول دی.(۷)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه امام ابوداؤد رحمه الله دحضرت عائشه رضي الله عنها هغه حدیث هم روایت کړې دې په کوم کښې چه دی: «لم ترى فيه قطرة فتقصعه بظفرها» یعنی بیا چه به نی په «کپړه» باندې د «وینې» ځاځکې لیدلو نوهغه به نی په نوکونو سره رژولو اوددې روایت په رڼاکښې حدیث الباب کښې ددې خبرې احتمال دې چه د دم نه مراد دم یسیروی کوم چه معاف کیږی لیکن هم ړومبې احتمال قوی دې

(۱) فتح الباری: ۵۳۵/۱.
(۲) إرشادالساری: ۵۵۱/۱شرح ابن بطال: ۴۳۷/۱شرح الکرمانی: ۱۷۸/۳عمدة القاری: ۲۸۱/۳.
(۳) عمدة القاری: ۲۸۱/۳إرشادالساری:۵۵۷/۱.
(۴) عمدة القاری:۲۸۱/۳.
(۵) تحفة الباری: ۲۵۰/۱.
(۶) عمدة القاری: ۲۸۱/۳شرح الکرمانی: ۱۷۸/۳تحفة الباری: ۲۵۰/۱.
(۷) شرح الکرمانی: ۱۷۸/۳جامع الأصول فی أحادیث الرسول: ۹۵/۷.

يعني چه کله به د مونځ اراده کيدله نوهغه وخت به ئې کپړه وينځله.([1])

د حديث ترجمة الباب سره مناسبت: حديث اوترجمة الباب دواړو کښې مناسبت دادې چه امام بخاری رحمه الله په دواړو کښې يوې مسئلې طرف ته اشاره کړې ده اوهغه مسئله داده چه کومې ښځې سره صرف هم يوه کپړه وی په کوم کښې چه هغه د حيض ورځې هم تيره وی نود داسې ښځې دپاره د مونځ کولو حکم دې چه هغه دې مونځ هم په هغه کپړه کښې اوکړی مګر دهغه کپړې پاکولونه پس. هم ددې مسئلې طرف ته امام بخاری رحمه الله حديث اوترجمة الباب دواړو کښې اشاره کړې ده.([2])

۱۲ - باب: اَلطِّيبِ لِلْمَرْأَةِ عِنْدَ غُسْلِهَا مِنَ الْمَحِيضِ.

ماقبل سره ربط: امام بخاری رحمه الله په دې ابواب کښې د حيض نه د پاکئ حاصلولو مختلف مرحلې بيانوی. چنانچه تيرشوی باب کښې ئې د کپړې نه د نجاست د حيض ختمول بيان کړل کوم ته چه تنظيف او انقاء وائی اودا د شروع مرحله او په دې باب کښې د انقطاع دم حيض نه پس دغسل کولو په وخت د خوشبو لګولو حکم بيانوی چه د حيض د وينې دختمولو نه پس مرحله ده او په دې وجه دا مرحله انظف يعنې په نسبت د رومبې مرحلې نه زيات د تنظيف وئيلې کيږی.([3])

دترجمة الباب مقصد: شراح حضراتو ليکلی دی چه دامام بخاری رحمه الله مقصد انقطاع دم حيض نه پس د خراب بوئی د لرې کولودپاره د خوشبوئی استعمالولو د حکم تاکيدکول دی اوددې حکم تاکيد ددې امر نه ظاهرشو چه کله د ماتم کونکې ښځې دپاره هم د عدت دوران کښې د انقطاع دم حيض نه پس دغسل کولوپه وخت د خوشبوئی د استعمالولو اجازت ورکړې شوې دې حالانکه هغې ته د عدت په ورځوکښې د خوشبوئی وغيره استعمالولواجازت نشته دې.نوبيا د غيرمتعده دپاره خوددې استعمال زيات مؤکد کيږی.([4])

د شيخ الحديث زکريا رحمه الله رائې: شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائی چه زما په نيز دا ترجمه شارحه ده ځکه چه د مسك لفظ راغلې وو په دې وجه ئې د هغې شرح اوفرمائيله چه ددې نه خوشبوئی مراد ده د څه خاص مسك تعيين نشته. ([5])البته د بعض شوافع نه نقل کړې شوې دی چه هم مسك لګول متعين دی اوددې وجه داده چه دا په استقرار حمل کښې معين دی. ممکن ده چه دامام بخاری رحمه الله مقصود د شوافع په دې قول باندې رد کول وی.([6])

الحديث الأول

[۳۰۷]-حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ، قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ حَفْصَةَ، قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ: أَوْهِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنْ حَفْصَةَ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ

---

[1]) فتح الباری:۵۳۵/۱.

[2]) شرح ابن بطال: ۴۳۷/۱شرح الکرمانی: ۱۷۸/۳فتح الباری: ۵۳۵/۱عمدة القاری: ۲۸۰/۳ الکنز المتواری: ۲۷۱/۳.

[3]) عمدة القاری: ۲۸۱/۳.

[4]) فتح الباری: ۵۳۶/۱عمدة القاری:۲۸۱/۳الکنزالمتواری: ۲۷۱/۳.

[5]) الکنزالمتواری:۲۷۱/۳تقرير بخاری: ۱۰۰/۲-۹۹.

[6]) تقرير بخاری:۱۰۰/۲-۹۹.

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: «كُنَّا نُنْهَى أَنْ نُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلاَثٍ، إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا، وَلاَ نَكْتَحِلَ وَلاَ نَتَطَيَّبَ وَلاَ نَلْبَسَ ثَوْبًا مَصْبُوغًا، إِلَّا ثَوْبَ عَصْبٍ، وَقَدْ رُخِّصَ لَنَا عِنْدَ الطُّهْرِ إِذَا اغْتَسَلَتْ إِحْدَانَا مِنْ مَحِيضِهَا فِي نُبْذَةٍ مِنْ كُسْتِ أَظْفَارٍ، وَكُنَّا نُنْهَى عَنِ اتِّبَاعِ الجَنَائِزِ»، قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ: رَوَاهُ هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ، عَنْ حَفْصَةَ [ص:٧٠]، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (١) [١٢١٩، ١٢٢٠، ٥٠٢٦-٥٠٢٨]

ترجمه: حضرت ام عطيه رضي الله عنها فرمائي چه مونږ به په يو مړي باندې د دريو ورځونه زيات ماتم كولونه منع كولې شو ليكن د خاوند په مړه كيدو باندې څلور مياشتې او لس ورځې دماتم كولوحكم وو. په دغه ورځو كښې به ئې نه رانجه استعمالول نه خوشبوئي او عصب (د يمن جوړشوې يو څادر چه رنګين به هم وو، هغه كپړه چه كومې تار چه د اول نه رنګ كړې شوې وى) نه علاوه هيڅ رنګين كپړه مونږه نه استعمالوله او مونږ ته د (عدت په ورځوكښې) د حيض د غسل نه پس څه د اظفار كست (دعودخوشبوئي) استعمالولواجازت وو اومونږ له جنازې پسې شاته د تلو اجازت هم نه وو.

تراجم رجال

عبدالله بن عبدالوهاب: دا ابومحمدبن عبدالوهاب حجبي رحمه الله دې. ددوى حالات كتاب العلم باب ليبلغ العلم الشاهد الغائب لاندې تيرشوى دى. (٢)

حماد بن زيد: داحماد بن زيدبن درهم بصرى رحمه الله دې. ددوى حالات كتاب الإيمان باب وان طائفتان من المؤمنين اقتتلوا فأصلحوا بينهما لاندې تيرشوى دى. (٣)

أيوب: دا ايوب بن ابى تميمه كيسان سختيانى بصرى رحمه الله دې. ددوى حالات كتاب الإيمان باب حلاوة الإيمان لاندې تيرشوى دى. (٤)

هشام بن حسان: دا هشام بن حسان ازدى قردوسى بصرى رحمه الله دې. ددوى كنيت ابوعبدالله دې. (٥) هشام بن حسان رحمه الله فرمائى «كناني محمدبن سيرين أبا عبدالله ولم يولدلي» يعني محمدبن سيرين رحمه الله زما كنيت ابوعبدالله كيخودې وو اوزما هيڅ اولاد نه وو. (١) هشام بن حسان رحمه الله ته به فردوسى دهغوى د حسن او بنانست د وجې نه ونيلې كيدو. (٢)

---

(١) قوله: ام عطية: الحديث، رواه البخاري في الجنائز أيضاً في باب اتباع النساء الجنازة رقم الحديث: ١٢٧٨ وفي باب إحداد المرأة على غير زوجها رقم الحديث: ١٢٧٩ وفي الطلاق في باب القسط للحادة عندالطهر رقم الحديث: ٥٣٤١ وفي تلبس الحادة ثياب العصب رقم الحديث، ٥٣٤٣-٥٣٤٢ وكذا رواه مسلم في الطلاق في باب وجوب الإحداد رقم الحديث: ٣٧٤٠ وكذا رواه أبوداؤد في الطلاق في باب فيما تجتنبه المعتدة في عدتها رقم الحديث: ٢٣٠٣-٢٣٠٢ وكذا رواه النسائي في الطلاق في باب ماتجتنب الحادة من الثياب المصبغة رقم الحديث: ٣٥٦٤ وفي باب الخضاب للحادة رقم الحديث: ٣٥٦٦.

(٢) كشف الباري: ١٣٨/٤.

(٣) كشف الباري: ٢/٢١٩.

(٤) كشف الباري: ٢٦/٢.

(٥) تهذيب الكمال: ١٨١/٣٠ سير أعلام النبلاء: ٣٥٥/٦.

هغوی د حمید بن هلال، حسن بصری، محمدبن سیرین، حفصه بنت سیرین، انس بن سیرین، عکرمه، ابومعشرزیاد بن کلیب، واصل مولی ابی عیینه، ایوب بن موسی، یحیی بن ابی کثیر، عبدالعزیز بن صهیب، قیس بن سعدمکی، هشام بن عروة، محمدبن واسع، سهیل بن ابی صالح رحمهم الله وغیره نه د حدیث روایت کړې دې.
اود هغوی نه عکرمه بن عمار، سعیدبن ابی عروبه، شعبه، زائده، حفص بن غیاث، عبدالله بن ادریس، ابراهیم بن طهمان، ابن جریج، ابن علیه، جریر بن عبدلحمید، حماد بن زید، حماد بن اسامه، حماد بن سلمه، عبدالله بن المبارك، یحیی القطان، معتمر بن سلیمان، یزیدبن زریع، نضر بن شمیل، یزیدبن هارون، عثمان بن ا لهیثم، ابن ابی عدی او خالد بالحارث رحمهم الله وغیره د حدیث روایت کړې دې.([3])
محمدبن سیرین رحمه الله به فرمائیل «هشام منا أهل البیت». ایوب بن موسی قرشی رحمه الله به فرمائیل «سل لی هشاماً عن حدیث کذا» یعنی د هشام بن حسان نه د فلانکی حدیث باره کښې تپوس اوکړه راشه.([4])
سعیدبن عروبه رحمه الله فرمائی «ما رأیت أوما کان أحد أحفظ عن محمد بن سیرین من هشام» ([5])مخلدبن الحسین رحمه الله فرمائی هشام بن حسان، محمدبن سیرین رحمه الله به داشې حدیث روایت کولو لکه چه هم دهغوی نه اوریدلو که چرې محمدبن سیرین به ارسال کولونو هشام بن حسان به هم ارسال کولو.([6])
حمادبن زید رحمه الله فرمائی «أنبأ أیوب، وهشام، وحسبك هشام» یعنی مونږ د ایوب اوهشام رحمه الله دواړو نه روایت اخستې دې مگر هم هشام کافی دې ځکه چه هغوی سره دبل چاد ذکرڅه ضرورت نشته دې.([7])
هشام بن حسان رحمه الله فرمائی ماد حسن بصری رحمه الله او محمدبن سیرین رحمه الله نه هیڅ یو حدیث سواد «حدیث الأعماق» نه نه دې لیکلې. چونکه «حدیث الأعماق» طویل وو په دې وجه مې هغه اولیکلو بیاچه مې کله هغه یادکړو نو هغه مې وران کړو.([8]) په دې وجه چه کله هشام بن حسان رحمه الله ته اوونیلې شوچه خپل کتابونه اوښایه نوهغوی جواب ورکړو ماسره کتابونه نشته دې.([9])
یحیی بن سعید رحمه الله فرمائی «هشام بن حسان فی ابن سیرین أحب إلی من عاصم الأحول»([10])
علی ابن مدینی رحمه الله فرمائی یحیی بن سعید او نور اکابر محدثین هشام بن حسان رحمه الله ثقه راوی گرځوی البته یحیی بن سعید رحمه الله به هشام بن حسان عن عطاء سندته ضعیف ونیلې اودغه شان د محدثینودا هم گمان وو چه هغوی د حسن بصری روایات د حوشب په واسطه سره نقل کړې دی.([1])

---

[1]) تهذیب الکمال: ۱۸٤/۳۰سیر أعلام النبلاء:٦/٣٥٦.
[2]) حواله بالا.
[3]) تلامذه او مشائخ دَ تفصیل دَپاره اوگورئی: تهذیب الکمال: ۱۸۲/۳۰.
[4]) تهذیب الکمال: ۱۸٤/۳۰سیر أعلام النبلاء: ٦/٣٥٦.
[5]) تهذیب الکمال: ۱۸٤/۳۰سیر أعلام النبلاء: ٦/٣٥٦.
[6]) تهذیب الکمال: ۱۸٥/۳۰سیر أعلام النبلاء: ٦/٣٥٧.
[7]) تهذیب الکمال: ۱۸٥/۳۰سیر أعلام النبلاء: ٦/٣٥٦تهذیب التهذیب: ۱۱/۳٥.
[8]) حواله بالا.
[9]) حواله بالا.
[10]) تهذیب الکمال: ۱۸٦/۳۰ سیر أعلام النبلاء:٦/٣٥٨.

چنانچه په يوه بله موقع باندې على بن المدينى رحمه الله فرمائى چه د هشام بن حسان رحمه الله هغه احاديث كوم چه هغوى د محمدبن سيرين نه روايت كړى دى هغه ټول صحيح دى. او كوم حديث چه به هغوى د حسن بصرى رحمه الله نه روايت كولو نودهغه احاديثو دراومدارد حوشب په واسطه سره دې. [۲]
خكه چه على بن المدينى رحمه الله د عرعره بن البرند نه نقل كوى چه كله هغوى د عباد بن منصورنه د هشام بن حسان رحمه الله متعلق تپوس اوكړو چه آيا هغه به د حسن بصرى رحمه الله په خدمت كښې د حديث دپاره راتللو؟ نوهغوى په جواب كښې اوفرمائيل چه ما هشام بن حسان رحمه الله حسن بصرى رحمه الله سره كله هم نه دې ليدلې. [۳]
عرعره بن البريد رحمه الله فرمائى چه دعباد بن منصور رحمه الله د انتقال نه پس ما د دې خبرې خبر جرير بن حازم رحمه الله ته وركړو نوهغوى هم دغه اوفرمائيل چه زه اووه كاله حسن بصرى رحمه الله سره د حديث د روايت كولودپاره ناست يم خوما كله هم هشام بن حسان رحمه الله حضرت حسن بصرى رحمه الله سره نه دې ليدلې. عرعره بن البريد رحمه الله نور فرمائى چه ما جرير بن حازم رحمه الله ته اووئيل چه هغه خو مونږ ته (نيغ په نيغه) هم دحسن بصرى رحمه الله روايات بيانوى. نو بيا ستاسو په خيال كښې به هغه دچا په واسطه سره روايات بيانوى؟ نوهغوى جواب اوكړو چه زما په خيال هغه د حوشب په واسطه سره بيانوى. [۴]
مگرسعيدبن عامر رحمه الله وائى چه ما هشام بن حسان رحمه الله په داسې وينا كولو سره اوريدلې دې چه هغه حسن بصرى رحمه الله سره لس كاله پاتې شوې دې. [۵]
على بن المدينى رحمه الله فرمائى ((وهشام أثبت من خالد الحذاء في ابن سيرين، وهشام مثبت)) [۶] امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى ((صالح، وهشام أحب إلي من أشعث)). نور امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى ((عندي لابأس به، وما تكاد تنكر عليه شيئا إلا وجدت غيره قد رواه إما أيوب، وإما عوف)) يعنى زما په نيز هغه قابل قبول دې اوچه تاسو ته دهغه كوم يوحديث هم اجنبى معلوم شى نودهغه متابعت به د ايوب رحمه الله يا عوف رحمه الله نه ضرور ملاويږى. [۷] يحيى بن معين رحمه الله فرمائى ((لابأس به)) [۸]
نور چه د يحيى بن معين رحمه الله نه د هشام رحمه الله او جرير بن حازم رحمه الله متعلق پوښتنه اوكړې شوه نوهغوى اوفرمائيل ((هشام بن حسان أحب إلي)) بيا د ابن سيرين رحمه الله نه په روايت كولوكښې د هشام رحمه الله او يزيدبن ابراهيم رحمه الله باره كښې تپوس اوكړې شو نو په جواب كښې اوفرمائيل ((كل هما ثقة)). [۹]
امام عجلى رحمه الله فرمائى ((بصري، ثقة، حسن الحديث)) [۱۰] ابن حبان رحمه الله هغوى په كتاب الثقات كښې

---

[۱] تهذيب الكمال: ۱۸۷/۳۰.
[۲] تهذيب الكمال: ۱۸۷/۳۰ سير أعلام النبلاء: ۳۵۸/۶.
[۳] حواله بالا.
[۴] حواله بالا.
[۵] تهذيب الكمال: ۱۸۵/۳۰ سير أعلام النبلاء: ۳۵۷/۶.
[۶] تهذيب الكمال: ۱۸۷/۳۰ سير أعلام النبلاء: ۳۵۸/۶.
[۷] تهذيب الكمال: ۱۹۰/۳۰ سير أعلام النبلاء: ۳۶۰/۶.
[۸] تهذيب التهذيب: ۳۶/۱۱.
[۹] تهذيب الكمال: ۱۹۱/۳۰.
[۱۰] حواله بالا.

ذكركړې دى.(۱) حجاج بن منهال رحمه الله فرمائي ((كان حماد بن سلمة لا يختار على هشام في حديث ابن سيرين أحداً))(۲) ابن سعد رحمه الله فرمائي((كان ثقة، إن شاء الله تعالى، كثير الحديث))(۳)
امام ابوداؤد رحمه الله فرمائي څلور محدثين دي چه د هشام عن الحسن د سند اعتبارنه كوي: ① يحيى بن سعيد. ② اسماعيل بن عليه. ③ يزيد بن زريع. ④ وهيب رحمهم الله. (۴)
دغه شان دامام شعبه رحمه الله باره كښې راځي چه ((كان يتقي حديث هشام بن حسان عن عطاء ومحمد والحسن))
يعني امام شعبه رحمه الله به د دې دريو محدثين حضراتو عظام نه نقل كړې شوې رواياتونه احتراز كولو.(۵)
نعيم بن حماد رحمه الله وائي چه ما سفيان بن عيينه رحمه الله نه داسې ويناكول اوريدلى دى ((لقد أتى هشام أمراً عظيماً بروايته عن الحسن))يعني هشام رحمه الله د حسن بصرى رحمه الله نه روايت كولوسره يوه لويه خبره اوكړه.
كله چه د نعيم بن حماد رحمه الله نه پوښتنه اوكړې شوه داسې ولې؟ نوهغوى جَواب وركړو ((لأنه كان صغيراً))يعني هغه هغه وخت وړوكې وو. (۶)
په دې باندې علامه ذهبي رحمه الله اوفرمائيل چه په دې قول باندې نظردې بلكه هشام بن حسان لوئې وو. ځكه چه هم پخپله د سفيان بن عيينه رحمه الله نه نقل دى ((كان هشام أعلم الناس بحديث الحسن)). علامه ذهبي رحمه الله فرمائي ((هذا أصح)) يعني صحيح هم دغه دى چه هغه د حسن بصرى رحمه الله احاديث د ټولو نه زيات پيژندونكې وو. (۷)
علامه ذهبي رحمه الله فرمائي((ثقة، إمام، كبير الشأن))(۸) بل علامه ذهبي رحمه الله قول فصيل ذكركولو سره فرمائيلي ((هشام قد قفز القنطرة واستقر توثيقه، واحتج به أصحاب الصحاح، وله أوهام مغمورة في بحر ما روى)) يعني بيشكه د هشام بن حسان رحمه الله ثقاهت پوخ شوې دې او اصحاب كتب صحاح دهغوى نه دليل اوحجت هم نيولې دې. البته دهغوى نه چه د احاديثو يو عظيم اوضخيم ذخيره نقل ده په هغې كښې يو څو اجنبي روايات هم دى. (۹)
ابن عدى رحمه الله فرمائي ((أحاديثه مستقيمة ولم أر في أحاديثه منكراً إذا حدث عنه ثقة وهو صدوق لا بأس به)) يعني ما هغوى په احاديثوكښې هيڅ منكر اواجنبي حديث نه دې ليدلې په دې شرط چه دهغوى نه چرته يو ثقه راوى حديث روايت كړې وى. هشام بن حسان رحمه الله صدوق او قابل قبول راوى دې.(۱۰)

---

(۱) ۵۶۶/۷.
(۲) سير أعلام النبلاء: ۳۵۸/۶.
(۳) تهذيب التهذيب: ۳۷/۱۱.
(۴) تعليقات على تهذيب الكمال للشيخ شعي الأرنؤوط: ۱۹۳/۳۰.
(۵) تهذيب الكمال: ۱۸۹/۳۰.
(۶) تهذيب الكمال: ۱۸۵/۳۰ سير أعلام النبلاء: ۳۵۶/۶.
(۷) سير أعلام النبلاء: ۳۵۷/۶.
(۸) ميزان الاعتدال: ۲۹۵/۴ مطبعة عيسى ألبابي الحلبية وشركاه.
(۹) سير أعلام النبلاء: ۳۶۲/۶.
(۱۰) الكامل لابن عدي: ۱۱۴/۷.

حافظ ابن حجر رحمه الله د هشام بن حسان رحمه الله سره متعلق د ائمه حدیث دا قوال ذکر کولو نه پس فرمائی: ائمه حدیث دهغوی نه حجت او دلیل نیسی البته دهغوی د عن عطاء د سند نه د هیڅ یو حدیث تخریج نشته دې او کوم احادیث چه هشام رحمه الله د عکرمه رحمه الله نه روایت کړی دی نو دهغې نه یوڅو امام بخاری رحمه الله هم تخریج کړی دی په کوم کښې چه د بعض متابعت هم موجود دې. اوکوم چه هغوی د حسن بصری رحمه الله نه روایت کړی دی نو هغه په کتب سته کښې موجود دی.[1]

ابو حاتم رحمه الله فرمائی «كان صدوقاً، وكان يتثبت في رفع الأحاديث عن محمد بن سيرين»[2]

ابن عون رحمه الله فرمائی «كان محمد لا يرفع من حديث أبي هريرة إلا ثلاثة أحاديث: ① صلى إحدى صلاتي العشي ② وجاء أهل اليمن ③ ولم يذكر الثالث» یعنی محمد بن سیرین رحمه الله د ابوهریره رضی الله عنه نه صرف درې احادیث مرفوعاً روایت کړی دی.[3]

په دې باندې علامه ذهبی رحمه الله اوفرمائیل چه دا قول صحیح نه دې ځکه چه حضرات شخین «امام بخاری رحمه الله او امام مسلم رحمه الله» د «محمد عن أبي هريرة» په سندسره متعدد احادیث روایت کړی دی. ددې نه علاوه هم په دې سندسره د یو څو روایاتو په ذکر کولو کښې امام بخاری رحمه الله اود څه روایاتو په ذکر کولو کښې امام مسلم رحمه الله متفرد هم دی.[4]

بهرحال هشام بن حسان رحمه الله ثقه راوی دې او اصحاب صحاح دهغوی نه داحادیثو تخریج کړې دې. دهغوی د تقوی دا حال وو چه کله به هم د حضورپاک صلی الله علیه وسلم د جنت او جهنم تذکره کیدله نو هغوی به دومره ژړل چه دهغوی اننگی به په اوښکو باندې لمدیدل.[5]

د هغوی تاریخ وفات سره متعلق درې اقوال دی: ① ابو نعیم رحمه الله ابن معین رحمه الله او ابوبکر ابن ابی شیبه رحمه الله فرمائی دهغوی انتقال ۱۴۶هجری کښې شوې. ② یحیی القطان رحمه الله او ابن بکیر رحمه الله فرمائی ۱۴۷هجری کښې انتقال شوې. ③ مکی بن ابراهیم رحمه الله اوابوعیسی ترمذی رحمه الله فرمائی چه دهغوی انتقال اول صفر ۱۴۸هجری کښې شوې.[6]

حفصة بنت سیرین: دا ام هزیل حفصه بنت سیرین انصاریه رحمهما الله ده. ددوی حالات کتاب الوضوء باب التیمن في الوضوء والغسل لاندې تیرشوی دی.

أم عطیة: دا مشهوره صحابیه نسیبه بنت کعب انصاریه رضی الله عنها ده. ام عطیه دهغوی کنیت دې. ددوی شمیر په اهل فضل صحابیاتو کښې کیږی. ددوی باره کښې راځی چه دې به د مریضانو په خیال ساتلو کښې د زخمیانو مرهم پټئی او مړو ته د غسل ورکولو کارونه سر ته رسول.[7] ددې حالات هم کتاب الوضوء باب التیمن في الوضوء والغسل لاندې تیرشوی دی.

---

[1] عدی الساری: ۶۳۱

[2] الجرح والتعدیل: ۷۱/۹.

[3] تهذیب الکمال: ۱۹۰/۳۰ سیر أعلام النبلاء: ۳۵۹/۶.

[4] سیر أعلام النبلاء: ۳۵۹/۶-۳۶۰.

[5] تهذیب الکمال: ۱۹۳/۳۰ سیر أعلام النبلاء: ۳۶۲/۶.

[6] حواله بالا.

[7] عمدة القاری: ۲۸۱/۳.

نوټ: دمستملی رحمه الله اوکریمه رحمها الله په روایت ددې حدیث سند داسې دې: «**حدثنا حماد بن زيد عن أيوب قال أبوعبدالله: أوهشام بن حسان عن حفصة**».

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دابوعبدالله نه مراد پخپله امام بخاری رحمه الله دې اولکه چه امام بخاری رحمه الله ته په دې کښې شك دې چه د حماد بن زید شیخ أیوب دې یا هشام بن حسان دې. او د شك دا کیفیت اوصورت صرف هم په دې مقام باندې دې خکه چه هم پخپله امام بخاری رحمه الله داحدیث «**کتاب الطلاق، باب القسط للحادة عندالطهر**» کښې هم په دې سند سره ذکرکړې دې لیکن هلته د شك اظهارکولونه بغیر «**حماد بن زيد عن أيوب عن حفصة**» په طریق سره دا حدیث روایت کړې دې. بل د شك دا صورت صرف د امام بخاری رحمه الله په نیز راغلې دې خود نورو محدثینوحضراتو په نیز شك نه دې واقع شوې.[1]

شرح حدیث

قوله:: كنا ننهى: نون اولی ضمه سره.[2]

واضحه دې وی چه دا نهی د رسول الله ﷺ د طرف نه وه لکه چه ددې حدیث په دویم سند، سند هشام بن حسان رحمه الله په دې باندې دلالت کوی د کوم طرف ته چه امام بخاری رحمه الله «**قال ابوعبدالله**» سره اشاره کړې خکه چه په دې سند کښې ام عطیه رضي الله عنها ددې حدیث اسناد د حضورپاك طرف ته په صراحت سره کړې دی.[3]

قوله:: نُحِدَّ: د نون ضمه اوحاء کسره سره او په یوه نسخه کښې نحد په خائې تحد دې.[4]

دا صیغه الإحداد د باب افعال نه ده. د کومې معنی چه ده «**الامتناع من الزينة**» یعنی د زینت ترك كول.[5]

اود شریعت په اصطلاح کښې احداد هغه زینت پریخودو ته وائی کوم چه **معتده طلاق** (د طلاق عدت تیرونکې) او**معتده متوفى عنها زوجها** (دخاوند د وفات عدت تیرونکې) اختیاره وی. دویم لغت په دې لفظ کښې دادې چه دا حداد دمصدرنه دې کوم چه د نصر اوضرب دواړو نه راخی البته معنی د دواړو هم ترك زینت ده.

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه ددې مادې اصل المنع (منع کول) دی هم په دې وجه بواب ته هم حداد وئیلې شی خکه چه هغه د تګ راتګ نه منع کول کوی.[6]

قوله:: إلا على زوج: كذا للأكثر، البته د مستملی رحمه الله او حموی رحمه الله په روایت کښې «**إلا على زوجها**» دې. لیکن دنحد موافق د اکثر روایت دې. اود مستملی او حموی د روایت توجیه داده چه په

---

[1] فتح الباري: ۵۳۶/۱عمدة القاري: ۲۸۱/۳.
[2] فتح الباري: ۵۳۶/۱عمدة القاري: ۲۸۲/۳.
[3] فتح الباري: ۵۳۶/۱عمدة القاري: ۲۸۲/۳.
[4] تحفة الباري: ۶۳٤/۱
[5] فتح الباري: ۵۳۶/۱عمدة القاري: ۲۸۲/۳.
[6] عمدة القاري: ۲۸۲/۳.

زوجهاكښې ضمير ماقبل ((كنا ننهيٰ)) كښې ذكرشوې ښځونه د يوې طرف ته راجع دې ځكه چه د ((كنا ننهيٰ)) معنى ده ((كل واحدة منهن تنهيٰ أن تحد فوق ثلاث إلا على زوجها)). دويمه توجيه داده چونكه په يوه نسخه كښې د نحد په ځائى تحد د غائب صيغې سره دې نو ((إلا على زوجها)) والا روايت به هم ددې نسخې موافق وى.([1])

قوله:: أربعة أشهر وعشرا: د عشراً عطف ((أربعة أشهر)) باندې دې چه د ظرفيت په وجه باندې منصوب دې اوددې عامل نحد فعل دې.([2])

شارحين حضرات ليكلى دى چه عشراً نه مراد عشرليال دې ځكه چه چرې ايام مراد وې نوعشرة به ئې ذكركولو يعنى عدد به ئې مؤنث ذكركولو. ځكه چه قاعده ده چه د يونه واخله ترلسو پورې عدد تميزكه چرې مذكروى نو دغه اعداد مؤنث راوړلې شى اوكه چرې د دغه اعداد تميز مؤنث وى نوهغه اعداد مذكر راوړلې شى. نوچونكه د ايام برخلاف ليال يٰ مؤنث دى ځكه چه داد ليلة جمع ده په دې وجه ئې عدد مذكرذكركړو.

سره ددې چه د عشراً نه مراد عشرليال دې مگر ايام هم په دې كښې داخل دى البته د ليالى اعتبار په دې وجه سره دې چه د اصل ابتداء د مياشتو يا ورځو هم د شپونه كيږى. چنانچه علامه زمخشرى رحمه الله آيت ﴿أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا﴾ په تفسيركښې ليكى كه چرې څوك د عشراً په ځائى عشرة اووائى نو اوگنړئى چه هغه د كلام عرب نه اووتلو ځكه چه د عربو په كلام كښې داسې نه كيږى چه د تذكر (ايام) اعتباركولوسره اعداد مؤنث ذكركړې شوې وى.([3])

دغه شان علامه بيضاوى رحمه الله هم ددې آيت په تفسيركښې فرمائى چه عشراً ليالى (مؤنث) په اعتبارسره دې اود ليالى اعتبار په دې وجه دې ځكه چه هم د ليالى نه شهور (مياشتو) او ورځو شروع كيږى اودعربو په كلام كښې داسې نه كيږى چه دايام اعتباركولوسره عدد مؤنث راوړلې شى. تردې چه اهل عرب خود روژو متعلق هم داسې وائى ((صمت عشرا)) سره ددې چه روژه هم په ورځ كښې وى بياچونكه ليالى اصل دې په دې وجه به ايام هم پخپله مراد وى.([4])بعض حضرات فرمائى چه ددې اعداد مذكر او مؤنث راوړلو فرق هغه وخت دې كله چه تميز مذكور وى اوكله چه تميز مذكور نه وى لكه چه دلته مذكورنه دې نودا اعدادمذكراومؤنث دواړه شان ذكركيدې شى.([5])

څلورمياشتې اود لسو ورځو تعيين: شارحينو حضراتو ليكلى دى چه ددې مودې تعيين په دې وجه كړې شوې دې چه د حمل اوجنين حركت اكثر هم دومره موده كښې ښكاره كيږى.([6])

علامه قسطلانى رحمه الله نور وضاحت كولوسره فرمائى چه كه چرې حمل هلك وى نودهغه حركت په دريو مياشتوكښې ښكاره كيږى او كه چرې جينئى وى نو په څلور مياشتو كښې ئې حركت ښكاره كيږى.

---

[1] فتح البارى: ۵۳۶/۱عمدة القارى: ۲۸۳/۳.
[2] عمدة القارى: ۲۸۳/۳.
[3] عمدة القارى: ۲۸۳/۳تحفة البارى: ۶۳۴/۱إرشادالسارى: ۵۵۲/۱شرح الكرمانى:۱۷۹/۳-۱۷۸.
[4] إرشادالسارى: ۵۵۲/۱.
[5] شرح الكرمانى: ۱۷۹/۳عمدة القارى: ۲۸۳/۳.
[6] التوضيح: ۷۲/۵تحفة البارى: ۳۵۱/۱عمدة القارى:۲۸۳/۳.

البته څلورمياشت اولس ورځو نوره اضافه په دې وجه کړې شوې ده خکه چه بعض وخت داسې هم کيږي چه په شروع کښې د جنين حرکت ډير معمولي وي د کوم چه ښځې ته احساس نه کيږي نو په نورو لسو ورځوکښې به د هغې اظهارهم اوشي. بيا چونکه څلور مياشتې اولس ورځې اکثرموده ده په دې وجه ددې تعيين اوکړې شو.(١)

علامه ملقن رحمه الله فرماني چه د مذکوره حديث الفاظ «فوق ثلاث إلا على زوجها» نه مستفاد کيږي که چرې د ښځې په نيزدې خپلوانو مثلاً رور، خور، مور پلار وغيره نه څوك انتقال شي نو په دې باندې ښځه په يوشان درې ورځې د ترك زينت عمل اختيارولې شي البته ددې نه زيات شرعاً اجازت نشته دې اوددې دريو ورځو شروع به د راتلونکې شپې نه کيږي. که چرې انتقال د ورځې په وخت کښې اوشو يا د شپې د څه حصې په وخت کښې اوشو نود هغه ورځې او دهغه شپې اعتبار به نه شي کولې بلکه د راتلونکې شپې نه به شروع کيږي.(٢)

قوله:: ولا نكتحل: که چرې دا په نحد باندې معطوف اومنلې شي نودا به په حالت نصبی کښې وي اوکه چرې په ننهٰی باندې معطوف اومنلې شي نو په حالت رفعي کښې به وي. علامه بدر دمياطی رحمه الله فرمائی چه دافعل په منصوب لوستلوکښې په معنی کښې لازمی خرابی راځی اوهغه خرابی داده چه دمنصوب لوستلو په صورت کښې ددې عطف به په نحد باندې وي اوتقديری عبارت به نی شی چه «كنا ننهٰى أن لا نكتحل» په کوم سره چه دمعنی فساد لازمی راځی خکه چه معنی به داسې شی چه مونږ به د رانجو نه لګولونه منع کولې شو اودلته دا معنی مقصود نه ده. البته په نحد باندې دعطف د جواز صورت دادې چه په لا نكتحل کښې لا زائده د پاره د تاکيد اومنلې شي نو په داسې صورت کښې به د لا نكتحل عطف هم په نحد باندې شی او لا زائده کيدو وجې نه به په معنی کښې خرابی هم نه لازميږي. ليکن په دې باندې اشکال کيږي چه لا زائده د پاره د تاکيد ضرور دې چه ددې نه وړاندې د نفی معنی تيره شوې وی خودلته داسې نه دی، نوددې اشکال جواب دادې چه ماقبل کښې دنفی معنی موجود ده کومه چه د نهی په صورت کښې ده لهذا اوس هيڅ اشکال باقی پاتې نه شو.(٣)

قوله:: إلا ثوب عصب: عصب ديويمنی کپړې نوم دې کومه چه به دعربوښځو په عامو حالاتوکښې استعمالوله. دا به د يومعمولې درجې کپړه وه، پتيداره يعنی څه ځائی کښې سپينه او څه ځائی کښې رنګينه.(٤)دا داسې اوګنړئی لکه زمونږ کلاده چه د پومبنډې دتارونو ګيډئی چه ځايی په ځائی اوتړلې شی او د رنګ په اوبوکښې اچوی. دغه تارونه چه چرته تړلې شوې وی هلته رنګ نه رسی اودغه شان دغه تارونه چرته سپين اوچرته رنګين شی. ددا سې تارونونه چه کومه کپړه جوړولې شی په هغې کښې څه خړوالې شان پيداکيږي چه په هغې نه څه زينت وی اونه څه ښائشته والې اونه د زينت په موقع باندې دغه استعمالولې شی(٥)اوداهم اوريدلی شوی دی چه ثوب عصب د پيکه رنګ توری کپړې ته

---

(١) إرشادالساري:٥٥٢/١.
(٢) التوضيح: ٧٢/٥.
(٣) إرشادالساري: ٥٥٢/١تحفة الباري: ٢٥١/١عمدة القاري: ٢٨٣/٣.
(٤) التوضيح: ٧٤/٥شرح الكرماني: ١٧٩/٣عمدة القاري: ٤١٨/٣.
(٥) فيض الباري:٤٩٦/١.

رائى.[1]

قوله:: نبذة: د نوو ضمه اوفتحه سره ددې لفظ اطلاق په هغه څيزباندې کيږي چه په کم مقدارکښې وی اودلته ددې نه مراد وړه شان ټکړه ده. دنبذة جمع أنباذ راځی.[2]

قوله:: من كست أظفار:

دعلامه رشيداحمدګنګوهی رحمه الله رائې: علامه ګنګوهی رحمه الله فرمائی چه دلته بهترين توجيه د عطف د حرف حذف دې کوم چه دعربو په محاوراتوکښې عام دې. يعنې د كست او أظفارنه چه کوم يو هم وی يا ددې په شان د نورو خوشبوداره څيزونونه لوګې اخستې شی.[3]

دمولانامحمدحسن مکی رحمه الله رائې: مولانامحمدحسن مکی رحمه الله فرمائی چه دا په اصل کښې «من كست وأظفار» دې اوددې دواړو نه هريو يوخاص قسم خوشبوئی ده. البته دلته د كست د أظفار طرف ته نسبت کړې شوې دې او دا اضافت اونسبت په قلت يعنى کمی کښې د تشبيه په غرض سره دى. يعنى تقديرى عبارت به داسې شی «من كست مثل أظفار» چه دا حائضه ښځې د حيض د غسل نه د فراغت نه پس د کست خوشبوئی استعمال کړی چه د اظفارخوشبوئی په شان کمياب ده.[4]

د ابن التين رحمه الله رائې: ابن التين رحمه الله فرمائی چه صحيح د كسف ظفار الفاظ دى يعنى دهمزه نه بغير او ظفارد يوښار نوم دې چه د سمندر په غاړه واقع دې. په داسې صورت کښې به مطلب داشی چه دا ښځې دې د کست خوشبوئی استعمال اوکړی کوم چه د ظفار په ښار کښې ملاويږی.[5]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ابن التين رحمه الله کومه خبره کړې ده ما په رواياتوکښې دهغې ذکر نه دې ليدلې. البته صاحب مشارق هم دغه شان حکايت کړې دې مګر هغوی ظفارپه سواحل يمن باندې واقع يو ښار ګرځولې دې.[6]

د ابن التين رحمه الله د قول تائيد د صحيح بخاری باب القسط للحادة نه هم کيږی خکه چه هلته په متن کښې هم دكست ظفار الفاظ دی، سره ددې چه په حاشيه کښې د كست أظفارنسخه هم ده خو باب تلبس الحادة ثياب العصب روايت کښې قسط وأظفار الفاظ درج دی. په کوم سره چه دحضرت ګنګوهی رحمه الله د قول تائيد کيږی. دغه شان د علامه ګنګوهی رحمه الله د قول تائيد دحافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عينى رحمه الله د اقوالو نه هم کيږی خکه چه حافظ ابن حجر رحمه الله د امام مسلم رحمه الله په حواله سره وئيلی دی چه د هغوی په روايت کښې من قسط أو أظفار الفاظ دی.[7] يعنى د واؤ عاطفه سره او واؤ عاطفه هم د أو په معنى کښې دې. ددې دواړو حضراتو د کلام نه هم دعلامه ګنګوهی رحمه الله دکلام تائيد کيږی چه دلته

---

[1] إيضاح البخاري:۱۰۷/۱۱.
[2] عمدة القاري:۴۱۸/۳.
[3] لامع الدراري: ۲۵۹/۲-۲۵۷.
[4] الكنزالمتواري:۲۷۱/۳.
[5] عمدة القاري: ۴۱۸/۳التوضيح: ۷۵/۵فتح الباري: ۴۱۴/۱.
[6] فتح الباري: ۴۱۴/۱.
[7] فتح الباري: ۴۱۴/۱صحيح مسلم كتاب الطلاق باب وجوب الإحداد فى عدة الوفاة الخ رقم الحديث ۳۷۴۰.

حرف عطف محذوف دي.([1])
بهرحال مطلب دادي چه د حيض پاكيدو نه پس دغسل په وخت د دغه خوشبويانونه يوه خوشبوئي استعمال كړې دي دپاره چه د څرمن زبريدل او راغونډيدل كوم چه د حيض د وينې په وجه پيدا شوي دي د هغې في الجمله ازاله اوشي او راتلونكې وخت كښې د مونځ وغيره په وخت ددې څيزونو خيال د طبيعت د خرابيدو موجب جوړنه شي.
شيخ الحديث زكريا رحمه الله فرمائي چه علامه عيني رحمه الله د صحيح مسلم د روايت په حواله سره «من قسط وأظفار» نقل كړې دي مګر دواړه صحيح دي ځكه چه واؤ او أو دواړو روايت دامام مسلم رحمه الله نه صحيح دي.([2])
علامه قسطلاني رحمه الله فرمائي چه دلته په روايت كښې كست په ضمه دكاف اوسكون د سين راغلې دې خو په دويم او دريم لغت په دې لفظ كښې دادې چه دا قسط اوكسط هم لوستلې شي اودا په كلي والو كښې استعماليدونكې يو خوشبوئي نوم دې.([3])
دغه شان دكست يو نوم قسط هندي هم دې دا معرب دې "كٹ" په اردوكښې دې ته "كٹ" هم ونيلې شي.([4]) بل كه لفظ أظفار چرته الف سره وي نود بعض په نيز داد ظفر جمع ده دا ديوقسم بوټي خوشبوئي ده كوم چه د نوكونو په شكل كښې وي. دا بخوركښې شاملولوسره په كپړو وغيره باندې مرولې شي ددې پوره نوم أظفار الطيب دې او هم په دې نوم سره عطرونو والوسره ملاوېږي.([5]) د بعض شارحينو حضراتو رائي داده چه دا لفظ أظفارنه دې بلكه ظفاردې بغيرد همزه نه دې اود قسطام په وزن باندې مبني على الكسر دې. په داسې صورت كښې د يمن په ملك كښې واقع د يوځائې نوم دې چرته چه دا قسط هندي راوړلې اوخرڅولې شوهم په دې مناسبت سره د دې نوم كست ظفار شو اود كست اضافت د ظفار طرف ته اوكړې شو.([6])
د احداد لغوي او شرعي معنى: په حديث مذكوركښې لفظ نحد راغلې دې د كوم په اشتقاق كښې چه دوه لغتونه دي. اولنې لغت دادې چه دا لفظ د احداد مصدر نه مشتق دې اودويم لغت دادې چه دا لفظ د حداد نه مشتق دې. اول ثلاثي مزيد فيه دې اودويم ثلاثي مجرد. البته د دواړو معنى يوه ده يعنى د زينت پريخودل. امام اصمعي رحمه الله فرمائي چه دا لفظ صرف اوصرف احداد يعنى د ثلاثي مزيد فيه نه مشتق دې او حداد يعنى د ثلاثي مجرد نه ئې د دې دمشتق كيدو نفي فرمائيلې ده.([7])
د شريعت په اصطلاح كښې د احداد معنى داده : «ترك الزينة ونحوها من معتدة بطلاق بائن أوموت»([8])بيا

---

[1]) أنوارالباري: ۱۰/٤٤۱.
[2]) الكنزالمتواري: ۲۷۲/۳. .
[3]) إرشادالساري: ۵۵۳/۱.
[4]) إيضاح البخاري: ۱۰۸/۱۱.
[5]) إرشادالساري: ۵۵۳/۱عمدة القاري:۳/٤۱۹-٤۱۸فتح الباري: ٤۱٤/۱.
[6]) إرشادالساري: ۵۵۳/۱عمدة القاري:۳/٤۱۹-٤۱۸فتح الباري: ٤۱٤/۱.
[7]) حاشيه ابن عابدين: ۲۱٦/۵دار عالم الكتب البحرالراى: ۲۵۲/٤فتح الباري: ٤۱٤/۱.
[8]) حاشيه ابن عابدين: ۲۱۷/۵ البحرالراى: ۲۵۲/٤.

يو دي احداد او بل دي اعتداد. د اعتداد معنى ده «تربص المرأة مدة محدودة شرعاً لفراق زوجها بوفاة أو طلاق أو فسخ» يعني شرعاً د ښځې د يو محدود وخت پورې د خاوند په انتقال باندې يا د طلاق د وجې نه يا د نكاح د فسخ كيدو د وجې نه يعني د خلع په وجه انتظار كول (عدت تيرول). د احداد او اعتداد په مينځ كښې علاقه او مناسبت دادې چه داعتداد او احداد دپاره ظرف دې ځكه چه د احداد عمل ښځه هم دغه د عدت په ورځو كښې اختياروي.

د امت دعلماؤ په دې خبره باندې اجماع ده چه احداد (ماتم كول) معتدة متوفى عنها زوجها (د خاوند د وفات عدت تيرونكې) باندې واجب دى كه هغه مدخول بها وى اوكه غير مدخول بها وى [1] په دې باندې دليل هم د دې باب هم دغه حديث دې ځكه چه په دې حديث كښې رسول الله ﷺ على الاطلاق د خاوند د انتقال عدت تيرونكې ښځه باندې احداد لازم گرځولې دې كه هغه مدخول بها وى اوكه غير مدخول بها.

بيا لكه څنگه چه په دې باندې اجماع ده چه ماتم كول دمعتدة متوفى عنها زوجها باندې واجب دى. هم دغه شان په دې باندې هم اجماع ده چه معتدة طلاق رجعيه (د طلاق رجعى عدت تيرونكې ښځه) باندې احداد نشته دې بلكه د مطلقه رجعيه نه خودا مطلوب دى چه هغه دې د خپل خاوند دپاره په عدت كښې ښكلې او ښائسته وى. اميد دې چه الله تعالى د دوارو په مينځ كښې څه لار راؤباسى.[2]

قوله: معتدة طلاق بائنه: د معتده طلاق بائنه باره كښې د فقهاؤ اختلاف دې. احناف رحمهم الله فرمائى چه معتده طلاق بائنه باندې هم احداد لازم دې ځكه چه ددغه ښځې نه د نكاح په شان عظيم نعمت ختم شوې دې او داسې په دغه حيثيت سره دمعتده طلاق بائنه مشابهت معتدة متوفي عنها زوجها سره كيږى. لهذا د نكاح په شان عظيم نعمت زائل او فوت كيدو د وجې نه په معتده طلاق بائنه باندې هم احداد لازم كيږى.[3] هم دغه د امام شافعى رحمه الله قول قديم [4] او د امام احمد رحمه الله نه يو بل روايت دې.[5] خو امام شافعى رحمه الله جديد قول دادې چه په مطلقه ثلاثه او مطلقه بائنه باندې احداد او ماتم كول واجب او لازم نه دى.[6]

مالكيه حضرات فرمائى چه په معتده طلاق بائنه باندې احداد نشته دې ځكه چه پريخودونكې خاوند دې نه چه ښځه. په دې وجه هغه سړې اوس ددې خبرې مستحق نه دې چه دغه ښځه دې دهغه دپاره ماتم اوكړى.[7] هم دغه د امام شافعى رحمه الله قول جديد دې. [1] او د امام احمد نه يو بل روايت هم

---

[1]) حاشيه ابن عابدين: ۲۱۷/۵ عمدة القارى: ۳/۴۲۰-۴۱۹ دارالكتب العلمية، المغنى لابن قدامة: ۱۶۷/۹ المجموع شرح المهذب: ۳۴/۲۰.

[2]) تبيين الحقائق مع هامشه كتاب الطلاق باب العدة فصل فى الحداد: ۲۱۸/۳ حاشية ابن عابدين: ۲۲۰/۵ بدائع الصنائع: ۴۶۳/۴ عمدة القارى: ۴۲۰/۳ المغنى لابن قدامة: ۱۶۷/۹ المجموع شرح المهذب: ۳۵/۲۰.

[3]) تبيين الحقائق كتاب الطلاق باب العدة فصل فى الحداد: ۲۶۷/۳-۲۶۶ حاشية ابن عابدين: ۲۱۷/۵ النافع الكبير شرح الجامع الصغير: ۲۳۰/۱ بدائع الصنائع: ۴۶۲/۴.

[4]) المجموع شرح المهذب: ۳۱/۲۰.

[5]) المغنى لابن قدامة: ۱۷۹/۹.

[6]) المجموع شرح المهذب: ۳۱/۲۰.

[7]) الاستذكار: ۲۴۰/۵ المغنى لابن قدامة: ۱۷۹/۹ عمدة القارى: ۴۲۰/۳.

دي. [۲]هم دا مذهب ډيرو تابعينو حضراتو لکه سعيدبن المسيب رحمه الله ابوثور رحمه الله [۳] عطاء ربيعه او ابن المنذر رحمهم الله وغيره اختيارکړې دې [۴]البته د امام شافعي رحمه الله نه يوقول جديد داهم نقل دې چه په معتده طلاق بائنه باندې اداد واجب خونه دې مگر مستحب دې.[۵]
دغه شان يوه داسې ښځه د کومې خاوند چه وفات شي خودهغوی د نکاح بنياد په نکاح فاسد باندې وی نود جمهورو په نيز په دې باندې هم احداد لازم نه دې خکه چه دا ښځه حقيقي بی بی نه ده. اوبيا چه کله داسې نکاح باقي ساتل د نحوست سبب دې نود دې ختميدل د رحمت سبب دې نو په داسې ښځه باندې احداد هم نشته دې، خکه چه دلته د احداد څه محل نشته دې.[۶] البته په حنابله کښې قاضي ابويعلی رحمه الله فرمائي چونکه په داسې ښځه باندې عدت لازم دې نوددغه عدت اعتبار کولو سره به په دې باندې احداد هم لازم وی.[۷]

دغيرزوج دپاره د احداد حکم: د زوج يعنی خاوند نه علاوه د يونيزدې خپلوان په وفات باندې ښځو ته صرف د دريو ورځو ماتم کولو اجازت دې دې نه زيات شرعاً جائز اوحلال نه دې. ددې دليل د ابوسلمه رضي الله عنه دا روايت دې: «لما أتيٰ أم حبيبة نعي أبي سفيان، دعت في اليوم الثالث بصفرة فمسحت به ذراعيها وعارضيها وقالت: كنت عن هذا غنية، سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول: لا يحل لامرأة تؤمن بالله واليوم الآخر، أن تحد فوق ثلاث، إلا على زوج، فإنها تحد عليه أربعة أشهر وعشراً» يعني (چه) کله ام حبيبه رضي الله عنها ته (د خپل پلار) ابوسفيان د انتقال خبر اورسيدو نودهغې په دريمه ورځ هغې رضي الله عنها سفره راؤغوښتله او هغه ئې په خپلو مټو او اننګو باندې اوموښله او وئې فرمائيل چه زه ددې داستعمال نه مستغنی ووم (مګر) ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلی دی چه د يوې مؤمنې ښځې دپاره حلال نه دی چه هغه بغيرد خاوند نه په بل چا باندې د دريو ورځونه زيات ماتم اوکړی البته دخاوند په انتقال باندې څلور مياشتې او لس ورځې ماتم کولو حکم دې.
بل خاوند ته ددې خبرې حق هم حاصل دې چه هغه دې دخپل نيزدې خپلوانو په وفات باندې ښځه د ماتم کولونه منع کړی.[۸]

د زوج مفقود دپاره د احدادحکم: دغه شان هغه ښځه د چاد خاوند چه د اوږدې مودې راسې څه اته پته نه وی چه هغه مړ دې که ژوندې نود امت د علماؤ اجماع ده چه کله عدالت د داسې مفقود (ورك شوی) سړی باندې د مړکيدو حکم اولګوی نودغه حکم د لګيدو نه پس به هغه ښځه دخاوند د وفات عدت شروع کوی. ليکن آيا په دغه ښځه باندې په عدت کښې احداد هم واجب وی که نه؟ نود جمهور علماؤ مسلك دادې چه په دغه ښځه باندې دمعتده وفات کيدو په اعتبارسره احداد هم واجب دې

[۱] الاستذكار: ۲٤۰/٥ المغني لابن قدامة: ۱۷۹/۹ عمدة القاري: ٤۲۰/۳.
[۲] المغني لابن قدامة: ۱۷۹/۹.
[۳] الاستذكار: ۲٤۰/٥.
[٤] الاستذكار: ۲٤۰/٥ المغني لابن قدامة: ۱۷۹/۹ عمدة القاري: ٤۲۰/۳.
[٥] الاستذكار: ۲٤۰/٥.
[٦] بدائع الصنائع: ٤٦۳/٤ تبيين الحقائق: ۲٦۸/۳ الدرمختار: ۲۲۰/٥ المغني لابن قدامة: ۱۷۹/۹ المجموع شرح المهذب: ۳٥/۲۰.
[۷] الموسوعة الفقهية: ۱۰٥/۲.
[۸] حاشيه ابن عابدين: ۲۲۱/٥-۲۲۰ البحرالرائق: ۲٥۳/٤.

البته په مالکیه کښې ابن ماشون رحمه الله فرمائی چه سره ددې په داسې ښځه باندې عدت واجب دې مګر احداد واجب نه دې.

د کتابیه دپاره د احداد حکم: داسې ښځه چه په خپله خوداهل کتاب نه ده لیکن دهغې خاوند مسلمان دې نوآیا دمسلمان خاوند کتابیه ښځه باندې د خاوند دانتقال نه پس دعدت دوران کښې احداد وی که نه؟ نود شوافع حنابله او ابن قاسم رحمه الله د روایت مطابق دامام مالك رحمه الله مذهب دادې چه زوجه کتابیه متوفی عنها زوجها المسلم باندې احداد لازم دې ځکه چه احداد د عدت تابع دې نوچه کله عدت واجب دې نو احداد به هم وی.

حضرات حنفیه او امام الشهب رحمه الله د روایت مطابق د امام مالك رحمه الله مذهب دادې چه په کتابیه باندې احداد لازم نه دې په دې وجه چه د رسول الله ﷺ د پاك ارشاد: «لایؤمن لامرأة تؤمن بالله والیوم الآخر.... الخ» نه هم دغه معلومیږی چه احداد هم د مسلمانانو ښځو نه مطلوب اومقصود دې.[1]

د زوجهٔ صغیره دپاره داحدادحکم: د صغیره ښځې باره کښې اختلاف دې. د جمهور فقهاؤ مذهب دادې چه په صغیره باندې هم احداد لازم دې ځکه چه احداد دعدت تابع دې اود هغې د ولی په ذمه دې چه هغه دې دغه صغیره د احداد د منافی کارونونه منع کړی. دغه شان د ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دې چه یوه ښځه د حضورپاك په خدمت کښې حاضره شوه اوونې وئیل اې دالله تعالی رسول ﷺ! زما د لورد خاوند انتقال شوې دې اودهغې په سترګه کښې د درد شکایت دې نوآیا هغه رانجه استعمالولې شی؟ نو حضورپاك هغه منع کړه. په دې واقعه کښې حضورپاك دهغه جینئی دعمر باره کښې معلومات اوه کړل اودا اصول دی چه کله په مقام د سوال کښې تفصیل طلب نه کړې شی نوهغه دعموم دلیل وی لهذا دلته به هم حکم عام وی اوصغیره اوکبیره دواړو ته به شامل وی.[2]

د حضرات حنفیه رحمهم الله مذهب دادې چه په صغیره باندې احداد نشته دې دهغوی استدلال ددې روایت نه دې: «رفع القلم عن ثلاث: عن النائم حتی یستیقظ، وعن المبتلی حتی یبرأ وعن الصبی حتی یکبر» یعنی درې کسان مرفوع القلم دی یعنی د احکامو مکلف نه دی. یوپه هغوی کښې نائم دې تردې چه هغه د خوب نه بیدار شی. دویم مجنون دې ترکومې چه دهغه د جنون نه افاقه اونه شی او دریم ماشوم دې ترکومې چه هغه بالغ نه شی. نور احناف رحمهم الله فرمائی که چرې صغیره د عدت دوران کښې بالغه شی نود عدت په باقی ورځو کښې به احداد واجب وی.[3] علامه ابن ملقن رحمه الله فرمائی چه دحدیث د ظاهر نه دا معلومیږی چه احداد په هره واده کړې ښځه باندې واجب دې که هغه مدخول بها وی اویا غیرمدخول بها، که بالغه وی اوکه نابالغه وی، یا که آزاده وی اوکه وینځه وی. البته د امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دادې چه په صغیره او وینځه باندې احداد نشته.[4]

هم دغه شان داهم فرمائی چه د حدیث د ظاهرنه دا هم معلومیږی چه زوجهٔ کتابیه د کومې خاوند چه مسلمان مړشی باندې احداد واجب نه دې.[5]

[1] المجموع شرح المهذب: ۳۶/۲۰التوضیح:۷۱/۵الاستذکار: ۵/ ۲۴۰-۲۳۹عمدة القاری: ۴۲۰/۳.
[2] المجموع شرح المهذب: ۳۶/۲۰.
[3] بدائع الصنائع: ۴۶۳/۴-۴۶۲حاشیة ابن عابدین: ۲۱۹/۵.
[4] التوضیح: ۷۱/۵عمدة القاری:۴۲۰/۳-۴۱۹.
[5] التوضیح: ۷۱/۵عمدة القاری: ۴۲۰/۳.

ماتم كونكې ښځه به دكومو كارونونه ځان ساتي؟ په دې خبره باندې ټول ائمه مجتهدين او فقهاء متفق دي چه د ماتم والاښځه به د هغه ټولو كارونونه بالكليه اجتناب كوي چه په شريعت كښې يا په عرف كښې زينت ګڼرلې شي. كه د دغه امورو تعلق د بدن سره وي يا كپړو سره وي يا كه داسې امور وي د كوم طرف ته چه خلق په غلط نظر سره ګوري لكه د كور نه وتل يا د نكاح پيغام وركول وغيره.[۱] البته بعض څيزونه داسې دي دكوم په منع كيدو يا نه منع كيدوكښې چه د ائمه فقهاء په مينځ كښې اختلاف وي. ليكن په تحقيق سره داخبره ثابتيږي چه د دغه فقهاؤ دا اختلاف په حقيقت كښې دعرف په اختلاف باندې مبنى دې. لهذا په كوم عرف كښې چه كوم څيز زينت شميرلې كيږي هغه فقهاؤ منع كړو اوكوم چه زينت نه شميرلې كيدو نوهغه فقهاؤ په ممنوعاتوكښې هم شميرنه كړل. مګر دې سره سره داخبره هم وه چه هم يو څيزد بعض په نيز يا د بعض په عرف كښې زينت ګڼرلې شي اود بعض په نيز ددې عكس وي. بل چه څومره ممنوعات او محظورات دى هغه ټول خود بدن سره متعلق دى يا كپړو سره يا كالو سره يا پيغام د نكاح سره يا بيا د شپې تيرولوسره متعلق دى.

① **محظورات بدنيه:** په ماتم كونكې ښځه باندې ددې څيزونو استعمالول حرام دى د كومې تعلق چه د بدن د زينت سره وى لكه خوشبوئي، تيل، رانجه، وسمه اود ګمنز استعمال، ځكه چه د حضرت ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ معتده د نكريزو لګولونه منع كړې ده. اوعلت ئې دا بيان كړې دې چه نكريزې خوشبوئى ده ددې نه معلومه شوه چه د خوشبوئى نه اجتناب كول محده (ماتم كونكې ښځه) باندې واجب دى. ددې نه علاوه داخبره هم واضحه ده چه خوشبوئى په زينت كيدوكښې د نكريزو نه زياته ده. لهذا سره ددې چه حضورپاك صراحةً د نكريزو نه منع فرمائيلې ليكن دلالةً د خوشبوئى نه ممانعت هم ثابتيږي. دغه شان تيل اورانجه دى چه تيل د ويښتو دپاره زينت او ښائست دې اورانجه دسترګو دپاره. په دې وجه په محده باندې ددې استعمال هم حرام دې.

داخبره دې واضحه وى چه داحكم دغامو حالاتودپاره دې د ضرورت په موقع باندې دغه محده ددې څيزونو استعمال كولې شى لكه چه په سترګوكښې درد دې اود علاج په توګه رانجه استعمالول ضرورى دى نو رانجه استعمالولې شى يا په سركښې تكليف دې نوبغيرد خوشبوئى والا ګمنزه استعمالولې شى. يا هغې سره بغيرد رنګدارو كپړونه بل څه كپړې نشته نو په داسې موقع باندې هغه هم دغه رنګدارې كپړې استعمالولې شى خو په دې كښې دا ضرورى دى چه د زينت اوځان ښائسته كولو قصد اواراده شامل حال نه وى.[۲]

② **محظورات لباس:** دكومو كپړو متعلق چه د ممانعتونصوص راغلى دى لكه دعصفر اوزعفران سره رنګ كړې شوې كپړې ځكه چه دې نه خوشبوئى خوريږى نوداسې كپړو سره به دهغه كپړو استعمال هم منع وى كوم چه په عرف كښې زينت ګڼرلې شى لكه ريښمنې كپړې رنګدارې اوګلدارې كپړې. بله په عدت كښې داسې كپړې اچول هم ناجائز دى چه د معتده د ښائست سبب وى سره ددې چه هغه د تور رنګ يا پيكه رنګ والا ولې نه وى. البته فقهاؤ ليكلى دى چه دا احكام هغه وخت دى كله چه داكپړې نوې وى اود زينت سبب وى. خوكه نم دغه رنګدار ګلدارې كپړې دومره زړې او مخلې وى چه دغه وخت د هغې نه د زينت كار نه شى اخستلې نوبيا دهغې په اغوستلوكښې څه حرج

---

[۱]) حاشية ابن عابدين: ۲۱۷/۵المجموع شرح المهذب: ۳۷/۲۰.

[۲]) المجموع شرح المهذب: ۳۸/۲۰حاشية ابن عابدين: ۲۱۹/۵-۲۱۷المغنى لابن قدامة: ۱۶۸/۹-۱۶۷.

نشته دي (۱)

④ **د كالو ممانعت**: په محده باندې دعدت په ورځوكښې كالي اچول هم حرام دي كه هغه كالي د سرو زرو نه جوړ وي اوكه د سپينو زرو نه يا بيا د نورو هيرو اومرغلرو نه جوړشوې وي. ځكه چه كالي هم د زينت د پاره استعمالولې شي. لهذا د خاوند د مرګ خبر په اوريدو باندې په ښځه باندې كالي پترى كوزول لازم او ضروري دي. (۲)

④ **د نكاح د پيغام نه ممانعت** په عدت كښې د نكاح ليګلو سره متعلق حكم دادې كه چرې معتده متوفى عنها زوجها ده نوهغې ته په صراحت سره پيغام د نكاح ليګل حرام دي. البته د نكاح صراحت كولونه بغيركنايةً د نكاح پيغام ورليګلې شي لكه چه په دې جملوكښې د نكاح تصريح نشته زما نه خوښه نې، زه ستاد شخصيت نه متاثره يم. ته ډيره ښائسته ئې. زه غواړم چه مونږ يو شو وغيره وغيره. اوكه هغه معتده طلاق ده سره د دې كه هغه مطلقه بائنه وي يا مطلقه رجعيه وي نودهغې طرف ته د نكاح پيغام ليګل نه صراحةً جائز دي اونه اشارةً اوكنايةً.(۳)

⑤ **د كورنه د وتلو ممانعت**: فقهاء كرامو ليكلي دي چه معتده د طلاق دپاره نه د ورځې وختونوكښې د كور نه د وتلو اجازت دې اونه د شپې په وختونوكښې. البته د معتده د وفات د پاره اصلاح معاش دپاره دورځې په وختونوكښې د وتلو اجازت دې ځكه چه دهغې نان نفقه اوس پخپله هم دهغې ذمه وارى ده اود معتده طلاق نفقه د خاوند ذمه وارى ده. دغه شان محده باندې لازم دي چه هغه دې شپه هم د خاوند په كوركښې تيره كړى بل چرته د شپې تيرولو اجازت نشته. ځكه چه په غزوه احد كښې د ځه اصحاب رسول ﷺ شهادت اوشو نودهغوى كونډې بيبيانې د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضرې شوې اوعرض ئې اوكړو اې دالله تعالى رسول ﷺ ! مونږ د شپې ويريږو نو آيا مونږ داسې كولې شوچه شپه يوې بلې سره د تيرولونه پس سحر وختي خپلو خپلو كورونوته واپس شو؟ حضورپاك اوفرمائيل چه تاسو خپل مينځ كښې خبرې كولې شئې خوچه كله د خوب اراده وى نو هره يوه دې خپل كور ته واپس شي.(۴)بل په معتده باندې لازم دى چه هغه دې خپل عدت په هغه كوركښې تيركړى چرته چه به هغه خپل خاوند سره اوسيدله. البته د ضرورت موقع ددې حكم نه مستثنى ده. لكه چه د كور د ورانيدو خطره وى، يا كور د كرايه وى اود معتده وفات د كرايه وركولو طاقت نه وى نو په داسې مواقع باندې چرته بل ځائى خپله ټكانه جوړولې شي.(۵)

مباح امور: د محده دپاره دخپل بدن نه اوكېږو نه خيرى وغيره لرې كولوكښې ځه حرج نشته دې لكه د نوكونو پرې كول، د ترخونو ويښته لرې كول، بغيرد خوشبوئى والاصابن سره لامبل او سر وغيره وينځل. (۶)

---

(۱) المجموع شرح المهذب: ۳۹/۲۰حاشية ابن عابدين: ۲۱۹-۵/۲۱۸.

(۲) المجموع شرح المهذب: ۳۹/۲۰حاشية ابن عابدين: ۲۱۷/۵المغنى لابن قدامة: ۱۶۸/۹.

(۳) حاشية ابن عابدين: ۲۲۲/۵-۲۲۱.

(۴) حاشية ابن عابدين: ۲۲۵/۵-۲۲۳.

(۵) المغنى لابن قدامة: ۱۶۸/۹.

(۶) المغنى لابن قدامة: ۱۶۸/۹.

قوله:: قال: رواه هشام بن حسان عن حفصة عن أم عطية عن النبي ﷺ، شراح حديث فرمائي چه د ابوزر رحمه الله په نسخه کښې الفاظ هم داسې دی خود نورو حضراتو په نسخو کښې "ورواه" الفاظ دی.([1])

دامام بخاری رحمه الله مقصد داخودل دی چه داحديث دهشام بن حسان رحمه الله په طریق سره موصول دې اوامام بخاري رحمه الله کتاب الطلاق باب تلبس الحادة ثياب العصب کښې داحدیث د هشام بن حسان رحمه الله په طریق سره موصولا هم روایت کړې دې.([2])

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه دا د امام بخاری رحمه الله د طرف نه پیش کړې شوې يوتعليق دې اویا بیا د حماد رحمه الله مقوله ده. که چرې داد حماد رحمه الله مقوله اوګرخولې شی نوبیابه دا هم مسند وی.([3])مګر شراح حدیث د علامه کرمانی رحمه الله په دې کلام باندې نقد کړې دې. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی د علامه کرمانی رحمه الله داد حماد رحمه الله مقوله ګرخول بعید دی.([4]) دغه شان علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دا تعليق ګرخول خو واضحه دی مګر دا د حماد رحمه الله مقوله ګرخولو څه وجه نه معلومیږی.([5])

حاصل دکلام دادې چه د امام بخاری رحمه الله مقصد ددې خبرې نه داخودل دی چه دا حدیث د هشام بن حسان رحمه الله په طریق سره موصول دې مګر په دې باندې دا اشکال نه وی چه د ایوب رحمه الله روایت موقوف دې ځکه چه امام بخاری رحمه الله دهغوی په طریق کښې «عن أم عطية عن النبي» نه دې ونيلې ځکه چه د كنا يا كانوا په شان د الفاظو مطلب دا وی چه داسې د رسول الله ﷺ په زمانه کښې واقع شوی دی اورسول الله ﷺ دا ثابت ساتلی دی ددې نه ئې منع نه ده فرمائيلې لهذا دا هم مرفوع روایت دې.([6])

د حديث ترجمة الباب سره مناسبت: ترجمة الباب د حديث د دې ټکړې نه ثابتيږی «وقد رخص لنا عند الطهر إذا اغتسلت إحدانا من محيضها في نبذة من كست أظفار» ځکه چه په ترجمة الباب اوحديث دواړو کښې دغسل حیض د فراغت نه پس د خوشبوئی لګولو ذکر دې.([7])

۱۳ - باب: دَلْكِ الْمَرْأَةِ نَفْسَهَا إِذَا تَطَهَّرَتْ مِنَ الْمَحِيضِ، وَكَيْفَ تَغْتَسِلُ وَتَأْخُذُ فِرْصَةً مُمَسَّكَةً، فَتَتَّبِعُ أَثَرَ الدَّمِ.

اعراب: "وكيف تغتسل" د دې عطف په «دلك المرأة نفسها» باندې دې اود "تأخذ" عطف په "تغتسل" باندې دې. ددې توضیح نه پس د ترجمة الباب مفهوم دا شو چه امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې دا لاندینی امور بیان کړی دی:

---

[1]) فتح الباري:۱/۴۱۳ عمدة القاري: ۳/۴۲۱.
[2]) فتح الباري:۱/۴۱۳ عمدة القاري: ۳/۴۲۱.
[3]) شرح الكرماني: ۳/۱۷۹.
[4]) فتح الباري:۱/۴۱۳.
[5]) عمدة القاري:۳/۴۲۱.
[6]) شرح الكرماني: ۳/۱۷۹.
[7]) عمدة القاري:۳/۲۸۱.

① د ښځې دپاره مستحب دی چه هغه دې دحيض د پاکوالی نه پس غسل کولووخت کښې اندامونه مړلو سره اووينځي. ② ښځه به د حيض غسل څنګه کوی. ③ وړنی مالوچ يا د څرمن ټکړه دې واخلی. ④ اوبيا دې ددې په امداد سره د وينې اثرات لرې کړی.[1]

ماقبل سره ربط: سابقه باب سره ئی ربط دادې چه په سابقه باب کښې هم د خوشبوئی استعمالول ذکر وو او په دې باب کښې هم د خوشبوئی د استعمال ذکر دې.[2]

قوله:: فرصة: دا لفظ درېواړه شان لوستلې شي البته په کسره سره زيات مشهور دې اوددې معنی وړنی يا دمالوچو ټکړه راځی.[3] ابوعبيد رحمه الله فرصة د مالوچو يا وړنی سره نه دې مختص کړې بلکه دهغوی په نيز د فرصة اطلاق د هرڅه په ټکړه کيدې شی که هغه د وړنی يا د مالوچو ټکړه وی اوکه د بل څه څيز ټکړه وی. خو ابن عدليس رحمه الله فرمائی فرصة د مشک ټکړې ته وائی.[4]

ابن قتيبه رحمه الله ددې لفظ په فاء سره د کيدو نه انکار کړې دې او وئيلی دی چه دا لفظ قرضة (قاف او ضاد) سره دې.دکوم معنی چه د ټکړې ده او بعض خودا لفظ قرصة (قاف او صاد) سره لوستلې دې. ابن المنذر رحمه الله فرمائی چه د قرضة معنی ده ((الشيءاليسير)) يعنی لږ شان څيز.[5]

قوله:: ممسكة: په دې لفظ کښې دوه احتماله دی. يوخودادې چه دا لفظ ممَسَّكة بضم الميم الأولى وفتح الثانية وتشديد السين المعجمة اولوستلې شی په داسې صورت کښې به معنی دا وی چه هغه ښځه دې د وړنی مالوچو يا د بل څه څيز ټکړه واخلی چه په مشک کښې ملاؤ شوې وی يعنی مطيبة عسك. دويم احتمال دادې چه دا لفظ مُمْسَكة اولوستلې شی يعنی بضم الميم الأولى وسكون الثانية وفتح السين المعجمة وكسرها نو په داسې صورت کښې به مطلب داشی چه هغه ښځه دې د وړنی يا مالوچو خپره استعمال کړی چه ډيره جذب کونکې وی.[6] علامه زمخشری رحمه الله فرمائی چه مراد دادې چه د وړنی يا مالوچو زړه خپره دې استعمال کړی ځکه چه ددې کارد پاره د نوې په نسبت زړه ډيره موزون ده.[7] علامه نووی رحمه الله ابن ملقن رحمه الله علامه قسطلانی رحمه الله او شيخ الاسلام زکريا انصاری رحمه الله وغيره اول احتمال اختيارکړې دې.[8] شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائی په دې ټولواقوالوکښې اوجه هم دغه دی چه فرصة ممسكة نه مراد دمشک ټکړه ده (يا په مشک کښې ملاؤ شوې دهريوڅيز ټکړه مراد ده) په کوم سره چه خرابه بدبوئی ختمه کړې شی.[9] هم شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائی چه بعض حضراتود

---

[1] عمدة القاری: ۲۸٤/۳.
[2] عمدة القاری: ۲۸٤/۳.
[3] التوضيح لابن ملقن: ۸۱/۵عمدة القاری: ۲۸٤/۳.
[4] عمدة القاری: ۲۸۵/۳.
[5] فتح الباری: ۵٤۷/۱.
[6] التوضيح: ۸۲/۵عمدة القاری:۲۸٦/۳، ۲۸٤.
[7] التوضيح: ۸۲/۵عمدة القاری:۲۸٦/۳، ۲۸٤.
[8] التوضيح: ۸۲/۵أرشادالساری: ۵۵۳/۱تحفة الباری: ۲۵۱/۱.
[9] الكنزالمتواری:۲۷۳/۳.

مُمسكة معنى په لاس كښې نيولې شوې خودلې ده ليكن دا بالكل غلط دى ځكه چه دا كپړا خو هم په لاس كښې نيولې كيږى.(۱)

د ترجمة الباب مقصد: امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې «دلك المرأة نفسها» الفاظ ذكر كړى دى. د نفس دوه معنې كيدې شى يو وينه او بل بدن.(۲)

ددواړو معانو په لحاظ سره به د ترجمه مقصد جدا جدا شى. د رومبې معنى په اعتبارسره به مقصود داخودل شى چه ښځه دې د حيض په غسل كښې د وينو چاپونه ښه اومږى اود دويمې معنې په لحاظ سره به مقصود دا شى چه دحيض په غسل كښې دې ښځه خپل بدن ښه اومږى.(۳)

باقى دومره خبره به په دواړو ترجموكښې مشترك پاتې شى چه آيا د حيض د غسل كيفيت دعام غسل په شان دې چه اوبه ئى اوبهيولې اوفارغ شو يا ددې څه خاص كيفيت دې. چنانچه په حديث شريف كښې ددې غسل يوخاص كيفيت بيان كړې شوې دې چه بدن مړلو سره وينځل پكارذدى اود بدن په مخصوص حصه چرته چرته چه د وينو چاپونه دى هغه دې اولټوى او په هغې باندې مشك يا بل څه خوشبودار څيز استعمالول پكاردى. د مشك دا خاصه ده چه د څرمن مړژواندې حالت ختموى او تازګى بحال كوى او چونكه دحيض په وينه كښې سميت يعنى راغونډول وى دكوم په نتيجه كښې چه مخصوص حصه د بدن څرمن راغونډيږى په دې وجه د مشك داستعمال تاكيدكړې شوې دى.(۴)

دويم مصلحت دادې چه كه د مشك داستعمال نه پس دوينې چاپ باقى هم پاتې شى نوداً به ګنړلې شى چه دا وينه نه ده بلكه مشك دى. لكه چه دا د تعلق نفس يوښه صورت دې د كوم چه زوجين ته ضرورت هم وى. ځكه چه كه څاپ پاتې شى اود خاوند نظر پرې اولګى نو په هغه باندې به د انقباض كيفيت شروع شى چه زياتيدوسره به د اختلاف اوكركې طرف ته اورسى.

دريم مصلحت دادې چه ارباب تجارت ليكلى دى چه د حيض د فراغت نه پس دبدن په دغه حصه باندې د خوشبوئى استعمال دعلوق نطفه دپاره معاون دى. ښځه خو په دغه ورخوكښې هسې هم د نقطه دقبلولوصلاحيت لرى دخوشبوئى استعمال به په دغه مقصد كښې نور هم ممداومعاون شى.(۵)

الحديث الأول

[۳۰۸]-حَدَّثَنَا يَحْيَى، قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مَنْصُورِبْنِ صَفِيَّةَ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ امْرَأَةً سَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ غُسْلِهَا مِنَ المَحِيضِ، فَأَمَرَهَا كَيْفَ تَغْتَسِلُ، قَالَ: «خُذِي فِرْصَةً مِنْ مَسْكٍ، فَتَطَهَّرِي بِهَا» قَالَتْ: كَيْفَ أَتَطَهَّرُ؟ قَالَ: «تَطَهَّرِي بِهَا»، قَالَتْ: كَيْفَ؟، قَالَ: «سُبْحَانَ اللَّهِ، تَطَهَّرِي» فَاجْتَبَذْتُهَا إِلَيَّ، فَقُلْتُ: تَتَبَّعِي بِهَا أَثَرَ الدَّمِ.»[۳۰۹، ۷۳۵۷]

---

۱) سراج القاري:۲۷۶/۲.

۲) إيضاح البخاري:۱۰۹/۱۱.

۳) فضل الباري: ۴۷۹/۲.

۴) إيضاح البخاري:۱۰۹/۱۱.

۵) إيضاح البخاري:۱۰۹/۱۱.

ترجمه: د حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه يوې ښځې د نبی كريم ﷺ نه د خپل حيض د غسل باره كښې تپوس اوكړو نوحضورپاك دې ښځې ته د غسل كيفيت خودلو سره اوفرمائيل چه د مشك ملاؤ شوې د وړنې وغيره خپره واخله اوبيا په دې سره پاكی حاصله كړه. دې ښځې تپوس اوكړو چه څنګه پاكی حاصله كړم؟ حضورپاك بيا جواب وركړو چه په دغه (خپره) سره پاكی حاصله كړه. دغه ښځې بيا تپوس اوكړو (مګر) څنګه؟ نو حضورپاك اوفرمائيل سبحان الله پاكی حاصله كړه (حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه) بيا ما هغه خپل طرف ته راښكله او ورته مې اووئيل دا (دمشك ملاؤشوې خپره) واخله د وينو چاپونه اولټوه او صفائی كړه.

تراجم رجال

يحيى: د يحيى رحمه الله د حالات پيژندلو نه وړاندې ددې خبرې تعيين كول ضروری دی چه دلته دحديث په دې سند كښې د يحيى نه مراد څوك دې؟ آيا يحيى بن موسی بلخی رحمه الله دې يا يحيى بن جعفر رحمه الله يا يحيى بن معاويه بن اعين رحمه الله مراد دې؟ نو اكثر شراح لكه علامه ابن ملقن رحمه الله علامه كرمانی رحمه الله حافظ ابن حجر رحمه الله علامه عينی رحمه الله وغيره يحيى بن موسى بلخی رحمه الله خودلې دې. (٢)هم په دې باندې ابن السكن رحمه الله هم جزم فرمائيلې دې خو علامه بيهقی رحمه الله فرمائی چه يحيى بن جعفر رحمه الله مراد دې. (٣)

غسانی رحمه الله په تقييد المهمل كښې د ابن السكن رحمه الله په حواله سره تحريرفرمائيلې دی چه باب الحيض كښې مذكور د يحيى عن ابن عيينه نه يحيى بن موسى رحمه الله مراد دې. په يوبل مقام باندې هم د ابن السكن رحمه الله په حواله په توكه د قاعده كليه فرمائی چه امام بخاری رحمه الله په خپل صحيح كښې چرته چرته چه يحيى بغير د نسب نه ذكركړې دې هلته ديحيى نه مراد يحيى ابن موسى بلخی رحمه الله كوم چه "خت" (بفتح الخاء المنقطة وشدة المثناة) په لقب سره هم مشهوردې. دغه شان "ختي" او "ابن خت" په لقب سره هم مشهور وو دهغوی شمير په اصحاب خيركښې كيدلو اودهغوی انتقال ۲۴۰هجری كښې شوې. (٤)

ابونصر كلابازی رحمه الله فرمائی چه د يحيى نه مراد يحيى بن جعفر بيكندی رحمه الله دې چه دابن عيينه رحمه الله نه هم روايت كوی (٥)په دې باندې علامه كرمانی رحمه الله فرمائی مونږ سره موجود نسخوكښې هم يحيى بن جعفر بيكندی عن ابن عيينه په طريق سره سند موجود دې. (٦) ابن ملقن رحمه الله فرمائی بعض شراح ليكلی دی چه يحيى بن معاويه بن اعين رحمه الله مراد دې خومونږ ددې نوم يو راوی په صحيح

[1] قوله: عائشة: الحديث، رواه البخاري في باب غسل المحيض أيضاً المذكور عقيب هذا الباب، رقم الحديث: ٣١٥ وفي كتاب الاعتصام، في باب الأحكام التي تعرف بالدلائل رقم الحديث: ٧٣٥٧ورواه مسلم في الحيض، في باب استحباب استعمال المغتسلة من الحيض الخ رقم الحديث: ٧٤٨وأبوداؤد في الطهارة في باب الاغتسال من الحيض رقم الحديث: ٣١٤، ٣١٦ والنسائي في الطهارة في باب ذكر العمل في الغسل من الحيض رقم الحديث: ٢٥٢.

[2] التوضيح: ٧٨/٥شرح الكرماني:١٨٠/٣فتح الباري: ٥٤٦/١عمدة القاري: ٢٨٥/٣.

[3] فتح الباري: ٥٤٦/١عمدة القاري:٢٨٥/٣شرح الكرماني: ١٨٠/٣التوضيح: ٧٨/٥.

[4] عمدة القاري:٢٨٥/٣شرح الكرماني:١٨٠/٣.

[5] عمدة القاري:٢٨٥/٣شرح الكرماني:١٨٠/٣.

[6] شرح الكرماني: ١٨٠/٣.

بخاری کښې نه دې ليدلی.[1] بهرحال ددې امر د وضاحت نه پس داکثر شراح په نيز د يحيی نه مراد يحيی بن موسی بلخی رحمه الله دې اوس دهغوی تفصيلی حالات اوګورئی.

يحيی بن موسی: دا يحيی بن موسی بن عبدربه بن سالم حدانی بلخی سختيانی رحمه الله دې ددوی کنيت ابوزکريا دې. دې اصلاً کوفی دې او په "ختّ" سره پيژندلې شو.[2]

هغوی د ابن عيينه، ابومعاويه الضرير، وليد بن مسلم، ابوبکر حنفی، محمدبن عبيد طنافسی، شبابه بن سوار، عبدالله بن نمير، يزيدبن هارون، ابوداؤد طيالسی، يحيی بن يمان، عبدالرزاق او سعيد بن منصور رحمهم الله وغيره نه د حديث روايت کړې دې. ددوی نه امام بخاری، امام ابوداؤد، امام ترمذی، امام نسائی، عبدالله بن عبدالرحمن دارمی، موسی بن هارون، جعفر بن فريابی، محمدبن اسحاق ثقفی اوحسن بن سفيان رحمهم الله وغيره روايت دحديث کړې دې.[3]

امام ابوزرعه رحمه الله اوامام نسائی رحمه الله فرمائی **ثقة**.[4] محمدبن اسحاق ثقفی رحمه الله فرمائی **ثقة مأمون**. ددې نه علاوه په يوبل مقام باندې فرمائی: «كان من ثقات الناس»[5] موسیٰ بن هارون رحمه الله فرمائی «**كان من خيار المسلمين**».[6] دارقطنی رحمه الله فرمائی «**كان من الثقات**».[7] ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.[8] مسلمه رحمه الله فرمائی **ثقة**.[9]

دهغوی په تاريخ وفات کښې اختلاف دې. امام بخاری رحمه الله فرمائی ددوی انتقال په ۲۴۰هجری کښې شوې. موسیٰ بن هارون رحمه الله فرمائی چه دهغوی انتقال ۲۴۰ يا ۲۴۱هجری کښې شوې. خود دوی نه علاوه نور حضرات فرمائی دهغوی انتقال په ۲۳۹هجری کښې درمضان په مياشت کښې شوې.[10] حافظ ابن حجر رحمه الله هم دا آخری ذکرشوې قول نقل کولونه پس فرمائی چه هم دا قول قراب، شيرازی اوکلابازی رحمهم الله وغيره هم ذکرکړې دې.[11]

ابن عيينة: دامشهور محدث سفيان بن عيينه بن ابی عمران هلالی کوفی رحمه الله دې. ددوی تفصيلی حالات کتاب العلم باب م رفع صوته بالعلم لاندې تيرشوی دی.[12]

صفية: دا صفيه بنت شيبه بن عثمان بن ابی طلحه العبدريه رضی الله عنها ده. ددې حالات **كتاب الغسل باب من بدأ بشق رأسه الأيمن في الغسل** لاندې تيرشوی دی.

---

[1] التوضيح: ۷۹/۵.

[2] تهذيب الكمال: ۳۲/۷-۶الجرح والتعديل: ۱۹/۲۳۱الأنساب: ۳۲۵/۲.

[3] دتلامذه او مشائخ د تفصيل دپاره اوګورئی تهذيب الكمال: ۷/۲۳تهذيب التهذيب: ۲۸۹/۱۱.

[4] تهذيب الكمال: ۹/۳۲تهذيب التهذيب: ۲۹۰/۱۱.

[5] تهذيب الكمال: ۹/۳۲تهذيب التهذيب: ۲۹۰/۱۱.

[6] تهذيب الكمال: ۹/۳۲تهذيب التهذيب: ۲۹۰/۱۱.

[7] تهذيب الكمال: ۹/۳۲تهذيب التهذيب: ۲۹۰/۱۱.

[8] ۲۶۷/۹.

[9] تهذيب التهذيب: ۲۹۰/۱۱.

[10] تهذيب الكمال: ۹/۳۲تهذيب التهذيب: ۲۹۰/۱۱التوضيح: ۷۹/۵.

[11] تهذيب التهذيب: ۲۹۰/۱۱.

[12] كشف البارى: ۱۰۲/۳.

عائشة:دا ام المؤمنين حضرت سيده عائشه بنت ابى بكر صديق رضي الله عنها ده. ددوى حالات «بدء الوحى» ددويم حديث لاندې تفصيلاً تيرشوى دى. (۱)

شرح حديث

په دې حديث كښې د دې خبرې ذكر دې چه يوې ښځې د رسول الله ﷺ نه د حيض دغسل باره كښې سوال اوكړو. اوس چونكه دغسل معروف طريقه خو ټولوته معلومه شوه په دې وجه حضورپاك هغه بيان نه كړه بلكه چه په غسل حيض كښې كوم خاص فرق وو هغه ئې ذكر كړو چه د وړنى يا كپړې يوه ټكړه واخله او بيا په هغې باندې مشك لګولوسره طهارت حاصل كړه. د هغه ښځې په پوهه كښې دغه خبره رانغله نوهغې تپوس اوكړو كيف اطهر؟يعنى مشك خو څه سيال څيز نه دې بيا به په هغې سره د غسل څه كيفيت وى.حضورپاك دوباره هم هغه اوفرمائيل چه پاكى حاصله كړه. كله چه هغه په دې باندې هم پوهه نه شوه نوحضورپاك دحيا دوجې نه خپل مخ مبارك واړولو(۲)اوونى فرمائيل سبحان الله دومره هم نه پوهيږې حالانكه ښځې په خپلو معاملاتو باندې پوهيږى. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه زه درسول الله ﷺ په مقصد باندې پوهه شوې ووم په دې وجه دغه ښځه ما خپل طرف ته راښكله او هغه مې پوهه كړه چه د وينې چاپونه اولټوه او ددغه په مشك ملاؤشوې كپړه باندې هغه مړل پكاردى.

قوله:: مسك:

لفظ مسك اومحدثينو اختلاف: دا لفظ مسك دميم په كسره سره لوستلې شى دكوم معنى چه مشك يعنى خوشبوئى راځى اوپه ترجمة الباب كښې هم مُمَسَّكَة اول ميم ضمه دويم فتحه او سين مشدد سره مذكوردې. په دې لحاظ سره به معنى هم هغه شى كومه چه وړاندې تيره شوه. يعنى مشك (يا دمشك سره ملاؤ شوې مالوچ يا وړنى وغيره) ټكړه دې واخلى. بعض حضرات فرمائى چه دا لفظ مسك دميم كسره سره نه دې بلكه مسك دميم فتحه سره دې د كوم معنى چه څرمن راځى. يعنى داسې څرمن په كوم باندې چه څه ويښته هم وى. قاضى عياض رحمه الله داقول داكثر روايت ګرځولې دې. په دې لحاظ سره مطلب دا جوړيږى چه هغه ښځه دې د څرمن ټكړه واخلى او په دې سره دې مخصوص حصه د بدن اومږى.(۳)

اودا قول دغه حضراتو ځكه اختيار كړې دې چه مشك خو يو قيمتى څيزدې دومره مشك به دچرته نه راوړى كوم چه هره مياشت هره ښځه استعمال كړې شى په دې وجه دا مسك نه بلكه مسك دې. (۴)

ليكن د دغه حضراتو دا قياس ټيك نه دې ځكه چه اول خو مشك دعربو په نيزڅه دومره نه ملاويدونكې څيزنه وو چه نه پيداكيدو. بل دا چه ددې استعمال دهرې يوې ښځې د استعمالول ضرورى نه ګرځولې شوى، بلكه د چا دپاره چه ددې حاصلول ممكن وى هغه دې استعمال كړى ګنى ددې په ځائې نورې خوشبوئى هم استعمالولې شى ځكه چه مقصد خو په څرمن باندې ترو تازګى راوستل دى اوبدبوئى لرې كول دى.(۵)

---

(۱) كشف البارى: ۲۹۱/۱.

(۲) كذا فى الرواية الاتية.

(۳) التوضيح: ۸۲/۵شرح الكرمانى: ۱۸۱/۳فتح البارى: ۵٤۷/۱عمدة القارى: ۲۸۵/۳.

(۴) التوضيح: ۸۲/۵ فتح البارى: ۵٤۷/۱عمدة القارى: ۲۸۵/۳.

(۵) فتح البارى: ۵٤۷/۱.

ابن قتيبه رحمه الله هم دا لفظ مسك لوستلې دې خودا نې د څرمن په معنی کښې نه دې اخستې ځکه چه دهغوی په قول په څرمن کښې هغه صلاحیت نشته دې چه هغه یوځیز جدا او لرې کړې شی. دهغوی په نیزحدیث ددې ټکړې مطلب دادې چه ښځه دې د حیض د غسل نه فارغیدو نه پس د ورنې یا مالوچو وغیره ټکړه واخلی په کومې چه مشك لګیدلې وی بیا دې په هغې باندې پاکی حاصله کړی.[1]

ابن قتیبه رحمه الله خو یوطرف ته دا لفظ مسك په کسره دمیم نه ګرځوی او بل طرف ته هم پخپله وائی چه مراد ترې دمشك ملاؤشوې ورنې یا مالوچ وغیره ټکړه ده. کیدې شی هم په دې وجه امام خطابی رحمه الله د ابن قتیبه رحمه الله قول "مشك هریو ته چرته ملاویږی؟" خو اشبه ګرځولې مګر دهغوی د قول دویمه حصه چه مراد دمشك سره ملاؤ شوې مالوچ یا ورنې وغیره ټکړه ده، بعید ګرځولې دې.[2]

امام نووی رحمه الله مِسك په کسره دمیم لوستل راجح ګرځولو نه پس ددې دترجیح وجه ذکرکولوسره فرمائی چه هغه روایات کوم کښې چه "فرصة ممسكة" الفاظ دی هغه ددې لفظ دمیم دکسره سره کیدو باندې دلالت کوی.[3]

امام خطابی رحمه الله د امام نووی رحمه الله د قول تردیدکولوسره فرمائی چه دا احتمال هم شته چه دا لفظ مُمَسَّكة «بضم الميم الأولى وسكون الثانية وفتح السين» دکوم مطلب چه به داشی «خذي قطعة مأخوذة» یعنی په لاس کښې نیولې شوې کپړه واخله.[4] دغه شان ددې لفظ مسك په کسره دمیم کیدو باندې یو دلیل داهم دې چه دا د مصنف ابن عبدالرزاق رحمه الله د روایت موافق دې ځکه چه دهغه روایت کښې لفظ "ذريرة" استعمال شوې دې دکوم معنی چه هم دخوشبوئی راځی.[5]

دې نه پس امام نووی رحمه الله دا بحث هم ذکرکړې چه د مشك په استعمال سره مقصد بدبوئی ختمول دی یا بیاددې داستعمال وجه داده چه دا مشك دحمل په استقرارکښې معاون دې؟ اوس که چرې رومبې صورت واخستې شی چه مقصد بدبوئی لرې کوی دی نوبیا د مشك نه ملاویدو په صورت کښې به ښځه دخوشبو څه بل ځیز استعمالوی. اوکه چرې دویم صورت واخستې شی چه دامشك د حمل په استقرارکښې معاون دی نود مشك نه ملاویدو په صورت کښې به ښځه د خوشبوئی داسې ځیز استعمالوی کوم چه د حمل په استقرارکښې معاون وی. خو امام نووی رحمه الله ددویم صورت تغلیط کړې دې ځکه چه که چرې هم دغه خبره وې نو بیا به دا حکم د واده کړې ښځې دپاره خاص وې خود روایاتو عموم او اطلاق ددې خبرې نفی کوی.[6]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه صحیح هم دغه دی چه دغسل حیض او نفاس په موقع باندې دمشك استعمال دهرې ښځې دپاره مستحب دی او سره د ملاویدو نه استعمالول مکروه دی. که چرته مشك ملاؤنه شی نوبیا چه کومه یوه خوشبوهم استعمال کړی اوکه هیڅ خوشبوئی هم ملاؤ نه شی نوبیا دهر هغه ځیز استعمال اوکړی کوم چه د بدبوئی دختمولوصلاحیت لری لکه په خاوره کښې داخاصیت او

---

[1] عمدة القاري: ۲۸۶/۳.
[2] أعلام الحديث: ۳۲۲/۱التوضيح: ۸۲/۵.
[3] المنهاج للنووي المعروف بشرح النووي: ۲۳۹/٤.
[4] أعلام الحديث: ۳۲۲/۱التوضيح: ۸۲/۵.
[5] فتح الباري: ۵۳۹/۱.
[6] فتح الباري: ۵۳۹/۱.

صفت موجود دي ګنی صرف هم داوبو استعمال کافی دي. [١]

قوله: أن امرأة

د سوال کونکې ښځې نوم څه وو؟: د امام بخاري رحمه الله د سفيان بن عيينه رحمه الله په طريق سره نقل شوی دې روايت کښې بس هم دومره دی چه يوه ښځه وه اوهغې د نبی کريم ﷺ نه د حيض دغسل کيفيت سره متعلق سوال کړې وو. او امام بخاری رحمه الله د وهيب روايت «د راتلونکی باب لاندې» کښې ددې خبرې اضافه کړې ده چه هغه ښځه انصاريه وه. [٢] امام مسلم رحمه الله ابو الاحوص عن ابراهيم بن مهاجر په طريق سره دا حديث روايت کولوسره د هغه ښځې د نوم تصريح هم کړې ده چه سوال کونکې دغه ښځه اسماء بنت شکل «بالشين والکاف المفتوحتين» وه. [٣] ددې په خلاف خطيب رحمه الله اسماء بنت يزيد بن السکن انصاريه کيدو تصريح کړې ده. [٤]

ابن جوزی رحمه الله هم دا قول اختيارکړې دې اودې سره ئې داهم فرمائی چه کوم د امام مسلم رحمه الله په روايت کښې ذکر شوی دی په هغې کښې تصحيف واقع شوې دې ځکه چه په انصارکښې د شکل نومې څوك سړې نه وو. [٥]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دابن جوزی رحمه الله دا قول د يوثابت شوې روايت نه بغيرد څه دليل ترديد کوی خودا هم ممکن اومحتمل دی چه شکل نوم نې نه وی بلکه لقب وی ځکه چه دا روايت مسانيد اوجوامع چرته چه هم دې نوهلته خو يا دامام مسلم رحمه الله د روايت په شان د اسماء بنت شکل تصريح ده يا بيا د امام ابوداؤد رحمه الله د روايت په شان صرف اسماء «بغيرد نسب» تصريح ده. دې نه علاوه د ابونعيم رحمه الله په تخريج کړې شوی حديث کښې هم اسماء بنت شکل ده اوهغوی داحديث هم په دغه طريق سره روايت کړې دې په کوم سره چه خطيب رحمه الله دا حديث روايت کړې دې ليکن خطيب رحمه الله په خانی د بنت شکل د بنت يزيد کيدو تصريح کړې دې. [٦] امام نووی رحمه الله داسې اوکړل چه دواړه وجهې ئې ذکرکړې اوترجيح ئې يو ته هم ورنه کړه. [٧] علامه ابن ملقن رحمه الله فرمائی دامام مسلم رحمه الله د روايت ډيروجماعتونو اتباع کړې ده په کوم کښې چه ابن طاهراو ابوموسی رحمه الله هم دې. البته بعض حضرات متاخرينوهم دخطيب دقول تصويب کړې دې اووجه ئې هم هغه ذکرکړې ده چه په انصاروکښې د شکل نوم څوك سړې نه وو. [٨] نورفرمائی علامه ابن جوزی سره د دې چه په خپل کتاب تلقيح فهوم أهل الأثر کښې اسماء بنت يزيد بن السکن په سائله کيدو باندې د جزم اظهار فرمائيلې دې [٩] مګر په خپل دويم کتاب کشف المشکل کښې پخپله هغوی د اسماء بنت شکل سائله کيدو تصريح فرمائيلې ده. [١٠]

---

[١] فتح الباري: ٥٣٩/١.
[٢] فتح الباري: ٥٣٨/١عمدة القاري: ٢٨٦/٣.
[٣] صحيح مسلم كتاب الحيض باب استحباب استعمال المغتسلة رقم الحديث: ٧٥٢.
[٤] مبهمات الخطيب: ص: ٢٩.
[٥] تلقيح فهو من أهل الأثر: ٤٦٦/١فتح الباري: ٥٣٨/١.
[٦] فتح الباري: ٥٣٨/١.
[٧] المنهاج للنووي المعروف بشرح النووي: ٢٤١/٤.
[٨] التوضيح: ٨٠/٥.
[٩] تلقيح فهوم أهل الأثر: ٤٦٦/١.
[١٠] كشف المشكل: ٣٧٠/٤الرقم: ٢٥٧٨/٣٣٠٩.

ابن ملقن رحمه الله فرمائي چه ددې خبرې هم احتمال شته چه دا واقعه دواړو ښځوسره پيښه شوې وي لکه چه د ابن منده رحمه الله د صنيع نه معلوميږي ځکه چه هغوی ددواړو ښځو ترجمې اوتعارف جدا جدا ذکرکړې دې. دغه شان ابن سعد رحمه الله او طبراني رحمه الله هم دا روايت د بنت يزيد د ترجمې لاندې ذکرنه کړو او بيا امام مسلم رحمه الله د اسماء بنت شکل تصريح کولوکښې متفرد هم نه دې.(١) بلکه ابن ابی شيبه رحمه الله او ابونعيم رحمه الله هم دا روايت هم دغه شان نقل کړې دې څنګه چه امام مسلم رحمه الله کړې دې.(٢)

الحاصل ددې اختلاف دتعيين باره کښې چه اسماء بنت شکل سائله ګرځول ددې لاندينو وجوهاتو په رڼا کښې زيات د التفات قابل او دترجيح قابل ده: ① امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح کښې داسماء بنت شکل تصريح کړې ده. ② اکثرو حضراتو دامام مسلم رحمه الله د رواياتو اتباع کړې ده. ③ د امام مسلم رحمه الله نه علاوه ابن ابی شيبه رحمه الله او ابونعيم رحمه الله هم ددې نوم تصريح کړې ده. ④ ابن جوزی رحمه الله که يو طرف ته د اسماء بنت يزيد بن السکن په نوم باندې د جزم اظهارکړې دې نوبل طرف ته ئې پخپله د اسماء بنت شکل د سائله کيدو تعيين هم کړې دې. په دويم قول باندې هم يو دليل او قرينه ده چه په انصارکښې د شکل نوم څوم سړې نه وو مګر ددې دليل جواب ورکړې شوې وو چه ممکن دی چه شکل نوم ئې نه وی بلکه لقب ئې وی اوددې اسماء پلار په خپل لقب باندې مشهور وی يا بيا دلته واقعات جدا جدا وی.

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: په ترجمة الباب کښې دا امور ذکر دی: ① **دلك المرأة نفسها** (يعنی خپل اندامونه په مږلوسره وينځه). ② کيفيت د اغتسال. ③ **أخذ الفرصة الممسكة** (يعنی د مشک ملاؤ شوې کپړه اخستل). ④ **تتبع الدم** (يعنی د وينو چاپونه اونښې لټولو سره صفا کول).

خو په حديث کښې په صراحت سره آخری دوه امور ذکرکړې شوی دی. باقی پاتې شو اول ذکرکړې شوې دوه امور، نو په "دلك" باندې په صراحت سره حديث دلالت نه کوی خود دلالت التزاميه په توګه ((تتبعی بها أثر الدم)) په "دلك" باندې دلالت کوی. ځکه چه د چاپونو او نښو ختمولوکښې "دلك" يعنی مږلو ضرورت پيښيږی اود کيفيت اغتسال نه مراد که چرې دغسل حيض مخصوص صورت، يعنی د وينو چاپونه صفا کولو سره هغه ځائې باندې خوشبوئی لګول دی نو بيا دا خاص صورت دلته په حديث کښې هم ذکر دې. خوکه دغسل دکيفيت نه مراد نفس اغتسال دې نوبيابه داسې وئيلې شی چه سره ددې چه په مذکوره روايت کښې دنفس اغتسال ذکرنشته مګر په اصل روايت کښې داغتسال ذکر هم موجود دې کوم چه امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح کښې تخريج کړې دې. امام بخاری رحمه الله ددې اصل روايت تخريج ځکه نه دې کړې ځکه چه دهغه په سند کښې ابراهيم بن مهاجر يو راوی دې اوهغه دامام بخاری رحمه الله په شرط باندې نه دې.(٣)

۱۴ -باب: غُسْلِ الْمَحِيْضِ

١) التوضيح: ٥/٨١-٨٠

٢) المصنف لابن أبی شيبة كتاب الطهارة باب فی المرأة كيف تؤمر أن تغتسل رقم الحديث: ٨٦٩

٣) عمدة القاری: ٣/٢٨٥-٢٨٤.

ماقبل سره ربط: په سابقه باب او موجوده باب کښې هم يو حديث ذکر دې او په دواړو احاديثو کښې دخوشبوئی د استعمال ذکر دې. علامه عينی رحمه الله فرمائی په حقيقت کښې ددې باب د ذکرکولوهيڅ فائده نشته دې ځکه چه کوم حديث امام بخاری رحمه الله ددې باب لاندې ذکرکړې دې هغه په وړاندې باب کښې تيرشوې دې. البته فرق صرف د سند د اختلاف دې ځکه چه تيرشوې روايت «يحيیٰ عن ابن عيينه عن منصور» په طريق سره نقل وو اودا حديث باب «مسلم عن وهيب عن منصور» په طريق سره نقل دې.[1]

الحديث الأول

[٣٠٩]- حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا مَنْصُورٌ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ امْرَأَةً مِنَ الأَنْصَارِ قَالَتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَيْفَ أَغْتَسِلُ مِنَ المَحِيضِ؟ قَالَ: «خُذِي فِرْصَةً مُمَسَّكَةً، فَتَوَضَّئِي ثَلاَثًا» ثُمَّ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَحْيَا، فَأَعْرَضَ بِوَجْهِهِ، أَوْ قَالَ: «تَوَضَّئِي بِهَا» فَأَخَذْتُهَا فَجَذَبْتُهَا، فَأَخْبَرْتُهَا بِمَا يُرِيدُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[2] [ر ٣٠٨]

ترجمه: دعائشه رضی الله عنها نه روايت دې چه د قبيله انصار نه يوې ښځې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته عرض اوکړو چه زه د حيض غسل څنګه اوکړم؟ حضورپاك اوفرمائيل د مشك يوه ټکړه واخله او په هغې سره پاکی حاصله کړه. دارسول الله صلی الله عليه وسلم درې ځل ارشاداوفرمائيلو. بيا نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته حياء راغله او حضورپاك خپل مخ مبارك دهغه طرف نه واړولو او يا بيا پيغمبر عليه السلام د "بها" په اضافه سره "توضی بها" اوفرمائيل. عائشه رضی الله عنها فرمائی چه ما هغه ښځه خپل طرف ته راښکله اوبيامې د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د مراد نه خبرکړه.

تراجم رجال

مسلم بن إبراهيم: دا مسلم بن ابراهيم القصاب ازدی فراهيدی بصری رحمه الله دې. ددوی حالات كتاب الإيمان باب زيادة الإيمان ونقصانه لاندې تيرشوی دی.[3]

وهيب: دا وهيب بن خالدبن عجلان باهلی بصری رحمه الله دې. ددوی حالات كتاب الإيمان باب تفاضل الإيمان فی الأعمال لاندې تيرشوی دی.[4]

منصور بن عبدالرحمن: دامنصور بن عبدالرحمن رحمه الله دې. ددوی حالات كتاب الحيض باب قراءة الرجل فی حجرامرأته وهی حائض لاندې تيرشوی دی.[5]

صفية بنت شيبة: دا صفيه بنت شيبه بن عثمان بن ابی طلحه العبدريه رضی الله عنها ده. ددې حالات كتاب الغسل باب من بدأ بشق رأسه الأيمن فی الغسل لاندې تيرشوی دی.

---

[1]) عمدة القاری: ٢٨٧/٣.

[2]) قوله: عائشة: الحديث، مر تخريجه تحت الحديث السابق.

[3]) كشف الباری: ٤٥٥/٢.

[4]) كشف الباری: ١١٨/٢.

[5]) كشف الباری: ٢٩١/١.

عائشة: دا ام المؤمنين حضرت سيده عائشه بنت ابى بكر صديق ﷺ ده. ددوى حالات «بدءالوحى» ددويم حديث لاندې تفصيلاً تيرشوى دى. [۱]

شرح حديث

قوله:: توضي ء: حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو چه د مشك يوه ټکړه واخله او په هغې سره پاكى حاصله کړه. دلته "توضىء" خپل لغوى معنې "تنظف" (پاكى حاصلول) كښې دې. خكه چه په تير روايت كښې د "تطهري" صراحت دې. [۲]

قوله:: ثلاثا: مطلب دادې چه حضورپاك "توضىء" درې ځل ارشاد اوفرمائيلو [۳] اودا احتمال هم دې چه ددې تعلق "قالت" سره وى يعنى دغه سائله درې ځل سوال اوکړو لکه چه دتيرشوى روايت نه واضح كيږى. [۴]

قوله:: أو: داد حضرت عائشه صديقه ﷺ د طرف نه شك واقع شوې دې چه حضورپاك ﷺ "توضىء" اوفرمائيلو يا بيا ئې "توضىءبها" اوفرمايېلو يعنى «تطهري بالفرصة». [۵]

د حديث ترجمة الباب سره مناسبت: په ظاهره باندې په حديث اوترجمة الباب كښې هيڅ مطابقت نشته خکه چه په ترجمة الباب كښې "غسل حيض" ذكر دې خو په حديث كښې د غسل حيض څه ذكرنشته دې. مگر شراح كرام رحمهم الله ليكلى دى كه چرې لفظ غسل په فتحه د عين اومحيض داسم مكان په معنى كښې واخستلې شى نو په ترجمة الباب او حديث دواړو كښې به مطابقت واضح شى خكه چه ددې تاويل نه پس به مطلب داشى چه حديث اوترجمة الباب دواړو كښې د بدن دمخصوص حصې دپاكوالى بيان دې كوم سره د چه د حيض د وينې تعلق كيږى. اوكه چرې لفظ غسل په ضمه د عين پريخودلې شى اودمحيض نه مراد دحيض وينه وى نو په دې صورت كښې به دا اضافت لاميه شى چه دهغه غسل بيان كوم چه د حيض سره خاص دې. دغه شان د غسلِ مخصوص كيفيت سره به د اصل غسل ثبوت خپل پخپله پيداشى. [۶]

۱۵ - باب: اَمْتِشَاطِ الْمَرْأَةِ عِنْدَ غُسْلِهَا مِنَ الْمَحِيضِ

ماقبل سره ربط: سابقه باب او دې باب دواړو كښې ربط دادې چه په دواړوكښې دې امر طرف ته اشاره ده چه ښځه دې دحيض په غسل كښې د صفائى ښه اهتمام كوى. هم دغه وجه ده چه باب سابق

---

[۱] كشف البارى: ۲۹۱/۱.
[۲] إرشادالسارى: ۵۵۵/۱.
[۳] إرشادالسارى: ۵۵۵/۱.
[۴] عمدة القارى: ۲۸۷/۳.
[۵] عمدة القارى: ۲۸۷/۳ إرشادالسارى: ۵۵۵/۱.
[۶] عمدة القارى: ۲۸۷/۳ إرشادالسارى: ۵۵۵/۱.

كښې د حيض په غسل كښې د خوشبوئى د استعمال ذكر وو او په دې باب كښې د اهتمام په غرض سره په ويښتو كښې د ګمنزې كولو په صراحت سره اود ويښتو كمسئى كولاوولو ضمناً تذكره ده.[۱]

د ترجمة الباب مقصد:

د شيخ الحديث زكريا رحمه الله رائې: شيخ الحديث زكريا رحمه الله فرمائى چه حضرات شراح كرام رحمهم الله د ترجمة الباب دغرض اومقصد په حواله سره سكوت فرمائيلې دې اوزما په نيز دترجمة الباب دمقصد په حواله سره د ټولو نه بهتر توجيه داده چه مذكوره باب اوراتلونكې باب (دواړه) د سابقه باب دوه جدا جدا جزونه دى اود دريواړو ابواب مقصد دغسل حيض كيفيت اوطريقه بيانول دى.[۲]
ددې ابواب په ملاوولو سره او په دې كښې چه كوم احاديث ذكركړې شوى دى د هغې كتلو سره معلوميږى چه د ښځو په معامله كښې كوم تخفيفى حكم وركړې شوې دې چه په غسل كښې د ويښتو جرړې لمدول كافى دى. د ويښتو د جرړو د لمدولونه پس د ويښتو د كمسو د كولاوولو ضرورت نشته دې نودا حكم د جنابت غسل سره خاص دې. د حيض په غسل كښې به ويښته كولاوول وى اودا وجوبى حكم دې. هم دغه د امام حسن رحمه الله او امام طاؤوس رحمه الله مسلك دې. د احاديث د ظاهر نه معلوميږى چه دامام بخارى رحمه الله هم دغه مسلك دې. امام احمد رحمه الله هم دغه قول اختيار كړې دې. خودامام احمد رحمه الله د اصحاب يو جماعت په غسل حيض اوغسل جنابت دواړوكښې د ويښتو كولاوول مستحب امر ګرځولې دې په دې شرط چه د ويښتو د كولاوولو نه بغير جرړې لمدې شى هم دغه د جمهور علماؤ مسلك دې.[۳]
د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه باره كښې راځى چه هغه ښځوته دغسل په وخت (كه د جنابت غسل وى اوكه دحيض) د ويښتو كمسئى كولاوولوحكم وركولو. حضرت عائشه رضي الله عنها ته چه كله دعبدالله بن عمرو رضي الله عنه سره متعلق داخبر اورسيدو نوهغې د خفګان اظهاركولوسره اوفرمائيل: «**يا عجباً لابن عمرو! يأمر النساء إذا اغتسلن أن ينقضن رؤوسهن، أفلا يأمرهن أن يحلقن رؤوسهن؟ لقد كنت أنا ورسول الله صلى الله عليه وسلم نغتسل، فلا أزيد على أن أفرغ على رأسي ثلاث أفراغات**» يعنى په عبدالله بن عمرو باندې تعجب دې چه هغه هسې ښځو ته د غسل په وخت د ويښتو دكمسو د كولاوولوحكم وركوى. بيا هغه داحكم ولې نه وركوى چه هغه ښځې دې خپل سره اوخروى، اوزمونږ عمل خودا ووچه كله به ما اورسول الله صلى الله عليه وسلم غسل كولو نوما به په خپل سرباندې ددريو چونګو اوبو اچولونه زياتوالې نه كولو.[۴] هم دغه وجه ده چه ابن قدامه رحمه الله فرمائى: «**ولا يختلف المذهب في أنه لا يجب نقضه من الجنابة، ولا أعلم فيه خلافاً بين العلماء إلا ما روي عن عبدالله بن عمرو**» يعنى دجنابت په غسل كښې دويښتو كمسئى كولاوولو سره متعلق بغيردعبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه بل دچانه هم د وجوب قول نقل نه دې ځكه چه دهغوى په حواله سره روايت كښې راځى چه هغوى به ښځوته دغسل په وخت د ويښتو د كمسو د كولاوولوحكم وركولو.[۵]

[۱] عمدة القارى: ۲۸۷/۳.
[۲] الكنز المتوارى: ۲۷۶/۳.
[۳] فتح البارى: ۱۸/۱ ؛ الكنز المتوارى: ۲۷۶/۳.
[۴] المغنى لابن قدامة: ۲۹۸/۱ دارعالم الكتب.
[۵] المغنى لابن قدامة: ۲۹۸/۱ دارعالم الكتب.

چونکه دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما داسې حکم ورکول غسل د جنابت او غسل د حیض دواړو سره متعلق وو په دې وجه حافظ ابن حجر رحمه الله دابن قدامه رحمه الله داخبره هم دهغوی په حواله سره داسې نقل کړې ده:
«لاأعلم أحداًقال بوجوبه إلاماروي عن عبدالله بن عمرو». (١)
نور ابن قدامه رحمه الله فرمائي چه د حیض په غسل کښې د ویښتو کولاوول واجب دی که نه دی؟ نو په دې مسئله کښې زمونږ اصحاب (حنابله) کښې اختلاف دې. بعض دحیض په غسل کښې دې ته واجب ونیلی دی لکه امام حسن رحمه الله اوامام طاؤوس رحمه الله اوبعض دا مستحب لیکلی دی اوهم دغه صحیح قول دې. إن شاء الله. (٢)اوس ددې تفصیل نه دامعلومه شوه چه د امام احمد رحمه الله په نیزدحیض په غسل کښې به ویښته کولاوولې شي او ابن قدامه رحمه الله ددې دمستحب کیدو قول کړې دې.
جمهور حضرات دام سلمه رضي الله عنها د قول نه استدلال کوی چه هغې د حضورپاك نه سوال اوکړو اې د الله رسول ﷺ! زه د خپل سر کمسنی کلکې ترم نو آیا د جنابت په غسل کښې دا کولاووم؟ نو حضورپاك اوفرمائیل نه، د کولاوولوضرورت نشته دې. په یوبل طریق کښې دغسل جنابت سره د حیض دغسل متعلق هم دغه سوال دې. دهغه روایت نه معلومیږی چه د ویښتو کولاوول مستحب دی که د جنابت غسل وی اوکه د حیض غسل وی. خودحدیث باب ظاهر په وجوب باندې دلالت کوی. په دې وجه جمهورو حدیث باب هم په استحباب باندې محمول کړې دی دې دپاره چه په دواړو روایتونوکښې جمع اوشی. یا بیا حدیث باب په هغه صورت باندې محمول کړې شی په کوم کښې چه اوبه ترجرړو پورې نه رسی. خکه چه په داسې صورت کښې د ویښتوکولاوول واجب کیږی. او حدیث د ام سلمه رضي الله عنها په هغه صورت باندې محمول کړې شی چه کله اوبه د ویښتو جرړو ته رسیږی. (٣)

الحدیث الأول

[٣١٠]- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ، حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، أَنَّ عَائِشَةَ، قَالَتْ: أَهْلَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ، فَكُنْتُ مِمَّنْ تَمَتَّعَ وَلَمْ يَسُقِ الهَدْيَ، فَزَعَمَتْ أَنَّهَا حَاضَتْ وَلَمْ تَطْهُرْ حَتَّى دَخَلَتْ لَيْلَةُ عَرَفَةَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذِهِ لَيْلَةُ عَرَفَةَ وَإِنَّمَا كُنْتُ تَمَتَّعْتُ بِعُمْرَةٍ، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «انْقُضِي رَأْسَكِ وَامْتَشِطِي، وَأَمْسِكِي عَنْ عُمْرَتِكِ»، فَفَعَلْتُ، فَلَمَّا قَضَيْتُ الحَجَّ أَمَرَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ لَيْلَةَ الحَصْبَةِ، فَأَعْمَرَنِي مِنَ التَّنْعِيمِ مَكَانَ عُمْرَتِي الَّتِي نَسَكْتُ (٤)[ر ٢٩٠]

ترجمه: د حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها نه روایت دې چه ما په حجة الوداع کښې نبی کریم ﷺ سره احرام اوتړلو اوزه هغه خلقو کښې ووم کومو چه دتمتع نیت اوکړو اود قربانئی څاروی ځان سره وانغستل. بیا حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائیل چه په هغې باندې حیض شروع شو اود حیض پاکی حاصله نه شوه. تردې چه دعرفه شپه راغله نوهغې عرض اوکړو اې دالله تعالی رسول ﷺ! داد عرفه

(١) فتح الباري: ٤١٨/١.
(٢) المغني لابن قدامة: ٣٠٠-٢٩٨/١دارعالم الکتب.
(٣) فتح الباري: ٤١٨/١صحیح مسلم کتاب الحیض باب حکم ضغائر المغتسلة رقم الحدیث: ٧٤٥-٧٤٤.
(٤) قوله: عائشة: الحدیث، مرتخریجه تحت رقم الحدیث: ٢٩٠.

شپه ده اوما د عمره احرام تړلوسره دتمتع اراده کړې وه. حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو ته خپل سر كولاؤ كړه ګمنز اوكړه اودعمرې نه منع شه نوما هم داسې اوكړه. كله چه زه دحج نه فارغ شوم نوحضورپاك د حصبه په شپه كښې عبدالرحمن ته حكم وركړوهغه ماته ددې عمرې په قضاء كښې دكومې چه ما احرام تړلې وو د تنعيم نه عمره اوكړه.

تراجم رجال

موسى بن إسماعيل: دا ابوموسى بن اسماعيل التبوذكي البصرى رحمه الله دې. د دوى مختصر حالات بدءالوحى كښې د څلورم حديث لاندې [1] اوتفصيلى حالات كتاب العلم باب من أجاب الفتيا بإشارة اليد أو الرأس لاندې تيرشوى دى. [2]

إبراهيم: دا ابواسحاق ابراهيم بن سعد بن ابراهيم بن عبدالرحمن بن عوف زهرى مدنى رحمه الله دې. د دوى اجمالى حالات كتاب الإيمان باب تفضل أهل الإيمان في الأعمال لاندې تيرشوى دى. [3]

او تفصيلى حالات كتاب العلم باب ما ذكر في ذهاب موسى عليه السلام في البحر إلى الخضر لاندې تيرشوى دى. [4]

ابن شهاب: ددوى مكمل نوم ابوبكر محمدبن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله بن شهاب بن عبدالله بن الحارث بن زهره بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤى زهرى مدنى دې. ددوى حالات بدءالوحى ددريم حديث لاندې تيرشوى دى. [5] او نور حالات ئې كتاب الغسل كښې هم راغلى دى.

عروة: دا عروة بن الزبير بن العوام رحمه الله دې. د دوى مختصر حالات بدءالوحى دويم حديث لاندې [6] اوتفصيلى حالات كتاب الإيمان باب أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تيرشوى دى. [7]

عائشة: دا ام المؤمنين سيده عائشه بنت ابى بكر الصديق رضي الله عنهما ده. د دوى حالات بدءالوحى دويم حديث لاندې تيرشوى دى. [8]

شرح حديث

قوله:: الهدي: هدي دهاء فتحه اودال سكون اوياء مخففه سره هم لوستلې شى اودال په كسره او هاء مشدده سره هم لوستلې شى [9] هدي هغه څاروى ته وائى كوم چه د ذبح كولودپاره حرم ته راوړلې شى علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه دحديث الفاظ «ولم يسق الهدي» وړاندې ذكرشوې «وكنت من تمتع»

---

[1] كشف البارى: ۱/۴۳۳.
[2] كشف البارى: ۳/۴۷۷.
[3] كشف البارى: ۱/۱۲۰.
[4] كشف البارى: ۳/۳۳۳.
[5] كشف البارى: ۱/۳۲۶.
[6] كشف البارى: ۱/۲۹۱.
[7] كشف البارى: ۲/۴۳۶.
[8] كشف البارى: ۱/۲۹۱.
[9] عمدة القارى: ۳/۲۸۸ إرشادالسارى: ۱/۵۵۶.

دپاره بيان دي. ځکه چه دحج تمتع اراده لرونکي سرې خپل ځان سره هدی نه اوری. په دې باندې علامه عيني رحمه الله اوفرمائيل چه دمتمتع دوه قسمونه دی. يوهغه متمتع وی چه خپل ځان سره د هدی څناور اوری اوځی[1] اودويم هغه متمتع وی چه خپل ځان سره د هدی ځناور نه اوری اودهرقسم حکم جدادې. کوم متمتع چه هدی ځان سره اوری هغه په مينځ کښې د احرام نه حلال کيدې نه شی اوکوم چه دهدی ځناور ځان سره نه اوری نوهغه د عمرې افعالو نه فارغ کيدو سره احرام کولاوولې شی اود هغه دپاره هغه څيزونه بيا حلال شی کوم چه داحرام نه وړاندې حلال وو اوداحرام ترلونه پس حرام شوې وو.

قوله:: فزعمت أنها حاضت: راوی د زعمت الفاظ نقل کړی دی د قالت الفاظ ئی نه دی نقل کړی ځکه چه حضرت عائشه رضي الله عنها پخپله هم په صراحت سره ددغه خبرې ذکر نه ووکړې اوداخبره وه هم داسې دکومې په تصريح کولو کښې چه حياء مانع ده. [2]

قوله:: ليلة الحصبة: دحاء فتحه د صاد سکون اوباء فتحه سره لوستلې شی. او ليلة الحصبة نه مرادهغه شپه ده په کومه کښې چه د حضورپاك قافلې دحصبه په مقام باندې قيام کړې وو. [3]

قوله:: التنعيم: دتنعيم مقام د ټولو نه نيزدې ميقات دې چه د مدينې په لار دمکې نه درې ميله فاصله باندې واقع دې. [4]

ددې حديث باقی ټول شرح اومباحث «باب الأمر بالنفساء إذا نفسن» لاندې په تفصيل سره تيرشوی دی.

د حديث ترجمة الباب سره مناسبت:

دعلامه داؤدی رحمه الله رائې: امام داؤدی رحمه الله فرمائی چه ترجمة الباب اوحديث کښې هيڅ مناسبت نشته دې ځکه چه په ترجمة الباب کښې دغسل په وخت وېښتو کښې دګمنز کولو ذکر دې او په روايت کښې د ګمنز کولو حکم دعمرې نه دحلال کيدودپاره وو نه چه دغسل دپاره.

علامه کرمانی رحمه الله ددې جواب ورکولوسره فرمائی چه په روايت کښې د احرام حج هم تذکره ده چه په دې خبره باندې دلالت کوی چه داغسل داحرام دپاره وو ځکه چه داحرام دپاره غسل مسنون دې. اوس چه کله په روايت کښې غسل داحرام دپاره امتشاط يعنی ګمنز کولو اود کمسنی د وېښتو کولاوول مسنون کيدل بيان شو نود غسل حيض دپاره دا امتشاط په طريقه اولی مسنون وی ځکه چه په غسل احرام کښې خو صرف پاکی اوصفائی مقصود وی خو په غسل حيض کښې نجاست غليظه ختمول وی. نوچه کله داحرام په غسل کښې د وېښتو کولاوول او په هغې کښې ګمنز کولو حکم دې نودا حکم د حيض د غسل دپاره بدرجه اتم کيدل پکاردی. اتوبيا داخبره هم ده چه داحرام غسل صرف مسنون اومستحب دې ليکن دحيض غسل خو فرض دې.

بل د احرام حج دپاره د غسل کولوذکر سره د دې چه په دې روايت کښې نشته دې ليکن په نورو رواياتوکښې دغسل ذکر په صراحت سره موجود دې. چنانچه امام مسلم رحمه الله چه کوم روايت تخريج

---

[1] عمدة القاري: ۲۸۸/۳.
[2] عمدة القاري: ۲۸۸/۳.
[3] عمدة القاري: ۲۸۸/۳.
[4] عمدة القاري: ۲۸۸/۳.

کړې دې دهغې الفاظ دادی: «فاغتسلي ثم أهلي بالحج» (۱)اودا د امام بخاری طريقه ده چه هغه کله داسې ترجمة الباب قائم کوی په کوم کښې چه د روايت نورو طرق ته اشاره وی او روايت مذکور تحت الباب کښې د ترجمة الباب صراحةً څه ذکر نه وی.(۲)

۱۶ - باب: نَقْضِ الْمَرْأَةِ شَعَرَهَا عِنْدَ غُسْلِ الْمَحِيضِ

ماقبل سره ربط: ددې باب سابقه باب سره مناسبت دادې چه په دواړو کښې د دوو داسې امورو تذکره ده دکوم تعلق چه يو جنس سره دې. چنانچه باب سابق کښې دغسل حيض په وخت ويښتو کښې د ګمنز کولو تذکره وه اودې باب کښې دغسل حيض په وخت دويښتو کمسئي کولاوولوتذکره ده.(۳)

واضحه دې وی چه په غسل حيض او غسل جنابت کښې د ښځې دپاره خپل ويښته کولاوول يومختلف فيه مسئله ده کومه چه په تير شوی باب کښې تيره شوې ده. (۴)

دترجمة الباب مقصد: باب سابق کښې د ترجمة الباب مقصد لاندې خبره تيره شوې ده چه «باب امتشاط المرأة عند غلسها من المحيض» او «باب نقض المرأة شعرها عند غسل المحيض» دواړه ابواب د "باب غسل المحيض" دوه جدا جدا اجزاء دی اومقصد ددريواړو ابواب نه دحيض د غسل کيفيت بيانول دی.(۵)

الحديث الأول

[۳۱۱]- حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: خَرَجْنَا مُوَافِينَ لِهِلاَلِ ذِي الحِجَّةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُهِلَّ بِعُمْرَةٍ فَلْيُهْلِلْ، فَإِنِّي لَوْلاَ أَنِّي أَهْدَيْتُ لَأَهْلَلْتُ بِعُمْرَةٍ» فَأَهَلَّ بَعْضُهُمْ بِعُمْرَةٍ، وَأَهَلَّ بَعْضُهُمْ بِحَجٍّ، وَكُنْتُ أَنَا مِمَّنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ، فَأَدْرَكَنِي يَوْمُ عَرَفَةَ وَأَنَا حَائِضٌ، فَشَكَوْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «دَعِي عُمْرَتَكِ، وَانْقُضِي رَأْسَكِ، وَامْتَشِطِي وَأَهِلِّي بِحَجٍّ»، فَفَعَلْتُ حَتَّى إِذَا كَانَ لَيْلَةُ الحَصْبَةِ، أَرْسَلَ مَعِي أَخِي عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي بَكْرٍ فَخَرَجْتُ إِلَى التَّنْعِيمِ، فَأَهْلَلْتُ بِعُمْرَةٍ مَكَانَ عُمْرَتِي قَالَ هِشَامٌ: «وَلَمْ يَكُنْ فِي شَيْءٍ مِنْ ذَلِكَ هَدْيٌ، وَلاَ صَوْمٌ وَلاَ صَدَقَةٌ»(۶)[ر ۲۹۰]

ترجمه: دعائشه ﷺ نه روايت دې چه مونږ د ذی الحجه مياشت سره نيزدې رسول الله ﷺ سره اووتلو. رسول الله ﷺارشاد اوفرمائيلو. کوم سړې چه دعمرې احرام تړل غواړی هغه دې د عمرې احرام

---

۱) صحيح مسلم كتاب الحج باب بيان وجوه الإحرام..... الخ رقم الحديث: ۲۹۳۷.
۲) شرح الكرماني: ۳/۱۸٤-۱۸۳عمدة القاري: ۲۸۸/۳فتح الباري:۱/٤۱۷.
۳) عمدة القاري: ۲۹۰/۳.
٤) عمدة القاري: ۲۹۰/۳.
۵) الكنزالمتواري: ۲۷۸/۳.
۶) قوله: عائشة: الحديث. قدمرتخريجه تحت رقم الحديث: ۲۹۰.

اوتړی اوکه ما دقربانئی هدی ځان سره نه وو راوستې نو زه به هم دعمرې نه پس داحرام نه حلال کیدم. چنانچه بعض خلقو دعمرې احرام اوتړلو اوبعض دحج او زه په هغه خلقو کښې ووم چاچه دعمرې احرام تړلې وو. په ماد عرفه ورځ شوه په داسې حال کښې چه زه حائضه شوم. چنانچه ما رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو حضورپاك اوفرمائيل: عمره پريږده د سر ويښته اوسپړه اوګمنز اوکړه اود حج احرام اوتړه. نوما هم داسې اوکړل، تردې چه کله په حصبه کښې د حصاريدو شپه راغله نو حضورپاك ماسره زما رور عبدالرحمن رضي الله عنه اوليګلو نوزه دتنعيم پورې لاړم اودهغه ځائی نه د فوت شوې عمرې په ځائی د دويمې عمرې احرام اوتړلو. هشام رحمه الله وائی چه دې تولو خبروکښې نه هدی وه نه روژې او نه صدقه.

تراجم رجال

عبيدبن إسماعيل: دا عبيد بن اسماعيل قرشی هباری عبادی کوفی رحمه الله دې. ددوی کنيت ابومحمد دې. د بعض حضراتو وينا ده چه ددوی نوم عبيدالله دې او عبيد د دوی لقب دې.(١)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه حافظ شيرازی رحمه الله په دې خبره باندې جزم کړې دې چه ددوی نوم عبدالله دې اولقب ئې عبيد دې.(٢)
هغوی د سفيان بن عيينه، عيسی بن يونس، حمادبن اسامه، ابوادريس، جميع بن عمر بنعبدالرحمن العجلی او عبدالرحمن بن محمد محاربی رحمهم الله وغيره نه د حديث روايت کړې دې.
اود دوی نه امام بخاری، احمدبن علی الخزاز، عبدالله بن زيداتن البجلی، ابو حاتم محمدبن ادريس رازی، علی بن العباس؛ محمدبن العباس الاخرم او محمدبن الحسين بن حفص خثعمی رحمهم الله وغيره دحديث روايت کوی.(٣)محمدبن عبدالله الحضرمی رحمه الله فرمائی **ثقة**.(٤) حطين رحمه الله فرمائی **ثقة**.(٥) دارقطنی رحمه الله فرمائی **ثقة**.(٦) ابن حبان رحمه الله دوی کتاب الثقات کښې ذکرکړی دی.(٧)
ددوی د وفات کال سره متعلق امام بخاری رحمه الله فرمائی چه ددوی انتقال ۲۵۰هجری ربيع الاول اواخر کښې د جمعه په ورځ شوې.(٨)
أبوأسامة: دا ابواسامه رحمه الله دې. ددوی حالات **كتاب العلم باب فضل من علم وعلم** لاندې تيرشوی دی.(٩)
هشام:داد عروة بن الزبير بن العوام رحمه الله خونی دې. د دوی مختصر حالات **بدء الوحی** دويم حديث لاندې(١٠)اوتفصيلی حالات **كتاب الايمان باب أحب الدين إلى الله أدومه** لاندې تيرشوی دی.(١)

---

١) عمدة القاري: ٢٩٠/٣تهذيب التهذيب: ٣٢/٣.
٢) تهذيب التهذيب: ٣٢/٣.
٣) دَ تلامذه ومشائخ دَ تفصيل دَپاره اوګورئی تهذيب الكمال: ١٨٦/١٩.
٤) تهذيب الكمال: ١٨٦/١٩.
٥) تهذيب الكمال: ٣٢/٣.
٦) تهذيب الكمال: ٣٢/٣.
٧) ٤٣٣/٨.
٨) التاريخ الكبير:٤٤٢/٥رقم الترجمة:١٤٤١.
٩) كشف الباري: ٤١٤/٣.
١٠) كشف الباري: ٢٩١/١.

عروة: دا عروة بن الزبير بن العوام رحمه الله دي. د دوی مختصر حالات بدء الوحی دویم حدیث لاندې [۲] او تفصیلی حالات کتاب الایمان باب أحب الدین الی الله أدومه لاندې تیرشوی دی.[۳]

عائشة: داام المؤمنین سیده عائشه بنت ابی بکر الصدیق رضی الله عنهما ده. د دوی حالات بدء الوحی دویم حدیث لاندې تیرشوی دی. [۴]

شرح حديث

قوله:: موافین لهلال ذي الحجة: یعنی زمونږ دمدینې منورې نه روانیدل د ذی الحجه دمیاشت شروع کیدو نه یوڅو ورځې وړاندې وو.[۵]

دانمه حدیث اوشراح حدیث په دې سلسله کښې اختلاف دې چه دمدینې منورې نه دحجة الوداع دپاره روانیدل په کومه ورځ اوکوم تاریخ شوی؟ اودا اختلاف «باب الأمر بالنفساء إذا نفسن» لاندې په مفصل اومدلل انداز کښې ذکر کړې شوی دی. البته د آسانتی دپاره ددغ اختلاف حاصل دلته ذکرکولې شی.

ددغه اختلاف حاصل دادې چه دمدینې منورې نه د روانیدو په سلسله کښې درې اقوال دی. رومبې قول دامام طبری رحمه الله دې چه د ذوالقعده ۲۴ تاریخ دجمعه په ورځ یوم الخروج ګرځوی. دویم قول د ابن حزم رحمه الله دې چه ۲۴ ذوالقعده د زیارت په ورځ یوم الخروج ګرځوی. او دریم قول د علامه ابن قیم رحمه الله حافظ ابن حجر رحمه الله اوملاعلی قاری رحمه الله او نورو محققینو حضراتودې. داحضرات ۲۵ ذوالقعده دهفته په ورځ یوم الخروج ګرځوی. او هم دغه قول د احادیث صحیحه برابر دې.

قوله:: أهديت: یعنی که چرې ما هدی (د قربانتی څناور) څان سره نه وو راوستلې نوما به هم د عمرې احرام تړلو، حضورپاك هدی څان سره د راوستل د عمرې داحرام نه تړلو دپاره علت ددې دپاره اوګرځولو څکه چه هدی څان سره راوستونکې ترهغه وخته پورې داحرام نه حلال کیدې نه شی ترکومې چه هغه هدی قربانی او ذبح نه کړې شی اوښکاره خبره ده چه د هدی دقربانتی ورځ ۱۰ ذی الحجه (یوم النحر) ده.[۶]

اشکال: دلته یو اشکال پیداکیږی چه دحضورپاك ارشاد (لولا أنی أهدیت لأهللت بعمرة) نه خودا مفهوم کیږی چه حج تمتع دحج افراد نه افضل دې؟بیا امام شافعی رحمه الله ددې اشکال دختمولودپاره څه جواب ورکړې دې؟

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه ددې اشکال جواب دادې چه ذوالخلیفه ته رسیدوسره د ټولونه اول حضورپاك حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم ته خطاب کولوسره په دې امر کښې اختیارورکړو چه د چا زړه غواړی د حج احرام دې اوتړی اود چا چه زړه غواړی نو د عمرې احرام دې اوتړی. په دغه اختیار

---

۱) کشف الباری: ۴۳۲/۲.
۲) کشف الباری: ۲۹۱/۱.
۳) کشف الباری: ۴۳۶/۲.
۴) کشف الباری: ۲۹۱/۱.
۵) شرح الکرمانی: ۱۸۵/۳عمدة القاری: ۲۹۰/۳.
۶) شرح الکرمانی: ۱۸۵/۳عمدة القاری: ۲۹۱/۳.

ورکولوسره مقصود د حضرات صحابه کرامو ﷢ نه دهغه باطل عقیدې تردید اومخالفت کول وو دکوم په وجه چه د حج په میاشتوکښې عمره کول افجر الفجور گڼلې شو. په دې وجه رسول الله ﷺ دحج اوعمرې دواړو نه د هریو احرام دتړلو اختیار ورکړو چه دغه غلطه عقیده هم ددغه حضراتو په عمل سره چقنړې کړې شی. لیکن پخپله حضورپاك دحج احرام تړلې وو اود هدی ځان سره د بوتللو د وجې نه حج فسخ کولوسره د عمرې احرام نه شو تړلې. په دې وجه دصحابه کرامو د زړه دتسلئی دپاره ئې داهم اوفرمائیل چه مابه هم خامخا ستاسو خلقو موافقت کولو مګر مشکل دادې چه ما ځان سره هدی راوړلې راغلې یم. د کوم په وجه چه زما دپاره د هدی د قربانئی نه وړاندې حلال کیدل جائزنه دی. ځکه چه حضرات صحابه کرامو ﷢ هم د حضورپاك په موافقت کښې دحج د احرام اراده لرله. لهذا دلته د حج فسخ کولوسره د عمرې احرام تړل مراد دی چه هم د دغه حجة الوداع والاکال سره خاص وو. دې نه مراد حج تمتع نه دې د کوم د افراد په مقابله کښې چه په افضلیت کښې اختلاف دې.(۱)

«فسخ الحج إلى العمرة» **مطلب:** «فسخ الحج إلى العمرة» مطلب د احرام حج نیت بدلولوسره د احرام عمرې نیت کول دی.(۲)

جمهور علماؤ حج فسخ کولوسره دعمرې احرام تړل د عدم جواز قول نقل کړې دې. ابن عباس ﷠ ددې د جواز خبره کړې ده اوهم دغه دامام احمد رحمه الله او امام داؤد رحمه الله مذهب دې اود هغوی استدلال ددې خبرې نه دې چه دحجة الوداع په موقع حضورپاك د خپلو اصحابو حج فسخ کولوسره دعمرې داحرام تړلو اختیارورکړې وو. جمهور حضرات ددې دا جواب ورکوی چه د رسول الله ﷺ دا فرمان اوحکم هم د دغه حجة الوداع والاکال سره خاص وو. د کوم دلیل چه د سنن ابی داؤد، سنن نسائی او سنن ابن ماجه روایات دی. په کوم کښې چه حارث بن بلال دخپل پلار نه نقل کوی چه هغه دحجة الوداع په موقع د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو «فسخ الحج لنا خاصة أولمن بعدنا؟» یعنی آیا داحکم صرف زمونږ سره خاص دې یا زمونږ نه پس راتلونکودپاره به هم دا حکم او اختیار وی؟ نو رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو «بل لكم خاصة» یعنی دا حکم صرف په دې کال هم ددې خلقو دپاره خاص دې.(۳)

قوله: قال هشام: په دې کښې دوه احتماله دی. یواحتمال دادې چه دې ته تعلیق اوونیلې شی. په داسې صورت کښې به د حضرت هشام رحمه الله قول «ولم يكن في شيء من ذلك هدي ولا صوم ولا صدقة» به معلق روایت ګڼلې شی. دویم احتمال د ادې چه ددې په اعتبارد معنې په سندکښې موجود لفظ "هشام" باندې عطف دې او په دې صورت کښې به دحضرت هشام رحمه الله قول دحدیث متصل جز اوحصه شی.(۴) که چرې "قال هشام" تعلیق اوګڼلې شي نوددې تعلیق مقصد به د یواشکال طرف ته اشاره کول وی اوهغه اشکال دادې چه حضرت هشام رحمه الله خودا فرمائی چه په دې پوره سفر او واقعه

---

(۱) شرح الکرمانی: ۱۸۶/۳عمدة القاری: ۲۹۱/۳إرشادالساری:۵۵۷/۱.

(۲) التوضیح: ۹۱/۵.

(۳) التوضیح: ۹۱/۵سنن أبی داؤد کتاب المناسک باب الرجل یهل بالحج ثم یجعلها عمرة، رقم الحدیث: ۱۸۰۸ سنن النسائی کتاب المناسک باب إباحة فسخ الحج بعمرة لمن لم یسق الهدی رقم الحدیث: ۲۸۱۰ وسنن ابن ماجه کتاب المناسک باب من قال کان فسخ الحج لهم خاصة، رقم الحدیث: ۲۹۸٤.

(٤) عمدة القاری:۲۹۱/۳شرح الکرمانی: ۱۸۶/۳إرشادالساری: ۵۵۸/۱.

كنبي خونه هدى وه نه روژه او نه صدقه وه. ليكن په حضرت عائشه رضي الله عنها باندې خو که هغه قارنه وه يا متمتعه په دواړو صورتونوکښې هدى لازم ده. د قران په صورت کښې به هغه هدى د احناف په نيز دم شکر وى اود شوافع په نيز به هدى جبر وى اوکه چرې حضرت عائشه رضي الله عنها متمتعه وه اوروستو مفرده بالحج شوې وه لکه چه داحنافو تحقيق دې نوبياهم هدى لازم ده او په دې صورت کښې به دغه هدى د جنايت وى. بيا که چرې هدى نه وى نود روژو حکم دې. درې روژې د حج په ورځو کښې او اووه کورته د راګرځيدو نه پس. نود اشکال حاصل دادې چه دحضرت عائشه رضي الله عنها د احرام سره متعلق دائمه حضراتو د تحقيقاتو تقاضاداده چه هدى لازم کيدل پکاردى. خو دلته حضرت هشام رحمه الله فرمائى چه په دې سفرکښې نه هدى وه نه روژه او نه صدقه؟

ددې په تاويل کښې حضرات شوافع دا وائى چه دلته د هدى جنايت نفى ده د هدى جبر نفى نه ده اواحناف حضرات دا تاويل کوى چه د هدى شکر نفى ده دهدى جنايت نفى نه ده. خود دې تاويلاتونه بهتردا معلوميږى چه اوونيلې شى حضرت هشام رحمه الله ته تردغې خبر نه دې رسيدلې ګنى د رواياتونه داخبره صفا معلومه ده چه په دې سفرکښې رسول الله صلى الله عليه وسلم د ازواج مطهرات د طرف نه غوا قربانى کړې وه. لهذا دحضرت هشام رحمه الله د نفى کولوسره فى نفسه نفى نه لازميږى.([1])

حضرت مولاناانورشاه کشميرى رحمه الله فرمائى چه هدى په (اصطلاح کښې) هغه څناور ته وائى کوم چه دکور نه يا د لارې نه د بيت الله د اوړلوډپاره خان سره کړې شى اودلته حضرت هشام رحمه الله هم ددې نفى کړې ده. لهذا د قول هشام مفهوم به داشى چه حضرت عائشه رضي الله عنها دکور نه يا د لارې نه دهدى څناور نه وو اوړلې بلکه حضورپاک هم دمکې معظمې نه دازواج مطهرات دپاره څناور واخستو اوهغه ئې ذبح کړو.([2])

د حديث ترجمة الباب سره مناسبت:

په دې مقام باندې هم دحديث ترجمة الباب سره دمناسبت لاندې هم هغه کلام دې کوم چه د علامه کرمانى رحمه الله په حواله سره دتيرشوى باب لاندې ذکرکړې شوې دې. د کوم حاصل چه دادې سره ددې چه په روايت کښې د**نقض شعر** حکم دغسل حيض دپاره نه دې ليکن په روايت کښې د احرام حج ذکرموجود دې چه ددې خبرې دليل دې چه غسلِ احرام د حج دپاره وو څکه چه داحرام دپاره غسل مسنون دې. اوس چه غسل داحرام دپاره د **نقض شعر** او **امتشاط رأس** حکم ورکولې شى نودغسل حيض دپاره به داحکم په طريقه اولى مسنون وى. څکه چه احرام غسل صرف مسنون او مستحب دې اود حيض غسل فرض دې.([3])

---

[1]) فيض البارى: ٤٩٩/١ إيضاح البخارى: ١١٩/١١.

نوټ: د ايضاح البخارى نه ددې بحث د نقل کولوجه داده چه د صاحب ايضاح تحقيق دحضرات احناف د عائشه رضي الله عنها داحرام والا تحقيق موافق دې څکه چه علامه عينى رحمه الله وغيره دلته دحضرت عائشه رضي الله عنها ابتداء مفرده بالحج کيدو قول کړې دې(عمدة القارى:٢٩١/٣التوضيح: ٩١/٥) خو "باب الأمر بالنفساء إذا نفسن" لاندې دلائلو نه ثابت کړې شوى دى چه حضرت عائشه رضي الله عنها په شروع کښې د عمرې په احرام کښې وه اوهم دغه د جمهورو مسلك دې.

[2]) فيض البارى: ٤٩٩/١ أنوار البارى:٤٥١/١٠.

[3]) شرح الکرمانى: ١٨٦/٣.

دويم جواب دادې چه دلته د ترجمة الباب الفاظ «غسل المحيض» كښې اضافت ادنى دتعلق د وجې نه دې په دې معنى چه حضورپاك دغسل حكم وركړې وو اوس كه هغه غسل د حيض نه دپاكوالى اوطهارت دپاره وى يا د څه بل څه مقصد دپاره (لكه غسل داحرام وغيره) احكام به هم دغه وى.[1]

۱۷ - باب: مُخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ

ماقبل سره ربط: په تيرشوى باب كښې د حيض متعلق يو څو احكام ذكركړې شوى وو او اوس په دې باب كښې هم د حيض متعلق يو حكم بيان كړې شوې دې اوهغه حكم دا دې چه حامله باندې حيض نه راځى.[2]

د ترجمة الباب مقصد: ددې باب ذكركولوسره د امام بخارى رحمه الله مقصد دهغه حضراتو مذهب ته تقويت وركول دى څوك چه داوائى په حامله ښځه باندې حيض نه راځى. هم دغه د اهل كوفه حضرات حنفيه، امام احمد بن حنبل، امام ابوثور، ابوعبيد، حضرت عطاء، حسن بصرى، امام زهرى، امام حكم او حماد رحمهم الله مذهب دې. د امام شافعى رحمه الله نه دوه روايتونه دى. قول قديم هم دغه دې چه په حامله ښځه باندې حيض نه راځى او قول جديد دادې چه حامله ښځه باندې هم حيض راتلې شى او هم دغه د امام مالك رحمه الله او امام اسحاق رحمه الله مسلك دې.[3]

په ايام حمل كښې د حيض نه راتلو سبب د مور په رحم كښې د بچى وجود دې. د بچى وجود ددم حيض د وتلونه مانع كيږى. اوكه چرې حامله ښځه څه وينه ګورى هم نوهغه دم حيض نه وى بلكه هغه د بچى نه مترشح كيږى يا هغه د بچى د خوراك فضله وى اويا بيا د څه بيمارئى د وجې نه وتونكې فاسد وينه وى.[4]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه د مذكوره حديث نه په ايام حمل كښې د حيض نه راتلو باندې استدلال كول محل نظر دې ځكه چه د حديث شريف نه خو صرف هم دومره معلوميږى چه د حامله د رحم نه خارج كيدونكې څيز «سَقط» په ضمه فتحه اوكسره، او كسره اولى سره يعنى نيمګړې بچې وى د كوم شكل چه پوره نه وى جوړشوې. په دې سره دا لازم نه راځى چه كه چرې دحامله ښځې د رحم نه وينه راؤځى نو هغه به حيض نه وى. اودا كومه دعوى چه كولې شى چه د حمل په حالت كښې راوتونكې وينه د بچى نه مترشح يا د هغه د خوراك فضله يا د څه بيمارئى د وجې نه وتونكې فاسد وينه وى نودا دعوى د دليل محتاج ده. او هرڅه چه ددې باره كښې خبر او اثر وارد شوې وى هغه د مذكوره دعوى دپاره مثبت نه دى ځكه چه داسې وينه هم د دم حيض د صفاتو حامل وى. او په دغه زمانه

---

[1] شرح الكرمانى: ۱۸۶/۳.
[2] عمدة القارى: ۴۳۳/۳.
[3] شرح ابن بطال: ۴۴۴/۱ التوضيح لابن ملقن: ۹۵/۵،شرح الكرمانى: ۱۸۸/۳، فتح البارى: ۴۱۹/۱عمدة القارى:۴۳۲/۳إرشادالسارى: ۵۵۸/۱.
[4] إرشادالسارى: ۵۵۸/۱.

كښې د دې د راتلوامكان هم دې. لهذا دې ته هم ددم حيض حكم وركول پكاردى اوځوك چه ددې د خلاف دعوى كوى دهغه په ذمه دليل دې.(۱).
او په آخره كښې حافظ ابن حجر رحمه الله داهم بيان كړې دې چه ددې حضراتو ټولو نه قوى دليل دادې چه استبراء رحم اود عدت د پوره كيدو اعتبار په حيض سره كړې شوې دې چه په دې سره د رحم د حمل نه خالى كيدل متحقق او يقينى كيږى. نو كه چې په حامله باندې هم حيض راتلو نود حيض په ذريعه به د رحم دخالى كيدو والاخبره بې سود او بې فائدې كيدله.(۲)
دا هغه دليل دې كوم چه حافظ ابن حجر رحمه الله تسليم كړې دې اوهيڅ جواب ئې نه دې وركړې. علامه عينى رحمه الله د حافظ ابن حجر رحمه الله دا اشكال اود هغه نظر ذكركولونه پس فرمائيلى دى چه په حالت د حمل كښې عدم اتيان حيض باندې زمونږ استدلال صرف ددې باب د حديث نه نه دې بلكه په دې باندې ډيرزيات احاديث او ډيرزيات اخبار او آثار هم دلالت كوى.

په حالت دحمل كښې په عدم اتيان حيض باندې دلالت كونكى احاديث: ① امام بخارى رحمه الله او امام مسلم رحمه الله "نافع عن ابن عمر" په طريق باندې روايت كوى چه: «أنه طلق امرأته وهى حائض على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم، فسأل عمر بن الخطاب رسول الله صلى الله عليه وسلم، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: مره فليراجعها، ثم ليمسكها حتى تطهر ثم تحيض ثم تطهر ثم إن شاء أمسك بعد وإن شاء طلق قبل أن يمس، فتلك العدة التى أمر الله أن يطلق لها النساء»(۳)
يعنى كله چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما خپلې بى بى ته دحيض په حالت كښې طلاق وركړو نودا خبره حضرت عمر رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وړاندې پيش كړه، په دې باندې حضورپاك اوفرمائيل چه هغه (ابن عمر رضي الله عنهما ته) درجوع كولو حكم وركړه اوبيا دې ښځه په نكاح كښې اوساتى، تردې چه هغه پاكه شى كله چه هغه راتلونكې حيض تيركړى او پاكه شى نو اوس به هغه ته اختياروى كه غواړى نو حصاره دې كړى اوكه غواړى نو طلاق دې وركړى ځكه چه هم دغه هغه عدت دې دكوم په اعتبارسره چه الله تعالى د طلاق وركولو حكم فرمائيلې دې.
په دې حديث كښې رسول الله صلى الله عليه وسلم ددوو خبرو طرف ته لار خودنه اوفرمائيله. ړومبې خبره داده چه كه چرې د طلاق وركولو اراده وى نو په داسې طهركښې وركول پكاردى په كوم كښې چه جماع نه وى. او دويمه خبره دا چه د طلاق دعدت اعتبار به په حيض باندې وى. اوس د دغه اعتبار بالحيض دپاره ضرورى دى چه طلاق په داسې طهركښې وركړې شى چه د جماع نه خالى وى ځكه چه كه په دې كښې جماع شوې وى اودهغې د وجې نه حمل اوشى نو بيابه د طلاق اعتبار په حيض سره نه كيږى بلكه په وضع حمل سره به كيږى. ددې نه پته اولگيده چه په حالت د حمل كښې حيض نه راځى گنې حمل به په عدت طلاق كښې داعتبار بالحيض دپاره ركاوټ نه جوړيدو.

---

(۱) فتح البارى: ۴۱۹/۱
(۲) فتح البارى: ۴۱۹/۱.
(۳)رواه الإمام البخارى فى الطلاق باب قول الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحْصُوا الْعِدَّةَ﴾ رقم الحديث: ۵۲۵۱ وكذا رواه الإمام مسلم فى الطلاق باب تحريم طلاق الحائض بغير رضاها وأنه لو خالف وقع الطلاق ويؤمر برجعتها رقم الحديث: ۳۶۵۲.

② دحضرت ابوسعید خدری رضي الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د اوطاس د قیدیانو متعلق داهدایات جاري کړې وو چه: «لاتوطأ حامل حتی تضع ولا غیر ذات حمل حتی تحیض حیضة»[1] یعنی چه د حامله ښځې حمل ترکومې پورې وضع نه شی هغې سره جماع مه کوئی اودغه شان چه غیر حامله ښځه یوحیض تیر نه کړی هغې سره هم جماع مه کوئی.

③ حضرت رویفع بن ثابت رضي الله عنه روایت کوی چه حضورپاک ﷺ فرمائیلی «لایحل لامرء یؤمن بالله والیوم الآخر أن یسقی مائه زرع غیره، یعنی: إتیان الحبالی من السبایا وأن یصیب امرأة ثیبا من السبی حتی یستبرئها، یعنی: إذا اشتراها»[2]

یعنی د هیڅ یو صاحب ایمان سړی دپاره دا حلال نه دی چه هغه دې په خپلو اوبوسره د بل چا پټې خروب کړی، د رسول الله ﷺ مراد دادې چه قیدی حامله ښځو سره جماع مه کوئی اوداهم حلال نه دی چه یوصاحب ایمان ثیبه قیدی ښځه واخلی اود استبراء رحم نه وړاندې هغې سره جماع اوکړی.

په دې دواړو روایتونوکښې رسول الله ﷺ وجود حیض د رحم مادر د حمل نه خالی کیدو دلیل ګرځولې دې. که چرې ته دحمل او حیض اجماع ممکن وې نو وجود حیض به د انتفاء حمل دلیل هیڅ کله نه شو جوړیدې.

په حالت دحمل کښې په عدم اتیان حیض باندې دلالت کونکی اثار ① علی رضي الله عنه فرمائی «إن الله رفع الحیض عن الحبلی وجعل الدم رزقا للولد مما تغیض الأرحام»[3] ② حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی: «إن الله رفع الحیض عن الحبلی وجعل الدم رزقا للولد»[4] ③ حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی: «الحبلی لا تحیض، تغتسل وتصلی»[5]

دا ټول آثار په دې خبره باندې واضحه دلالت کوی چه حامله ښځه باندې حیض نه راځی.[6]

د ابن منیر رحمه الله د استدلال طرز: ابن منیر رحمه الله ددې په دم حیض نه کیدو باندې داسې استدلال کړې دې چه دحامله په رحم باندې فرښته مقرروی اوفرښتې په ګنده ځائی کښې نه اوسیږی لهذا د مور رحم د حیض د وینې د ګندګئی نه پاك او صاف کیدل پکاردی.[7]

په دې باندې رد کولوسره حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د فرښتې په دغه ځائی کښې مقررکیدوسره دا لازم نه راځی چه هغه دې رحم کښې دننه داخل شی چرته چه دحیض د وینې د وجود اوعدم وجود سره بحث کیږی اوبیا دا التزام خو دواړو طرفوته لګیدې شی ځکه چه وینه که د هر څه وی دحیض وی یا د بل هرقسم دویم څیز ټولې نجس وی.[8]

---

[1] رواه أبوداؤد فی النکاح باب فی وطء السبایا رقم الحدیث: ۲۱۵۹.
[2] رواه الإمام أحمد حدیث رویفع بن ثابت الأنصاری: ۲۰۷/۲۸ رقم الحدیث: ۱۶۹۹۷ مؤسة الرسالة.
[3] رواه أبوحفص بن شاهین. (الجوهرالنقی فی ذیل السنن الکبری للبیهقی: ۴۲۴/۷).
[4] رواه ابن شاهین أیضاً. (حواله بالا).
[5] رواه الدارقطنی (سنن الدارقطنی کتاب الحیض: ۴۰۷/۱رقم الحدیث: ۸۴۹).
[6] عمدة القاری:۲۹۲/۳.
[7] فتح الباری: ۴۱۹/۱.
[8] فتح الباری: ۴۱۹/۱.

ددې په جواب ورکولوسره علامه عيني رحمه الله فرمائي چه د فرښتې په رحم کښې دننه داخليدل لازمي اوضروري نه وي نودعدم دخول اوحلول فيصله هم ضروري اوقطعي نه ده. او وينه چه ترکومې پورې دننه وي هغې ته نجس نه شي وئيلې ګنې هيڅوك به هم پاك پاتې نه شي ځکه چه نجاست په ټولو کښې موجود دې.[۱]

واضحه دې وي چه ترجمة الباب «مخلقة وغير مخلقة» د سورت حج آيت ﴿ يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ مُخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِنُبَيِّنَ لَكُمْ وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى ﴾ يوه وروکې شان ټکړه ده. د آيت مبارك ترجمه داده:

ترجمه: اې خلقو که چرې تاسو (دقيامت په ورځ) د دوباره راژوندي کيدو نه په شك (اوانکار) کښې ئې نوهم مونږ (اول) تاسو دخاورې نه جوړکړئې، بيا د نطفه نه (کومه چه دخوراك نه پيداکيږي) بيا د وينې د قطرې نه، بيا د بوټئې نه چه پوره کيږي او (بعض) نيمګړې هم، دې دپاره چه مونږ ستاسو په وړاندې (خپل قدرت) ښکاره کړو او مونږ (دمور) په رحم کښې چه کومه (نطفه) غواړو د يومقررمودې پورې (يعنې د پيداکيدو دوخت) پورې حصاره ساتو.[۲]

حافظ ابن حجر رحمه الله ليکلي دي چه د «باب مخلقة وغير مخلقة» روايت مونږ ته په اضافه سره رسيدلې دې يعنې: باب التفسير قوله تعالى ﴿ مُخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ ﴾ لکه چه د حافظ ابن حجر رحمه الله په رائې کښې دامام بخاري رحمه الله مقصد د آيت مبارك تفسير کول دي.[۳]

په دې باندې علامه عيني رحمه الله اوفرمائيل چه افسوس دائې هم خودلې وې چه داد اضافت والا روايت پخپله هم د امام بخاري رحمه الله نه دې يادهغوی د شاګرد فربري رحمه الله نه دې؟ اوبيا دا حديث ددې آيت مبارك تفسير څنګه جوړيدې شي چه دحديث په متن کښې نه "مخلقة" ذکر دې اونه د "غيرمخلقة" ذکردې چه په ترجمة الباب کښې موجود لفظ "مخلقة" او "غيرمخلقة" ددواړو تفسير جوړيدې شو.[۴]

دعلامه عيني رحمه الله د اشکال حاصل دادې چه که چرې دآيت تفسير دامام بخاري رحمه الله مقصد اوګرځولې شي نودغه وخت به دا مسئله دکتاب التفسير جوړه شي.

شيخ المشائخ حضرت شاه ولي الله رحمه الله هم د حافظ ابن حجر رحمه الله په اتباع کښې هم دغه فرمائيلي دي چه د امام بخاري رحمه الله مقصد په آيت کښې موجود لفظ ﴿ مُخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ ﴾ تفسير کول دي اوسره ددې چه د دې مناسبت کتاب التفسير سره دې مګر دلته دا په کتاب الحيض کښې د ادنی مناسبت د وجې نه ذکر فرمائيلې دې.[۵] بعض حضراتو هغه مناسبت داتحريرکړې دې چه کله نطفه رحم ته ځي نودهغې به هم دوه صورتونه وي. يا به په هغې کښې تخليقي کيفيت پيداکيږي يا نه او ښکاره خبره ده چه تخليقي کيفيت به هم په هغه رحم کښې پيداکولې شي په کوم کښې چه دحيض صلاحيت وي. ځکه چه دحيض نه بغيرپه نطفه کښې تخليقي تغير پيداکول دعادة الله او سنت الهيه نه خلاف دی.[۶]

---

[۱] عمدة القاري: ۲۹۲/۳.

[۲] بيان القرآن سورة الحج: ۵۱۰/۲مکتبه رحمانيه.

[۳] فتح الباري: ۴۱۸/۱.

[۴] عمدة القاري: ۴۳۳/۳.

[۵] شرح تراجم أبواب البخاري: ۱۹الکنزالمتواري: ۲۸۰/۳ تقرير بخاري: ۱۰۱/۲.

[۶] إيضاح البخاري: ۱۲۰/۱۱.

علامه رشيداحمد گنگوهی رحمه الله فرمائی دامام بخاری رحمه الله مقصد داخودل دی چه د لفظ مخلقة اطلاق په دوو معنو باندې کيږی.(دغه شان د غيرمخلقة اطلاق هم په دوو معنو باندې به وی):

رومبۍ معنی:((ماتم خلقه وكمل،يعنی: مخلقة)) هغه جنين ته وائی د کوم تخليق چه مکمل شوې وی او غير مخلقة ددې معنې په اعتبارسره هغه جنين ته وائی دکوم په تخليق کښې چه څه نقص يا کمې پاتې شوې وی.

دويمه معنی((مالم يأخذ فی الصورة ولم يتكون إلا قليلا منه،كيد ورجل،يعنی: مخلقة)) هغه جنين ته وائی د کوم صورت چه نه وی مکمل شوې بلکه صرف لاس يا خپې جوړې شوې وی او په دې اعتبار سره غيرمخلقة هغې ته وائی د کوم چه هيڅ يو اندام نه وی تيارشوې.

اوس که چرې رومبۍ معنی مرادوی نود امام بخاری رحمه الله مقصد به دا وی چه مخلقة اوغيرمخلقة دواړه په حکم کښې يوشان دی. لهذا که ماشوم پوره وی(کوم چه د مخلقة په معنی کښې دی) يا ناقص الخلق وی (چه دغيرمخلقة په معنی کښې دی) کله چه هغه پيداکيږی نو په هغه موقع باندې دمور د رحم نه وتونکې وينه د نفاس وی څکه چه د پيداکيدو نه پس چه کومه وينه راخی هغې ته نفاس وائی اودلته هم داسې دی څکه چه ناقص ته هم ولد وائی.

اوکه دويمه معنی مراد وی نوهغه وخت به دامام بخاری رحمه الله مقصد دا وی چه مخلقة اوغيرمخلقة په احکام کښې برابر نه دی لهذا ددې دويمې معنی په اعتبارسره دغيرمخلقة د پيدائش نه پس به راتلونکې وينه دنفاس نه وی هم دا غرض شيخ الحديث زکريا رحمه الله هم اختيارکړې دې.([1])

الحديث الأول

[۳۱۲]-حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ وَكَّلَ بِالرَّحِمِ مَلَكًا [ص:۷۰] يَقُولُ: يَا رَبِّ نُطْفَةٌ، يَا رَبِّ عَلَقَةٌ، يَا رَبِّ مُضْغَةٌ، فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَقْضِيَ خَلْقَهُ قَالَ: أَذَكَرٌ أَمْ أُنْثَى، شَقِيٌّ أَمْ سَعِيدٌ، فَمَا الرِّزْقُ وَالأَجَلُ، فَيُكْتَبُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ"([2])[۳۱۵۵، ۲۲۲۲]

ترجمه:حضرت انس بن مالك رضی الله عنه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه روايت کوی الله تعالی په رحم باندې يوه فرښته مقررکړې ده چه وائی اې پروردگار! تا دمور په رحم کښې نطفه پيداکړه. اې پروردگار! تا چك وينه پيدا کړه. اې پروردگار! تا د غوښې بوټئی پيداکړه. نوچه کله الله تعالی دا اراده فرمائی چه د دې تخليق مکمل کړی نو فرښته وائی چه ښځه ده که سړې؟ بدبخت دې که نيك بخت؟ بيا دده رزق اودده عمر څه دې؟ چنانچه دا څيزونه هم دهغه د مور په خېټه کښې مقررکولې شی.

---

[1]) لامع الدراری: ۲۶۷/۲-۲۶۵ الكنزالمتواری: ۲۸۲/۳-۲۷۹تقرير بخاری: ۱۰۱/۲.

[2]) قوله: أنس بن مالک: الحديث، رواه البخاری فی أحاديث الأنبياء، باب خلق آدم وذريته رقم الحديث: ۳۳۳۳وكذا فی كتاب القدر فی الباب الأول تحت رقم الحديث: ۶۵۹۵ ومسلم فی القدر باب كيفية خلق الآدمی فی بطن أمه وكتابة رزقه وأجله وعمله الخ تحت رقم الحديث: ۶۷۲۳.

دمخلقة اوغير مخلقة تفسير: ① حضرت قتاده رحمه الله د دې په تفسير او تاويل کښې فرمائی «تامه وغيرتامه» يعنی مکمل اوپوره بوټئی (دغوښې ټکړه) يا ناتمام او نيمګړې بوټئی (دغوښې ټکړه).

② بعض حضرات فرمائی چه مخلقة وغيرمخلقة دنطفې صفت دې. په دې اعتبارسره به مفهوم دا شې چه نطفه مخلقه هغې ته وائی کوم چه مکمل تخليق کړې شی اونطفه غيرمخلقه هغې ته وائی کومه چه دتخليق نه وړاندې د مور د رحم نه غورزولې شی.

③ امام مجاهد رحمه الله او امام شعبی رحمه الله وغيره فر مائی دمخلقة نه مراد هغه جنين دې کوم ته چه مکمل انسانی شکل ورکړې شوې وی اودغيرمخلقة نه مراد هغه نيمګړې بچې دې چه دتخليق نه وړاندې غورزيږی. امام طبری رحمه الله ددې ټولواقوالو ذکرکولونه پس هم دې آخری ذکرکړې شوې قول، قول صواب ګرخولې دې.[۱]

تراجم رجال

مسدد: دا مسدد بن مسرهد بنمرعيل الاسدی البصری رحمه الله دې. ددوی حالات كتاب الايمان باب من الايمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه لاندې په اختصارسر ه او كتاب العلم باب من خص بالعلم قوماً لاندې په تفصيل سره تيرشوی دی.[۲]

حماد: داحمادبن زيدبن درهم ازری بصری رحمه الله دې. ددوی حالات كتاب الايمان باب: ﴿وَإِنْ طَآئِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا﴾ الآيه لاندې تيرشوې دې.[۳]

عبيدالله بن أبي بكر: داد حضرت انس بن مالك رضی الله عنه نمسې حضرت عبيدالله بن ابی بکر بن انس بن مالك رحمه الله دې. دې د خپل نيکه حضرت انس بن مالك رضی الله عنه نه د حديث روايت کوی اويوقول دا هم

---

۱) التوضيح: ۹۶/۵ التفسير للطبری، سورة الحج:۵ فتح الباری: ۴۱۹/۱ عمدة القاری:۴۳۳/۳ الكنز المتواری:۲۸۱/۳.
۲) كشف الباری: ۲/۲، ۵۸۸/٤.
۳) كشف الباری: ۲۱۹/۲.

دې چه دې دخپل پلار ابوبكر رحمه الله نه روايت كوي اوهغه د خپل پلار حضرت انس رضي الله عنه نه روايت د حديث كوي.[1] اوددوى نه ددوى رور بكر بن ابى بكر بن انس، حمادبن زيد، حماد بن سلمه، شدادبن سعيد، امام شعبه، عتبه بن حميد الضبى، مبارك بن فضاله، هشيم، محمد بن عبدالعزيز اوعلى بن عاصم رحمهم الله وغيره دحديث روايت كوى.[2]

امام احمدبن حنبل، يحيى بن معين، امام ابوداؤد او امامن نسائى رحمهم الله فرمائى: ثقة.[3]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى: صالح.[4] ابن حبان رحمه الله ددوى ذكر كتاب الثقات كښې كړې دې.[5] البته امام ابوداؤد رحمه الله فرمائى عنبسه بن سالم صاحب الاتواح دعبيدالله بن ابى بكر بن انس بن مالك رحمه الله نه يوڅو موضوع روايات نقل كړى دى.[6]

أنس بن مالك: دا مشهور اومعروف صحابى رسول ﷺ، د حضورپاك خادم خاص حضرت انس بن مالك بن نضر بن ضمضم خزرى انصارى رضي الله عنه دې. ددوى حالات كتاب الايمان باب من الايمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه لاندې تيرشوى دى.[7]

حل لغات

النطفة: امام اسماعيل جوهرى رحمه الله فرمائى چه نطفة د طاء په سكون سره د صفا اوبو په معنى كښې هم استعماليږى او ماء الرجل يعنى دمنى په معنى كښې هم استعماليږى. په ړومبې معنى كښې د استعماليدو په صورت كښې ددې جمع نطاف راځى اود دويمې معنى په لحاظ سره.ددې جمع نُطَف دنون په ضمه او طاء فتحه سره راځى. دا لفظ د باب ضرب او باب نصر دواړو نه مستعمل دې اود دواړو ابواب نه هم د څڅيدو په معنى كښې استعماليږى. په دې وجه داسې شپه په كومه كښې چه ترسحر كيدو پورې باران يوشان وريږى هغې ته ليلة نطوف وائى او النَطَفة د طاء فتحه سره د غوږ وينتو ته وائى اود دې جمع نَطَف دنون اوطاء فتحه سره راځى.[8]

العلَقة: دلام فتحه سره ټينګې چك شوې وينې ته علق اود هغې وړې ټكړې ته علقة وائى.[9]

المضغة: امام جوهرى رحمه الله فرمائى مضغة دغوښې ټكړې ته وائى اوهم ددې نه دا مقوله هم مشتق ده. «قلب الإنسان مضغة من جسده» يعنى دانسان زړه دهغه دبدن يوه ټكړه ده ددې جمع مُضَغ دميم ضمه اود ضاد فتحه سره راځى.[1]

---

[1] تهذيب الكمال: ۱۵/۱۹.

[2] دتفصيل دپاره اوګورئى تهذيب الكمال: ۱۵/۱۹.

[3] تهذيب الكمال: ۱۵/۱۹.

[4] الجرح والتعديل: ۳۰۹/۵رقم الترجمة: ۱٤۷۰دار إحياء التراث العربى.

[5] ۶۵/۵

[6] تهذيب الكمال: ۱۶/۱۹.

[7] كشف البارى: ٤/۲.

[8] معجم الصحاح للجوهرى: ۱۵۶۹عمدة القارى: ۲۹۳/۳.

[9] معجم الصحاح للجوهرى: ۷۳۵عمدة القارى: ۲۹۳/۳.

شرح حديث

د مذكوره روايت نه معلوميږي چه د مور په رحم كښې نطفه د پريوتلونه پس هم د فرښتې د تربيت اوخيال ساتلودپاره ليګلې شي مګر په دې باره كښې روايات مختلف دي. د يوروايت نه معلوميږي چه فرښته په دريمه چله (۱۲۰ورځې يعنى ۴مياشتې) دپوره كيدونه پس ليګلې شي. هغه روايت دا دې «إن أحدكم يجمع خلقه فى بطن أمه أربعين يوماً، ثم يكون فى ذلك علقة مثل ذلك، ثم يكون فى ذلك مضغة مثل ذلك، ثم يرسل الله الملك، فينفخ فيه الروح ويؤمر بأربع كلمات: بكتابة رزقه وأجله وشقى أوسعيد» اللفظ لمسلم.(٢) هم دغه شان د بعض رواياتو نه ۴۰ بعض نه ۴۵ اوبعض نه ۴۲، ۴۳ ورځونه پس فرښته ليګل معلوميږي.

علماء كرامو حضراتو په دې رواياتوكښې داسې تطبيق وركړې دې چه جنين د نطفې په صورت كښې د مور په رحم كښې د واقع كيدو نه پس واخله دنياته د راتلو پورې ټول مراحل د فرښتې په تربيت او خيال ساتلوكښې تيره وي اوكله هم چه د يو حال نه بل حال ته وربدليږي نوفرښته په آواز كولوسره وائي «يارب هذه نطفة، يارب هذه علقة ويارب هذه مضغة» مګر په بعض رواياتوكښې رومبې مرحله كښې د فرښتې ليګل ذكرشوى بعض كښې د دويمې مرحلې په وخت او بعض كښې د دريمې مرحلې په وخت ارسال دملائكه ذكرشوې. اود فرښتې خيال ساتل د شروع نه تر آخره پورې وي.(٣)

په دې تقرير سره د هغه سوال جواب هم كيږي چه هم په يو وخت كښې د يوې فرښتې نطفه علقه او بيا مضغه كيدل څنګه ممكن دي څكه چه د تيرو توضيحاتو نه خومعلومه شوې ده چه دا ټول تغيرات هم ديوخت سره متعلق نه دي بلكه دهريوحال نه بل حال ته وربدليدلو په مينځ كښې ۴۰ورځو موده ده.(٤)

شراح حضرات ليكلي دي چه د الله تعالى د طرف نه د جنين په خيال ساتلو باندې مقرر شوې فرښته په مختلف اوقاتو كښې مختلف تصرفات كولو باندې هم ماموركيږي. په رومبې مرحله كښې دمور په رحم كښې موجود نطفه علقه (دغوښې بوټئ) كښې ۴۰ ورځې تيريدو نه پس د فرښتې په نګرانئ كښې بدليږي اوهم دغه هغه مرحله وي چه فرښتې ته هم ددې خبرې علم كيږي چه دا نطفه به وړاندې تلو سره د بچى شكل اختياروى څكه چه هره يوه نطفه د بچى شكل نه اختياروى. اوهم ددې رومبى مرحلې د پوره والى نه پس ددغه جنين رزق دهغه عمر اودغه شان دهغه نيك بخت يا بدبخت كيدل مقدركولې شي. په دويمه مرحله كښې دغه جنين ته انسانى شكل اوصورت وركولې شي چه دا به مذكر وى كه مؤنث. هم دې ته مدة المضغة هم وائي. څكه چه ددې چلې په تكميل باندې علقه (دغوښې قطره) مضغه (بوټئ) كښې بدليږي. جنين په انسانى شكل اوصورت كښې د اچولو مرحله هم په دې دويمه چله كښې اود روح پوكوهلو نه اول كيږي. څكه چه داخبره هم فيصله شوې ده چه د روح پوكوهلو مرحله د انسانى شكل اوصورت وركولونه پس كيږي. بيا چه كله علقه په مضغه كښې بدليږي نو په دې باندې په دې حالت كښې نوره يوه چله تيريږي اود دې دريمې چلې د پوره والى نه

---

(١) لسان العرب: ١٢٩/١٢معجم الصحاح للجوهرى: ٩٩١عمدة القارى: ٢٩٣/٣.

(٢) رواه البخارى فى بدء الخلق باب ذكر الملائكة رقم الحديث: ٣٢٠٨ ومسلم فى كتاب القدر باب كيفية خلق الآدمى فى بطن أمه وكتابة رزقه وأجله وعمله وشقاوته وسعادته رقم الحديث: ٦٧٢٤-٦٧٢٣.

(٣) التوضيح: ٩٧/٥عمدة القارى: ٤٣٥/٣.

(٤) شرح الكرمانى: ١٨٧/٣.

پس په دغه جنين كښې روح پوكوهلې شي. لكه چه د روح پوكوهلو مرحله څلور مياشتې پس راځي اودا ټول مراحل د فرښتې په نګرانئ كښې انجام ته رسيږي. (١)
دعلماء كرامو په دې خبره باندې اتفاق دې چه د روح پوكوهلو مرحله څلورمياشتې پس راځي اودا خبره هم تيره شوې ده چه د رزق ليكل دعمر ليكل اودغه شان د نيك بخت اوبدبخت كيدو تقدير دريمې چلې نه پس د دويمې چلې دوران كښې كيږي. خود صحيح بخاري اوصحيح مسلم د روايت نه په ظاهره معلوميږي چه د رزق ليكل اواجل وغيره مرحله د دريمې چلې د پوره كيدو نه پس كيږي هغه روايت دادې: «إن أحدكم يجمع خلقه في بطن أمه أربعين يوماً، ثم يكون علقة مثل ذلك، ثم يكون مضغة مثل ذلك، ثم يبعث الله ملكاً، ويؤمر بأربع كلمات ويقال له: اكتب عمله ورزقه وأجله وشقي أوسعيد، ثم ينفخ فيه الروح» اللفظ للبخاري.(٢).
يعني تا دمور په خيټه كښې څلويښتو ورځو پورې د نطفه په شكل كښې ساتلې شي. بيا هغه نطفه هم دومره موده پس چك شوې وينه كښې بدلولې شي، بيا هغه چك شوې وينه هم دومره موده پس د غوښې بوټئ كښې وربدلولې شي، بيا ددې طرف ته فرښتې ته د څلورو خبرو حكم وركولوسره ليګلې شي، چنانچه هغه فرښته دده عمل، دده رزق، د ده عمر او دده بدبخت يا نيك بخت كيدل ليكي او بيا په دې كښې روح ورپوكوهلې شي.
ددې روايت نه صفا معلوميږي چه د كتابت مرحله ددريمې چلې د پوره كيدونه پس كيږي. ددې تعارض جواب دادې چه د صحيح بخاري ددې روايت جمله «ثم يبعث الله ملكاً فيؤمر بأربع كلمات» ماقبل كښې: «يجمع خلقه في بطن أمه» باندې معطوف دې او «ثم يكون علقة مثل ذلك، ثم يكون مغة مثل ذلك» دمعطوف اومعطوف عليه په مينځ كښې د جمله معترضه په توګه وارد شوې ده. او داسې د يوې جملې دمعطوف اومعطوف عليه په مينځ كښې حائل كيدل جائز او ثابت دي.(٣)
دغه شان دحضرت انس رضي الله عنه په مذكوره روايت كښې د رسول الله ﷺ دا ارشاد: «وإذا أراد الله أن يقضي خلقاً، قال: يارب! أذكر أم أنثى؟» هم دتيرشوي تحقيق خلاف نه دې اونه په دې سره دا لازم راځي چه د فرښتې دا سوال دمضغة جوړيدونه پس كيږي. ځكه چه دا پخپله يومستقل كلام دې او په دې كښې د يو بل حالت خبر وركول مقصود دي. چنانچه په روايت كښې د ټولو نه اول ددې خبرې خبر وركړې شو چه د نطفې پيدا كيدو سره يوه فرښته ددې د نګرانئ دپاره مقرركولې شي چه د نطفې كيدونه واخله مضغه جوړيدونه پس مراحل پورې مستقل نګراني كوي او بيا «وإذا أراد الله أن يقضي» سره د جدا خبرې خبر وركړو چه كله الله تعالى نطفه په علقه كښې بدلول غواړي نوهغه وخت دا امور (د رزق ليكل، د اجل ليكل د سعادت او شقاوت ليكل او دمذكر اومؤنث وغيره كيدل) هم د فرښتې په حواله كولې شي. (٤)

(١) التوضيح:٩٨/٥عمدة القاري: ٤٣٤/٣.
(٢) مرتخريجه آنفاً
(٣) التوضيح: ٩٩/٥-٩٨عمدة القاري: ٤٣٦/٣-٤٣٥.
(٤) التوضيح: ٩٩/٥عمدة القاري: ٤٣٦/٣.

قوله: فيكتب في بطن أمه: يعنې دا ټول امور فرښته د لوح محفوظ نه نقل کولوسره ليکي. [1]
لکه څنګه چه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه په مرفوع روايت کښې ددې صراحت دې. روايت دادې: «إن النطفة إذا استقرت في الرحم، أخذها الملك بكفه قال: أي رب! أذكر أم أنثى، شقي أم سعيد: ما الأثر، بأي أرض تموت؟ فيقال له: انطلق إلى أم الكتاب، فإنك تجد قصة هذه النطفة فينطلق، فيجد قصتها في أم الكتاب» [2]
يعنې کله چه نطفه دمور په رحم کښې حصاريږي نوفرښته هغه په خپل تلي کښې کيخودو سره دالله تعالى نه تپوس کوي چه اې الله! دا به سړې وي اوکه ښځه؟ بدبخت به وي که نيك بخت؟ او کوم ځاني کښې به د ده مرګ وي؟ نودې فرښتې ته ونيلې شي چه د لوح مفحوظ طرف ته لاړه شه هلته به ته د دغه نطفې پوره قصه اووينې. چنانچه فرښته د لوح محفوظ طرف ته ځي اوهلته ددې نطفې پوره تفصيل ګورى.

اشکال اود هغې جواب: په تيرو شوو بحثونوکښې داخودلې شوې وو چه کله جنين د نطفې په صورت کښې وى نوهغه وخت هم فرښته «يارب! النطفة» وئيلوسره خبر ورکوى. دغه شان چه کله هغه د نطفې نه علقه اودعلقه نه مضغه جوړيږي نوبياهم فرښته «يارب! علقة» او «يارب! مضغة» وئيلوسره خبر ورکوى. د اخبار فائده مخاطب ته ديوې خبرې علم وررسول وى اويا بيا مخاطف ته داخودل وى چه متکلم ته هم ددې خبرې علم دې. اوس دلته د اخبار دواړه پورته ذکر شوې فائدې مفقوددى ځکه چه الله تعالى عالم الغيب دې.
جواب دادې چه د فائدې والاخبره هغه وخت ده کله چه کلام دهغې په ظاهرباندې واخستې شي خوکه د ظاهر نه عدول کولوسره اوکتلې شي نوبيا ددواړونه يوه فائده هم نه شي حاصليدې. لکه چه حضرت مريم عليها السلام فرمانيلې وو ﴿رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنثَىٰ﴾ اوس چرې که دا کلام په ظاهر باندې واخستې شي او په دغه پورته ذکر شوو دواړو فائدوباندې نظروى نوهيڅ يوه فائده به حاصله نه شي ځکه چه الله تعالى عالم الغيب دې. هم دغه شان دلته هم د فرښتې کلام په خپل ظاهرباندې نه دې بلکه دلته د اخبارمقصد دې لاندينو امورونه څه هم کيدې شي:
① دالله تعالى نه ددې جنين دخلقت د پوره کولو درخواست دې. ② دعاده چه الله تعالى دې جنين ته کامل صورت ورکړى ③ دا استعلام دې اود الله تعالى نه پوښتنه کول دى چه اوس ددې باره کښې څه حکم دې؟ [3]

دکتابت نه څه مراددې؟: سوال داپيداکيږي چه دلته دکتابت نه مراد حقيقي کتابت دې که دا د تقدير نه کنايه ده؟ دلته دواړه احتمالات کيدې شي. دکتابت نه حقيقي کتابت هم مرادکيدې شي ځکه چه الله تعالى په هرڅيز باندې قادردې اوداهم ممکن دى چه دا دتقدير نه کنايه وى. ليکن په دې باندې يوبل سوال پيداکيږي چه تقدير خو د ازل نه وى اوقديم وى، تقدير خود مور په خيټه کښې نه ليکلې دې ته قدر هم وائى او تقدير ازلي خو يو عقلي امر دې کوم چه په قضاء سره تعبيرکولې شي. [4]

---

[1] التوضيح: ۹۹/۵عمدة القارى: ۴۳۶/۳.
[2] الجامع الأحكام القرآن سورة الحج:۵التفسير المظهرى، سورة الحج:۵التوضيح: ۹۹/۵ عمدة القارى۴۳۶/۳.
[3] شرح الكرماني: ۱۸۷/۳عمدة القارى: ۴۳۶/۳.
[4] شرح الكرماني: ۱۸۸/۳عمدة القارى: ۴۳۸/۳.

دكوموامورو كتابت كيږي؟ دموړيه خيته كښې هم هغه څيزونه ليكلې شي دكوم ذكرچه وړاندې تير شوې دې. يعنې د بچي رزق، د بچي عمر، نر او ښځه كيدل، نيك بخت يا بدبخت كيدل.
علامه كرماني رحمه الله فرمائي چه په دې څلورو خبروكښې دانسان د ژوند ټول احوال راجمع كړې شوى دى. خكه چه په دې كښې د مبدأ هم بيان دې چه دا بچې به په دې دنيا كښې مذكر پيداكيږي يابه مؤنث پيداكيږي؟ اودغه شان دانسان دمعاد هم ذكردې چه نيك بخت به وى اوكه بدبخت به وى؟ بيا ددې مبدأاومعاد په مينځ كښې دانسان عمر اودهغه اجل دې. اوكوم څه چه انسان په دې عمركښې مختلف تصرفات كولوسره حاصلوى هغه دده رزق دې. (١)

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: ددې حديث ترجمة الباب سره مناسبت داسې دې چه دحديث ترجمة الباب كښې موجود آيت ټكړه ﴿مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ﴾ تفسيركړې شوې دې اوهغه داسې «إذاارادالله أن يقضى خلقه» كښې دمخلقة بيان دې اود مخالف مفهوم "غيرمخلقة" مضمون ته متضمن دې يعنې چه كله الله تعالى دده د مكمل تخليق اراده نه فرمائي نودا به "غيرملخقة". وى. دلته په حديث كښې مخلقه او غير مخلقه دواړو صراحت نشته دې مګر يوبل روايت دكوم چه امام طبراني رحمه الله روايت كړې دې كښې ددواړو تصريح موجود ده. هغه روايت دادې: «إذا وقعت النطفة في ارحم بعث الله ملكاً، فقال: يارب! مخلقة أوغير مخلقة؟ فإن قال: غير مخلقة، مجتها الأرحام دماً، وإن قال: مخلقة قال: يارب! في أي صفة هذاه النطفة؟ أذكر أم أنثى؟ ما رزقها؟ ما أجلها؟ أشقى أوسعيد؟ قال: فيقال: له: انطلق إلى أم الكتاب فاستنسخ منه صفة هذه النطفة. قال: فينطلق الملك، فينسخها، فلاتزال معه حتى يأتي على آخر صفتها» (٢)

دا روايت لفظاً موقوف دې مګر حكماً مرفوع دې خكه چه په دې حديث كښې د يوداسې امر خبروركړې شوې دې دكوم چه عقل ادراك نه شى كولې اوداسې حديث په كوم كښې چه غير مدراك بالعقل امر خبر وركړې شوې وى حكماً مرفوع وى اوهغه په سماع باندې محمول كولې شى. (٣)

١٨- باب: كَيْفَ تُهِلُّ الْحَائِضُ بِالْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ

داخلورم باب دې كوم چه امام بخاري رحمه الله په كيف سره شروع كړې دې. (٤)

ماقبل سره ربط: علامه عيني رحمه الله فرمائي چه ددې باب سابقه باب سره مناسبت دادې چه په تيرشوى باب كښې امام بخاري رحمه الله دحيض داحكامونه يوحكم بيان كړې وو اوهغه حكم داوو چه دحمل دوران كښې دحيض وينه نه راخي. دغه شان امام بخاري رحمه الله په دې باب كښې هم حيض سره متعلق يوحكم بيان كړې دې اوهغه حكم دادې چه حائضه هم د حج يا عمرې احرام تړلې شى. (٥)

د ترجمة الباب مقصد: اكثر شراح كرام حضراتو ترجمة الباب كښې مجود لفظ "كيف" د دې په اصلي اوحقيقي معنى كښې نه دې اخستې بلكه دائي وئيلى دى چه د "كيف" نه مراد جواز اوعدم جواز

(١) شرح الكرماني: ١٨٨/٣عمدة القاري: ٤٣٧/٣.
(٢) فتح الباري: ٤١٩/١-٤١٨ عمدة القاري: ٤٣٤/٣رواه الطبري في تفسيره: ٤٦٢/١٦-٤٦١.
(٣) فتح الباري: ٤١٩/١-٤١٨ عمدة القاري: ٤٣٤/٣.
(٤) الكنزالمتواري: ٢٨٣/٣.
(٥) عمدة القاري: ٤٣٨/٣.

صحت اوعدم صحت دې. اود امام بخاری رحمه الله مقصد دا سوال کول دی چه آیا حائضه د حج یا دعمرې احرام تړلې شی که نه؟ اوبیانی په روایت سره ددې صحت او جواز ثابت کړې.[1]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په دې وضاحت سره دا اعتراض هم ختمیږی چه حدیث او ترجمة الباب کښې مناسبت نشته ،ځکه چه په حدیث کښې د احرام تړلو څه کیفیت یا صفت نه دې بیان شوې خو لفظ "کیف" کیفیت حالت او صفت نه عبارت دې، ځکه چه لفظ "کیف" په خپله اصلي معنی کښې نه دې.[2]
داکثر شراح حضراتو په دې توجیه باندې اعتراض کیږی اوهغه اعتراض داکیږی چه په حدیث خود حج دمیاشتو د صحت ذکرموجود دې مگر د عمرې د اهلال صحت په حدیث کښې ذکر نشته دې.
دکوم مطلب چه داشو چه حدیث باب د ترجمة الباب صرف په بعض باندې دلالت کوی. جواب دادې چه دلته د صحت اهلال نه مراد اعم دې سره ددې که په شروع کښې وی لکه دحضرت عائشه رضي الله عنها د حج دپاره احرام تړل دحیض په حالت کښې وو سره ددې چه هغې ته دا احرام تړلونه پس حیض راغلې وی ځنګه چه حضرت عائشه رضي الله عنها د عمرې په احرام کښې وه اودهغې نه پس په هغې باندې حیض راغلې په دواړو صورتونوکښې دحائضه دپاره احرام تړل (که هغه دحج وی اوکه دعمرې) صحیح او جائزدې.
دویم جواب دادې چه د عمرې احرام د حج په احرام باندې قیاس کړې شی لکه چه دحائضه دپاره د حج احرام تړل صحیح دی هم دغه شان دعمرې دپاره احرام تړل هم صحیح دی.[3]
دشیخ الحدیث حضرت زکریا رحمه الله رائې: شیخ الحدیث حضرت زکریا رحمه الله فرمائی چه دحضرات شراح بیان کړې شوې توجیه په خپل ځائی باندې صحیح ده مگر په دې کښې د لفظ کیف رعایت نه دې کړې شوې. زما په نیز لفظ کیف په خپل ظاهرباندې اوخپله اصلي معنی کښې دې اومقصد د حائضه دپاره کیفیت اوصفت بیانول دی اوهغه داسې چه سره ددې بنځه حائضه وی خوچه کله دحج اوعمرې احرام تړی نوغسل کولوسره به احرام تړی اودحضرت عائشه رضي الله عنها احرام هم ددې قبیل نه وو.[4]
پاتې شوه خبره ددې غسل د حکم، امام بخاری رحمه الله د احرام تړلو دکیفیت سره د کیف لفظ سره دغسل دحکم طرف نه هم په یو سوالیه انداز کښې اشاره کړې ده چه آیا داغسل کول مستحب دی که واجب؟ ځکه چه داغسل خو به هم په حیض کښې وی نود جمهورو په نیز دا غسل مستحب دې بغیرد حزم رحمه الله نه چه دهغه په نیز داغسل واجب دې.[5]

الحديث الأول

[۳۱۳] - حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ، فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ، وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ، فَقَدِمْنَا مَكَّةَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

---

[1] شرح الكرماني: ۳/ ۱۹۰-۱۸۹فتح الباري: ۱/ ٤١٩عمدة القاري: ۳/ ٤٣٨ إرشادالساري: ۱/ ٥٦٠الكنزالمتواري: ۳/ ۲۸۳.
[2] فتح الباري: ۱/ ٤١٩.
[3] شرح الكرماني: ۳/ ۱۹۰-۱۸۹.
[4] الكنزالمتواري: ۳/ ۲۸۳.
[5] الكنزالمتواري: ۳/ ۲۸۳.

«مَنْ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ وَلَمْ يُهْدِ، فَلْيُحْلِلْ، وَمَنْ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ وَأَهْدَى، فَلاَ يُحِلُّ حَتَّى يُحِلَّ بِنَحْرِ هَدْيِهِ، وَمَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ، فَلْيُتِمَّ حَجَّهُ» قَالَتْ: فَحِضْتُ فَلَمْ أَزَلْ حَائِضًا حَتَّى كَانَ يَوْمُ عَرَفَةَ، وَلَمْ أُهْلِلْ إِلاَّ بِعُمْرَةٍ، فَأَمَرَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَنْقُضَ رَأْسِي وَأَمْتَشِطَ، وَأُهِلَّ بِحَجٍّ وَأَتْرُكَ العُمْرَةَ، فَفَعَلْتُ ذَلِكَ حَتَّى قَضَيْتُ حَجِّي، فَبَعَثَ مَعِي عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، وَأَمَرَنِي أَنْ أَعْتَمِرَ مَكَانَ عُمْرَتِي مِنَ التَّنْعِيمِ[1]-[ر ۲۹۰]

ترجمه: دحضرت عائشه رضي الله عنها نه روایت دې چه مونږ رسول الله ﷺ سره په حجة الوداع کښې اووتلو اوبیه مونږ کښې بعض د عمرې احرام تړلې وو اوبعض خلقو د حج احرام تړلې وو. رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه کوم سړی دعمرې احرام تړلې دې اوهدی خان سره نه دې راوړې نوهغه دې حلال شي. اوکوم سړی چه د عمرې احرام تړلې دې او هدی خان سره راوستې ده هغه دې نه حلال کیږی ترهغه وخته پورې چه هغه دخپلې قربانۍ کولوسره حلال شي. اوکوم سړی چه د حج احرام تړلې دې هغه دې خپل حج پوره کړی. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه په ماحیض شروع شو اوزه حائضه شوم تردې چه دعرفه ورځ راغله اوما دعمرې احرام تړلې وو. چنانچه رسول الله ﷺ حکم راکړو چه زه خپل سر کولاؤ کړم او ګمنزل اوکړم اود حج احرام اوتړم او عمره ترک کړم. چنانچه ما هم داسې اوکړه تردې چه ما دحج ارکان اداکړل. بیا حضور پاك ماسره عبدالرحمن بن ابوبکر رضي الله عنه اولیګلو چه زه دترك کړې عمرې په ځائې باندې دتنعیم نه عمره اوکړم.

تراجم رجال

یحیی بن بکیر: دا امام اوزکریا یحیی بن عبدالله بن بکیر القرشي المخزومی المصری رحمه الله دې. ددوی حالات بدءالوحی ددریم حدیث لاندې تیرشوی دی.[2]

لیث: دا امام ابوالحارث لیث بن سعد بن عبدالرحمن فهمی رحمه الله دې. ددوی حالات هم بدءالوحی ددریم حدیث لاندې تیرشوی دی.[3]

عقیل: دا عقیل بن عقیل بن خالد بن عقیل رحمه الله دې. ددوی مختصر حالات بدءالوحی ددریم حدیث لاندې اوتفصیلی حالات کتاب العلم باب فضل العلم لاندې تیرشوی دی.[4]

ابن شهاب: دامشهور محدث ابوبکر محمدبن مسلم بن عبیدالله بن عبدالله بن شهاب زهری مدنی رحمه الله دې. ددوی حالات هم بدءالوحی ددریم حدیث لاندې تیرشوی دی.[5]

عروة: دا عروة بن الزبیر بن العوام رحمه الله دې. د دوی مختصر حالات بدءالوحی دویم حدیث لاندې[6] اوتفصیلی حالات کتاب الایمان باب أحب الدین إلی الله أدومه لاندې تیرشوی دی.[1]

---

[1] قوله: عائشة: الحدیث مرتخریجه في باب الأمر بالنفساء إذا نفسن تحت رقم الحدیث: ۲۹٤.

[2] کشف البار: ۳۲۳/۱.

[3] کشف البار: ۳۲۳/۱.

[4] کشف البار: ۳۲۵/۱، ٤٥٥/۳.

[5] کشف البار: ۳۲۶/۱.

[6] کشف الباری: ۲۹۱/۱.

عائشة: دا ام المؤمنين سيده عائشه بنت ابى بكر الصديق رضي الله عنها ده. د دوى حالات بدء الوحي دويم حديث لاندې تيرشوى دى. [۲]

شرح حديث

د حجة الوداع دواقع كيدو كال ۱۰هجرى دې. [۳]

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: د حديث ترجمة الباب سره مناسبت د حديث الفاظ «وأهل بحج» نه ثابت دې ځكه چه په دواړو كښې دحائضه دپاره د حج داحرام تړلو ذكر دې. ددې دپاره چه حضرت عائشه رضي الله عنها د حيض په حالت كښې د حج احرام تړلې وو. [۴]

بله داخبره چه كومو حضرات دحضرت عائشه رضي الله عنها د قارنه كيدو قول كړې دې نودهغوى په نيز حديث اوترجمة الباب كښې مناسبت نور زيات واضح دې ځكه چه لكه څنګه په ترجمة الباب كښې دحائضه دپاره احرام د حج اواحرام دعمرې دواړو ذكر دې هم دغه شان په حديث كښې دحضرت عائشه رضي الله عنها د حيض په حالت كښې داحرام حج اواحرام عمرې دواړو ذكر دې. ځكه چه حضرت عائشه رضي الله عنها د حيض په حالت كښې د حج احرام تړلې وو. اوهغه ددې احرام حج نه وړاندې په احرام دعمره كښې هم وه. [۵]

۱۹-باب: إِقْبَالِ الْمَحِيضِ وَإِدْبَارِهِ

ماقبل سره ربط: ددې باب سابقه باب سره مناسبت دادې چه په دواړوابواب كښې دحيض احكامو بيان دې. [۶]

د ترجمة الباب مقصد

دشيخ الحديث حضرت زكريا رحمه الله رائې: شيخ الحديث حضرت زكريا رحمه الله فرمائى چه دحضرات شراح دمقصدسره متعلق هيڅ نه دى فرمائيلى. البته دحافظ ابن حجر رحمه الله د كلام نه دامعلوميږى چه دامام بخارى رحمه الله مقصد په دې ترجمة الباب سره د ائمه اربعه رحمهم الله دانقطاع حيض سره متعلق د اختلاف طرف ته اشاره كول دى. ځكه چه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه د علماءكرامو په دې خبره باندې اتفاق دې چه اقبال حيض (د حيض راتللو) پيژندګلو دحيض د وينې د دې په ممكن وخت كښې وتل دى مګر ادبارحيض (انقطاع حيض) پيژندګلوكښې اختلاف دې.بعض كرسف او مالوچ د اوچ راوتل دانقطاع حيض علامت ګرځولې دې اوبعض هغه سپينې اوبه د انقطاع حيض علامت ګرځولې دې چه د حيض په اختتام باندې راوځى. [۷]

---

[۱] كشف الباري: ٤٣٦/٢.

[۲] كشف الباري: ٢٩١/١.

[۳] إرشادالساري: ٥٦٠/١عمدة القاري: ٤٣٨/٣.

[۴] عمدة القاري: ٤٣٩/٣-٤٣٨.

[۵] عمدة القاري: ٤٣٩/٣-٤٣٨.

[۶] عمدة القاري:٤٤٠/٣.

[۷] الكنزالمتواري: ٢٨٤/٣فتح الباري: ٤٢٠/١.

کسف یادمالوچو اوچ وتلوته جفوف اوسپینو ابو. تلونه قصة بیضاء سره تعبیرکړې شوی دی. دعلامه ابن بطال ﷫ دکلام نه معلومیږی چه ادبارحیض انقطاع حیض، هم دغه دوه علامتونه دی. اوس ددې دواړو نه دحم دحیض نه پاکیدو په سلسله کښې څوم علامت زیات معتبر دې نوپه دې کښې دامام مالك ﷫ په شاګردانوکښې اختلاف دې.[1]

د ابن قاسم ﷫ د روایت مطابق که چرې حائضه دانقطاع حیض به وخت قصة بیضاء (د سپینواوبو) لیدونکونه ده نودهغې دپاره ادبارحیض یعنی دانقطاع حیض علامت به هم قصة بیضاء وی. ترکومې چه هغه قصة بیضاء نه ګوری پاکه به نه وی. لیکن چه کومه حائضه د قصة بیضاء لیدونکونه نه ده نودهغې دپاره د ادبارحیض علامت جفوف دې اوهم دغه د عیسی بن دینار ﷫ قول هم دې. اود ابن عبدالحکم د روایت مطابق دادبارحیض علامت صرف جفوف دې سره ددې چه هغه حائضه د قصة بیضاء د لیدونکوه وی اوهم دغه دحضرت عمر ﷛ اوحضرت عطاء بن ابی رباح ﷫ قول هم دې.[2]

علامه قسطلانی ﷫ دویمه معنی اختیارکړې ده. چنانچه هغه فرمانی چه د قصة بیضاء نه مراد هغه سپینې اوبه دی چه د حیض په ختمیدو باندې ښکاره کیږی اوپه دې سره د رحم د پاکیدو پته لګی.

علامه قسطلانی ﷫ د دویمې معنی اختیارولودپاره د ترجیح وجه دا بیان کړې ده چه جفوف عدم دې اوقصة بیضاء د سپینو اوبو د وجود او په دلالت کولوکښې وجو زیات ابلغ اومؤثردې. بیا دلته داسې ددې وجې نه هم دی چه د ښځې رحم په حیض کښې هم کله کله بالکل اوچیږی اوهم داسې چه کله د ایام حیض په مینځ کښې هم ښځه صفائی کوی نود څه وخت دپاره هغه اوچه شی خودا معامله د قصة بیضاء په معنی د سپینو اوبونه ده څکه په سپینو اوبوکښې صرف د طهر کیدو احتمال دې.[3]

د شیخ الحدیث حضرت زکریا ﷫ قول: شیخ الحدیث حضرت زکریا ﷫ فرمانی چه زما په نیز دامام بخاری ﷫ مقصدپه محدثینوکښې مشهورې دې معنې طرف ته اشاره کول دی دکوم د پاره چه محدثین حضرات اقبال حیض او ادبار حیض غوندې اصلاحات استعمالوی. یعنی د محدثینو حضراتو په نیز دا دوه اصطلاحی کلمې دی. چه د یوخاص قسم وینې د راتلو اودهغې د تلو په معنی کښې استعمالیږی. او هم په دې وجه امام بخاری ﷫ ددې باب لاندې هغه آثار او روایات راوړلې دی دکوم تعلق چه الوان (رنګونو) سره دې.[4]

لیکن چونکه حضرات حنفیه ته تمییزباللون (یعنی د رنګ په ذریعه دحیض وینه د غیرحیض د وینې نه جداکولو) سره اتفاق نه دې بلکه داحنافو په نیز دحیض په معامله کښې ایام (عادت) اعتبارکولې شی. په دې وجه داحضرات داقبال او ادبار والاروایت په ایام عادت باندې محمول کوی.[5]

نورکه دا اووئیلې شی چه امام بخاری ﷫ لکه څنګه دایام معتبرکیدو صراحت نه دې کړې، هم دغه شان هغوی تمییز باللون قول هم نه دې اختیارکړې نودا ویناکول به غلط نه وی. څکه چه امام بخاری

---

[1] شرح ابن بطال: ۱/۴۴۶-۴۴۵ التوضیح: ۱۰۵/۵.
[2] شرح ابن بطال: ۱/۴۴۶-۴۴۵ التوضیح:۱۰۵/۵ المنتقی شرح الموطا: ۱/۴۳ دارالکتب العلمیة.
[3] إرشادالساری: ۵۶۱/۱.
[4] الکنزالمتواری: ۲۸٤/۳.
[5] الکنزالمتواری: ۲۸٤/۳.

رحمه الله دباب لاندي دحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها دا اثر راوړلې دې: «لاتعجلن حتى ترين القصة البيضاء» د کوم نه چه صفا پته لګي چه حضرت عائشه رضي الله عنها د رنګ اعتبارنه دې کړې.[1]

دعلامه انور شاه كشميري رحمه الله قول: علامه انورشاه كشميري رحمه الله فرمائي چه آيا د حيض په راتلو اوحيض په ختميدو کښې د رنګونو اعتبارشته چه تور او سور رنګ خو حيض اوشميرلې شي او خړ شين او زيړ رنګونه دې حيض اونه منلې شي. يا په دې سلسله کښې دعادت اعتباردې چه په ايام حيض کښې هرقسم رنګين رطوبت او ويني ته به حيض ونيلې شي؟ نوامام بخاري رحمه الله چه دلته کوم عنوان اختيارکړې دې اودهغې لاندې چه کوم آثار راوړلي دي په هغې کښې دتمييز باللون صراحت نشته بلکه دا آثار دتمييز باللون په غير معتبرکيدو باندې دلالت کوي. دکوم نه چه معلوميږي چه امام بخاري رحمه الله په دې سلسله کښې امام ابوحنيفه رحمه الله سره دې.[2]

«وَكُنَّ نِسَاءٌ يَبْعَثْنَ إِلَى عَائِشَةَ بِالدُّرْجَةِ فِيهَا الكُرْسُفُ فِيهِ الصُّفْرَةُ، فَتَقُولُ: لاَ تَعْجَلْنَ حَتَّى تَرَيْنَ القَصَّةَ البَيْضَاءَ تُرِيدُ بِذَلِكَ الطُّهْرَ مِنَ الحَيْضَةِ. وَبَلَغَ ابْنَةَ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ: أَنَّ نِسَاءً يَدْعُونَ بِالْمَصَابِيحِ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ، يَنْظُرْنَ إِلَى الطُّهْرِ، فَقَالَتْ: مَا كَانَ النِّسَاءُ يَصْنَعْنَ هَذَا، وَعَابَتْ عَلَيْهِنَّ»

الحديث الأول

[٣٢٣] - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ أَبِي حُبَيْشٍ، كَانَتْ تُسْتَحَاضُ، فَسَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «ذَلِكِ عِرْقٌ وَلَيْسَتْ بِالحَيْضَةِ، فَإِذَا أَقْبَلَتِ الحَيْضَةُ، فَدَعِي الصَّلاَةَ وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْتَسِلِي وَصَلِّي» [3]-[ر ٢٢٦]

داثار اوحديث ترجمه: ښځوبه حضرت عائشه رضي الله عنها له په ډبې کښې کرسف بندولوسره راليګلو په کوم کښې چه زيړوالې وو، وحضرت عائشه رضي الله عنها به فرمائيل تادى مه کوئى تردې چه د چونې په شان خالص سپينوالې اووينئ. هغې (حضرت عائشه رضي الله عنها) به د دې نه د حيض نه پاکوالې مراد اخستلو.

او دحضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه لورته چه کله داخبره معلومه شوه چه ښځې په مينځ شپه کښې چراغ راغواړي اود طهر يعني پاکوالى باره کښې ګوري نوهغې اوفرمائيل چه اول خو به ښځوداسې نه کول اوهغې دا عمل معيوب اوګنړلو.

دحضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه فاطمه بن حبش ته داستحاضه عارضه وه نوهغې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په دې باره کښې معلومات اوکړو. حضورپاك اوفرمائيل داد رګ وينه ده، حيض نه دې، نوچه کله د حيض راتلل وى نو مونځ پريږده اوکله چه حيض ختم شي نوغسل کولوسره مونځ اداکوه.

تخريج التعليق الاول: دامام بخاري رحمه الله داتعليق اواثر امام مالك رحمه الله مؤطا کښې اومحدث عبدالرزاق رحمه الله په خپل مصنف کښې موصولاً ذکر کړې دې. دامام مالك رحمه الله تخريج دا دې: «مالك عن علقمة بن أبي علقمة عن أمه مولاة عائشة أم المؤمنين أنها قالت: كان النساء يبعثن إلى عائشة بالدرجة فيها الكرسف

---

[1]) الكنز المتواري: ٣/٢٨٥.

[2]) فيض الباري: ١/٥٠١.

[3]) قوله: عائشة: الحدى، مر تخريجه في كتاب الوضوء باب غسل الدم رقم الحديث: ٢٢٨.

فيه اصفرة من دم الحيض، يسئلنها عن الصفرة، فتقول لهن: لا تعجلن حتى ترين القصة البيضاء تريد بذلك الطهر من الحيضة))[1]

اومحدث عبدالرزاق تخريج دادي (عبدالرزاق قال: أخبرنا معمر عن علقمة بن أبي علقمة قال: أخبرتني أمي أن نسوة سألت عائشة رضي الله عنها عن الحائض تغتسل إذا رأت الصفرة وتصلي؟ فقالت عائشة: لا، حتى ترين القصة البيضاء)[2]

تراجم رجال

علقمة: دا راوی حدیث علقه بن ابی علقمه بن ام علقمه په دواړه شان سره پیژندلی شی. دابوعلقمه نوم مبارك بلال او ام علقه نوم مبارك مرجانه دې. ام علقمه دحضرت عائشه رضي الله عنها آزاده کړې شوې وینځه وه او په دې کښې د ائمه رجال هیڅ اختلاف نشته دې. البته په دې کښې اختلاف دې چه ابوعلقمه هم دحضرت عائشه رضي الله عنها آزاد کړې شوې غلام وو یا هغه د مصعب بن عبدالرحمن بن عوف آزادکړې شوې غلام وو؟ نودامام مالك رحمه الله رحجان دې طرف ته دې چه دام علقمه په شان ابوعلقمه هم د حضرت عائشه رضي الله عنها آزاد کړې غلام وو او دزبیربن بکار رحمه الله وینا ده چه ابوعلقمه، د مصعب بن عبدالرحمن بن عوف آزاد کړې غلام وو.[3]

علقمه بن ابی علقمه مدنی دې. هغه د خپل مور بی بی مرجانه، حضرت انس بن مالك، سعیدبن المسیب، امام اعرج او هزان بن مالك رحمهم الله وغیره نه دحدیث روایت کړې دې.

او ددوی نه عبدالرحمن بن ابی الزناد، امام مالك، سلیمان بن بلال، دراوردی، حمزه بن عبدالواحد، عبدالعزیز بن عبدالله بن حمزه بن صهیب رحمهم الله وغیره دحدیث روایت کړې.[4]

ابن معین، امام ابوداؤد اوامام نسائی رحمهم الله هغوی ثقه ګرځولی دی.[5] امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی: ((صالح الحديث، لابأس به)) [6] ابن حبان رحمه الله دهغوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې. [7]ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی ((كان ثقة مأموناً))[8]

ددوی دتاریخ وفات په حواله سره ابن سعد رحمه الله او ابن حبان رحمه الله په مینځ کښې اختلاف دې. دابن سعد رحمه الله په قول دهغوی وفات دابوجعفر منصور د خلافت په شروع کښې شوې او دابن حبان رحمه الله په قول د دوی وفات د ابوجعفر منصور دخلافت په آخری دور کښې شوې.[9]

---

[1]) الموطا للإمام مالک کتاب الطهارة باب طهر الحائض مکتبة نور محمد.

[2])مصنف عبدالرزاق کتاب الحیض باب کیف الطهر رقم الحدیث: ۱۱۵۹ المجلس العلمی الهند والمکتب الإسلامی.

[3]) التمهیدلابن عبدالبر، علقمة بن أبی علقمة: ۱۰۷/۲۰، المکتبة التجاریة.

[4]) تهذیب التهذیب: ۲٤٤/۷دارالفکر

[5]) تاریخ ابن معین، الأول من التابعین ومن بعدهم من أهل المدینة: ۱۹۱/۳رقم الحدیث:۸٦۷إحیاء التراث الإسلامی، تهذیب الکمال: ۲۹۹/۲۰مؤسسة الرسالة.

[6]) تهذیب الکمال: ۲۹۹/۲۰مؤسسة الرسالة.

[7]) ۲۱۱/۵دارالفکر.

[8]) التمهیدلابن عبدالبر: ۱۰۷/۲۰.

[9]) کتاب الثقات لابن حبان: ۲۹۱/۷دارالفکر تهذیب التهذیب: ۲٤٤/۷دارالفکر.

ابوعلقمة: داعلقمه بن ابی علقمه پلار بلال رحمه الله دې د چاکنیت چه ابوعلقمه دې.(۱)
ابن حبان ددوی ذکر په کتاب الثقات کښې کړې دې.(۲)

اُم علقمة: داعلقمه بن ابی علقمه مور ام علقمه ده. ددې نوم مرجانه ده. ابن حبان رحمه الله ددې ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې.(۳) داحضرت عائشه رضي الله عنها نه روایت کوی اودې نه ددې خوئی علقمه روایت کوی.(۴). امام عجلی رحمه الله فرمائی مدنیة تابعیة ثقة.(۵)

دمذکوره اثر شرح: دلفظ "قصة" تفسیر : د لفظ قصة په فتح د قاف اوتشدید د صاد په تفسیرکښې مختلف اقوال دی. علامه زمخشری رحمه الله فرمائی چه قصة په لغت کښې چونې ته وائی. چنانچه ونیلې کیږی ((قصص داره أي: جصصها)) فلانکی کور چونا کړو. اوبیائی مذکوره اثر ذکرکولوسره ددې متعلق درې احتمالات ذکرکړل. ① ددې اثر مطلب دادې چه ښځه به ترهغه وخته پورې دحیض په حالت کښې وی ترکومې چه ښځه په فرج کښې کیخودې شوې کپړې ټکړه یا مالوچ د چونې په شان سپین اونه وینی په کوم چه نه څه قسم زیړوالې لګیدلې وی اونه پرې دخاورې خړرنګ وی. ② دبعض حضراتو وینا ده چه قصة نه مراد هغه څیز دې چه د سپین تار په شان د حیض وینه بندیدو نه پس راوځی اودا معنی حضرت عائشه رضي الله عنها بیان کړې ده. ③ د حضرت عائشه رضي الله عنها مقصد د سپینوالی نه علاوه دټولو رنګونو نفی کول دی. یعنی چه د سپینوالی نه علاوه د بل یو رنګ اثر نه وی اوهم ددې دپاره قصة بیضاء تعبیرئی پیش کړو. څکه چه ښکاره خبره ده چه کوم سرې سپینوالې وینی هغه د سپینوالی نه علاوه بل رنګ ته نه ګوری.(۶)

علامه کرمانی رحمه الله رومبې احتمال اختیارکړو اوددې اثر شرح ئې داسې بیان کړه چه حضرت عائشه رضي الله عنها هغه سوال کونکو ښځوته دا فتوی ورکړه چه د پاکوالی حالت به ترهغه وخته پورې نه وی ترکومې پورې چه زیړوالې باقی وی. بلکه د پاکوالی د حاصلولودپاره ضروری دی چه مالوچ د چونې په شان سپین اوصفا ښکاره شی.(۷) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی په دې اثر کښې ددې خبرې دلیل دې چه دحیض په حالت کښې ښکاریدونکې زیړوالې او خاورین رنګ حیض دې.(۸)

څکه چه حضرت عائشه رضي الله عنها په دغه اثر کښې هم دغه فیصله فرمائیلې ده چه د حیض په زمانه کښې ښکاریدونکې زیړوالې یا خاورین رنګ به هم حیض شمیرلې کیږی. اوهم دغه دامام مالک رحمه الله امام ابوحنیفه رحمه الله امام احمد رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله مذهب دې. البته امام ابویوسف رحمه الله او ابوثور رحمه الله

---

(۱) کتاب الثقات لابن حبان: ٦٥/٤
(۲) ایضاً.
(۳) ٤٦٦/٥.
(۴) ایضاً
(۵) معرة الثقات للإمام العجلی: ٤٦١/٢ مکتبة الدار.
(۶) الفائق فی غریب الحدیث والأثر: ٢٠٠/٣ النهایة فی غریب الأثر: ١١٣/٤.
(۷) شرح الکرمانی: ١٩١/٣.
(۸) فتح الباری: ٤٢٠/١ وکذا فی شرح البخاری لابن بطال: ٤٤٦/١.

فرمائی چه دحیض په زمانه کښې ښکاریدنکې زیړوالې او خاورین رنګ به هغه وخت حیض شمیرلې شی کله چه ددې نه وړاندې د تور رنګ وینه راغلې وی.[1]

موفق الدین ابن قدامه رحمه الله فرمائی چه دامام مالک رحمه الله نه د قصة بیضاء په تفسیر کښې دوه اقوال نقل دی: ① قصهٔ بیضاء هغه سپینو اوبوته وائی چه د حیض په ختمیدو باندې راوځی کومې ته چه ترية هم وائی. ② قصهٔ بیضاء د مالوچو هغه خاص ټکړې ته وائی کومه چه ښځه په خپل فرج کښې ایږدی چه کله هغه راویستلې شی نو چه هغه شان سپینه او صفاوی لکه چه په فرج کښې د کیخودو په وخت وو او په دې باندې دهیڅ قسم بدلیدل نه وی.[2] دغه شان علامه دردیر رحمه الله نه نقل دی چه د قصة بیضاء نه مراد هغه سپینې اوبه دی چه د ښځې د رحم نه خارج کیږی.[3]

علامه ابن عابدین شامی رحمه الله د لفظ قصهٔ بیضاء معنی بیانولوسره لیکلی دی چه د قصة معنی چونا او مطلب دا چه چه دمالوچوهغه ټکړه چه کله راویستلې شی نوچه د چونې په شان وی نه په هغې باندې زیړ رنګ وی اوخاورین اودا د انقطاع حیض دلیل دې.[4]

علامه عینی رحمه الله هم د لفظ قصة په تفسیر کښې مختلف اقوال نقل کړی دی. هم ددغه اقوال نه یوقول داهم دې چه قصة هغه خاورې ته وائی کومې سره چه سر وینځلې شی اوزیرېخنه د سپین رنګ وی اوچونکه په حدیث کښې لفظ قصة بیضاء ذکرشوې دې په دې وجه به دلته مفهوم دا وی چه په فرج کښې کیخودې شوې مالوچ چه د چونې په شان سپین اوصفا راوځی کوم سره چه زیړ رنګ شامل نه وی. علامه عینی رحمه الله فرمائی چه چونې سره تشبیه ورکولو کښې مقصد سپینوالې او صفائی ده چه مالوچ هم په خپل حالت باندې راوځی.[5]

قوله: وکن نساء: کن د جمع مؤنث غائب صیغه ده او په دې کښې موجود د جمع ضمیر د نساء طرف ته راګرځی اوداسې ضیمر ته په علم نحوه کښې ضمیرمبهم وئیلی شی. اود ضمیر مبهم د جواز شرط دادې چه دهغې طرف ته روستو ضرور اشاره کړې شوې وی لکه چه دلته لفظ د نساء هم د دې ضمیرجمع طرف ته اشاره کونکې دې اودې سره بدل واقع کیږی اوددې جوازهم داسې دې لکه چه «أكلوني البراغيث» وئیل جائز اوصحیح دې لهذا دې ته اضمار قبل الذکر وئیل صحیح نه دی.

بل لفظ نساء روستوذکرکولو کښې (هرکله چه لفظ کن سره ددې طرف ته اشاره کیږی) د تنویع فائده حاصلیږی او په لفظ نساء کښې موجود تنوین هم دد تنویع طرف ته اشاره کوی اومطلب دادې چه داسې د ټولو ښځود طرف نه نه کیدل بلکه د بعض ښځود طرف نه دا عمل مخې ته راغلې وو.[6]

قوله: الدرجة: علامه ابن اثیر رحمه الله فرمائی چه دا لفظ "دِرَجَة" ددال په کسره او راء په فتحه سره نقل دې اودا د دُرَج جمع ده او دغه شان أدرج هم ددې جمع راځی اوددې معنی ده دښځو وړوکی مړوکی

---

[1] أوجز المسالک: ۵۸۹/۱.

[2] المغنی لابن قدامة: ۳۹۹/۱.

[3] الشرح الكبير للعلامة أحمدالدردير مع حاشية الدسوقي: ۲۸۱/۱دارالكتب العلمية.

[4] حاشية ابن عابدين كتاب الطهارة باب الحيض مطلب: لوأفتى مفت بشيء من هذا الأقوال الخ:۸۸۲/۱ دارعالم الكتب.

[5] عمدة القاري:۴۴۱/۳.

[6] عمدة القاري: ۴۴۰/۳.

ځیزونه کیخودو صندوقچه. یوقول داهم دې چه د لفظ تلفظ "الدرجة" د دال ضمه او راء سکون سره دې اودلته په دې مقام باندې دا لفظ سره ددې چه په دې معنی کښې مستعمل دې کومه چه پورته ذکر شوه لیکن اصلاً ددې معنی د هغه کپړې ده په کوم کښې چه دوانی اوتړې او د اوښې په فرج کښې کیخودې شی او بیا یو څوورځې پس هغه کپړه د اوښې د فرج نه راویستې شی. په دې عمل سره مقصد د اوښې په زړه کښې د بلې اوښې د بچې دپاره رحمت اوشفقت پیداکول وی. په دې وجه په کپړه کښې څه خاص دوائی اچولوسره کله په فرج کښې کیخودې شی نوهغه اوښه دحمل په شان کیفیت محسوس کوی اوبیا دذغه کپړې د راویستلو نه پس د بلې اوښې بچې دې ته نیزدې کولې شی نوهغه داخپل بچې ګڼړی او په ده باندې مهربانه کیږی او هغه سره مینه کوی. د الدرجة جمع الدُرج د راء فتحه سره ده. یو دریم قول داهم دې چه دا لفظ الدُرْجة ددال ضمه او راء سکون سره دې اودا د الدرج تانیث دې اودا اول تیر شوی دی چه الدرج مفرد دې او ددې جمع دِرَجة او أدراج راځی.[1]

د مذکوره تعلیق ترجمة الباب سره مناسبت: ددې تعلیق ترجمة الباب سره مناسبت دادې چه په ترجمة الباب کښې ادبار حیض یعنی دحیض دختمیدو تذکره ده او تعلیق مذکورکښې د ادبارحیض علامت قصهٔ بیضاء (سپینو اوبو) تذکره ده.[2]

تخریج التعلیق الثاني: دامام بخاری رحمه الله دا دویم تعلیق امام مالك رحمه الله موصولاً ذکرکړې دې. دامام مالك رحمه الله تخریج دادې: «مالك عن عبدالله بن أبي بكر عن عمته عن ابنة زيد بن ثابت أنه بلغها أن نساءكن يدعون بالمصابيح من جوف الليل ينظرن إلى الطهر فكانت تعيب ذلك عليهن وتقول: ماكان النساء يصنعن هذا».[3]

تراجم رجال

عبدالله بن ابي بكر: داعبدالله بن ابی بکر بن محمد بن عمرو بن حزم رحمه الله دې. ددوی کنیت ابومحمد دې او بعض وائی چه ددوی کنیت ابوبکر مدنی دې.[4]

دوی دخپل پلار ابوبکربن محمد، دخپل پلار دترور عمره بنت عبدالرحمن، ابوجعفر محمدبن علی بن الحسین، عروه بن الزبیر، یحیی بن عبدالرحمن بن اسد بن زراره، ابوالزناد، انس، حمید بن نافع، سالم بن عبدالله بن عمر، عبدالملك بن ابی بکر بن عبدالرحمن اوامام زهری رحمهم الله وغیره نه د حدیث روایت کړې.

اودوی نه امام زهری(امام زهری او عبدالله بن ابی بکر دواړه د یوې زمانې دی)، دهغوی وراره عبدالملك بن محمد بن ابی بکر بن محمد بن عمرو بن حزم، مالك، هشام بن عروه، ابن جریج، حمادبن سلمه، ابواولیس مدنی، فلیح بن سلیمان، ابن اسحاق، عبدالعزیز بن المطلب، سفیان بن عیینه او سفیان ثوری رحمهم الله وغیره روایت حدیث کوی.[5]

---

[1] النهاية لابن الأثير: ١١٢/٢-١١١مؤسسة التاريخ العربي، لسان العرب: ٣٢١/٤تاج العروس من جواهر القاموس: ٥٥٦/٥التراث العربي، سلسلة تصدرها وزارة الإرشاد،مطبعة حكومة كويت، عمدة القاري: ٤٤١/٣.

[2] عمدة القاري:٤٤٠/٣.

[3] المؤطا كتاب الطهارة باب طهر الحائض قم الحديث: ١٥١دارالغرب الإسلامي.

[4] تهذيب التهذيب: ٣١١/٢-٣١٠مؤسسة الرسالة.

[5] تلامذه او مشايخ دپاره اوګورئی تهذيب الكمال: ٣٥٠/١٤-٣٤٩مؤسسة الرسالة.

امام مالك رحمه الله فرمائي «كان كثير الحديث وكان رجل صدق»(۱) امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائي «حديثه شفاء»(۲) يحيى بن معين رحمه الله او امام ابوحاتم رحمه الله فرمائي: ثقة.(۳) امام نسائي رحمه الله فرمائي «ثقة ثبت»(۴) ابن حبان رحمه الله دهغوى ذكر كتاب الثقات كښې كړې دې(۵) ابن سعد رحمه الله «كان ثقة، كثير الحديث عالماً»(۶) امام عجلى رحمه الله فرمائي «مدني تابعي ثقة»(۷)
ابن عبدالبر رحمه الله فرمائي «كان من أهل العلم، ثقةً فقيهاً محدثاً مأموناً حافظاً وهو حجة فيما نقل وحمل» يعنى دې داهل علم نه وو ثقه وو فقيه وو محدث وو د جرح وغيره نه محفوظ وو. حافظ حديث وو اوكوم روايات چه هغوى نقل كړى دى هغه په هغه تولو كښې معتمدوو.(۸) امام مالك رحمه الله نور فرمائي «كان من أهل العلم والبصيرة»(۹) دهغوى عمر اويا كاله وو. دهغوى د وفات په تاريخ كښې دوه اقوال دى. يوقول دادې چه دهغوى وفات ۱۳۵هجرى كښې شوې او دويم قول دادې چه دهغوى وفات ۱۳۰هجرى كښې شوې.(۱۰)

عن عمته: ابن حذاء رحمه الله فرمائي چه په سندكښې ذكرشوې عمة (ترور) نه مراد عمرو بنت حزم رحمهماالله ده، چه په حقيقت كښې د عبدالله بن ابى بكر د نيكه ترور ده. مگردلته ددې اطلاق دعبدالله بن ابى بكر رحمه الله په ترور باندې مجازاً كړې شوې دې. هم په دې باندې علامه عينى رحمه الله هم جزم كړې دې.(۱۱)

ليكن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چرته عمره بنت حزم اومنلې شى نوبيا ددې د زيد بن ثابت رضي الله عنه د لور نه روايت كول په ظاهره مشكل دى ځكه چه عمره بنت حزم د پخوانو صحابياتونه ده صحابى رسول حضرت جابر رضي الله عنه هم ددې نه روايت كوى اوحضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه لور د قديم صحابياتونه نه ده. ليكن چونكه د اكابر د اصاغر نه روايت كول ثابت دى په دې وجه عين ممكن دى چه دعمره بنت حزم رضي الله عنها د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه د لور نه روايت كول هم ثابت وى. خوددې هرڅه باوجود هم دومره خبره شته چه د عبدالله بن ابى بكر رحمه الله دا روايت منقطع وى ځكه چه هغه د عمره بنت حزم رضي الله عنها زمانه نه ده ليدلې.(۱۲)

---

(۱) تهذيب الكمال: ۳۵۱/۱۴تهذيب التهذيب: ۳۱۱/۲مؤسسة الرسالة الجرح والتعديل: ۱۷/۵دارإحياء التراث العربي.
(۲) حواله بالا
(۳) تهذيب الكمال: ۳۵۱/۱۴تهذيب التهذيب: ۳۱۱/۲مؤسسة الرسالة الجرح والتعديل: ۱۷/۵دارإحياء التراث العربي.
(۴) تهذيب الكمال: ۳۵۱/۱۴تهذيب التهذيب: ۳۱۱/۲مؤسسة الرسالة الجرح والتعديل: ۱۷/۵دارإحياء التراث العربي.
(۵) ۱۶/۵ دارالفكر.
(۶) معرفة الثقات للإمام العجلي: ۲۲/۲مكتبة الدار، (مدينة منورة).
(۷) تهذيب التهذيب: ۳۱۱/۲.
(۸) تهذيب التهذيب: ۳۱۱/۲.
(۹) تهذيب التهذيب: ۳۱۱/۲.
(۱۰) تهذيب الكمال: ۳۵۱/۱۴.
(۱۱) شرح الزرقاني على الموطا: ۱۷۲/۱دارالكتب العلمية فتح البارى: ۴۲۱/۱دارالمعرفة.
(۱۲) فتح البارى: ۴۲۱/۱دارالمعرفة، أوجزالمسالك: ۵۹۰/۱ دارالقلم.

يوبل احتمال داهم دې چه عمة نه مراد د حضرت عبدالله بن ابى بكر رحمه الله د سكه تروريانونه ام عمرو، ام كلثوم رضي الله عنها وى. په دې باندې شيخ زكريا رحمه الله فرمائيلى دى چه د مجاز په مقابله كښې به حققت مراد اخستل زيات بهتر وى. يو خوددې وجې نه چه ائمه رجال هيڅ قسم احتمال ته ترجيح نه ده وركړې او بل په دې وجه چه مجاز مراد اخستلو په صورت كښې په سند كښې انقطاع هم لازم راځى.[1]

«ابنة زيد بن ثابت»: دلته دامام بخارى رحمه الله په مذكوره تعليق كښې اود امام مالك رحمه الله په موصوله روايت كښې هم دغه شان مبهم نقل دى. بل چرته هم د نوم تصريح نشته دې. علامه ابن ملقن رحمه الله فرمائى چه كيدې شى «ابنة زيد» نه ام سعد رضي الله عنها مراد وى خكه چه ابن عبدالبر رحمه الله صرف هم دا په صحابيات كښې شميركړې ده.[2]

او حافظ دمياتى ابومحمد رحمه الله دحضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه دپاره ددې لونړو تذكره كړې ده: ام اسحاق، حسنه، عمره، ام حسن، قريبه، ام محمد او ام كلثوم. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه ما بغيرد ام كلثوم نه د بل چاروايت نه دې ليدلې. په دې وجه عين ممكن دى چه دلته د بنت زيد نه مراد هم ام كلثوم وى چه دحضرت سالم بن عبدالله بن عمر بى بى وه.[3]

دې نه علاوه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه بعض شراح حضراتو دلته دبنت زيد نه مراد ام سعد خيال كړې ده. اوددې خبرې بنياد په دې خبره باندې دې چه ابن عبدالبر رحمه الله د ام سعد رضي الله عنها تذكره په صحابياتو كښې كړې ده. خو زما په نيز دابن عبدالبر رحمه الله ام سعد رضي الله عنها په صحابياتو كښې ذكركول ددې خبرې دليل نه دې چه په دې روايت كښې د بنت زيد نه مراد هم ام سعد رضي الله عنها وى خكه چه ابن عبدالبر رحمه الله ام سعد رضي الله عنها صرف په صحابيات كښې شميركړې ده. دائى نه دى فرمائيلى چه هغه په دې واقعه كښې حاضره اوموجود وه. بلكه كه چرته دام سعد رضي الله عنها څه روايت ملاويږى نوهغه دعنبسه بن عبدالرحمن په طريق سره ملاويږى اوابمه رجال دعنبسه بن عبدالرحمن تكذيب كړې دې.

دې نه علاوه يو اضطراب داهم دې چه ام سعد رضي الله عنها د زيد بن ثابت رضي الله عنه لور ده كه بى بى ده؟ خكه چه دواړه شان اقوال ملاويږى. خو بل طرف ته د ائمه نسب نه چاهم د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه په لونړوكښې د ام سعد تذكره نه ده كړې.[4] علامه عينى رحمه الله فرمائى چه دحافظ ابن حجر رحمه الله مقصد په علامه ابن ملقن رحمه الله باندې ردكول دى خكه چه هم هغه د بنت زيد نه ام سعد مراد كيدو خيال كړې دې.[5]

---

[1]) أوجزالمسالک: ۵۹۰/۱.

[2]) التوضيح: ۱۰۳/۵فتح البارى:۴۲۱/۱-۴۲۰عمدة القارى: ۴۴۲/۳أوجزالمسالک: ۵۹۰/۱.

[3]) فتح البارى:۴۲۱/۱-۴۲۰عمدة القارى: ۴۴۲/۳أوجزالمسالک: ۵۹۰/۱.

[4]) فتح البارى:۴۲۱/۱-۴۲۰عمدة القارى: ۴۴۲/۳أوجزالمسالک: ۵۹۰/۱.

[5]) عمدة القارى: ۴۴۲/۳.

علامه عيني رحمه الله فرمائي چه علامه ذهبي رحمه الله «اوددوى په شان نور حضرات اهل علم» ام سعد رضي الله عنها بنت زيد بن ثابت گرځولې ده او په قيل سره ئې د هغې د زيد بن ثابت رضي الله عنه د بى بى كيدو احتمال هم نقل كړې دې. خكه زيات راجح هم دغه دى چه ام سعد رضي الله عنها د حضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه لورده. (١)
دې نه علاوه دا وئيل چه ما د حضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه په لونړوكښې بغيرد ام كلثوم رضي الله عنها نه بل د چا روايت نه دې ليدلې نودهغه نه ليدل اوعدم علم ددې خبرې منافى نه دې چه بلې لورنى هم د حديث روايت كړې وى خكه چه دادهغوى د شان نه نه دى چه هغوى ته دې دټولو رواياتوعلم وى. (٢)بهرحال نه خو علامه ابن ملقن رحمه الله په جزم سره ام سعد رضي الله عنها مراد كيدل ذكركړى دى اونه حافظ ابن حجر رحمه الله دام كلثوم رضي الله عنها تعينن كړې دې په دې وجه دواړه احتمالات كيدې شى.(٣)

دمذكوره تعليق شرح

قوله:: أن نساء: اكثرنسخوكښې لفظ نساء هم دغه شان نكره روايت شوې دې مګر بعض دا لفظ معرفه هم روايت كړې دې او په دواړو كښې فرق بيانولوسره علامه كرمانى رحمه الله فرمائى كه چرې لفظ نساء د الف لام نه بغيردې نودا لفظ به ټولو ښځو ته شامل شى اوكه چرې الف لام سره دې نو په دغه الف لام خارجى سره به دحضرت صحابه كرام رضي الله عنهم ازواج مراد شى.(٤)

قوله:: يدعون»: يدعون داد جمع مؤنث غائب صيغه ده. جمع مذكر اوجمع مؤنث دواړه په دې ماده كښې مشترك دى ليكن د دواړو په تقديركښې فرق دې. د جمع مذكر غائب وزن به "يفعلون" جوړيږى اودجمع مؤنث غائب وزن به "يفعلن" جوړيږى. د «يدعون بالمصابيح» مطلب دادې چه هغه ښځو به چراغ راغوښتلو دې دپاره چه د هغې په رڼا كښې كرسف اوګورى اوهغوى ته دطهر شروع كيدو يا نه شروع كيدو علم اوشى. (٥)

قوله:: ينظرن إلى الطهر::

د ښځودا عمل معيوب ګرزولووجه:ددې معنى داده چه هغه ښځو به د چراغ په رڼاكښې خپل خپل كرسف كتلوچه چرته په هغې كښې څه داسې څيزخونشته چه په طهرباندې دلالت كوى. په دې دويم اثركښې دزيد بن ثابت رضي الله عنه لورته چه كله دا خبراورسيدو چه ښځې دشپې چراغ راغوښتلوسره كرسف ګورى نوهغې دا كار معيوب اوګڼړلو اود معيوب ګڼړلو دوه وجهې كيدې شى:① يوخودا چه د چراغ په رڼاكښې د شپې په معمولى رنګ او سپينوالى كښې فرق نه كيږى. ښځه به ګڼرى چه هغه پاكه ده په دې وجه به غسل كولوسره دماسخوتن مونځ كوى حالانكه هغه به لا دغه وخت پاكه شوې نه وى.
② بل دا چه داسې كول تعمق دې شريعت چه انسان دكوم څيز مكلف نه دې جوړكړې انسان له هم

---

(١) عمدة القارى: ٤٤٢/٣تهذيب الكمال: ٢٠٦/٢٥مؤسسة الرسالة. الاستيعاب فى معرفة الأصحاب كتاب كنى النسآء باب السين: ٤٩٢/٤دارالكتب العلمية. أسد الغابة فى معرفة الصحابة: ٣٤٨/٦ دارالفكر الإصابة فى تمييز الصحابة: ٤٠٠/٨ دارالكتب العلمية.

(٢) عمدة القارى: ٤٤٢/٣.

(٣) أوجزالمسالک: ٥٩١/١.

(٤) شرح الكرمانى: ١٩١/٣عمدة القارى: ٤٤٢/٣.

(٥) عمدة القارى: ٤٤٢/٣السنن الكبرى للبيهقى: ٣٣٦/١ رقم الحديث: ١٦٥٢ دائرة المعارف النظامية.

پکار دی چه په دې سلسله دې هغه هسې خامخا په خپل خان باندې پابندئی نه لګوی. ښخو به د شپې چراغ راغوښتلوسره دهغې په رڼا کښې کرسف په دې غرض سره کتلو چه که حيض منقطع شوې وی نوچه غسل کولوسره دماسخوتن مونځ اوکړی ګنی که سحر هغه خپره سپینه راؤوتله نوددې مطلب به داشی چه حيض خود شپې په څه حصه کښې ختم شوې وو. په دې وجه به اوس غسل کولوسره دماسخوتن مونځ قضاء کولې شی. مګر شريعت په دې سلسله کښې ښځې مجبوره کړې نه دی بلکه ددې ګنجائش ئې ساتلې دې. چه دشپې وخت کښې کوم کرسف کيږدنی هغه سحر اوګورنی که رنګين دې نو دحيض سلسله باقی ده اوکه چرته سپين دې نو سلسله ختمه شوې ده. غسل اوکړه اود ماسخوتن مونځ قضاء اوکړه ځکه چه د شپې وخت د آرام دې. چنانچه د امام بيهقی رحمه الله په روايت کښې حضرت عائشه رضي الله عنها ښځوته په ايام حيض کښې د شپې په وخت کې خپل خان ته د کتلونه منع کړې وی. باقی د ماسخوتن د مونځ په قضاء باندې هيڅ نيول نشته دې ځکه چه نيول په اختياری قضاء باندې کيږی. نوهم ددې د پاره دحضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه لور خامخاد تعمق فی الدين په سبب دص ښځو داعمل معيوب اوګڼرلو.[۱]

يوه اختلافی مسئله: دلته په دې مقام باندې شراح کرامو يوه بله اختلافی مسئله هم ذکرکړې ده. اوهغه مسئله داده چه که چرې حائضه يا دنفاس والاښځه د نمر د راختونه وړاندې پاکه شی مګر په غسل کولوکښې هغه دومره روستوالې اوکړی چه سحر راؤخيژی نودداسې ښځې د روژې باره کښې څه حکم دې؟

امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه که د حيض انقطاع په لسو ورځو باندې شوې دې اودغه شان دنفاس دوينې نه پاکوالې څلويښت ورځې پوره کيدو باندې حاصل شوې دې و په داسې صورت کښې به په دغه دواړوقسم ښځو باندې د هغه ماسخوتن مونځ قضاء کول لازم وی او د راتلونکې ورځې روژه به هم صحيح وی. البته د روژې دپاره شرط دادې چه د سحر د راختو نه وړاندې د روژې نيت اوکړی اوکه چرې دحيض بنديدل د لسو ورځو نه وړاندې شوې دی يا دغه شان د نفاس وينه د څلويښتو ورځو نه مخکښې منقطع شوې ده نوبيا دوه صورتونه دی:

① د انقطاع دم حيض او نفاس نه پس که د سحر د راختو پورې دومره وخت شته په کوم کښې چه هغه غسل هم اوکړی او بيا د روژې نيت هم اوکړی نو په داسې صورت کښې به هم هغه د ماسخوتن دمونځ قضاء کوی اود راتلونکې ورځ روژه به هم ساتی.

② خوکه دانقطاع دم نه پس دومره وخت باقی پاتې نه شو نو په داسې صورت کښې به نه په هغې باندې د ماسخوتن دمونځ قضاء وی اونه د راتلونکې ورځې روژه ساتلې شی.

په ړومبو دواړو صورتونوکښې د ماسخوتن قضاء کول اود راتلونکې ورځې د روژې د صحيح کيدو حکم په دې وجه اولګولې شو ځکه چه په دې دواړو صورتونوکښې نفس انقطاع دم د وجې نه هغه ښځه دحيض يا نفاس دناپاکئی نه وتلې وه. خو په دريم او آخری صورت کښې : ماسخوتن مونځ قضاء لازم نه کيدو اودغه شان د روژې د نه صحيح کيدو حکم په دې وجه اولګولې شو چه دصحابه کرام رضي الله عنهم اجماع ده که چرې دحيض وينه د لسو ورځو نه وړاندې بنده شوه يا د نفاس وينه دڅلويښتو ورځونه وړاندې بنده شوه نوچه کوم دغسل کولو موده وی نوهغه به هم حيض شميرلې شی اوحيض : مونځ روژې دواړو منافی دې. په دې وجه په دې آخری صورت کښې به نه دماسخوتن د مونځ قضاء،

---

[۱] فتح الباری: ۴۲۱/۱ شرح ابن بطال: ۴۳۳۶/۱ عمدة القاری: ۴۳/۳ فيض الباری: ۵۰۱/۱ إيضاح البخاری: ۱۲۴/۱۱.

وی اونه د وراندې ورځې روژ به صحیح وی.(۱)
دامام مالك رحمه الله امام شافعي رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله مذهب دادې که چرته حائضه اونفساء د طلوع فجر نه وړاندې صفاکیږی نود وړاندې ورځې روژه ساتل به صحیح او جائزوی مګر شرط په کښې دادې چه دطلوع فجر نه وړاندې د روژې نیت اوکړی اوکه چرې د طلوع فجر نه پس پاکه شی نوبیابه د وړاندې ورځې روژه ساتل صحیح نه وی.(۲)
علامه نووی رحمه الله فرمائی چه هم دغه د جمهور صحابه، تابعینو او تبع تابعینو رحمهم الله مذهب دې. چنانچه د صحابه کرامو رضی الله عنهم حضراتو نه حضرت علی بن ابی طالب، عبدالله بن مسعود، ابوزر، زید بن ثابت، ابو الدرداء، ابن عباس، ابن عمر او حضرت عائشه رضی الله عنهم ددې قائل دی. اوهم دغه شان جمهور تابعین امام ثور، امام مالك، امام ابوحنیفه، امام احمد او امام ثور رحمهم الله هم دا مذهب دې. البته امام اوزاعی رحمه الله حسن بن حي رحمه الله اوعبدالملك بن الماجشون رحمه الله فرمائی چه ترکومې پورې غسل نه کوی دهغې روژه به صحیح نه وی. دا حضرات فرمائی چه دحیض په وجه وربورې شوې حدث دروژې دپاره مانع دې. لهذا ترکومې پورې چه غسل نه وی کړې اود دغه حدث نه ئی پاکی نه وی حاصله کړې ترهغې پورې د وړاندې ورځې ورژه هم نه شی ساتلې. اوحدث جنابت د روژې دپاره مانع نه دې په دې وجه به جنبی سړې روژه ساتی. لیکن ددې حضراتو استدلال صحیح نه دې ځکه چه د ښځې حیض یا نفاس ختم شو نو دغه وخت کښې هغه حائضه یا نفساء پاتې نه شوه. البته د دغه حیض او نفاس د وجې په دې باندې پور ې غسل دهغې په ذمه باندې باقی دې اودا غسل د روژې نه مانع نه دې لکه څنګه چه د جنابت د غسل معامله ده. که چرې جماع په روژه کښې واقع شوې ده نو په دې سره به روژه فاسدیږی ځکه چه جماع د حیض په شان د روژې نه منافی ده. خوکه جماع د سحر د راختو نه وړاندې شوې ده اود دغه جماع په وجه لازم شوې غسل ئی د سحر د راختونه پس اوکړو نوددې په وجه به د روژې په صحت باندې هیڅ اثر نه پریوځی ځکه چه داغسل د روژې نه مانع نه دې. بل زمونږ استدلال د قرآن کریم آیت ﴿فَالْـٰٔنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ ۚ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۖ﴾نه دې نوچه کله الله تعالی مباشرت د سحر د راختو پورې مباح ګرځولې دې.نولازمی نتیجه داده چه غسل به د طلوع فجر نه پس وی.(۳)

د مذکوره تعلیقاتو مقصد: دمذکوره تعلیقاتو نه معلومیږی چه د امام بخاری رحمه الله مقصد تمییز بالالوان غیر معتبر کیدل ښائی. لهذا د اقبال کیفیت به داشی چه په خپل وخت کښې رنګین رطوبت راشی اوکله دا رنګین رطوبت ختم شی نودا د ادبار سلسله ده. د الوان یعنی رنګ اعتبارنشته چه هم دتور او سور رنګ اعتبار به کولې شی لکه چه د شوافع حضراتو مذهب دې. ددې حضراتو استدلال د سنن ابی داؤد روایت دې په کوم کښې چه دی: «إنه دم أسود يعرف فإذا كان ذلك فأمسكي عن الصلاة» یعنی دحیض د وینې رنګ تور وی کوم چه پیژندلې شی.(۴) لیکن احناف (کثرالله سوادهم) د رنګونو په مینځ

---

(۱) بدائع الصنائع: ۵۹۷/۱دارالکتب العلمية.
(۲) المدونة الكبرى: ۲۰۷/۱دا_صادر. حاشيةالدسوقي على الشرح الكبير:۲/۱۴۹-۱۴۸دارالکتب العلمية. المغني لابن قدامة: ۳۷/۳-۳۶دارالفكر. المجموع شرح المهذب:۳۰۷/۶إدارة الطباعة المنيرية.
(۳) المجموع شرح المهذب:۳۰۸/۶۶-۳۰۷إدارة الطباعة المنيرية المغني لابن قدامة:۳۷/۳-۳۶دارالفكر. التوضيح: ۱۰۶/۵شرح ابن بطال: ۴۴۶/۱ عمدة القاري:۲۲۹/۳..
(۴) سنن أبي داؤد كتاب الطهارة باب إذا أقبلت الحيضة تدع الصلاة رقم الحديث: ۲۸۶.

كنبې ددې فرق قائل نه دی اوددې روايت په جواب كښې احناف دا وائي چه «دم أسود يعرف» كليه ده كه جزئيه؟كليت مونږ نه تسليم كوو او جزئيت زمونږ دپاره تسليم كول مضر نه دی. دكليت د نه تسليم كولو مطلب دادې چه دهرې ښځې وينه دې توره وی ښكاره خبره ده چه داسې نه وی. كه چرې د ښځې مزاج معتدل وی او خوراك ئې هم معتدل وی او آب وهوا هم معتدل وی نوتجربه گواه ده چه د حيض رنگ به ئې سور وی اوكه چرې گرمو هواكانو گرم خوراكونه يا د مزاج گرمانش او د مزاج د خرابوالی د وجې نه احتراقی كيفيت پيدا شوې وی نوډ وينې رنگ به تور بخن وی. او په كومو ملكونوكښې چه يخنی ډيره وی نوهلته د وينې رنگ بالكل سور كيدل هم ضروری نه دی. يا فرض كړه ښځه سبزی ډيره استعمالوی اومعده طاقت ئې كمزورې دې نوچه څنگه په براز كښې مختلف رنگونه ښكاره كيږی دغه شان به د خوراك اجزاء هم په خوراك كښې شامل شی اوقسم قسم رنگونه په ښكاره كيدل شروع شی. په دې وجه داحنافو په نيز په رنگونوباندې د حيض مدار نه دې. البته كه يوې ښځې ته دعادت موافق داخبره معلومه ده چه دهغې دحيض رنگ تور وی يا سور وی نوچونكه اصل څيز عادت دې نو په داسې صورت كښې رنگ معتبر گرځولې شی خو بيا هم مدار عليه نه شی گرځولې كيدې.

د «فإنه دم أسود يعرف» هم دا مطلب دې چه دا يوه جزئيه ده په بعض حالاتوكښې دمعرف په درجه كښې ددې هم اعتبار كولې شی. بهرحال ددې آثارونه معلوميږی چه په دې مسئله كښې امام بخاری رحمه الله داحنافو ملگرتيا كړې ده.[1]

مذكوره تعليق اوترجمة الباب كښې مناسبت: ددې تعليق ترجمة الباب سره مناسبت دادې چه په ترجمة الباب كښې اقبال يعنی راتلل او ادبار يعنی دحيض آخر ذكركړې دې او په تعليق كښې هم دښځو خپل خپل كرسف كتل هم په دې غرض سره وو چه هغوی ته دحيض ختميدل اود طهريعنی پاكوالی شروع كيدل معلوم شی.[2]

(حدثنا عبدالله بن محمد، قال حدثنا سفيان، عن هشام، عن أبيه.......)

تراجم رجال الحديث

عبدالله بن محمد: دا ابوجعفر عبدالله بن محمد بن عبدالله بن جعفر اليمان بن اخنس جعفی بخاری مسندی رحمه الله دې. ددوی تفصيلی حالات كتاب الإيمان باب أمور الدين لاندې تيرشوی دی.[3]

سفيان: دا سيان بن عيينه بن ميمون، ابومحمد الكوفی رحمه الله دې. ددوی مختصر حالات بدء الوحی رومبې حديث لاندې او تفصيلی حالات كتاب العلم باب قول المحدث: حدثنا الخ لاندې تيرشوی دی.[4]

هشام: داد عروة بن الزبير بن العوام رحمه الله خوئی دې. د دوی مختصر حالات بدء الوحی دويم حديث لاندې[5] اوتفصيلی حالات كتاب الإيمان باب أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تيرشوی دی.[1]

---

[1] إيضاح البخاری: ۱۲۵/۱۱-۱۲٤.
[2] عمدة القاری: ۳/٤٤۲.
[3] كشف الباری: ۱/٦٥۷
[4] كشف الباری: ۱/۲۳۸، ۳/۱۰۲.
[5] كشف الباری: ۱/۲۹۱.

عروة: داعروة بن الزبير بن العوام رحمه الله دي. د دوی مختصر حالات بدءالوحی دویم حدیث لاندې (۲) او تفصیلی حالات كتاب الايمان باب أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تيرشوی دی. (۳)
عائشة: دا ام المؤمنين سيده عائشه بنت ابی بکر الصديق رضي الله عنهما ده. ددوی حالات بدءالوحی دویم حدیث لاندې تيرشوی دی. (۴)

شرح حدیث

په دې روايت باندې تفصیلی کلام باب الاستحاضه لاندې تيرشوې دې.
مستحاضه سره متعلق درواياتود اختلاف وجه: داروايت مخکښې «كتاب الوضوء باب غسل الدم» لاندې هم تيرشوې دې چرته چه د روايت الفاظ دا وو. «وإذا أدبرفاغسلي عنك الدم وصلي» يعنی غسل واجب اونه ګرځولې شو. ددې نه پس حضرت عروه بن زبير رحمه الله فرمائي «ثم توضئي لكل صلاة» دلته داودس وجوب ذکر دې او په حديث باب کښې «فاغتسلي وصلي» الفاظ دی په کوم کښې چه دغسل د وجوب حکم ذکر دې. نوسوال داپيداکيږی چه د مستحاضه په مسئله کښې درواياتو دااختلاف ولې دې؟ جواب دادې چه څنګه دمستحاضه احوال مختلف وی هم هغه شان روايات هم مختلف دی اود مستحاضه د مختلفو احوالو سره متعلق دی.
دويمه خبره دا چه غسل او اودس واجب ګرځول اودهغې تذکره کول ددې وجوب غسل او وجوب وضو د نه ذکرکولومنافی نه دی. مطلب دادې چه د وجوب غسل او وجوب وضو ذکر اوددې دواړو د عدم ذکرپه مينځ کښې تضاد اومنافات نشته دې. دغسل او اودس وجوب په خپل ځائی باندې ثابت دې سره ددې چه بعض رواياتوکښې د دې ذکر موجودنه دې. دمنافاتو اوتضاداتو خبره به هغه وخت وه کله چه په يوروايت وجوب دغسل اووجوب وضو خبره وه او په بل روايت کښې دعدم وجوب تذکره وه.
يواشکال اودهغې جواب: بل دا اشکال دې نه وی چه دحديث الفاظ «فاغتسلي وصلي» سره دهرمونځ دپاره دغسل تکرار مفهوم کيږی څکه چه صرف هم يوځل غسل کول کافی کيږی. اوترکومې چه دام حبيبه رضي الله عنها تعلق دې چه هغې به دهرمونځ دپارغسل کولو (دمستحاضه کيدو د وجې نه) نوکيدې شی چه هغه د مستحاضاتو دهغه قسم نه وه په چاچه په هرمونځ کښې غسل کول واجب وی. امام شافعی فرمائی چه حضورپاك صرف دغسل کولو او د مونځ کولوحکم ارشاد فرمائيلې وو په هغه حکم کښې داخبره نه وه چه دهرمونځ دپاره غسل کول دی او زما خيال دادې چه دام حبيبه رضي الله عنها دهر مونځ دپاره غسل کول وجوبی نه وو بلکه نفلی او استحبابی وو. د کوم چه هغې ته حکم نه وو ورکړې شوې. (۵)
د حديث ترجمة الباب سره مناسبت: حديث اوترجمة الباب کښې مناسبت بالکل واضح دې چه په دواړو کښې داقبال دم او ادباردم تذکره ده. (۶)

---

[1]) كشف الباری: ۴۳۲/۲.
[2]) كشف الباری: ۲۹۱/۱.
[3]) كشف الباری: ۴۳۶/۲.
[4]) كشف الباری: ۲۹۱/۱.
[5]) شرح الكرمانی: ۱۹۲/۳-۱۹۱عمدة القارس: ٤٤٤/۳.
[6]) عمدة القاری: ٤٤۳/۳.

۲۰ - باب: لاتَقْضِي الْحَائِضُ الصَّلاَةَ

ماقبل سره ربط: ددې باب سابقه باب سره مناسبت دادې چه په دواړو ابواب کښې د ترک صلاة تذکره ده. (۱)

د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله په دې ترجمة الباب سره داخودل غواړی چه حائضه ښخه به نه په ايام حيض کښې مونځ اداکوی اونه به دپاکوالی نه پس د دغه مونځونوقضاء راوړی. (۲)
چنانچه شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه ددې ترجمة الباب مطلب اومعنی داده چه حائضه به مونځ نه اداکوی اونه به د دغه مونځونو روستو بیا قضاء کوی. (۳)

[وَقَالَ جَابِرٌ وَأَبُو سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ: (تَدَعُ الصَّلاَةَ)]. [ر: ۲۹۸، ۳۰۴، ۶۸۰۳]

ترجمه: حضرت جابر اوحضرت ابوسعيد رضي الله عنهما روايت کوی چه حضورپاک ﷺ اوفرمائيل: هغه (حائضه) به مونځ پريږدی

تراجم رجال

جابر: دا جابربن عبدالله انصاری مشهور صحابی رضي الله عنه دې. د دوی احوال کتاب الوضوء باب من لم يرالوضوء إلامن المخرجين من القبل والدبر لاندې تيرشوی دی.

أبوسعيد: دا مشهور صحابی حضرت ابوسيعد سعدبن مالك بن سنان بن عبيدبن ثعلبه خدری رضي الله عنه دې. ددوی حالات کتاب الإيمان باب من الدين الفرارمن الفتن لاندې تيرشوی دی. (۴)

تخريج التعلقين: امام بخاری رحمه الله ددغه دواړو صحابه کرامو نه داتعليق روايت بالمعنی کړې دې. ترکومې چه دحديث جابربن عبدالله رضي الله عنه تعلق دې نودا امام بخاری رحمه الله ((کتاب التمنی، باب قول النبی صلی الله عليه وسلم: لواستقبلت من أمري ما استدبرت" رقم الحديث: ۷۲۳۰))لاندې ((حبيب عن عطاء عن جابربن عبدالله)) په طريق سره موصولاً روايت کړې دې. مګر هلته د روايت الفاظ: ((غيرأنها لاتطوف ولاتصلی)) نه مراد هم ترک صلاة دې. دغه شان امام مسلم رحمه الله هم ((أبوالزبيرعن جابر)) په طر يق سره ددې معنې روايت موصولاً ذکرکړې دې. (۵) پاتې شوه خبره دحضرت ابوسعيد خدری رضي الله عنه دحديث نوهغه نيزدې ((باب ترک الحائض الصوم))لاندې موصولاً تيرشوې دې. البته دهغه روايت الفاظ: ((أليس إذا حاضت لم تصل ولم تصم)) سره نقل دی. (۶)

(۱) عمدة القاری: ۳/ ٤٤٤.

(۲) عمدة القاری: ۳/ ٤٤٤.

(۳) الأبواب والتراجم: ۶۵ الکنزالمتواری: ۳/ ۲۸۶.

(۴) کشف الباری: ۲/ ۸۲.

(۵) عمدة القاری: ۳/ ٤٤٤.

(۶) صحيح البخاری کتاب الحيض باب ترک الحائض الصوم رقم الحديث: ۳۰٤ فتح الباری: ۱/ ٤۲۱ عمدة القاری: ۳/ ٤٤٤.

د دواړو تعليقونو ترجمة الباب سره مناسبت:

د علامه کرماني رحمه الله رائې: دلته يو اشکال کيږي چه امام بخاري رحمه الله ترجمة الباب د عدم قضا قائم کړې دې اوتعليق ئې دترک صلاةٔ سره متعلق نقل کړو، نو په دواړو کښې به دمطابقت څه صورت وي؟ ددې په جواب کښې علامه کرماني رحمه الله فرماني چه ترک مطلق دې او ترک ادا کولو ته هم شامل دې اوقضاته هم شامل دې. لهذا په دواړو کښې مناسبت او مطابقت موجود دې اوچونکه ترک اداء صلاة ټولو مسلمانانو ته معلوم او واضح دې په دې وجه هم ترک سره ترجمه قائم کولوکښې څه خاص فائده نه وه.[1]

دعلامه عيني رحمه الله رائې: علامه عيني رحمه الله هم نيزدې نيزدې هم دغه جواب ورکړې دې هغوی فرماني چه عدم قضاء هم دترک يو صورت دې. ترک اعم دې اوعدم قضاء اخص دې. اوچرته چه اخص وي هلته خو اعم وي په دې وجه په دواړو کښې مطابقت موجود دې.[2]

دعلامه قسطلاني رحمه الله رائې: علامه قسطلاني رحمه الله فرماني چه په تعليق اوترجمة الباب کښې مطابقت دادې چه ترک صلاة عدم قضاء ته مستلزم دې ځکه چه دترک صلاة حکم شارع عليه السلام ورکړې دې. لهذا څنګه د متروک شرع کول جائزنه دی دغه شان به د دې متروک شرع قضاء هم نه وي.[3]

د علامه عيني رحمه الله اوعلامه قسطلاني رحمه الله دکلام حاصل دادې چه ترک اعم دې اوعدم قضا اخص دې. اواعم اخص ته شامل وي. لهذا چرته چه دعدم قضاء تذکره ده هلته ترک خپل پخپله موجود دې.

شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرماني چه دا علت صحيح نه دې ځکه چه دحيض په حالت کښې روژه نه ساتل هم متروک شرع ده مګر ددې قضا لازم وي. ددې نه معلومه شوه چه د عدم قضاء صلاة دپاره متروک شرع کيدل علت ګرځول صحيح نه دی.[4] شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرماني چه دامام بخاري رحمه الله دا ترجمهٔ په حقيقت کښې په دوو جزونو باندې مشتمل ده: ① حائضه ښځه به ادا مونځ نه کوي. ② حائضه ښځه به د دغه مونځونو قضاء هم نه کوي. خو چه امام بخاري رحمه الله کوم روايت ذکر کړې دې هغه صرف روميې جز سره متعلق دې.[5]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرماني چه دامام بخاري رحمه الله مقصددا وو چه اول هغه معلق روايت په ذريعه د ترک اداء صلاة باندې استدلال کولو و بيا دحديث عائشه رضي الله عنها په ذريعه په عدم قضاء باندې هم استدلال کولو. په دې وجه امام بخاري رحمه الله اول معلق روايت پيش کولوسره په ترک ادا باندې استدلال اوکړو ودا ئې حديث موصول د حديث عائشه رضي الله عنها د پاره مقدمه جوړکړو چه دترجمة الباب عين موافق دې او په عدم صلاة قضاء باندې دلالت کوي.[6]

بعض حضرات فرماني چه ددې ترجمة الباب نه د امام بخاري څه خاص مقصد نشته بلکه ترک او عدم قضاء هم دواړه يو دی. اګرچه په ظاهره د امام بخاري رحمه الله په الفاظوسره دواړو کښې تغاثرمعلوميږي

---

[1]) شرح الكرماني: ١٩٢/٣.

[2]) عمدة القاري: ٤٤٤/٣.

[3]) إرشاد الساري: ٣٥٩/١-٣٥٨عمدة القاري: ٤٤٤/٣.

[4]) الأبواب والتراجم:٦٥الكنز المتواري: ٢٨٦/٣.

[5]) الأبواب والتراجم:٦٥الكنز المتواري: ٢٨٦/٣.

[6]) فتح الباري: ٤٢١/١.

مگر په حقيقت کښې په دواړو کښې هيڅ تغاثر نشته دې. او هم په دې وجه په ترجمة الباب کښې په يو باندې اکتفاکړې ده. که چرې په دواړو کښې تغايروې نو په ترجمة الباب کښې به ددواړو طرف ته اشاره کول هم ضروري وې. والله اعلم.[1]

الحديث الأول

[۳۱۵] - حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنَا هَمَّامٌ قَالَ: حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي مُعَاذَةُ، أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ لِعَائِشَةَ: أَتَجْزِي إِحْدَانَا صَلاَتَهَا إِذَا طَهُرَتْ؟ فَقَالَتْ: أَحَرُورِيَّةٌ أَنْتِ؟ «كُنَّا نَحِيضُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلاَ يَأْمُرُنَا بِهِ» أَوْ قَالَتْ: فَلاَ نَفْعَلُهُ.[2]

ترجمه: د حضرت معاذ رضی الله عنها نه روايت دې چه يوې ښځې دحضرت عائشه رضی الله عنها نه تپوس اوکړو چه کله زمونږنه يوه ښځه دحيض نه پاکه شي نوآيا هغه به د مونځ قضاکوی؟ حضرت عائشه رضی الله عنها اوفرمائيل ولې ته حروريه ئې؟ په مونږ به دحضورپاك په زمانه کښې حيض راتلو او حضورپاك به مونږ ته د مونځ حکم نه فرمائيلو يائې اوفرمائيل چه مونږ به مونځ نه کولو.

تراجم رجال

موسى بن سماعيل: دا ابوسلمه بن اسماعيل التبوذکی البصری رحمه الله دې. د دوی مختصر حالات بدءالوحی کښې د څلورم حديث لاندې[3]اوتفصيلی حالات کتاب العلم باب من أجاب الفتيا بإشارة اليد أوالرأس لاندې تيرشوی دی.[4]

همام: داهمام (تشديد سره) بن يحيى بن دينار العوذى الازدى العدوى رحمه الله دې. ددوی کنيت ابوعبدالله دې اوبعض حضراتو قول دادې چه ددوی کنيت ابوبکرالبصری دې.[5]

دوی د عطاء بن ابی رباح، اسحاق بن ابی طلحه، زيد بن اسلم، ابوجمره الضبعی، قتاده، محمدبن جحاده، ابو التياح الضبعی، نافع مولی ابن عمر، ابوعمران الجونی، انس بن سيرين، زياد بن سعد، ثابت البنانی، زيادالاعلم، يحيى بن ابی کثير، حسين المعلم او ابن جريج رحمهم الله وغيره نه دحديث روايت کوی.

ددوی نه سفيان ثوری رحمه الله، عبدالله بن المبارك رحمه الله، ابنعليه رحمه الله، وکيع بن مهدی رحمه الله، بشير بن السری رحمه الله، عبدالصمدبن عبدالوارث رحمه الله، ابوسعيدمولی بنی هاشم رحمه الله، احمدبن اسحاق رحمه الله

---

[1]) عمدة القاري: ۳/٤٤٤.

[2]) قوله: عائشة: الحديث، رواه الإمام مسلم فی کتاب الحيض باب وجوب قضاء الصوم علی الحائض دون الصلاة، رقم الحديث: ۷۶۳-۷۶۱والإمام الترمذی فی الطهارة باب ماجاء فی الحائض أنها لاتقضی الصلاة، رقم الحديث: ۱۳۰والإمام أبوداؤد فی الطهارة باب الحائض لا تقضی الصلاة، رقم الحديث:۲۶۳-۲۶۲والإمام النسائی فی کتاب الحيض باب سقوط الصلاة عن الحائض، رقم الحديث: ۳۸۲والإمام ابن ماجة فی الطهارة باب الحائض لا تقضی الصلاة، رقم الحديث: ۶۳۱جامع الأصول فی أحاديث الرسول: ۳۵۶/۷.

[3]) کشف الباری:۴۳۳/۱.

[4]) کشف الباری:۴۷۷/۳.

[5]) تهذيب التهذيب: ۶۰/۱۱دارالفکر،عمدة القاری: ۴۴۵/۳ إرشادالساری: ۳۵۹/۱.

خضرمی رحمه الله، حبان بن هلال رحمه الله، یزیدبن هارون رحمه الله، ابوعلی الحنفی رحمه الله، ابوداؤد طیالسی رحمه الله، ابوالولیدطیالسی رحمه الله، عمرو بن عاصم رحمه الله، حجاج بن المنهال رحمه الله، عبدالله بن رجاء الغدانی رحمه الله، ابو نعیم، رحمه الله موسی بن اسماعیل رحمه الله، هدبه بن خالد رحمه الله او شیبان بن فروخ رحمه الله روایت حدیث کړې.[1]

یزیدبن هارون رحمه الله فرمانی «كان همام قوياً في الحديث»[2] امام احمدبن حنبل فرمانی: «ثبت في كل المشايخ» نور فرمانی «كان عبدالرحمن يرضاه» چنانچه عبدالرحمن بن مهدی رحمه الله فرمانی: «همام عندي في الصدق مثل ابن أبي عروبة» [3]

دغه شان ابن محرز، امام احمدبن حنبل رحمه الله نه نقل کوی «همام ثقة وهو أثبت من أبان العطار في يحيى بن أبي كثير» یعنی همام یو ثقه راوی دې او هغه دخپل شیخ یحیی بن ابی کثیر رحمه الله نه روایت کولوکښې د ابان العطار په نسبت زیات معتبردې.[4]

ابن معین رحمه الله فرمانی «ثقة صالح وهو أحب إلي في قتادة من حماد بن سلمة» یعنی مام رحمه الله یو پرهیزګاره ثقه راوی دې اودحضرت قتاده رحمه الله نه روایت کولوکښې دحماد بن سلمه رحمه الله په نسبت زما زیات خوښ دې.[5]. په یوه بله موقع باندې فرمانی «همام في قتادة أحب إلي من أبي عوانة» یعنی همام دحضرت قتاده رحمه الله نه روایت کولوکښې ماته د ابوعوانه رحمه الله په نسبت هم زیات خوښ دې.[6].

عبدالله ابن المبارك رحمه الله فرمانی: «همام ثبت في قتادة» [7]عمرو بن علی رحمه الله فرمانی: «الأثبات من أصحاب قتادة: ابن أبي عروبة وهشام وشعبة وهمام» [8]ابن حبان رحمه الله دهغوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې.[9] امام ابوزرعه رحمه الله فرمانی: «لابأس به» [10]امام عجلی رحمه الله فرمانی: «بصري ثقة»[11] امام حاکم رحمه الله فرمانی: «ثقة حافظ»[12]

البته یحیی بن سعید رحمه الله دهمام بن یحیی رحمه الله روایات نه قبلول اونه دهغوی په نیزد هغوی د روایاتو څه اهمیت وو. چنانچه یحیی بن سعید رحمه الله د همام بن یحیی رحمه الله باره کښې نقل کړی دی:

①محمدبن عبدالله بن عمار، د یحیی بن سعیدنه نقل کوی: «ألا تعجب من عبدالرحمن يقول: من فاته شعبة سمع من همام» دې نه پس محمدبن عبدالله رحمه الله فرمانی: «كان يحيى لا يعبأ بهمام».

---

[1]) تلامذه اومشائخ دپاره اوګورئی تهذیب الکمال: ٣٠/٣٠٣-٣٠٢ سیر أعلام لنبلاء: ٢٩٧/٧.

[2]) تهذیب الکمال: ٣٠/٣٠٤ تهذیب التهذیب: ٦٨/١١ سیر أعلام لنبلاء: ٢٩٨/٧.

[3]) تهذیب الکمال: ٣٠/٣٠٤ تهذیب التهذیب: ٦٨/١١ سیر أعلام لنبلاء: ٢٩٨/٧.

[4]) حواله بالا.

[5]) حواله بالا

[6]) حواله بالا

[7]) تهذیب الکمال: ٣٠/٣٠٨ تهذیب التهذیب: ٦٩/١١ سیر أعلام لنبلاء: ٣٠٠/٧.

[8]) تهذیب الکمال: ٣٠/٣٠٨ تهذیب التهذیب: ٦٩/١١ سیر أعلام لنبلاء: ٣٠٠/٧.

[9]) ٥٨٦/٧.

[10]) تهذیب الکمال: ٣٠/٣٠٩ تهذیب التهذیب: ٦٩/١١ سیر أعلام لنبلاء: ٣٠٠/٧ الجرح والتعدیل: ١٣٤/٩.

[11]) معرفة الثقات للعجلی: ٣٣٥/٢.

[12]) تهذیب التهذیب: ٧٠/١١.

② په يوه موقع باندې ابرهيم بن عرعره رحمه الله يحيى بن سعيد ته اوونيل: «حدثنا عفان، دثنا همام» ابراهيم بن عرعره رحمه الله هم دومره ويناكړې وه چه يحيى بن سعيد رحمه الله هغه اورټلو وئى وئيل: «اسكت ويحك» (۱)

ليكن دې سره سره داهم نقل دى چه يوخل داسې اوشو چه ابن ابى عدى رحمه الله «ابن أبي عروبة عن قتادة» په طريق سره يوحديث بيان كړو نويحيى بن سعيد رحمه الله دا روايت قبول نه كړو. هم په دغه مجلس كښې عفان رحمه الله هم ناست وو هغوى اوونيل: «حدثنا همام عن قتادة» اوبيانى هم دغه روايت بيان كړومګرې دې خل يحيى بن سعيد رحمه الله خاموش پاتې شو او په سندباندې هيڅ نكيراونه فرمائيلو. راوى وائى مونږ په دې ډير حيران شو چه د «ابن أبي عروبة عن قتادة» باندې خو ئى نكير اوفرمائيلو او «همام عن قتادة» په طريق باندې خاموش شو. (۲) هم په دې باندې علامه ذهبى رحمه الله فرمائى چه ددې نه معلوميږى چه سره ددې چه يحيى بن سعيد رحمه الله د همام بن يحيى رواياتوسره اتفاق نه كولو مګر آخر دهغوى رائې د همام رحمه الله باره كښې بدله شوې وه. او يابياد خاموشئى اختيارولوسبب داوو چه هغه د همام او ابن ابى عروبة دواړو اتفاق كتلو سره مطمئن شوې وو. (۳) هم دغه شان د عفان رحمه الله نه نقل دى چه يحيى بن سعيد رحمه الله به د همام بن يحيى رحمه الله په رواياتوباندې اكثر اعتراض كولو خوچه بيا كله دمعاذ بن هشام آمد اوشو اومونږ دهغه كتاب اوكتلو نو په هغې كښې نى دهغه رواياتونه اكثر دهمام موافق اوليدل په كومو چه به يحيى بن سعيد رحمه الله نكيركولو. نوچه كله نه يحيى بن سعيد رحمه الله ته دا معامله معلومه شوه نوهغوى په همام بن يحيى باندې كلام كول پريخودل. (۴)

امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى چه ديحيى بن سعيد رحمه الله د همام بن يحيى رحمه الله رواياتو نه قبلولوجه داوه چه د خوانئى په عمر كښې يحيى بن سعيد رحمه الله په څه مسئله كښې ګواهى وركړې وه مګرهمام بن يحيى رحمه الله چه هغه وخت د قضاء په عهده باندې وو د يحيى بن سعيد رحمه الله د ګواهئى په حواله سره تعديل نه وو كړې. نوددې خبرې د وجې نه يحيى بن سعيد رحمه الله په همام بن يحيى رحمه الله باندې كلام كول شروع كړه اودهمام بن يحيى رحمه الله روايات به نى هم نه قبلول. (۵)هم دغه وجه ده چه عبدالرحمن بن مهدى رحمه الله فرمائى «ظلم يحيى بن سعيد همام بن يحيى، لم يكن له به علم ولا مجالسة، فقال فيه» (۶)

خوددې ټولو باوجود بعض ائمه نه دهغه دحافظې متعلق كلام موجود دې. چنانچه د ابوحاتم رحمه الله نه كله د همام او ابان العطار باره تپوس اوكړې شو چه په دوى كښې كوم يو مقدم دې؟ نوهغوى په جواب كښې اوفرمائيل «همام أحب إلى ما حدث من كتابه وإذا حدث من حفظه، فهما متقاربان في الحفظ والغلط» دغه شان

(۱) تهذيب الكمال: ۳۰۸/۳۰ تهذيب التهذيب: ۶۹/۱۱.
(۲) تهذيب الكمال: ۳۰۸/۳۰ تهذيب التهذيب: ۶۹/۱۱.
(۳) سير أعلام النبلاء: ۲۹۹/۷.
(۴) تهذيب الكمال: ۳۰۸/۳۰ تهذيب التهذيب: ۶۸/۱۱ سير أعلام لنبلاء: ۲۹۸/۷ الجرح والتعديل: ۱۳۳/۹.
(۵) تهذيب الكمال: ۳۰/۳۰۸ سير أعلام لنبلاء: ۳۰۰/۷.
(۶) تهذيب التهذيب: ۷۰/۱۱ سير أعلام لنبلاء: ۲۹۹/۷.

یزید بن زریع رحمه الله فرمائی «همام حفظه ردیئ وکتابه صالح»[۱] ابن سعد رحمه الله فرمائی «کان ثقة وبما غلط في الحدیث»[۲] ساجی فرمائی «صدوق سیئ الحفظ، ما حدث من کتابه فهو صالح وما حدث من حفظه فلیس بشيء» [۳]
ددې وجه دا وه چه همام بن یحیی رحمه الله به کتلوسره روایات نه نقل کول اونه به نی روستو دخپل کتاب طرف ته رجوع کوله، خو چه کله هغه د یوې زمانې نه پس دخپل کتاب طرف ته رجوع اوکړه نوونی فرمائي «کنا نخطئ کثیراً فنستغفر الله تعالی» چنانچه عفان رحمه الله فرمائی «کان همام لا یکاد یرجع إلی کتابه ولا ینظر فیه وکان یخالف فلا یرجع إلی کتابه ثم رجع فنظر في کتبه، فقال: یا عفان! کنا نخطئ کثیراً فنستغفر الله تعالی» [۴]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ددې تقاضاداده چه د همام بن یحیی رحمه الله هغه روایات چه د هغه نه په آخره کښې روایت کړې شوی دی هغه د هغه د پخوانو روایاتو په مقابله کښې زیات صحیح دی. [۵]
لکه چه دامام احمد بن حنبل رحمه الله نه په دې باندې نص هم موجود دې هغوی فرمائی: «ومن سمع من همام بآخرة، فهو أجود، لأن هماماً أصابه في آخر عمره زمانة، فکان یقرب عهده بالکتاب، فکان قل ما یخطئ» [۶]
الحاصل همام بن یحیی رحمه الله یوثقه راوی دې اودهغوی په ثقاهت کښې د چاهم اختلاف نشته دې. هم دغه وجه ده چه ارباب صحاح سته دهغه درویاتو تخریج کړې دې. [۷]
دهغوی تاریخ وفات کښې درې اقوال دی: ① امام بخاری رحمه الله د محمد بن محبوب نه دهغوی وفات ۱۶۳هجری نقل کړې. ② ابن حبان رحمه الله فرمائی دهغوی انتقال درمضان په میاشت کښې ۱۶۳هجری یا ۱۶۴هجری کښې شوې دې. ③ ابن النعمان رحمه الله فرمائی چه زما بصرې ته په راتلو کښې ۱۶۴یا ۱۶۵هجری کښې شوې وو اوزما د راتګ نه یوه هفته یا دوه هفتې وړاندې همام بن یحیی رحمه الله انتقال شوې وو. [۸]

قتادة: دا قتاده بن دعامه بن قتاده بن عزیز سدوسی بصری رحمه الله دې. د دوی کنیت ابوالخطاب وو اودې د مور نه ړوند پیداشوې وو. ددوی تفصیلی حالات کتاب الإیمان باب من الإیمان أن یحب لأخیه ما یحب لنفسه لاندې تیرشوی دی. [۹]

معاذة: دامعاذه بنت عبدالله العدویه البصریه رحمها الله ده. ددې کنیت ام الصهباء دې اودا د صله بن اشیم بی بی وه. [۱۰] هغې دحضرت عائشه، حضرت علی، هشام بن عامر، ام عمرو بنت عبدالله بن الزبیر رضی الله عنهم نه د حدیث روایت کړې اود دې نه ابوقلابه، حضرت قتاده، یزید الرشك، ایوب، عاصم

---

۱) تهذیب الکمال: ۳۰/۳۰۹ تهذیب التهذیب: ۱۱/۶۹ سیر أعلام لنبلاء: ۷/۳۰۰.
۲) تهذیب الکمال: ۳۰/۳۰۹ تهذیب التهذیب: ۱۱/۶۹ سیر أعلام لنبلاء: ۷/۳۰۰.
۳) تهذیب التهذیب: ۱۱/۷۰.
۴) تهذیب التهذیب: ۱۱/۷۰.
۵) تهذیب التهذیب: ۱۱/۷۰.
۶) الإکمال فی تهذیب الکمال: ۱۲/۱۶۸.
۷) سیر أعلام النبلاء: ۷/۳۰۱.
۸) تهذیب الکمال: ۳۰/۳۱۰ تهذیب التهذیب: ۱۱/۷۰ سیر أعلام لنبلاء: ۷/۳۰۱ کتاب الثقات لابن حبان: ۷/۵۸۶.
۹) کشف الباری: ۲/۳.
۱۰) تهذیب الکمال: ۳۵/۳۰۸ تهذیب التهذیب: ۱۲/٤۰۱ دارالفکر. عمدة القاری: ۳/٤٤۵.

الاحول، سليمان بن عبدالله بصري، اسحاق بن سعيد او ام الحسن (د ابوبكر غدوى نيا) رحمهم الله وغيره حديث روايت كوى. (١)

ابن معين رحمه الله فرمائى «ثقة صالح» (٢) ابن حبان رحمه الله د دې ذكر كتاب الثقات كښې كړې دې. (٣)

حضرت معاذه بنت عبدالله ډيره عبادت كونكې ښځه وه. شپې به ئې د الله تعالى په عبادت كښې تيرولې. ددې باره كښې تردې پورې وئيلى شوى دى چه دا دخپل خاوند ابوالصهباء صله بن اشيم د انتقال نه پس كله هم نه ده اوده شوې. (٤)

حافظ ابن حجر رحمه الله ددې د كرامت يوه واقعه نقل كولوسره ليكى چه د بصرې د يوشيخ ابو بشر وينا ده چه زه حضرت معاذه رحمها الله له راغلم نوهغې ماته دخپلې خيټې شكايت اوكړو اوونى خودل چه د دوائى دپاره راته نبيذ الحر تجويز كړې شوې دى. شيخ فرمائى چه ما د دغه نبيذ يوه پياله راوړله اوهغې ته مې وړاندې كړه. نو هغې د الله تعالى نه دعااوكړه چه اې الله تاته ته ده كه حضرت عائشه رضي الله عنها ماته دا حديث فرمائيلې دې چه رسول الله ﷺ د نبيذ الحر نه منع فرمائيلې ده نوبيا ما ددې نه لرې اوساته. شيخ فرمائى چه دحضرت معاذه دعاكول وو اوهغه پياله د هغې نه اخوا شوه او څه چه په هغې كښې وو هغه ټول پريوتل او الله تعالى د هغې شكايت هم لرې كړو. (٥)

حضرت معاذه رحمها الله به وئيل «صحبت الدنيا سبعين سنة فما رأيت فيها قرة عين قط» (٦) دحضرت معاذه رحمها الله انتقال په ۸۳هجرى كښې شوې. (٧)

شرح حديث

قوله: أن امرأة: همام بن يحيى رحمه الله د سوال كونكې ښځې تصريح نه ده كړې بلكه دائى مبهم پريخودې. مګر شعبه رحمه الله په خپل روايت كښې عن قتاده په طريق سره ددې خبرې تصريح كړې ده چه سائله هم دغه معاذه بنت عبدالله عدويه رحمها الله ده اوددې روايت تخريج اسماعيلى رحمه الله هم كړې دې. دغه شان امام مسلم رحمه الله هم عاصم عن قتاده په طريق سره او د يزيد عن معاذه په طريق سره دحضرت معاذه بنت عبدالله رحمها الله د سائله كيدو تصريح كړې ده. (٨)

د امام مسلم رحمه الله د روايت الفاظ دادى: «.....عاصم عن معاذة قالت: سألت عائشة رضى الله عنها فقلت: ما بال الحائض تقضى الصوم ولا تقضى الصلاة؟ فقالت: أحرورية أنت؟ قلت: بحرورية، ولكنى أسأل. قالت: كان يصيبنا ذلك، فتؤمر بقضاء الصوم ولا تؤمر بقضاء الصلاة» (٩)

---

(١) تهذيب الكمال: ۳۰۸/۳۵ تهذيب التهذيب: ٤٠١/١٢ دارالفكر.
(٢) حواله بالا.
(٣) ٤٦٦/٥.
(٤) تهذيب الكمال: ۳۰٦/۳۵ تهذيب التهذيب: ٤٠١/١٢ دارالفكر.
(٥) تهذيب التهذيب: ٤٠١/١٢ دارالفكر.
(٦) كتاب الثقات لابن حبان: ٤٦٦/٥.
(٧) عمدة القارى: ٤٥/٣ ٤ شرح الكرمانى: ١٩٣/٣.
(٨) فتح البارى: ٤٢٢/١-٤٢١ عمدة القارى: ٤٥/٣ ٤ إرشادالسارى: ٣٥٩/١ التوشيح للإمام السيوطى: ٤١٧/١.
(٩) كتاب الحيض باب وجوب قضاء الصوم على الحائض دون الصلاة، رقم الحديث: ٧٦٣.

قوله:: أتجزي:: تجزي: د تاء فتحه زاء كسره او آخره كښې ياء بغيرهمزه سره، اوبعض حضراتو په آخره كښې همزه هم روايت كړې دې او په دواړو صورتونوكښې د "تقضي" په معنى كښې دې اودغه شان به "إحدانا" د تجزي دپاره فاعل شي او صلاتها به دمفعول كيدود وجې نه منصوب وى اومطلب دادې چه آيا مونږ به د پاكيدونه پس د خپلو مونځونو قضاء كوو؟ دغه شان دا لفظ "تجزء" دتاء په ضمه او په آخره كښې د همزه په ضمه سره هم روايت كړې شوې دې او په داسې صورت كښې به دا د "تكفي" په معنى كښې شي. [1]

مګر علامه برماوى رحمه الله په دې باندې رد كولوسره فرمائي چه په دغه ورخوكښې بښخو مونځ نه كوي بيا به دهغې دكافي كيدو سوالې ولې كولې شو؟ مګرحافظ ابن حجر رحمه الله او نورو حضراتو "تكفي" په صورت كښې ددې جملې معنى داسې بيان كړې ده. «تكفي المرأة الصلاة الحاضرة وهي طاهرة ولا تحتاج إلى قضاء الفائتة في زمن الحيض؟» يعنى اوس به د طهردحالت مونځونه كافي شي اود حيض په حالت كښې دفوت شوې مونځونو د قضاء حاجت به پاتې نه شي؟ ددې معنى په اعتبارسره "تجزء" په معنى "تكفي" لوستل به صحيح شي او په دې صورت كښې به صلاتها د فاعل كيدو د وجې نه مرفوع شي ليكن مشهوره هم دغه ده چه دا لفظ "تجزي" دتاء فتحه زاء كسره سره اولوستلې شي. [2]

قوله:: أحرورية أنت؟ : الحروري:حروراء «د حاء فتحه راء ضمه سره اود واؤ ساكنه نه پس بيا راء ده» طرف ته منسوب دې. دا لفظ الف ممدوده سره اود الف ممدوده نه بغير دواړه شان لوستلې شوې دې. مګر زيات مشهور الف ممدوده سره دې. [3]

امام مبرد رحمه الله فرمائي چه حروراء طرف ته نسبت كولوسره حروراوى لوستل پكاردى اوهم دغه دهريوهغه لفظ دپاره قاعده ده دكوم په آخره كښې چه الف ممدوده وى ليكن ددې باوجود چه حرورى ونيلې شوې دې نوهغه زوائد حذف كولو سره وئيلې شوى دى. [4]

حروراء دكوفې نه دوه ميله فاصله باندې واقع د يوكلى نوم دې. هم ددې كلى نه دټولو نه اول د خوارج فتنه رابنكاره شوې وه. هروى رحمه الله فرمائي چه خوارج هم دلته راغلې وو او اسيدل ئې شروع كړې وو. اوهغوى په كافي شميركښې وو. په دې وجه ددغه خارجيانوته ددې ځائې په نسبت سره حورى وئيلې كيدل. نو چونكه د حرورية نه مراد خوارج دى په دې وجه دحضرت عائشه رضي الله عنها د كلام معنى داشوه «أخارجة أنت؟»يعنى ولې ته خارجيه يئې؟ ځكه چه خوارج په حائضه باندې دهغه مونځونو قضاء هم واجب ګرځوى كوم چه ددې نه په ايام حيض كښې فوت شوې وى اود خوارج دا مسئله د اجماع امت خلاف ده. [5] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه د خوارج په شان عقيده لرونكې هرسړې حرورى يادېږى

---

[1]) فتح الباري: ۱/٤۲۲ عمدة القاري: ۳/٤٥ ٤ شرح الكرماني: ۳/۱۹۳ منحة الباري: ۱/٦٥٠.

[2]) فتح الباري: ۱/٤۲۲ عمدة القاري: ۳/٤٥ ٤.

[3]) فتح الباري: ۱/٤۲۱ التوضيح: ٥/۱۰۹ شرح الكرماني: ۳/۱۹۳ منحةالباري: ۱/٦٥٠ عمدة القاري: ۳/٤٤٦.

[4]) فتح الباري: ۱/٤۲۱.

[5]) التوضيح: ٥/۱۰۹ شرح الكرماني: ۳/۱۹۳ فتح الباري: ۱/٤۲۱ عمدة القاري: ۳/٤٤٦ منحة الباري : ۱/٦٥٠ إرشاد الساري: ۱/۳٥۹.

خکه چه د خوارج فتنه چاچه دحضرت علي رضي الله عنه خلاف د بغاوت جهنډا اوچته کړه اول هم ددغه ښار حروراء نه اوچته شوې وه اوهم په دې نسبت سره دغه خلقو ته حروري هم وئيلې کيږي.[۱]
د خوارجو ډير لوئي لوئي فرقې دی اوټول په دې عقيده باندې متفق دی چه صرف اوصرف قرآني احکام اخستل دی او احاديث وغيره مطلقاً نه اخستل. اودا خلق په حائضه باندې دمونځونو قضاء هم واجب ګرځوی خکه چه په دې باره کښې قرآن کريم خاموش دې. اودعدم قضاء حکم د احاديثو نه مستنبط دې اواحاديث داخلق د سر نه مني نه.[۲]
او هم ددې وجې نه حضرت عائشه رضي الله عنها د استفهام انکاري په توګه سائله (حضرت معاذه) ته اووئيل ولې ته خارجيه يئې؟ خکه چه هم دغه هغه خلق کښې داهل حق نه جداشوی دی اود سنت مکمل مخالفت کوی. چونکه دحضرت معاذه بنت عبدالله د سوال کولوپه انداز کښې څه ناڅه انکار او په دې حکم باندې دحيرانتيابوني وو. په دې وجه حضرت عائشه رضي الله عنها په سختنئ سره جواب ورکړو. خوچه کله حضرت معاذه بنت عبدالله تصريح اوکړه چه نه، نه زه د دغه ډله نه هيڅ کله نه يم اونه ما د څه عناد دوجې نه دا سوال کړې دې بلکه ماخو صرف دعلم دطلب په غرض سره ددې مسئلې تپوس کړې دې. لکه څنګه چه د صحيح مسلم د روايت په حواله اوس نيزدې تير شو نو حضرت عائشه رضي الله عنها ددې خبرې نه پس پوهه شوه چه او واقعی دائڅه د دليل طلبګاره ده. نو بيا هغې هم د دليل په توګه د رسول الله صلى الله عليه وسلم عملي ژوند پيش کولوباندې اکتفا اوکړه اودڅه قسم علت ئې هم بيان نه کړو.[۳]

دحضرت عائشه رضي الله عنها په عدم قضاء صلوات باندې استدلال: د روايت نه معلوميږی چه حضرت عائشه رضي الله عنها په عدم قضاء صلوات باندې دحضورپاک دطرف نه د قضا حکم نه کيدو سره استدلال کړې دې اوهم په دغه استدلال باندې هغوی اکتفاکړې ده. علامه ابن دقيق رحمه الله فرمائی چه په دې استدلال کښې دوه احتمالات دی:

① رومبی احتمال دادې چه حضرت عائشه رضي الله عنها دعدم قضاء صلوات حکم ددې خبرې نه اخذ کړوچه ادا خو ساقط ده لهذا قضا به هم ساقط وی په دې شرط چه ددې په مقابله کښې څه معارض نه وی لکه چه د روژې ادا ساقط ده مګر قضا ساقط نه ده خکه چه د روژې په سلسله کښې د وجوب قضا حکم داحاديثو نه ثابت دې.

② دويم احتمال دادې چه پخپله ضرورت ددې خبرې تقاضا کوی چه ددې (مونځونود قضا) په سلسله کښې حکم موجود کيدل پکاردی خکه چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مبارکه زمانه کښې به هم حيض عارضه پيښيده. خو چه کله ئې ددې باره کښې څه حکم اونه فرمائيلو نودا په دې خبره باندې دال دې چه دمونځونو قضابه واجب نه وی. اوبيا دې خبرې ته نور تقويت په دې خبره بيره هم ملاويږی چه دې سره متصل د روژو د قضا حکم ورکړې شوې دې. لکه څنګه چه عاصم عن معاذة طريق سره امام مسلم رحمه الله روايت کړې دې.[۴] اودا دويم احتمال زيات بهتر دې.[۵]

---

[۱]) فتح الباري: ۴۲۱/۱.
[۲]) التوضيح: ۱۱۰/۵ فتح الباري: ۴۲۱/۱ عمدة القاري: ۴۴۶/۳.
[۳]) حواله بالا.
[۴]) صحيح الإمام مسلم كتاب الحيض باب وجوب قضاء الصوم على الحائض دون صلاة. رقم الحديث: ۷۶۳.
[۵]) التوضيح: ۱۱۰/۵ عمدة القاري: ۴۲۱/۱.

دحروريه تعارف: علامه عيني رحمه الله ليکلي دی چه دحروريه شپږ لوني لوني فرقې اوډلې دی. ① ازارقه ② صفريه ③ نجدات ④ عجارده ⑤ اباضيه ⑥ ثعالبه اوباقي ټول ددې څانګې دی. دې خلقو دحضرت علي رضی الله عنه خلاف بغاوت کړې وو. ددې ټول متفقه عقيده ده چه د حضرت علی رضی الله عنه اوحضرت عثمان رضی الله عنه د براءت اعلان اوکړنی اودا عقيده دهغه خلقو په نيز په هرې يوه نيکئی باندې مقدم ده اوددې عقيدې نه بغيردا خلق تروادونوپورې نه کوی اونه ئی ورکوی. دې خلقو دحضرت علی رضی الله عنه خلاف د بغاوت جهنډا هغه وخت اوچت کړې وه کوم وخت چه حضرت علی رضی الله عنه ابوموسی اشعری رضی الله عنه او حرت عمرو بن العاص رضی الله عنه د خپل طرف نه حکم مقرر کړې وو اوخکه چه دغه خلق په دې فيصله باندې راضی نه وو اوددې خلقو وئيل «شككت في أمرالله وحكمت عدوك» اودغه شان دا جګړه اوږده شوه اوچه کله د هغوی شمير اته زره ته اورسيدونودې خلقو بغاوت اوکړو. ددوی امير ابن الكوا عبدالله وو. ددې په کتو سره اول حضرت علی رضی الله عنه حضرت ابن عباس رضی الله عنه وراوليګلوچه داخلق پوهه کړی. ابن عباس رضی الله عنه هغه خلقو له لاړو خبرې اترې ئی ورسره اوکړې اود خوارج نه دوو زرو کسانو توبه ويستله او رجوع ئی اوکړه. باقي چه کوم شپږ زره پاتې شوې وو نوبيا پخپله حضرت علی رضی الله عنه دهغوی طرف ته روان شو اوهغوی سره ئی جنګ اوکړو.[1]

شراح ليکلي دی چه دحضرت عائشه رضی الله عنها کلام په استفهام انکاري باندې مبنی دې چه اې داخود خوارج طريقه ده اوډيره خرابه طريقه ده ولې ستاهم دغه طريقه ده؟[2]

"أحرورية؟"خبردې او "أنت" مبتداء دې چه مؤخر دې. شارحينوليکلي دی چه دلته دخبرمقدم کيدل اود مبتداء مؤخرکيدل دحصرد فائدې دپاره دی.يعنی مطلب دادې چه ته هم حروريه يئي؟ اوبعض حضراتودا لفظ منصوب هم روايت کړې دې اوپداسې صورت کښې په ترکيبي اعتبارسره به په ماقبل کښې ناصب مقدر وی او "أنت" به دتاکيد دپاره وی اوتقديری عبارت به داسې شی «كنت أو صرت حرورية أنت؟»[3]

قوله: مع النبي ﷺ: د حضورپاك دمعيت نه مراد عهدنبوی دې اومقصد داخودل دی چه حضورپاك زمونږ ددې حيض دحالت نه خبر هم وو او دغه شان دحيض په حالت کښې په ايام حيض زمونږ د مونځ نه کولونه هم خبر وو مګر د دې باوجود حضورپاك کله هم د دغه مونځونود قضا راوړلو حکم نه دې ورکړې. که چرې ددې مونځونو قضا واجب وه نو ضرور به حضورپاك حکم فرمائيلو.[4]
خکه چه په ترک واجب باندې خاموشي او سکوت جائزنه دې.[5]

قوله: فلايأمرنابه: يعنی حضورپاك ﷺ مونږ ته دمونځونود قضاحکم نه فرمائيلو بلکه حضورپاك به مونږ ته صرف د روژو د قضا راوړلو حکم راکولو.[6]

---

[1] عمدة القاري: ۳/٤٤.
[2] شرح الكرماني: ۳/۱۹۳فتح الباري: ۱/٤۲۱عمدة القاري: ۳/٤٤٥ منحة الباري:۱/٦٥٠.
[3] شرح الكرماني: ۳/۱۹۳ عمدة القاري: ۳/٤٤٥.
[4] شرح الكرماني: ۳/۱۹۳ عمدة القاري: ۳/٤٤٦ إرشادالساري: ۱/۳٥۹.
[5] شرح الكرماني: ۳/۱۹۳ إرشادالساري: ۱/۳٥۹.
[6] عمدة القاري: ۳/٤٤٦ منحة الباري:۱/٦٥٠إرشادالساري: ۱/۳٥۹.

قوله:: أوقالت فلا تفعله: او د شك دپاره دي. علامه كرماني رحمه الله فرماني په ظاهره دا شك روايه حضرت معاذه بنت عبدالله طرف ته واقع شوي دي.[1]

داسماعيلي رحمه الله د روايت آخري كلمات داسې دي: «فلم نكن نقضي ولم نؤمربه» حافظ ابن حجر رحمه الله فرماني چه «فلم نكن نقضي» سره دعدم وجوب قضاء صلوات باندې استدلال «فلم نؤمربه» په مقابله كښې زيات واضح دي ځكه چه «لم نؤمربه» يوعام دليل دي اودعام دليل نه استدلال كولوكښې مناقشه ممكن ده چه دعام دليل نه استدلال كولوباندې اكتفاكړې شوې ده په خلاف د «فلم نكن نقضي» ځكه چه داجمله په دې امركښې واضحه ده چه مونږ ښځو به دهغه مونځونو قضا نه كوله.[2]

علامه ابن بطال رحمه الله فرمائي چه "تجزي" د تقضي په معنى كښې دې اود قيامت والا ورځې ته يوم الجزاء هم په دې وجه وائي چه په هغه ورځ به خلقو ته د هغوى د اعمالو بدله ور كولې شي.[3]

شراح رحمهم الله فرمائي چه داحديث په دې مسئله كښې د اجماع امت بنياد اواصل دې چه حائضه ښځې به د ايام حيض فوت شوو مونځونو قضا نه كوي او په دې مسئله كښې د چا هم اختلاف نشته دې بغېرد خوارج نه اوچونكه د خوارج په ګمراه كيدو باندې دټولو اتفاق دې اوهغوى د مسلمانانو د جماعت نه خارج دي په دې وجه دهغوى د اختلاف څه حيثيت هم نشته دې. چنانچه معمر رحمه الله دامام زهري رحمه الله نه نقل كوي چه حائضه به د روژو قضا خوكوي ولې دمونځونو قضابه نه كوي. په دې باندې معمر رحمه الله د امام زهري رحمه الله نه سوال اوكړو چه ددې دليل څه دې؟ نوامام زهري رحمه الله جواب وركړو چه ددې دليل اجماع امت دې ځكه چه په هره مسئله كښې قوى سند ملاويدل ممكن نه دي.[4]

علامه نووي رحمه الله فرمائي: «أجمع المسلمون على أن الحائض والنفساء لا تجب عليهما الصلاة والصوم وعلىٰ أنه لا يجب عليهما قضاء الصلاة، وعلىٰ أنه عليهما قضاء الصوم»[5] نورفرمائي «أجمعت الأمة على أنه يحرم عليها الصلاة فرضها ونفلها، وأجمعوا على أنه يسقط عنها فرض الصلاة، فلا تقضى إذا طهرت» او بياد ابوجعفر بن جريرامام ترمذي او ابن المنذر رحمه الله په حواله سره په عدم قضاء صلوات او قضاء صوم باندې اجماع نقل كړې ده.[6]

او علماء كرامو په دې دواړو كښې د فرق وجه دا بيان كړې ده چه مونځونه زيات هم وي اوهره ورځ مكرر هم وي ځكه چه د مونځونو په قضا كولوكښې مشقت اوحرج دې. خو روژې په ټول كال كښې يو ځل راځي په دې وجه ددې په قضا كولوكښې خاص مشقت نه وي.[7] بعض حضرات فرمائي چه اسلاف

---

[1]) شرح الكرماني: ۱۹۳/۳فتح الباري: ۴۲۱/۱عمدة القاري: ۴۴۶/۳ منحة الباري: ۶۵۰/۱إرشادالساري: ۳۵۹/۱.

[2]) إرشادالساري: ۳۵۹/۱.

[3]) فتح الباري: ۴۴۲/۱.

[4]) شرح الكرماني: ۱۹۳/۳ عمدة القاري: ۴۴۶/۳.

[5]) المجموع شرح المهذب: ۳۸۳/۲عمدة القاري: ۴۴۶/۳.

[6]) المجموع شرح المهذب: ۳۸۳/۲ والجامع الترمذي، كتاب الحيض باب ماجاء في الحائض أنها لاتقضى الصلاة والإجماع لابي بكر محمدبن إبراهيم بن المنذر النيسابوري ص: ۳۹مكتبة الفرقان، عجمان.

[7]) شرح الكرماني: ۱۹۳/۳ عمدة القاري: ۴۴۶/۳ منحة الباري: ۶۵۰/۱.

په حائضه ښځوته داحکم ورکولو چه هغوی دې دهرمونځ په وخت په اودس کښې قبلې ته مخ کړې اود الله تعالى ذکر دې کوی اودا عمل دغه حضرات دمسلمانانو ښځو طريقه او د عمل طرز ښائي اوهم دغه د عقبه بن عامر او مکحول رحمه الله نه نقل دی. (۱) عبدالرزاق رحمه الله فرمائی چه ماته داخبره رارسيدلې ده چه حائضه ښځوته به حکم ورکولې شو چه هغه دې د هرمونځ په وخت په اودس کښې کيږی. (۲)
د حضر ت عطاء رحمه الله نه نقل دې چه ماته داسې هيڅ خبرنه دې رسيدلې مگر زما په نيزدا يوخوښ کړې شوې عمل دې. ليکن ابوعمر رحمه الله فرمائی چه حضرات فقهاء کرام داعمل مکروه گڼړې اوهم دادغه خبره د سعيدبن عبدالعزيز رحمه الله نه هم نقل ده. او ابوقلابه رحمه الله وائی چه ددې سند هيڅ اصل ماته سره د لټون نه نه دې ملاؤشوې. البته د فقه حنفی کتاب منية المغني کښې ذکردی چه دحائضه دپاره مستحب دی چه هغه دې دهرمونځ په وخت کښې اودس کوی اود خپل کور په جومات کښې دې کيني او په څومره وخت کښې چه مونځ کولې شی هم دومره اندازه باندې دې دالله تعالى حمد اوثنا بيانوی، دې دپاره چه په داسې کولوسره دهغې د مونځ عادت باطل اوخراب نه شی. (۳)
صاحب د درايه فرمائی چه دحائضه دپاره په ايام حيض کښې دهرمونځ بدله کښې د هغې دپاره د هغې د ايام طهر د مونځونو ثواب ليکلې کيږی. (۴)
دحائضه متعلق يو سوال دا پيداکيږی چه آيا حائضه له د ترک صوم سره د قضاء صوم حکم ورکړې شوې دې يا داحکم خان له ورکړې شوې دې؟ نوجواب دادې چه د امر اول تعلق ترک صوم سره دې اود قضاء صوم حکم جدا ورکړې شوې دې. بعض حضر ات فرمائی چه د حائضه د طرف ته هم د روژې حکم متوجه کيږی مگر په داسې معنی کښې چه هغه به دا روستو کولوسره ساتی لکه چه دمحدث طرف ته د مونځ حکم متوجه کيږی خوچه ترکومې حدث موجوددې دهغه مونځ به نه صحيح کيږی.
(۵)ليکن داخبره صحيح نه ده ځکه چه په ايام حيض کښې په ښځه باندې روژه ځکه واجب کيدې شی سره ددې چه په دغه ورځوکښې په حائضه باندې روژه ساتل حرام دی اوهغه هم دداسې سبب په وجه دکوم ختمول چه د ښځې د اختيارنه بهردی. دمحدث حدث خو يوداسې سبب دې دکوم ختمول چه د محدث په اختيارکښې دی. (۶)
دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: ددې حديث ترجمة الباب سره مناسبت دحديث دټکړې «فلا يأمرنا به»أي: لايأمرنابقضاء الصلاة په واسطه سره دې او په دواړو کښې دعدم قضاء صلوات حکم ذکر دې (۷)

۲۱-باب: اَلنَّوْمِ مَعَ الْحَائِضِ وَهِيَ فِيْ ثِيَابِهَا

(۱) التوضيح: ۱۱۱/۵ عمدة القاری: ۴۴۶/۳.
(۲) مصنف عبدالرزاق کتاب الحيض باب وضوء الحائض عندوقت کل صلاة: ۳۱۹/۱رقم الحديث: ۱۲۲۲.
(۳) البحر الرائق: ۲۰۳/۲دارالمعرفة حاشية ابن عابدين، باب الحيض،مطلب: لوأفتى مفت بشيء من هذا الأقوال...... الخ: ۲۹۰/۱دارالفکر، عمدةالقاری: ۴۴۶/۳.
(۴) حواله بالا.
(۵) شرح الکرمانی: ۱۹۳/۳ التوضيح: ۱۱۱/۵ عمدة القاری: ۴۴۶/۳ منحة الباری: ۶۵۰/۱
(۶) شرح الکرمانی: ۱۹۳/۳ التوضيح:۱۱۱/۵ عمدة القاری: ۴۴۶/۳.
(۷) عمدة القاری: ۴۴۶/۳.

ماقبل سره ربط: ددې باب سابقه باب سره مناسبت دادې چه په دواړو ابواب حائضه سره متعلق په يو يوحکم باندې مشتمل دی.[1]

د ترجمة الباب مقصد: امام بخاری رحمه الله داحديث د باب من سمى النفاس حيضاً لاندې راوړې دې. اوس دلته ئې اعاده کوی او د دغه پورته عنوان باب: اَلنَّوْمِ مَعَ الْحَائِضِ وَهْيَ فِيْ ثِيَابِهَا ئې قائم کړو. اودبخاری رحمه الله مقصد داحکم مستنبط کول دی چه حائضه سره هم په يوه بستره کښې سملاستل جائزدی البته دا ضروری دی چه هغې دې کپړې اغوستې وی.[2]

شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائی چه زما په نيز دامام بخاری رحمه الله مقصد په دې ترجمة الباب سره په هغه خبره باندې رد کول دی چه د امام ابوداؤد رحمه الله تخريج کړې شوې روايت سره متوهم اومترشح کيږی. دامام ابوداؤد رحمه الله تخريج کړې شوې روايت دادې: «عن عائشة أنها قالت: كنت إذا حضت نزلت عن المثال على الحصير، فلم نقرب رسول الله صلى الله عليه وسلم ولم ندن منه، حتى نطهر»[3]

خکه چه د امام ابوداؤد رحمه الله دتخريج کړې شوی دې روايت نه معلوميږی چه دحيض په حالت کښې به ازواج مطهرات رسول الله ﷺ ته نه نيزدې کيدې. حال دادې چه دا خبره د ډيرو صحيح رواياتو خلاف ده. په دې وجه په دې روايت تاويل کول ضروری دی. چنانچه يو تاويل داکړې شوې دې چه دا روايت منسوخ دې. بل دا چه په دې روايت کښې د قرب نه مراد جماع ده او ښکاره خبره ده چه دجماع مراد کيدو په صورت کښې په احاديثوکښې تضاد نه پاتې کيږی. او دريم تاويل داکړې شوې دې چه داعدم دنو اوعدم قرب به د ازواج د طرف ه کيدلو، د حضورپاك د طرف نه به نه کيدلو، بلکه حضورپاك به ازواج رانيزدې کولې لکه چه په ډيرو صحيح رواياتوکښې ذکر دی او په داسې موقعه باندې د ازواج د طرف نه عدم دنو او عدم قرب خکه بعيدنه دې چه په داسې حالت کښې د ښځو مزاج خرابيږی اوخاوندته ورنيزدې کيدو ته ئې زړه نه کيږی.[4]

ابن رسلان رحمه الله فرمائی چه د سنن ابی داؤد روايت د ابن عباس رضی الله عنهما او ابوعبيدسليمان رحمه الله مستدل دې (خکه چه ددې حضراتو په نيز حائضه سره په هيڅ توګه هم مباشرت جائزنه دې) لکه څنګه چه امام نووی رحمه الله حکايت کړې دې مګر دا قول شاذدې.[5]

شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائی چه د حائضه سره مباشرت په دريو طريقو باندې دې يا ددې درې صورتونه دی. هم ددې نه يوصورت دادې چه مباشرت د نامه نه پورته اود زنګونونه ښکته دبدن حصه کښې په لاس يا ذکر وغيره په ذريعه وی اودا صورت په اجماع سره جائز دې. البته علامه عينی رحمه الله فرمائی چه د ابوعبيدسليمان رحمه الله وغيره په نيز دا صورت هم ناجائز دې مګر داقول شاذ اومنکردې او احاديث صحيحه صريحه «فی مباشرت النبی صلى الله عليه وسلم فوق الإزار» دوجې نه مردود دې.[6]

---

[1] عمدة القاری:۳/۷٤٤.

[2] فتح الباری لابن رجب: ۲/۱۳٦عمدة القاری: ۳/۱٤۷.

[3] سنن أبی داؤد کتاب الحيض باب فی الرجل يصيب منها مادون الجماع رقم الحديث:۲۷۱.

[4] الکنزالمتواری: ۳/۲۸۷تعليقات علی بذل المجهود: ۲/۲۹۲.

[5] الکنزالمتواری: ۳/۲۸۷تعليقات علی بذل المجهود: ۲/۲۹۲.

[6] أوجزالمسالک: ۱/۵۸۰ الکنزالمتواری:۳/۲۸۷.

الحديث الأول

[٣٢٢]- حَدَّثَنَا سَعْدُ بْنُ حَفْصٍ قَالَ: حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ، حَدَّثَتْهُ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: حِضْتُ وَأَنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الخَمِيلَةِ، فَانْسَلَلْتُ فَخَرَجْتُ مِنْهَا، فَأَخَذْتُ ثِيَابَ حِيضَتِي فَلَبِسْتُهَا، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنُفِسْتِ» قُلْتُ: نَعَمْ، فَدَعَانِي، فَأَدْخَلَنِي مَعَهُ فِي الخَمِيلَةِ قَالَتْ: وَحَدَّثَتْنِي أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَانَ يُقَبِّلُهَا وَهُوَ صَائِمٌ» «وَكُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ مِنَ الجَنَابَةِ»(١)- [ر ٢٩٤]

ترجمه: دحضرت ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دې چه زه رسول الله ﷺ سره په څادر كښې ملاسته وم چه په ماحيض راغلو. په دې وجه زه په مزه يا غلې غونډې د څادر نه اووتلم او خپلې دحيض كپړې مې واغوستې. نومانه حضورپاك تپوس اوكړو آيا په تاحيض راغلې دې؟ نوما عرض اوكړو اوجی: بيا حضورپاك زه راؤغوښتم او خپل خان سره ئې په څادر كښې پټه كړم. د ام سلمه رضي الله عنها داهم بيان دې چه نبی كريم ﷺ به د روژې په حالت كښې هم ښكلول كول اوما او حضورپاك به هم په يولوښې د جنابت غسل كولو.

تراجم رجال

سعدبن حفص: دا سعد بن حفص الطلحي رحمه الله دې. ددوی كنيت ابومحمد دې. جمال الدين مزی رحمه الله ددوی صرف د شيبان بن عبدالرحمن رحمه الله نه روايت كول لكلی دی.(٢) د دوی احوال كتاب الوضوء باب من لم ير الوضوء إلا من المخرجين من القبل والدبر لاندې تيرشوی دی.

شيبان: دا شيبان بن عبدالرحمن تيمی نحوی بصری مؤدب رحمه الله دې ددوی كنيت ابومعاويه دې. ددوی حالات كتاب العلم باب كتابة العلم لاندې تيرشوی دی.(٣)

يحيى: دا مشهور امام يحيى بن ابی اكثيرطانی يمامی رحمه الله دې. ددوی كنيت ابومعاويه دې ددوی حالات كتاب العلم باب كتابة العلم لاندې تيرشوی دی.(٤)

أبوسلمة: دادحضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه خوئی دمدينې منورې د فقهاء سبعه نه يوفقيه او مشهور تابعی دې.(٥) امام مالك رحمه الله فرمانی چه ددوی هم داكنيت ددوی نوم دې.(٦) خو بعض حضراتو ددوی نوم عبدالله خودلې دې او څه نورو حضراتو ددوی نوم اسماعيل خودلې دې.(٧) امام نووی رحمه الله

---

(١) قوله: أم سلمة: الحديث، مر تخريجه فی كتاب الحيض فی باب من سمی النفاس حيضاً رقم الحديث: ٢٩٨.

(٢) تهذيب الكمال: ١٠/٢٦٠.

(٣) كشف الباری: ٢/٢٦٣.

(٤) كشف الباری: ٤/٢٦٧.

(٥) تهذيب الأسماء واللغات: ٢/٢٤٠.

(٦) تذكرة الحفاظ: ١/٦٣ تهذيب الكمال: ٣٣/٣٧٥.

(٧) تهذيب الكمال: ٣٣/٣٧١ سير أعلام النبلاء: ٤/٢٨٧.

فرمائی «والصحيح المشهور هو الأول» [۱] ددوی حالات كتاب الإيمان باب صوم رمضان احتساباً من الإيمان لاندې تیر شوی دی. [۲]

زینب بنت أبي سلمة: داد حضورپاك ﷺ ربیبه حضرت ام سلمه رضي الله عنها لور زینب بنت ابی سلمه عبدالله بن عبدالاسد بن هلال مخزومیه قرشیه رضي الله عنها ده. ددې نوم بره وو حضورپاك په زینب باندې بدل کړو. [۳] ددوی خالات كتاب العلم باب الحياء في العلم لاندې تیرشوی دی. [۴]

أم سلمة: دا ام المؤمنین ام سلمه هندبنت ابی امیه رضي الله عنها ده. [۵] ددوی حالاتِ كتاب العلم باب العلم والعظة بالليل لاندې تیرشوی دی. واضحه دې وی چه په سندکښې دوه ابوسلمه دی اول ذکرشوې ابوسلمه تابعی دې اودویم ذکرشوې ابوسلمه صحابی رسول ﷺ اود حضرت ام المؤمنین ام سلمه رضي الله عنها رومبې خاوند اوحضرت زینب بنت ام سلمه رضي الله عنها پلاردې. [۶]

شرح حديث

ددې باب لاندې چه امام بخاری رحمه الله کوم حدیث راوړې دې هغه په دریو احکامو باندې مشتمل دې کوم چه دادی: ① حائضه سره د سملاستو او اوده کیدو جواز. ② د روژې په حالت کښې د بی بی ښکلولوجواز. ③ د خاوند اوښځې په یولوښی سره غسل کولو جواز.

ددې پورته ذکرشوو احکامو نه دړومبی حکم سره متعلق ټول ابحاث باب من سمّىٰ النفاس حيضاً لاندې تیرشوی دی.

قوله:: خملية: دلته په روایت کښې د خملية لفظ راغلي دې خو باب من سمّىٰ النفاس حيضاً کښې هم په دې روایت کښې خميصة لفظ راغلي وو. خميصة نقش والاخادر ته وائی اوخملة جالیدار څادر ته وائی اوس په دواړو کښې صحیح کوم یودې؟ علامه کرمانی رحمه الله وائی چه په دواړو کښې هیڅ منافات او تضاد نشته دې. خملة په نسبت د خميصة زیات اعم دې لهذا عین ممکن دی چه هغه څادر هم دواړه شان وی یعنی جالیدار هم وی اومنقش هم. [۷]

قوله:: معه: معه ظرف حال واقع دې او په داسې صورت کښې به معنی داسې شی پس زه حضورپاك په څادرکښې کړم حال دادې چه زه د حضورپاك په معیت کښې ووم یا ماته د حضورپاك معیت حاصل وو. [۸] په روایت کښې خملة دوه ځل راغلي دې اود دویم ځل نه هم عین اول مراد دې یعنی په شروع کښې چه هغه رضي الله عنها وه واپس راتلوسره حضورپاك هغه رضي الله عنها هم په هغه څادرکښې کړې وه ځکه چه

---

[۱] تهذيب الأسماء واللغات: ۲/ ۲٤۰.
[۲] كشف الباری: ۲/ ۳۲۳.
[۳] تهذيب الكمال: ۳۵/ ۱۸۵معرفة الصحابة لأبي نعيم: ۵/ ۲۳۹رقم الترجمة: ۳۸۸٤.
[۴] كشف الباری: ٤/ ۶۱۰.
[۵] كشف الباى: ٤/ ۳۹۳.
[۶] شرح الكرمانی: ۳/ ۱۹٤عمدة القاری: ۳/ ٤٤۷.
[۷] شرح الكرمانی: ۳/ ۱۹٤.
[۸] حواله بالا.

معرفه كله معرفه راواپس كړې شي نود ثاني معرفه نه مراد عين هم هغه اول وي.[1] اوكوم لفظ څمېلة چه اول ذكرشوې په هغې كښې موجود الف لام كښې دوه احتمالات دي. الف لام دعهد ذهني هم كيدې شي او دجنس دپاره هم كيدې شي.[2]

قوله::قالت: شراح كرامو ليكلي دي چه د قالت فاعل حضرت زينب بنت ابوسلمه رضي الله عنها ده او د ظاهري الفاظونه سره ددې چه دا معلوميږي چه داتعليق دې مګر سياق كلام دې طرف ته مشير دې چه دادسند مذكورلاندې داخل دې اومعلق روايت نه دې.[3]

قوله::وحدثتني: ددې جملې معطوف عليه مقدر دې كوم چه د قالت قول دپاره مقوله جوړيږي او تقديري عبارت ئې داسې دې «قالت(زينب): هذاالقول وحدثتني أم سلمة»[4]

قوله::وكنت: علامه كرماني رحمه الله فرمائي چه د كنت عطف په قالت باندې كول صحيح نه دي. ځكه چه قالت ضمير زينب بنت ابى سلمه رضي الله عنها طرف ته راجع دې او په كنت كښې داسې هيڅ مرجع نشته لهذا دعطف كولو په صورت كښې به په معنى كښې خرابى لازم راځي) اونه ددې عطف په حدثتني باندې كول صحيح دي (ځكه چه په دې صورت كښې به هم معنوي خرابى لازمى راځي). هغه فرمائي چه زما په نيز ددې عطف "أن النبي" باندې دې چه دحدثتني دپاره مفعول به واقع كيږي اوداسې هيڅ قسم خرابى نه لازمى كيږي[5] خو علامه عيني رحمه الله فرمائي د كنت عطف په حدثتني باندې په تقدير قالت دې اوځكه چه حدثتني مقوله جوړيږي دقالت دپاره هم دغه شان داجمله هم د قالت دپاره مقوله جوړيږي اوتقديري عبارت به ئې داسې شي «قالت (زينب): وحدثتني (أم سلمة) وقالت (أم سلمة): كنت أغتسل»[6]

قوله::أغتسل أنا والنبي: دلته د أغتسل نه پس د ضمير منفصل اظهاركړې شوې دې دې دپاره چه پدې دلفظ "النبي" عطف صحيح وي. نور "النبي" بربناء مفعول معه منصوب لوستل هم صحيح دي[7]

قوله::من إناء واحد من الجنابة: دمن ابتدائيه تعلق په دواړو مقاماتوكښې أغتسل سره دې په دې باندې دې دا اشكال نه وي چه د دوو كلمات ابتدائيه تعلق يوفعل سره ځنګه ممكن دې؟ ځكه چه ددوو ابتدائيه كلماتو تعلق يوفعل سره هغه وخت ممتنع وي كله چه دواړه د يوجنس نه وي. لكه د دوو ځايونوته ابتدا كول اوداسې وينا كول «خرجت من البصرة من الكوفة» يا د دوو زمانونه ابتداكول او داسې ونيل «ما رأيت زيدا من شهر من سنة» نودا ونيل جائزنه دي ځكه چه جنس يودې. خوكه چرته جنس

---

[1] شرح الكرماني: ۳/۱۹٤عمدة القاري: ۳/٤٤٧.
[2] شرح الكرماني: ۳/۱۹٤.
[3] شرح الكرماني: ۳/۱۹٤عمدة القاري: ۳/٤٤٧.
[4] شرح الكرماني: ۳/۱۹٤عمدة القاري: ۳/٤٤٧.
[5] شرح الكرماني: ۳/۱۹٤فتح الباري: ۱/٤۲۱.
[6] عمدة القاري: ۳/٤٤٧.
[7] شرح الكرماني: ۳/۱۹٤عمدة القاري: ۳/٤٤٧.

یو نه وی نوددوو کلمات ابتدائیه هم یوفعل سره تعلق کیدې شی لکه چه «من إناءٍ واحدٍ من الجنابة» کښې چه دې. د اول تعلق عین سره اوددویم تعلق معنی «جنابت» سره دې.[1]
علامه زکریا انصاری رحمه الله فرمائی چه ددواړو کلمه د "من" تعلق أغتسل سره دې ړومبې کلمه "من" ابتدائیه ده اودویمه کلمه د "من" تعلیلیه ده.[2] اوبیائی دویم احتمال هم ذکرکړو په کوم کښې چه "من" دواړو خایونوکښې ابتدائیه ګرځولې شوې دې.[3]

قوله: كان يقبلها وهوصائم:

دروژې په حالت کښې د بی بی دښکلولوحکم اود فقهاؤ اختلاف: ابن المنذر رحمه الله فرمائی چه د فقهاؤ په دې مسئله کښې اختلاف دې چه په روژه کښې د بی بی ښکلول څنګه دی؟ بعض ددې رخصت ورکړې او هم دغه خبره حضرت عمر، حضرت ابوهریره، حضرت ابن عباس اوحضرت عائشه صدیقه رضی الله عنهم نه نقل ده.[4] اود تابعین نه حضرت عطاء، امام شعبی اوامام حسن رحمهم الله هم دغه مذهب دې.[5]، اوهم داد امام احمد رحمه الله او امام اسحاق رحمه الله هم قول دې. قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه صحابه کرام رضی الله عنهم او تابعین رحمهم الله یولوئی جماعت د خاونددپاره د روژې په حالت کښې ښځه ښکلول مباح ګرځولې دی[6] اود سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه هم دغه مذهب وو[7] ابن ابی شیبه رحمه الله دا مباح ګرځونکو کښې حضرت علی حضرت عکرمه حضرت ابوسلمه بن عبدالرحمن اومسروق بن الاجدع رحمهم الله نومونو اضافه هم کړې ده.[8]
د امام شافعی رحمه الله مذهب: علامه نووی رحمه الله د امام شافعی رحمه الله مذهب نقل کولوسره فرمائی چه که روژه دار ته د خپل شهوت د راؤچتیدو اندیښنه نه وی نودهغه دپاره سره ددې چه خپله ښځه ښکلول حرام نه دی لیکن اولی اوبهتر هم دغه دی چه په روژه کښې دې ښکلول نه کوی البته د ښکلولو په صورت کښې به داسې هم نه شی وئیلې چه دا فعل مکره دې څکه چه پخپله دحضورپاك نه دخپلو بیبیانو ښکلول د روژې په حالت کښې ثابت دی. اوباوجود رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ددې فعل د ثبوت دې ته

---

[1] شرح الکرمانی: ۱۹٤/۳عمدة القاری: ٤٤٧/۳أرشاد الساری: ۳٥۹/٤منحة الباری: ٦٥۲/۱
[2] منحة الباری: ٦٥۲/۱-٦٥۱
[3] منحة الباری: ٦٥۲/۱
[4] رواه عن عمر مالک فی المؤطا ص: ۱٤۸وعبدالرزاق فی المصنف: ۱۸٥/٤(۷٤۲۰) وابن أبی شیبة:۲٤۲/٦ (۹٥۰۰) ورواه عن أبی هریرة مالک فی المؤطا:ص: ۱٤۸ وعبدالرزاق فی المصنف: ۱۸٦/٤-۱۸٥(۷٤۲۲-۷٤۲۱) وابن أبی شیبة: ۲۳۹/٦ (۹٤۹۰) ورواه عن ابن عباس، عبدالرزاق: ۱۸٥/٤-۱۸٤(۷٤۱۳، ۷٤۱٦) وابن أبی شیبة:۲٤۹/٦ (۹٤۹۳-۹٤۹۲) ورواه عن عائشة مالک فی المؤطا ص: ۱٤۸وعبدالرزاق: ۱۸۳/٤ (۷٤۱۱) والطحاوی فی شرح م عانی الأثار: ۹۳/۲والتوضیح لابن ملقن:۱۸۸/۱۳.
[5] رواه ابن أبی شیبة عن عکرمة والنعبی:۲٤۰/٦ (۹٤۹٤)التوضیح: ۱۸۸/۱۳
[6] إکمال المعلم: ٤۳/٤.
[7] رواه عنه مالک فی المؤطا ص: ۱٤۸ وابن أبی شیبة:۲۳۸/٦ (۹٤۸٦)والتوضیح لابن ملقن:۱۸۸/۱۳.
[8] المصنف لابن أبی شیبة: ۲٤۲/٦-۲۳۸(۹٤۸٤، ۹٤۸٥، ۹٥۰۱).

د خلاف اولى ونيلو وجه داده چه حضورپاك ددې خبرې نه مامون وو چه د حدنه به نې تجاوز کولو خود حضورپاك نه علاوه خلقو په حق کښې د تجاوز کولو خطره او اندیښنه شته. په دې وجه داخلاف اولى گرځولې شوى دى. اوکه چرته روژه دار ته دخپل شهوت د راوچتيدو اندیښنه وى نو په داسې صورت کښې د شوافع په نيزد بى بى ښکلول حرام دى.(١)

دابن قدامه رحمه الله كلام: ابن قدامه رحمه الله فرمائى چه ښکلونکې د دريو حالونه خالى نه دې: ① ښکلول نې اوکړه اوانزال نه شو نو روژه به ئې نه فاسد کيږى او په دې کښې د چا اختلاف نشته دې. ځکه چه د حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه حضورپاك به د روژې په حالت کښې ښکلول کول او د حضورپاك په خپل ځان باندې د ټولو نه زياته قابولرونکې وو.(٢) اوهم دغه شان د حضرت عمر رضي الله عنه نه روايت دې يوه ورځ ما د روژې په حالت کښې ښکلول اوکړه نود حضورپاك په خدمت کښې حاضرشوم عرض مې اوکړو. نن زما نه ډيره لويه ګناه شوې اوهغه دا چه ما د روژې په حالت کښې ښکلول کړې دى. نوحضورپاك اوفرمائيل: «أرأيت لو تمضمضت من إناء وأنت صائم» آيا ستا په دې باره کښې څه خيال دې چه که ته چرې د روژې په حالت د يولوښى نه په خله کښې اوبه واچوې؟ ما جواب ورکړو «لابأس به» يعنى په دې کښې هيڅ حرج نشته. نو په دې باندې حضورپاك اوفرمائيل «فمه» يعنى بياخود روژې په حالت کښې ښکلول هم دغه شان دى.(٣)

په دې روايت کښې ښکلول خله کښې اوبواچولوسره تشبيه ورکړې شوې ده لکه څنګه چه په خله کښې اوبه اچولوسره دحلق نه ښکته تللو اندیښنه ده هم دغه شان په ښکلولوکښې هم د شهوت اندیښنه ده. خو چه څنګه په خله کښې اوبو اچولوسره دحلق نه نه تيريږى نو روژه نه فاسد کيږى هم دغه شان په ښکلولو کښې که چرې دمنى خروج نه وى نو روژه نه فاسد کيږى ګنى روژه به فاسدشى.

② چه ښکلول ئې اوکړه او انزال شو نوبغيرد څه اختلاف نه به روژه سد شى.

③ دريم صورت دادې چه په ښکلولوسره مذى خارج شى نو په دې صورت کښې به زمونږ دحنابله او مالکيه په نيز روژه فاسديږى خودامام ابوحنيفه رحمه الله اوامام شافعى رحمه الله په نيز روژه نه فاسديږى او هم داد امام حسن رحمه الله امام شعبى رحمه الله او امام ازاعى رحمه الله مذهب دې.(٤)

ددې دريوارو صورتونو دذکرکولونه پس فرمائى که روژه دار د شهوت والاد اودهغه غالب ګمان داوى چه ښکلول ئې اوکړه نو انزال به شى نودهغه دپاره ښکلول حلال نه دى بلکه حرام دى ځکه چه داسې ښکلول د روژې دپاره مفسد دى. او که چرې هغه د شهوت والاخودې مګر غالب ګمان ئې دا نه دې چه منى به ترې اوځى نو ښکلول مکروه دى ځکه چه خطره ده چه روژه ئې فاسدشى. چنانچه

---

(١) شرح للنووى على صحيح مسلم كتاب الصيام باب بين أن القبلة فى الصوم: ٢١٥/٧دار إحياء التراث العربى. الحاوى فى فقه الإمام الشافعى كتاب الصوم باب النية فى الصوم: ٤٣٩/٣-٤٣٨دارالكتب العلمية.

(٢) رواه الإمام البخارى فى الصوم باب المباشرة للصائم رقم الحديث: ١٩٢٧ومسلم فى الصيام باب بيان أن القبلة فى الصوم رقم الحديث: ٢٥٧٣......٢٥٧٩.

(٣) سنن أبى داؤد كتاب الصوم باب القبلة للصائم رقم الحديث: ٢٣٨٥.

(٤) المغنى لابن قدامة: ٣٦١/٤-٣٦٠.

دحضرت عمر رضی الله عنه نه روایت دې چه ما رسول الله ﷺ په خوب کښې اولیدلو نو حضورپاك زما نه ډډه اوکړه. ما تپوس اوکړو چه داسې ولې اوشو؟ نوحضورپاك اوفرمائیل: «إنك تقبل وأنت صائم»[1]
البته ښکلولو ته حرام هم نه شي وئیلې خکه چه په روایت کښې راځي. یوصحابي خپله بي بي ښکل کړه او بیائې خپله بي بي رسول الله ﷺ له اولیګله چه ددې مسئلې د حکم تپوس اوکړه راشه. هغه ښځه راغله نو حضورپاك اوفرمائیل چه هغه (حضورپاك) هم دخپلو بیبیانونه د روژې په حالت کښې کله کله خله اخلي. بیاچه کله هغه ښځې د رسول الله ﷺ ددې ارشاد خپل خاوند ته خبر ورکړو نوهغه اونه منل چه حضورپاك زمونږ په شان نه دې. دهغوی دپاره خو دهغوی وړاندې او روستو ټول ګناهونه معاف کړې شوی دی. چنانچه هغه خپله بي بي واپس وراولیګله. ښځه راغله او نبی علیه السلام ته ئې دخپل خاوند د کلام خبر ورکړو نو حضورپاك اوفرمائیل: «إني لأخشاکم الله، أعلمکم بما أتقی»[2]
دامام نووي رحمه الله اوعلامه ابن قدامه رحمه الله د کلام حاصل دا راوځي چه دامام شافعي رحمه الله امام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نیز که روژه دارته دخپل شهوت نه راوچتیدو تسلی وی نودهغه دپاره ښکلول جائز دی سره ددې چه خلاف اولی دی اوکه چرې د شهوت د راوچتیدو خطره وی اود شهوت دغالب راتلو ویره یوی نو په داسې صورت کښې خله اخستل حرام دی. البته که خله ئې واخسته او مذي ترې لاړه نوبیا د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام شافعي رحمه الله مذهب جداجدا دې اود امام احمد بن حنبل رحمه الله مذهب جدادې. د احناف او شوافع په نیز به روژه نه فاسدیږی اود امام احمدبن حنبل رحمه الله په نیز به روژه فاسدیږي. لهذا د شیخ فاني دپاره اوداسې سړی دپار ه چه دهغه شهوت په خله اخستوسره په حرکت کښې نه راځي. د روژې په حالت کښې دخپلې بي بي نه خله اخستل جائز اوغیرمکروه دی. اود خوان سړی دپاره مکروه دی ځکه چه د ځوان سړی د شهوت راوچتیدلو قوی اندیښنه ده. چنانچه دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه حضورپاك د بوډا سړی دپاره ددې اجازت ورکړې اوځوان ئې منع کړې دې. او علت ئې دا بیان کړې دې چه بوډا په خپل نفس باندې زیات قابولرونکې دې.[3] دغه شان دعبدالله بنت عمرو بن العاص، حضرت ابوایوب انصاری او ابن عباس رضی الله عنهم نه هم روایت نقل دې.[4]

دامام مالک رحمه الله مذهب: امام مالك رحمه الله په روژه کښې د بي بي نه خله اخستل علی الاطلاق مکروه ګرځولې دی.[5]

دعلامه عیني رحمه الله تحقیق: علامه عیني رحمه الله په دې مسئله کښې د علماؤ اوفقهاؤ اختلاف په څلور مذاهب باندې تقسیم کړې دې:

---

[1] أخرجه البیهقي في کتاب الصیام باب کراهیة القبلة لمن حرکت شهوته، وابن أبي شیبة، کتاب الصیام، باب من کره القبلة للصائم ولم یرخص فیها، رقم الحدیث: ۹۵۰۲.

[2] ورواه الإمام المسلم بمعناه في الصیام باب بیان أن القبلة في الصوم رقم الحدیث: ۲۵۸۸وأخرجه الإمام مالک (بروایة محمدبن الحسن) في الصیام باب القبلة للصائم رقم الحدیث: ۳۵۱ دارالقلم، المغني لابن قدامة: ۳۶۱/۴.

[3] سنن أبي داؤد کتاب الصیام باب کراهیته للشاب رقم الحدیث: ۲۳۸۷.

[4] المدونة الکبری کتاب الصیام باب في القبلة والمباشرة..... الخ: ۲۶۸/۱دراالکتب العلمیة.

[5] المغني لابن قدامة: ۳۶۱/۴التوضیح: ۱۸۹/۱۳شرح النووي: ۲۱۵/۷دارإحیاء التراث العربي.

① رومبي مذهب دادي چه د روژې په حالت كښې ښځه ښكلول اودهغې نه خله اخستل مطلقًا جائزدي او هم دغه د حضرت عمر، سعد بن ابى وقاص، حضرت ابوهريره او حضرت عائشه رضي الله عنهم مذهب دې اود تابعينونه حضرت عطاء، امام شعبى او حسن بصرى رحمهم الله دا قول اختيار كړې دې. او هم دغه دامام احمد، امام اسحاق، امام داؤد او علامه ابن عبدالبر رحمهم الله هم مسلك دې.

② دويم مذهب دادې چه د روژې په حالت كښې ښځه ښكلول مطلقًا مكروه دى اوهم دغه دحضرت عبدالله بن مسعود او ابن عمر رضي الله عنهم مذهب دې.

③ دريم مذهب دادې چه په روژه كښې ښځه ښكلولوكښې بوډا اوځوان كښې فرق دې. د بوډا دپاره ښكلول جائز او د ځوان د پاره ناجائز دى. د چا د شهوت راؤچتيدو چه خطره وى دهغه دپاره ناجائز دې اود چا د شهوت چه د راؤچتيدو خطره نه وى د هغه دپاره جائز دى. هم دا دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما مذهب دې. دغه شان دامام ابوحنيفه رحمه الله اود هغه د اصحاب او سفيان ثورى اوامام شافعى رحمهم الله هم دغه مذهب دې.

④ څلورم مذهب دددې چه د فرضى اونفلى روژوپه اعتبار سره فرق دې. فرض روژو كښې مطلقاً مكروه دى او نفلى روژو كښې جائزدى اودا د امام مالك رحمه الله مذهب دې.[1] حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمائى چه كه په روژه كښې ئى خله واخسته نودهغه ورځې د روژې قضابه كوى لكه دهغه په نيز روژه فاسديږى. امام ثورى رحمه الله فرمائى «هذالانؤخذبه» يعنې د ابن مسعود رضي الله عنه قول نه شى اختيارولې.[2] امام طحاوى رحمه الله فرمائى چه تركومې د ابن مسعود رضي الله عنه دقضاكولو حكم نقل دې نوبل طرف ته هم دهغوى نه ددې خلاف هم نقل دى. حضرت جابر رضي الله عنه د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت كوى چه هغه به د روژې په حالت كښې خپلې بى بى سره مباشرت (ښكلول رابښكلول) كولو. بل د سعيد بن المسيب رحمه الله نه هم نقض صوم نقل دې ليكن ښكاره خبره ده چه د سعيدبن المسيب رحمه الله د قول په مقابله كښې د حضورپاك روايت چه، حضورپاك به د روژې په حالت كښې ښكلول كول، اولى او افضل دې.[3]

قوله: وكنت أغتسل أنا والنبي صلى الله عليه وسلم من إناء واحد من الجنابة: دحديث دا الفاظ دكتاب الغسل لاندې تيرشوى دى اودې سره متعلق ټول مباحث هم هلته دى. باب الغسل الرجل مع امرأته لاندې تيرشوى دى.

د حديث ترجمة الباب سره مناسبت: دحديث ترجمة الباب سره مناسبت په حديث كښې ذكركړې شوى رومبې حكم سره دې چه په دواړو كښې حائضه سره د اوده كيدو او سملاستو جواز بيان كړې شوې دې.[4]

۲۲ - باب: مَنْ أَخَذَ ثِيَابَ الْحَيْضِ سِوَى ثِيَابِ الطُّهْرِ.

---

[1] البنايه شرح الهداية كتاب الصوم باب مالا يفطر الصائم حكم التقبيل والمباشرة للصائم: ٤/٤٥-٤٤.
[2] لمصنف العبدالرزاق كتاب الصيام باب القبلة للصائم: ٤/١٨٦رقم الحديث:٧٤٢٦ التوضيح: ١٣/١٨٩، ٤/١٨٦.
[3] شرح معانى الآثار كتاب الصيام باب القبلة للصائم: ٢/٩٠-٨٨عالم الكتب. التوضيح: ١٣/١٨٩.
[4] عمدة القارى: ٣/٤٤٧.

ماقبل سره ربط: په دواړوابواب کښې مناسبت هم په دې سره واضح دې چه په دواړو کښې هم يو حديث ذکر دې.[۱]

د ترجمة الباب مقصد: دامام بخاری رحمه الله مقصد په دې ترجمة الباب سره د ښځې دپاره په ايام حيض کښې جداکپړې ساتلو د جواز بيانول دي.[۲] ليکن شاه ولی الله رحمه الله فرمانی چه دښځې دپاره په ايام حيض کښې جدا کپړې ساتلو جواز باندې دحديث باب نه استدلال په دې خبره باندې موقوف دې چه په حديث کښې ذکر شوې دحضرت ام سلمه رضي الله عنها قول: «فأخذت ثياب حيضتي» نه مراد هغه کپړې وی کومې چه انسان د لباس په توګه اغوندی ځکه چه «ثياب حيضتي» کښې يوبل احتمال هم دې اوهغه دادې چه «ثياب حيضتي» نه مراد هغه مالوچ وی کوم چه حائضه د حيض په شروع کښې فرج کښې ايږدی.[۳]

د شيخ الحديث زکريا رحمه الله رائې: شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائی چه زما په نيز ددې ترجمة الباب نه د امام بخاری رحمه الله مقصد يووهم لرې کول دی. کوم چه «باب هل تصلي المرأة في ثوب حاضت فيه» لاندې ذکرکړې شوې حديث د حضرت عائشه رضي الله عنها الفاظ «ماكان لإحدانا إلا ثوب واحد» نه پيدا کيږی چه کيدې شی د ايام حيض دپاره جدا کپړې ساتل په اسراف کښې داخل دی. نو دا وهم ئې په ترجمة الباب سره ختم کړو چه دايام حيض دپاره دجدا کپړو بندوبست کول په اسراف کښې داخل نه دی بلکه پخپله دحضورپاک په ژوند مبارک کښې دحضورپاک ازواج مطهرات نه داعمل ثابت دې.[۴]

د کشميهنی رحمه الله په روايت کښې دأخذ په ځائې باندې أعد الفاظ دی.[۵]

الحديث الأول

[۳۱۷]- حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: بَيْنَا أَنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُضْطَجِعَةً فِي خَمِيلَةٍ حِضْتُ، فَانْسَلَلْتُ، فَأَخَذْتُ ثِيَابَ حِيضَتِي، فَقَالَ: «أَنُفِسْتِ»، فَقُلْتُ: نَعَمْ فَدَعَانِي، فَاضْطَجَعْتُ مَعَهُ فِي الْخَمِيلَةِ"[۶]-[ر ۲۹۴]

ترجمه: دحضرت ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دې چه په هغه دوران چه زه حضورپاک سره په څادرکښې ملاسته ووم په ما حيض شروع شو. زه په مزه شان پاسيدم اود حيض کپړې مې واخستې. حضورپاک اوفرمائيل چه آيا په تا حيض شروع شوې دې؟ نوما عرض اوکړو اوجی! بيا حضورپاک زه راوغوښتم او حضورپاک سره په څادر کښې سملاستم.

---

[۱]) عمدة القاري:۳/۴۴۷.

[۲]) عمدة القاري: ۳/۴۴۷.

[۳]) شرح التراجم ابواب البخاري:۲۰ الأبواب والتراجم: ۶۶

[۴]) الكنزالمتواري: ۳/۲۸۸تقرير بخاري: ۲/۱۰۲.

[۵]) فتح الباري: ۱/۴۲۳عمدة القاري:۳/۴۴۷ إرشادالساري: ۱/۵۶۴.

[۶]) قوله: أم سلمة: الحديث، مرتخريج هذه الرواية في كتاب الحيض باب من سمى النفاس حيضاً رقم الحديث: ۲۹۸.

تراجم رجال

معاذ بن فضالة: دا ابوزيد معاذ بن فضاله بصرى رحمه الله دې. د دوى حالات كتاب الوضوء باب النهى عن الستنجاء باليمين لاندې تيرشوى دى.

هشام: دا ابوبكر هشام بن ابى عبدالله دستوائى رحمه الله دې. د دوى حالات كتاب الايمان باب زيادة الايمان ونقصانه لاندې تيرشوى دى.([1])

يحيى بن أبي كثير: دا مشهورامام يحيى بن ابى كثير طائى يمامى رحمه الله دې. د دوى حالات كتاب العلم باب كتابة العلم د دويم حديث لاندې تيرشوى دى.([2])

أبوسلمة بن عبدالرحمن بن عوف: دادحضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه خوئى، د مدينې منورې د فقهاء سبعه نه يو لوئى فقيه اومشهور تابعى اومحدث دې. د دوى حالات كتاب الايمان باب صوم رمضان احتسابا من الايمان د رومبى حديث لاندې تيرشوى دى.([3])

زينب بنت أم سلمة: داد حضوراكرم صلى الله عليه وسلم ربيبه، حضرت ام سلمه رضي الله عنها لور، زينب بنت ابى سلمه عبدالله بن عبدالاسدبن هلال مخزوميه قرشيه رضي الله عنها ده. ددې نوم بره وو حضورپاك په زينب سره بدل كړو([4]) ددوى حالات كتاب العلم باب الحياء فى العلم لاندې تيرشوى دى.([5])

أم سلمة: دا ام المؤمنين ام سلمه هندبنت ابى اميه رضي الله عنها ده. ([6])ددوى حالات كتاب العلم باب العلم والعظة بالليل لاندې تيرشوى دى.

شرح حديث

دحديث عائشه اوحديث ام سلمه k په مينځ كښې تعارض: په ظاهره ذكرشوې حديث اوشاته ذكر شوې حديث د حضرت عائشه رضي الله عنها قول «ماكان لاحدانا إلا ثوب واحد» په مينځ كښې تعارض دې. څكه چه په دې حديث سره پته لګى چه ازواج سره د طهر دحالت جدا لباس وو او دايام حيض دپاره جدا. خود حضرت عائشه رضي الله عنها د قول نه معلوميږى چه هغې سره به داغوستلودپاره هم يوه كپړه او جوړه وه.

دتعارض جواب: جواب دادې چه د حضرت عائشه رضي الله عنها دقول تعلق داسلام دشروع زمانې سره دې كوم وخت چه ايام د سختئى اوتنګدستئى وې اودغه وخته پورې فتوحات نه وو شوى. او حضرت ام سلمه رضي الله عنها دهغه وخت خبر وركوى كوم وخت چه فتوحات شوى ووغنائم حاصل شوى وواوسختئى لرې

---

[1]) كشف البارى: ٤٥٦/٢.
[2]) كشف البارى: ٢٦٧/٤.
[3]) كشف البارى: ٣٢٣/٢.
[4]) تهذيب الكمال: ١٨٥/٣٥معرفة الصحابة لأبى نعيم: ٢٣٩/٥رقم الترجمة: ٣٨٨٤.
[5]) كشف البارى: ٦١٠/٤.
[6]) كشف البارى: ٣٩٣/٤.

شوي وي. او ازواج د خپل ځان دپاره د ايام حيض جدا كپړې تيارې كړې وې. لهذا دغه شان په دواړو احاديثو كښې تعارض پاتې نه شو.[1]

د شيخ زكريا رحمه الله جواب: شيخ الحديث زكريا رحمه الله فرمائي چه زما په نيز دعدم تعارض يو احتمال داهم دې چه په دواړو احاديثو كښې د دوو جدا جدا بيېبيانو بيان دې. د حضرت عائشه رضي الله عنها عادت د كثرت صدقات په حواله سره معروف او مشهور دې چه هغې به په كثرت سره صدقات وركول. تر دې چه په كور كښې به ئې هيڅ نه پريخودل نو د عائشه صديقه رضي الله عنها قول «ماكان لإحدانا إلا ثوب واحد» دهغې دخپل ذات په اعتبار سره دې او د حضرت ام سلمه رضي الله عنها خبره دهغې د خپل ذات په اعتبار سره ده.[2]

دې حديث سره باقي ټول مباحث «باب من سمى النفاس حيضاً» لاندې تير شوي دي.

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: د حديث ترجمة الباب سره مناسبت بالكل واضح دې چه په دواړو كښې د ښځې دپاره د ايام حيض جدا كپړو ساتلو ذكر دې.[3]

۲۳ - باب: شُهُودِ الْحَائِضِ الْعِيدَيْنِ وَدَعْوَةَ الْمُسْلِمِينَ، وَيَعْتَزِلْنَ الْمُصَلَّى.

ماقبل سره ربط: په دواړو ابواب كښې مناسبت دا دې چه په دواړو كښې د حائضه سره متعلق د يوې يوې مسئلې ذكر دې.[4]

ترجمة الباب كښې موجود لفظ "يعتزلن" دجمع صيغې سره ذكر كول (حال دا دې چه حايض مفرد مذكور دې) حائض داسم جنس كيدو په اعتبار سره دې يا به بيا دلته محذوف منلې شي او تقديري عبارت به داسې شي «ويعتزلن الحيض».[5]

د ترجمة الباب مقصد: په دې ترجمة الباب كښې دامام بخاري رحمه الله مقصد دا دې چه دحائضه دپاره په عيدين كښې شركت كول، دخير وبركت او وعظ ونصيحت په مجالس كښې شركت كول ټول جائز اوصحيح دي. مګر دومره خبره ضرور ده چه حائضه ښځې دې دعيدګاه نه جدا وي. په دې وجه نه چه دعيدګاه حكم د مسجد دې بلكه په دې وجه چه كله دا حائضه ښځې مونځ نه كوي نو بيامونځ ګذارو سره په يو ځائې ملاويدل او رحمه الله رائې: هم دا غرض حضرت شيخ الحديث زكريا رحمه الله په يو بل طرز سره ذكر كړې دې هغوى فرمائي زما په نيز دامام بخاري رحمه الله غرض د دې ترجمة الباب نه دا خبره بيانول دي چه عيدګاه دحائضه ښځود داخلې ممنوع كيدو كښې دمسجد په حكم كښې نه دې لكه څنګه چه

---

[1] عمدة القاري: ٣/٤٤٧ إرشاد الساري: ١/٥٦٤ الكنز المتواري: ٣/٢٨٨.
[2] الكنز المتواري: ٣/٢٨٨.
[3] عمدة القاري: ٣/٤٤٧.
[4] عمدة القاري: ٣/٤٤٧.
[5] فتح الباري: ١/٤٢٢.

جماتونوته د حائضه ښځوتلل منع دی هم دغه شان په عیدګاه کښې هم دحائضه ښځو داخلیدل منع دی. اوهم دغه دجمهور حضراتو مذهب دی (لکه چه دامام بخاري رحمه الله مقصد د جمهورو تائیدکول دی) خود نورو حضراتو رائې داده چه عیدګاه چونکه د جمات په حکم کښې دی اودحائضه ښځې جمات ته داخلیدل جائزنه دی په دې وجه دا ښځې عیدګاه ته هم نه شي داخلیدلې.[1]

لیکن سوال دا پیداکیږي چه کله عیدګاه د جمهورو په نیزد جمات په حکم کښې نه ده نوبیادئنه دتللو ممانعت ولې دې؟ نوددې جواب دادې چونکه حائضه ښځې مونځ نه کوي او دئنه تلوسره بغیرد صفونو دماتیدو دسبب جوړیدو نه به نور هیڅ حاصل نه شي په دې وجه دوی دئنه تلونه منع کړې شوي دی.[2]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه داحکم استحبابي دې چه بغیرد څه وجې سړو سره ګډوډوالې اونه شي.[3]

د شیخ الحدیث زکریا رحمه الله دویمه رائې: شیخ الحدیث رحمه الله یو بل احتمال هم ذکرکړې دې اوهغه دادې چه د امام بخاري رحمه الله مقصد د یووهم ازاله کول دی اوهغه وهم دادې چه کله حائضه ښځې مونځ نه شي کولې نوبیاد عیدګاه طرف ته دهغوی د بوتلو څه فائده ده؟ نوجواب دادې چه دهغوی د عیدګاه طرف ته وتل دبرکت حاصلولو او دعادپاره دی اودویمه خبره داهم ده په دې سره د مسلمانانو دکثرت اوشان اوشوکت مظاهره هم کیږي.[4]

فائده: شراح کرام لیکلي دی چه اعتزال عن المصلي (دعیدګاه نه جداکیدلو) حکم هغه وخت دې چه د عیدګاه دیوالو نه وغیره د جمات په طرز باندې نه وي جوړکړې شوي صرف خالي میدان وي لکه څنګه چه دحضورپاک په زمانه کښې وو. خو اوس په موجوده زمانه کښې مناسب دادی چه عیدګاهونه د جماتونو په حکم کښې وي څکه چه نن صبا دا د جماتونو په شکل کښې جوړولې شي.[5]

الحدیث الأول

[۳۱۸]- حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ هُوَ ابْنُ سَلَامٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا عَبْدُ الوَهَّابِ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ حَفْصَةَ، قَالَتْ: كُنَّا نَمْنَعُ عَوَاتِقَنَا أَنْ يَخْرُجْنَ فِي العِيدَيْنِ، فَقَدِمَتِ امْرَأَةٌ، فَنَزَلَتْ قَصْرَ بَنِي خَلَفٍ، فَحَدَّثَتْ عَنْ أُخْتِهَا، وَكَانَ زَوْجُ أُخْتِهَا غَزَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ غَزْوَةً، وَكَانَتْ أُخْتِي مَعَهُ فِي سِتٍّ، قَالَتْ: كُنَّا نُدَاوِي الكَلْمَى، وَنَقُومُ عَلَى المَرْضَى، فَسَأَلَتْ أُخْتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَعَلَى إِحْدَانَا بَأْسٌ إِذَا لَمْ يَكُنْ لَهَا جِلْبَابٌ أَنْ لاَ تَخْرُجَ؟ قَالَ: «لِتُلْبِسْهَا صَاحِبَتُهَا مِنْ جِلْبَابِهَا وَلْتَشْهَدِ الخَيْرَ وَدَعْوَةَ المُسْلِمِينَ»، فَلَمَّا قَدِمَتْ أُمُّ عَطِيَّةَ، سَأَلْتُهَا أَسَمِعْتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَتْ: بِأَبِي، نَعَمْ، وَكَانَتْ لاَ تَذْكُرُهُ إِلَّا قَالَتْ: بِأَبِي،

---

[1] الکنز المتواري:۲۸۹/۳الأبواب والتر اجم: ۶۷تقریر بخاري: ۱۰۳/۲.

[2] تقریربخاري:۱۰۳/۲.

[3] إرشاد الساري: ۳۶۰/۱فتح الباري:۵۰۳/۱.

[4] الکنز المتواري:۲۸۸/۳الأبواب والتر اجم: ۶۷فیض الباري: ۵۰۳/۱.

[5] فیض الباري: ۵۰۲/۱إیضاح البخاري: ۱۲۹/۱۱.

سَمِعْتُهُ يَقُولُ: «يَخْرُجُ العَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الخُدُورِ، أَوِ العَوَاتِقُ ذَوَاتُ الخُدُورِ، وَالحُيَّضُ، وَلْيَشْهَدْنَ الخَيْرَ، وَدَعْوَةَ المُؤْمِنِينَ، وَيَعْتَزِلُ الحُيَّضُ المُصَلَّى»، قَالَتْ حَفْصَةُ: فَقُلْتُ الحُيَّضُ، فَقَالَتْ: أَلَيْسَ تَشْهَدُ عَرَفَةَ، وَكَذَا وَكَذَا[1] [١٥٢٩، ٩٣٨، ٩٣٧، ٩٣١، ٩٢٨، ٣٤٤]

ترجمه: حضرت حفصه رحمها‌الله فر مائي چه مونږ ښځې به دعيدګاه دتلو نه منع کولې شوې. بيا يوه ښځه راغله اود بنى خلف په محل کښې کوزه شوه. هغې دخپلې خور په حواله سره نقل کړل چه دهغې د خور خاوند نبى کريم ﷺ سره دوولس غزوات کښې شريك شوې وو او پخپله دهغه خور خپل خاوند سره په شپږو غزواتوکښې تلې وه. هغې بيان اوکړو چه مونږ به د زخميانو مرهم پټنى کولې اود بيمارانو خيال به موساتلو. زما خور يوځل د نبى کريم ﷺ نه تپوس اوکړو که چرته مونږ کښې چاسره څادر (چه د برقعې په توګه نى ښځې بهر وتلودپاره استعمالوى) نه وى نو آيا دهغې دپاره به دې کښې څه حرج شته چه هغه بهر اونه ځى. حضورپاك اوفرمائيل چه دهغې ملګرې له پکاردى چه د خپل څادر څه حصه په هغې باندې هم راواچوى اوبيا هغه دخير په مواقع باندې دمسلمانانو په دعاګانو کښې شريکه وى. بيا چه کله حضرت ام عطيه ﷺ راغله نوما دهغې نه هم دغه سوال اوکړو نوهغې اونيل زما پلاردې په تاباندې قربان شي او. هغوى دا فرمائيلې وو او حضرت ام عطيه ﷺ چه به کله هم دهغوى ذکرکولو نودا به ئې ضرور فرمائيل چه زما پلار دې په تا قربان شى. (هغوى اوونيل) ما هغوى دې ويناکولوسره اوريدلى وو چه خوانانې جينکئې پردې والابنځې او حانضه ښځې دې بهر اوځى اود خير په مواقع کښې اود مسلمانانو په دعاګانې کښې دې شريکې وى اوحائضه ښځې دې د عيدګاه نه جداشي. حضرت حفصه فرمائى چه ما تپوس اوکړو حائضه ښځې هم عيدګاه ته تلې شى نو هغوى اوفرمائيل چه آيا هغوى عرفه کښې او فلانکى فلانکى ځائى ته نه ځى؟ يعنى مزدلفه منى او د استسقاء مونځ کښې.

تراجم رجال

محمدبن سلام: دا ابوعبدالله محمدبن سلام بن الفرج السلمى البيکندى رحمه‌الله دى. ددوى حالات کتاب‌الايمان باب قول النبى صلى الله عليه وسلم: (أنا أعلمکم بالله) لاندې تيرشوى دى.[2]

---

[1]) قوله: ام عطية، الحديث رواه البخارى فى العيدين باب خروج النساء والحيض إلى المصلى، أيضاً تحت رقم الحديث ٩٧٤ وفى باب إذا لم يکن لها جلباب فى العيد رقم الحديث: ٩٨٠ وفى باب التکبير أيام منى وإذا غدا إلى عرفة رقم الحديث: ٩٧١ وفى باب اعتزال الحيض المصلى رقم الحديث: ٩٨١ وفى الصلاة باب وجوب الصلاة فى الثياب رقم الحديث: ٣٥١ وفى الحج باب تقضى الحائض المناسک کلها إلا الطواف بالبيت، رقم الحديث: ١٦٥٢ ومسلم فى صلاة العيدين باب ذکر إباحة خروج النساء فى العيدين إلى المصلى وشهود الخطبة رقم الحديث: ٢٠٥٦-٢٠٥٤ وأبود اؤد فى الصلاة باب خروج النساء فى العيد رقم الحديث: ١١٣٩-١١٣٦ والترمذى فى الصلاة باب ماجاء فى خروج النساء فى العيدين رقم الحديث: ٥٤٠-٥٣٩ والنسائى فى العيدين باب خروج العواتق وذوات الخدور فى العيدين رقم الحديث: ١٥٥٩ وابن ماجه فى الصلاة باب ماجاء فى خروج النساء فى العيدين رقم الحديث: ١٣٠٨ وجامع الأصول فى أحاديث الر سول: ١٤٨/٦ رقم الحديث: ٤٢٦٣.

[2]) کشف البارى: ٩٣/٢.

عبدالوهاب: داعبدالوهاب بن عبدالمجيدبن الصلت ثقفی بصری رحمه الله دې. د دوی حالات هم کتاب الایمان باب حلاوة الایمان لاندې تیرشوی دی.(۱)

أيوب: دا ایوب بن ابی تمیمه کیسان سختیانی بصری رحمه الله دې. ددوی کنیت ابوبکردې. ددوی حالات هم کتاب الایمان باب حلاوة الایمان لاندې تیرشوی دی.(۲)

حفصة: دا ام الهذیل حفصه بنت سیرین انصاریه بصریه رحمهاالله ده. دادمحمدبن سیرین رحمه الله خورده. د دې حالات کتاب الوضوء باب التیمن فی الوضوء والغسل لاندې تیرشوی دی.

شرح حديث

دعواتق تفسير: **عواتق** د **عاتق** جمع ده اوعواتق هغه خوانانو جینکوته وائی چه نیزدې بلوغت ته رسیدلې وی اودغه وخت خپل موروپلارسره په پرده کښې وخت تیره وی اوتر دغه وخته دهغوی واده نه وی شوې. او دوی ته **عواتق** هم په دې وجه وائی چه دوی د وړوکوالی د ژوند دمور پلاردخدمت اود کور د کارونوروزګارونونه خو آزادې شوی وی خوتردغه وخته پورې دهغوی ودونه نه وی شوي.(۳)

ابوزید رحمه الله فرمائی چه **عاتق** هغه خوانې جینئی ته وائی چه قریب البلوغ وی اودهغې واده نه وی شوې.(۴)دغه شان دې لفظ سره متعلق نور هم اقوال مختلف دی مګر دټولو حاصل هم دغه راوځی چه عاتق خوانې پیغلې جینئی ته وائی که بلوغت ته رسیدلې وی اوکه قریب البلوغ وی. چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله ددې لفظ اطلاق په دواړو باندې فر مائیلې دې. هغوی فرمائی: «**وهی من بلغت الحلم أو قاربته أو استحقت التزويج أوهی الكريمة على أهلها أو التی عتقت عن الامتهان فی الخروج للخدمة**»(۵)ددې نه هم معلومیږی چه په هغه زمانه کښې هم خوانانې جینکئی دکورونودوتو نه منع کولې شوې. اګرچه دوصال نبوی نه فوراً پس حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم دصدې خاص لحاظ نه دې کړې بلکه دښځو دوتلو مسئلې تی د حضورپاك دزمانې نه راتلونکی حکم باندې پریخودې. خو بیا روستو ښځې د بهروتلونه د زمانې د فساد د وجې نه منع کړې شوې.(۶)

قوله: فقدمت امرأة: شراح کرام لیکلی دی چه ددغه ښځې نوم معلوم نه شو.(۷)

---

(۱) کشف الباری:۲/۲۶.

(۲) کشف الباری:۲/۲۶.

(۳) تهذيب اللغة للأزهری: ۱/۲۱۰المؤسسة المصرية العامة، النهاية لابن الأثير: ۳/۱۷۹-۱۷۸موسسة التاريخ الإسلامی، الفائق فی غريب الحديث والأثر: ۲/۳۸۹دارالمعرفة، لبنان،عمدة القاری: ۳/۴۵۰-۴۴۹دارالكتب العلمية التوضيح لابن ملقن: ۵/۱۱۶فتح الباری: ۱/۴۲۲إرشادالساری: ۱/۶۰منحة الباری: ۱/۶۵۳شرح الكرمانی: ۳/۱۹۶.

(۴) عمدة القاری: ۳/۴۴۹.

(۵) فتح الباری: ۱/۴۲۲.

(۶) فتح الباری: ۱/۴۲۲.

(۷) فتح الباری: ۱/۴۲۲عمدة القاری: ۳/۴۵۰.

قوله: قصر بني خلف: شارحین حضرات فرمائی چه دا قصر بنی خلف په بصره کښې واقع وو اودا د طلحه بن عبدالله بن خلف خزاعی طرف ته منسوب دې چه د طلحة الطلحات په نوم سره مشهور وو اودې د سجستان والی هم پاتې شوې وو. [1]علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دا قصر د بنی خلف طلحه طرف ته منسوب نه دې بلکه دطلحه نیکه خلف طرف ته منسوب دې. ځکه چه په یوروایت کښې په واضحه اندازکښې دي دا دطلحه د نیکه خلف طرف ته منسوب کړې شوې دې.[2]

قوله: فحدثت عن أختها:

داخت نه څوک مراددي؟: بعض حضرات فرمائی چه داخت نه مراد ام عطیه رضی الله عنها ده اوبعض حضرات وائی چه دا ام عطیه رضی الله عنها نه څوک بله ده اوهم داقول علامه کرمانی رحمه الله اختیارکړې دې. او که چرې اخت نه مراد ام عطیه رضی الله عنها کیدل هم تسلیم کړې شی نوبیا هم دهغې د خاوند نوم معلوم نه دې اوراندې ددغه اخت د خاوند هم تذکره ده.[3]

قوله: ثنتي عشرة: دصیلی په روایت کښې «ثنتی عشرة غزوة» دې. عشرة د شین سکون سره لوستلې کیږی او تمیمی داد شین په کسره سره لولی.[4]

قوله: وكانت أختي: داعبارت محذوف دې او تقدیری عبارت داسې دې: «قالت المرأة المحدثة: وكانت أختي»اوددې تقدیر ضرورت په دې وجه پیداشو دې دپاره چه معنی صحیح او ټیک پاتې شی.[5]

قوله: معه: دخپل خاوندمعیت اوملګرتیا تذکره کوی.یابیا دحضورپاك معیت هم مرادکیدې شی.[6]

قوله: ست: أي: في ست غزوات، امام طبرانی رحمه الله ذکرکړې دې چه هغې په اووه غزوات کښې شرکت کړې.[7]

قوله: قالت: دلته دقالت فاعل اخت دې نه چه مرأة.[8]

قوله: كنا: د جمع صیغې سره ئې تعبیرځکه اختیارکړو دې دپاره چه د نورو ښځو هم په غزوات کښې د شرکت بیان اوشی.[9]

---

[1]) فتح الباري: ۴۲۲/۱عمدة القاري: ۴۵۰/۳.

[2]) عمدة القاري: ۴۵۰/۳ التوضیح: ۱۱۵/۵.

[3]) فتح الباري: ۴۲۲/۱التوضیح: ۱۱۵/۵شرح الکرماني:۱۹۶/۳.

[4]) فتح الباري: ۴۲۲/۱عمدة القاري: ۴۵۰/۳.

[5]) فتح الباري: ۴۲۲/۱عمدة القاري: ۴۵۰/۳.

[6]) شرح الکرماني: ۱۹۶/۳عمدة القاري: ۴۵۰/۳إرشادالساري: ۳۶۰/۱.

[7]) التوضیح: ۱۱۵/۵عمدة القاري: ۴۵۰/۳إرشادالساري: ۳۶۰/۱المعجم الکبیر للطبراني:۵۵/۲۵رقم الحدیث ۱۲۱ مکتبة العلوم والحکم.

[8]) فتح الباري: ۴۲۲/۱عمدة القاري: ۴۵۰/۳شرح الکرماني: ۱۹۶/۳إرشادالساري: ۳۶۰/۱.

[9]) عمدة القاري: ۴۵۰/۳شرح الکرماني: ۱۹۶/۳إرشادالساري: ۳۶۰/۱.

قوله:: الکلمي: کلمیٰ د کلمه جمع ده اومفعول یعنی د جرېح په معنی کښې دې اومرضیٰ هم د کلمیٰ په شان دې یعنی مرضی دمریض جمع ده اوداسم مفعول په معنی کښې دې اوداد قیاس موافق دې.[1]

قوله:: بأس: یعنی په دې کښې هیڅحرج یا ګناه نشته دې.[2]

قوله:: جلباب::

د جلباب تفسیر: دالفظ د جیم په کسره اولام په سکون سره لوستلې کیږی اوددې په تفسیرکښې مختلف اقوال دی:

① دښځو د پړونی په شان ارته لوپټه په کوم کښې چه ښځه خپل سر اوسینه پټوی. ② جلباب قمیص ته وائی. ③ د پړونی نه لږ شان وړه کپړه کومه چه ښځه په اچولوکښې استعمالوی. ④ د پړونی په شان یوه کپړه په کوم سره چه ښځې خپل لباس پټوی. ⑤ جلباب لوپټې اوپړونی ته وائی. ⑥ جلباب د ملحفة په معنی کښې دې یعنی د ښځې د اغوستلو څادر. ⑦کولاؤکپړه چه دڅادر نه لږه شان وړه وی. ⑧ د جلباب معنی الملاءة یعنی د ښځو داغوستو څادر چه ډبل وی. ⑨ پړونې چه د لوپټې نه وړوکې وی خو کولاؤ وی. ⑩ داسې کپړه چه د څادر نه لږه شان وړه وی او ښځه په دې سره خپله ملا او سینه پټوی.[3]

قوله:: لتُلبِسَها::

د څادرو وغیره اچولونه څه مراددې؟: ددې په تفسیرکښې درې احتمالات دی:

① رومبې احتمال دادې چه دې نه جنس مراد وی اومعنی داسې وی چه دویم ملګرې دې ملګری ته څه څادر وغیره دکوم چه دغه وخت دې ته ضرورت نه وی عاریةً ورکړی. په دې صورت کښې کلمه من زائده هم کیدې شی اوتبعیضیه هم کیدې شی اوددې احتمال تائند دترمذی شریف د یو روایت نه هم کیږی. ځکه چه دغه روایت کښې یولفظ جلباب جمع سره ذکر دې اودوین په دې روایت عاریةً د ورکولوتصریح ده. دروایت الفاظ دادی: «فلتعرها أختها من جلابیبها».[4]

② دویم احتمال دادې چه معنی داسې وی، دویم ملګرې دا ملګرې خپل ځان سره په څادر کښې شریك کړی. په دې صورت کښې به من تبعیضیه وی. لیکن دا احتمال په دې باندې مبنی دې چه هغه څادر یا هغه کپړا زیاته لویه وی تردې چه په هغې کښې دوه جینکئې راشی. ددې احتمال تائید د ابوداؤد په روایت سره کیږی دکوم الفاظ چه دادی: «تلبسها صاحبتها طائفةً من ثوبها».[5]

---

[1] التوضیح:۵/۱۱۶فتح الباری:۱/۴۲۳ عمدة القاري: ۳/۴۵۰إرشادالساري: ۱/۳۶۰شرح الکرماني: ۳/۱۹۷منحة الباري:۱/۶۵۳

[2] عمدة القاري: ۳/۴۵۰.

[3] التوضیح:۵/۱۱۶فتح الباري:۱/۴۲۳ عمدة القاري: ۳/۴۵۰ منحة الباري:۱/۶۵۳

[4] جامع الترمذی أبواب العیدین باب خروج النساء فی العیدین رقم الحدیث: ۵۳۹.

[5] سنن أبي داؤد کتاب الصلاة باب خروج النساء في العیدین رقم الحدیث: ۱۱۳۶.

③ اودریم احتمال دا دې چه د حضورپاك دا ارشاد په مبالغه باندې محمول کړې شی یعنی دا ښځې هم ضرور شرکت اوکړی که په یویو کپړا اویویوڅادرکښې دوه دوه اوځی. (۱)

قوله:: دعوة المسلمین: دکشمیهنی رحمه الله په روایت کښې مؤمنین لفظ راغلې دې اوهم دغه دحضرت ام عطیه رضی الله عنها د روایت موافق دې اومراد دا دې چه دمسلمانانو دعائیه ګنړې لکه د استسقاء د مونځ دپاره راغونډېدل وغیره کښې حاضر وی. (۲)

قوله:: ویشهدن الخیر: یعنی دخیر په مجالس کښې شرکت کولې شی لکه دحدیث داوریدو مجلس، یا د بیمارد تپوس وغیره دپاره هم تلې شی. (۳)

قوله:: وکانت لاتذکره إلا قالت: بأبي: یعنی ام عطیه رضی الله عنها چه به کله هم د حضورپاك تذکره کوله نو ورسره به نی "بأبي" ضرور فرمائیل دکوم مطلب چه دادې زما پلاردې په تاسو قربان شی. (۴)

د لفظ "بابي" تحقیق: "بأبي" محذوف سره متعلق دې چه مبتداء جوړېږی اوددې مابعد په محل رفع کښې واقع کیدو سره ددې دپاره خبر جوړېږی اوتقدیری عبارت داسې دې: «أنت مفدي بأبي» اودا هم جائز دی چه ددې متعلق فعل محذوف اوباسی اوتقدیری عبارت داسې وی: «فدیتك بأبي» اود فعل محذوف مابعد محل دنصب کښې شی اودا حذف اوتقدیر د تخفیف په غرض سره دې ځکه چه د داسې کلماتو استعمال په کثرت سره کیږی. (۵)

بل یو احتمال داهم دې چه دکلمه دقسم وی یعنی أقسم بأبي په معنی کښې وی. (۶) لیکن رومبې صورت او رومبې احتمال سیاق ته زیات زیندې دې او اظهر او اولی هم دې. (۷)

"بأبي" دې لفظ سره متعلق څلور لغات دی: ① بأبي بکسر الباء في الموضعین وفتح الهمزة. ② بأبا بکسر الباء الأولی وفتح الثانیة وفتح الهمزة وفي آخره ألف. ③ بیبي بکسر الباء في الموضعین وفتح الباء الأولی وسکون الثانیة. ④ بیبا بکسر الباء الأولی وفتح الثانیة وفتح الباء وفي آخره ألف.

آخری ذکرکړې شوی دریواړه لغاتو اصل بأب بِيْ دې چنانچه په دویم لغت کښې یاء اخیره په الف سره بدله کړې شوې ده اوهم ددې الف په مناسبت سره دماقبل حرکت هم په فتحه کښې بدل کړو اوپه دریم لغت کښې همزه په یاء سره بدل کړې شوې دې. او په آخری لغت کښې همزه په یاء سره اویاء په همزه

---

(۱) التوضیح: ۱۱۶/۵ فتح الباری: ۴۲۴/۱ عمدة القاری: ۴۵۰/۳ إرشادالساری: ۳۶۰/۱ منحة الباری: ۶۵۴/۱

(۲) شرح الکرمانی: ۱۹۷/۳ فتح الباری: ۴۲۴/۱ عمدة القاری: ۴۵۰/۳ إرشادالساری: ۳۶۰/۱

(۳) شرح الکرمانی: ۱۹۷/۳ عمدة القاری: ۴۵۰/۳ إرشادالساری: ۳۶۰/۱

(۴) شرح الکرمانی: ۱۹۷/۳ فتح الباری: ۴۲۴/۱.

(۵) عمدة القاری: ۴۵۱/۳.

(۶) شرح الکرمانی: ۱۹۷/۳ عمدة القاری: ۴۵۱/۳.

(۷) عمدة القاری: ۴۵۱/۳.

سره بدل کړې شوې دې. په دې څلورو وارو لغاتو کښې اولنې اودريم لغت زيات مشهوردې او هم دغه دواړه فصيح هم دی.[1]

قوله: :أسمعت النبي صلى الله عليه وسلم: همزه استهاميه دې اودسمعت باره کښې دحويانو اختلاف دې.بعض وائي دا دومفعول طرف ته متعدی کيږی اوبعض وائي ددومفعول طرف ته نه متعدی کيږی.په اول صورت کښې به تقديری عبارت داسې وی«أسمعت النبی صلى الله عليه وسلم المذکور»اودويم صورت کښې به تقديری عبارت داسې وی«أسمعت النبی صلى الله عليه وسلم يقول المذکور» اوآخری جمله به حال واقع کيږی.(۲)

قوله: :سمعته : دادمستثنى تتمه نه ده خکه چه شاته ذکرشوې "بأبي نعم" په دې باندې دال اوقرينه ده حصر په "بأبي" کښې دننه دې لهذا د سمعته ددې مستثنى سره څه تعلق نشته دې.(۳)

قوله: :يخرج العواتق وذوات الخدور......أو......العواتق ذوات الخدور:

د رواياتو اختلاف: په دې کښې درې روايتونه دی. رومبې روايت واؤ عاطفه سره دې يعنى د لفظ عواتق اولفظ ذوات په مينځ کښې واؤعاطفه دې. دويم روايت د واؤ عاطفه نه بغيردې او په دې صورت کښې ذوات الخدور به د عواتق دپاره صفت جوړيږی. اودريم روايت ذوات الخدور سره دې يعنى لفظ ذات مفرد ذکردې. شرح الکرماني:۳/۱۹۷فتح الباري:۱/۴۲۳عمدة القاري: ۳/۴۵۱.

دلفظ خدر تحقيق: خدور دخدر جمع ده اودا لفظ خدر دخاء کسره اودال سکون سره لوستلې کيږی. خدر هغه پردې ته وائي چه دپيغلې جينئ دپاره دکور په يوګوټ کښې لګولې شی دکومې شاته چه پيغله جينئ کينی.[4]

ابن سيده فرمائي چه خدر هغه پردې ته وائي چه دپيغلې جينئ دپاره دکور په يوګوټ کښې رانبکلې شی. اوبيادې لفظ استعمال دهر هغه څيز دپاره شروع شوکوم چه پټولې شی.[5] بعض ونيلی دی چه د خدر معنى هودج (ډولئ) ده. بعض خدر ته بيت يعنى دکور په معنى کښې اخلی.[6]

علامه ملقن رحمه الله فرمائي خدر دبيت په معنى کښې اخستل ډيره لرې خبره ده.[7] د خدر جمع خدور نه علاوه أخدار هم مستعمل ده اوجمع الجمع أخادير ده.[1]

---

[1]) النهاية لابن الأثير: ۱/۳۵ دارالمعرفة التوضيح: ۵/۱۱۷ فتح الباري: ۱/۴۲۳ شرح الكرماني: ۳/۱۹۷منحة الباري: ۱/۶۵۴عمدة القاري: ۳/۴۵۱.

[2]) شرح الكرماني: ۳/۱۹۷ عمدة القاري: ۳/۴۵۱.

[3]) شرح الكرماني: ۳/۱۹۷منحة الباري: ۱/۶۵۴عمدة القاري: ۳/۴۵۱.

[4]) النهاية لابن الأثير: ۱/۳۳ ،لمكتبة العلمية بيروت التوضح: ۵/۱۱۷فتح الباري: ۱/۴۲۳.

[5]) المخصص لابن سيده: ۱/۳۸۸دارإحياء التراث العربي، المحكم والمحيط الأعظم: ۵/۱۳۳دارالكتب العلمية عمدة القاري: ۳/۴۵۱.

[6]) المخصص لابن سيده: ۱/۳۸۸دارإحياء التراث العربي، المحكم والمحيط الأعظم: ۵/۱۳۳دارالكتب العلمية عمدة القاري: ۳/۴۵۱التوضيح:۵/۱۱۷.

[7]) التوضيح: ۵/۱۱۷.

قوله:: ويعتزل الحيض المصلى::داخبر په معنى دامردي او په يوروايت کښې «ويعتزلن الحيض المصلى» راغلې دې اوداهم داسې دې لکه چه «أكلوني البراغيث» ونيلې شي.[1]

دحائضه ښځو دپاره دعيدګاه نه جدا پاتې کيدو حکم اودهغې حکمت: جمهور حضراتود حائضه ښځې دپاره د عيدګاه نه جدا اپاتې کيدو حکم په استحباب باندې محمول کړې دې د کوم وجه چه داده عيدګاه د جمات په حکم کښې نه دې چه حائضه ښځې په دې کښې دداخليدونه منع کړې شي. البته د جمات په حکم کښې د نه کيدو نه باوجود هم دمنع کولووجه داده چه هسې هيڅ بې وجې د ښځودسرو سره ګډوډوالې اونه شي. ځکه چه دغه حائضه ښځې خو هسې هم مونځ نه کوی نو په عيدګاه کښې دداخليدو هم څه ضرورت نشته دې. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی په دې مسئله کښې علامه کرمانی رحمه الله ډيره بعيدخبره کړې ده. چنانچه هغوی اول دعيدګاه نه لرې پاتې کيدو حکم ته واجب ونيلې اودعيدين دپاره وتلوته اوهلته حاضريدوته ئې مندوب ونيلې اوبيا روستو پخپله دامام نووی رحمه الله په حواله دعيدګاه نه د لرې پاتې کيدوحکم دعدم وجوب قول نقل کړې دې. اوددې تصويب ئې اوکړو. «دا دعلامه کرمانی رحمه الله په کلام کښې واضح تضاددې چه هم يوه مسئله ئې دوو متضاد حکمونوسره متصف کړه».[2]

ابن منير رحمه الله فرمائی چه دحائضه ښځودعيدګاه نه په جداپاتې کيدوحکمت دادې که چرې داښځې هم هلته حصارې شی سره ددې چه ذوی له دمونځ ګذارو ښځوسره مونځ نه کول دی نو په دې کښې به ددغه حائضه ښځو سپکاوې اوتذليل کيږی. په دې وجه ددوی دپاره مستحب دادی چه د عيدګاه نه جدا لرې کينی.[3]

قوله:: فقلت الحيض؟: داهمزه د استفهام سره دې اوداد حضرت حفصه رحمها الله نه د حائضه ښځو په وتلوبندې دتعجب اظهاردې.[4]

قوله:: وليشهدن الخير: ددې جملې عطف «تخرج العواتق» باندې دې. په دې باندې دا اشکال نه وی چه امر په خبر باندې څنګه عطف کړې شو دا خوجائزنه دې؟ ځکه چه کله خبردشارع دطرف نه وی اويوشرعی حکم بيانولې شی نوداسې خبر طلب او په امر باندې محمول کيږی. لهذا په دې وجه ددې امر عطف «تخرج العواتق» باندې صحيح او ټيک دې. ځکه چه «تخرج العواتق» هم «لتخرج العواتق» د امر په معنى کښې دې.[5]

قوله:: أليس يشهدن: همزه استفهاميه دې. د کشميهنی رحمه الله په روايت کښې «ألست يشهدن؟» لفظ ليس کښې تاء تانيث سره دې. اوداصيلی رحمه الله په روايت کښې «ألسن يشهدن؟» لفظ ليس کښې

---

[1]) المخصص لابن سيده: ۳۸۸/۱دارإحياء التراث العربی، المحکم والمحيط الأعظم: ۱۳۳/۵.

[2]) شرح کرمانی: ۱۹۸/۳فتح الباری: ۴۳۳/۱.

[3]) فتح الباری: ۴۳۲/۱.

[4]) شرح الکرمانی:۱۹۷/۳ عمدة القاری:۴۵۱/۳.

[5]) حواله بالا.

نون جمع سره دي.(۱) او په يو روايت كښې ليس (په حذف دهمزه استفهام) دې او د ليس اسم په دې تولو صورتونو كښې ضمير شان دې.(۲)

قوله: وعرفة: ولې حائضه ښځې دعرفات په ورځ په عرفات كښې نه حاضريږي؟ لهذا مضاف محذوف دې. **أي: يوم عرفة في عرفات.**(۳)

قوله: كذا وكذا: أي: نحو المزدلفة ونحو صلاة الاستسقاء، يعنى دعرفات په شان مقام مزدلفه او د استسقاء د مونځ دپاره هم حاضريږي.(۴)

احكام اومسائل: ددې حديث نه ډير احكامو استنباط كړې شوي دې.① حائضه ښځه دې دحيض په حالت كښې هم دالله تعالى ذكرنه ترك كوي.(۵)

د ښځوعيدګاه ته تللوسره متعلق دفقهاؤ اقوال: ② دښځودعيدګاه ته د تلوسره متعلق مختلف اقوال دي. علامه خطابى رحمه الله فرمائى چه حائضه ښځې په مواطن خير اومجالس خيركښې حاضريدې شى، البته په مساجد كښې دې نه داخليږي.(۶)

ابن بطال رحمه الله فرمائى چه په دې حديث سره دحيض والاښځو او پاكو ښځودپاره په عيدين اواجماعات كښې دشركت كولوجواز معلوم شو البته حائضه ښځې دې دعيدګاه نه جدا اوسى. باقى دعابه كوى آمين به وائي اوددغه مقدس اومكرم مجلس اومجمع بركتونه به حاصلوى.(۷)

علامه نووى رحمه الله فرمائى چه امام شافعى رحمه الله اود هغوى د اصحابو په نيزدښائسته اومعتدل صورت ښځونه علاوه د نورو ښځودپاره دعيدين وتل مستحب دى اود ښائسته ښځو وتل مكروه دى. علامه نووى رحمه الله فرمائى: «هذا هو المذهب والمنصوص» اود حديث الباب جواب دادې چه دحضورپاك زمانه د خير اوبركت زمانه وه اود فتنې اوفساد نه په امن كښې وه. خودنن زمانه د فتنې اوفساد نه په امن كښې نه ده په دې وجه دعيدين په موقع دې بغيرد ښائسته اوقبول صورت ښځونه نورى ښځې شركت كولې شى. او هم ددې فتنې اوفساد د وجې نه حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائيلې ووكه چرې رسول الله ﷺ هغه امور ليدلې وې كوم چه دنن پس ښځو پيداكړې نوحضورپاك به دوى مساجد نه هم ضرور منع كولې. څنګه چه دبنى اسرائيل ښځې منع كړې شوې وې.(۸)

قاضى عياض رحمه الله فرمائى چه سلف كښې دښځودعيدين دپاره وتلوكښې اختلاف دى. يوجماعت دا صحيح اوګڼړل. په دوى كښې حضرت ابوبكر، حضرت على اوحضرت ابن عمر رضي الله عنهم دى اودويم

---

(۱) عمدة القاري:۴۵۲/۳ إرشادالساري:۳۶۱/۱.
(۲) منحة الباري: ۶۵۵/۱.
(۳) شرح الكرماني:۱۹۸/۳ عمدة القاري:۴۵۲/۳.
(۴) شرح الكرماني: ۱۹۸/۳ منحة الباري:۶۵۵/۱.
(۵) شرح الكرماني:۱۹۸/۳ عمدة القاري:۴۵۲/۳ منحة الباري:۶۵۵/۱.
(۶) أعلام الحديث: ۳۲۹/۱.
(۷) شرح ابن بطال: ۴۴۶/۱ شرح الكرماني:۱۹۸/۳ عمدة القاري:۴۵۲/۳ منحة الباري:۶۵۵/۱.
(۸) شرح النووي على صحيح مسلم: ۱۷۸/۶ دارإحياء التراث العربي، التوضيح: ۱۱۸/۵ المجموع شرح المهذب:۱۳/۵ مكتبة الإرشاد.

جماعت ممنوع گرخولی دی په دوی کښې حضرت عروه، قاسم، یحیی بن سعید انصاری، امام مالك او امام ابویوسف رحمهم الله دی. [۱]
حضرت عبدالله ابن مبارك رحمه الله فرمائی چه زه دنن صبا ښځې دعیدین دپاره وتل ناخوښه کوم. که چرې ښځې په وتلو باندې اصرار کوی نوبیادې په زړوکپړو کښې اوځی. که هغوی دغه شان په وتلو باندې راضی نه وی نوبیائی خاوند د وتلو نه منع کولې شی. [۲]
هم دغه شان دحضرت سفیان رحمه الله نه روایت دې چه هغوی به په خپله زمانه کښې دښځود عیدین دپاره وتل ناخوښه کول. هم داسې ابراهیم نخعی رحمه الله اویحیی انصاری رحمه الله به هم دښځودعیدین دپاره وتل ناخوښه کول. [۳]
دامام احمدبن حنبل رحمه الله په نیز دښځود عیدین دپاره وتل جائزوو خودې سره هغوی دا ناخوښه کول هم. چنانچه کله چه د امام احمدبن حنبل نه د ښځو باره دعیدین د وتلو متعلق سوال اوکړې شو نوهغوی رحمه الله اوفرمائیل: «لایعجبنی فی زماننا، لأنهن فتنة» یعنې زمونږ په دې دورکښې زما ددې ښځو دعیدین دپاره وتل خوښ نه دی ځکه چه ددوی د وجې نه د فتنې خطره ده. هم په دې وجه به امام احمد رحمه الله دې سره داهم فرمائیل که چرې خامخا اوځی نو لباس فاخره او خوشبوئی سره دې نه اوځی بلکه په خیرن حالت کښې دې اوځی. [۴] د امام احمد رحمه الله د اصحاب نه نقل دی چه اوس فتوی په دې باندې ده چه دښځودیومونځ دپاره هم وتل جائزنه دی ځکه چه اوس فته او فساد داول نه ډیرزیات دی. [۵] هم والبته د مشرانو اوبوډې گانو ښځو وتلوکښې به نی څه حرج نه گڼړلو. چنانچه په یوبل روایت کښې دی چه کله دامام احمدبن حنبل رحمه الله نه د عیدین دپاره دښځو متعلق تپوس اوکړې شو نو هغوی اوفرمائیل: «یفتن الناس إلاأن تکون امرأة طعنت فی السن». [۶]
امام مالك رحمه الله دډیر عمر او بوډې گانې ښځودپاره په وتلوکښې هیڅ حرج نه گڼړلو البته ځوانانې ښځې به نی منع کولې. [۷]
امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه په شروع کښې د ښځودپاره عیدین کښې دوتلو اجازت اورخصت وو خو اوس زه دا ناخوښه کوم. دغه شان زه ددوی دجمعه دپاره اود نورو مونځونو دپاره وتل هم ناخوښه کوم. البته دبوډې گانو ښځو د پاره صرف دسحر اوماسخوتن د مونځونودپاره دشرکت

---

[۱]) شرح النووی علی صحیح مسلم: ۱۷۹/۶ دارإحیاء التراث العربی، التوضیح: ۱۱۸/۵.
[۲]) جامع الترمذی أبواب عیدین باب فی خروج النساء فی العیدین رقم الحدیث: ۵۳۹ التوضیح: ۱۱۸/۵ عمدة القاری: ٤٥۲/۳.
[۳]) جامع الترمذی أبواب عیدین باب فی خروج النساء فی العیدین رقم الحدیث: ۵۳۹ التوضیح: ۱۱۸/۵ عمدة القاری: ٤٥۲/۳.
[٤]) کتاب الفروع لابن مفلح المقدسی: ٤۲۲/۲ مؤسسة الرسالة، والکافی فی فقه الإمام أحمد: ۵۱۷/۱ دارهجر للطباعة والنشر، المغنی لابن قدامة: ۲٦۵/۳-۲٦٤ کشف القناع عن متن الإقناع: ۵۲۹/۱ عالم کتب، مسائل الإمام أحمد بن حنبل، بروایة ابن أبی الفضل صالح: ٤٦۸ الدار العلمیة بهند.
[۵]) کتاب الفروع لابن مفلح: ٤۲۲/۲ مؤسسة الرسالة
[٦]) کتاب الفروع لابن مفلح: ٤۲۲/۲ مؤسسة الرسالة.
[۷]) البیان والتحصیل: ٤۳۰/۱ دالغرب الإسلامی، الاستذکار: ۲۵۲/۷، ۲۵٤ دارقتیبة دمشق،بیروت و دارالوعی، حلب، قاهرة، المدونة الکبری، صلاة العیدین: ۱٦۸/۱ دار صادر.

رخصت دې. اوصاحبين رحمهما الله فرمائى چه د بوډې ګانو ښځودپاره په يومونځ كښې هم څه حرج نشته دې البته دځوانانوښځودپاره په يو مونځ كښې هم وتل مكروه دى.(۱)
ليكن اوس دمتاخرين فقهاء فتوى په دې ده چه ځوانې ښځې نه دجمعه دپاره وتلې شى نه دعيدين دپاره اونه د نورو مونځونودپاره دكورونونه وتل دهغوى دپاره جائزدى. صرف بوډې ګانوښځو له په عيدين كښې د شركت اجازت دې. مګر په دې كښې هم بهترهم دا دى چه هغوى دې هم دعيدين دپاره نه اوځى.(۲)، چنانچه علامه عينى رحمه الله فرمائى دنن په زمانه كښې فتوى دښځو على الاطلاق په نه وتلو باندې ده. خاص كر په ښاريوكښې على الاطلاق هم ممانعت كول پكاردى.(۳)
داحاديث وغيره نه معلوميږى چه دحضورپاك په زمانه كښې به ښځې د فرض مونځونو اوعيدين وغيره دپاره جماتونو ته راتلې اوپخپله دحضورپاك نه روايت دې: «لاتمنعوا إماء الله عن المساجد» يعنى د الله تعالى دا وينځې د جماتونونه مه منع كوئى.(۴) ليكن ددې ټولو باوجود فقهاء په دې مسئله كښې د تنګوالى طرف ته تلى دى. تردې چه متاخرين فقهاؤ ښځې د جماعات جمعه اوعيدين وغيره دپاره دوتلونه مطلقاً منع كړى دى. دكوم تائيدچه دحضرت عائشه رضي الله عنها دحديث نه هم كيږى په كوم كښې چه صديقه رضي الله عنها فرمائى كه چرې حضورپاك هغه امور كتلې چه ښځو د حضورپاك نه پس پيداكړى دى نوهغوى به نى د مساجد نه منع كولې لكه څنګه چه د بنى اسرائيل ښځې منع كړې شوې وې.(۵)
دغه شان حضرت زبير بن عوام اود هغوى زوجه حضرت عاتكه بنت زيد رضي الله عنها واقعه چه د جمات طرف ته روانه وه نو حضرت زبير رضي الله عنه هغه د شانه اووهله اوپټ شو. دكومې نه پس چه د هغوى بى بى بيا جمات ته تلل ترك كړل. حضرت زبير بن عوام رضي الله عنه غوښتل چه حضرت عاتكه رضي الله عنها دې د مونځ دپاره جمات ته نځى مګر د نكاح په وخت دا شرط كيخودې شوې وو چه حضرت زبير رضي الله عنه به هغه د جمات د تلو نه نه منع كوى. په دې وجه حضرت زبير رضي الله عنه دهغې دمنع كولودپاره دا حيله او طريقه اختياركړه چه په خانى راغله.(۶) هم دغه شان دعبدالله بن المبارك رحمه الله دښځو وتل ناخوښه كول.(۷)
نوددغه ټولوڅيزونونه هم دا معلوميږى چه د شارع په نظركښې د ښځو وتل مرغوب او خوښ نه دى اونه نى هغوى ته د مساجدتلوكښې ترغيب وركړې دې او په نه حاضريدو باندې هغوى ته وعيدونه هم اورولى دى. خود ښځو متعلق درسول الله صلى الله عليه وسلم فرمان دې «صلاة المرأة فى بيتها أفضل من صلاتها فى حجرتها، وصلاتها فى مخدعها أفضل من صلاتها فى بيتها» اوس دا فرمان په ډير واضح انداز كښې په دې خبره

(۱) مختصر اختلاف العلماء للطحاوى: ۲۳۱/۱ دارالبشائر الإسلامية الاستذكار: ۲۵۵/۷-۲۵۴ كتاب الحجة للإمام محمدالشيبانى باب خروج النساء إلى العيدين: ۳۰۶/۱ عالم الكتب.
(۲) بدائع الصنائع: ۲۷۵/۱ دارالكتب العلمية، لمبسوط للسرخسى ۴۱/۲ المعرفة، فيض البارى: ۵۰۲/۱
(۳) عمدة القارى: ۴۵۲/۳.
(۴) سنن أبى داؤد كتاب الصلاة باب ماجاء فى خروج النساء ألى المساجد. رقم الحديث: ۵۶۵.
(۵) رواه البخارى فى الأذان باب انتظار الإمام يام الإمام العالم رقم الحديث: ۸۶۹ ومسلم فى صلاة باب خروج النساء إلى المساجد إذا لم يترتب عليه فتنة وأنها لا تخرج مطيبة رقم الحديث: ۹۹۹، وأبوداؤد كتاب الصلاة باب التشديد فى خروج النساء إلى المساجد رقم الحديث: ۵۶۹.
(۶) الوافى بالوفيات عاتكة بنت زيد: ۳۱۹/۱۶.
(۷) جامع الترمذى أبواب عيدين باب فى خروج النساء فى العيدين رقم الحديث: ۵۳۹ التوضيح: ۱۱۸/۵.

باندې دلالت کوی چه د شارع عليه السلام رضامندی هم په دې کښې ده چه ښځې دې جماتونوته نه خی. او هم دغه وجه ده چه په دوی باندې جمعه واجب کړې شوې هم نه ده. اوچرته چه هم ددوی دوتلو خبره کړې شوې ده نو ورسره داهم فرمائيلی شوی دی چه هغوی دې په خيرن حالت کښې اوځی خان جوړولوسره او زيب اوزينت کولو سره دې نه اوځی ګنی قسم قسم فتنې اوفسادونه به راوچت شی.
دا ټول دشارع عليه السلام د طرف نه ذکرکړې شوې امور او اشارات دی دکوم په وجه چه فقهاء کرام حضرات په دې مسئله کښې په تنګئی پيداکولوباندې مجبور شو، تردې چه هغوی د ښځو په وتلوباندې مکمل پابندی اولګوله اودا پابندی داحاديثو خلاف نه ده . اوبيا د ښځودپاره په عيدين کښې وتل د اخترمونځ دپاره نه وو لکه څنګه چه ګمان کولې شی بلکه ښځې به نی دتکثير سوادالمسلمين په غرض سره اومسلمانانوسره په دعاکښې د شرکت په غرض سره خان سره بوتللې. ګنی که چرې د مونځ دپاره وتلې نوبيا د حائضه ښځود وتلو څه فائده وه؟ [١]
په حديث باب سره په ښځوباندې داخترمونځ دوجوب استدلال صحيح نه دې: ③ بعض حضراتو ددې روايت نه په دې مسئله باندې استدلال کړې دې چه په ښځو باندې هم داخترمونځ واجب دې څکه چه په اتفاق صرف دحائضه ښځو حکم بيان شوې دې چه دسر نه دمونځ مکلف نه وی. البته د ټولو دويستلو مقصد دمونځ اهميت اوضرورت دالتزام خودل، په اعمال خيرکښې دشرکت دعوت ورکول اود جمال اسلام مظاهر کول وو. علامه قشيری رحمه الله فرمائی چه ښځې به نی په دې وجه ويستلې څکه چه مسلمانان دغه وخت ډيرکم وو نوښځې نی د تکثير سوادالمسلمين په غرض ويستلې. [٢]
④ چه دهريو طاعت اوعبادت دپاره وتل وی نودضرورت په وخت د بل نه عاريةً کپړې اغوستل جائزدی. [٣]
⑤ ښځې د ضرورت په وخت په غزوات کښې هم شرکت کولې شی اودزخميانو مرهم پټئی کولې شی سرددې چه هغه مجاهدين دهغوی محارم نه وی. [٤]
⑥ دښځې خبر قبلول جائز دی. [٥]
⑦ که چرې راوی صحابی دې ليکن نوم نی معلوم نه دې نودهغه نه هم روايت نقل کول صحيح دی په دې شرط چه دهغه د اوسيدو خانی (مسکن) بيان کړې شوې وی اودهغې طرف ته لارخودنه اوکړې شی. [٦]
⑧ ((كنانداوی)) په دې جمله سره دې طرف ته اشاره ده چه داسې امور بيانول هم جائز دې چه د حضور پاك په زمانه مبارکه کښې موجود څو وو مګر کله حضورپاك دهغې خبر نه دې ورکړې. [٧]
⑨ بغيرد لوئی څادر په سرکولونه دښځې بهر وتل منع دی. [١]

---

[١]) تعليقات على كتاب الحجة على أهل المدينة: ٣٠٧/١-٣٠٦.
[٢]) التوضيح: ١١٩/٥عمدة القاري:٤٥٢/٣.
[٣]) التوضيح: ١١٩/٥شرح الكرماني:١٩٨/٣عمدة القاري:٤٥٢/٣ منحة الباري:٦٥٥/١
[٤]) حواله بالا.
[٥]) حواله بالا.
[٦]) حواله بالا.
[٧]) شرح الكرماني:١٩٨/٣عمدة القاري:٤٥٢/٣

⑩ حائضه عرفه ته تلې شي.(۲)

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: په دوارو كښې مناسبت بالكل واضح دې څكه چه په دوارو كښې دحائضه ښځو د عيدين دپاره وتلو اودعيدګاه نه د جدا اوسيدلو بيان دې.(۳)

۲۴-باب: إِذَا حَاضَتْ فِي شَهْرٍ ثَلَاثَ حِيَضٍ، وَمَا يُصَدَّقُ النِّسَاءُ فِي الْمَحِيضِ وَالْحَمْلِ، فِيمَا يُمْكِنُ مِنَ الْحَيْضِ.

لِقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى: ﴿وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِيْ أَرْحَامِهِنَّ﴾/البقرة: ۲۲۸/.

داباب ددې خبرې په بيان كښې دې چه كله په يوه ښځه په يومياشت كښې درې حيضه راشي او (په هغه بيان كښې) چه دښځې دحيض تصديق دحيض اوحمل باره كښې په هغه څيزونوكښې به كولې شي كوم چه دحيض په سلسله كښې ممكن وي څكه چه دالله تعالى ارشاد دې "اودښځودپاره داحلال نه دى چه هغوى دې هغه څيز پټ كړى كوم چه الله تعالى د هغوى په رحم كښې پيداكړې دې".

ماقبل سره ربط: دد باب سابقه باب سره ربط دادې چه په دواروابواب كښې د حيض سره متعلق احكامو تذكره ده.(۴)

د ترجمة الباب مقصد: په دې ترجمة الباب كښې دامام بخارى رحمه الله مقصدداخودل دى چه كه يوه ښځه دا دعوى اوكړى چه په يوه مياشت كښې درې خل حيض راغلې دې. نودهغې په دې دعوى كښې به تصديق كولې شي په دې شرط چه دعوى دداسې مودې سره متعلق وى چه ددريو حيضو دتيريدو احتمال لرى. اودغه شان دحمل په معامله كښې به هم دښځې خبره معتبره وى. چنانچه مذكوره آيت هم په دې خبره باندې دلالت كوى چه دښځې قول به معتبر وى. هم دغه شان جمله تعليقات هم په دې خبره باندې دلالت كوى چه دحيض دمودې هيڅ تحديد نشته دې بلكه دامعامله ښځې ته حواله ده. البته شرط په كښې دادې چه دغه دعوى ئې په امكانى حدكښې وى.(۵)چنانچه علامه كاسانى رحمه الله فرمانى كه يوه ښځه دځپل غدت دختميدو خبر وركړى اوداسې موده اوښائى په كوم كښې چه واقعة د يوې ښځې عدت تيريدې شي نودهغې قول به قبلولې شي. ليكن كه چرې داسې موده اوښائى په كوم كښې چه عدت نه شي تيريدې نوبيا به د ښځې قول هم معتبر نه وى اودعدت دتيريدو په معامله كښې دا حكم څكه دې څكه چه الله تعالى ښځه اماتداره جوړه كړې ده. چنانچه دالله تعالى ارشاد دې: ﴿ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ ﴾ اود جګړې په وخت هم دامين قول به قسم سره معتبر وى. لهذا كه چرې ښځې د عدت دتيريدو امكانى حد بيان كړو نودهغې قول به قبلولې شي اوكه

---

[1] فتح البارى: ۴۲۳/۱ عمدة القارى:۴۵۲/۳ منحة البارى:۶۵۵/۱

[2] عمدة القارى: ۴۵۲/۳.

[3] عمدة القارى:۴۵۲/۳.

[4] عمدة القارى:۴۵۳/۳.

[5] شرح تراجم البخارى: ۲۸الكنزالمتوارى: ۲۹۰/۳ الأبواب والتراجم: ۶۷ وهوالمفهوم من كلام العلامه العينى والحافظ ابن حجر رحمهماالله.

امکانی حد نی بیان نه کړو نودهغې قول به هم معتبرنه وی ځکه چه دامین قول صرف په هغه امورو کښې معتبر وی دکوم چه ظاهر تکذیب نه کوی.([1])

د شیخ الحدیث زکریا رحمه الله رائې: حضرت شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمانی چه شراح کرامو د امام بخاری رحمه الله غرض سره متعلق هیڅ قسم کلام نه دې کړې اوزما په نیز امام بخاری رحمه الله دوه مسئلې بیانول غواړی:

① رومبې مسئله یوه اختلافی مسئله ده او هم په دې باندې په ترجمة الباب کښې ذکردعوی متفرع دې اود ائمه اربعه په مینځ کښې هغه اختلافی مسئله د حیض دمودې مسئله ده اوهم په دې اختلافی مسئله باندې په یومیاشت کښې ددریو حیضو تیریدو دعوی متفرع ده اوداسې دترجمة الباب داجز د اصول تراجم نه اتلسم اصل سره متعلق دې.

② دویمه هم هغه مسئله ده دکومې تصریح چه «وما یصدق النساء فی الحیض والحمل فیما یمکن من الحیض» کښې پخپله امام بخاری رحمه الله کړې ده. یعنی دحیض اوحمل په معامله کښې به دښځې د قول تصدیق کولې شی په دې شرط چه دعوی ئې په امکانی حد کښې وی.([2])

«فیما یمکن من الحیض»: داجمله "یصدق" سره متعلق ده اومطلب دادې چه دښځې ددعوی تصدیق به کولې شي. ترکومې چه تکرارد حیض ممکن وی اوهم ددې دپاره «فیما یمکن من الحمل» اونه ونیلې شو ځکه چه تکرار حمل سره متعلق په دعوی کښې تصدیق کول هیڅ معنی نه لری.([3])

لقول الله تعالی: ﴿وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللَّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ﴾

"لقول الله" کښې لام تعلیلیه دې اودا آیت د "مایصدق" علت دې. د آیت مبارك نه استدلال داسې دې چه دلته ښځې له درحم دحالت د اظهارتاکید کړې شوې دې دکوم نه چه معلومیږی په دې باره کښې به د ښځې بیان معتبروی ځکه چه چرته ددې بیان معتبر نه وی نوبیا به دا دننه د رحمی حالت په اظهارباندې مجبورول بې معنی شی. په دننه رحمی حالت په اظهار باندې مجبورول ددې خبرې واضح دلیل دې چه په دې باره کښې به دښځې بیان معتبروی.([4])

امام طبری رحمه الله د امام زهری رحمه الله نه په صحیح سندسره روایت کوی چه ﴿مَا خَلَقَ اللَّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ﴾ نه مراد حمل یا حیض دې نودښځودپاره حلال نه دی چه هغوی دا پټ کړی (په دې غرض سره چه) عدت پوره او شمیرلې شی اودخاوند نه خلاصې حاصل کړې شی اوهغه رجوع اونه کړې شی.([5]) هم دغه شان حسن سندسره دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې «لا یحل لها إن کان حائضاً أن تکتم حیضها، ولا إن کانت

---

[1] بدائع الصنایع کتاب الطلاق، فصل: بیان مایعرف به انقضاء العدة: ۱۹۸/۳دارالکتاب العربی.

[2] الکنز المتواری: ۱۹۰/۳الأبواب والتراجم:۶۷

[3] شرح الکرمانی: ۱۹۹/۳عمدة القاری: ۴۵۳/۳.

[4] شرح انکرمانی: ۱۹۹/۳فتح الباری: ۴۲۵/۱عمدة القاری: ۴۵۳/۳.

[5] تفسیر الطبری، تفسیر سورة البقرة: ۲۲۸رقم الحدیث: ۴۷۲۷ج: ۴ص:۵۱۶ مؤسسة الرسالة.

حاملاً أن تكتم حملها»([1]) بل امام مجاهد رحمه الله ددې آيت په تفسير كښې فرمائي: «لاتقول: أني حائض وليست بحائض، ولالست بحائض وهي حائض»([2])

دائمه اربعه په مينځ كښې يوه اختلافي مسئله: شاته داخبره تيره شوې ده چه دحضرت شيخ الحديث زكريا رحمه الله په نيز دامام بخاري رحمه الله مقصد دوه مسئلې ذكركول دي دويمه مسئله خوبالكل واضحه ده.البته رومبې مسئله كومه چه دائمه اربعه په مينځ كښې يواختلافي مسئله ده،دهغې تفصيل دادې:

دائمه اربعه په مينځ كښې د حيض اوطهر نه دهريو په تحديد كښې اختلاف دې. دحيض متعلق د احنافو مسلك دادې چه دحيض د كم نه كمه موده درې ورځې او درې شپې دي اوددې دزيات نه زياته موده لس ورځې دي. دامام شافعي رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز دحيض دكم نه كمه موده يوه ورځ اويوه شپه ده اود زيات نه زياته موده پنځلس ورځې يا اوولسم ورځې ده. ددوارو حضر اتو دوه دوه اقوال دي. دامام مالك رحمه الله په نيز دحيض دكم نه كم هيڅ حد نشته دې اود زيات نه زيات اوولس يا اتلس ورځې دي او په مختصر الخليل كښې دي چه دمبتدۀ دپاره دحيض د زيات نه زياته موده پنځلس ورځې دي. طهر سره متعلق دامام احمد رحمه الله مسلك دادې چه دطهر دكم نه كم موده ديارلس ورځې دي اودائمه ثلاثه په نيز پنځلس ورځې دي.

نور داچه يوه بله مسئله هم ده چه بغيرد څه اختلاف دټولو په نيز دمطلقه عدت درې "قروء" دي ليكن ددې په مراد كښې اختلاف دې. د احنافو په نيز د قروء نه مراد حيض دې اوهم دا مذهب دامام احمد رحمه الله هم دې، دكوم طرف ته چه هغوي رجوع كړې ده. دهغوي رومبې قول دادې چه دقرء نه مراد طهردې اوهم دغه دامام شافعي رحمه الله او امام مالك رحمه الله مذهب دې. اوداسې كه يو سړې خپلې بي بي ته په طهركښې طلاق وركړي نوهغه طهربه هم په عدت كښې شميرلې كيږي اوښځه به دده يو طهر نه پس نور دوه طهرونه انتظاركوي.([3]) ددې دوو تمهيدي خبرونه پس به اوس په اصل مسئله باندې پوهيدل څه قدرې آسان شي كومه چه په ترجمة الباب كښې ذكرده. يعنى كه يوه ښځه په يوه مياشت كښې ددريو حيضو تيرولو دعوى اوكړي نوآيا دداسې ښځې د تصديق د ائمه اربعه په مذاهب كښې گنجائش شته يا څه تاويل وغيره دې؟ نوجواب دادې چه دامام احمد رحمه الله د سابقه قول (په عدت كښې به د طهر اعتباركيږي) په اعتبارسره به دښځې ددې دعوى تصديق كولې شي. بلكه ددې قول په اعتبار سره دښځې دعوى ۲۸ورځو او دد ساعتونوكښې صادق راځي دكوم صورت چه دادې:

خاوند په آخرى طهر كښې ښځې ته طلاق وركړو چه دحيض په شروع كيدوكښې يوه گهړئى اويوساعت باقي وو. بيا ددې نه پس يوه ورځ د حيض اوديارلسمه ورځ او يوساعت دحيض په كوم كښې چه د آخرى طهر انتهااوشوه دا هم ټول څوارلس ورځې او يوساعت شو. داسې ټول ۲۸ ورځې او دوو ساعتونو كښې ددې ښځې عدت پوره كيږي.([4])

ابن المنذر رحمه الله فرمائي چه دانقضاء عدت هغه دكم نه كمه موده په كوم كښې چه د ښځې ددعوى تصديق كيدې شي په دې كښې د ائمه اختلاف دې. دحضر ت على رضي الله عنه او حضرت شريح رحمه الله نه نقل

---

[1] تفسير الطبري، تفسير سورة البقرة: ۲۲۸رقم الحديث: ٤٧٣٤،ج: ٤ص:٥١٨ مؤسسة الرسالة.

[2] تفسير الإمام مجاهد، تفسير سورة البقرة:۳۰/۱دارالكتب العلمية، فتح الباري: ٤٢٥/١ عمدة القاري: ٤٥٣/٣.

[3] شرح ابن بطال: ٤٤٨/١ فتح الباري لابن رجب: ١٤٨/٢-١٤٥.

[4] شرح ابن بطال: ٤٤٨/١.

دی چه که یوه ښځه دا دعوی اوکړی چه په هغې باندې په یوه میاشت کښې درې حیضه راغلی دی اود ګواه په توګه عادل ښځې هم پیش کړی نوددې تصدیق به کولې شي اوهم دغه دامام احمد رحمه الله مذهب دې. اودا دامام احمد رحمه الله د قول مرجوع عنه په اعتبار سره بالکل واضح دی. دغه شان د امام احمد رحمه الله قول مرجوع الیه (په عدت کښې به دحیض اعتبارکیږی) په اعتبار سره هم په یو میاشت کښې د دریو حیضو تیریدو دعوی صادق کیدې شی.[1]

چنانچه امام موفق الدین رحمه الله فرمائی چه ددوو حیضونو په مینځ کښې کمه موده دطهر دیارلس ورځې دی ځکه چه د امام احمد رحمه الله کلام په دې مسئله کښې مختلف نه دې چه دعدت په یو میاشت کښې تیریدل ناممکن دی په دې شرط چه ګواه قائم کړی اوبیا دا اثر علی وشریح رضي الله عنهما نه استدلال اوکړو.

هم دغه شان دامام مالك رحمه الله په نیز ۳۰ورځو او څلورو ساعتونوکښې ددعوی تصدیق کیدلې شی دکوم صورت چه دادې چه خاوند په آخر طهرکښې طلاق ورکړو. لهذا یو ساعت به ددغه طهر شمیرلې کیږی په کوم کښې چه طلاق ورکړې شو. بیا یوه لحظه د حیض (ځکه چه دامام مالك رحمه الله په نیزداقل حیض هیڅ حد نشته هغه د یوې لحظې اویوساعت دپاره هم کیدې شی) بیا پنځلس ورځې دطهر. دا ټول پنځلس ورځې اودوه لحظې شوې، بیا یوه لحظه د حیض بیا پنځلس ورځې د طهر اوبیا یوه لحظه دحیض په کوم کښې چه داخیر طهر اخیراوشو نودا هم ټول پنځلس ورځې او دوه لحظې شوې اوداسې ټولې ۳۰ورځې او څلور ساعتونه او لحظوکښې عدت پوره کیدې شی.

لیکن دامام شافعی رحمه الله په مذهب کښې یوه میاشت کښې درې حیضونه تیریدل مشکل دی. بلکه کم نه کم ۳۲ورځې او دوه لحظې پکاردی، نوبیا تصدیق ممکن دې. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دقرء نه مراد طهردې اواقل طهر د پنځلسو ورځو وی اواقل حیض یوه ورځ اویوه شپه دې. نوداسې به ۳۲ورځو دووساعتونو او دوو لحظوکښې عدت پوره شی. ددې صورت دادې چه خاوند په آخر طهرکښې طلاق ورکړو یوه لحظه په دې طهرکښې شمیرشوه بیا یوه ورځ د حیض بیا پنځلس ورځې د طهر، دا ټول ۱۶ورځې او یوه لحظه شوه. بیایوه ورځ دحیض او پنځلس ورځې دطهر او یوه لحظه دحیض په کوم کښې چه طهر آخیر پوره شو نوداهم ټولې ۱۶ورځې او دوه لحظې شوې نوټولې ۳۲ورځې او دوه لحظې جوړېږی.[2]

په دې مسئله کښې داحنافو په نیز روایات ډیر زیات مختلف دی. البته د شراح کرام په نیز چه کوم روایات مشهور دی هغه دادی چه دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د ۶۰ ورځونه په کمه موده کښې ددې ښځې ددې دعوی تصدیق نه شی کیدې. اود صاحبین رحمهماالله په نیز ۳۹ ورځونه په کمه موده کښې تصدیق نه شی کیدې. اوددې وجه داده چه داحنافو په نیزدعدت اعتبارحیض سره دې. نو د عدت دپاره درې حیضونه تیرول ضروری دی اوداحنافو په نیز دحیض دکم نه کمه موده اوزیات نه زیاته موده دواړه متعین اومحدود دی اوداکثر طهر څه حدنشته دې، لیکن ددې دکم نه کمه موده پنځلس ورځې دی. دامام ابوحنیفه رحمه الله د قول توجیه داده چه داخو کیدې نه شی چه مونږ دحیض او طهر دهرو یو د کم نه کمه موده واخلو بلکه د اعتدال لار خوداده چه دیوطرف نه دکم نه کمه موده او بل طرف نه دزیات نه زیاته موده واخستې شی اوچونکه د طهر د زیات نه زیات مودې څه حد نشته

---

[1] کما سیتضح بالجدول.

[2] شرح ابن بطال: ۱/۴۴۸.

دې. په دې وجه لامحاله دطهر دکم نه کمه موده اودحیض اکثر موده به اخستې شی نوداسې بالکل واضحه ده چه دعدت مجموعه به شپیته ۶۰ ورځې جوړیږی.(۱)
علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیزد شپیتو ورځونه په کمه موده کښې د ښځې تصدیق نه شی کولې په دې شرط چه ښځه د ذوات الحیض نه وی ځکه چه عادت دادې چه داسې نه کیږی چه ښځه دې د کم طهر اوکم حیض والا وی. ځکه چه کله د یوې ښځې د حیض ایام زیات وی نوبیا دهغې طهر د کمې مودې وی اوکله چه طهر کم وی نوحیض زیات وی. دصاحبین رحمهما الله دقول توجیه داده چه د کم نه کمه موده په کوم کښې چه د یوښځې تصدیق اوکړې شی، ددې دپاره ضروری دی چه ددوو طرفونونه په هریوکښې کښې کمه موده واخستې شی اوداسې نهه ورځې درې حیضه اودیرش ورځې دوه طهر ټول چه یوځائې کړې نو یوکم څلویښت ورځې شو (۲)
ددې ټولو مسلکونود وضاحت دپاره دا لاندینئې نقشه پیش خدمت ده:

مسالك	الطهر الذي طلق فيه	الحيض الأول	الطهر بعده	الحيض الثاني	الطهر بعده	بدء الحيض الثالث	الذي تمت فيه العدة
عندمالك	لحظة	لحظة	۱۵يوم	لحظة	۱۵يوم	لحظة	فالمجموع ثلاون يوما وأربع لحظات
عندالشافعي	لحظة	يوم	۱۵يوم	يوم	۱۵يوم	لحظة	فالمجموع إثنان وثلاثون يوما و لحظتان
عندأحمد في المرجوع عنه	لحظة	يوم	۱۳يوم	يوم	۱۳يوم	لحظة	فالمجموع ثمانية وعشرون يوما و لحظتان

فالمجموع عند الإمام مالك ثلاثون يوماً وأربع لحظات، وعند الإمام الشافعي إثنان وثلاثون يوماً ولحظتان، والمجموع عند الإمام أحمد ثمانية وعشرون يوماً ولحظتان

مسالك	الطهر الطلاق	الحيض الأول	الطهر بعده	الحيض الثاني	الطهر بعد ه	الحيض الثالث	المجموع
عندامام أبي حنيفه	لحظة	۱۰أيام	۱۵يوم	۱۰أيام	۱۵يوم	۱۰أيام	۶۰فالمجموع ستون يوما
عندصاحبيه	لحظة	۳يوم	۱۵يوم	۳يوم	۱۵يوم	۳يوم	۳۹فالمجموع تسعة وثلاثون يوما
عندأحمد في المرجوع اليه	لحظة	يوم	۱۳يوم	يوم	۱۳يوم	يوم	۲۹فالمجموع تسعة وعشرون يوما

فالمجموع عند الإمام الأعظم رحمه الله ستون يوماً، وعند صاحبيه رحمهما الله تسعة وثلاثون يوماً، والمجموع عند الإمام أحمد تسعة وعشرون يوماً. (۳)

---

(۱) بدائع الصنائع كتاب الطلاق فصل في بيان مايعرف به انقضاء العدة: ۱۹۸/۳دارالكتاب العربي.
(۲) شرح الكرماني: ۱۹۹/۳شرح ابن بطال: ٤٤٨/١.
(۳) الكنز المتواري: ۲۹۲/۳-۲۹۱.

وَيُذْكَرُ عَنْ عَلِيٍّ وَشُرَيْحٍ: إِنْ امْرَأَةٌ جَاءَتْ بِبَيِّنَةٍ مِنْ بِطَانَةِ أَهْلِهَا، مِمَّنْ يُرْضَى دِينُهُ، أَنَّهَا حَاضَتْ ثَلَاثًا فِي شَهْرٍ، صُدِّقَتْ وَقَالَ عَطَاءٌ: أَقْرَاؤُهَا مَا كَانَتْ. وَبِهِ قَالَ إِبْرَاهِيمُ. وَقَالَ عَطَاءٌ: الْحَيْضُ يَوْمٌ إِلَى خَمْسَ عَشْرَةَ. وَقَالَ مُعْتَمِرٌ: عَنْ أَبِيهِ: سَأَلْتُ ابْنَ سِيرِينَ، عَنِ الْمَرْأَةِ تَرَى الدَّمَ بَعْدَ قُرْئِهَا بِخَمْسَةِ أَيَّامٍ؟ قَالَ: النِّسَاءُ أَعْلَمُ بِذَلِكَ.

قوله: وَيُذْكَرُ عَنْ عَلِيٍّ وَشُرَيْحٍ: إِنْ امْرَأَةٌ جَاءَتْ بِبَيِّنَةٍ مِنْ بِطَانَةِ أَهْلِهَا، مِمَّنْ يُرْضَى دِينُهُ، أَنَّهَا حَاضَتْ ثَلَاثًا فِي شَهْرٍ، صُدِّقَتْ: يعني دحضرت علی رضی الله عنه اوحضرت شریح رحمه الله نه نقل دی که چرې ښځه دخپل کورد خاص کسانونه څوك ګواه راوړی چه دهغې په یوه میاشت کښې درې ځل حیض شوی نودهغې تصدیق به کولې شی.

تراجم رجال

علي: دا امیرالمؤمنین سیدنا علی بن ابی طالب بن هاشم بن عبدمناف هاشمی مکی مدنی رضی الله عنه دې. ابوالحسن ددوی کنیت دې.[1] او حضورپاك د ابوتراب په کنیت سره رابللې وو.[2]
ددوی حالات کتاب العلم باب إثم من کذب علی النبی صلی الله علیه وسلم لاندې تیرشوی دی.[3]

شریح: دامشهور تابعی او امام شریح بن الحارث بن قیس بن الجهم بن معاویه بن عامر کندی کوفی قاضی رحمه الله دې. ددوی کنیت ابوامیه دې اوده ته شریح بن شرجیل او ابن شرجیل هم ونیلې سی. ددوی باره کښې ونیلی شی چه دې د اولاد فرس نه ووچه یمن ته راغلې وو آبادشوی وو. دوی د حضورپاك زمانه کښې وو خوشرف ملاقات ورته نه دې حاصل شوې. حضرت عمر رضی الله عنه دې دکوفې ګورنرمقررکړې وو اودحضر علی رضی الله عنه ددور پورې په دغه عهده دقضاء فائز وو او آخر دخپله دحجاج بن یوسف په دورکښې دقضاء دعهدې نه لاس واخستو.[4]

یوقول ددوی د صحابی کیدو هم دې مګر هغه صحیح نه دې بلکه صحیح داده چه دې دهغه کسانونه دې چه دحضورپاك په ژوند کښې ایمان قبول کړې ،مګرشرف ملاقات ورته نه دې حاصل شوې، اود حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه په زمانه کښې د یمن نه ،مدینې طیبې طرف، ته کوچ اوکړو.[5]
هغوی د حضورپاك نه ارسال سره روایت کړې دې. دحضورپاك نه علاوه د حضرت عمر حضرت علی حضرت ابن مسعود حضرت عروه البارقی اوحضرت عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنهم نه هم روایت دحدیث کړې.

اودهغوی نه ابووائل شقیق بن سلمه، عامر شعبی، ابراهیم نخعی، انس بن سیرین، سعید بن حیان تیمی، شریح ابن الحارث (ددوی نه علاوه دې)، عطاء بن السائب، قیس بن حازم، ابوحصین عثمان بن

---

[1] تهذيب الكمال: ۴۷۲/۲۰.
[2] صحيح البخاري كتاب الصلاة باب نوم الرجال فی المسجد رقم الحديث: ۴۴۱.
[3] كشف الباري: ۱۴۹/۴.
[4] تهذيب الكمال: ۴۳۶/۱۲مؤسسة الرسالة تهذيب التهذيب: ۲۸۷/۴ دارالفكر تهذيب الأسماء واللغات ۲۴۳/۱دارالكتب العلمية وإدارة الطباعة المنيرية، سير أعلام النبلاء: ۱۰۰/۴ مؤسسة الرسالة عمدة القاري: ۴۵۳/۳.
[5] سير أعلام النبلاء: ۱۰۰/۴ مؤسسة الرسالة.

عاصم اسدی، محمدبن سیرین، مغیره ثقفی (دهشام بن مغیره پلار) او ابن ابی صفیه رحمهم الله وغیره دحدیث روایت کړی دی.[1]

حضرت عمر رضي الله عنه چه د حضرت شریح رحمه الله طرف ته (د هغه دکوفې دقاضی جوړیدونه پس)کوم خط ورلیکلې وو هغه دادې: ((إذا أتاك أمر في كتاب الله، فاقض به، فإن لم يكن في كتاب الله وكان في سنة رسوله، فاقض به، فإن لم يكن فيهما، فاقض بما قضى به أئمة الهدى، فإن لم يكن، فأنت بالخيار، إن شئت تجتهد رأيك وإن شئت تؤامرني، ولا أرى مؤامرتك إياي إلا أسلم لك))[2]

شریح رحمه الله فرمائی چه زه د حضرت عمر علی حضرت عثمان حضرت معاویه رضي الله عنهم یزیدبن معاویه او عبدالملك ددې تولو په دروکښې د قضاء په عهده باندې مور ووم تردې چه دحجاج بن یوسف دور شروع شو نوهغه وخت ما حجاج ته د دغه قضاء د عهدې نه استعفى ورکړه د حضرت شریح ۱۲۰کال عمر وو حجاج ته استعفى ورکولنه پس یو کال ژوندې وو اوبیا ددې فانی دنیانه رحلت اوکړو.[3]

ابن المدینی رحمه الله فرمائی چه شریح رحمه الله ۵۳ کالوپورې د کوفې قاضی پاتې دې اود زیاد بن معاویه په دورکښې اوه کاله د بصرې هم والی پاتې دې.[4]اوحفص بن عمر رحمه الله فرمائی چه حضرت شریح رحمه الله ۶۰کالو پورې دقضاء په عهده پاتې دې.[5] حضرت شریح رحمه الله دحضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه نه علم حاصل کړې.[6]یحیی بن معین رحمه الله فرمائی ((شريح بن هانئ كوفي وشريح بن أطاة كوفي، وشريح القاضي أقدم منهما وهوثقة)) یعنی حضرت شریح القاضی اول الذکر ددواړو حضراتو نه مقدم اوثقه وو.[7] اما عجلی رحمه الله فرمائی ((كوفي تابعي ثقة))[8] محمدبن سیرین رحمه الله فرمائی ((كان شريح شاعراً وكان زاجراً وكان قائفاً وكان كوسجاً وكان قاضياً)) یعنی شریح رحمه الله شاعر هم وو دږهکه کونکې هم وو د آثارو تتبع کونکې هم وو دکمو ویښتو والا هم وو اواقضی هم وو. نور فرمائی چه ما په کوفه کښې څلور صرف داسې شخصیات لیدلی دی چاته چه په فقه کښې خاص مهارت حاصل وو. ①حارث الاعور ② علقمه بن قیس ③ عبیدة السلمان ④ قاضی شریح.[9] ابن حبان ددوی ذکر کتاب الثقات کښې کړی دې.[10]

حضرت شریح رحمه الله به د سنن او آثار ډیرزیات خیال ساتلو چنانچه هغوی پخپله فرمائی((إنما أقتفي بالأثر، فما وجدت في الأثر، حدثتكم)) یعنی زه آثار اوسنن لټوم اوبیاچه څه هم زه په هغه آثاروکښې وینم هغه تاسو خلقو ته بیانوم.[11]

---

[1] تلامذه او مشائخ ډپاره اوګورئی تهذيب الكمال: ۴۳۷/۱۲.
[2] سير أعلام النبلاء: ۱۰۱/۴.
[3] تهذيب الكمال: ۴۳۷/۱۲تهذيب التهذيب: ۲۸۷/۴.
[4] تهذيب الكمال: ۴۳۷/۱۲تهذيب التهذيب: ۲۸۷/۴.
[5] تهذيب الكمال: ۴۳۷/۱۲.
[6] تهذيب الكمال: ۴۳۸/۱۲تهذيب التهذيب: ۲۸۷/۴.
[7] الجرح والتعديل: ۳۲۳/۴تهذيب الكمال: ۴۳۸/۱۲تهذيب التهذيب: ۲۸۷/۴.
[8] معرفة الثقات للعجلى: ۴۵۱/۱.
[9] تهذيب الكمال: ۴۳۸/۱۲تهذيب التهذيب: ۲۸۸/۴دارالفكر.
[10] ۳۵۲/۴دارالفكر.
[11] تهذيب الكمال: ۴۴۲/۱۲.

چنانچه د امام شعبي رحمه الله نه روايت دې چه قاضي شريح رحمه الله له يوسړي راغلو اوهغه د ګوتو ددیت باره کښې سوال اوکړو نوحضرت شريح رحمه الله اوفرمائيل عشر عشر، نودغه سوال کونکی دحيرانتيا اظهاراوکړو اود (خنصر او ابهام طرف ته اشاره کولوسره) ونی ونيل آيا دا دواړه ګوتې برابردي؟ په دې باندې شريح رحمه الله د سوال کونکی نه تپوس اوکړو ولې غوږ او لاس دواړه برابر دي؟ او په دې دواو کښې نصف نصف ديت لازم دې اوبيانی سائل مخاطب کولو سره اوفرمائيل "ويحك" يعنی ته خوارشې سنت ستا په قياس باندې مقدم دې نوهم ددې اتباع کوه اوبدعات مه ايجاد کوه خکه چه ترکومې ته سنت نيولې ساتې نوهيڅ کله به نه ګمراه کيږې. (١)

ابونعيم رحمه الله فرمائي ((كان شريح يقضي بقضاء عبدالله)) (٢)هم ابونعيم رحمه الله په خپل سندسره روايت کوی چه هغوی (شريح رحمه الله) دحضورپاك په خدمت کښې حاضر شو اواسلام ئې قبول کړو اوبياحضورپاك ته اوفرمائيل چه په يمن کښې په کافي شمير کښې زما اهل بيت هم موجود دی نوحضورپاك اوفرمائيل چه هغوی هم راوله. چنانچه هغه واپس شو اوهغه ټول ئې د حضورپاك په خدمت کښې حاضر کړل مګر ترهغه وخته پورې حضورپاك د دنيا نه رحلت فرمائيلې وو. (٣)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دا روايت ابن السكن رحمه الله هم نقل کړې دې اودنقل کولونه پس هغه فرمائي چه بغيرددې يوروايت نه بل هيڅ يو روايت ماته داسې ملاؤ نه شو چه د حضرت شريح رحمه الله دحضورپاك په ملاقات باندې دلالت کوی. والله أعلم بصحته. (٤)

ددوی دوفات په کال کښې کافي اختلاف دې. اشعث رحمه الله فرمائي چه حضرت شريح رحمه الله د يوسل لسو کالو وو. (٥)هم د اشعث رحمه الله يو بل روايت دې چه ١٢٠ کاله عمرئی وو. (٦)ابونعيم رحمه الله فرمائي چه د شريح عمر يوسل اته کاله ژوند تيرکړې دې او په کال ٧٨هجری کښې د حضرت مصعب بن زبير رضي الله عنه په زمانه کښې وفات شوې. (٧)نورو ډيرومؤرخينو دوفات هم دغه تاريخ ليکلې دې په کوموکښې چه ابوبکر بن ابی شيبه،ابوعبيد او هيثم بن عدی رحمهم الله وغيره هم شامل دی.(٨) خو نور ډير مؤرخين په کوموکښې چه خليفه بن خياط او ابن نمير رحمهماالله وغيره شامل دی وينا ده چه د شريح رحمه الله انتقال٩٠هجری کښې شوې. او(٩)خليفه بن خياط رحمه الله په يوبل مقام باندې دوفات کال ٨٧هجری ذکر کړې دې. (١٠)هم دغه شان د ابونعيم رحمه الله نه نور هم دوه روايتونه دی. يو روايت د ٩٣هجری او دويم روايت د ٩٦ هجری دې.(١١) علی بن عبدالله تيمی رحمه الله فرمائي چه ٩٧هجری کښې

---

[١]) تهذيب الكمال: ٤٤٢/١.

[٢]) سيرأعلام النبلاء: ١٠٣/٤.

[٣]) سيرأعلام النبلاء: ١٠١/١ تهذيب الكمال: ٢٨٨/١٢دارالفكر.

[٤]) تهذيب التهذيب: ٢٨٧/٤.

[٥]) سيرأعلام النبلاء: ١٠٦/٤تهذيب الكمال:٤٤٤/١٢.

[٦]) تهذيب الكمال:٤٤٤/١٢.

[٧]) سيرأعلام النبلاء: ١٠٦/٤تهذيب الكمال:٤٤٤/١٢ تهذيب التهذيب: ١٦١/٢مؤسسة الرسالة.

[٨]) تهذيب الكمال:٤٤٤/١٢ تهذيب التهذيب: ١٦١/٢مؤسسة الرسالة.

[٩]) حواله بالا.

[١٠]) تهذيب الكمال:٤٤٤/١٢.

[١١]) حواله بالا.

انتقال شوې اوبعض د ۹۹ هجري قول هم کړې دې.([1])

تخريج التعليق: عبدالله دارمي رحمه الله دا قصه په خپل سندسره دکو چه ټول رجال ثقه دی موصولاً ذکر کړې ده. دروايت الفاظ دادی «أخبرنا يعلى، حدثنا إسماعيل، عن عامر هوالشعبي فقال: جاءت امرأة إلى علي، تخاصم زوجها طلقها، فقالت: حضت في شهر ثلاث حيض، فقال علي لشريح: اقض بينهما. قال: ياأمير المؤمنين! وأنت هٰهنا؟ قال: اقض بينهما. قال إن جاءت (ببينة) من بطانة أهلها ممن يرضى دينه وأمانته تزعم أنها حاضت ثلاث حيض تطهر عند كل قرء وتصلي، جازلها، وإلا، فلا. فقال علي: قالون. وقالون بلسان الروم أحسنت»

يعنى د امام شعبى رحمه الله نه روايت دې يوې ښځې حضرت على رضي الله عنه له خپله فيصله راوړله راغله. دابنځه طلاقه شوې وه اوخپل خاوندسره د عدت تيرولو په مسئله کښې جګړه لرله. د ښځې دعوى وه چه په يوه مياشت کښې دهغې درې حيضه تيرشوی دی. حضرت على رضي الله عنه قاضى شريح رحمه الله ته حکم ورکړو چه ددوی په مينځ کښې فيصله اوکړه. قاضى شريح رحمه الله عرض اوکړو ايا ستاسو په موجودګئ کښې؟ نوحضرت على رضي الله عنه اوفرمائيل اوجې! په دې باندې قاضى شريح رحمه الله اووئيل که چرې ښځه دخپل دکورمخصوص معتبر او متدين کسانونه ګواه پيش کړی کوم چه دهغې دحالت نه خبر وی اوديندار هم وی او په دې خبره باندې ګواهی ورکړی چه واقعی ددې عدت دريوحيضوسره په يوه مياشت کښې تيروی دی اودې دغسل نه پس مونځ کړې دې نوعدالت به ددې دبيان اعتبارکوی ګنی نه. په دې فيصله باندې حضرت على رضي الله عنه د قاضى شريح تحسين اوکړو او وئې فرمائيل قالون قالون درومی ژبې لفظ دې. دکومعنى چه احسنت يعنى ډيره ښه فيصله دې اوکړه.

بيا چه کله د ابومحمدعبدالله دارمى رحمه الله نه دقاضى شريح ددې فيصلې باره کښې تپوس اوکړو شو چه ستاسو ددې فيصلې او مسئلې متعلق څه رائې ده؟ نوهغوی په نفی کښې جواب ورکړو اووئې فرمائيل «ثلاث حيض في شهر كيف يكون؟» يعنى په يونه مياشت کښې درې حيضه څنګه تيريدې شی؟([2])

هم دغه شان ابن حزم رحمه الله او ابن ابى شيبه رحمه الله هم دا روايت موصولاً ذکر کړې دې.([3])

تعليق د تمريض په صيغه سره دذکرکولووجه: امام بخارى رحمه الله دا تعليق دتمريض په صيغه سره ذکرکړو اوجزم ئې په دې وجه اونه کړو څکه چه دعامر شعبى رحمه الله د حضرت على رضي الله عنه نه په سماع کښې تردد او اختلاف دې. اونه ئې دا اوفرمائيل چه عامر شعبى رحمه الله دا روايت د قاضى شريح رحمه الله نه اوريدلې دې ګنی که دقاضى شريح نه ئې د سماع تصريح کړې وه نوبياهم روايت موصول کيدې شو څکه چه دعامرشعبى رحمه الله د قاضى شريح رحمه الله نه سماع ثابته ده.([4])

دعامرشعبى رحمه الله د على رضي الله عنه نه په سماع کښې دائمه رجال اختلاف: دعامرشعبى رحمه الله د حضرت على رضي الله عنه نه په سماع کښې دائمه رجال اختلاف دې. امام حاکم رحمه الله فرمائى چه دعامر شعبى رحمه الله سماع نه دحضرت عائشه رضي الله عنها نه ثابته ده او نه دحضرت ابن مسعودنه، نه داسامه بن زيدنه اونه د

---

[1]) تهذيب الكمال: ۴۴۴/۱۲ تهذيب التهذيب: ۱۶۱/۲ مؤسسة الرسالة.

[2]) سنن الدارمي باب في أقل الطهر: ۲۳۴/۱-۲۳۳رقم الحديث: ۸۵۶-۸۵۵قديمى.

[3]) المصنف لابن أبي شيبة، كتاب الطلاق، باب من قال: اوتمنت المرأة على فرجها: ۲۲۱/۱۰ رقم الحديث: ۱۹۶۴۱شركة دارالقبلة/مؤسسة علوم القرآن المحلى بالآثار، كتاب الطلاق أحكام العدة: ۲۷۲/۱رقم المسئلة: ۹۹۸إدارة الطباعة التوضيح: ۱۲۱/۵فتح البارى: ۴۲۵/۱عمدة القارى: ۴۵۳/۳.

[4]) فتح البارى: ۴۲۵/۱.

حضرت علی رضی الله عنه نه ددوی سماع ثابته ده. البته صرف هغه صحابه کرام رضی الله عنهم نی لیدلی دی اودغه شان د معاذ بن جبل رضی الله عنه اوزید بن ثابت رضی الله عنه نه ئی هم سماع ثابته نه ده.[۱]
علامه حازمی رحمه الله فرمائی «لم يثبت أئمة الحديث سماعه منه» یعنی ائمه حدیث ددوی (عامرشعبی رحمه الله) سماع د هغوی (حضرت علی رضی الله عنه) نه ثابته نه ګرخوی. امام دارقطنی رحمه الله فرمائی چه امام عامرشعبی رحمه الله دحضرت علی رضی الله عنه نه صرف یوروایت اوریدلې دې نه علاوه ئې هیڅ نه دی اوریدلی.[۲]
اودغه یو روایت دسماع نه دامام دارقطنی رحمه الله اشاره ددې حدیث طرف ته ده کوم چه امام بخاری رحمه الله درجم په باب کښې تخریج کړې دې. په کوم کښې چه دی امام شعبی رحمه الله دحضرت علی رضی الله عنه نه روایت کوی چه هغوی یوه ښځه رجم کړه اوبیائې اوفرمائیل «رجمتها بسنة النبي صلى الله عليه وسلم»[۳]
نوچه دامام شعبی رحمه الله سماع دحضرت علی رضی الله عنه نه ثابته نه ده اوهغه چه دحضرت علی رضی الله عنه نه کوم روایات بیانوی هغه مرسل روایات دی لیکن ددوی هغه مرسل روایات هم صحیح دی ځکه چه امام شعبی رحمه الله به صرف صحیح احادیث په ارسال سره بیانول. چنانچه امام عجلی رحمه الله فرمائی «ومرسل الشعبي صحيح، لايكاد يرسل إلا صحيحاً» یعنی د امام شعبی رحمه الله مرسل روایات هم صحیح دی ځکه چه امام شعبی رحمه الله به صرف صحیح احادیث په ارسال سره بیانول.[۴]
علامه عینی رحمه الله فرمائی معلومیږی چه دامام بخاری رحمه الله په صیغه دتمریض سره دحضرت علی رضی الله عنه سندطرف ته اشاره ده ځکه چه دامام شعبی رحمه الله د قاضی شریح رحمه الله سماع ثابته ده او په دې سره به ددغه حضر اتو په خبره باندې اثر پریوځی دچاچه وینا ده، کله چه امام بخاری رحمه الله یوه خبره بغیرد جزم نه ذکرکوی نوهغه خبره دهغوی په نیز صحیح نه وی. خوددغه خلقو دا رائې صحیح نه ده ځکه چه پخپله امام بخاری رحمه الله «كتاب مواقيت الصلاة باب ذكر العشاء والعتمة ومن راه واسعاً» کښې هم د تمریض صیغې سره دا روایت نقل کړې دې: «ويذكرعن أبي موسى قال: كنا نتناوب..... الحديث» خوددې سند دامام بخاری رحمه الله په نیز بالکل صحیح دې.[۵]
قاضی شریح رحمه الله یوه فیصله اوکړه او حضرت علی رضی الله عنه دهغوی په دې فیصله باندې تحسین اوکړو. اوس سوال دا پیداکیږی چه آیا دائمه اربعه په مذاهب کښې هم ددې فیصلې څه ګنجائش شته اوکه نه؟ نود تیرشوی تفصیلی کلام نه داخبره واضحه شوې ده چه صرف دامام مالك رحمه الله اوامام احمد رحمه الله دمذهب په اعتبارسره ددې فیصلې ګنجائش شته اوهیڅ څه د اشکال خبره نه ده. دامام مالك رحمه الله دمذهب مطابق ذیرش ورځې او څلورساعتونوکښې درې حیض اودرې طهر تیریدې شی اود امام احمدبن حنبل رحمه الله د مرجوع عنه قول په اعتبارسره ۲۸ ورځې او دوو ساعتونوکښې داسې ممکن دی اود قول مرجوع الیه په اعتبارسره ۲۹ ورځوکښې درې حیض تیریدې شی. خوچه دکومو حضراتو په نیزباندې دطهر کم نه کم موده پنځلس ورځې اودحیض موده کم نه کم یوه ورځ ده (لکه چه دشوافع مذهب دې) یا درې ورځې دی (لکه چه داحنافو مذهب دې) نو ددغه حضراتو دمذهب په اعتبارسره

[۱] تهذيب التهذيب: ۲۶۵/۲.
[۲] العلل للدارقطنی: ۹۷/٤دارطيبة.
[۳] العلل للدارقطنی: ۹۷/٤ دار طيبة، رواه البخاری فی الحدود باب رجم المحصن رقم الحديث: ۶۸۱۲
[۴] معرفة الثقات للعجلی: ۱۲/۲تهذيب الكمال: ۳۵/۱٤تهذيب التهذيب: ۲۶۵/۲.
[۵] عمدة القاری: ٤٥٤/۳.

صرف د يومياشت په قليل موده كښې دعدت دتيريدو مسئله صحيح نه شى كيدې ځكه چه دامام شافعي رحمه الله د مذهب په رڼړاكښې كم نه كم ۳۲ ورځې اودوه ساعتونه پكاردى اودامام ابوحنيفه رحمه الله د مذهب په رڼړا كښې كم نه كم شپيته ورځې اودصاحبين رحمهماالله په مذهب كم نه كم ۳۹ورځې پكاردى. په دې وجه د قاضى شريح رحمه الله فيصله (كه دخاندان معتبر اودينداره ښځې ګواهى وركړى نو په يومياشت كښې دعدت د تيريدو دعوى به منلې شى) چه نه داحنافو د مذهب مطابق صحيح ده اونه د شوافع دمذهب مطابق صحيح ګرځولې شى.

د قاضى شريح رحمه الله د فيصلې اوشوافع اواحنافو اصولى مسلكونوكښې دتطبيق صورتونه: اوس يو طرف ته دقاضى شريح رحمه الله فيصله اوفتوى ده اوبل طرف ته د حضرات شوافع او احنافو اصولى مسلك دې. علماء كرامو د خپل خپل ذوق مطابق ددې دواړو په مينځ كښې د تطبيق لارې راوښكلې دى په كوم كښې چه څه رائې دتعريف اوذكر قابل دى. چنانچه علامه سرخسى رحمه الله فرمائى په حقيقت كښې دقاضى شريح رحمه الله دا فتوى او فيصله د تعليق بالمحال د قبيل نه دى دكوم دليل چه دادې چه دلته د "إن" حرف شرط استعمال شوې دې او"إن" هغه حرف شرط دې چه دتعليق بالمحال په موقع باندې هم استعماليدې شى. لكه چه دقاضى شريح دفيصلې حاصل دادې چه كه چرې ښځې دخپلې كورنۍ نه د يوڅومعتبرو كسانو ګواهى راوړى نودهغې قول به معتبر وى ليكن داسې كيدل محال دى ځكه چه قاضى شريح رحمه الله داخبره پيژندله چه دعدت په يوه مياشت كمه موده كښې مكمل كيدل ناممكن دى اوبيا چه كله زمانه هم دخير سعادت اودينداري وى نوداممكن نه دى چه په داسې زمانه كښې څوك د داسې كار دوقوع دپاره ګواهى وركړى چه عقلاً ناممكن ښكارى.[1]

حافظ ابن حجر رحمه الله اول ددې قصې طرق راجمع كړل اوبيائى دخپل مذهب درعايت دپاره يوصورت اختيار كړو. اوهغه صورت دادې چه دشوافع په نيز لفظ قرء نه مراد طهردې دكوم چه كم نه كمه موده پنځلس ورځې ده اود حيض دكم نه كمه موده يوه ورځ اويوه شپه ده. په دې وجه كه چرته په آخر طهركښې طلاق وركړو نودورځو ترتيب به داسې شى:

لحظه (هغه طهرپه كوم كښې چه طلاق وركړو) ايوم/۱۵ايام/يوم/۱۵ايام/يوم/۱۵ايام/لحظه (ددريم حيض شروع په كوم كښې چه عدت تمام شو). دغه شان به ۳۲ورځواو دوو ساعتونوكښې به عدت ختم شى. اودا دحضرت على رضي الله عنه اوقاضى شريح رحمه الله د فيصلې موافق ده ځكه چه په دې قصه كښې راوى كسرحذف كړې دې اوپه ځائى د ۳۵ورځو نى يوه مياشت اوونيله اوددې تائيد دحضرت هشيم رحمه الله د روايت نه كيږى كوم چه هغه داسماعيل په طرق سره نقل كړې دې ځكه چه ددغه روايت الفاظ دادى: «حاضت في شهر أو خمسة وثلاثين يوماً»[2] مګر دحذف كسروالاخبره د تسلئي قابل نه ده ځكه چه هم پخپله حافظ ابن حجر رحمه الله دابراهيم نخعى د قول لاندې دعبدالله دارمى رحمه الله په حواله سره دا روايت هم په صحيح سندسره نقل كړې دې. «إذا حاضت في شهر أو أربعين ليلة» اوس كه چرې دحافظ ابن حجر رحمه الله په قول د ۵كسر حذف كولوګنجائش شته نوبيا د نور ۴حذف كولو هم ګنجائش كيدل پكاردى ځكه چه په روايت كښې ددې هم تائيد كيږى اوداسې به ونيلى شې چه راوى د ۹كسر حذف كړې دې ليكن حقيقت دادې چه دكسر دحذف او ذكر څه اصول نشته دې.[3]

---

[1] فيض البارى: ۵۰٤/۱.
[2] فتح البارى: ۴۲۶/۱.
[3] فيض البارى: ۵۰٤/۱.

د علامه انورشاه کشمیری رحمه الله تحقیق: علامه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه امام مالک رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله د اقل اعتبارکولوره په یوه میاشت کښې درې حیض تیرولوگنجائش راویستې دې او امام شافعي رحمه الله ۳۲ ورخو کښې د حیض د تیریدلو گنجائش راویستې دې. دغه شان د احنافو په نیز اقل موده چه واخلی نو ۳۹ ورخوکښې ددې گنجائش راوتلې شي. مگر فرق دقضاء اودیانت دې خکه چه دښځې ددې دعوی دوه حیثیتونه دی. یو حیثیت پخپله د دغه ښځې دذات په اعتبارسره دې اوهغه دادې چه کله هغې ته طلاق ورکړې شو نودښځې طبعي خواهش داوی چه زر نه زر عدت ختم شي اوددې د ذات نه د خاوند حقوق ختم شي چا چه د جگړو په بنیاد دې ته طلاق ورکړې دې. اوبل ددې دپاره چه عدت تیریدوسره د بل خاوند لټون اوکړې شي. او دویم حیثیت د قضاء اوفیصلې په اعتبارسره دې. د دیانت تقاضاداده چه د ښځې تصدیق به هرهغه موده کښې کولې شی په کومه کښې چه دعدت تیریدو امکان وی. خو قضاء تقاضاداده چه ترکومې پورې یقین اونه شی د ښځې به تصدیق نه شی کولې.

اوس چه کومه مسئله په متون کښې ذکرده چه ددوو میاشتونه په کمه موده کښې به د ښځې تصدیق نه شی کولې نو هغه په حقیقت کښې د قضاء مسئله ده خکه چه که صورت د خاوند اوښځې په مینځ کښې د جگړې دې نوبیابه د طرفین د حقوق رعایت کول ضروری وی اود اقل مودې اخستلو په خائی به یقیني خبزه اخستوسره فیصله کولې شی خکه چه دلته ددوارو حقوق متعلق دی. که عدت نې تیرشوې وی نوښځه دویم خاوند تلاش کولې شی اوکه عدت نه وی تیرشوې نوخاوندته د رجوع حق حاصل دې. لیکن عین ممکن ده چه ښځې اقل موده اخستې وی اودروغ نې ونیلی وی دې دپاره چه خاوندنې رجوع اونه کړې شي. خبره داده چه په یوه میاشت کښې دحیض تکرار یوه عجیبه خبره ده. لهذا ضروری دی چه ددوو میاشتونه په کمه موده کښې دښځې تصدیق اونه کړې شي. دې دپاره چه دعدت تیریدل یقیني شي. چنانچه مالکیه هم ددې اصول رعایت کړې دې خکه چه دهغوی په نیز سره ددې چه داقل حیض تحدیدنشته هغه د یولحظې دپاره هم کیدې شي مگر دعدت په باب کښې هغوی هم احتیاطاً تحدید کړې دې.

ترکومې چه معامله د ښځې د ذات پورې متعلق ده لکه څنکه چه دهغې د مونځونو اوروژو معامله ده نوددې حده پورې خو به د دې تصدیق اوکړې شی لیکن چه کله دنورو حقوق متعلق شی نوبیا د یقیني صورت اختستونه بغیر (امکاني صورت اخستلوسره) به ددې تصدیق نه شی کولې. لهذا که دخاوند اوښځې په مینځ کښې نزاعي صورت نه وی اوښځه په ۳۹ ورخوکښې دعدت تیریدو دعوی اوکړی نودیانةً به ددې تصدیق کولې شي.

شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه سره ددې چه د دیانت اوقضاء د فرق خبره چانه ده لیکلې مگر زه په دې وجه باندې مطمئن یم، خکه چه فقهاء کرامو د حیض اوطهر باره کښې اقل او اکثر تحدید کړې دې. نوکه ددې تحدید رعایت اونه کړې شی نو دوه متضاد اومتناقض خبرې به پیداشي خکه چه داقل اواکثر تحدید دې خبرې ته مستلزم دې که چرې موده د انقضاء عدت احتمال لرې نود ښځې د دعوی به تصدیق کولې شي. او ددوو میاشتو نه په کمه موده کښې تصدیق نه کول دې امر ته مستلزم دې چه دطهراوحیض په باب کښې د اقل اواکثر تحدید بې کاره اوبې فائدې دې.

حاصل دکلام دا شو چه د دوومیاشتونه په کمه موده کښې د ښځې تصدیق نه کول په دې وجه نه دی چه دوو میاشتو نه کمه موده کښې عدت نه شی تیریدې. یا بیا داقل او اکثر تحدید بیکاره دې بلکه دعدم تصدیق مدار په نزاعي صورت کښې ددوارو طرفونودرعایت په غرض سره دې سره ددې چه ددوو میاشتونه په کمه موده کښې عدت تیریدې شی اوهغه داسې چه نهه ورخې د دریو حیضودپاره

لاړې شي دحيض د اقل مودې په اعتبارسره، اوديرش ورځې د دوو طهرو دپاره شي نو په ٣٩ ورځو کښې عدت تيريدې شي.ددې تفصيل په رڼا کښې دقاضي شريح رحمه الله په فيصله کښې ذکر شوې لفظ شهرمدار به دکسر په نفي باندې نه وي بلکه دشهرين په نفي باندې به وي. يعنې دا شهر ددیرش ورځو په معنی کښې نه ده بلکه دا شهر د شهرين په مقابله کښې ده يعنې ښځې د دوو مياشتونه په کمه موده کښې دعدت تيريدو دعوی کړې ده. لهذا اوس په دغه لفظ شهر کښې خپل پخپله ګنجائش راؤوتلو او اوس مطلب دا پاتې نه شو چه د يومياشت نه يوه ورځ هم زياته نه وي بلکه هره هغه موده چه ددوو مياشتونه کمه ده په هغې باندې ددې لفظ اطلاق کيدې شي. اوبيا دقاضي شريح رحمه الله په فيصله کښې د ممکن قدر رعايت دې. صرف دښځې په بيان باندې فيصله نه شي ورکولې بلکه متدين اود کور دخبردارو ښځو ګواهی نې شرط ګرځولې دې. داسې نه يوازې دائمه ثلاثه دمذاهب به دا فيصله موافق شي بلکه داحنافو مسلك هم ددې فيصلې موافق دې.[1]

دشاه صاحب رحمه الله د جواب حاصل دادې چه قاضي شريح په ديانت باندې فيصله کړې ده خکه چه په قضاء کښې ددوو مياشتونه په کمه موده کښې دعدت تيريدو تصديق نشي کولې اودفقه په کتابونوکښې ذکر شوې ددې مسئلې حکم د قضاء په اعتبارسره دې. لهذا مطلب دادې چه قاضي شريح د شهرين په اعتبارسره فيصله نه ده کړې کومه چه د قضاء په اعتبارسره کيدله اوهم په دې وجه نې کسور حذف کړل او بيائی دې سره هيڅ غرض اونه لرلو.

شرعي قاضي د تراضي خصمين په خاطر په ديانت فيصله ورکولې شي: باقي سوال داپيدا کيږی چه شريح رحمه الله قاضي دې نه چه مفتي. لهذا هغوی چه کومه فيصله اوکړه هغه هم قضاء وه. جواب دادې چه په شرعي قاضي باندې دا واجب نه دی چه هغه دې هميشه هم د قضاء حکم کوی بلکه هغه له دتراضي خصمين په صورت کښې په ديانت باندې هم دحکم کولوحق شته لکه چه هغه به د قضاء په شان حجت ملزمه نه وی. په دې وجه دقاضي دپاره تراضي د طرفين ضروري دی لکه څنګه چه درمختار[2]کښې دی چه قاضي فتوې هم ورکولې شي تردې چه مجلس قضاء کښې هم داسې کولې شي اوهم دغه صحيح دې. او په شرح معاني الآثار کښې دامام ابويوسف رحمه الله په حواله سره قصه ذکرشوې ده چه د قاضي شريح رحمه الله نه د مسئلې تپوس اوکړې شو نو هغه د خودلونه انکاراوکړو او ونې فرمائيل چه زه قاضي يم مفتي نه يم. بيا سائل قسم ورکړو مجبور نې کړو نوهغوی د ديانت مطابق مسئله اوفتوی اوخودله داددې خبرې دليل دې چه قاضي ديانةً هم حکم ورکولې شي.[3]

اکثرعلماؤ د ګواهانود ضروري کيدو تذکره نه ده کړې اوهم دغه د امام خرقي رحمه الله هم قول دې. د امام احمدبن حنبل رحمه الله نه نقل دی که چرې په يوه مياشت کښې دننه دعدت دپوره کيدو دعوی وی نوبغيرد معتبرښځود ګواهئی به د دغه ښځې تصديق نه شي کولې خوکه د يومياشت نه په زياته موده کښې دعدت د پوره کيدو دعوی کړې ده نوبغيرد ګواهئی نه هم دښځې ددعوی خبره قبلولې شي خکه چه ښځه دخپل حيض په معامله کښې امين ده. البته په يوه مياشت کښې دننه دعدت د پوره کيدو دعوی بغيرد ګواهئی نه دحضرت علي رضي الله عنه اوحضرت شريح رحمه الله ددې فيصلې د وجې نه ناقابل

---

[1] فيض الباري ١/٥٠٥-٥٠٤مکتبه رشيديه.

[2] الدر المختار کتاب القضاء:: ٣١/٨دارعالم الکتب.

[3] فيض الباري: ١/٥٠٦ أنوار الباري:١٠/٤٦٩.

قبول ده.(۱)

دتعليق ترجمة الباب سره مناسبت: ددې اثر اوتعليق ترجمة الباب سره مناسبت دادې چه په ترجمة الباب كښې ددې خبرې تذكره ده كه چرې ښځه په يوه مياشت كښې دعدت پوره كيدودعوى اوكړى نو ددې تصديق به كولې شى په دې شرط چه د ښځې بيان كړې شوې موده دعدت دپوره كيدواحتمال لرى او په اثركښې د يومياشت قليل موده كښې دعدت پوره كيدل ذكرشوى دى اودا موده هم داسې ده چه په دې كښې د ښځې تصديق كيدې شى خصوصاً د امام مالك او امام احمدبن حنبل د مذهب په اعتبارسره (۲)لكه چه امام بخارى په ترجمة الباب باندې د مذكوره اثر نه استدلال كړې دې.(۳)

قوله::إن امرأة جاءت: دا دكريمه دنسخې په اعتبارسره دې خو په بعض نسخوكښې «إن جاءت امرأة» راغلې دې.(۴)

قوله::بينة من بطانة أهلها : أي: خواصها، يعنى چه د دغه ښځې د كورنۍ خاص كسان گواهى وركړى.

قوله::يرضى دينه: أي: بأن يكون مقبولاً عدلاً، يعنى چه هغه كسان داسې وى چه دهغوى خبره قبوله كړې شى اوهغوى عادلان وى.(۵)

د قاضى اسماعيل رحمه الله رائې: قاضى اسماعيل رحمه الله فرمائى چه «إن جاءت بينة من بطانة أهلها» مطلب دانه دې چه ددغه ښځې دكورنۍ ښځې دې گواهى وركړى چه او په يوه مياشت كښې په دې باندې درې ځل حيض راغلې دې بلكه مراد دادې چه هغه ښځې دې گواهى وركړى چه داسې كيدې شى او په دې ښځوكښې هم داسې كيږى.

دقاضى اسماعيل درائې جواب: حافظ ابن حجر فرمائى چه دې اثر سره متعلق چه كومه قصه ده (چه دا پورته تيره شوه) هغه پخپله ددې تاويل ترديدكوى اود مذكوره اثر الفاظ «أنها حاضت ثلاثاً» هم ددې تاويل ترديدكوى خكه چه دواړه خبرې په دې امر كښې بالكل واضح دى چه هغه ښځې به ددې خبرې گواهى وركوى چه اوواقعةً هم داسې شوې دى اوددې عدت په دې كمه موده كښې پوره شوې دې.

باقى پاتې شوه خبره د قاضى اسماعيل رحمه الله ددې تاويل نوهغوى دا تاويل دخپل مذهب په موافقت كښې اختياركړې خكه چه د اهل مدينه مذهب دادې چه د عدت معامله به په ښځوكښې په معروف عادت باندې محمول كيږى. (۶)

قوله::قال عطاء أقرءها ماكانت: حضرت عطاء بن ابى رباح رحمه الله فرمائى دښځې دحيض (ايام) به هم هغه وى كوم چه دعدت نه وړاندې وې.

---

(۱) فتح البارى لابن رجب الحنبلى:۲/۱۴۹.

(۲) عمدة القارى:۳/۴۵۴.

(۳) فيض البارى: ۵۰۵/۱.

(۴) فتح البارى: ۴۲۵/۱عمدة القارى: ۴۵۴/۳.

(۵) منحة البارى: ۶۵۶/۱فتح البارى:۴۲۵/۱.

(۶) التوضيح: ۱۲۱/۵فتح البارى:۴۲۵/۱عمدة القارى:۴۵۴/۳.

دتعليق مقصد: مقصد دادې كه چرې ښځه دعدت په زمانه كښې په مقرره موده كښې درې حيض (كما هوعندالأحناف وحنابلة) يا درې طهر (كما هوعندالموالك والشوافع) دتيريدو دعوى اوكړي نوهغه دعدت نه وړاندې هم د دغه ورځو عادې وه دځومره ورځوچه دعوى كوي نوذدې تصديق به كولې شي خوكه د عدت نه وړاندې ددې ددومره ورځو عادت نه وو اودهغې دعوى د عدت نه وړاندې دحالت مخالف وى نود ښځې قول به نه شى قبلولې.(١)

تراجم رجال:

عطاء: دعطاء نه مراد ابومحمدعطاء بن ابى رباح رحمه الله مكى قرشى دې. ددوى د پلار ابورباح نوم اسلم دې اوددوى تعلق دموالى سره وو(٢)ددوى حالات كتاب العلم باب عظة الإمام النساء وتعليمهن لاندې تيرشوى دى.(٣)

دتعليق تخريج: د امام بخارى رحمه الله دا تعليق اوائر محدث عبدالرزاق رحمه الله دابن جريج عن عطاء په طريق سره موصولاً روايت كړې دې. روايت دادې: «عبدالرزاق عن ابن جريج قال: قال عطاء: تقعد أقراءها ماكانت، تقاربت أوتباعدت» (٤)يعنى حضرت عطاء بن ابى رباح فرمائى چه حائضه ښځه به دخپل حيض په ايام كښې كينى كه هغه ورځې كمې وى اوكه زياتې.

(وبه قال إبراهيم): اوهم دغه دابراهيم رحمه الله هم قول دې. مطلب دا چه كومه خبره عطاء رحمه الله فرمائيلې ده هم هغه د ابراهيم نخعى رحمه الله هم قول دې.(٥)

دتعليق تخريج: دامام بخارى رحمه الله دا روايت محدث عبدالرزاق رحمه الله د أبومعشرعن إبراهيم په طريق سره موصولاً روايت كړې دې. د روايت الفاظ دادې: «عبدالرزاق عن عثمان بن مطرعن سعيد بن أبى عروبة قال: سئل عن رجل طلق امرأته ثلاثاً وهي حائض، فقال: حدثنى قتادة عن ابن المسيب وأبومعشرعن إبراهيم قالوا: تعتدبه من أقراءها» (٦)يعنى د سعيدبن ابى عروبه رحمه الله نه تپوس اوكړې شو كه يوسړې خپلې ښځې له دحيض په حالت كښې درې طلاقه وركړى نوڅه حكم دې؟ نوسعيدبن ابى عروبه رحمه الله د ابراهيم نخعى رحمه الله نه روايت كولوسره اوفرمائيل چه هغه ښځه به د طلاق عدت په خپلو حيضونوسره تيره وى.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه امام عبدالله دارمى رحمه الله د ابراهيم نخعى رحمه الله دا روايت په صحيح سندسره روايت كړې دې. د روايت الفاظ دادې: «أخبرنا المعلى بن أسد، حدثنا أبوعوانة عن المغيرة عن إبراهيم قال: إذا حاضت المرأة فى شهر أوأربعين ليلة ثلاث حيض، قال: فإذا شهد لها الشهود العدول من النساء أنها رأت مايحرم عليها الصلاة من طموث النساء الذي هوالطمث المعروف، فقد خلا أجلها» يعنى ابراهيم نخعى رحمه الله فرمائى كه چرته ښځې ته په يوه مياشت كښې يا څلويښت ورځوكښې درې حيضه راغلې وى نوحكم دادې چه

---

(١) فتح البارى: ١/٤٢٤عمدة القارى: ٣/٤٥٥شرح الكرمانى: ٣/١٩٩إرشادالسارى: ٣٦٢/.
(٢) تهذيب الكمال: ٢٠/٧٠-٦٩
(٣) كشف البارى: ٤/٣٧.
(٤) مصنف عبدالرزاق كتاب الطلاق باب التى تحيض وحيضها مختلفة: ٦/٣٤٤رقم الحديث: ١١١١٤المكتب الإسلامى ، بيروت.
(٥) فتح البارى: ١/٤٢٤عمدة القارى: ٣/٤٥٥.
(٦) مصنف عبدالرزاق كتاب الطلاق باب الرجل يطلق امرأته ثلاثاًرقم الحديث: ١٠٩٧٤المكتب الإسلامى، بيروت.

كه چرې دينداره ښځې په دې خبره باندې ګواهي ورکړي چه او واقعةً دې ښځې هغه ځيزليدلې دې چه مونځ اداکول حرام کوي نوبيا ددې عدت تيرشوې دې. اوبيانى د قاضي شريح رحمه الله داثر په شان خبره ذكركړه.(۱)

دې نه پس حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه عين ممكن ده چه دامام بخاري رحمه الله قول "وبه" كښې موجود ضمير د شريح رحمه الله اثر طرف ته راجع وى ،ځكه چه كوم اثر قاضي شريح رحمه الله روايت كړې دې هم هغه خبره ابراهيم نخعي رحمه الله هم بيان كړې ده. اوس به مطلب داشي چه كومه فيصله حضرت شريح رحمه الله اوحضرت علي رضي الله عنه كړې ده هم هغه د ابراهيم نخعي رحمه الله هم قول دې. يابيا په نسخه كښې تقديم اوتاخيردې. يعنى د «ويذكرعن على وشريح الخ» نه پس «وبه قال إبراهيم» كيدل پكاردى اوبيا "قال عطاء" مگر په نسخه كښې تقديم اوتاخير اوشو او "قال عطاء" مقدم ذكركړې شوې او «وبه قال إبراهيم» روستو اويا بيا د ابراهيم نخعي رحمه الله نه په دې سلسله كښې دوه قوله دى. يو د قاضي شريح رحمه الله د فيصلې موافق او دويم د حضرت عطاء رحمه الله د قول موافق.(۲)

تراجم رجال

إبراهيم: دا دكوفې مشهورتابعي فقيه ابوعمران ابراهيم بن يزيدبن قيس بن اسود النخعي رحمه الله دې. د دوى حالات كتاب الإيمان باب ظلم دون ظلم لاندې تيرشوى دى. (۳)

د دوارو اثرونو ترجمة الباب سره مناسبت: ددې دوارو اثرونو ربط ترجمة الباب سره «وما يصدق النساء» كښې دې ځكه چه ددې مطلب دادې چه په څومره موده كښې د ښځې تصديق ممكن وى تصديق به كولې شى. اودلته هم ده ذكر دى چه دهغې په عدت كښې به تيرعادت ته كتلې شى، سره ددې چه كه دهغې تيرشوې عادت ددې د عوى موافق وى نو تصديق به كولې شى ګنى نه.(۴)

قوله:وقال عطاء: الحيض يوم إلى خمس عشرة: حضرت عطاء بن ابى رباح رحمه الله فرمائي چه حيض د يو ورځې نه واخل تر پنځلس ورځو پورې كيدې شى.

دتعليق مقصد: په اثركښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چه دحضرت عطاء بن ابى رباح رحمه الله په نيز دحيض دكم نه كمه موده يوه ورځ او د زيات نه زياته موده پنځلس ورځې دى.

دتعليق تخريج: دا اثر محدث عبدالله دارمي رحمه الله په صحيح سندسره موصولاً ذكركړې دې اود روايت الفاظ دادى: «أقصى الحيض خمسة عشر وأدنى الحيض يوم وليلة» يعنى دحيض د زيات نه زياته موده پنځلس ورځې اود كم نه كمه موده يوه ورځ او يوه شپه ده.

دهغه شان امام دارقطني رحمه الله په خپل سندسره ابن جريج عن عطاء په طريق سره او هم دغه شان ربيع بن الصبيح عن عطاء په طريق سره دا روايت موصولاً ذكركړې دې. او په دواړوطريقوسره نقل شوى روايت الفاظ دادى: «الحيض خمس عشرة» هم دغه شان امام دارقطني رحمه الله د اشعث عن عطاء په طريق

---

(۱) سنن الدارمي باب في أقل الطهر رقم الحديث: ۸۸۲دارالمغني للنشر والتوزيع.

(۲) فتح الباري: ۴۲۴/۱.

(۳) كشف الباري:۲۵۳/۲.

(۴) هذا ما يستفاد من فتح الباري:۴۲۴/۱وعمدة القاري: ۴۵۵/۳وشرح الكرماني: ۱۹۹/۳.

سره هم دا روايت موصولاً ذكركړي دې د روايت الفاظ دادي: ((أكثر الحيض خمس عشرة)) (١) دې نه علاوه امام دارقطني رحمه الله معقل بن عبدالله عن عطاء په طريق سره روايت كوي ((أدنى وقت الحيض يوم)) يعني دحيض كم نه كم موده يوه ورځ ده.

دتعليق شرح: ددې مذكوره اثر وضاحت وړاندې تيرشوې دې چه په دې كښې د حضرت عطاء د مذهب طرف ته اشاره ده. دهغوى په نيزدحيض د كم نه كمه موده يوه ورځ او دزيات نه زياته موده پنځلس ورځې ده. ددې توضيح نه پس شراح دمذاهب ائمه په دې باب كښې اقل حيض او اكثر حيض ذكركړې دې. شراح رحمهم الله فرمائي چه په دې مسئله كښې د علماء او فقهاء كرامو مختلف مذاهب دي:

① د حيض دكم نه كم څه موده اوحد نشته دې. هغه يوه لحظه هم كيدې شي داد امام مالك رحمه الله امام اوزاعي رحمه الله امام ابوداؤد او د هغوى اصحاب رحمهم الله وغير مذهب دې.

② دحيض دكم نه كم موده يوه ورځ او يوه شپه ده اوزيات نه زيات موده پنځلس ورځې ده. دا دامام شافعي امام احمد بن حنبل حضرت عطاء او امام ابوثور رحمهم الله وغيره مذهب دې.

③ دحيض دكم نه كمه موده درې ورځې اوددې نه كم استحاضه ده او دزيات نه زياته موده لس ورځې دي. امام اعظم ابوحنيفه امام ابويوسف امام محمد اوامام ثوري رحمهم الله وغيره مذهب دې. (٢)

د احنافو مستدلات: احناف ددې لاندينو رواياتونه استدلال كوي:

① ماروي عن ابن مسعود رضي الله عنه: "الحيض ثلاث وأربع وخمس وست وسبع وثمان وتسع وعش، فإن زاد فهي استحاضة" يعني د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې حيض درې ورځې، څلور ورځې، پنځه ورځې، شپږ ورځې او اووه ورځې، اته ورځې او نه ورځې اولس ورځې وي اوكله چه د لسو ورځو نه زيات شي نوهغه استحاضه ده.

رواه الدارقطني وقال: لم يروه عن الأعمش بهذا الإسناد غير هارون بن زياد وهو ضعيف الحديث، وليس لهذا الحديث عند الكوفيين أصل عن الأعمش. (٣)

② حديث أبي أمامة، رواه الطبراني في معجمه والدارقطني في سننه من حديث حسان بن إبراهيم عن عبدالملك عن العلاء بن كثير عن مكحول عن أبي أمامة رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: "أقل الحيض للجارية البكر والثيب ثلاثة وأكثر ما يكون عشرة أيام فإذا زاد فهي استحاضة" يعني ابوامامه باهلي رضي الله عنه فرمائي چه حضورپاك اوفرمانيل د باكره اوثيبه دحيض دكم نه كمه موده درې ورځې اوزيات نه زياته موده لس ورځې ده اوچه كله په لسو ورځ زيات شي نوهغه استحاضه ده.

ففي سنده عبدالملك مجهول والعلاء بن كثير ضعيف الحديث ومكحول لم يسمع من أبي أمامة، قاله الدارقطني. (٤)

---

(١) سنن دارقطني كتاب الحيض: ٣٨٧/١-٣٨٦رقم الحديث: ٧٩٧، ٧٩٩، ٨٠٠، ٨٠١ مؤسسة الرسالة وروى الدارمي الجزء الأول من التعليق في كتاب الطهارة باب ماجاء في أكثر الحيض رقم الحديث: ٨٦١، ٨٧٠والجز الثاني في باب أقل الحيض رقم الحديث: ٨٧٣دارالمغني للنشروالتوزيع.

(٢) التوضيح لابن ملقن: ١٢٦/٥-١٢٤فتح الباري لابن رجب الحنبلي: ١٥٢/٢-١٥٠مكتبة الغرباء الأثرية شرح ابن بطال: ٤٥٥/١-٤٥٤.

(٣) سنن الدارقطني: ٣٨٨/١رقم الحديث: ٨٠٥ برواية خالد ابن حيان الرقي عن هارون بن زيات القشري عن الأعمش عن إبراهيم عن علقمة عن عبدالله، مؤسسة الرسالة.

③ حديث واثلة بن الأسقع الذي رواه الدارقطني في سننه من حديث محمد بن أحمد بن أنس الشافي عن حماد بن المنهال البصري عن محمد بن راشد عن مكحول عن واثلة بن الأسقع قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "أقل الحيض ثلاثة أيام وأكثره عشرة أيام". يعنى واثله بن اسقع رضي الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل دحيض دكم نه كمه موده دري ورځې او زيات نه زياته موده لس ورځې ده.[1]

في مسنده حماد بن المنهال مجهول، ومحمد بن أحمد بن أنس ضعيف.[2]

④ حديث معاذ بن جبل رضي الله عنه، أخرجه ابن عدي في الكل عن محمد بن سعيد الشافعي، حدثني عبد الرحمن بن غنم سمعت معاذ بن جبل يقول: إنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: "لا حيض دون ثلاثة أيام ولا حيض فوق عشرة أيام، فما زاد، فهي استحاضة، تتوضأ لكل صلاة إلا أيام أقراءها.... الحديث".[3] يعنى حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه فرمائى چه ما رسول الله ﷺ داسې فرمائيلوسره واؤريدو چه نه ددريو ورځونه كم حيض دې اونه د لسو ورځو نه زيات حيض دې اوكله چه په لسو ورځو زيات شي نوهغه استحاضه ده. لهذا ايام حيض نه علاوه به دهرمونځ دپاره اودس كوي.

ففي سنده محمد بن سعيد الشافعي، فالبخاري وابن معين والثوري قالوا: أنه يضع الحديث.[4]

⑤ ما رواه أبو سعيد الخدري عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: "أقل الحيض ثلاث وأكثره عشر وأقل ما بين الحيضتين خمسة عشر يوماً". يعنى حضرت ابوسعيد خدرى رضي الله عنه د رسول كريم ﷺ دا ارشاد نقل كوى چه د كم نه كم حيض درې ورځې او زيات نه زيات لس ورځې دې اود دووحيضونو په مينځ كښې (طهر) كم نه كم موده پنځلس ورځې ده. رواه ابن الجوزي في العلل المتناهية.[5] وفيه أبو داؤد النخعي واسمه سليمان. قال ابن حبان: كان يضع الحديث. وقال أحمد: كان كذالك. وقال البخاري: هو معروف بالكذب.[6]

⑥ حديث أنس رضي الله عنه، أخرجه ابن عدي في الكامل عن الحسن بن دينار عن معاوية بن قرة عن أنس بن مالك رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: "أقل الحيض ثلاثة أيام وأربعة وخمسة وستة وثمانية وتسعة وعشرة، فإذا جاوز العشر، فهي مستحاضة". دحضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل دحيض دكم نه كمه موده درې ورځې، څلور ورځې، پنځه ورځې، شپږ ورځې، اووه ورځې، اته ورځې، نهه ورځې اولس ورځې دى او كله چه په لسو ورځو باندې زياتې شي نو هغه مستحاضه ده.

ففيه الحسن بن دينار وقال ابن عدي: إن جميع من تكلم في الرجال أجمع على ضعفه.[7]

---

[1] سنن الدارقطني: ٤٠٥/١ رقم الحديث: ٨٤٥ المعجم الأوسط: ١٨٩/١ رقم الحديث: ٥٩٩ دار الحرمين، وكذا المعجم الكبير: ١٢٩/٨ رقم الحديث: ٧٥٨٦ مكتبة العلوم والحكم.

[2] سنن الدارقطني: ٤٠٧/١ رقم الحديث: ٨٤٧.

[3] الكامل في الضعفاء لابن عدى، حرف الميم، محمد بن سعيد: ٣٢٠/٧ دار الكتب العلمية.

[4] التاريخ الكبير: ٩٤/١ رقم الترجمة: ٢٥٧ دار الكتب العلمية تهذيب الكمال: ٢٦٦/٢٥ مؤسسة الرسالة، تهذيب التهذيب: ١٦٣/٩ دار الفكر، البناية للعيني: ٦٢٥/١.

[5] العلل المتناهية لابن الجوزى: ٣٨٢/١-٣٨٣ رقم الحديث: ٦٤٠ دار الكتب العلمية.

[6] الضعفاء والمتروكون لابن الجوزى: ٢٢/٢ دار الكتب العلمية، كتاب المجروحين لابن حبان: ٣٣٣/١ دار المعرفة.

[7] الكامل في لضعفاء لابن عدى، حرف الحاء، حسن بن دينار: ١٢٧/٣ دار الكتب العلمية التحقيق لابن الجوزى: ٣٦٩/١ مكتبة ابن عبد البر.

⑥ حديث عائشة رضي الله عنها الذي ذكره ابن الجوزي في التحقيق، قال: وروىٰ الحسين بن علوان عن هشام بن عروة عن أبيه عن عائشة رضي الله عنها عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: "أكثر الحيض عشر وأقله ثلاث". [1] يعني حضرت عائشه رضي الله عنها د حضورپاك نه روايت كوي چه د حيض د زيات نه زياته موده لس ورځې او د كم نه كمه موده درې ورځې ده. ففي سنده حسين بن علوان، قال ابن حبان: كان يضع الحديث لا يحل كتب حديثه، كذبه أحمد ويحيى بن معين. [2]

⑧ وقال الدارقطني: حدثنا عثمان بن أحمد الدقاق قال: حدثنا يحيىٰ بن أبي طالب قال: أخبرنا عبد الوهاب قال: حدثنا هشام بن حسان عن الحسن أن عثمان بن أبي العاص الثقفي رضي الله عنه قال: "الحائض إذا جاوزت عشرة أيام فهي بمنزلة المستحاضة، تغتسل وتصلي". [3]

يعني عثمان بن ابى العاص ثقفى رضي الله عنه فرمائي چه دحائضه وينه كله په لسو ورځو باندې تجاوز اوكړي نوبيا هغه مستحاضه ده غسل به كوي او مونځ به كوي.

قال البيهقي بعد نقل هذا الأثر: لا بأس بإسناده. [4]

⑨ وروى الدارمي في سننه عن محمد بن يوسف قال: قال سفيان: بلغني عن أنس رضي الله عنه أنه قال: "أدنىٰ الحيض ثلاثة أيام". [5] يعني سفيان ثورى رحمه الله فرمائي چه ماته د حضرت انس رضي الله عنه نه داخبره رسيدلې ده چه دحيض كم نه كم موده درې ورځې ده. ددې حديث ټول رجال هم هغه دي كوم چه دصحيح مسلم رجال دي اودسفيان نه مراد سفيان ثوري دې چه دكبار تبع تابعين نه دې اود دوى روايات صحيح بخارى كښې هم موجود دي. [6]

سره ددې چه امام ثورى رحمه الله به كله كله تدليس هم كولو مګر دهغوى شميرد مدلسينودهغه طبقې نه دې د چا تدليس چه قابل قبول دې. چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي: «الثانية من احتمل الأئمة تدليسه وأخرجوا له في الصحيح لإمامته وقلة تدليسه في جنب ما روىٰ، كالثوري.......الخ» [7]

اوس دا پورتنۍ روايت سره ددې چه منقطع دې ليكن داحنافو په نيز اول خودا انقطاع مضر نه ده او دويم دلته انقطاع خكه هم مضر نه ده چه په دې حديث كښې د انقطاع حديث يو ډير لوئى امام، امام سفيان ثورى رحمه الله دطرف نه واقع شوې ده. لهذا دا اثر قابل دحجت دې اوبيا داهم يواصول دى چه موقوف روايات كله داسې امورو سره متعلق وى چه غيرمدرك بالقياس والرائې وى نودهغه موقوف رواياتو حكم به دمرفوعاتو وى.

بل سفيان ثورى رحمه الله دا روايت دحضرت انس رضي الله عنه نه د بلاغ په صيغه سره روايت كړې دې يعنى ماته داخبر رسيدلې دې اودادې خبرې دليل دې چه دا اثرد امام سفيان ثورى رحمه الله په نيز دحضرت انس

---

[1] التحقيق لابن الجوزي: ٣٧٠/١.
[2] التحقيق لابن الجوزي: ٣٧٢/١كتاب المجروحين لابن حبان: ٢٤٥/١-٢٤٤دارالمعرفة.
[3] سنن الدارقطني: ٣٩١/١رقم الحديث: ٨١٦.
[4] الجوهر النقي: ٨٦/١السنن الكبرى للبيهقي مع الجوهر النقي: ٣٢٢/١إدارة المعارف النظامية.
[5] سنن الدارمي: ٦٢٦/١دارالمغني للنشر والتوزيع.
[6] إعلاء السنن الحيض والنفاس والاستحاضة باب أقل الحيض وأكثره: ٢٤٧/١إدارة القرآن والعلوم الإسلامية.
[7] طبقات المدلسين لابن حجر: ١٣مكتبة المنار. إعلاء السنن: ٢٤٧/١.

رضي الله عنه نه صحيح دي خکه چه که چري صحيح نه وي نوسفيان ثوري رحمه الله به خپل طرف ته نسبت کولوسره په دې باندې د جزم اظهارنه کولو.[1]

⑩ محدث دارقطني رحمه الله سفيان ثوري عن انس دا تيرشوی روايت په نورو دوو طريقو سره روايت کړې دې. يو طريق د وکيع دې او دويم طريق ابواحمدالزبيري دې. د ابواحمدالزبيری د روايت الفاظ دادي: «أدنى الحيض ثلاثة وأقصاء عشرة» يعنی دکم نه کم حيض درې ورځې اودزيات نه زيات لس ورځې دې. اود وکيع د روايت الفاظ دادي: «الحيض ثلاثة إلى عشرة، فمازاد، فهواستحاضة».[2]

⑪ هم دغه شان دکبارمحدثينونه حضرت انس رضي الله عنه نه دا روايت حماد بن زيد هم ورايت کوي او د هغوی د روايت الفاظ دادي: «الحيض ثلاث وأربع وخمس وست وسبع وثمان وتسع وعشر».[3]

يعنی حضرت انس رضي الله عنه فرمائي چه حيض درې ورځې څلور ورځې پنځه ورځې شپږ ورځې اووه ورځې اته ورځې نهه ورځې اولس ورځې دې.

⑫ دغه شان دکبارمحدثينو نه اسماعيل بن ابراهيم (د چا کنيت چه ابوبشر دې اوددوی دمور طرف ته نسبت کولوسره دوی ته ابن عليه ونيلی شي) هم داحديث روايت کړې دې.[4]

⑬ امام دارقطني رحمه الله د کبارمحدثينونه هشام بن حسان رحمه الله او سعيد رحمه الله هم د حضرت انس رضي الله عنه نه حديث روايت کړې دې دکوم الفاظ چه دادي: «الحائض تنتظر ثلاثة أيام إلى عشرة أيام، فإذا جاوزت، فهي مستحاضة تغتسل وتصلى».[5] يعنی حضرت انس رضي الله عنه فرمائي چه حائضه به ددريو ورځونه واخله ترلسو ورځو پورې انتظارکوي کله چه وينه په لسو ورځو باندې ورزياته شي نوهغه مستحاضه ده غسل به کوي اومونځ به کوي.

دحضرت انس رضي الله عنه داحديث مرفوع هم نقل دې اوموقوف على انس هم روايت کړې شوې دې. مرفوع روايت دمستدل نمبر⑨ لاندې نقل کړې شوې دې کوم چه ابن عدی رحمه الله دحسن بن دينار رحمه الله «راوی» دوجې نه معلول اوکمزرې ونيلې دې. دغه شان د موقوف روايت هم تضعيف کړې شوې دې خکه چه دهغې په سندکښې جلدبن ايوب دې اوائمه رجال د جلد بن ايوب تضعيف کړې دې. چنانچه ابوعاصم رحمه الله فرمائي «لم يكن بذاك، ولكن أصحابنا أسهلوا فيه».[6]

هسنجاني رحمه الله فرمائي: «تركه شعبة ويحيى بن وعبدالرحمن»[7] ابوحاتم رحمه الله فرمائي: «شيخ أعرابي ضعيف الحديث، يكتب حديثه ولا يحتج به»[8] امام ابوزرعه رحمه الله فرمائي: «ليس بالقوي»[1] ابراهيم حربی رحمه الله فرمائي: «غيره أثبت منه»[2] ابن معين رحمه الله فرمائي: «جلد بن أيوب ضعيف»[3]

---

[1] إعلاء السنن: ٢٤٨/١-٢٧.

[2] سنن الدارقطني: ٣٨٩/١ رقم الحديث: ٨٠٨ برواية وكيع وكذا أحمد عن سفيان عن الجلد عن معاوية بن قرة عن أنس.

[3] البناية للعيني: ٦٢٧/١.

[4] سنن الدارقطني: ٣٨٨/١ رقم الحديث: ٨٠٦ برواية إسماعيل عن الجلد عن معاوية عن أنس، البنياة للعيني: ٦٢٧/١.

[5] سنن الدارقطني: ٣٩٠/١ رقم الحديث: ٨١٤ برواية هشام وسعيد عن الجلد، عن معاوية عن أنس.

[6] الجرح والتعديل: ٥٤٨/٢.

[7] الجرح والتعديل: ٥٤٨/٢.

[8] الجرح والتعديل: ٥٤٩/٢.

ليکن ددې تولو باوجود ابن عدی رحمه الله فرمائی «لم أرله حدیثاً جاوز الحد فی النکارة وهو إلی الضعف أقرب» [۴]

اوبیا دیر کبارائمه حدیث هم د جلد بن ایوب رحمه الله نه دحدیث روایت کړې دې لکه سفیان ثوری، حمادان، جریر بن حازم اوعبدالوهاب ثقفی رحمهم الله وغیره دی. [۵]اود ثقات دچانه روایت کول دهغه تعدیل دې.[۶]

بل دجلد بن ایوب رحمه الله نه څان له هم دحضرت انس رضی الله عنه دصحدیث متابعات اوشواهدموجود دی. چنانچه محدث دارقطنی رحمه الله د ربیع بن صبیح عمن سمع أنساً په طریق سره دا روایت نقل کړې دې: «لایکون الحیض أکثر من عشر» [۷]

ربیع بن صبیح یو ثقه راوی دې چنانچه ابن عدی رحمه الله فرمائی: «وللربیع أحادیث مستقیمة، ولم أر له حدیثاً منکراً جداً، وأرجو أنه لابأس به وبروایاته»[۸] امام احمد رحمه الله فرمائی: «لابأس به رجل صالح» [۹]امام شعبه رحمه الله فرمائی: «هو من سادات المسلمین»[۱۰]لیکن په دې باندې دا اشکال کیدې شی چه د حدیث په سند کښې عمن سمع أنساً مجهول دې؟ نوددې جواب دادې چه دا مجهول نه دې بلکه دا راوی معاویه بن قره دې د چا تصریح چه محدث عبدالرزاق رحمه الله کړې ده.[۱۱]

دغه شان محدث دارمی رحمه الله «محمد بن یوسف عن سفیان ن الربیع عن الحسن» په طریق سره دا روایت نقل کړې دې: «الحیض عشرة، فمازاد، فهی استحاضة» ددې حدیث سندحسن دې اوهم دا روایت محدث عبدالرزاق رحمه الله هم په دې سند سره روایت کړې دې دحدیث الفاظ دادی: «أبعد الحیض عشر»[۱۲]

دامام قدوری m کلام: امام قدوری رحمه الله فرمائی چه زمونږ ددې مذهب په موافقت کښې د حضرت عمر حضرت علی حضرت ابن عباس حضرت انس حضرت ابن مسعود حضرت عثمان بن أبی العاص ثقفی رضی الله عنهم هم اقوال نقل شوی دی اوبیا ددې صحابه کرام رضی الله عنهم اقوالو مخالف نقل نه دې. نو په داسې صورت کښې ددې صحابه کرامو رضی الله عنهم تقلید واجب دې یا بیا مونږ له دا ونیل پکاردی چه هغه امور او

---

[۱]) الجرح والتعدیل: ۵٤۹/۲.
[۲]) إعلاء السنن: ۲٤۸/۱إدارة القرآن والعلوم الإسلامیة.
[۳]) الجرح والتعدل: ۵٤۹/۲.
[۴]) الکامل لابن عدی: ۱۳۱/۳دارالکتب العلمیة.
[۵]) الجرح والتعدیل: ۵٤۸/۲.
[۶]) کتاب التجرید للإمام القدوری: ۳۱٦/۱دارالسلام.
[۷]) سنن الدارقطنی: ۳۸۹/۱رقم الحدیث: ۸۰۹.
[۸]) الکامل فی ضعفاء الرجال لابن عدی: ٤۱/٤ دارالکتب العلمیة.
[۹]) الجرح والتعدیل: ٤٦٤/۳.
[۱۰]) الکامل فی ضعفاء الرجال: ۳۸/٤ دارالکتب العلمیة.
[۱۱]) البنایة للعینی: ٦۲۷/۱.
[۱۲]) سنن الدارمی: ۲۲/۱رقم الحدیث: ۸٦۰ دارالمغنی للنشر والتوزیع. مصنف عبدالرزاق کتاب الحیض باب أجل الحیض: ۲۳۰/۱رقم الحدیث: ۱۱۵۱المکتب الإسلامی، بیروت.

مسائل په کوم چه قياس دلالت اونه کړی. نوپه داسې امورو اومسائلوکښې که د صحابي قول موجود وی نوهغه د صحابي قول به په هغه امورو باندې محمول کولې شی چه هغه داخبره دحضورپاك نه پخپله اوریدلې ده اودا هم دحضورپاك نه روایت کوی.[1]

د ابن همام رحمه الله تحقیق: محقق ابن همام رحمه الله په دې باب کښې روایت شوی مختلف احادیث په مختلف طرق باندې دنقل کولونه پس لیکی چه داد حضوراکرم نه روایت شوی یو څو احادیث دی کوم چه په مختلف طرق باندې نقل دی. اوداسې د یوې معنی اومفهوم مختلف صحابه کرام نه نقل کیدل ضعیف حدیث هم د حسن درجې ته رسوی.(خکه چه د بعض نه بعض ته تقویت او تائید ملاویږی)اوس سره ددې چه هریو حدیث په خپل ځائی ضعیف سهی خوچه کله دا ټول یو ځائی نوبیا یقیناً به دهغې نه هغه فائده حاصلیږی چه صرف د یوحدیث کیدو په صورت کښې نه شی کیدې. بیا چه کله دا هم یوحقیقت دې چه دذکر کړې شوی احادیثو اوروایاتو ټول طرق ضعیف نه دی بلکه څه صحیح هم دی، اومعامله چونکه دمقدرات شرعیه ده کومه چه غیرمدرك بالقیاس والرائی وی نو په دې کښې به موقوف روایات د مرفوع روایاتو په حکم کښې وی.[2]

حاصل دا چه داحنافو په مذهب شریعت کښې یو اصل دې دکوم په بنیادباندې چه هغوی استدلال کوی او یومذهب ئې اختیارکړې دې. خوچه کوم حضرات د پنځلسو ورځوداکثر مودې د حیض کیدو قائل دی نوموړئ خونه دهغوی د طرف نه چرته د حسن درجې څه حدیث وینواونه چرته ضعیف حدیث،بلکه ددې حضراتو استدلال دحضورپاك دبنځو متعلق ددې ارشاد نه دې(تمکث احداکن شطر عمرها لا تصلی)اوس اول خوداحدیث صحیح نه دې چنانچه امام بیهقی رحمه الله فرمائی: ((إنه لم یجده)) یعنی دوی ته داحدیث نه دې ملاؤ. هم دغه شان ابن جوزی رحمه الله فر مائی: ((هذا حدیث لایعرف)) یعنی داحدیث غیرمعروف دې. هم داسې ابن منده رحمه الله هم دامطعون ګرځولې دې.[3]

علامه مبارك پوری رحمه الله فرمائی:((لم أجد حدیثا لا صحیحا ولا ضعیفا یدل علی أن أقل الحیض یوم ولیلة وأکثره خمسة عشریوما إلا هذه الحدیث، وقد عرفت أنه لا أصل له، بل هو باطل))[4] اوکه چرې دا صحیح تسلیم هم کړې شی نوبیاهم ددې حضراتوډپاره په دې کښې څه دلیل نشته دې. خکه چه دې حدیث کښې د حیض دزمانې تذکره ده اودشطر معنی نه نصف. اوس په دې حدیث کښې شطر دهغې په حقیقی معنی کښې اخستو سره دامعنی اومفهوم نه شی اخستې چه ښځې په خپل نیم ژوند کښې مونځ نه کوی اونه روژه ساتی. خکه چه دوروکوالی زمانه دحمل زمانه اوهم دغه شان دایام زمانه داټولې هغه زمانې دی چه په ښځه باندې حیض نه راځی په دې وجه دامعنی ممکن نه ده چه ښځه خپل نیم ژوندبغیرد مونځ روژې نه تیروی. البته دا معنی مراد کیدې شی چه ښځه تقریباً نیم ژوند او یا تقریباً نیم عمر بغیرد مونځ روژې په ژوندکښې ایام حیض دهغې دنیم عمر سره نیزدې نیزدې کیږی.

اوبیا زموږ استدلال دحضورپاك ارشادمبارك ((أکثره عشرة أیام)) نه دې یعنی دحیض دزیات نه زیاته

[1] کتاب التجرید للإمام القدوری: ۳۱۶/۱دارالسلام البنایة للعینی: ۶۲۷/۱

[2] شرح فتح القدیر ومعه الکفایة: ۱۶۵/۱-۱۶۴مکتبه رشیدیه.

[3] حواله بالا.

[4] تحفة الأحوذی بشرح جامع الترمذی: ۴۰۳/۱ دارالفکر.

موده لس ورځې ده. نودا اوس د شارع عليه السلام دطرف نه تقدير راغلو اودا شرعي تقدير ددې خبرې نه منع کونکې دې چه يوبل تقدير (پنځلس ورځې) دې تقدير سره ملاؤکړې شي.([1])

داثر ترجمة الباب سره مناسبت: په ترجمة الباب کښې ددې خبرې تذکره ده که چرې يوه مطلقه ښځه د يوې مياشتې په کمه موده کښې دعدت دتيرولودعوى اوکړي نودهغې ددعوى تصديق به کولې شي په دې شرط چه دښځې په بيان کړې شوې موده کښې دعدت مکمل کيدل ممکن هم وي اوحضرت عطاء بن ابى رباح رحمه الله مذکوره اثر پيش کولو سره امام بخارى رحمه الله د امام احمد رحمه الله دمذهب تائيد اوموافقت کړې اوددې خبرې طرف ته ئى اشاره اوکړه چه د يوې مياشتې په کمه موده کښې دعدت مکمل کيدل ممکن دې لکه چه وړاندې په تفصيل سره دامسئله تيره شوې ده. ([2])

قوله:: قال معتمر عن أبيه: سألت ابن سيرين عن المرأة ترى الدم بعد قرءها بخمسة أيام؟ قال: النساء أعلم بذلك: معتمر رحمه الله دخپل پلار نه روايت کوى چه هغه دابن سيرين رحمه الله نه دهغه ښځې باره کښې تپوس اوکړو چه د قرء (حيض) نه فارغيدو سره پنځه ورځې پس بيا وينه اووينى؟ نو ابن سيرين رحمه الله جواب ورکړو چه ښځې په دې باره کښې ښه پوهيږي.

دتعليق مقصد

دعلامه کرمانى رحمه الله رائې: علامه کرمانى رحمه الله فرمائى چه د لفظ قرء نه مراد دپاکئ ورځې دى. دحيض ورځې مراد نه دى ځکه چه دې نه وړاندې د "دم" لفظ تيرشوې دې اوددې نه مقصد دادې چه آيا اقل طهر دپنځو ورځوکيدې شى که نه شى کيدې؟([3])

دنورو شراح حضراتو رائې: ليکن اکثر شراح حضرات ددې وضاحت ترديدکړې دې اود هغوى په نيزددې اثر معنى داده چه دابن سيرين رحمه الله نه دهغه ښځې باره کښې تپوس شوې دې چاته چه په معتاد اومعين ايام کښې حيض راځى ليکن دې خل هغې باندې دمعتاد ايام حيض نه پس نور پنځه ورځې يا کم زيات وينه راغلې ده. نواوس ددې زياتى باره کښې څه حکم دې؟ نوابن سيرين رحمه الله اوفرمائيل چه ښځې په دې معامله کښې ښه پوهيږي. لهذا ددواړو وينو په مينځ کښې به فرق هغه پخپله کوى. اوداحنافو په نيز چونکه عادت بدليدې شى په دې وجه که چرې دمعتاد ايام حيض نه د پنځو ورځو دا زياتوالې په لسو ورځوکښې دننه ختميږي نوهغه ټول په ټول به حيض شميرلې شى اوکه چرې دا زياتوالې د لسو ورځونه زياتى کيږي نو په دې صورت کښې معتاد ايام دحيض دى اودا زياتى ورځې به د استحاضه شميرلې کيږي. اوکه چرې هغه ښځه داسې ده چه په دواړو وينوکښې فرق نه شى کولې نوچه هغه کومه په لسو ورځوکښې دننه وينى هغه به حيض شميرلې کيږي اوکوم چه په دغه لسو ورځو باندې زياتى وى هغه به استحاضه وى. حاصل دکلام دا شو چه "بعد قرءها" نه مراد "بعد طهرها" نه بلکه دې نه مراد "بعد حيضها" دې.([4])

---

[1]) شرح فتح القدير ومعه الكفاية: ١٦٥/١-١٦٤مكتبه رشيديه.
[2]) هذا مايستفاد من: فتح الباري: ٤٢٤/١وعمدة القاري: ٤٥٥/٣وشرح الكرماني: ١٩٩/٣.
[3]) شرح الكرماني: ٢٠٠/٣ إرشادالساري: ٣٦٢/١.
[4]) عمدة القاري: ٤٥٦/٣فيض الباري: ٥٠٦/١.

د علامه انورشاه کشمیری رحمه الله تحقیق: علامه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی د ابن سیرین رحمه الله د مراد حصول بغیرد سنن ابی داؤد دمراجعت نه ممکن نه وو. په دې وجه چه کله د سنن ابی داؤد تفصیل سره مراجعت اوکړې شو نو په هغې سره د ابن سیرین رحمه الله مراد هم واضح شو. چنانچه په سنن ابی داؤدکښې تفصیل څه داسې دې «قال أبوداؤد وروىٰ یونس عن الحسن: الحائض إذا مدّ بها الدم (یعنی استمر بها وزاد علی عادتها) تمسك بعد حیضتها یوماً أو یومین (یعنی: عن الصلاة والصیام، هی عنده إلی یومین حائضة) فهی (أي: بعد یومین) مستحاضة. وقال التیمی عن قتادة: إذا زاد علی أیام حیضها خمسة أیام، لتصلی. قال التیمی: فجعلت أنقص حتی بلغت یومین، فقال: إذا کان یومین فهو من حیضها. وسئل ابن سیرین عنه، فقال: النساء أعلم بذالك» (۱) د دې پوره تفصیل نه معلومیږی چه دابن سیرین نه دکیدونکی سوال حاصل داوو که چرې په یوه ښځه باندې د دغه معتاد ایام نه زیاتی وینه راشی نود دغه زیاتی وینې څه حکم دې؟ نوابن سیرین رحمه الله د دغه زیاتی وینې باره کښې هیڅ جواب ورنه کړو بلکه ټوله معامله ئې ښځوته حواله کړه چه هغه ښځې په دې معاملاتوباندې ښه پوهیږی. په خلاف دامام تیمی رحمه الله څکه چه هغه د پنځونه دوه ورځې دحیض اوګرځولې چه په دې کښې به ښځه مونځ وغیره نه کوی اوباقی ورځې ئې داستحاضه شمیر کړې. (۲)

داستظهارمسئله: په حقیقت کښې دامسئله دمالکیه په نیزداستظهار په نوم سره مشهوره ده او مسئله داده چه ښځه دایام معتاده نه پس به درې ورځې انتظارکوی که په دریو ورځوکښې دننه وینه راغله نوا وینه ددروستنئی وینې حصه ګڼړلوسره په حیض کښې شمیرلې شی اوکه وینه ددریوورځونه پس راغله نوبیا هغه استحاضه ده. (۳)

د قرء نه مرادحیض دې: د ابن سیرین ددې اثر نقل کولونه پس صاحب دتلویح فرمائی چه دابن سیرین اثر دهغه حضراتو دپاره شاهد دې چه دقرء نه حیض مراد اخلی لکه چه د امام اعظم رحمه الله مذهب دې. (۴) او ابن التین رحمه الله د حضرت عطاء رحمه الله نه هم دقرء نه حیض مراد اخستل نقل کړی دی. (۵) سفاقسی رحمه الله فرمائی چه دقرء نه مراد حیض دې هم دغه دابن سیرین رحمه الله اوعطاء رحمه الله مذهب دې اودحضرات صحابه کرام رضی الله عنهم نه د یولسو صحابه کرامو رضی الله عنهم هم دغه قول دې. ددوی نومونه دادی: ① نه ④ پورې خلفاء اربعه ⑤ ابن عباس ⑥ ابن مسعود ⑦ معاذ ⑧ قتاده ⑨ ابوالدرداء ⑩ ابوموسیٰ او ⑪ حضرت انس رضی الله عنهم. هم دغه شان دتابعینونه ابن المسیب، ابن جبیر، امام طاؤوس، امام ضحاك، امام حسن، امام شعبی، امام ثوری، امام اوزاعی، امام اسحاق او ابوعبیده رحمهم الله هم دغه قول دې. (۶)

---

(۱) سنن أبی داؤد کتاب الطهارة باب من قال: إذا أقبلت الحیضة تدع الصلاة، رقم الحدیث: ۲۸۶.

(۲) فیض الباری: ۵۰۶/۱.

(۳) فیض الباری: ۵۰۶/۱.

(۴) التوضیح: ۱۲۳/۵ عمدة القاری: ۴۵۶/۳.

(۵) التوضیح: ۱۲۳/۵

(۶) التوضیح: ۱۲۳/۵ عمدة القاری: ۴۵۶/۳.

تراجم رجال

معتمر: دا ابومحمد معتمربن سليمان بن طرخان تيمي بصري رحمه الله دي. دد وی لقب طفيل وو د بنو مره مولی وو او بنو تميم کښې اقامت اختيارولو دوجې نه تيمي يادېدلو ګنی حقيقت کښې د بنوتيم نه نه وو. [1] ددوی تفصيلي حالات تفصيلي حالات كتاب العلم باب من خص بالعلم قوما دون قوم الخ دريم حديث لاندې تيرشوي دی. [2]

ابن سيرين: دا مشهور تابعي امام شيخ الاسلام ابوبكر محمد بن سيرين انصاري بصري رحمه الله دي. ددوی حالات كتاب الإيمان باب اتباع الجنائز من الإيمان لاندې تيرشوي دی. [3]

د تعليق ترجمة الباب سره مناسبت: ددې تعليق ترجمة الباب سره مناسبت «وما يصدق النساء في الحيض» کښې دې يعنې څنګه چه دحيض اوحمل په مسائلو کښې معاملات ښځو ته حواله دی اوددې دبيان به په ممکن موده کښې تصديق کولې شي هم دغه شان په مذکوره اثرکښې هم معتاد ايام نه زياتی ايام معامله دښځې حواله کړې شوې ده چه دا ښځې په دې مسئلوباندې ښه پوهيږي لهذا هم ددوی خبره به معتبروی. [4]

الحديث

[۳۱۹]- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ ابْنُ أَبِي رَجَاءٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ هِشَامَ بْنَ عُرْوَةَ قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ أَبِي حُبَيْشٍ، سَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: إِنِّي أُسْتَحَاضُ فَلاَ أَطْهُرُ، أَفَأَدَعُ الصَّلاَةَ، فَقَالَ: «لاَ إِنَّ ذَلِكِ عِرْقٌ، وَلَكِنْ دَعِي الصَّلاَةَ قَدْرَ الأَيَّامِ الَّتِي كُنْتِ تَحِيضِينَ فِيهَا، ثُمَّ اغْتَسِلِي وَصَلِّي» [5]- [ر ۲۲۲]

ترجمه: دحضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه حضرت فاطمه بنت ابی جحش رضي الله عنها د حضورپاك نه تپوس اوكړو چه په ماباندې استحاضه وی اوزه هډو پاكيږم نه، آيا زه مونځ پريږدم؟ حضورپاك اوفرمائيل نه، داد رګ وينه ده البته مونځونه ددومره ورځو په اندازه پريږده په كوم كښې چه به تاته حيض راتلو. بيا غسل كوه اومونځ كوه.

تراجم رجال

احمدبن ابي رجاء: دامشهورمحدث احمدبن عبدالله بن ايوب حنفي هروی رحمه الله دي. داحمدبن ابی رجاء په نوم سره مشهوردې اوددوی كنيت ابوالوليددې. امام بخاري رحمه الله ددوی نسب هم داسې بيان كړې دې. [6] خوحاكم ابوعبدالله رحمه الله ددوی نسب داسې بيان كړې دې: «أحمدبن عبدالله بن واقدبن ا

---

[1] تهذيب الكمال: ۲۸/۲۵۰.
[2] كشف الباري: ٤/٥٩٠.
[3] كشف البار ی: ۲/٥٢٤.
[4] هذا مايستفادمن عمدة القاري: ۳/٤٥٦.
[5] قوله:عائشة: الحديث، مر تخريجه في باب الاستحاضة تحت رقم الحديث: ۳۰۶.
[6] التاريخ الكبير: ۲/٥رقم الترجمة: ۲٥۰۳دارالكتب العلمية.

لحارث بن عبدالله بن أرقم بن زياد بن مطرف بن النعمان بن سلمة بن ثعلبة بن السرول بن حنفة الحنفي، أبوالوليد بن أبي رجاء الهروي». [۱] چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه امام حاکم رحمه الله د امام بخاري رحمه الله برخلاف دده د نيکه نوم دايوب په ځائې باندې واقد بن الحارث خودلې دې او ده نسبت ئې بني حنيفه طرف ته کړې دې. [۲]

هغوی دسفيان بن عيينه، ابواسامه حمادبن اسامه، سلمه بن سليمان المروزي، اسحاق بن سليمان الرازي، نضر بن شميل، وکيع بن الجراح، عبدالعزيز بن رزفه، يحيى بن آدم او يحيى بن سعيد القطان رحمهم الله وغيره د حديث روايت کړې.

اوددوی نه امام بخاري، احمدبن حفص بن عبدالله السلمي النيسابوري، اسحاق بن منصور الکوسج ، حسن بن ايوب النيسابوري، عبدالله بن عبدالرحمن الدارمي، ابوزرعه عبيدالله بن عبدالکريم الر ازي او ابوحاتم احمدبن ادريس الرازي رحمهم الله وغيره دحديث روايت کوی. [۳]

ابو حاتم رحمه الله فرمائي: صدوق. [۴] امام حاتم رحمه الله فرمائي چه ابن ابي رجاء په خپله زمانه کښې په هرات کښې د فقه اوحديث امام پاتې دې. هغوی او امام احمد بن حنبل رحمه الله په يوځائې دحديث علم حاصل کړې دې. اوهغوی په انتخاب کولوسره دخپلو شيوخ نه احاديث نقل کړی دی. [۵]

امام نسائي رحمه الله په خپل شيوخ کښې داحمدبن عبدالله رحمه الله تذکره کولوسره ونيلی دی چه دې به د ابن ابی رجاء رحمه الله په نوم سره پيژندلې شو او امام نسائي رحمه الله دهغوی نه په مقام شغرکښې احاديث ليکلی دی [۶] دې نه علاوه امام نسائي رحمه الله فرمائي «ثقة لابأس به» [۷] ابن حبان رحمه الله دهغوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې. [۸]

ددوی انتقال په ۲۳۲ هجری کښې شوې دې. [۹]

أبوأسامة: دا مشهور محدث حماد بن ابواسامه رحمه الله دې. ددوی حالات کتاب العلم باب فضل من علم وعلّم لاندې تيرشوی دی. [۱۰]

هشام: داد عروة بن الزبير بن العوام رحمه الله خوئې دې. د دوی مختصر حالات بدء الوحي دويم حديث لاندې [۱۱] اوتفصيلی حالات کتاب الإيمان باب أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تيرشوی دی. [۱۲]

---

[۱]) تهذيب الكمال: ۱/ ۳۶۴.

[۲]) تهذيب التهذيب: ۱/ ۴۰.

[۳]) د تلامذه او شيوخ دپاره اوګورئ تهذيب الكمال: ۱/ ۳۶۴.

[۴]) الجرح والتعديل: ۲/ ۵۷.

[۵]) تهذيب الكمال: ۱/ ۳۶۵ تهذيب التهذيب: ۱/ ۴۰.

[۶]) تهذيب الكمال: ۱/ ۳۶۵ تهذيب التهذيب: ۱/ ۴۰.

[۷]) تهذيب الكمال: ۱/ ۳۶۵ تهذيب التهذيب: ۱/ ۴۰.

[۸]) ۸/ ۲۸.

[۹]) كتاب الثقات: ۸/ ۲۸ تهذيب الكمال: ۱/ ۳۶۵ تهذيب التهذيب: ۱/ ۴۰.

[۱۰]) كشف الباري: ۳/ ۴۱۴.

[۱۱]) كشف الباري: ۱/ ۲۹۱.

[۱۲]) كشف الباري: ۲/ ۴۳۲.

عروة: دا عروة بن الزبير بن العوام رحمه الله دی. د دوی مختصر حالات بدء الوحي دويم حديث لاندې (۱) او تفصيلي حالات كتاب الإيمان باب أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تيرشوی دی. (۲)

عائشة: دا ام المؤمنين سيده عائشه بنت ابی بكر الصديق رضي الله عنهما ده. د دوی حالات بدء الوحي دويم حديث لاندې تيرشوی دی. (۳)

شرح حديث

قوله:: ولكن دعي الصلاة::

يواشكال اودهغې جواب: سوال دا پيداكيږی چه كلمه "لكن" د استدراك دپاره استعماليږی اوددې دپاره ضروری دی چه ددې ماقبل اومابعد دواړه په خپل مينځ كښې متغائروی خودلته داسې نه دی؟
نوجواب دادې چه دلته دحديث معنی داده: «لاتتركي الصلاة كل الأوقات ولكن اتركيها في مقدار العادة» يعنی د لكن نه وړاندې ئی دا اوخودل چه په ټولو وختونوكښې مونځونه نه دی پريخودل اود لكن نه پس ئی دا اوخودل چه په خپل معتاد ايام كښې مونځونه پريخودل دی. (۴)

قوله:: قدر الأيام التي كنت تحيضين فيها: د قدرالأيام نه دې خبرې طرف ته لارخودنه كيږی چه حضرت فاطمه بنت ابی جيش رضي الله عنها معتاده وه. (۵)

حديث ددې ټكرې مفهوم دادې چه مستحاضه معتاده به ددومره ورځو مونځونه او روژې پريږدی په څومره ورځوكښې چه به په هغې باندې حيض راتلو. نوكه دهغې عادت چرته په هره مياشت كښې د شروع لس ورځې وې يا مينځمې لس ورځې وې نوهغه به هره مياشت كښې دغه لس ورځې مونځ اوروژې پريږدی. دغه شان كه چرې دهغې عادت په هره مياشت كښې شروع، مينځ يا آخری شپږ اووه يا اته ورځې وو او اوس هم يوشان حيض راځی نو په خپلو زړو دغه معتاد ورځوكښې به مونځونه اوروژې پريږدی اوددې نه پس ورځوكښې به دمونځونو او روژو اهتمام كوی. (۶)

بل په دې روايت نبې دا هم معلومه شوه چه حضرت فاطمه بنت ابی جيش رضي الله عنها ته داستحاضه كيدونه وړاندې هغه ورځې يادې وې په كوموكښې چه به هره مياشت په هغې باندې دحيض وينه راتلله. خكه چه كه چرې هغې ته هغه ورځې يادې نهوې نود حضورپاك ارشاد «دعي الصلاة قدر الأيام التي كنت تحيضين فيها» به څه فائده نه وه. بلكه په نورو روايتونوكښې خوددې نه هم د زيات صراحت سره حكم وركړې شوې دې. لكه چه دامام داؤد رحمه الله په روايت كښې د حضرت ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل:

---

(۱) كشف الباري: ۲۹۱/۱.
(۲) كشف الباري: ۴۳۶/۲.
(۳) كشف الباري: ۲۹۱/۱.
(۴) عمدة القاري: ۴۵۷/۳.
(۵) عمدة القاري: ۴۵۷/۳.
(۶) عمدة القاري: ۴۵۷/۳.

«لتنظر عدة الليالي والأيام التي كانت تحيض من الشهر قبل أن يصيبها الذي أصابها، فلتترك الصلاة قدر ذلك من الشهر، فإذا خلفت ذلك فلتغتسل ثم لتستفر بثوب ثم لتصلي»[1]
په دې روايت کښې بالکل په واضحه اندازکښې حکم ورکړې شوې دې چه داستحاضه کيدونه وړاندې چه په هره مياشت کومو ورځو او شپوکښې وينه راتلله په هغې کښې دمونځونوغيره انتظارکول دی يعنی نه دی کول. بياچه کله هغه ورځې تيرې شی نوغسل اوکړه کپړې صفاکړه او مونځ کوه. دکوم نه چه معلوميږی چه فاطمه بنت ابی جيش رضي الله عنها دخپل عادت ورځې ښه پيژندې.[2]
اوس پاتې شوه هغه مستحاضه چاته چه دخپل عادت ورځې يادې نه وی نودهغې حکم دادې چه هغه به د هرې مياشتې لس ورځې د حيض شميرې او باقی به د استحاضه وی.[3]

داحنافو دحديث باب نه په اقل حيض او اکثر حيض باندې استدلال: احناف ددغه پورتنی حديث نه په اقل حيض اوپه اکثرحيض باندې استدلال کوی اود استدلال طريقه داده چه دلته داايام لفظ استعمال شوې دې.ايام جمع سالم ده او ددې اطلاق کم نه کم په دريوباندې کيږی او زيات نه زيات په لسو باندې کيږی. چنانچه د دريو نه دکمو دپاره د ايام لفظ نه استعماليږی بلکه يوم او يومين ونيلی کيږی. اونه ددې نه د زياتودپاره داايام لفظ استعماليږی بلکه دهغې د پاره أحدعشريوماً استعمالولې شی.[4]

د ابن رجب حنبلی رحمه الله اعتراض: ابن رجب حنبلی رحمه الله په دغه پورته ذکرشوی استدلال باندې ردکولوسره فرمائيلی چه په مذکوره روايت کښې لفظ ايام په خپل حقيقی معنی کښې نه دې بلکه داوقات په معنی کښې دې ځکه چه د لفظ يوم استعمال کله دوخت په معنی کښې کيږی.[5]

دابن رجب حنبلی رحمه الله د اعتراض جواب: ددې جواب جواب دادې چه کله دلفظ استعمال په خپله حقيقی معنی کښې کيدې شی اوهيڅ يو امر ددې نه مانع نه وی نوبيا بغيرد وجې نه د حقيقی معنی نه عدول کولوڅه ضرورت دې؟ دويمه خبره داده چه که چرې ايام د اوقات په معنی کښې استعمالوی نودحديث مفهوم غلط کيږی ځکه چه دوخت په معنی کښې د اخستلو په صورت کښې به دحديث مطلب څه داسې شی: "ليکن پريږده مونځونه دهغه اوقاتو په اندازه په کوم کښې چه په تاباندې حيض راتلو"

هرکله چه دا خبره معلومه ده چه حيض هروخت او هره لمحه نه راتلو نومطلب دادې چه په کوم کوم وخت کښې د حيض وينه راشی صرف په هغه وختونوکښې د مونځ نه منع شه اوکله چه يو وخت دحيض د وينې راتلونه فارغ وی نوبيا مونځونه کولې شې. اوس ښکاره خبره ده چه دا مفهوم سراسر غلط دې.

د ابن رجب حنبلی رحمه الله دويم اعتراض: ابن رجب حنبلی رحمه الله دويم اعتراض داايام عادت په مراد کيدو باندې کړې دې هغوی فرمائی چه حضورپاک صرف هم دغه يوه ښځه دهغې دعادت طرف ته را

[1] سنن أبی داؤد كتاب الطهارة باب فی المرأة تستحاض.... الخ، رقم الحديث: ۲۷٤.
[2] عمدة القاری: ۳/ ٤٥٧.
[3] عمدة القاری: ۳/ ٤٥٧.
[4] عمدة القاری: ۳/ ٤٥٨فتح الباری لابن رجب:۲/ ١٥٤أوجزالمسالک: ۱/ ٦٢٣
[5] فتح الباری لابن رجب:۲/ ١٥٤

اړولې ده دڅاد حيض ايام چه په هره مياشت کښې متعين وي. اوس په دې کښې ددې خبرې هيڅ دليل نشته چه ذهري ښځې حيض دې داسې وی لکه څنګه چه ددغه ښځې وو. «بلکه کيدې شی که يوې ښځې باندې صرف هم يوه ورځ حيض راځي».

ددويم اعتراض جواب: دادې چه دلته په روايت کښې دا احتمال نه شی کيدې چه داحکم ئی د يوداسې ښځې متعلق فرمائيلې وی د چاد حيض ورځې چه متعين وې. په دې وجه حضورپاك د دغه ښځې معتاده کيدل نه پيژندل او بيا په يو بل روايت کښې د رسول الله ﷺ ارشاد مبارك دې چه: «المستحاضة تدع الصلاة»[1]

دلته په دې روايت کښې عام حکم دې چه مستحاضه به مونځ پريږدی. اوس ښکاره خبره ده چه مستحاضه به په هغه ورځوکښې مونځ پريږدی په کومو ورځوکښې چه دحيض وينه راتلله اودلته صرف چرته يوې ښځې ته خطاب نه دې بلکه عام حکم بيان شوی دې.[2]

مستحاضه ښځوسره متعلق اختلاف روايات اودتطبيق مختلف صورتونه: واضحه دې وی چه د مستحاضه ښځو سره متعلق په احاديثو اوروایاتوکښې دومره اختلاف دې چه په دې رواياتو او احاديثو کښې د تطبيق او توفيق لاړ راويستل ډيرمشکل دی. هم دغه وجه ده چه فقهاء کرامو دا مسئله په ډير اهتمام سره اخستې ده اوعلماء کرامو په دې باندې مستقل تصانيف هم تحرير کړی دی.

مګر ددې ټولو باوجود دمستحاضه ښځو مشکلات او سختنی حل نه شوې او وجه په دې باب کښې راغلې روايات اواحاديثوکښې کثرت اختلاف دې. بيا بعض حضراتو د ترجيح لاړ اختيارکړې ده او هغوی دتوحيد غسل او الوضوء لکل صَلاة رواياتوله په نورو رواياتو باندې ترجيح ورکړه. او بعض د نسخ لاړ اختيارکړه اود توحيد غسل او الوضوء لکل صلاة نه علاوه نی ټول روايات منسوخ اوګرځول البته مقصد او غرض ددواړو جماعتونو هم يوراؤځي.[3] داحنافو نه امام طحاوی رحمه الله د نسخ قول کړی دې اوهم دا علامه شوکانی هم اختيارکړې دې.[4]

مګر دا خبره دې هم واضحه وی چه ډير زيات مختلف روايات يودم ترك کول هم دومره آسانه خبره نه ده خوبل طرف ته داسې کول هم د قواعد اوضوابط موافق هم دی. پس بعض حضراتو خودتعدد دغسل روايات منسوخ ګرځولی او بعض حضراتو دا تاويل اوکړو چه د تعدد غسل حکم دعلاج په غرض سره وو اويا بيا دتعددغسل حکم مستحب امر دې. په دې باب کښې راغلی احاديثو هم دغه درې توجيهات اوکړې شو. هم دغه شان د بعض حضراتو دا کوشش دې چه په دې باب کښې روايت شوی مختلف روايات دمستحاضه په مختلف قسمونو باندې محمول کړې شی. دمثال په توګه دهر مونځ دپارد دغسل کولوحکم نی په مستحاضه متحيره باندې اولګولو اود اقراء روايات ئی په مستحاضه معتاده باندې اولګولو اود اقبال او ادبار روايات ئی په مستحاضه مميزه باندې اولګول. خو بيا هم پدې باندې اعتراض کيږی چه په دې باب کښې خو هم د يوې ښځې متعلق مختلف احاديث مختلف احکام او مختلف الفاظو سره راغلی دی. په داسې کښې به يوې ښځې سره کوم کوم حکم متعلق وی يا بيا به هغه ښځه دمستحاضه په کوم يو قسم کښې داخله ګنړلې شی. چنانچه هم حضرت فاطمه

---

[1] سنن أبي داؤد كتاب الطهارة باب في المرأة تستحاض..... الخ رقم الحديث: ۲۸۱.

[2] كتاب التجريد للإمام القدوري: ۳۱۳/۱ دارالسلام.

[3] أوجز المسالك: ۶۰٤/۱

[4] شرح معاني الآثار: ۸۱/۱-۸۰ المكتبة الحقانية، نيل الأوطار للشوكاني: ۲۸٤/۱-۲۸۳.

بنت ابی جیش رضی الله عنها چه واخلي چه هغې سره متعلق نقل شوی روایات بعض خوداسې دی چه دهغې په معتاده کیدو باندې دلالت کوی اوبعض داسې دی چه دهغې په ممیز کیدو باندې دلالت کوی خوددې هرڅه باوجود متعدده په انواع مختلفه للمستحاضه (دمستحاضه مختلف انواع) باندې محمول کول په نسبت دنسخ اوترجیح زیات آسان دی. ځکه چه په دې صورت کښې پیداشوی اعرتاضاتو څه نه څه توجیه کړې شوې ده. خو په اول طریق باندې ډیر زیات اشکالات وارد کیږی. [1]

فائده: امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی د استحاضه مسئله د دریو احادیثو په مینځ کښې راګیره ده. ① حدیث فاطمه ② حدیث ام حبیبه ③ حدیث حمنه. خو په یوروایت کښې د حدیث ام حبیبه په ځائې باندې حدیث ام سلمه دې. [2] رضی الله عنهن.

دمستحاضه څلور قسمونه اودهغې احکام: ابن قدامه فرمائی چه د ائمه اربعه په نیز دمستحاضه څلور حالتونه دی ① ممیزة لاعادة لها ② معتادة لاتمیز لها بالدماء ③ من لها عادة وتمیز ④ من لاعادة لها ولا تمیز. [3]

د اول قسم بیان: داول قسم نه مراد هغه ښځه ده چه دخپل حیض وینه د استحاضه دوینې نه جدا اوځان له کولې شی. اوددواړو وینو په مینځ کښې فرق کول پیژنی. (باوجود ددې چه د فقهاؤ په مینځ کښې دحیض په رنګونو کښې هم اختلاف دې او دا تمییز الالوان ته محدثین د اقبال او ادبار په شان اصطلاحاتو سره تعبیرکوی). ددې قسم حکم دادې چه کله دې ته د حیض وینه دهغې د رنګ (مثلاً تور رنګ) سره راشی نومونځ دې پریږدی چه کله هغه وینه لاړه شی او زیړوالې راشی نوحیض غسل دې اوکړی اوبیادې د هر مونځ د پاره اودس کوی. [4]

ابن قدامه رحمه الله فرمائی چه مستحاضه هغه ښځه ده دچادپاره چه اقبال اوادبار ثابت وی. (یعنی هغې ته په وینه کښې مختلف رنګونه معلومیږی) بعض وینه د تك تور رنګ اوبدبوئی والاوی اوبعض سره یا زیړه بغیرد څه بدبوئی نه وی. او چه کومه تکه توره وینه راؤځی نوهغه اکثر دحیض (د حیض اکثری موده) نه زیاتیږی هم نه او اقل حیض (دحیض کمه موده) نه کمیږی هم نه نوداسې ښځې حکم دادې چه ددې د حیض زمانه هغه ده په کوم کښې چه په دې باندې توره وینه یا تکه توره یابدبویه قسم وینه راشی. نوددې قسم وینې په ختمیدو باندې به دغه ښځه دحیض غسل کوی اوبیابه دهریومونځ دپاره نوې اودس کوی اوهم دغه د امام مالك رحمه الله او امام شافعی رحمه الله مذهب دې. [5]

احناف (کثرالله سوادهم) دتمییزبالالوان دسره اعتبارنه کوی دهغوی په نیز صرف او صرف دعادت اعتباردې. ځکه چه دحضرت ام سلمه رضی الله عنها په روایت کښې نبی کریم ﷺ فرمائیلی وو ((لتنظر عدة

---

[1] أوجزالمسالك: ٦٠٤/١.
[2] المغنی لابن قدامة: ٣٨٨/١.
[3] المغنی لابن قدامة: ٣٩٢/١.
[4] أوجزالمسالك: ٦٠٥/١
[5] المغنی لابن قدامة: ٣٩٢/١.

الليالي والأيام»(۱). يعنى هغې له پكاردي چه د شپو اوورځو شميراوكړی. نودا الفاظ په دې امر كښې بالكل صريح او واضح دی چه اعتبارد عادت دې د رنګوونه دې. (۲)

د دويم قسم بيان: ددويم قسم نه مراد هغه مستحاضه ده چاته چه خپل عادت معلوم دې اوهغه د رنګونو فرق نه پيژنی، نودداسې ښځې دپاره حكم دادې چه دخپل عادت په ورځوكښې دې مونځونه پريږدی اوبيا دې په ختميدو باندې غسل كوی اوبيادې دهرمونځ دپاره نوې اودس كوی آوهم دغه د ائمه ثلاثه مذهب دې.

دامام مالك رحمه الله مذهب: امام مالك رحمه الله فرمائی چه دعادت اعتبار به نه شی كولې اعتبار خوصرف او صرف د رنګونو دې. چنانچه د امام مالك رحمه الله په نيز دداسې مستحاضه دپاره حكم دادې چه هغه به د ايام عادت په ختميدو باندې درې ورځې انتظاركوی. كه چرې په دريو ورځوكښې دننه وينه راغله نوهغه وينه به دتيرې وينې حصه ګڼړلې شی اودا به په حيض كښې شميرلې شی اوكه چرې دريو ورځو پورې وينه رانغله بلكه ددې نه پس راغله نودا به استحاضه شميرلې كيږی. (۳)

علامه باجي رحمه الله فرمائی كه دمعتاده وينه په ايام عادت باندې ورزياته شی نو په داسې صورت كښې دامام مالك رحمه الله نه دوه رويات دی: ① دايام عادت پورې خو به د مونځونونه منع وی اوبيابه ددې نه پس دريوورځو پورې انتظاركوی كمامر.

② په داسې صورت كښې به داكثرمودې دحيض پورې به مونځونه نه كوی يعنی پنځلس ورځو پورې به مونځونه نه كوی اودپنځلس ورځونه پس به مستحاضه شميرلې كيږی.(٤)

مقدمات ابن رشدكښې دامام مالك رحمه الله نه په دې مسئله كښې پنځه أقوال نقل دی په كوموكښې چه يو قول د جمهورو په موافقت كښې هم دې. الحاصل په دې مسئله كښې د ائمه اربعه نه د عادت اعتباركول نقل دی سره ددې چه د امام مالك رحمه الله په نيز راجح استظهاردې.(۵)

د دريم قسم بيان: دريم قسم دهغه مستحاضه دې چاته چه خپل ايام عادت هم ياد دی او هغه د رنګونوپه مينځ كښې فرق هم پيژنی نوچه كه چرې دواړه صورتونه جمع شی په داسې معنی چه توره تينګه اوبدبوئی داره وينه په هغې باندې په ايام عادت كښې راځی نوبياخوهيڅ د اشكال خبره نشته دې د هريواعتباركولې شی. خوكه په دواړو كښې اختلاف اوشی په داسې معنی چه ايام عادت نورې دی او تور رنګ تينګ رنګ او بدبوئی دارې وينې دراتګ ايام نورې دی نو په داسې صورت كښې د احنافو اوحنابله د «صحيح قول مطابق» به د عادت اعتباركيږی. خود شوافع او مالكيه په نيز به تمييزبالالوان اعتباركيږی.(۶)

---

۱) رواه أبوداؤد فی الطهارة باب المرأة تستحاض.... الخ رقم الحديث: ۲۷٤ والنسائی فی الطهارة باب ذكر الاغتسال من الحيض رقم الحديث: ۲۰۹

۲) المغنی لابن قدامة: ۳۹۲/۱.

۳) المغنی لابن قدامة: ۳۹۶/۱.

٤) المنتقى شرح مؤطا الإمام مالك: ٤٥۳/۱.

۵) المدونة الكبرى: ۵۰/۱طبع بمطبعة السعادة بجوار محافظة مصر، عارضة الأحوذی لابن العربی المالكی: ۲۰۹/۱دارالكتب العلمية أوجزالمسالك: ۶۰۷/۱

۶) المغنی: ٤۰۰/۱أوجزالمسالك:۶۰۸/۱-۶۰۷

دڅلورم قسم بيان: څلورم قسم دهغه مستحاضه دې چاته چه نه دخپل عادت پته ده او نه د رنګونو په مينځ کښې فرق کولې شي دداسې مستحاضه دوه قسمونه دی: ① يو مبتدأه يعنى په چا چه په رومبی خل وينه راغلې وی اوبيا هلو بنده شوې وی.
②دويمه ده متحيره يعنى په چا باندې چه په شروع کښې ممعتاد ايام کښې حيض راغلې وو اوبيا هم يو شان وينه روانه شوې وه خواوس دهغې نه دا معتاد ايم هيرشوی دی دې ته ضاله هم وائی.
د رومبی قسم حکم دائمه ثلاثه په نيز دادې چه که هغه د وينو په مينځ کښې فرق اوکړې شي نو اعتبار تمييز بالالوان به وی خواحناف فرمائی دداسې قسم حکم دادې چه دهغې د شروع لس ورځې د هرې مياشت نه به دحيض شميرلې شي اوبيابه باقی استحاضه شميرلې کيږی.(١)
چنانچه مصنف الشرح الکبيرفرمايی که ذمبتدأه وينه چرته په اکثرد حيض تجاوز اوکړی نوبيا هغه د دوو حالونه خالی نه ده: ①که چرې هغه مبتدأه مميزه ده نوحکم به نی دا وی چه دهغې هغه زمانه په کومه کښې چه په هغې باندې توره وينه راشی د حيض زمانه شميرلې شی اوهم دغه دامام مالك رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله مذهب دې.
② اوکه چرې هغه مبتداأه مميزه نه وی اودوينو په مينځ کښې فرق هم نه پيژنی نودې سره متعلق څلورقسم روايات دی:(١) داسې مستحاضه به هره مياشت کښې دحيض په غالب ايام کښې مونځ وغيره پريږدی اوهغه شپږ يا اووه ورځې جوړيږی. (٢) دهرې مياشت په اقل حيض کښې به مونځونه وغيره پريږدی خکه چه اقل موده يقينی موده ده. دامام شافعی رحمه الله دوه قوله هم دغه شان نقل دی. (٣) هغه به دحيض اکثره موده کښې مونځونه وغيره پريږدی اوهم دا دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله مذهب دې(٤) داسې ښځه به نورو نيزدې ښځو (مور اوخوئيندې وغيره) به د ايام عادت په اندازه مونځونه پريږدی. هم دا دحضرت عطاء امام ثوری او امام اوزاعی رحمهم الله وغيره مذهب دې.(٢).
شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائی چه داحناف او مالکيه مذهب دادې چه داسې مستحاضه به د حيض د اکثری مودې پورې مونځونه اوروژې وغيره پريږدی.(٣) د باقی مستحاضه ضاله متعلق داحنافو د فقهاؤ په نيز تفصيل دادې چه د مستحاضه ضاله درې قسمونه دی اودهر قسم حکم مختلف دې. خکه داسې مستحاضه خو يا صرف خپل ايام حيض هيرکړې وی اوزمانه ورته ياده وی (لکه چه دومره خوورته ياد وی چه په هره مياشت کښې به يوخل حيض راتلو يا دهرې مياشت په رومبې يا دويمه يا دريمه عشره کښې حيض راتلل ياد وی مګر دا ورته يادنه وی چه څومره ورځې به حيض وو) يا به هغه مستحاضه زمانه هيره کړې وی اود حيض ورځې ورته يادې وی (لکه په هره مياشت کښې درې ورځې څلور ورځې يا پنځه ورځې يا دغه شپان شپږ اووه اته يا نهه ورخو پورې حيض راتلل ورته ياد دی مګر دا ورته يادنه دی چه ددې ايام او ورځو وينه به کله راتلله په رومبې عشره دويمه عشره يا دريمه عشره کښې) اويا به هغه مستحاضه داسې وی چه نه خو به هغې ته دحيض ورځې ياد وی (چه څومره ورځې به حيض وو) اونه ورته زمانه ياده وی (چه په کومه عشره کښې به حيض راتللو) نودا ټول درې قسمونه

---

(١) أوجز المسالک: ٦٠٨/١.
(٢) المغنی: ٤١٢/١-٤١١
(٣) أوجز المسالک: ٦٠٨/١.

جوړيږی او په دې ذکرکړې شوی اقسام کښې رومبې ته ضالة عدددويم قسم ته ضالة الزمان اودريم قسم ته ضالة العدودوالزمان وائی.

درومبی قسم ضالة العدد حکم: رومبې قسم يعنی هغه مستحاضه دچاد حيض وينه چه بنده شوې ځومياشتې تيرې شوې وې دې نه پس چه کله پرې وينه جاری شوه نوبيا هغه هم يوشان جاری وه اودې ته دا معلومه نه ده چه په هره مياشت کښې به ځومره ورځې حيض راتلو. البته دومره ورته ياد دی چه په هره مياشت کښې به يوځل وينه راتله. نودداسې مستحاضه دپاره حکم دادې چه داول استمرار نه درې ورځو پورې به مونځ وغيره نه کوی ځکه چه په دغه ورځو کښې حيض يقينی دې. بيا به د اووه ورځو پورې دهرمونځ دپاره غسل کوی ځکه چه په دغه ايام کښې ددې مستحاضه حال حيض، طهر او خروج من الحيض کيدوکښې مترددې. اوبيابه شل ورځې دهرمونځ دپاره اودس کوی ځکه چه په دغه ورځوکښې طهر يقينی دې.

دويم قسم ضالة الزمان حکم: ضالة الزمان يعنی هغه مستحاضه چاته چه دخپل حيض ايام خوياد دی ليکن دهغې زمانه ياده نه ده (مثلاً دا ورته ياد دی چه حيض به درې ورځې وو خودا ورته يادنه دی چه دا درې ورځې به دآخری عشرې کومې درې ورځې وې) نودداسې مستحاضه په بنيادی توګه باندې دوه صورتونه دی: اول صورت دادې چه هغې کومه زمانه هيره کړې ده هغه به په پنځو ورځو کښې دننه وی اودويم صورت دادې چه هغه زمانه د پنځو ورځونه زياته (لسو ورځو پورې) وی.

درومبی صورت حکم دادې چه دمثال په توګه دهغې معتاد ايام حيض درې ورځې دی اوهغه په دې باندې په آخری عشره دشروع پنځو ورځوکښې هيرې کړې دی نو په داسې صورت کښې به ددې آخری عشرې دريمه ورځ (يعنی ۲۳تاريخ) يقيناً دحيض وی لهذا په دريمه ورځ به مونځ وغيره نه کوی او اولنو هرو دوو ورځوکښې به دهرمونځ دپاره نوې اودس کوی او ځلور مه پنځمه ورځ به دهرمونځ دپاره غسل کوی اوکه ايام حيض ځلور ورځې وې نو دويمه دريمه اوځلورمه ورځ به يقينی دحيض وی نو په رومبې ورځ دهرمونځ دپاره اودس اوپنځمه ورځ دهرمونځ دپاره غسل کوی.

ددويم صورت حکم دادې دمثال په توګه ددې معتاد ايام دحيض درې ورځې دی اوهغې دا په آخری عشره کښې هيرې کړی دی چه ددې آخرې عشرې په کومو دريو ورځوکښې به حيض راتلو وداسې مستحاضه دپاره حکم دادې چه دهرې مياشت دآخری عشرې د شروع دريو ورځوکښې به دهرمونځ دپاره اودس کوی ځکه چه دې دريو ورځوکښې دحيض دحالت اودطهر دحالت نه په يوکښې دکيدونه تردد دې اوددې دريو ورځو نه پس دهغې دآخری عشرې دآخری ورځې پورې به د هرمونځ دپاره غسل کوی ځکه چه دې ته دطهر دحالت اود حيض دحالت نه وتلو کښې تردد دې. هم دغه حکم به په دې صورت کښې هم وی چه کله ددې معتاد ورځې ځلور يا پنځه ورځې وی اوددې نه مثلاً په آخری عشره کښې هيره شوې وی يعنی دآخری عشرې دشروع ځلور ورځې يا پنځه ورځې به د هرمونځ دپاره اودس کوی اوبيابه د آخری ورځې پورې دهر مونځ دپاره غسل کوی.

ليکن معتاد ايام حيض شپږ دی کومې چه هغې په آخری عشره کښې هيرې کړی دی نو په داسې صورت کښې ددې آخری عشرې پنځمه اوشپږمه ورځ دايام حيض نه کيدل يقينی دی لهذا په دې دواړو کښې به مونځ وغيره نه کوی اوددې دواړو نه وړاندې ځلور ورځې دهر مونځ دپاره اودس اوروستو ځلورو ورځو کښې د هرمونځ دپاره غسل کوی. دغه شان که چرې معتاده ايام حيض اووه دی اودې په آخری عشره کښې هيرې کړی دی نو ځلورمه پنځمه شپږمه او اومه ورځ دايام حيض نه کيدل يقينی دی لهذا په دې ځلورو ورځوکښې به مونځ وغيره نه کوی اود شروع درې ورځې هر مونځ دپاره اودس او رستو درې ورځې دهر مونځ دپاره غسل کوی. دغه شان که چرې معتاد ايام حيض اته

دی یا نهه ورځې دی اودا ورځې په آخری عشره کښې هیرې کړې دی نو قاعده هم دغه ده چه په یقینی ورځوکښې به مونځ وغیره نه کوی اوددې ایام نه وړاندې دهر مونځ دپاره اودس اوددې ایام نه پس دهر مونځ دپاره غسل کوی. دغه شان که یوه ښځه پیژنی چه دهغې معتاد ایام حیض درې دی خوهغې دا ورځې په پوره میاشت کښې هیرې کړې دی نوددې دپاره حکم دادې چه دمیاشتې د شروع درې ورځې به د هرمونځ دپاره اودس کوی ځکه چه په دغه ایام کښې دحیض حالت اوطهر حالت کښې د یونه کیدلوکښې ترددې او بیاباقی ۲۷ورځې به دهر مونځ د پاره غسل کوی ځکه چه اوس هروخت د انقطاع حیض احتمال دې.[۱]

دریم قسم ضالة العددد والزمان حکم: داهغه مستحاضه ده چاته چه نه خپل معتاد ایام حیض یاد وی اونه دې ته د خپل حیض زمانه یاده وی. دداسې مستحاضه حکم دادې چه هغه دې ښه سوچ اوفکراوکړی اوددغه سوچ اوفکر په نتیجه کښې چه کومه خبره مخې ته شی په هغې باندې دې عمل اوکړی. خو که هغه په دې باره کښې څه رائې نه لری نوصحیح قول دادې چه هغه به دهر مونځ دپاره غسل کوی.[۲]

د احناف فقهاؤ دمستحاضه صاله سره متعلق یو اصول وضع کړې دې اوهغه اصول دمستحاضه ضاله دغه پورته ذکر شوو ټولو قسمونه ته شامل دی. دفقهاء احناف وضع کړې شوې اصول دادی چه مستحاضه ضاله به کوشش کوی چه د ښه فکر اوسوچ نه کارواخلی اوچه کله دهغې په حیض او طهرکښې تردد وی یا په هغې دحیض ورځې شروع شوی دی که نه؟ نو په داسې صورت کښې به هغه دهریومونځ دپاره اودس کوی اوکله چه هغې ته د حیض اوطهر په مینځ کښې تردد وی چه هغه د طهر په زمانه کښې داخل شوې ده که نه؟ نو په داسې صورت کښې به دهر مونځ دپاره غسل کوی.[۳]

فقهاء کراموددې قاعدې مثال دابیان کړې دې چه یوه ښځه ده هغې ته یاد دی چه په هغې باندې به هره میاشت کښې یوځل حیض راځی او په نصف آخر کښې وینه بندیږی. ددې نه علاوه دې ښځې ته هیڅ یادنه دی نودا ښځه به دهرې میاشت په نصف اول کښې حیض اوطهر او په حیض کښې داخلیدلو مینځ کښې متردد ده او په نصف ثانی کښې دحیض اوطهر او په طهرکښې د داخلیدو په مینځ کښې متردد ده. لهذا په نصف اول کښې به دهرمونځ دپاره اودس کوی او په نصف آخر کښې به دهر مونځ دپاره غسل کوی.[۴] خلاصه دا راوځی چه داحنافوپه نیزداستحاضه درې قسمونه دی. ① مبتدأه ② متحیره ③ معتاده.[۵]

دتمییز بالالوان داعتبارنه کولووجوهات: احناف دتمییز بالالوان اعتباردې لاندینو وجوهاتو په وجه نه کوی

دتمییز بالالوان ثبوت په یونص کښې نشته: ① په یوصحیح حدیث کښې هم دتمییزبالالوان دنص په توګه ثبوت نه ملاویږی اوترکومې چه تعلق دې داقبال او ادبارد روایاتو، نولکه څنګه چه دا روایات

---

[۱] البحرالرائق کتاب الطهارة باب الحیض: ۲/ ۳۶۴-۳۶۳ردالمحتار علی الدرالمختار کتاب الطهارة باب الحیض: ۴۷۹/۱.

[۲] البحرالرائق، کتاب الطهارة باب الحیض: ۲/ ۳۶۴.

[۳] الدرالمختار مع ردالمحتار کتاب الطهارة باب الحیض: ۴۸۰/۱، أوجزالمسالک: ۶۰۹/۱

[۴] ردالمحتار کتاب الطهارة باب الحیض: ۴۸۰/۱.

[۵] أوجزالمسالک: ۶۰۹/۱

په تمییزبالالوان باندې دمحمول کولوګنجائش لری. هم دغه شان دا روایات دعادت په معتبرکیدو باندې هم محمول کولې کیدې شی. بلکه حقیقت دا دې چه داقبال او ادبار والا روایات دعادت په معتبرکیدو باندې محمول کول معین دی. چنانچه دصحیح بخاری سنن ابی داؤد او سنن نسائی روایت دې چه: «فإذا أقبلت الحیضة فاترکی الصلاة، فإذا ذهب قدرها فاغسلی»(۱)

ددې روایت الفاظ «فإذا ذهب قدرها» دعادت په معتبرکیدوکښې بالکل صریح دی اوددې نه وړاندې داقبال لفظ تیر شوې دې نوددې نه مراد هم د حیض وینه په خپل عادت باندې راتلل وی. پس «أقبلت وأدبرت» نه مراد هم دغه دی چه د حیض دوینې په خپل وخت باندې او په خپل عادت باندې راتلل او په عادت باندې واپس تلل، دې دپاره چه په ټولو روایاتوکښې جمع اوتطبیق اوشی ګنی په روایاتوکښې به تکراؤ وی اوددې په مینځ کښې به تناقض پیداشی. (۲)

اوترکومې چه تعلق دې دحدیث حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها چه هغې فرمائیلی «فإنه دم أسود یعرف» نو دا حدیث ثابت نه دې کما أقربه الباجی. (۳)په نقایه کښې دی چه داحدیث په حضرت عائشه رضی الله عنها باندې موقوف دې.(۴)علامه شوکانی رحمه الله فرمائی: «قد استنکر هذا الحدیث أبوحاتم»(۵)

الجوهرالنقی او العلل کښې دی: «سألت أبی (أبی حاتم محمد بن إدریس) عنه؟ فقال: منکر»(۶) ابن قطان رحمه الله فرمائی: «فی رأیی بها منقطع»(۷) علامه شوکانی رحمه الله نور فرمائی: «قد ضعف الحدیث أبوداؤد»(۸) بل امام طحاوی رحمه الله هم دې ضعیف ګرځولې دې.(۹)

دعادت دلالت دلون په مقابله کښې قوی دې: ② دعادت دلالت په حیض باندې په نسبت د لون زیات قوی دې ځکه چه دعادت دلالت باطل نه وی خوکه چرې وینه د حیض په اکثری موده باندې ورزیاته شی نود لون یعنی رنګ دلالت باطل کیږی. لهذا د کوم دلالت چه نه باطل کیږی هغه زیات قوی دې.(۱۰)

حضورپاک سائله دعادت طرف ته راګرځولې وه: ③ حضورپاک رضی الله عنها حضرت ام حبیبه رضی الله عنها اوهغه ښځې دکومې دپاره چه حضرت ام سلمه رضی الله عنها درسول الله صلی الله علیه وسلم نه دمسئلې تپوس کړې وو دعادت طرف ته راګرځولې وې. اودهغې دممیزه کیدو یا نه کیدو په مینځ کښې خو ئې نه تفریق ذکر کړو اونه ئې په دې باره کښې دهغه ښځې نه تفصیل طلب کړو. اوس صرف فاطمه بنت ابی جیش رضی الله عنها صرف یوداسې

---

(۱) رواه البخاری فی کتاب الحیض باب الاستحاضة، رقم الحدیث: ۳۰۶وکذا أبوداؤد فی الطهارة باب من روی أن الحیضة إذا أدبرت لاتدع الصلاة رقم الحدیث: ۲۸۳والنسائی فی الطهارة، باب الفرق بین دم الحیض والاستحاضة رقم الحدیث: ۲۱۸.

(۲) أوجزالمسالک: ۶۱۰/۱

(۳) المنتقی شرح المؤطا لأبی الولید الباجی: ۴۴۹/۱.

(۴) أوجزالمسالک: ۶۱۰/۱

(۵) نیل الأوطار: ۳۴۱/۱.

(۶) السنن الکبری فی ذیله الجوهرالنقی:۳۲۶/۱علل الحدیث لابن أبی حاتم:۵۷۶/۱ رقم المسألة:۱۱۷.

(۷) السنن الکبری مع الجوهرالنقی:۳۲۶/۱.

(۸) نیل الأوطار: ۳۴۱/۱.

(۹) شرح مشکل الآثار: ۱۵۵/۷-۱۵۴.

(۱۰) أوجزالمسالک:۶۱۰/۱وکذا فی المغنی لابن قدامة:۴۰۱/۱.

ښځه ده چه هغه دعادت طرف ته راګرځول هم نقل دی اودتمييز بالون طرف ته راګرځول هم نقل دی.
لکه چه په دې دواړو روايتونوکښې تعارض پيداشو خونور روايات او احاديث د تعارض نه خالی دی.
لهذا هم په هغې باندې به عمل کول شی. اوبيا دحضرت عدی بن ثابت رضي الله عنه حديث خو د هرې يوې
مستحاضه په حق کښې دې اوهغه هم دعادت په معتبرکيدو باندې دلالت کوی. [1]

بعض صورتونوکښې دعادت اعتبار اجماعی دې: ④ د عادت اعتبار بعض صورتونوکښې اجماعی
دې خو تمييز بالون په يوصورت کښې هم اجماعی نه دې. [2]چنانچه ابن الترکمانی رحمه الله فرمائی چه.
«قد اتفق الجميع على أن من لها أيام معروفة اعتبر أيامها، لا لون الدم» [3]

په نفاس کښې د عادت اعتباردې: ⑤ دنفاس په وينه کښې د رنګ اعتبارنه شی کولې اوچونکه
نفاس اوحيض دواړه په احکام کښې يوشان دی په دې وجه دقياس تقاضا داده چه په حيض کښې هم د
رنګ اعتبارنه دی کيدل پکار. بلکه دعادت اعتبارکيدل پکاردی. لکه څنګه چه په نفاس کښې هم
دعادت اعتبارکولې شی. [4]

تمييزباللون معتبرګرځول د رواياتوخلاف دی: ⑥ تمييزباللون دډيرو رواياتو خلاف دې لکه دمثال
په توګه دحضرت عائشه رضي الله عنها په روايت کښې دی: «لاتعجلن حتى ترين القصة البيضاء» هم دغه شان د
عمره رضي الله عنها په روايت کښې دی: «لا، حتى ترين البياض خالصاً». [5] نودا روايت بالکل صراحت سره په
دې باندې دال دی چه د لون اعتبارنشته دې. [6]

حاصل دادې چه حق دکوم نه چه عدول نه شی کيدلې هم دغه دې چه دلون اعتبار په يوحديث هم په
صحيح معنوکښې ثابت نه دې. [7]ددې حديث سره متعلق باقی تفصيلی کلام د باب الاستحاضة
لاندې تيرشوې دې.

دحديث ترجمة الباب سره مناسبت: په حديث اوترجمة الباب کښې مناسبت دادې چه څنګه په ترجمة
الباب کښې داخودلې شوی دی چه دحيض اوحمل باره کښې به د ښځې د بيان اعتبارکولې شی هم
دغه شان په حديث کښې هم د أيام حيض شميرلو معامله دښځو امانت اود هغې د عادت طرف ته
حواله کړې شوې ده. څکه چه دعمرونو او علاقو د اختلاف په وجه دحيض په مقدارکښې هم اختلاف
واقع کيږی. چنانچه د بعض دحيض ورځې زياتې وی اود بعض دحيض ورځې کمې وی. [8]

۲۵ - باب: الصُّفْرَةِ وَالْكُدْرَةِ فِيْ غَيْرِ أَيَّامِ الْحَيْضِ،

[1] المغنی لابن قدامة: ۴۰۱/۱ أوجز المسالک: ۶۱۰/۱.
[2] أوجز المسالک: ۶۱۱/۱.
[3] السنن الکبری للبیهقی مع الجوهر النقی: ۳۲۴/۱.
[4] أوجز المسالک: ۶۱۱/۱.
[5] أخرجه البیهقی فی کتاب الحیض باب الصفرة والکدرة فی أیام الحیض حیض: ۴۹۷/۱ رقم الحدیث: ۱۵۹۲.
[6] أوجز المسالک: ۶۱۱/۱.
[7] أوجز المسالک: ۶۱۱/۱.
[8] عمدة القاری: ۴۵۷/۳.

ماقبل سره ربط: دتير شوى باب لاندې امام بخارى رحمه الله د حيض متعلق يوڅو مسائل ذكركړي وو او اوس ددې باب لاندې په غيرايام حيض كښې ښكاره كيدونكې زيړ او خاورين رطوبت حكم وى اودتولو تعلق هم دم (وينې) سره دې.[1]

د ترجمة الباب مقصد

حافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمانى دامام بخارى رحمه الله غرض دحديث عائشه رضى الله عنها ((حتى ترين القصة البيضاء)) اوحديث باب، حديث ام عطيه رضى الله عنها ((كنا لانعد الكدرة والصفرة شيئاً)) په مينځ كښې تطبيق پيداكول اوجمع كول دى. د حديث عائشه رضى الله عنها حاصل دادې چه تركومې پورې كرسف (مالوچ) بالكل سپين نه وى راوتلې د هغه وخته پورې هم حيض دې لكه چه دهغوى په نيز هر رنګين رطوبت په حيض كښې داخل دې. كه په زيړرنګ كښې وى اوكه په خاورين رنګ كښې وى اودحديث ام عطيه رضى الله عنها حاصل دادې چه مونږ ښځو به خاورين رنګ او زيړ رنګ د وينې هيڅ نه ګڼړلو اودا به مو په حيض كښې نه شميرلو. اوس دلته دوه متضاد خبرې مخې ته شوې: امام بخارى رحمه الله په دې ترجمة الباب كښې په دې دواړوكښې موجود تضاد ختم كړې دې په داسې معنى چه په ترجمة الباب كښې امام بخارى رحمه الله ((غيرأيام الحيض)) قيد اولګولو چه حديث عائشه رضى الله عنها په ايام حيض باندې محمول دې اوحديث ام عطيه رضى الله عنها په غيرايام حيض باندې محمول دې. اوس دحديث عائشه رضى الله عنها مفهوم دا شو چه په ايام حيض كښې هر رنګين رطوبت او وينه په حيض كښې شمير دى. اودام عطيه رضى الله عنها د روايت مفهوم داشو چه د ايام حيض نه علاوه كه دزيړ رنګ يا خاورين رنګ رطوبت راغلو نوهغه به حيض نه وى داسې په دواړو روايتونوكښې تعارض ختميږى.[2]

د شيخ الحديث زكريا رحمه الله رائې: شيخ الحديث زكريا رحمه الله فرمانى چه زما په نيزدامام بخارى رحمه الله مقصد ددې ترجمة الباب نه دحضرت ام عطيه رضى الله عنها په سنن ابى داؤد كښې موجود روايت طرف ته اشاره كول دى دكوم الفاظ چه دادى: ((كنا لانعد الكدرة والصفرة بعد الطهر شيئاً)) امام بخارى رحمه الله د ترجمة الباب الفاظ ((غيرأيام الحيض)) نه ددې روايت الفاظ ((بعد الطهر)) طرف ته اشاره كړې ده.[3]

الحديث الأول

[۳۲۰]-حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، قَالَتْ: ((كُنَّا لاَ نَعُدُّ [ص: ۷۲] الكُدْرَةَ وَالصُّفْرَةَ شَيْئًا)).[4]

---

[1] هذا ما يستفاد من عمدة القارى:۳/۴۵۷.

[2] فتح البارى: ۱/۴۲۶ لامع الدرارى: ۲/۲۷۹-۲۷۸.

[3] الكنزالمتوارى: ۳/۲۹۶.

[4] قوله: ام عطية: الحديث، ورواه الإمام أبوداؤد فى الطهارة باب فى المرأة ترى الكدرة والصفرة بعد الطهر رقم الحديث: ۳۰۷ والنسائى فى الحيض باب الصفرة والكدرة رقم الحديث: ۳۶۸ وجامع الأصول فى أحاديث الرسول الكتاب الأول فى الطهارة الباب السابع فى الحيض، الفصل الثانى فى المستحاضة والنفساء الفرع الثالث فى الكدرة والصفرة: ۳۷۸/۷ رقم الحديث: ۵۴۲۹.

ترجمه: حضرت ام عطیه رضی الله عنها فرمائی چه مونږ به خاورین اود زیړ رنګ وینه هیڅ څیز نه شمیرلو.

تراجم رجال

قتيبة بن سعيد: دا شیخ الاسلام راویة الاسلام ابورجاء قتیبه بن سعید بن جمیل بن طریف الثقفی رحمه الله دی. ددوی حالات كتاب الايمان باب افشاء السلام من الاسلام لاندې تیرشوی دی.[1]

إسماعيل: دا اسماعیل بن ابراهیم بن مقسم (بكسر الميم وسكون القاف وفتح السين، بعدها ميم) اسدی بصرې رحمه الله دې. ددوی حالات كتاب الايمان باب حب رسول الله صلى الله عليه وسلم من الايمان لاندې تیرشوی دی.[2]

أيوب: دا ایوب بن ابی تمیمه کیسان سختیانی بصری رحمه الله دې. دد وی کنیت ابوبکر دې. ددوی حالات كتاب الايمان باب حلاوة الايمان لاندې تیرشوی دی.[3]

محمد: دامشهور تابعی اوعالم شیخ الاسلام ابوبکر محمدبن سیرین انصاری بصری رحمه الله دې. ددوی تفصیلی حالات كتاب الايمان باب اتباع الجنائز من الايمان لاندې تیرشوی دی.[4]

أم عطية: دا صحابیه نسیبه بنت کعب انصاریه رضی الله عنها ده دا په خپل کنیت ام عطیه سره مشهوره ده. ددې حالات كتاب الوضوء باب التيمن في الوضوء والغسل لاندې تیرشوی دی.

شرح حديث: دجمهورو قول: علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی جمهورو ددې حدیث هم دغه معنی کړې ده کومه چه امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې ذکرکړې ده. چنانچه داکثرو حضراتو په نیز د زیړ رنګ رطوبت اود خاورین رنګ رطوبت که چرې دحیض په ورځوکښې راشي نودابه هم په حیض کښې شمیرلې کیږي اوکه چرته دائی د ایام حیض نه پس اولیدلو یا په نورو غیرایام حیض کښې دا رنګونه دوینې یا رطوبتونه اووینی نوددې به څه اعتبار نه کیږی اونه به دا حیض ګڼړلې شي. هم دغه دحضرت علی رضی الله عنه نه هم نقل دی اوهم دغه دحضرات تابعین نه سعیدبن المسیب، عطاء، حسن ابن سیرین، ربیعه، امام ثوری، امام اوزاعی، لیث، امام ابوحنیفه، امام محمد، امام شافعی، امام احمد، او امام اسحاق رحمهم الله هم مذهب دې. اوهم ددې طرف نه امام بخاری رحمه الله هم په دې باب کښې اشاره کړې ده.

دامام ابویوسف رحمه الله قول: دویم قول ددې رنګین رطوبتونوسره متعلق دامام ابویوسف رحمه الله دې هغوی فرمائی که چرې زیړ یا خاورین رنګ د حیض په ورځوکښې دحیض نه وړاندې اولیدلې شو نود دغه رنګ وینه به حیض نه شی شمیرلې او که چرې په آخرې ورځوکښې د حیض د وینې نه پس دارنګونه اووینی نودا به هم حیض شمیرلې کیږی اوهم دا دامام ابوثور رحمه الله مذهب هم دې.

دامام مالک رحمه الله قول: دریم قول دامام مالک رحمه الله نه په المدونة کښې نقل دې. امام مالک رحمه الله فرمائی خاورین رنګ او زیړ رنګ په ایام حیض او غیرایام حیض دواړوکښې هم حیض شمیرلې شي. خو

---

[1] کشف الباری: ۱۸۹/۲.
[2] کشف الباری: ۱۲/۲.
[3] کشف الباری: ۲۶/۲.
[4] کشف الباری: ۵۲٤/۲.

ښکاره خبره ده چه دامام مالك رحمه الله دا قول سراسر د حدیث د ظاهر نه خلاف دې. دغه شان د مذکوره حدیث مطابق دامام مالك رحمه الله په فتاوی کښې هم داسې څه خبره موجودنشته دې چه دزیړ او خاورین رنګ اعتبار به نه شي کولې. البته دومره خبره ملاویږی که چرې دم حیض اودم استحاضه یوځائې شي اوښځه په دې دواړوکښې تمییز اوفرق نه شي کولې نوبیا حکم دادې چه کله هغه دتور رنګ وینه اووینی نوهغه حیض دې اوکله چه هغه زیړ یا خاورین یا سور رنګ اووینی نوهغه به طهر وی. لهذا دغسل کولونه پس به خپل مونځونه هم کوی او روژې به هم ساتی.

په آخره کښې علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی زما خیال دادې چه امام مالك رحمه الله ته حدیث ام عطیه رضی الله عنها (مذکور فی الباب) نه دې رسیدلې. (په دې وجه په دې دواړو رنګونوکښې دغیر معتبر کیدلو قول دامام مالك رحمه الله نه نقل نه دې). (۱)

د ابن رشدمالکی رحمه الله کلام: ابن رشد مالکی رحمه الله فرمائی چه د فقهاؤ په دې مسئله کښې اختلاف دې دزیړ رنګ رطوبت اود خاورین رنګ رطوبت حیض دې که حیض نه دې؟ نودیوجماعت مذهب دادې چه دا دواړه رنګونه صرف په ایام حیض کښې حیض شمیرکیږی هم دا د امام شافعی رحمه الله او امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دې. اوهم داسې یو روایت دامام مالك رحمه الله نه هم نقل دې. او مدونه کښې امام مالك رحمه الله نه نقل دی چه دا دواړه رنګونه به علی الاطلاق حیض شمیرلې شي. که په ایام حیض کښې راشی اوکه په غیرایام حیض کښې. که غواړې نودې سره که وینه اوګوری اوکه اونه ګوری. امام داؤد رحمه الله اوامام ابویوسف رحمه الله فرمائی که دا دواړه رنګونه دحیض د وینې نه پس راشی نوحیض به شمیرلې کیږی ګنی نه به شمیرلې کیږی.

دفقهاؤ په مینځ کښې ددې اختلاف وجه داده چه دحضرت ام عطیه رضی الله عنها حدیث په ظاهره دحدیث عائشه رضی الله عنها مخالف دې. نو چاچه حدیث عائشه رضی الله عنها ته ترجیح ورکړه نودهغوی په نیز به دا دواړه رنګونه هم علی الاطلاق حیض شمیرلې کیږی که په ایام حیض کښې ښکاره شی اوکه په غیرایام حیض کښې اوکه ددې نه وړاندې وینه راغلې وی اوکه نه وی راغلې. اوکومو حضراتو چه په دواړو احادیثو کښې د جمع اراده اوکړه نوهغوی حدیث عائشه رضی الله عنها په ایام حیض او حدیث ام عطیه رضی الله عنها په غیرایام حیض باندې محمول کړې.

بل یوجماعت دحدیث ام عطیه رضی الله عنها ظاهری معنی اختیارکړې ده اودهغوی په نیز زیړ اوخاورین رنګونه دواړه غیرمعتبردی. نه په ایام حیض کښې ددې څه اعتبارشته اونه په غیرایام حیض کښې، که دحیض د وینې په شروع کښې وی اوکه د حیض دوینې په آخره کښې وی. ځکه چه دحضورپاك ارشاد دې: ((دم الحیض دم أسود یعرف)) اوبیا زیړاوخاورین رطوبت په حقیقت کښې وینه نه ده بلکه دا دواړه هم فی الجمله د هغه رطوبتونونه دی چه د ښځې درحم نه خارج کیږی اوهم داد محمدبن حزم ظاهری رحمه الله مذهب دې. (۲)

د شیخ الحدیث زکریا رحمه الله تحقیق: شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمائی چه ددې اختلاف وجه داهم ده چه دحیض وینه دمختلفو رنګونو کیدې شی هغه چرته یو رنګ سره خاص نه ده. (۳) چنانچه علامه

---

(۱) شرح ابن بطال: ۱/۴۵۷-۴۵۶.

(۲) بدایة المجتهد: ۱/۵۵۱۲-۵۵۰.

(۳) الکنزالمتواری: ۳/۲۹۷.

دردیر رحمه الله فرمائی «الحیض دم کصفرة أوکدرة خرج بنفسه» ددې قول په شرح کښې علامه دسوقی رحمه الله فرمائی چه د مصنف رحمه الله قول "کصفرة" دحیض د وینې دپاره یوتمثیل پیش کول دی په دې اعتبارسره د زیړ رنګ وینه همد حیض د وینې یوفرددې...... اودا کوم چه بیان کړې شوې دې چه زیړاوخاورین رنګ هم دحیض په وینه کښې شامل دی نوهم دا مشهور دی او په مدونه کښې دامام مالک رحمه الله مذهب دا بیا کړې شوې دې که زیړ رنګ یا خاورین رنګ په ایام حیض کښې اووینې اوکه په غیر ایام حیض کښې اووینې په هرحال کښې به داحیض شمیرلې کیږی او یو قول دا بیان کړې شوې دې چه زیړ رنګ اوخاورین رنګ په ایام حیض کښې راغلو نوحیض دې او په غیرایام حیض کښې حیض نه دې اودا قول د ابن ماجشون رحمه الله دې اومازری رحمه الله او علامه باجی رحمه الله هم دا قول د امام مالک رحمه الله مذهب گرځولې دې.[1] لهذا ابن ماجشون مازری اوعلامه باجی رحمهم الله دقول مطابق امام مالک رحمه الله هم دې مسئله کښې جمهورو سره دې.

فائده: په دې تفصیل سره دعلامه ابن بطال رحمه الله دا تردد هم ختمیږی چه امام مالک رحمه الله ته حدیث ام عطیه رضی الله عنها نه دې رسیدلې. اوعین ممکن دی چه په شروع کښې نه وی رسیدلې اوامام مالک رحمه الله هم هغه رائې قائم کړې وی کومه چه ابن بطال رحمه الله او ابن رشدمالکی رحمه الله قائم کړې او هم په دې وجه په موطا کښې هم داحدیث نشته دې مګر روستو داحدیث هغوی ته رسیدلې وی اوبیا هغوی رحمه الله هم د جمهورو په موافقت کښې قول اختیارکړې وی.[2]

اشکال: دلته سوال دا پیداکیږی چه حدیث ام عطیه رضی الله عنها خو مطلق دې نه خوپه دې کښې دایام حیض تذکره شته اونه دغیرایام حیض،نو بیا دکوم دلیل په بنیادباندې د «غیرأیام الحیض» قیدزیاتولې شی؟

جواب: جواب دادې چه پخپله ددې حدیث تقاضاده چه دا «غیرأیام الحیض» سره مقید کړې شی ځکه چه ددې روایت دامطلب اخستل چه په دې کښې ذکرکړې شوې حکم عام دې ایام حیض اوغیرایام حیض دواړو ته شامل دې. دحدیث عائشه رضی الله عنها د وجې نه جائزنه دې ځکه چه دا امر ډیر واضح دې چه حضرت عائشه رضی الله عنها له راتلونکې ښځې دحیض په اختتام باندې زیړ رطوبت یا خاورین رطوبت کتلو اوبیابه حضرت عائشه رضی الله عنها له ددې متعلق حکم معلومولو له راتلې نوحضرت عائشه رضی الله عنها هغوی ته داخبر ورکړو چه دا دواړه رطوبتونه دحیض د بقایاجات نه دی اوددې هم هغه حکم دې کوم چه دحیض دې. دویمه خبره داده چه داقید د امام ابوداؤد رحمه الله په سنن کښې موجود د حضرت ام عطیه رضی الله عنها روایت هم واضحه کوی ځکه چه په دې روایت کښې پخپله دا شرط موجود دې. د روایت الفاظ دادی: «کنالانعدالکدرة والصفرة بعدالطهرشیئا» د طهر نه پس به مونږ دخاورین او زیړ رطوبت اعتبارنه کولو.[3] لکه چه د طهر نه وړاندې دایام حیض دوران کښې به دا رطوبتونه هم حیض شمیرلې کیدو. امام بخاری رحمه الله چه کوم قید زیات کړو یا خوددې بنیاد دحضرت عائشه رضی الله عنها روایت دې یا هم پخپله دحضرت ام عطیه رضی الله عنها په روایت کښې داقید موجود دې لکه چه اوس سنن ابی داؤد په روایت کښې

---

[1] حاشیة الدسوقی فی علی الشرح الکبیر : ۱۶۷/۱الکنزالمتواری:۲۹۷/۳.

[2] أنوارالباري: ۴۷۰/۱۰.

[3] سنن أبي داؤد کتاب الطهارة باب فی المرأة تری الکدرة والصفرة... الخ رقم الحدیث: ۳۰۷.

تېرشوی دی.[1] علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دامام داؤد ددې روایت امام حاکم تصحیح کړې ده او د اسماعیلی رحمه الله الفاظ دادی: «كنا لا نعد الصفرة والكدرة حيضاً»[2]

یواعراض اودهغې جواب: علامه کرمانی رحمه الله دافرمائی چه که څوك دا اعتراض اوکړی چه دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دې: «كنا نعد الكدرة والصفرة حيضاً» خودام عطيه رضی الله عنها نه ددې خلاف نقل دی، دا خوتعارض شو؟ نوجواب دادې چه دحضرت عائشه رضی الله عنها روایت په ایام حیض محمول دې او دحضرت ام عطیه رضی الله عنها روایت غیرایام حیض محمول دې.[3]

بل دحضرت عائشه رضی الله عنها په حواله سره نقل کړې شوې روایت: «كنا نعد الكدرة والصفرة حيضاً» تخریج ابن حزم رحمه الله کړې دې او په کوم سندسره چه نې داحدیث روایت کړې دې هغه ابوبکر النهشلی د وجې نه بې بنیاد اوفضول دې خکه چه ابوبکر النهشلی کذاب دې.[4]

دغه شان امام بیهقی رحمه الله دوه روایتونه دحدیث الباب په موافقت کښې پیش کړی په کوم کښې چه د یو روایت سند ضعیف ګرخولې دې اود دویم متعلق نې دا فرمائیلی دی چه ددې سند امثل دې یعنی د رومبی روایت نه بهتر اوافضل دې. دواړه روایتونه لاندې ذکرکولې شی.

① عن عائشة أنها قالت: ما كنا نعد الكدرة والصفرة شيئًا ونحن مع رسول الله صلى الله عليه وسلم. قال البيهقي: فيه بحر السقاء وهو ضعيف. وروي معناه عن عائشة رضي الله عنها بإسناد أمثل من ذلك، وهو:

② عن عائشة رضي الله عنها أنها قالت: إذا رأت المرأة الدم، فلتمسك عن الصلاة حتى تراه أبيض كالقصة، فإذا رأت ذلك، فلتغتسل ولتصل، فإذا رأت بعد ذلك بعضهم صفرة أو كدرة، فلتتوضأ ولتصل، فإذا رأت دما أحمر، فلتغتسل ولتصل.[5]

دا روایتونه په دې امر کښې بالکل صریح دی چه زیړ اوخاورین رنګ په غیرایام حیض کښې غیرمعتبردې او په ایام حیض کښې به دا په حیض کښې شمیرلې کیږی.[6]

دعلامه انورشاه کشمیری رحمه الله تحقیق: علامه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله د رنګونو دفرق مسئله یوطرف ته هدر اوفضول ګرخولې ده او بل طرف ته نې دغیرایام حیض قید اولګولو دکوم مفهوم چه دا راوځی چه په ایام حیض کښې به د الوان او رنګونو اعتبارکیږی.[7]

ددې نه پس علامه انورشاه کشمیری رحمه الله د ام عطیه رضی الله عنها د روایت تخریج کړې اوفرمائی چه احناف حضرات ددې معنی داسې بیانوی. زمونږ په نیز د رنګونو په ذریعه فرق کولوڅه مسئله نه وه بلکه مونږ به ټول رنګونه هم حیض شمیرل. اوحضرات شوافع ددې حدیث معنی داسې بیانوی مونږ به درنګونود فرق اعتبارکولو نود سور رنګ او تور رنګ وینه به مو حیض شمیرل او خاورین او زیړ رنګ به مو غیرمعتبرګڼړلو خکه چه دا د استحاضه رنګونه دی. دریمه شرح پخپله هم امام بخاری رحمه الله کړې ده د کوم حاصل چه دادې چه مونږ به په غیرایام حیض کښې رنګونه فضول ګڼړل ددې

---

[1] شرح ابن بطال: ۴۵۸/۱-۴۵۷شرح الكرماني: ۲۰۱/۳عمدة القاري:۴۵۹/۳.
[2] عمدة القاري: ۴۵۹/۳.
[3] شرح ا لكرماني:۲۰۱/۳.
[4] عمدة القاري: ۴۵۹/۳.
[5] السنن الكبرى: ۳۳۷/۱رقم الحديث: ۱۶۶، ۱۶۶۱.
[6] عمدة القاري: ۴۵۹/۳.
[7] فيض الباري: ۵۰۸/۱-۵۰۷الكنز المتواري:۲۹۶/۳.

مفهوم دادې چه په ایام حیض کښې به مو اعتبارکولو. لکه چه امام بخاری رحمه الله د رنګونو په کتلو کښې ایام حیض اوغیرایام حیض په اعتبار سره فرق کولو یعنی په دې وجه نی د رنګونو د فرق اعتبار اوکړو اوهم په دې وجه نی فضول اوګرځول.(۱)

حاصل د کلام دا شو چه دحدیث الباب درې معنې جوړیدې شی: ① مونږ به د حیض په موده کښې د رنګونو اعتبار نه کولو بلکه ټول رنګونه به هم حیض شمیرلې کیدل. دا معنی داحنافو موافق ده.

② مونږ په په غیرایام حیض کښې د رنګونو اعتبارنه کولو البته چه کله د حیض ایام وی نوبیابه موددغه رنګونو اعتبارکولودامعنی د شوافع موافق ده.

③ د رنګونو مطلق اعتبارنه کول نه په ایام حیض کښې اونه په غیرایام حیض کښې (۲)

شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمائی چه کومې معنې احنافو بیان کړې دی هغه د ظاهر بخاری رحمه الله زیات موافق دی.(۳)

دحدیث ترجمة الباب سره مناسبت: دحدیث ترجمة الباب سره مناسبت واضح دې چه په دواړو کښې دا بیان کړې شوی دی چه زیړ رطوبت اوخاورین رطوبت په غیر ایام حیض کښې غیرمعتبردی اوددې هیڅ اعتبارنه شی کولې (۴)

۲۶-باب: عِرْقِ الْاسْتِحَاضَةِ.

ماقبل سره ربط: د باب سابق سره ربط دادې چه باب سابق کښې په غیر ایام حیض کښې وتونکی زیړ او خاورین رطوبتونو حکم ذکر شو او د دې باب لاندې ددم استحاضه سره متعلق بحث کیږی. (۵)

د ترجمة الباب مقصد

علامه عینی رحمه الله رائې: علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دامام بخاری رحمه الله مقصدداخودل دی چه د استحاضه وینه د حیض وینه نه ده کومه چه درحم نه خارج کیږی بلکه استحاضه په حقیقت کښې د عاذل نومې یورګ نه خارج کیږی د کوم تصریح چه حدیث باب الفاظ "هذاعرق" کښې ده. اوددې نه هم زیات واضح الفاظ دامام ابوداؤد د روایت دی. الفاظ دادی: «إنماذلك عرق وليست بالحيضة»(۶)

دعلامه رشید احمدګنګوهی رحمه الله رائې: علامه رشیداحمدګنګوهی رحمه الله فرمائی د امام بخاری رحمه الله مقصددا خودل دی چه د استحاضه وینه په حقیقت کښې د یورګ وینه ده. داد سبیلین (مخرج البول والبراز) نه نه خارج کیږی. خارج من السبیلین بل څیز دې اوخارج من العرق بل څیز دې په دواړو کښې فرق دې. لهذا د دواړو احکام به مختلف وی یو شان احکام به نی نه وی.(۷)

---

۱) فیض الباری: ۱/۵۰۸-۵۰۷الکنزالمتواری:۳/۲۹۶.

۲) فیض الباری: ۱/۵۰۸-۵۰۷الکنزالمتواری:۳/۲۹۶.

۳) الکنزالمتواری:۳/۲۹۶.

۴) عمدة القاری: ۳/۴۵۸.

۵) عمدة القاری:۳/۴۶۰.

۶) سنن أبی داؤد کتاب الطهارة من روی أن الحیضة إذا أدبرت، لا تدع الصلاة رقم الحدیث۲۸۲عمدة القاری: ۳/۴۶۰.

۷) الأبواب والتراجم: ۶۶ الکنزالمتواری: ۳/۳۳۰لامع الدراری: ۲/۲۸۲-۲۸۱.

لکه چه د رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله په نيز دامام بخاري رحمه الله مقصد خارج من السبيلين او خارج من غير السبيلين په مينځ کښې فرق اوداحکام طرف ته اشاره کول دي.

خارج من السبيلين اوخارج من غير السبيلين په مينځ کښې فرق: د امام ترمذي رحمه الله تخريج کړې شوې روايت «إنما ذلك عرق»[1] لاندې علامه رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله فرمائي چه په دې کښې په دې خبره باندې دلالت دې چه خارج من السبيلين اوخارج من غير السبيلين دواړه په ناقض کيدو کښې برابر دي. سره ددې چه في الواقع په دواړوکښې فرق په خپل ځائې باندې ثابت دې. بل دا وهم نه دې کيدل پکار چه چه دم استحاضه هم د سبيلين (مخرج البول والبراز) نه د يوسبيل (مخرج البول) نه خارج کيږي ځکه چه دلته دسبيل نه مراد خاص مخرج البول دې اود استحاضه وينه د مخرج البول نه نه راوځي. البته دمني او استحاضه لار يوه ده. هم دغه حکم د براز(ډکو متيازو) دلارې هم ده ځکه چه ترکومې پورې يوځيز حقيقةً د براز په لار راونه ځي هغې ته به خارج من المبرز حکم نه شي ورکولې سره ددې چه په ظاهر هغه د خارج من المبرز معلوميږي لکه د بواسير غدود يعني غوټې چه په ظاهر خارج من المبرز معلوميږي مګر په حقيقت کښې هغه د خارج من المبرز حکم کښې نه دې.

فرق په دواړو کښې دا دې چه خارج من غير السبيلين سره طهارت هغه وخت نه ختميږي ترکومې چه هغه اونه بهيږي خو خارج من السبيلين سره على الاطلاق طهارت ختميږي اوفقهاء دغه نجاستونه کوم چه خارج من غير السبيلين دی هم په دې حديث اوددې معنې په نورو احاديثوسره ناقض الوضوء ګرځولې دي.[2]

د شيخ الحديث زکريا رحمه الله رائې: شخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائي د سبيل نه مراد مخرج البول دې دې نه مراد فرج نه دې خودم استحاضه د فرج نه خارج کيږي.

دمولانا محمدحسن مکی رحمه الله رائې: مولانا محمدحسن مکي فرمائي چه دحيض وينه د رحم داجزاء نه خارج کيږي اود استحاضه وينه رحم سره نيزدې دعاذل نومې يو رګ نه خارج کيدو سره رحم کښې جمع کيږي او بيا د رحم نه خارج کيږي. رحم غير المبال دې يعني په مخرجين کښې داخل نه دې.[3]

الحديث الثاني

[۳۲۱]- حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ، قَالَ: حَدَّثَنَا مَعْنٌ، قَالَ: حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، وَعَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ اسْتُحِيضَتْ سَبْعَ سِنِينَ، فَسَأَلَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، فَأَمَرَهَا أَنْ تَغْتَسِلَ، فَقَالَ: «هَذَا عِرْقٌ» فَكَانَتْ تَغْتَسِلُ لِكُلِّ صَلَاةٍ[4]

---

[1]) جامع الترمذی كتاب الطهارة باب ماجاء فى المستحاضة تغتسل عندكل الصلاة رقم الحديث: ۱۲۹.

[2]) الكوكب الدرى: ۱/۱۶۹-۱۶۸الأبواب والتراجم: ۶۶الكنز المتوارى: ۳/۲۹۸.

[3]) الأبواب والتراجم: ۶۶الكنز المتوارى: ۳/۲۹۸.

[4]) قوله: عائشة: الحديث ورواه الإمام مسلم فى كتاب الحيض باب المستحاضة وغسلها وصلاتها رقم الحديث ۷۵۵-۷۶۰،والترمذى فى الطهارت باب ماجاء فى المستحاضة أنها تغتسل عندكل صلاة رقم الحديث۱۲۹، وأبوداؤد فى الطهارة باب ما روى أن المستحاضة تغتسل لكل صلاة رقم الحديث: ۲۸۸والنسائى فى كتاب الحيض باب ذكرالاستحاضة وإقبال الدم

ترجمه: د حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه ام حبيبه رضي الله عنها تراووه كالوپورې مستحاضه پاتې وه او هغې رضي الله عنها د حضورپاك نه ددې باره كښې تپوس اوكړو نوحضورپاك هغې ته دغسل كولوحكم وركړو اووئې فرمائيل چه دا د رګ وينه ده بيا به حضرت ام حبيبه رضي الله عنها د هرمونځ دپاره غسل كولو.

تراجم رجال

إبراهيم ابن المنذر: دا ابراهيم بن المنذر بن عبدالله بن المنذر بن المغيره قرشي اسدى حزامى مدنى رحمه الله دې ددوى كنيت ابواسحاق دې. ددوى حالات **كتاب العلم باب من سئل علماً وهو مشتغل فى حديثه** لاندې تير شوى دى.([1])

معن: دا امام الحديث ابويحيى معن بن عيسى بن يحيى اشجعى مدنى رحمه الله دې. ددوى حالات **كتاب الوضوء باب مايقع من النجاسات فى السمن والماء** لاندې تيرشوى دى.

ابن أبي ذئب: دا امام محمدبن عبدالرحمن بن مغيره بن حارث بن أبي ذئب قرشى عامرى مدنى رحمه الله دې. ددوى كنيت ابوالحارث دې اودې په ابن ابى ذئب سره مشهوره دې. د ابوذئب نوم هشام دې. ددوى حالات **كتاب العلم باب حفظه الإيمان** لاندې تيرشوى دى.([2])

ابن شهاب: ددوى مكمل نوم ابوبكر محمدبن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله بن شهاب بن عبدالله بن الحارث بن زهره بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤى زهرى مدنى دې. ددوى حالات **بدء الوحى** ددريم حديث لاندې تيرشوى دى. ([3]) او نور حالات ئې **كتاب الغسل** كښې هم راغلى دى.

عروة: دا عروة بن الزبير بن العوام رحمه الله دې. د دوى مختصر حالات **بدء الوحى** دويم حديث لاندې ([4]) او تفصيلى حالات **كتاب الإيمان باب أحب الدين إلى الله أدومه** لاندې تيرشوى دى.([5])

عمرة: دامشهوره تابعيه ابوالرجال محمدبن عبدالرحمن مور حضرت عمره بنت عبدالرحمن بن سعيديا سعد بن زراره انصاريه مدنيه رحمهاالله ده. دادحضرت عائشه رضي الله عنها په لاس كښې لويه شوې ده.([6]) د حضرت عائشه رضي الله عنها احاديث دټولو نه زيات پيژندونكې ده ([7])

هغې دعائشه ،حبيبه بنت سهل حمنه بنت جحش ام المؤمنين حضرت ام سلمه خپل دمور شريك خور ام هشام بنت حارثه بن نعمان او رافع بن خديج رضي الله عنهم وغيرهن نه دحديث روايت كړې دې. او ددوى نه ددوى خوئى ابوالرجال محمدبن عبدالرحمن انصارى دهغه رور محمدبن عبدالرحمن انصارى (د يوروايت مطابق د دوى وراره دې) دهغې دوه نمسى حارثه بن ابى الرجال او مالك بن ابى الرجال،

وإدباره رقم الحديث: ٣٥٢ وباب المرأة تكون لها أيام معلومة تحيضها كل شهر رقم الحديث٣٥٣وباب ذكر الأقراء رقم الحديث: ٣٥٦وابن ماجه فى الطهارة باب ماجاء فى المستحاضة إذا اختلط عليها الدم، فلم تقف على.....الخ رقم الحديث:٦٢٦

[1]) كشف البارى: ٥٨/٣.

[2]) كشف البارى: ٤٤٢/٤.

[3]) كشف البارى:٣٢٦/١.

[4]) كشف البارى: ٢٩١/١.

[5]) كشف البارى: ٤٣٦/٢.

[6]) الكاشف: ٥١٤/٢ تهذيب الكمال:٢٤١/٣٥تهذيب التهذيب:٣٨٩/١٢.

[7]) كتاب الثقات لابن حبان: ٢٨٨/٥.

زريق بن حكيم، سعد بن سعيدانصاري، سليمان بن يسار، عبدالله بن ابى بكر بن محمدبن عمرو بن حزم، عبد ربه بن سعيد انصاري، عروة بن الزبير، عمرو بن دينار، محمدمسلم بن شهاب زهري، يحيى بن سعيدانصاري اوفاطمه بنت منذر بن زبير رحمة الله عليها وعليهم دحديث روايت كوى.[۱]
امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائي: «ثقة حجة» [۲]، دامام على بن المديني رحمه الله باره كښې راځي چه هغه به دحضرت عمره بنت عبدالرحمن تذكره په ډيرزيات عظمت سره كوله اوهغه به فرمائيل: «عمرة أحد الثقات العلماء بعائشة، الأثبات فيها» يعنى حضرت عمره بنت عبدالرحمن دحضرت عائشه رضي الله عنها دعلم پيژندونكي يوه ډيره زياته ثقه راويه ده. [۳] امام عجلى رحمه الله فرائي: «مدنية، تابعية، ثقة» [۴] ابن حبان رحمه الله دهغوى ذكر كتاب الثقات كښې كړې دې. [۵]
نوح بن حبيب قومسي فرمائي چه چاهم ددې نسب عمره بنت عبدالرحمن بن اسعدبن زراره بيان كړې دې هغه غلطي كړې ده صحيح دادې چه ذ عبدالرحمن دپلار نوم سعدبن زراره وو چه داسعدبن زراره رور دې ځكه چه د اسعد بن زراره هيڅ اولاد نه وو. خلقو نه غلطي په دې وجه شوې چه مشهور اسعدبن زراره دې ليكن اولاد د سعدبن زراره وو. نوح بن حبيب قومسي رحمه الله فرمائي چه ما دا خبره د علي بن المديني رحمه الله او نورو خلقونه اوريدلې ده چه دانصار نسب ښه پيژندونكى دى. [۶]
ابن المديني رحمه الله د حضرت سفيان نه روايت كوي: «أثبت حديث عائشة حديث عمرة، والقاسم، وعروة» [۷] ابن سعد رحمه الله فرمائي چه حضرت عمره بنت عبدالرحمن دعلم شريعت نه ښه واقفه وه، تردې چه حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په خپل دوركښې ابن حزم رحمه الله په دې خبره باندې مقرركړې ووچه هغه دې دحضرت عمره بنت عبدالرحمن احاديث راجمع كړى. [۸] حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله فرمائي: «مابقي أحد أعلم بحديث عائشة من عمرة» [۹] امام شعبه فرمائي چه عبدالرحمن بن القاسم، دحضرت عمره بنت عبدالرحمن نه به دحضرت عائشه رضي الله عنها داحاديثو باره كښې پوښتنه كوله. [۱۰] دهغوى په تاريخ وفات كښې اختلاف دې. چنانچه ابن ابى حاتم فرمائي چه دهغې انتقال په ۱۰۳هجرى كښې شوې

---

[۱] تهذيب الكمال: ۲٤۱-۲٤۲/۳٥ تهذيب التهذيب:۳۸۹/۱۲.
[۲] تهذيب الكمال: ۲٤۱/۳٥ تهذيب التهذيب:۳۸۹/۱۲.
[۳] تهذيب الكمال: ۲٤۱-۲٤۲/۳٥ تهذيب التهذيب:۳۸۹/۱۲.
[۴] معرفة الثقات للعجلي:٤٥٦/۲.
[۵] ۲۸۸/٥.
[۶] تهذيب الكمال: ۲٤۱/۳٥ تهذيب التهذيب:۳۸۹/۱۲.
[۷] تهذيب التهذيب:۱۲/۳۸۹.
[۸] طبقات ابن سعد: ٤۸۰/۸.
[۹] تهذيب التهذيب:۳۸۹/۱۲.
[۱۰] حواله بالا

دي[۱]خوابوحسان زيادى فرمانى ۹۸هجرى كښې انتقال شوې ده[۲]او يوقول داهم دې چه دهغې رحمها الله انتقال ۱۰۶هجرى كښې شوې هغه وخت هغه د ۷۷كالو په عمركښې وه [۳]
عائشة: دا ام المؤمنين حضرت سيده عائشه بنت ابى بكر صديق رضي الله عنهما ده. ددوى حالات ((بدء الوحى)) ددويم حديث لاندې تفصيلاً تيرشوى دى. [۴]

شرح حديث

قوله: أن ام حبيبة:

ام حبيبه نوم دې كه كنيت؟: دا د ام المؤمنين حضرت زينب بنت جحش رضي الله عنها خور حضرت ام حبيبه بنت جحش رضي الله عنها ده. دا په خپل كنيت سره مشوره ده. دواقدى اوحربى وينا ده ددې كنيت ام حبيبه نه دې بلكه ددې كنيت ام حبيب بغيرد هاء دې اوددهغې نوم حبيبة دې. هم داقول امام دارقطنى رحمه الله هم راجح ګرځولې دې.[۵] خو په رواياتوكښې مشهور هم دغه دى چه دهغې كنيت ام حبيبه دې. هم دا غسانى رحمه الله صحيح ګرځولې دې. دې نه علاوه حميدى رحمه الله هم د سفيان رحمه الله نه په اثبات دهاء سره نقل كړې دې اودغه شان ابن اثير رحمه الله هم داكثر حضراتو نه په اثبات د هاء سره نقل كړې دې.[۶]
د امام مسلم رحمه الله دعمرو بن الحارث رحمه الله نه نقل كړې شوى روايت نه معلوميږى چه ام حبيبه د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه بى بى وه.[۷] ليكن امام مالك رحمه الله په موطاكښې ((هشام عن أبيه عن زينب بنت أبى سلمة)) په طريق سره روايت كوى چه ((أنها رأت زينب بنت جحش التى كانت تحت عبدالرحمن بن عوف وكانت تستحاض.... الحديث))[۸]
بعض حضراتو خودا وهم ګرځولې دې اوبعض نورو حضراتو ونيلى دى چه هم دغه صحيح دى خكه چه ام حبيبه كنيت دې او اصلي نوم زينب دې. پاتې شوه دا خبره چه دهغې دخور ام المؤمنين نوم زينب دې نودا څه د اشكال خبره نه ده څكه چه دام المؤمنين اصلي نوم زينب نه دې بلكه دهغې اصلي نوم بره وو كوم چه روستو بيا رسول الله ﷺ په زينب سره بدل كړې وو. او غالبًا زينب نوم ئى څكه كيخودو د دهغې خور(د كومې چه اصلي نوم زينب دې) په خپل كنيت سره مشهوره وه اودهغې كنيت دهغې په نوم باندې غالب وو دكوم د وجې نه چه دالتباس انديښنه نه وه. دهغوى يوه خور بله هم ده دكومې نوم چه حمنه وو اوهغه هم دمستحاضات نه وه.[۹]

---

[۱] حواله بالا.
[۲] تهذيب الكمال: ۲٤۱/۳۵ تهذيب التهذيب: ۳۸۹/۱۲ كتاب الثقات لابن حبان: ۲۸۸/۵.
[۳] تهذيب الكمال: ۲٤۱/۳۵.
[٤] كشف البارى: ۲۹۱/۱.
[۵] فتح البارى: ٤۲۷/۱.
[۶] مسندالحميدى: ۲٤۱/۱ دارالسقاء، أسد الغابة: ۳۰۲/۷.
[۷] صحيح مسلم كتاب الحيض باب ا لمستحاضة وغسلها وصلاتها رقم الحديث: ۷۵۶.
[۸] المؤطا للإمام مالک كتاب وقوت الصلاة المستحاضة رقم الحديث: ۲۰۰۱.
[۹] فتح البارى: ٤۲۷/۱ عمدة القارى: ٤۶۱/۳.

داهل سير وينا ده چه مستحاضه صرف حمنه بنت جحش وه خومحدثين حضرات فر مائي چه دواړه خوئيندې حضرت حمنه اوحضرت ام حبيبه مستحاضه وې. يوقول داهم دې چه ام المؤمنين حضرت زينب ﷺ هم مستحاضه وه ليکن دا قول صحيح نه دې.[1] د بعض حضراتو گمان دې چه د جحش ددريواړو لونړو نوم زينب وو بيا داسې اوشو چه ام المؤمنين په خپل نوم سره مشهوره شوه حضرت ام حبيبه په خپل کنيت سره مشهوره شوه او حضرت حمنه په خپل لقب سره مشهوره شوه. ليکن دا حضرات په دې باندې دهيڅ قسم دليل پيش کولونه قاصر دی.[2]

اودموطا په حواله سره داخبره تيره شوې ده چه په دې کښې ام حبيبه ﷺ زينب بنت جحش په نوم سره موسوم کړې شوې ده. نوواضحه دې وی چه صرف امام مالک ﷺ ام حبيبه ته زينب بنت جحش نه دی وئيلی بلکه امام ابوداؤد ﷺ هم په خپل سندسره ددې باب متعلق دابن ابی ذئب په طريق سره يوروايت نقل کړې دې او په هغې کښې هغوی هم د ام حبيبه په ځائې باندې زينب بنت جحش ذکرکړې دې. اوددې توجيه ماقبل کښې تيره شوې ده چه ام حبيبه اوزينب بنت جحش دواړه هم يوه ده. البته زينب دهغې حقيقي نوم دې اود ام المؤمنين حقيقي اواصلي نوم زينب نه وو بلکه بره وو.[3]

«وعن عمرة» ددې عطف په عروة باندې دې يعنی حضرت عروه اوحضرت عمره بنت عبدالرحمن دواړه د حضرت عائشه ﷺ نه روايت کوی. اکثر روات واؤ سره سند ذکرکړې دې البته د ابوالوقت او ابن عساکر په روايت کښې واؤ محذوف دې. په داسې صورت کښې دا روايت «عن عروة عن عمرة» په طريق سره وی ليکن صحيح اومحفوظ هم دغه دې چه دلته واؤ ثابت دې او امام زهری ﷺ ددې دواړو شيوخ نه دا روايت نقل کړې دې.[4]

قوله: استعيضت سبع سنين: علامه عينی ﷺ فرمائي چه سنين خلاف قياس دې دسنة جمع ده ځکه چه دجمع سالم شرط دادې چه دې مفرددې مذکرعاقل وی خوسنة نه مذکر دې اونه عاقل دې.[5]

دعلامه ملقن ﷺ کلام: ابن ملقن ﷺ فرمائي چه په دې کښې د ابن القاسم ﷺ دپاره دهغوی په مذهب باندې دليل موجود دې. دابن القاسم ﷺ مذهب دادې که چرته يوه ښځه مستحاضه وی اوهغې د جهالت د وجې نه يا استحاضه حيض گنړلوسره مونځونه پريخودې وی نو په داسې ښځه باندې به د دغه مونځونه راګرځول لازم نه وی ځکه چه په مذکوره روايت کښې حضورپاك حضرت ام حبيبه ﷺ ته دتيرو شوو کالونو د مونځونود راګرځولو حکم نه وو فرمائيلې. د استدلال نوره وجه داده چه کله حضرت ام حبيبه ﷺ د خپلې مسئلې متعلق د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو نوحضورپاك هغې ته دغسل کولوحك ورکړو دکوم نه چه معلومه شوه چه ددې نه وړاندې هغې غسل نه وو کړې. که چرته غسل نی کړې وې نوضرور به نی دهغې تذکره کوله. نومعلومه شوه چه هغې داوړدې مودې

[1] أسدالغابة: ۳۰۲/۷ عمدة القاري: ٤٦١/۳.
[2] فتح الباري: ٤۲۷/۱.
[3] فتح الباري: ٤۲۷/۱ مسندالطيالسي: ٥٤/۳.
[4] فتح الباري: ٤۲۷/۱ شرح الكرماني: ۲۰۲/۳.
[5] عمدة القاري: ٤٦١/۳.

پوري خپل خان حائضه گنړلو اوحضورپاك هم د آخري حيض نه پس دغسل حكم اوفرمائيلو اود تيرو شوو مونځونو د راګرځولو حكم ئې ورنه كړو.[۱]

دحافظ ابن حجر رحمه الله د طرف نه جواب: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه د روايت الفاظ «**استحيضت سبع سنين**» كښې ددې خبرې هم احتمال دې چه په دې كښې دحضرت ام حبيبه رضي الله عنها ددې مرض پوره موده بيان كړې شوې وي چه هغې ته تراووه كالو پورې دغه بيمارې وه. ددې خبرې نه مخ اړولوسره چه دا اووه كاله موده د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د مسئلې تپوس كولونه وړاندې وي ياروستو، په داسې صورت كښې د ابن القاسم رحمه الله دپاره ددې روايت نه په خپل مذهب باندې دليل باقي نه پاتې كيږي.[۲]

قوله: فأمرها أن تغتسل: اسماعيلي رحمه الله اودغه شان امام مسلم رحمه الله اغتسال سره د صلاة هم اضافه كړې ده يعنى «**اغتسلي وصلي**».[۳]

ايا مستحاضه به دهرمونځ دپاره غسل كوي؟: شراح حضرات فرمائي چه په مذكوره روايت كښې امر د اغتسال مطلق دې چه په تكرار باندې دلالت نه كوي چه دهرمونځ دپاره غسل كوه. ليكن حضرت ام حبيبه رضي الله عنها كيدې شي دځه قرينې د وجې نه دا ګنړلې وي چه په دې امر كښې تكرار دې او هم په دې وجه به هغې د هر مونځ دپاره غسل كولو.[۴]

امام شافعي رحمه الله فرمائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم هغې ته د غسل كولو اومونځ كولو حكم فرمائيلې وو اوهغه چه دې به دهر مونځ دپاره غسل كولو نوهغه د تطوع په توګه وو وجوبي غسل نه وو.[۵] هم دغه شان ليث بن سعد رحمه الله فرمائي چه دامام زهري رحمه الله په رواياتو كښې داخبره نشته دې چه حضورپاك د هر مونځ دپاره دغسل كولوحكم وركړې وو بلكه دهر مونځ دپاره غسل كول د ام حبيبه رضي الله عنها ذاتي فعل وو چه دخپل طرف نه به ئې كولو.[۶]

هم دغه دجمهورو مذهب دې چه په مستحاضه باندې دهرمونځ دپاره غسل واجب نه دې سوا د متحيره البته مستحاضه به دهر مونځ دپاره اودس كوي.[۷]

اود دې تائيد د امام ابوداؤد رحمه الله د حضرت عكرمه رحمه الله په طريق سره نقل كړې شوې دې روايت نه هم كيږي: «**إن أم حبيبة استحيضت فأمرها صلى الله عليه وسلم أن تنتظر أيام أقرائها ثم تغتسل وتصلي، فإذا رأت شيئا من ذلك، توضأت وصلت**» په دې روايت كښې ددې خبرې تصريح شته چه مستحاضه به هره مياشت په خپل ايام حيض كښې دمونځ وغيره نه منع كيږي اوددې نه پس به غسل كوي اومونځونه كول به شروع كوي. البته د استحاضه دوجې نه به دهر مونځ دپاره جدا اودس كوي.[۸]

---

[۱] التوضيح: ۵/۱۳۷-۱۳۶شرح ابن بطال: ۴۵۹/۱.

[۲] فتح الباري: ۱/۱۲۷.

[۳] فتح الباري: ۴۲۷/۱صحيح مسلم كتاب الحيض باب المستحاضة وغسلها وصلاتهارقم الحديث:۷۵۶-۷۵۵.

[۴] فتح الباري: ۴۲۷/۱.

[۵] فتح الباري: ۴۲۷/۱عمدة القاري:۴۶۲/۳.

[۶] صحيح مسلم كتاب الحيض باب المستحاضة وغسلها وصلاتها، فتح الباري: ۴۲۷/۱عمدة القاري: ۴۶۲/۳.

[۷] فتح الباري: ۴۲۷/۱عمدة القاري: ۴۶۲/۳.

[۸] فتح الباري: ۴۲۷/۱سنن أبى داؤد كتاب الطهارة باب من لم الوضوء إلا عندالحدث، رقم الحديث: ۳۰۵.

د امام مهلب رحمه الله دهرمونځ دپاره دغسل په عدم وجوب باندې استدلال: امام مهلب درروايت الفاظ «هذاعرق» نه په "عدم وجوب غسل لكل صلاة" باندې استدلال کړې دې هغه فرمائي چه استحاضه دم عرق دې اودم عرق غسل نه واجب کوی. لهذا په دې باندې دهرمونځ دپاره غسل کول واجب نه دی.[1]

په رواياتوکښې دهرمونځ دپاره د غسل د وجوب په زياتي باندې جواب: اوس چه داامام ابوداؤد رحمه الله د سليمان بن کثير عن الزهري او ابن اسحاق عن الزهري په طريق سره نقل کړې شوې روايات دی.[2] او په هغې کښې چه دهرمونځ دپاره دغسل کولوکوم حکم ذکردې. علماؤ په دغه رواياتوکښې موجود دغه زياتې «فأمرهابالغسل لكل صلاة»مطعون ګرځولې دې اوددې وجه داده چه دامام زهري رحمه الله د اثبات تلامذه اودغه شان دهغه دحفاظ تلامذه دا زياتې نه دې ذکرکړې لکه څنګه چه دليث بن سعد رحمه الله په حواله سره تصريح کړې شوې ده چه ابن شهاب رحمه الله دا زياتې نه دې ذکر کړې.[3] بل دابن اسحاق اوسليمان بن کثير دامام زهري رحمه الله نه رواياتوکښې اضطراب دې لهذا ددې دواړو د رواياتو په وجه به حکم نه شي ورکولې. خودامام زهري رحمه الله حفاظ تلامذه دا زياتې نه ذکرکولوسره دهغه مخالفت هم کړې دې.[4]

يواشکال اود هغې جواب: ليکن په دې باندې اشکال کيږي چه «وجوب غسل لكل صلاة» حکم صرف د امام ابن شهاب زهري رحمه الله په روايت کښې نه دې بلکه په نورو رواياتوکښې هم د هرمونځ دپاره د غسل کولوحکم راغلې دې اوّد حکم نسبت هم دحضورپاک ﷺ طرف ته دې. چنانچه امام ابوداؤد رحمه الله اويحيى بن ابي کثير عن ابي سلمة عن زينب بنت ابي سلمة په طريق سره روايت کوی چه «.....فأمرها أن تغتسل عندكل صلاة».[5]

نوجواب دادې چه اوس په داسې صورت کښې دزينب بنت ابي سلمه حديث او دعکرمه رحمه الله حديث (په کوم کښې چه صراحت دې چه د يوځل نه پس به د هرمانځه دپاره اودس کوی) په دواړوکښې به د تطبيق لار راويستلې شی. دکوم صورت چه دادې په حديث زينب کښې حکم په امرمندوب اومستحب کيدو باندې محمول کولې شی دې دپاره چه دواړه روايتونه جمع شی.[6]

فائده: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه علامه خطابي رحمه الله دا روايات په دې باندې محمول کړی دی چه حضرت ام حبيبه رضي الله عنها مستحاضه متحيره وه په دې وجه هغې ته د هرمونځ دپاره دغسل کولو حکم ورکړې شو خودا جواب صحيح نه دې ځکه چه د حديث عکرمه رحمه الله الفاظ: «أنه أمرها أن تنتظرأيام أقرائها» اود امام مسلم رحمه الله د روايت الفاظ «امكثي قدرماكانت تحبسك حيضتك» په دې باندې دلالت کوی چه حضرت ام حبيبه رضي الله عنها متحيره نه وه ځکه چه متحيره دخپل عادت ايام هيرکړې شوې وی.[7]

---

[1] شرح ابن بطال: ٤٥٨/١فتح الباري:٤٢٧/١.

[2] سنن أبي داؤد كتاب الطهارة باب ماروى أن المستحاضة تغتسل لكل صلاة رقم الحديث: ٢٩٢.

[3] فتح الباري: ٤٢٧/١ فتح الباري لابن رجب: ١٦٥/٢إرشادالساري: ٣٦٣/١.

[4] فتح الباري لابن رجب: ١٦٦/٢.

[5] سنن أبي داؤد كتاب الطهارة باب ماروى أن المستحاضة تغتسل لكل صلاة رقم الحديث: ٢٩٣.

[6] فتح الباري: ٤٢٧/١إرشادالساري:٣٦٣/١.

[7] فتح الباري: ٤٢٧/١.

ليکن زما (راقم) خيال دادې چه دحافظ ابن حجر رحمه الله داخبره په ظاهره صحيح نه ده ځکه چه علامه خطابی رحمه الله خو ((وجوب غسل لکل صلاة)) په مستحاضه متحيره باندې محمول کړې دې. هغوی دا نه دی فرمائيلی چه حضرت ام حبيبه رضي الله عنها مستحاضه متحيره وه. دعلامه خطابی د کلام حاصل دادې چه په مذکوره روايت کښې اختصاردې. په دې کښې دحضرت ام حبيبه رضي الله عنها دمکمل حال بيان نشته دې. او په هره مستحاضه باندې دهرمونځ دپاره غسل کول هم واجب نه وی بلکه دهرمونځ دپاره دغسل وجوب صرف مستحاضه متحيره سره مختص دې چاته چه نه خودخپل عادت ايام يادوی اونه هغه دوينو په مينځ کښې فرق کولې شی. صرف د داسې صفت والا په مستحاضه باندې دهر مونځ دپاره غسل واجب دې. ځکه چه دداسې صفت والامستحاضه په حق کښې په هروخت کښې داامکان موجود دې چه هغه به هم دغه وخت کښې دحيض نه پاکه شوې وی لهذا غسل واجب شو.([1])

دعلامه ابن بطال رحمه الله تحقيق: علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چا چه په حديث ام حبيبه کښې ((امرغسل لکل صلاة)) ذکر کړې دې نودا زياتې په هغه حضراتو باندې حجت نه دې چه ددغه زياتی باره کښې خاموش دی ځکه چه د ابن شهاب زهری رحمه الله اثبات تلامذه دا زياتې نه دې ذکرکړې اوبيا غسل واجب ګرخول د فرائض نه دی اوهيڅ يو فرض بغيرد يقين نه نه ثابتيږی. اودلته خو نه په دې مسئله کښې مضبوط دليل نه دهرمونځ دپاره د غسل واجب کيدل ثابت دی اونه په دليل داجماع سره، بلکه اجماع صرف دحيض په ختميدوباندې دغسل په واجب کيدو ده.([2])

د امام طحاوی رحمه الله تحقيق: امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه حديث ام حبيبه رضي الله عنها، حديث فاطمه بنت ابی جيش(په کوم کښې چه دهرمونځ دپاره داودس کولوحکم دې نه چه دغسل کولو) دوجې نه منسوخ دې. ځکه چه حضرت عائشه رضي الله عنها حديث فاطمه واختستو اود حديث ام حبيبه مخالفت کولوسره کومه فتوی جاری کړې وه هغه د وفات نبوی نه پس وه. اوحضرت عائشه رضي الله عنها بنه پوهيدله چه هغه د حضور پاك په اقوال کښې د چا مخالفت کوی اودچا موافقت، اودا ممکن نه ده چه هغه ناسخ پريږدی او په منسوخ باندې فتوی ورکړی بلکه هغه به يقيناً هم ناسخ اختستوسره فتوی ورکوی.([3])

دکلام حاصل دا راوځی چه ياخود ((وجوب غسل لکل صلاة)) حکم حضورپاك نه دې ورکړې بلکه دا د روات دخپل طرف نه اضافه ده يا سره ددې چه زياتوالې ثابت دې نوبيا دهرمونځ دپاره دغسل حکم په امرمندوب اومستحب کيدو باندې محمول دې اويابيا حديث ام حبيبه په حديث فاطمه بنت ابی جيش سره منسوخ دې. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په ځائی د يوحديث ناسخ او بل حديث ته منسوخ ونيلو نه اولی اوبهتر دادی چه دواړه روايتونه جمع کړې شی.([4])

قوله: فکانت تغتسل لکل صلاة: بعض حضرات فرمائی چه داد راوی خپل قول دې دحديث جز نه دې اوددې معنی داده چه حضرت ام حبيبه رضي الله عنها به هغه وينځلو کوم چه په شرمګاه سره لګيدلو

---

[1]) أعلام الحديث للخطابي: ۳۲۸/۱-۳۲۷.

[2]) شرح ابن بطال: ٤٥۹/۱-٤٥۸.

[3]) شرح معانی الآثار: ۸۲/۱المكتبة الحقانية، فتح الباري: ٤۲۸/۱شرح ابن بطال: ٤٥۹/۱عمدة القاري:٤٦۲/۳.

[4]) فتح الباري: ٤۲۸/۱.

ځکه چه د حضرت عائشه رضي الله عنها مشهور قول دادې چه په مستحاضه باندې د هر مونځ دپاره غسل کول واجب نه دی.[۱]

د حدیث ترجمة الباب سره مناسبت: په حدیث اوترجمة الباب کښې مناسبت بالکل واضح دې چه دواړو کښې د دم استحاضه په دم عرق کیدو باندې تذکره ده.

۲۷ - باب: اَلْمَرْأَةُ تَحِيضُ بَعْدَ الْأَفَاضَةِ.

ماقبل سره ربط: د باب سابق سره مناسبت دادې چه باب سابق کښې دمستحاضه ښځې حکم بیان کړې شوې وو او اوس په دې باب کښې د حائضه ښځې سره متعلق یوبل حکم بیانولې شی او استحاضه او حیض دواړه هم د یوقبیل نه دی.[۲]

د ترجمة الباب مقصد: دامام بخاری رحمه الله مقصد داخودل دی چه د طواف افاضه کولونه پس کوم چه د حج لونی رکن دې چرته حیض شروع شی نودطواف وداع دپاره حصاریدل ضروری نه دی خپل کورته واپس کیدې شی. (ځکه چه شریع داد حائضه ښځې په حق کښې ساقط کړې دې) هم طواف افاضه طواف رکن اوطواف زیارت ته (اوطواف یوم النحر) ونیلی شی.[۳]

ایا حائضه د طواف وداع کولونه بغیر واپس کیدې شی: په شروع کښې په دې مسئله کښې د اصحاب په مینځ کښې اختلاف وو که په ښځه باندې په داسې حالت کښې حیض شروع شی کوم وخت چه هغه دارکان حج نه فارغ شی اوصرف طواف وداع باقی پاتې شی نوآیا ښځې له به دعذر ختمیدو انتظار کول وی یا د طواف وداع نه بغیرهم د مکې نه واپس کیدې شی؟ دمذکوره روایت نه معلومه شوه چه په داسې صورت کښې حائضه ښځه د طواف وداع کولونه بغیر دمکې نه واپس کیدې شی په داسې حالت کښې به دښځې نه طواف وداع ساقط شی اوهم دغه د جمهور علماؤ مذهب دې اوهم په دې کښې ائمه اربعه هم داخل دی. دمذکوره روایت نه د استدلال طریق دادې چه کوم وخت حضورپاك ته د حرت صفیه بنت حیی باره کښې خبر ورکړې شو چه هغه حائضه شوې ده. نو حضورپاك اوفرمائیل «أحابستنا هي؟» یعنی ښکاری چه هغه به مونږ مکې ته د واپس کیدو نه منع کوی. لیکن بیا چه خبر ورکړې شو چه هغې طواف زیارت اداکړې دې نوحضورپاك اوفر مائیل چه بیا خو په واپس کیدوکښې هیڅ حرج نشته دې. ددې نه معلومه شوه چه د حائضه نه طواف وداع ساقط دې. البته د اصحاب یوجماعت ددې اختلاف کړې دې. دهغوی وینا ده چه دچا دپاره هم د مکې نه بغیرد طواف وداع واپسی جائز اوحلال نه ده تردې چه دحائضه دپاره هم.[۴]

ابن المنذر رحمه الله فرمائی چه دادعدم جوازقول دحضرت عمر، حضرت عبدالله بن عمر او حضرت زید بن ثابت رضي الله عنهم نه نقل دې. دا حضرات فر مائی که یوې ښځې د حج ټول ارکان ادا کړې وی اوصرف طواف وداع باقی وی نوبیا به هم دغه حائضه ښځه د طواف وداع دپاره دعذر ختمیدو انتظارکوی

---

[۱] شرح ابن بطال: ٤٥٨/١عمدة القاری: ٤٦٢/٣.
[۲] عمدة القاری:٤٦٣/٣.
[۳] عمدة القاری: ٤٦٣/٣.
[۴] عمدة القاری: ١٣٦/١٠شرح ابن بطال: ٤٢٦/٤فتح الباری: ٣/٥٨٧شرح الزرقانی علی المؤطا: ٥٠٢/٢ مرقاة المفاتیح: ٣١١/٩-٣١٠.

لکه چه د دوی په نیز ځنګه طواف افاضه په دې واجب ده هغه شان طواف وداع هم په دې واجب ده.
ابن المنذر رحمه الله داحکم دحضرت عمر نه په صحیح سندسره عن نافع عن ابن عمر په طریق سره روایت کړې دې د روایت الفاظ دادی«عن ابن عمر قال: طافت امرأة بالبیت یوم النحر ثم حاضت، فأمر عمر بحبسها بمکة بعد أن ینفر الناس، حتی تطهر وتطوف بالبیت» یعنی ابن عمر رضي الله عنهما فرمائی یوځل داسې اوشو چه په یوه ښځه باندې په لسم ذی الحجه (یوم النحر) طواف (زیارت) کولونه پس حیض شروع شو، نوحضرت عمر رضي الله عنه هغې ته هم په مکه کښې دحصاریدو حکم ورکړو ترهغه وخته پورې چه هغه دحیض نه پاکه شی اوطواف (وداع) اوکړی.
دې نه پس ابن المنذر رحمه الله فرمائی چه حضرت ابن عمر او حضرت زیدبن ثابت رضي الله عنهما نه خو ددې خپل قول نه رجوع ثابته ده. پاتې شوه خبره د حضرت عمر رضي الله عنه، نود دې په جواب کښې دثبوت په توګه مونږ سره د حضرت عائشه رضي الله عنها حدیث باب دې. دغه شان دحدیث باب دمعنې نورو روایاتونه هم د حضرت عمر رضي الله عنه دمذهب مخالفت کیږی. [1]

چنانچه ابن ابی شیبه رحمه الله د قاسم بن محمد په طریق سره روایت کوی: «کان الصحابة یقولون: إذا أفاضت المرأة قبل أن تحیض، فقد فرغت إلا عمر رضی الله عنه، فإنه کان یقول: آخر عهدها بالبیت» [2] یعنی حضرات صحابه کرام رضي الله عنهم به فرمائیل که چرې ښځه دحیض شروع کیدونه وړاندې طواف زیارت اوکړی نوهغه دحج نه فارغ کیږی، بغیرد حضرت عمر رضي الله عنه د وینانه، ځکه چه هغوی به فرمائیل چه ددې آخری عمل طواف (وداع) دې.
بل دحضرت عمر رضي الله عنه په موافقت کښې دحضورپاك نه نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم هم دا مسئله روایت کړې ده. چنانچه امام احمد رحمه الله امام ابوداؤد رحمه الله اوامام طحاوی رحمه الله د «ولید بن عبدالرحمن عن الحارث بن عبدالله بن أوس الثقفی» په طریق سره روایت کوی: «أتیت عمر رضی الله عنه، فسألته عن المرأة تطوف بالبیت یوم النحر ثم تحیض؟ قال: لیکن آخر عهدها بالبیت، فقال الحارث: کذلك أفتانی رسول الله صلی الله علیه وسلم. فقال عمر: أربت عن یدیك! سألتنی عن شیء سألت عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم، لکیما أخالفه......!» یعنی حارث بن عبدالله بن اوس ثقفی رضي الله عنه فرمائی زه حضرت عمر رضي الله عنه له راغلم اودهغوی نه مې دهغه ښځې باره کښې سوال اوکړو چاته چه د یوم النحر د طواف زیارت نه پس حیض راغلې وی؟ نوحضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائیل د دغه ښځې آخری عمل طواف (وداع) کیدل پکاردی. په دې باندې حارث بن عبدالله رضي الله عنه اوفرمائیل ماته رسو الله صلی الله علیه وسلم په دې مسئله کښې په دې باندې فتوی راکړې وه نوحضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائیل ستا لاسونه دې مات شی تامانه د یوداسې څیز باره کښې سوال اوکړودکوم چه تادحضورپاك نه هم تپوس کړې، دې دپاره چه مادهغوی مخالفت کړې وې. دا الفاظ د امام ابوداؤد رحمه الله د روایت دی. [3]

[1] عمدة القاري: ۱۳۶/۱۰شرح ابن بطال: ۴۲۶/۴فتح الباري: ۵۸۷/۳شرح الزرقاني على الموطا: ۵۰۲/۲ مرقاة المفاتیح: ۹/ ۳۱۱-۳۱۰.
[2] مصنف ابن أبی شیبة: ۱۴۰/۸رقم الحدیث: ۱۳۳۴۰.
[3] سنن أبی داؤد کتاب المناسک باب الحائض تخرج بعدالإفاضة رقم الحدیث: ۲۰۰۴مسند الإمام أحمد. مسند حارث بن عبدالله بن عوف: ۱۷۵/۲۴رقم الحدیث: ۱۵۴۴ شرح معانی الآثار کتاب المناسک باب المرأة تحیض بعد ما طافت للزیارة رقم الحدیث:۳۷۴۷.

امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه حدیث حضرت عمر رضی الله عنه او نور احادیث دحضرت عائشه رضی الله عنها د روایت باب اوحدیث ابن عباس رضی الله عنهما دوجي نه منسوخ دی. دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما روایت امام طحاوی رحمه الله په دې سندسره ذکر کړې دې: «حدثنا یونس قال حدثنا سفیان عن ابن طاؤوس عن أبیه عن ابن عباس: أمر الناس أن یکون آخر عهدهم بالبیت إلا أنه قد خفف عن المرأة الحائض»[1] یعنی خلقوته به حکم ورکولې شو چه حج کولووخت کښې دهغوی آخری عمل دې د بیت الله طواف وی، البته حائضه ښځه باندې په دې معامله کښې تخفیف کړې شوې دې.

دا روایت امام مسلم رحمه الله هم روایت کړې دې.[2] لیکن په دې باندې اشکال کیدې شی چه دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه په دې مسئله کښې مطلق روایت هم نقل دې په کوم کښې چه دحائضه استثنی نشته دې اود هغه روایت تخریج امام طحاوی رحمه الله کړې دې. د روایت الفاظ دادی: «حدثنا یونس قال حدثنا سفیان عن سلیمان وهو ابن أبی مسلم الأحول عن طاؤوس عن ابن عباس: قال: کان الناس ینفرون من کل وجه، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا ینفرن أحد حتی یکون آخر عهده الطواف بالبیت»[3] یعنی حضورپاک ﷺ اوفرمائیل چه څوك دې هم د طواف وداع نه بغیرواپس نه څی. چنانچه دا روایت دچانه هم په طواف وداع ساقط کیدو باندې دلالت نه کوی.[4]

الحدیث الأول

[۳۲۲]-حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ، أَخْبَرَنَا مَالِكٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ قَدْ حَاضَتْ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَعَلَّهَا تَحْبِسُنَا أَلَمْ تَكُنْ طَافَتْ مَعَكُنَّ»، فَقَالُوا: بَلَى، قَالَ: «فَاخْرُجِي»[5][۱۶۷۰، ۱۷۳۳، ۱۷۷۱، ۱۷۶۲، ۴۱۴۰، ۵۰۱۹، ۵۸۰۵]

ترجمه: حضرت عائشه رضی الله عنها دنبی کریم ﷺ په خدمت کښې عرض اوکړواې د الله تعالی رسول ﷺ! په صفیه بنت حیی باندې حیض شروع شوې دې. حضورپاك اوفرمائیل ښکاری چه هغه به مونږ دتلو نه منع کړی، آیا هغې تا سره طواف زیارت کړې وو؟ عرض ئې اوکړو اوجی. حضوپاك اوفرمائیل بیا خوځنې چه خو.

[1] شرح معانی الآثار کتاب المناسک باب المرأة تحیض بعد ما طاقت للزیارة رقم الحدیث:۲/۲۳۵-۲۳۳ رقم الحدیث: ۳۷۵.

[2] صحیح مسلم کتاب الحج باب وجوب طواف الوداع وسقوطه عن الحائض رقم الحدیث: ۳۲۲.

[3] شرح معانی الآثار کتاب المناسک باب المرأة تحیض بعد ما طاقت للزیارة رقم الحدیث:۳۷۳۹.

[4] عمدة القاری: ۱۰/۱۳۷.

[5] قوله: عائشة، الحدیث، أخرجه الإمام البخاری أیضاً فی الحج باب الزیارة یوم النحر رقم الحدیث: ۱۷۳۳ وکذا فی المغازی باب حجة الوداع رقم الحدیث:٤٤٠١ والإمام مسلم فی الحج باب وجوب طواف الوداع وسقوطه عن الحائض رقم الحدیث: ۹٤۲ والإمام أبوداؤد فی ا لمناسک باب الحائض تخرج بعدالحدیث: ۲۰۰۳ والنسائی فی کتاب الحیض باب المرأة تحیض بعد الإفاضة رقم الحدیث: ۳۹۱ والإمام ابن ماجه فی المناسک باب الحائض تنفر قبل أن تودع رقم الحدیث: ۳۰۷۳-۳۰۷۲ وجامع الأصول فی أحادیث الرسول صلی الله علیه وسلم: ۳/۲۰٤ رقم الحدیث:۱٤۸۸.

تراجم رجال

عبدالله بن يوسف: دا مشهور امام اومحدث ابومحمد عبدالله بن يوسف تنيسى كلاعى دمشقى رحمه الله دې. ددوى مختصرحالات بدءالوحى د دويم حديث لاندې [۱]اوتفصيلى حالات كتاب العلم باب ليبلغ العلم الشاهدالغائب د رومبى حديث لاندې تيرشوى دى.[۲]

مالك: دا امام دارالهجره عالم المدينه امام مالك بن انس بن مالك بن ابى عامر بن عمرو الاصبحى المدنى رحمه الله دې. ددوى كنيت ابوعبدالله دې. د دوى مختصر حالات بدءالوحى دويم حديث لاندې [۳]اوتفصيلى حالات كتاب الايمان باب من الدين الفرارمن الفتن د وړاندې حديث لاندې ذكركولې شى.[۴]

عبدالله بن أبي بكر: داعبدالله بن ابى بكر مدى انصارى رحمه الله دې. امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى «حديثه شفاء» ددوى حالات كتاب الوضوء باب الوضوء مرتين مرتين لاندې تيرشوى دى.

أبوبكربن محمدبن عمرو بن حزم: دا ابوبكر بن محمدبن عمرو بن حزم انصارى خزرجى نجارى مدنى رحمه الله دې. ابوبكرد دوى نوم دې اوبعض حضراتوددوى كنيت ابومحمد ذكركړې دې. ددوى حالات كتاب العلم باب كيف يقبض العلم لاندې تيرشوى دى.[۵]

عمرة بنت عبدالرحمن: دامشهوره تابعيه ابوالرجال محمدبن عبدالرحمن مور حضرت عمره بنت عبدالرحمن بن سعديا سعد بن زراره انصاريه مدنيه رحمهاالله ده. دادحضرت عائشه رضي الله عنها په لاس كښې لويه شوې ده.[۶] د حضرت عائشه رضي الله عنها احاديث دټولو نه زيات پيژندونكې ده.[۷]

عائشة: دا ام المؤمنين حضرت سيده عائشه بنت ابى بكر صديق رضي الله عنهما ده. ددوى حالات «بدءالوحى» ددويم حديث لاندې تفصيلاً تيرشوى دى.[۸]

شرح حديث

قوله:: إن صفية بنت حيي: صفية (بفتح المهملة وكسر الفاء وتشديد التحتانية) بنت حيى (بضم المهملة وبالتحتانيتين، الأولى مفتوحة والثانية مشددة) ابن أخطب (بفتح الهمزة والخاء المعجمة وإهمال الطاء) النضرية (بفتح النون وسكون الضاد المعجمة).

د حضرت صفيه بنت حيى تعارف: دحضرت صفيه بنت حيى بن اخطب رضي الله عنها نسب د حضرت موسى عليه السلام رور حضرت هارون عليه السلام سره ملاويږى. د فتح خيبر په موقع باندې د مال غنيمت په توګه

---

[۱] كشف الباري: ۲۸۹/۱.
[۲] كشف الباري: ۱۱۳/٤.
[۳] كشف الباري: ۲۹۰/۱.
[۴] كشف الباري: ۸۰/۲.
[۵] كشف الباري: ٦۹/٤.
[۶] الكاشف: ۵۱٤/۲ تهذيب الكمال:۲٤۱/۳۵ تهذيب التهذيب:۳۸۹/۱۲.
[۷] كتاب الثقات لابن حبان: ۲۸۸/۵.
[۸] كشف الباري: ۲۹۱/۱.

دخضورپاك لاس ته راغله حضورپاك هغه آزاده كړه اوورسره ئې نكاح اوكړه اودهغې آزادي ئې دهغې حق مهر مقرركړو. دې نه لس احاديث نقل دي په كوم كښې چه يوحديث امام بخاري رحمه الله روايت كړې دې. علامه واقدي رحمه الله فرمائي چه ددې انتقال د حضرت معاويه رضي الله عنه په دور خلافت كښې ۳۶هجري كښې شوې.[1]

قوله::لعلها تحبسنا: دلته لعل دترجي دپاره نه دې بلكه يا خود استفهام په معنى كښې دې چه آيا اوس به هغه مونږ دتلو نه منع كوي؟ يا بيا دتردد پيداكولوپه معنى كښې دې اويا بيا ظن اوگمان. يا هم ددې په شان معنى كښې دې. يعني ښكاري چه هغه به مونږ منع كړي، يازما گمان دې چه هغه به مونږ منع كوي.[2]

اوددې جملې مطلب دادې حضورپاك ته چه كله دصفيه بنت حيي رضي الله عنها دحيض متعلق خبر وركړې شو نو حضورپاك د استفهام يا دتردد اوگمان په توگه دا اوونيل چه ښكاري اوس به هغه مونږ دمكې نه مدينې طرف ته د واپس تلو نه منع كوي. ځكه چه طواف ركن (افاضه اوزيارت) فرض دې اوتركوې چه هغه پاكه شوې نه وي اوطواف زيارت ئې نه وي كړې مونږ به هم هغې سره حصاريږو. خو چه بيا كله رسول الله صلى الله عليه وسلم د طواف زيارت متعلق تپوس اوكړو نوحضورپاك ته اوخودلې شو چه او جي هغوى طواف زيارت ادا كړې دې نوبيا حضورپاك اوفرمائيل چه كله فرائض اداشوي دي نو اوس په واپسنې كښې هيڅ حرج نشته دې.[3]

قوله::طاقت: دلته دطواف نه مراد طواف زيارت دې او بعض نسخوكښې دطاقت په ځائې د أفاضت لفظ استعمال شوې دې يعنې هغې تاسو ښخوسره طواف افاضه ادا نه كړو؟ طواف ته طواف افاضه طواف ركن او طواف زيارت هم وائي.[4]

قوله::فقالوا: يعني دې ښځو اودوي سره چه ددوي محرم خپلوان وو هغوي اوونيل خودا توجيه صحيح نه ده ځكه چه په دې كښې مؤنث په مذكرباندې غالب كول دي.[5]

علامه كرماني رحمه الله فرمائي «فقالوا: أي: قال الناس» يعني خلقو اوونيل گني د سياق كلام تقاضاداده چه دلته فقلن د جمع مؤنث صيغه يا بيا فقلنا د جمع متكلم صيغه كيدل پكاردي.[6]

علامه عيني رحمه الله فرمائي چه بهتر توجيه داده چه د "قالوا" معنى "قال الحاضرون هناك" سره اوكړې شي اوښكاره شان خبره ده چه دې حاضرين كښې سړي هم وو او ښځې هم.[7]

قوله::فاخرجي: اكثر روات هم دغه شان مفرد مؤنث مخاطب په صيغه سره روايت كړې دې. دمستملي رحمه الله اوكشميهني رحمه الله په روايت كښې "فاخرجن" د جمع مؤنث مخاطب صيغه ده.[1]

---

[1]) شرح الكرماني: ۲۰۳/۳عمدة القاري: ۴۶۳/۳إرشادالساري: ۳۶۳/۱.

[2]) شرح الكرماني: ۲۰۳/۳عمدة القاري: ۴۶۳/۳منحة الباري: ۶۶۰/۱

[3]) حواله بالا.

[4]) شرح الكرماني: ۲۰۳/۳عمدة القاري: ۴۶۳/۳منحة الباري: ۶۶۰/۱

[5]) عمدة القاري: ۴۶۴/۳.

[6]) شرح الكرماني: ۲۰۳/۳ منحة الباري: ۶۶۰/۱

[7]) عمدة القاري: ۴۶۳/۳إرشادالساري: ۳۶۳/۱.

د فاخرجي مخاطب څوک دې؟ فاخرجي دمفرد مؤنث مخاطب صيغه كيدو په صورت كښې به توجيه داسې چه حضورپاك دغائب نه دحاضر طرف ته التفات فرمائيلې دې اوحضرت صفيه بنت حيي رضي الله عنها ئې حاضره گنړلوسره هغې ته د روانيدو حكم وركړې دې. يا بيا دلته خطاب هم حضرت عائشه رضي الله عنها ته دې ځكه چه دحضرت صفيه بنت حيي رضي الله عنها باره كښې خبر وركونكې هم حضرت عائشه رضي الله عنها وه. په دې وجه حضورپاك خطاب هم هغې ته اوفرمائيلو چه ځنې دمكې نه دمدينې طرف ته روانيږئ. ځكه چه كله تاسو خروج اوكړئ نو ښكاره خبره ده چه بيا به دصفيه بنت حيي رضي الله عنها دپاره هم دلته حصاريدل ټيك نه وي ځكه چه فرض خوهغې هم اداكړې دى لهذا ستاسو په روانيدو به هغه هم روانه شي. دې نه علاوه يو بله توجيه هم بيان كړې شوې ده اوهغه داده چه دلته كلام مقدر دې اوتقديرى عبارت داسې دې: ((قال النبي صلى الله عليه وسلم لعائشة: قولي لها: اخرجي)) [۱] او دويم صورت "فاخرجن" سياق موافق دې. [۲] علامه عيني رحمه الله فرمائي چه دلفظ "فاخرجن" په شروع كښې موجود فاء كښې درې احتماله دى. رومبې احتمال دادې چه دا فاء د أما مقدره په جواب كښې دې اوتقديرى عبارت داسې دې: ((أما أنت فاخرجي كما يخرج غيرك)) دويم احتمال دادې چه دا فاء زائده ده اودريم احتمال دادې چه ددې جملې عطف په جمله محذوفه باندې دې دكوم تقديرى عبارت چه دادې: ((اعلمي أن ما عليك التأخر، فاخرجي)) [۴]

د حديث باب نه مستفاد امور: شراح كرامو ددې حديث لاندې ليكلي دى چه په دې حديث كښې دا لاندينو دريو امورو باندې دليل دې① دحائضه نه طواف وداع ساقط دې② طواف افاضه ركن دې د كوم اداكول چه ضروري دى③ طواف افاضه د چانه هم ساقط نه دې نه د حائضه نه اَونه د بل چانه. [۵] لهذا كه په يوه ښځه باندې د طواف افاضه د اداكولونه وړاندې حيض راغلو نوهم به هم هلته انتظاركوي تردې چه هغه پاكه شي اوبيا طواف افاضه اداكړي اوكه چرې څوك حائضه د طواف زيارت نه وړاندې خپل وطن ته واپس شوه نود طواف زيارت نه كولو په وجه نه به هغه هم محرمه پاتې وي تركومې چه هغه طواف زيارت ادانه كړي. [۶]

بل په صحيح مسلم كښې دي: ((قالت صفية: ما أراني إلا حابستكم. قال: عقري حلقي أوما كنت طفت يوم النحر؟ قالت: بلى، قال: لابأس، انفري)) ددې په شرح كښې علامه نووي رحمه الله فرمائي چه كله حضرت صفيه بنت حيي رضي الله عنها ته د طواف وداع نه وړاندې حيض راغلو نوحضرت صفيه رضي الله عنها اوفرمائيل چه اوس زما دپاره طواف كول ممكن نه دى ځكه چه دهغې گمان دا وو چه د حائضه نه هم طواف وداع ساقط نه

---

[۱] عمدة القاري: ۴۶۳/۳ شرح الكرماني: ۲۰۳/۳ إرشادالساري: ۳۶۳/۱ منحة الباري: ۶۶۰/۱

[۲] عمدة القاري: ۴۶۴/۳ شرح الكرماني: ۲۰۳/۳ إرشادالساري: ۳۶۳/۱.

[۳] حواله بالا.

[۴] عمدة القاري: ۴۶۴/۳.

[۵] شرح الكرماني: ۲۰۳/۳عمدة القاري: ۴۶۴/۳ منحة الباري: ۶۶۰/۱فتح الباري لابن رجب: ۱۷۲/۲ شرح النووي على صحيح الإمام مسلم: ۸۱/۹-۸۰.

[۶] شرح الكرماني: ۲۰۳/۳عمدة القاري: ۴۶۴/۳ منحة الباري: ۶۶۰/۱فتح الباري لابن رجب: ۱۷۲/۲ شرح النووي على صحيح الإمام مسلم: ۸۱/۹-۸۰.

دي. ليكن چه كله حضورپاك ته خبر اوشو اوحضورپاك دهغې نه د يوم النحرد طواف تپوس اوكړو نوحضرت صفيه رضي الله عنها په اثبات كښې جواب وركړو په دې باندې حضورپاك اوفرمائيل «يكفيك ذلك» يعنى بس بياخودا طواف ركن ستاد پاره كافي دې. ځكه چه طواف ركن خو حضرت صفيه رضي الله عنها ادا كړې وو. لهذا هغه نې اوس په ذمه باقي پاتې نه شو اوطواف وداع د حيض په وجه ساقط شو.[1]

د دې روايت نه داهم معلومه شوه چه حديث: «لا ينفرن أحد حتى يكون آخر عهده بالبيت» نه د حائضه مسئله مستثنى ده ځكه چه په حائضه باندې طواف وداع نشته دې اوداهم معلومه شوه چه د محرم دپاره بغيرد طواف زيارت نه دمكې نه وتل جائزنه دى. لهذا كه څوك بغيرد اداكولونه اوځي نوحلال كيږى به هم نه تركومې چه واپس رانه شي او طواف زيارت ادانه كړي.[2]

علامه عينى رحمه الله فرمائى چه كه ښځه د طواف زيارت كولونه وړاندې دمكې نه لاړه نوهميشه به محرمه پاتې وى تركومې پورې چه طواف نه كوى. دهغې خاوند دې سره جماع هم نه شى كولې البته د جماع نه علاوه به په نوروامورو كښې هغه محرمه نه شميرلې كيږى.[3]

حديث اوترجمة الباب كښې مناسبت: حديث اوترجمة الباب كښې مناسبت واضح دې اوهغه داسې چه په ترجمة الباب كښې د طواف افاضه نه پس دښځې حائضه كيدو عنوان قائم كړې شو اوبيائى په حديث كښې دحضرت صفيه رضي الله عنها واقعه ذكركړه چه هغې ته هم د طواف افاضه نه پس حيض راغلې وو. يعنى په ترجمة الباب اوحديث دواړو كښې دطواف افاضه نه پس دښځې د حائضه كيدو ذكر دې.[4]

الحديث الثاني

[۳۲۳]- حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «رُخِّصَ لِلْحَائِضِ أَنْ تَنْفِرَ إِذَا حَاضَتْ»

۳۳۰- وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُولُ: "فِي أَوَّلِ أَمْرِهِ إِنَّهَا لَا تَنْفِرُ، ثُمَّ سَمِعْتُهُ يَقُولُ: «تَنْفِرُ، إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ لَهُنَّ»[5][۱۲۲۸، ۱۷۷۱، ۱۷۷۲]

ترجمه: حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه دحائضه دپاره (چه هغې طواف زيارت اداكړې وى) رخصت دې كه چرې هغه حائضه شوې ده نوهغه دې كورته ځى. حضرت ابن عمر رضي الله عنهما به په شروع

---

[1] شرح النووى على صحيح الإمام مسلم: ۱۵۳/۸شرح الكرمانى: ۲۰۳/۳منحة البارى: ۱/۶۶۰ فتح البارى لابن رجب: ۱۷۲/۲عمدة القارى: ۴۶۴/۳.

[2] أعلام الحديث للخطابى: ۳۳۱/۱-۳۳۰شرح الكرمانى: ۲۰۳/۳ فتح البارى لابن رجب: ۱۷۲/۲ عمدة القارى: ۴۶۴/۳ .

[3] عمدة القارى: ۴۶۴/۳

[4] عمدة القارى: ۴۶۳/۳.

[5] قوله: عن ابن عباس: الحديث رواه البخارى ى الحج أيضاً باب إذا حاضت المرأة بعد ما أفاضت، رقم الحديث: ۱۷۶۱-۱۷۶۰ومسلم فى الحج باب وجوب طواف الوداع وسقوطه عن الحائض رقم الحديث: ۳۲۲۰وجامع الأصول فى أحاديث الرسول الكتاب الأول فى الحج والعمرة الباب الرابع فى الطواف والسعى، الفصل الثانى، الحكم الخامس فى طواف الوداع: ۲۰۳/۳رقم الحديث: ۱۴۸۷.

كنبې په دې مسئله كنبې دافرمائيل چه هغې له نه دی تلل پكار. بيا ما هغه داسې وئيلوسره واؤريدو چه څې دې څكه چه رسول الله ﷺ هغې ته رخصت وركړې دې.

تراجم رجال

معلى بن أسد: دا ابوالاسود بهزاسد كشر رور الحافظ الحجة ابوالهيثم معلى بن اسد العمى بصرى رحمه الله دې.[1]

هغوى د عثمان بن بزيع، سلام بن ابي مطيع، سلام ابى المنذر القاري، ابوزياد شبيب بن مهران القسملي، عبدالله بن المثنى، وهيب بن خالد، يزيدبن زريع، حماد بن زيد او عبدالعزيز بن المختار رحمهم الله وغيره نه حديث روايت كړې.

اوددوى نه امام بخاري، امام مسلم، امام ترمذي، امام نسائى امام ابن ماجه، حجاج، احمدبن يوسف السلمي، سليمان بن معبد، حفص بن عمرسنجه، ابومحمددازمي، عثمان دارمي، هلال بن العلاء، علي بن عبدالعزيزبغوى اواحمدبن الحسن ترمذى رحمهم الله وغيره حديث روايت كوى.[2]

ابوحاتم رحمه الله فرمائى ثقة. نور فرمائى چه ما سواد يوحديث نه په بل يوحديث كنبې د دوى نه څه غلطى نه ده ليدلې.[3] امام عجلى رحمه الله فرمائى: «شيخ بصري ثقة كيّس وكان معلماً»[4] علامه ذهبى رحمه الله فرمائي «كان من الأئمة الأثبات»[5] مسلمه بن قاسم رحمه الله فرمائى ثقة.[6] مسعود بن الحكم رحمه الله فرمائى «ثقة مأمون»[7]. ابن حبان رحمه الله دهغوى ذكر كتاب الثقات كنبې كړې دې.[8]

ابن حبان رحمه الله دهغوى تاريخ وفات ٢١٨هجرى ذكركړې دې.[9] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه د ابن حبان رحمه الله نه علاوه ابن قانع اوقراب هم دغه تاريخ وفات خودلې دې. خو خليفه رحمه الله ددوى تاريخ وفات ٢١٩هجرى خودلې دې.[10]

وهيب: دا وهيب بن خالد بن عجلان بصرى باهلى رحمه الله دې. ددوى حالات كتاب الإيمان باب تفاضل أهل الإيمان في الأعمال لاندې تيرشوى دى.[11]

عبدالله بن طاؤوس: دا ابومحمدعبدالله بن طاؤوس بن كيسان بن اليمان الابناوى رحمه الله دې.[12]

---

[1] سيرأعلام النبلاء: ٦٢٦/١٠تهذيب التهذيب٢٨٢/٢٨الكاشف فى معرفة من له الرواية فى الكتب السنة: ٢٨١/٢دار القبلة.

[2] تلامذه اوشيوخ دپاره اوګورئى تهذيب الكمال: ٢٨٣/٢٨-٢٨٢تهذيب التهذيب: ٢٣٦/١٠.

[3] الجرح والتعديل: ٣٣٥/٨.

[4] معرفة الثقات للعجلى: ٢٨٩/٢.

[5] سيرأعلام النبلاء: ٦٢٦/١٠

[6] تهذيب التهذيب: ٢٣٦/١٠.

[7] حواله بالا

[8] ١٨٢/٩.

[9] حواله بالا.

[10] تهذيب التهذيب: ٢٣٧/١٠.

[11] كشف البارى: ١١٨/٢.

[12] تهذيب الكمال: ١٣٠/١٥ تهذيب التهذيب: ٢٦٧/٥سيرأعلام النبلاء: ١٠٣/٦الجرح والتعديل: ١٠٥/٥.

هغوى د خپل پلار طاؤوس بن كيسان،عطاء بن ابى رباح،عكرمه بن خالد مخزومى،عكرمه مولى ابن عباس،عمرو بن شعيب، على بن عبدالله بن عباس،محمدبن ابراهيم بن الحارث،وهب بن منبه، ابوبكربن محمدبن عمروبن حزم اوسمان بن يزيد رحمهم الله د حديث روايت كړې دې.
اوددوى ابراهيم بن ميمون صنعانى،ابراهيم بن نافع مكى، ايوب سختيانى، حماد بن زيد ،روح بن القاسم،محمدبن اسحاق بن يسار ،دهغوى دوارہ ځامن طاؤوس بن عبدالله بن طاؤوس اومحمدبن عبدالله بن طاؤوس،عبدالملك بن جريج،معمربن راشد، سفيان ثورى او سفيان بن عيينه رحمهم الله دحديث روايت كوى.[1]امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى ثقة.[2] امام نسائى رحمه الله فرمائى ثقة. [3]معمر رحمه الله فرمائى: «مارأيت ابن فقيه مثل ابن طاؤوس»[4] نورفرمائى: «كان من أعلم الناس بالعربية وأحسنهم خلقاً»[5] ابن حبان رحمه الله د دوى ذكر كتاب الثقات كښې كړې دې.[6] امام عجلى رحمه الله فرمائى ثقة.[7] علامه ذهبى رحمه الله دهغوى دپاره «الإمام المحدث الثقة»غوندې كلمات استعمال كړى دى. [8]
ابن حبان رحمه الله فرمائي چه ددوى انتقال دايوب سختيانى رحمه الله نه يو كال پس شوې دې. اودې دالله تعالى د ډير صاحب فضل او عبادت ګذارو بنديګانونه وو[9]هيثم بن عدى فرمائى چه ددوى انتقال دابوالعباس په دوركښې شوې دې اوابن عيينه فرمائى ددوى انتقال ۱۳۲هجرى كښې شوې [10]
طاؤوس بن كيسان: دا طاؤوس بن كيسان اليمانى الحميرى رحمه الله دې. دې د ابناء فارس نه دې. ددوى باره كښې عمرو بن دينار رحمه الله فرمائى«لا تحسبن أحد أصدق لهجة منه»[11]ددوى انتقال ۱۰۶هجرى كښې شوې اوبعض حضرات فرمائى چه د ۱۰۶ هجرى نه پس نى انتقال شوې.[12] د دوى حالات كتاب الوضوء،باب من لم ير الوضوء إلا من المخرجين لاندې تيرشوى دى.
ابن عباس: دا ترجمان القرآن د رسول الله ﷺ د تره خونى حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دې. ددوى مختصر حالات د بدء الوحى ځلورم حديث لاندې او تفصيلى حالات كتاب الإيمان،باب كفران العشير لاندې تير شوى دى.[13]

شرح حديث

[1] تلامذه اوشيوخ دپاره اوګورئى تهذيب الكمال:۱۳۱/۱۵تهذيب التهذيب:۲۶۷/۵.
[2] الجرح والتعديل: ۱۰۶/۵.
[3] تهذيب الكمال:۱۳۱/۱۵تهذيب التهذيب:۲۶۷/۵.
[4] تهذيب الكمال:۱۳۱/۱۵تهذيب التهذيب: ۲۶۷/۵سير أعلام النبلاء: ۱۰۳/۶عمدة القارى:۴۶۴/۳.
[5] حواله بالا.
[6] ۴/۷.
[7] معرفة الثقات للعجلى:۳۸/۲.
[8] سير أعلام النبلاء: ۱۰۳/۶.
[9] كتاب الثقات لابن حبان: ۴/۷.
[10] تهذيب الكمال: ۱۳۱/۱۵تهذيب التهذيب:۲۶۷/۵.
[11] تهذيب الكمال: ۳۵۹/۱۳-۳۵۷تهذيب التهذيب:۸/۵
[12] تهذيب الكمال: ۳۷۴/۱۳تهذيب التهذيب:۱۰/۵-۹ تقريب التهذيب: ۲۸۱/۱.
[13] كشف البارى: ۴۳۵/۱، ۲۰۵/۲.

علامه عيني رحمه الله فرمائي چه امام بخاري رحمه الله دلته د حضرت ابن عباس او حضرت ابن عمر رضي الله عنهم آثار د حديث باب معنى او مراد دنورو واضحه كولوپه غرض سره نقل كړي دي.[1]

قوله: أن تنفر: تنفر بكسر الفاء وضمها، دواړه شان لوستلې شي ليكن ډير فصيح په كسره سره دې.[2]

او أن مصدريه دې چه د رفع په محل كښې واقع دې اوتقديري عبارت داسې دې: «أي: رخص لهن النفور» يعنى حائضه ښځې د طواف وداع نه بغير خپل وطن ته د واپس تلو رخصت او اجازت دې.[3]

قوله: رخص: په صيغه مجهول، شراح حديث فرمائي چه رخصت د شريعت هغه حكم دې چه د عذر د وجې نه خلاف دليل ثابت دې، اود بعض ويناده رخصت هغه امرمشروع دې دكوم مشروع كيدل چه د څه عذر دوجې نه كيږي اودهغې محرم هم قائم او باقي وي. كه چرې عذر نه وي نو هغه امر به مشروع هم نه وي.[4] اوعذر يوداسې وصف دې چه په مكلف باندې جاري كيدوسره دهغه دپاره په حكم كښې د آسانتيا سبب جوړيږي.[5]

قوله: وكان ابن عمر يقول: دادطاؤوس بن كيسان كلام دې اوپه سندمذكوره كښې داخل دې.[6]

قوله: في أول أمره: يعنى تركومې چه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ته داحديث نه وو رسيدلې هغه به په خپل اجتهاد سره د هر يو د پاره دعدم جواز د رجوع قائل وو چه څوك به هم د طواف وداع نه بغير د مكې نه نه شي واپس كيدې.[7]

قوله: ثم سمعته يقول: يعنى طاؤوس بن كيسان رحمه الله فرمائي چه بيا ما حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما داسې وينا كولوسره واؤريدو چه كه حائضه طواف ركن كړې وي نودمكې نه خپل وطن ته واپس تلې شي. مقصد داخودل دي چه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دخپلې سابقه فتوې نه رجوع كړې وه.[8]

قوله: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم: داد حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دكلام حصه ده او په دې كښې د سابقه فتوى نه د رجوع علت بيا كړې شوې دې. دكوم مفهوم چه دادې تركومې پورې چه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ته روايت نه وو رسيدلې هغوى به په خپل اجتهاد سره فتوى وركړه خوچه كله حديث رسول صلى الله عليه وسلم وراورسيدو اوهغه دده اجتهاد سره ټكرؤ خوړلو نوهغه د خپلې فتوې نه رجوع

---

[1] عمدة القاري، ٤٦٤/٣.
[2] عمدة القاري: ٤٦٥/٣، شرح الكرماني: ٢٠٤/٣، إرشادالساري: ٣٦٣/١.
[3] عمدة القاري: ٤٦٥/٣، شرح الكرماني: ٢٠٤/٣، إرشادالساري: ٣٦٣/١.
[4] عمدة القاري: ٤٦٥/٣، شرح الكرماني: ٢٠٤/٣.
[5] عمدة القاري: ٤٦٥/٣، شرح الكرماني: ٢٠٤/٣.
[6] عمدة القاري: ٤٦٥/٣، فتح الباري: ٤٢٧/١، شرح الكرماني: ٢٠٤/٣.
[7] عمدة القاري: ٤٦٥/٣، فتح الباري: ٤٢٧/١، شرح الكرماني: ٢٠٤/٣.
[8] عمدة القاري: ٤٦٥/٣، فتح الباري: ٤٢٧/١، شرح الكرماني: ٢٠٤/٣.

اوکړه. اويا بيا حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما چرته بل يوصحابي د حضورپاك نه د حائضه باره کښې رخصت اواجازت بيانولوسره واوريدو نوبيائې د خپلې فتوې نه رجوع اوکړه. [1]

د حديث ترجمة الباب سره مناسبت: په حديث اوترجمة الباب کښې مناسبت واضح دې چه په دواړو کښې دحائضه دپاره د طواف وداع نه وراندې دمکې نه دواپس تلو رخصت اواجازت ذکر دې. [2]

۲۸ - باب: إِذَا رَأَتِ الْمُسْتَحَاضَةُ الطُّهْرَ.

ماقبل سره ربط: ددې باب سابقه باب سره مناسبت دادې چه باب سابق کښې دحيض سره متعلق احکام بيان کړې شوی او اوس په دې باب کښې د مستحاضه سره متعلق احکام بيانولې شي. [3]

د ترجمة الباب مقصد:

دعلامه تيمی رحمه الله وغيره رائې: شراح حضرات دترجمة الباب مقصدسره متعلق مختلف اغراض بيان کړی دی چنانچه علامه تيمی رحمه الله فرمائی په دې ترجمة الباب سره دامام بخاری رحمه الله مقصددا خودل دی که چرې ښځه په دم حيض اودم تمييزکښې فرق کولې شی نوچه څنګه هغه دم استحاضه وينی نوغسل به کوی اوخپل مونځ به کوی. امام بخاری رحمه الله استحاضه په طهرسره تعبيرکړې ده څکه چه دم استحاضه ددم حيض په نسبت هم د طهر زمانه دې لکه څنګه چه حکم د طهردې هم هغه شان حکم د استحاضه هم دې. هم دا قول علامه کرمانی رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله هم اختيار کړې دې. [4]

په ذکرشوې رائې باندې دعلامه عينی رحمه الله نقد: ليکن علامه عينی رحمه الله ددې رائې نه اختلاف کړې دې اودائې مخدوش ګرځولې ده. دکوم رومبې وجه نې چه داخودلې ده، ترجمة الباب دطهر په حق کښې منصوص دې دکوم حقيقت چه انقطاع دم دې. خود دغه پوته ذکر شوی قول او رائې نه معلوميږی چه ددغه ښځې وينه جاری ده مګر دا چه هغه ښځه په دې باندې قادر ده چه دم حيض اودم استحاضه کښې فرق اوکړې شی اوښکاره خبره ده چه دا مراد د طهرد حقيقت خلاف دې.

دويمه وجه ئې داخودلې چه دې حضراتو طهر استحاضه ګرځولې ده کوم چه مجاز دې اوحقيقت دادې چه دلته د مجاز اختستو هيڅ داعيه نشته دې اونه ددې څه فائده شته.

دريمه وجه داده چه هغوی خپله رائې د سياق په اوفق يعنی زياته موافق وئيلې ده خوددوی رائې د بخاری رحمه الله د مقصد برعکس ده.

دعلامه عينی رحمه الله رائې: بلکه اوفق للسياق دادې چه دلته د امام بخاری رحمه الله مقصد داخودل دی که چرې مستحاضه دا اووينی چه دهغې وينه بنده شوې ده (سره ددې چه دا بنديدل اود وينې منقطع کيدل دساعة يعنی يو ساعت دپاره وی) نوهغه به غسل کوی اومونځ به کوی. د امام بخاری رحمه الله مقصد هم دامعنی بيانول دی او هم په دې باندې د دليل په توګه دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما قول او اثر پيش کړې دې کوم چه دترجمة الباب عين موافق دې. [5]

---

[1] عمدة القاري: ۴۶۵/۳ شرح الكرماني: ۲۰۵-۲۰۴/۳ منحة الباري: ۶۶۱/۱ فتح الباري: ۴۲۷/۱.

[2] هذا من يستفاد من عمدة القاري: ۴۶۵/۳.

[3] عمدة القاري: ۴۶۵/۳.

[4] شرح الكرماني: ۲۰۵/۳ فتح الباري: ۴۲۹/۱ الكنزالمتواري: ۳۰۲/۳ شرح ابن بطال: ۴۶۱/۱.

[5] عمدة القاري: ۴۶۵/۳.

د شيخ الحديث زكريا رحمه الله بيان كړي شوي درې احتمالات: شيخ الحديث زكريا رحمه الله فرمائي چه زما په نيز په دې ترجمة الباب كښې درې احتمالات دى اودريواړه احتماله هم په خپل ځاى مراد كيدې شي ځكه چه په دې كښې هيڅ شك نشته دې چه امام بخاري رحمه الله په خپل تراجم كښې ډير لطائف اودقائق بيان كړى دى. رومبې احتمال دادې چه د امام بخاري رحمه الله مقصد د اقل طهر په مسئله كښې دائمه د اختلاف طرف ته اشاره كول دى اود حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د اثردسياق اوسباق نه معلوميږى چه د امام بخاري رحمه الله خيال په دې مسئله كښې دعدم تحديد طرف ته دې چه د اقل طهر څه حدنشته دې هغه يوساعت هم كيدې شي.[۱]

د اقل طهر مسئله: چنانچه علامه كرماني رحمه الله اوعلامه عيني رحمه الله فرمائي چه د اقل طهر مسئله مختلف فيه ده اوددې اثرابن عباس رضي الله عنهما نه معلوميږى چه د ابن عباس رضي الله عنهما په نيزطهر يوساعت هم كيدې شي. خو ائمه ثلاثه امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله امام شافعي رحمه الله او امام مالك رحمه الله په نيز دراجح قول په اعتبار اقل طهردپنځلسو ورځو دې اود امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز اقل طهر ديارلس ورځې دې.[۲]

امام ابوثور رحمه الله محاملي رحمه الله اوقاضى ابوالطيب رحمه الله اقل طهر د پنځلسو ورځوكيدوباندې اجماع نقل كړې ده. ليكن علامه نووي رحمه الله فرمائي چه د اجماع قول صحيح نه دې ځكه چه دامام احمدبن حنبل رحمه الله په دې كښې اختلاف مشهوردې اوبيا دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما په نيزهم اقل طهر يوساعت دې.[۳] حضرت شيخ الحديث زكريا رحمه الله فرمائي چه ددې رومبې توجيه طرف ته د ابن عباس رضي الله عنهما د اثر الفاظ "ولوساعة" سره اشاره كيږى.[۴]

دويمه توجيه داده چه په دې ترجمة الباب سره دامام بخاري رحمه الله مقصد دمسئله استظهار په حواله سره په مالكيه باندې ردكول دى. مسئله د استظهار دمالكيه په نيز يوه مشهوره مسئله ده. دكوم تفصيل چه دادې د مالكيه په نيز دعادت اعتبارنشته بلكه دتميز بالون اعتباردې. اوس كه يوه ښځه داسې وى چه د رنګونو په ذريعه فرق نه شى كولې نودهغې دپاره حكم دادې چه دغه ښځه به دمعتاد ايام نه پس درې ورځې انتظاركوى (په دې شرط چه د وينې بنديدل پنځلسوورځو نه زيات نه شي) كه په دريو ورځوكښې دښه وينه راغله نودا به د شاته وينې يوه حصه شميرلوسره په حيض كښې داخل ګڼړى اوكه چرې وينه د دريو ورځونه پس راغله نوبيا به هغه دغه وخت مستحاضه ګڼړلې شي. دامام مالك رحمه الله نه علاوه دباقى ائمه ثلاثه په نيزدمسئله استظهار هيڅ اعتبار نشته اودائمه ثلاثه مذهب داحاديث مرفوع نه ثابت دې. خومسئله داستظهار په احاديث مرفوعه سره ثابته نه ده بلكه ددې د ثبوت دپاره صرف يو اثر دې اوهغه هم ضعيف دې.[۵] چنانچه ابن رشد مالكي رحمه الله فرمائي:

---

[۱] الكنزالمتواري: ۳۰۲/۳الأبواب والتراجم: ۶۷

[۲] شرح الكرماني: ۲۰۵/۳عمدة القاري: ۴۶۶/۳ الكنزالمتواري: ۳۰۳/۳-۳۰۲الأبواب والتراجم: ۶۷

[۳] المجموع شرح المهذب: ۴۰۵/۲ عمدة القاري: ۴۶۶/۳ الكنزالمتواري: ۳۰۳/۳-۳۰۲الأبواب والتراجم: ۶۷

[۴] الكنزالمتواري: ۳۰۳/۳الأبواب والتراجم: ۶۷

[۵] حواله بالا.

((وأما الاستظهار الذي قال به مالك بثلاثة أيام، فهو شيء انفرد به مالك وأصحابه وخالفهم في ذلك جميع فقهاء الأمصار، ماعدا الأوزاعي، إذ لم يكن لذلك ذكر في الأحاديث الثابتة وقد روي في ذلك أثر ضعيف))[1]

شيخ الحديث زكريا رحمه الله فرمائي چه ددې دويمې توجيه طرف ته دترجمة الباب الفاظ ((إذا رأت الطهر)) سره اشاره ملاويږي دكوم مطلب چه دادې د طهر ليدلونه پس به نوردځه څيز انتظارنه كوي بلكه ((داثر نه ثابتيږي چه)) غسل به كوي اومونځ به كوي.[2]

دريمه توجيه داده چه دامام بخاري رحمه الله په هغه حضراتو باندې ردكول دي چه مستحاضه سره جماع كولو ته ممنوع وائي اوددې توجيه طرفته دابن عباس رضي الله عنهما داثر الفاظ ((ويأتيها زوجها)) سره اشاره ملاويږي.[3]

مستحاضه سره د جماع كولوحكم: دا مسئله هم يوه مشهوره اختلافي مسئله ده. ابن رشد رحمه الله فرمائي په دې مسئله كښې درې اقوال دي. ① بعض حضر ات مستحاضه سره جماع كول جائز ګرځوي اوهم دا دمشهور فقهاؤ مذهب دې. اودحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه علاوه د تابعينو د يولوئي جماعت نه هم د جواز قول نقل دې.

② بعض حضرات ئې مطلقاً منع كوي اوعدم جوازدا قول دحضرت عائشه رضي الله عنها نه نقل دې اوابراهيم نخعي رحمه الله او امام حكم رحمه الله هم ددې قائل دی.

③ ددريم جماعت مذهب دې چه مستحاضه سره جماع كول خو جائزنه دی ليكن كه استحاضه اوږده شي ((اودخاوند په فتنه كښې داختـه كيدو خطره وي)) نوبيا جائز ده.[4]

امام بيهقي رحمه الله فرمائي چه د حضرت عائشه رضي الله عنها نه د عدم جواز قول صحيح نه دې بلكه په حقيقت كښې داد امام شعبي رحمه الله قول دې كوم چه بعض راويانودحضرت عائشه رضي الله عنها دحديث لاندې داخل كړې. چنانچه علامه نووي رحمه الله فرمائي: ((ذكر البيهقي وغيره: أن نقل المنع عن عائشة رضي الله عنها ليس بصحيح عنها، بل هو قول الشعبي أدرجه بعض الرواة في حديثها))[5] يعنى امام بيهقي رحمه الله وغيره ذكركړې دې چه دعدم جواز دقول نسبت دحضرت عائشه طرف ته صحيح نه دې، بلكه دا دامام شعبي رحمه الله قول دې كوم چه بعض روات دحضرت عائشه رضي الله عنها په حديث كښې درج كړې دې.

علامه عيني رحمه الله فرمائي چه مستحاضه سره جماع كول چه وينه جاري وي جائز ده. هم دغه د جمهور علماؤ مذهب دې اوابن المنذر رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنهما، تابعين يو لوئي جماعت او امام اوزاعي، امام ثوري، امام مالك، امام اسحاق، امام ابوحنيفه او امام شافعي رحمه الله نه هم دغه قول حكايت كړې دې اودليل د سنن ابي داؤد روايت كوم چه جيد سندسره نقل دې: ((أن حمنة كانت مستحاضة وكان زوجها يأتيها)) يعنى حضرت حمنه رضي الله عنها مستحاضه وه اودهغې خاوند به په دې حالت كښې (هم) جماع كوله.

ليكن حضرت عائشه رضي الله عنها دعدم جواز قائل ده هغه فرمائي ((لا يأتيها)) اوهم دغه قول دامام نخعي، امام حكم، امام زهري، امام شعبي رحمهم الله اختياركړې دې. ابن سيرين رحمه الله مستحاضه سره جماع كولوته مكروه وئيلى دى. امام احمد بن حنبل رحمه الله هم دعدم جواز قائل دې مګر دوو شرطونوسره، اول

[1]) بداية المجتهد: ۵۱/۱مطبعة مصطفى الباني الحلبي وأولاده، مصر، موقع مكتبة المدينة الرقمية.
[2]) الأبواب والتراجم:۶۷الكنز المتواري: ۳۰۳/۳.
[3]) الكنز المتواري: ۳۰۳/۳ الأبواب والتراجم:۶۷.
[4]) بداية المجتهد: ۶۳/۱ المجموع شرح المهذب: ۴۰۰/۲-۳۹۹.
[5]) المجموع شرح المهذب:۴۰۰/۲.

شرط دادې چه استحاضه اورده نه وی اودویم شرط دا چه دخاوند په فتنه کښې اخته کیدو خطره نه وی ګنی جماع کولې شی.(١) البته امام موفق رحمه الله دامام احمدبن حنبل رحمه الله نه مطلقاً د اباحت او جواز روایت نقل کړې دې.(٢)

شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمائی زما په نیز د دې دریو احتمالاتو اوتوجیهاتو نه آخری توجیه ډیره بهتردې اوددې وجه دا ده امام په ترجمة الباب کښې هیڅ یوحکم نه دې ذکر ک[illegible] نی صرف "إذا" سره ذکرکړو اوبیانی د دې په جواب کښې دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما اثر پیش کړو او بیانی ددغه اثر د تائیددپاره "الصلاة أعظم" اوفرمائیل. لکه چه امام بخاری رحمه الله دمستحاضه دپاره دمونځ کولوجواز اخستل دمستحاضه سره د جماع کولو جواز ثابتول غواړی. چه کله دمونځ په شان د عظیم څیز مستحاضه ته اجازت دې نوکوم چه ددې نه کمتردې یعنی جماع کول نوهغه خو به په طریق اولی جائز وی. اوهم دغه وجه ده چه د ابن عباس رضی الله عنهما د اثر نه پس دحضرت عائشه رضی الله عنها روایت پیش کړو په کوم کښې چه د فاطمه رضی الله عنها قصه ذکرده او په دې کښې هغې ته د مونځ کولو حکم ورکړې شوې دې. اود امام بخاری رحمه الله داصول تراجم په حواله دا معروف اومشهور دی چه هغه بعض وخت تراجم د اولیت په طریقه باندې ثابتول کوی.(٣)

د شیخ الحدیث حضرت زکریا رحمه الله بیان کړې شوې یوبله توجیه: شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمائی چه یوه بل توجیه هم ممکن ده اوهغه دا چه امام بخاری رحمه الله د یوې مشهورې اختلافی مسئلې طرف ته اشاره کول غواړی کومه چه طهر متخلل سره متعلق ده. امام بیهقی رحمه الله د ابن عباس رضی الله عنهما په دغه پورته ذکرشوی اثرباندې: «باب المرأة تحيض يوماً وتطهر يوماً» ترجمه او عنوان قائم کړې دې. ددې په شرح کښې ابن الترکمانی رحمه الله فرمائی د اصح قول مطابق دامام شافعی رحمه الله په دې مسئله کښې مذهب دادې که چرې وینه په یوڅو ورځو یا ددې نه په کمه موده کښې بنده شی نو ټول په ټول به حیض شمیرلې شی.(٤) علامه نووی رحمه الله دامام شافعی رحمه الله نه په دې مسئله کښې دوه اقوال نقل کړی دی یوقول خو هم دغه دې کوم چه د ابن الترکمانی رحمه الله په حواله سره ذکرشو او دویم قول دادې چه په کومو ورځوکښې حیض راغلو هغه به په حیض کښې شمیرلې شی او په کومو ورځوکښې چه پاکه پاتې شوه هغه به طهر شمیرلې کیږی لیکن اکثر اصحاب د ړومبی روایت تصحیح کړې ده اوهم هغه د امام شافعی رحمه الله سره منصوص دی.

ددې دواړو اقوالونه ړومبی قول قول السحب سره تعبیرکړې شوې دې او دویم قول قول التلفیق سره تعبیرکړې شوې دې. امام نووی رحمه الله فرمائی چه قول التلفیق امام مالك رحمه الله اوامام احمد رحمه الله اختیارکړی دې او قول سحب امام ابوحنیفه رحمه الله او امام شافعی رحمه الله اختیارکړې دې.(٥)

ابن قدامه رحمه الله د تلفیق په قول باندې د ابن عباس رضی الله عنهما د اثر (مذکورالباب) نه استدلال کړې دې. د شوافع او احناف دلیل دادې چه وینه هروخت جاری نه وی بلکه کله جاری وی اوکله منقطع وی. په دې

---

(١) عمدة القاری: ٣/٤٦٦المجموع شرح المهذب: ٢/٤٠٠-٣٩٩.

(٢) المغنی لابن قدامة: ١/٣٨٧.

(٣) الکنزالمتواری: ٣/٣٠٤-٣٠٣الأبواب والتراجم:٦٧.

(٤) الکنزالمتواری: ٣/٣٠٤الأبواب والتراجم:٦٧ السنن الکبری وفی ذیله الجوهر النقی: ١/٣٤٠.

(٥) المجموع شرح المهذب: ٢/٤١٥، ٤١٧، ٤١٨ مکتبة الإرشاد الأبواب والتراجم: ٦٧ الکنزالمتواری: ٣/٣٠٤.

وجه داونيل چه په کومو ورځو کښې وينه راغله هغه د حيض ورځې او په کومو ورځوکښې چه وينه رانغله هغه د طهر ورځې دی، صحيح نه دی. [۱] او په ظاهره دامام بخاری رحمه الله خيال هم په دې مسئله کښې د تلفيق والاقول طرف ته معلوميږی په کوم چه د ابن عباس رضی الله عنهما د اثر نه علاوه د حديث الباب نه هم استدلال واضح دې ځکه چه اقبال دم او ادبار دم دواړه هرحال ته شامل دی که د اقبال دم په صورت کښې دم قليل وی ، حائضه مونځ نه شی کولې اوکه دادباردم په صورت کښې انقطاع دم قليل وی يا کثير غسل به کوی او مونځ به کوی. [۲]

دعلامه رشيداحمد گنگوهی رحمه الله رائې: علامه رشيداحمد گنگوهی رحمه الله فرمائی چه د ټولونه بهتر توجيه داده «المستحاضة إذا طهرت» نه مراد دادې چه کله دحيض موده تيره شی نوبيا ښځه د دغه مودې تيريدونه پس به نور د څه ځيز انتظار نه کوی بلکه غسل به کوی اومونځ به کوی. که هر وخت په ورځ کښې يا په شپه کښې هغه موده پوره شوې وی يا که دورځې په آخری ساعت کښې نوده پوره شوې وی نوبيابه هم هغه د بل څه ځيز انتظارنه کوی. ليکن که ظاهری مطلب مراد واخستې شی چه په ايام حيض کښې کله هم اوکوم وخت هم هغه پاکه شی يعنی وينه بنده شی هغه به غسل کوی اومونځ به کوی. نودا مفهوم دابن عباس رضی الله عنهما د شان عالی نه ډير نه لرې دې چه هغه به په ايام حيض کښې د لږ ساعت دپاره وينه بنديدو باندې دغه ښځې ته د مونځ کولو حکم ورکړی. علامه رشيد احمد گنگوهی رحمه الله فرمائی چه د ايام حيض خبره ځکه اوکړې شوه ځکه چه په ايام استحاضه کښې د يوساعت دپاره د وينې په اودريدو غسل کول او بيامونځ کولو حکم ورکول نه صرف بعيد دی بلکه ابعددی. ځکه چه ايام استحاضه کښې خو مونځ په طهر او انقطاع دم باندې موقوف نه دې بلکه په ايام استحاضه کښې خو سره ددې چه وينه جاری وی نوبيا هم نه د مونځ نه منع والې شته اونه د روژې نه. [۳]

قَالَ: ابْنَ عَبَّاسٍ: تَغْتَسِلُ وَتُصَلِّي وَلَوْسَاعَةً، وَيَأْتِيهَا زَوْجُهَا إِذَا صَلَّتْ، اَلصَّلَاةُ أَعْظَمُ.

يعنی ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه غسل دې کوی اومونځ دې کوی سره ددې چه دا پاکوالې د يوساعت دپاره وی اوکله چه هغه مونځ کولې شی نود هغې خاوند په درجه اولی هغې له راتلې شی.

د تعليق مقصد: د پورته ذکرشوی تعليق نه دامام بخاری رحمه الله مقصد هم هغه دې اومرادنی هم هغه دې دکوم تفصيل سره چه د ترجمة الباب مقصد د عنوان لاندې بيان کړې شوې دې.

تخريج: دا تعليق محدث ابوبکر اب ابی شيبه رحمه الله خپل مصنف کښې «إسماعيل بن علية عن خالد عن أنس بن سيرين» په طريق سره د ابن عباس رضی الله عنهما نه موصولاً روايت کړې دې. د روايت الفاظ دادی: «عن أن بن سيرين قال: استحيضت امرأة من آل أنس، فأمروني، فسألت ابن عباس؟ فقال: أما مارأت الدم البحراني، فلاتصلي، وإذارأت الطهرولوساعة من النهار، فلتغتسل ولتصلي»

يعنی انس بن سيرين رحمه الله فرمائی چه د آل انس يوې ښځې ته استحاضه اوشوه، نوهغې ماته ددې مسئلې د حکم معلومولودپاره اووئيل، چنانچه ما د ابن عباس رضی الله عنهما نه دمسئلې تپوس اوکړو. نوهغوی اوفرمائيل: ترکومې چه هغه د پوخ رنګ وينه اووينی نومونځ دې نه کوی اوکله چه طهر اووينی سره ددې چه د ورځې د يوساعت دپاره وی نوغسل دې کوی اومونځ دې اوکړی.

---

[۱] المغنی لابن قدامة: ۳۹۹/۱الأبواب والتراجم ص: ۶۷الکنزالمتواری: ۳۰٤/۳.
[۲] الکنزالمتواری: ۳۰٤/۳الأبواب والتراجم:۶۷
[۳] لامع الدراری: ۲۸۸/۲-۲۸۶الکنزالمتواری: ۳۰۶/۳-۳۰۵.

دتعليق شرح

قوله:: ويأتيها زوجها: دا د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل شوې دويم اثر دې اودا محدث عبدالرزاق رحمه الله په خپل سندسره دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه موصولاً نقل كړې دې. روايت دادې: «عبدالرزاق عن ابن المبارك عن الأجلح عن عكرمة عن ابن عباس قال: لا بأس أن يجامعها زوجها» يعنى ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه په دې خبره كښې هيڅ حرج نشته چه مستحاضه سره خاوند جماع اوكړي.

مجوزين جماع (مع المستحاضه) فرمائى چه دم استحاضه د دم حيض په شان "أذى" (تكليف) نه دې لكه څنګه چه الله تعالى حيض د وصف "أذى" سره متصف كړې دې اونه دا د روژې او مونځ نه مانع دې نوبيا د وطى اوجماع نه هم مانع نه دې.(١)

قوله:: إذا صلت: علامه عينى رحمه الله فرمائى چه ددې جملې تعلق «ويأتيها زوجها» سره نه دې بلكه دا يوه خان له اومستقل جمله ده اوددې په جواب كښې دوه قوله دى: رومبې قول د كوفيين د مذهب په اعتبار سره دې اوهغه دادې چه د"إذا صلت" جواب شاته جمله يعنى «تغتسل وتصلى» ده اودكوفيانود دې مذهب په اعتبار سره به تقديرى عبارت داسې شى: «المستحاضة إذا صلت، يعني: إذا أرادت الصلاة تغتسل وتصلى» اودويم قول د بصريين دمذهب په اعتبارسره دې اوهغه دادې چه ددې جواب محذوف دې دكوم چه تقديرى عبارت داسې دې: «إذا صلت تغتسل وتصلى».(٢)

قوله:: الصلاة أعظم: دا د مبتدا او خبر ملاويدوسره جوړه شوې جمله ده چه د يومقدر سوال جواب معلوميږي. سوال دادې چه مستحاضه سره دهغې خاوند جماع كولې شى؟ نوجواب وركړې شو "الصلاة أعظم" يعنى مونځ د جماع نه لوئى اوعظيم تر دې اوچه كله دمستحاضه دپاره د مانځه اجازت دې نود جماع اجازت به په طريقه اولى وى.(٣)

مستحاضه سره د جماع جواز د لزوم په طريقه: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه "الصلاة أعظم" په ظاهره دا بحث د امام بخارى رحمه الله د طرف نه دې اومقصدئى جماع دلزوم په ذريعه ثابتول دى چه كله مونځ د استحاضه دپاره اداكول جائز دى نولازماً به جماع كول هم جائز وى. څكه چه دمونځ معامله دجماع دمعامله نه لويه ده. او هم په دې وجه امام بخارى رحمه الله دې پسې فوراً حديث عائشه رضي الله عنها پيش كړو په كوم كښې چه فاطمه بنت جيش رضي الله عنها (چه مستحاضه وه) ته د مونځ كولوحكم وركړې شوې دې.(٤) البته د بعض شراح حضراتووينا ده چه "الصلاة أعظم" هم د ابن عباس رضي الله عنهما دتيرشوى كلام حصه ده اوداد ابن ابى شيبه رحمه الله د تخريج طرف ته منسوب كړې شوې ده ليكن په مصنف ابن ابى شيبه كښې د ابن عباس رضي الله عنهما په حواله سره ددې خبرې تذكره موجودنه ده.(٥) او البته په مصنف عبدالرزاق

---

(١) التوضيح: ٤١/٥ اعمدة القارى: ٤٦٦/٣شرح الكرمانى: ٢٠٥/٣ارشادالسارى: ٣٦٣/١شرح ابن بطال: ٤٦١/١.

(٢) عمدة القارى: ٤٦٦/٣.

(٣) عمدة القارى: ٤٦٦/٣.

(٤) فتح البارى: ٤٢٩/١.

(٥) حواله بالا

كښې د سعيدبن جبير رحمه الله نه يوروايت نقل دې په كوم كښې چه ددې مسئلې ذكردې اوهغه روايت دا دې «عبدالرزاق عن الثوري عن سالم الأفطس عن سعيد بن جبير أنه سأله عن المستحاضة، أتجامع؟ الصلاة أعظم من الجماع» (١)

دمذكوره اثر ترجمة الباب سره مناسبت: دابن عباس رضي الله عنهما ددې اثر ترجمة الباب سره مناسبت بالكل واضح دې چه ترجمة الباب كښې سوال ذكركړې شوې دې چه كله مستحاضه طهر اووينى نوڅه به كوى او په دې اثركښې د سوال جواب وركړې شوې دې چه غسل دې كوى اومونځ دې كوى.(٢)

الحديث الأول

[٣٢٣]- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، عَنْ زُهَيْرٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا أَقْبَلَتِ الحَيْضَةُ، فَدَعِي الصَّلاَةَ، وَإِذَا أَدْبَرَتْ، فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّمَ وَصَلِّي»(٣)-[ر ٢٢٢]

ترجمه: دحضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه نبى كريم ﷺ ارشاد فرمائيلې دې چه كله دحيض ورځې راشى نومونځ پريږدئى اوكله چه د حيض ورځې تيرې شى نود ځان نه وينه پاكه كړئى اومونځ كوئى.

تراجم رجال

أحمدبن يونس: دا احمدبن عبدالله بن يونس بن عبدالله بن قيس تميمى يربوعى كوفى رحمه الله دې. ابوعبدالله ددوى كنيت دې د دوى د پلار نوم عبدالله دې ليكن دنيكه طرف ته په نسبت سره يعنى احمدبن يونس سره مشهوردې. ددوى حالات كتاب الإيمان باب من قال أن الإيمان هوالعمل لاندې تيرشوى دى.(٤)

زهير: دا زهير بن معاويه بن حديج (بضم الحاء المهملة والفتح الدال المهملة وبالجيم) بن الرحيل (بضم الراء المهملة وفتح الحاء المهملة) بن زهير بن خيثمه جعفى كوفى رحمه الله دې. ددوى كنيت ابوخيثمه دې. ددوى حالات كتاب الإيمان باب الصلاة من الإيمان لاندې تيرشوى دى.(٥)

هشام: داهشام بن عروة بن الزبير بن قرشى مدنى اسدى رحمه الله دې. دده كنيت ابوالمنذر دې. او بعض حضراتو ددوى كنيت ابوعبدالله ذكركړې دې. د دوى مختصر حالات بدءالوحى دويم حديث لاندې (١)اوتفصيلى حالات كتاب الإيمان باب أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تيرشوى دى.(٢)

---

(١) مصنف عبدالرزاق كتاب الحيض باب المستحاضة هل يصيبها زوجها... الخ: ٣١٠/١رقم الحديث: ١١٨٧ فتح البارى: ٤٢٩/١.

(٢) التوضيح: ٤١/٥ وفتح البارى: ٤٢٩/١ وعمدة القارى: ٤٦٦/٣ وهوالمفهوم مماذكرت تحت غرض الإمام البخارى من ترجمة الباب ملخصاً من شروح البخارى.

(٣) مرتخريجه فى نفس الكتاب، فى باب الاستحاضة.

(٤) كشف البارى: ١٥٩/٢.

(٥) كشف البارى: ٣٦٧/٢.

عائشة: دا ام المؤمنين سيده عائشه بنت ابی بکر الصديق رضي الله عنها ده. د دوی حالات بدء الوحی دويم حديث لاندې تيرشوی دی. [٣]

شرح حديث

دا حديث د حضرت فاطمه بنت ابی جيش رضي الله عنها دهغه اوږد حديث اختصاردې په کوم کښې چه د مستحاضه دپاره امر صلاة يعنی دمونځ کولو د حکم تصريح ده. [٤] داحديث دباب استحاضه لاندې تيرشوې دې اودډې ټول مباحث هم ماقبل کښې تيرشوی دی.

د حديث ترجمة الباب سره مناسبت: علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه په ترجمة الباب کښې ذکر کلمه "إذا" يا خو ظرف دې اويا بيا شرط دې. که چرې ظرف وی نوددې دپاره بيا دعامل ضرورت دې اوکه چرته شرط وی نو بيا د جزاء ضرورت دې. او دلته نه عامل موجود دې اونه جزا موجود ده. نوبيا په حديث باندې ترجمة الباب سره څنګه دلالت ممکن دې؟ بيائی هم پخپله جواب ورکولوسره اوفرمائيل چه "إذا" د ظرفيت په معنی کښې دې اومطلب دادې چه دا باب د مستحاضه دحکم په بيان کښې دې کوم وخت چه هغه طهر اووينی او په حديث کښې دداسې صورت حکم ذکر شوې دې چه څنګه حيض ختم شی اوطهر اووينی نو په دې باندې مونځ کول واجب کيږی. [٥]

٢٩ - باب: اَلصَّلاَةِ عَلَى النُّفَسَاءِ وَسُنَّتِهَا.

ماقبل سره ربط: علامه عينی رحمه الله فرمائی چه د دې باب سابقه باب سره هيڅ مناسبت نشته دې بلکه امام بخاری رحمه الله داباب په کتاب الحيض کښې بغيرد څه مناسبت نه ذکر کړې دې. د دې باب مناسبت په حقيقت کښې کتاب الجنائز سره دې. [٦]

د ترجمة الباب مقصد: شراح حضراتو ليکلی دی چه ددې ترجمة الباب نه دامام بخاری رحمه الله مقصد دوه خبرې خودل دی. يوه خبره داده چه که چرته د يوې ښځې انتقال د نفاس په حالت کښې اوشی نوبيا به هم دهغې د جنازې مونځ کولې شی او بله خبره په هغې باندې د جنازې کولو طريقه خودلې ده. دلته حديث الباب سره ددې چه دترجمة الباب مطابق دې مګر سوال دادې چه په کتاب الحيض کښې د جنازې دمونځ وغيره بيان څه موقع ده؟

دعلامه عينی رحمه الله رائې: چنانچه علامه عينی رحمه الله خو په دې باره کښې دا فيصله کړې ده چه دا ترجمة الباب بې محل راوړلې شوې دې. اوددې صحيح موقع کتاب الجنائز وه. او دويمه خبره دا ده چه ددې باب سابقه باب سره هم څه مناسبت نشته دې. حالانکه په ابواب کښې د خپل مينځمی مناسبت تعلق مطلوب وی. [٧]

---

[١] کشف الباری: ٢٩١/١.
[٢] کشف الباری: ٤٣٢/٢.
[٣] کشف الباری: ٢٩١/١.
[٤] عمدة القاری: ٤٦٧/٣فتح الباری:٤٢٩/١إرشاد الساری: ٣٦٤/١.
[٥] شرح الکرمانی: ٢٠٦/٣-٢٠٥عمدة القاری: ٤٦٧/٣.
[٦] عمدة القاری:٤٦٧/٣.
[٧] عمدة القاری: ٤٦٧/٣الکنز المتواری: ٣٠٨/٣.

دعلامه ابن بطال رحمه الله رائې: علامه ابن بطال رحمه الله فرمائي چه د امام بخاري رحمه الله مقصد ددې ترجمة الباب نه دادې چونکه د نفاس والا ښځه مونځ وغيره نه شي کولې په دې وجه عين ممکن دى چه د چادا خيال راشى چه بيا خو به ددې جنازه هم کوې شي. نوامام بخاري رحمه الله ددې خيال د لرې کولوډپاره په دې ترجمة لباب اوحديث باب کښې دا اوخودل چه په دې مسئله کښې د نفاس والا ښځې حکم دنورو پاکو ښځو په شان دې چه د ټولو طهارت عين اوذات سره متصف دې يعنې د ذات په اعتبارسره د نفاس والا ښځه هم دپاکو ښځو په شان ده او نجاست خو صرف عارضى او حکمى دې. په دې وجه حضورپاك د نفاس په حالت کښې د وفات شوې ښځې جنازه اوکړه.

بل په دې سره ددې خبرې هم رد اوشو مؤمن سره ددې چه په ذاتى اعتبار سره پاك وى مګر هر بنيادم د مرګ راتلو سره ناپاك شى ځکه چه چرې داسې خبره وې نو حضورپاك به دنفاس والا ښځې جنازه څنګه کوله؟ نجاست دم خود اول نه وو بيا دې سره د مرګ نجاست هم جمع شو اومرګ نجاست دم نور هم مستقر اوپوخ کړو. نوچه کله حضورپاك د داسې مړې جنازه کړې ده اوداسې ئې دهغې د طاهرکيدو حکم اولګولو نودداسې مړې جنازه چاسره چه نور څه نجاست دم وغيره نهوى په درجه اولى جائز شوه او په هغه باندې به په طريقه اولى د طاهر کيدو حکم لګولې شي.(١)

دعلامه رشيداحمد ګنګوهي رحمه الله رائې: علامه رشيداحمد ګنګوهي رحمه الله فرمائي چه دامام بخاري رحمه الله مقصد دا وهم لرې کول دى چونکه د نفاس والا ښځه نجس وى (ځکه چه شريعت په دې باندې حکم لګولې دې چه نه به هغه مونځ کوى نه به هغه روژې نيسى اونه هغه جمات ته داخليدې شي اود جنازې دمونځ شرائطوکښې دى چه مړې دې پاك وى) په دې وجه به دهغې جنازه نه شي کولې. امام بخاري رحمه الله دا وهم رد کړو اووئې فرمائيل چه دداسې ښځې به هم جنازه کولې شي ځکه چه دحضورپاك نه په داسې ښځه باندې جنازه کول ثابت دى.(٢)

د ابن منير رحمه الله د ابن بطال رحمه الله په توجيه باندې نقد: دعلامه ابن بطال رحمه الله په دې توجيه باندې نقد کولوسره ابن منير رحمه الله وائي چه دا توجيه د امام بخاري رحمه الله مقصد سره تعلق نه لرى بلکه دامام بخاري رحمه الله مقصد په دې ترجمة الباب سره دادې چه په حديث کښې راغلى دى چه د نفاس په حالت کښې مړه کيدونکې ښځه شهيده وى نو عين ممکن دى چه د چا داګمان پيداشي چه بيا خو به ددې هم د شهيدپه شان جنازه نه شي کولې. نوامام بخاري رحمه الله دا وهم اوګمان رد کولوسره په دې باندې تنبيه اوکړه چه سره ددې چه د نفاس په حالت کښې مړه کيدونکې ښځه د شهداء نه ده مګر د دې باوجود به په داسې ښځه باندې جنازه کولې شي. ځکه چه د رسول الله ﷺ نه د نفاس په حالت کښې په مړه شوې ښځه باندې جنازه کول ثابت دى.(٣)

د ابن رشيد رحمه الله د ابن منير رحمه الله په توجيه باندې نقد: ليکن دابن منير رحمه الله په ذکرکړې شوى توجيه باندې ابن رشيد رحمه الله نقد کړې دې اوهغه دادې چه دابن منير رحمه الله ذکر کړې شوې توجيه هم د ابن بطال رحمه الله د توجيه په شان د ابواب الحيض سره مناسبت نه لرى بلکه دامام بخاري رحمه الله مقصد دادې چه هغه د مونځ ذکرکولو سره د مونځ د لوازماتو نه يو لازم ثابتول غواړى اوهغه لازم دادې چه مونځ ددې خبرې تقاضا کوى چه په مانځه کښې مخې ته کيخودې شوې يا موجود څيز هم پاك وى چنانچه

---

(١) شرح ابن بطال: ٤٦٢/١-٤٦١عمدة القاري: ٤٦٧/٣فتح الباري: ٤٣٠/١الكنزالمتواري: ٣٠٨/٣.

(٢) لامع الدراري: ٢٩٠/٢-٢٨٩.

(٣) فتح الباري: ٤٣٠/١عمدة القاري: ٤٦٧/٣ الكنز المتواري: ٣٠٨/٣الأبواب والتراجم: ٦٧

حضوریاك په دغه ښځه باندې اودهغې طرف ته چه كله مونځ اوكړو نو په دې سره ددې مړی (د نفاس په حالت كښې مړه كيدونكې ښځه) طاهر لعينها كيدل لازم راغله اوبيا د امام بخاری رحمه الله د ميمونه رضي الله عنها حديث په دې باره كښې ذكركول (لكه څنګه چه داصيلې په روايت كښې دی) هم ددې خبرې دليل دې چه دامام بخاری رحمه الله مقصد يولازم صلاة ذكركول دی. (۱)

د علامه عينی رحمه الله په دغه ټولو توجيهاتو باندې نقد: علامه عينی رحمه الله دغه ټول توجيهات غير صحيح ګرځولی دی. چنانچه د ابن بطال رحمه الله په توجيه باندې نقل كولوسره فرمائی چه داخبره په خپل خائی باندې مسلم ده چه ذات او د بدن په طاهركيدو كښې دنفاس والا ښځه هم د نورو پاكو ښځو په شان ده خكه چه رسول الله صلی الله عليه وسلم په داسې ښځه باندې مونځ كړې دې. ليكن مسئله داده چه ددې مقصد ابوالحيض سره څه مناسبت نشته دې. (۲)

د ابن منير رحمه الله په توجيه باندې نقد كولوسره اوفرمائيل چه دا توجيه د ابن بطال رحمه الله د پيش كړې شوې توجيه نه هم ډيره بعيده ده. خكه چه كه په مذكوره ګمان باندې چرته دتنبيه ضرورت هم پيښ شی نو په باب الشهيد كښې به راخی دلته په باب الحيض كښې ددې دذكركولو څه موقع نه ده. (۳)

اود ابن رشيد رحمه الله توجيه ئی د ټولو نه زياته بعيد توجيه اوګرځوله خكه چه په دې توجيه كښې د يوڅو غيرمناسب امورو ارتكاب شوې دې. رومبی امر دادې چه ابن رشيد رحمه الله مستقبل فی الصلاة يعنی په مانځه كښې مخې ته د موجود څيز طاهر كيدل شرط ګرځولې دې. ليكن سوال دادې چه آيا دا فرض دی يا واجب دی يا سنت دی اويا بيا مستحب دی؟ اودويم نامناسب كار دادې چه بغيرد ضرورت نه ئی لازم مراد اخستې دې يعنی دمونځ ذكركولوسره ئی لازم الصلاة مراد اخستې دې. او دريم غيرمناسب امر داشوې چه د ملازمت دعوی ئی كړې يعنی د يوڅيز دپاره ئی د بل څيز د لازم اوملزوم دعوی كړې ده كومه چه صحيح نه ده. (۴) لهذا ټول توجيهات بې محل دی اوحق خبره هم دغه ده چه دا باب كتاب الحيض كښې راوړل بې محل دی ددې اصل خائی هم كتاب الجنائز دې. (۵)

دشيخ الحديث زكريا رحمه الله رائې: شيخ الحديث زكريا رحمه الله فرمائی چه بيشكه د ابن رشيد رحمه الله توجيه بعيد ده خكه چه په مانځه د يوڅيز طرف ته رخ كول اوتوجه كولوسره د هغه څيز پاك اوطاهركيدل لازم نه دی اوهم دغه شان دابن المنير رحمه الله توجيه اګرچه فی نفسه قابل د التفات ده مګر كتاب الحيض ددې محل نه دې. بلكه د هغې محل كتاب الجهاد يا كتاب الجنائز دې. كيدې شی چه هم په دې وجه امام بخاری رحمه الله دا ترجمة الباب په كتاب الجنائزكښې دوباره راواپس كړې دې ليكن ددې ټولو باوجود دعلامه عينی رحمه الله دا فرمائيل چه دا ترجمه بې محل راوړلې شوې ده د امام بخاری رحمه الله د جلالت شان خلاف دی. نو اوجه يعنی زياته مناسب توجيه هم دغه ده كومه چه علامه ابن بطال رحمه الله اوعلامه رشيداحمدګنګوهی رحمه الله بيان كړې ده. البته په دې باندې دتكرار ترجمه اشكال كيدې شی مګر ددې جواب دادې چه دلته په كتاب الحيض كښې د مذكوره ترجمه ذكركولو مقصد دنفاس په حالت كښې په مړه كيدونكې ښځه باندې د جنازې مونځ كول ثابتول دی. خكه چه دا وهم كيدې شو

---

۱) فتح الباری: ۱/۴۳۰ عمدة القاری: ۳/۴۶۷ الكنز المتواری: ۳/۳۰۸ الأبواب والتراجم: ۶۷

۲) عمدة القاری: ۳/۴۶۷ الكنز المتواری: ۳/۳۰۸ الأبواب والتراجم: ۶۷

۳) عمدة القاری: ۳/۴۶۷ الكنز المتواری: ۳/۳۰۸ الأبواب والتراجم: ۶۷

۴) حواله بالا.

۵) حواله بالا.

چه د نفاس والا ښځه په نجاست حکميه کښې مبتلا وی په دې وجه به ددې د جنازې مونځ نه شی کولې. نوامام بخاری رحمه الله د حضورپاك په عمل سره دا ثابت کړل چه هغه طاهرلعينها ده اونجاست حکميه په مرګ سره ختم شوې دې. او په کتاب الجنائز کښې د جنازې مونځ کول ثابتولو مقصد هغه وهم لرې کول دی چه هغه خود شهداء نه ده لهذا ددې د جنازې مونځ به نه شی کولې خکه چه د نفاس په حالت کښې مرګ شهادت حکميه دې نوامام بخاری رحمه الله د حضورپاك په عمل سره اوخودل سره ددې چه هغه شهيد حکمي ده مګر د جنازې په حق کښې هغه د غيرشهداء په شان ده.[1]

د ترجمة الباب دويم جز: د ترجمة الباب په دويم جز کښې دنفاس والا ښځه باندې د جنازې دمونځ کولو مسنون طريقه بيان کړې شوې ده. شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائي چه په دې دويم جز او مسئله باندې د ړومبی جز اوړومبئ مسئلې په نسبت زيات اشکال کيږي. خکه چه ددې موقع اومحل هم کتاب الجنائز دې او په کتاب الجنائز کښې امام بخاری رحمه الله ددې دپاره باب راوړلې دې: «باب أين يقوم من المرأة والرجل» اوهم دغه حديث حضرت سمره رضي الله عنه ذکر کړې دې لهذا دلته په کتاب الحيض کښې ددې مسئلې ذکر محض تکرار هم دې او بې محل هم. البته ددې اعتراض نه خلاصيدل په دې جواب سره ممکن دی چه امام بخاری رحمه الله دلته په دې امر باندې تنبيه کړې ده چه د جنازې مونځ ورکولو وخت کښې د نفاس والا ښځو او نورو ښځو څه فرق نشته ټولې برابر دی. اوچه کله په خپل خائې کتاب الجنائز کښې دا باب راشی نوهلته به د ښځو او سړو د جنازې سره متعلق مسئله قيام هم بيانيږي کومه چه دائمه په مينځ کښې يوه اختلافي مسئله ده.[2]

الحديث الأول

[٣٢٥]- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي سُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا شَبَابَةُ، قَالَ: أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ، عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ: «أَنَّ امْرَأَةً مَاتَتْ فِي بَطْنٍ، فَصَلَّى عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَامَ وَسَطَهَا»[3] [١٢٢٦، ١٢٢٧]

ترجمه: حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه نه روايت دې د يوې ښځې د خيټې د تکليف د وجې نه د بچې پيدا په ايام کښې انتقال اوشو. حضورپاك ﷺ دهغې د جنازې مونځ اوکړو اود مانځه دپاره د مړی مينځ کښې اودريدو.

---

[1]) الکنز المتواری: ۳۰۹/۳الأبواب والتراجم: ۶۷ لامع الدراری: ۲/ ۲۹۰-۲۸۹.

[2]) الکنز المتواری: ۳۰۹/۳الأبواب والتراجم: ۶۷ لامع الدراری: ۲/ ۲۹۰-۲۸۹.

[3]) قواله: سمرة بن جندب: الحديث رواه البخاری فی الجنائز أيضاً فی باب الصلاة علی النفساء إذا ماتت فی نفاسها، رقم الحديث: ۳۳۱ وفی باب أين يقوم من المرأة والرجل رقم الحديث: ۱۳۳۲ ورواه الإمام مسلم فی الجنائز باب أين يقوم الإمام من الميت للصلاة عليه، رقم الحديث:۳۱۹۵ والترمذی فی أبواب الجنائز باب ماجاء أين يقوم الإمام من الرجل والمرأة رقم الحديث: ۱۰۳۵ والنسائی فی الحيض باب الصلاة علی النفساء رقم الحديث:۳۹۳ وفی کتاب الجنائز باب الصلاة علی الجنائز قائماً، رقم الحديث: ۱۹۷۸وباب اجتماع جنائز الرجال والنساء رقم الحديث: ۱۹۸۱وابن ماجه فی کتاب الجنائز باب ماجاء فی أين يقوم الإمام إذا صلی علی الجنازة رقم الحديث: ۱۴۹۳.

تراجم رجال

احمدبن ابي سريج: دا احمدبن الصباح النهشلي، ابوجعفر بن ابی سریج الرازی المقری رحمه الله دې. بعض حضراتوددوی نسب داسې بیان کړې دې: احمدبن عمر بن ابی سریج. د ابوسریج نوم الصباح دې اوداد خزیمه بن حازم آزادکړې شوې غلام دې. اوبعض فرمائی چه دا د آل جریر بن حازم آزادکړې غلام دې. د هغوی شمیر په اهل بغداد کښې کیږی.[1]

هغوی د اسماعیل بن علیه، شبابه بن سوار، وکیع، مروان بن معاویه، یزیدبن هارون، یحیی بن سعید، مکی بن ابراهیم بلخی اوعبدالله بن الجهم رحمهم الله نه د حدیث روایت کړې او ددوی نه امام بخاری، امام ابوداؤد، امام نسائی، ابوالعباس احمدبن جعفر بن نصر الجمال الرازی، ابوالعلاء احمدبن صالح بن محمد، اسحاق بن احمدالفارسی، امام ابوزرعه او امام ابوحاتم رحمهم الله وغیره روایت کوی.[2]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی **صدوق**.[3] امام نسائی رحمه الله فرمائی **ثقة**.[4] ابن حبان رحمه الله دهغوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې.[5] یعقوب بن شیبه سدوسی رحمه الله فرمائی: «**ابن أبي سريج: هذا أحد أصحاب الحديث...وكان ثقة ثبتاً**».[6] خطیب بغدادی رحمه الله فرمائی چه احمدبن الصباح النهشلی رحمه الله دمشهورقراء نه وو. هغوی دامام علی بن حمزه الکسائی رحمه الله نه علم حاصل کړې. د بغداد علاقې مخرم اوسیدونکې وو. بیا مقام "ری" طرف ته منتقل شو او هلته د علم حدیث په نشر اواشاعت کښې مصروف شو او بیا هم هلته دهغوی انتقال هم اوشو[7] ابوعبدالرحمن رحمه الله فرمائی«**أحمد بن الصباح الرازي ثقة**».[8] ابن خلفون رحمه الله فرمائی«**كان ثقة**».[9] مُسلمه بن قاسم رحمه الله فرمائی«**هوثقة**».[10] علامه مغلطائی رحمه الله فرمائی چه ابن خزیمه اوامام حاکم رحمهماالله دهغوی داحادیثو خپل صحیحین کښې تخریج کړې دې.[11]

ددوی انتقال د امام بخاری رحمه الله نه لږه موده پس شوې[12] علامه ذهبی رحمه الله فرمائی ددوی انتقال ۲۴۰هجری نه پس شوې.[1]

---

[1]) تهذيب الكمال: ۳۵۶/۱-۳۵۵تهذيب التهذيب: ٤٤/۱.

[2]) دتلامذه اومشائخ دَ پاره اوګورئی تهذيب الكمال: ۳۵۶/۱.

[3]) الجرح والتعديل: ۱۶/۲.

[4]) تهذيب الكمال: ۳۵۷/۱ تهذيب التهذيب: ٤٤/۱.

[5]) ۳۵/۸

[6]) تهذيب الكمال: ۳۵۸/۱تهذيب التهذيب: ٤٤/۱.

[7]) تاريخ بغداد: ۳۳۵/۵ رقم الحديث: ۲۱۶٤دارالغرب الإسلامي.

[8]) تاريخ بغداد: ۳۳۵/۵ رقم الحديث: ۲۱۶٤دارالغرب الإسلامي.

[9]) إكمال تهذيب الكمال:۶۲/۱.

[10]) حواله بالا.

[11]) حواله بالا.

[12]) تهذيب التهذيب: ٤٤/۱ إكمال تهذيب الكمال:۶۲/۱تاريخ بغداد: ۳۳۵/۵ رقم الحديث: ۲۱۶٤دارالغرب الإسلامي.

شبابه بن سوار: داابوعمرو شبابه بن سوار الفزاري المدائنی رحمه الله دی. دا اصلاً د خراسان اوسیدونکی وو بیا مدائن ته راغلو. هغوی په مدائن اوبغداد کښې درس حدیث ورکولو اوددوی اصل نوم مروان دی (۱)ابن عدی رحمه الله فرمائی چه شبابه ئی لقب دی اواصل نوم ئی مروان دی مګر لقب چونکه په اصل نوم باندی غالب وو په دی وجه هغوی په خپل لقب شبابه باندی مشهورووه.(۲)

هغوی د شعبه بن الحجاج، اسرائیل بن یونس بن ابی اسحاق السبیعی، حریز بن عثمان الرجي، خارجه بن مصعب خراسانی، شعیب بن میمون، عاصم بن محمدالعمری، عبدالله بن العلاء بن زبر، عمر بن میمون، مغیره بن مسلم السراج، نعیم بن حکیم مدائنی، ورقاء بن عمر یشکری اویحیی بن اسماعیل بن سالم کوفی رحمهم الله وغیره نه د حدیث روایت کوی.

اوددوی نه امام احمدبن حنبل، احمدبن سنان القطان، ابراهیم بن سعیدجوهری، ابراهیم بن یعقوب جوزجانی، احمد بن ابراهیم دورقی، احمدبن الحسن بن خراش، احمدبن ابی سریج رازی، احمدبن عبدالله بن صالح عجلی، احمد بن الفرات رازی، اسحاق بن راهویه، حسن بن محمد بن الصباح زعفرانی، زکریا بن یحیی بن ایوب مدائنی، عباس بن محمدالدوری، عبدالله بن روح مدائنی، ابوبکر عبدالله بن محمد بن ابی شیبه، عبدالرحمن بن محمد بن سلام طرسوسی، عثمان بن محمدبن ابی شیبه، محمد بن عاصم اصبهانی، یحیی بن بشر بلخی، یحیی بن معین اویعقوب سدوسی رحمهم الله وغیره دحدیث روایت کوی. (۴)

ابن معین رحمه الله فرمائی ثقة. (۵)عثمان دارمی رحمه الله فرمائی چه ما دابن معین رحمه الله د شبابه عن شعبه باره تپوس اوکړو نوهغوی اوفرمائیل ثقة، بیا ما د شاذان باره تپوس اوکړو نوابن معین رحمه الله اوفرمائیل چه: «لابأس به» بیا ما دا سوال اوکړو چه په دواړو کښې ستاسو په نیز کوم یو زیات خوښ کړې شوی دی؟ نوونی فرمائیل: شبابة.(۶) ابن جنید رحمه الله فرمائی چه ماد یحیی بن معین رحمه الله نه تپوس اوکړو چه تاسو تفسیر ورقاء د چانه لیکلی دی؟ هغوی اوفرمائیل ما د شبابه بن سوار اوعلی بن حفص نه لیکلی او دواړه ثقه دی.(۷)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی: «صدوق یکتب حدیثه ولایحتج به»(۸) امام علی المدینی رحمه الله فرمائی ثقة. (۹) عثمان بن ابی شیبه رحمه الله فرمائی: «صدوق حسن العقل ثقة» (۱)امام عجلی رحمه الله فرمائی: «کان یحفظ الحدیث» (۲) البته دهغوی باره کښې مشهور دی چه دوی د عقیدۀ ارجاء قائل وو چنانچه ابن سعد رحمه الله

---

(۱) سیرأعلام النبلاء: ۵۵۲/۱۱رقم الترجمة: ۱۶۴مؤسسة الرسالة.

(۲) تهذیب التهذیب: ۱۶۷/۲ تهذیب الکمال:۱۲/۳۴۴-۳۴۳تاریخ بغداد: ۴۰۱/۱ رقم الحدیث: ۴۷۹۲سیرأعلام النبلاء:۱۳/۹مؤسسة الرسالة.

(۳) الکامل فی ضعفاء الرجال: ۷۱/۵میزان الاعتدال:۲۶۰/۲.

(۴) دتلامذه اومشائخ د پاره اوګورئی تهذیب الکمال: ۳۴۵/۱۲ تهذیب التهذیب: ۱۴۸/۲ تاریخ بغداد: ۴۰۱/۱۰.

(۵) تهذیب الکمال: ۳۴۶/۱۲ تهذیب التهذیب: ۱۴۸/۲ الکامل فی ضعفاء الرجال: ۷۱/۵.

(۶) حواله بالا.

(۷) تهذیب الکمال: ۳۴۶/۱۲ تهذیب التهذیب: ۱۴۸/۲ تاریخ بغداد: ۴۰۵/۱۰.

(۸) الجرح والتعدیل: ۳۹۲/۴.

(۹) الجرح والتعدیل: ۳۹۲/۴هدی الساری: ۵۸۰.

سعد رحمه الله د هغوی دپاره تعریفی کلمات استعمالولونه پس داهم وئیلی دی چه دې دعقیدهٔ ارجاء قائل وو. هغه فرمائی: «كان ثقة، صالح الأمر فى الحدي وكان مرجئاً» [۳] امام عجلی رحمه الله فرمائی: «كان يرئ الارجاء» [۴]

امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی «تركته، لم أكتب عنه للإرجاء» یعنی ما د هغه د عقیدهٔ ارجاء د وجې نه دهغه نه دحدیث کتابت پریخودې وو. دامام احمد رحمه الله نه تپوس اوکړې شو چه د ابومعاویه باره کښې دې څه رائې ده هغه خو هم د عقیدهٔ ارجاء قائل دې؟ نوهغوی اوفرمائیل چه شبابه بن سواربه د خپلې عقیدې طرف ته دعوت هم ورکولو. [۵]

ابن خراش رحمه الله فرمائی «كان أحمد لا يرضاه وهو صدوق، فى الحديث» [۶] زکریا الساجی رحمه الله فرمائی «شبابة بن سوار صدوق، يدعو الى الإرجاء» [۷] خو بل طرف ته ائمه حدیث د دوی نه روایات اخستې هم دی اوددوی نه ئې دلیل هم نیولې دې. چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: «احتج به الجماعة» [۸] اوعلامه ذهبی رحمه الله فرمائی: «يحتج به فى كتب الإسلام، ثقة» [۹] ابن عدی رحمه الله فرمائی چه درې روایات داسې دی دکوم په وجه چه په شبابه بن سوار باندې نکیراوکړې شو. په هغې کښې رومبې حدیث دادې: «روىٰ شبابة بن سوار عن شعبة عن بكير بن عطاء عن عبدالرحمن بن يعمر أن النبى صلى الله عليه وسلم نهىٰ عن الدباء والمزفت» یعنی عبدالرحمن بن یعمر رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د کدو د لوښی نه اود تارکولو ملاؤ شوی د لوښی نه منع فرمائیلې ده. (ځکه چه په دې لوښوکښې شراب جوړیدل).

په دې حدیث باندې اشکال دادې چه دې مسئله (حرمت دباء) په دغه پورتنی سندسره بغیرد شبابه بن سوار رحمه الله نه چاهم حدیث نه دې روایت کړې بلکه په دې سندسره صرف د حج باب کښې یو روایت دې. چنانچه دابن عدی رحمه الله شیخ فرمائی: «ولا أعلم رواه عن شعبة فى الدباء غير شبابة، وإنما روىٰ شعبة بهذا الإسناد عن بكير بن عطاء عن عبدالرحمن بن يعمر فى ذكر الحج» [۱۰] یعنی ماته پته نه ده چه د حدیث د شبابه بن سوار نه علاوه بل چا هم د امام شعبه رحمه الله نه روایت کړې دې، بلکه په حقیقت کښې امام شعبه رحمه الله "عن بكير بن عطاء عن عبدالرحمن بن يعمر" په سندسره صرف د حج په باب کښې یو حدیث روایت کړې دې.

ابن رجب رحمه الله شرح العلل کښې فرمائی: «حديث شبابة عن بكير بن عطاء عن عبدالرحمن بن يعمر عن النبى صلى الله عليه وسلم أنه نهىٰ عن الدباء، والمزفت، فإن نهى النبى صلى الله عليه وسلم عن الانتباذ فى الدباء والمزفت صحيح

---

[۱]) تهذيب التهذيب:۱۴۸/۲هدى السارى: ۵۸۰.

[۲]) تهذيب التهذيب:۱۴۸/۲.

[۳]) الطبقات الكبرى لابن سعد، آخر البصريين: ۳۲۰/۷تاريخ بغداد ۴۰۶/۱۰.

[۴]) معرفة الثقات للعجلى: ۴۴۷/۱.

[۵]) تهذيب التهذيب: ۱۴۸/۲ تهذيب الكمال: ۳۴۶/۱۲ سيرأعلام النبلاء:۵۱۴/۹ ميزان الاعتدال:۲۶۰/۲.

[۶]) تهذيب الكمال: ۳۴۶/۱۲ تهذيب التهذيب: ۱۴۸/۲تاريخ بغداد:۴۰۵/۱۰.

[۷]) تاريخ بغداد: ۴۰۵/۱۰.

[۸]) هدى السارى:۵۸۰.

[۹]) ميزان الاعتدال: ۲/۲۶۱.

[۱۰]) الكامل فى ضعفاء الرجال:۷۲/۵-۷۱.

ثابت عنه، رواه عنه جماعة كثيرون من أصحابه، وأما رواية عبدالرحمن بن يعمر عنه، فغريبة جداً، ولا يعرف إلا بهذا الإسناد، فردبها شبابة عن شعبة عن بكيربن عطاء عنه، وعند شعبة بهذا الإسناد عن عبدالرحمن بن يعمر عن النبي صلى الله عليه وسلم وأنه قال: "الحج عرفة" في حديث ذكره، فهذا المتن هوالذي يعرف بهذا الإسناد، وأما حديث النهي عن الدباء والمزفت، فهو بهذا الإسناد غريب جداً، وقد أنكره على شبابة جماعة من الأئمة، منهم الإمام أحمد والبخاري وأبوحاتم وابن عدي، وأما ابن المديني، فإنه سئل عنه، فقال: لا ينكر لمن سمع من شعبة..... يعني: حديثاً كثيراً.... أن ينفرد بحديث غريب)).([1])

دابن رجب رحمه الله د کلام حاصل دادې چه دحضورپاك نه دكدو په لوښي کښې اوتارکول ملاؤشوی لوښی کښې د شرابو جوړولو ممانعت صحیح اوثابت دې. لکه چه داصحاب رسول ﷺ یولونی جماعت روایت کړې دې. لیکن دعبدالرحمن بن یعمر رضی الله عنه دحضورپاك نه دا حدیث روایت کول ډیر غریب دی کوم چه صرف ((شبابة عن شعبة عن بكر عن عبدالرحمن بن يعمر عن النبي صلى الله عليه وسلم)) په سندسره معروف دې. یعنی شبابه بن سوار رحمه الله دې سند سره ددې په روایت کولوکښې منفرد دې.
ځکه چه امام شعبه رحمه الله بکیر عن عبدالرحمن بن یعمر په سندسره صرف حدیث "الحج عرفة" روایت کړې دې. په دې سندسره صرف هم دغه یوحدیث پیژندلې شی. په دې وجه د دباء اومزفت نه د ممانعت حدیث په دې سند ((شبابة عن شعبة عن بكير عن عبدالرحمن بن يعمر)) سره ډیر غریب دې اوهم په دې وجه د ائمه رجال یولونی جماعت د شبابه بن سوار رحمه الله دا روایت منکرګرځولې دې. په کوم چه امام احمد، امام بخاری، امام ابوحاتم، او امام ابن عدی رحمهم الله وغیره شامل دی. البته د امام ابن المدینی رحمه الله نه چه کله د شبابه بن سوار رحمه الله ددې سندباره کښې تپوس اوکړو نوهغوی اوفر مائیل کوم سړی چه دامام شعبه رحمه الله نه ډیر زیات احادیث روایت کړی دی په داسې سړی باندې به صرف په دې وجه انکار نه شی کولې چه هغه یوغریب حدیث سره متفرددې.
چنانچه کله دا حدیث پورتنی سندسره امام علی المدینی رحمه الله مخې ته پیش کړې شو نوهغوی اوفرمائیل: ((شبابة كان شيخاً صدوقاً إلا أنه كان يقول بالإرجاء ولا تنكر لرجل سمع من رجل ألفاً أو ألفين أن يجيء بحديث غريب))
یعنی شبابه بن سوار رحمه الله علم حدیث کښې د شیخ په مرتبه دې اوصدوق دې مګردا چه هغه دعقیدهٔ ارجاء قائل وو اوموږ په یوداسې راوی باندې چاچه دخپل استاذ نه زر دوه زره احادیث روایت کړې وی. په دې وجه نکیر نه شوکولې چه هغه یو نیم غریب حدیث روایت کړې دې. ((د کوم په نقل کولوکښې چه هغه منفرددې)).([2])
دویم حدیث دادې: ((أخبرنا أبويعلى، حدثنا أحمد الدورقي، حدثنا شبابة، حدثنا شعبة عن قتادة عن الحسن عن أنس أن النبي صلى الله عليه وسلم أتي برجل قد شرب الخمر، فضربه بجريدتين نحواً من أربعين)) یعنی دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دې چه حضورپاك له یو سړې راوستلې شو چاچه شراب څکلې وو. نوحضورپاك هغه په دوو لختو سره څلویښتو نه نیزدې ګذاره اووهلو.

---

[1]) تعلیقات علی سیرأعلام النبلاء: ۵۱۶/۹-۵۱۵.
[2]) الکامل فی ضعفاء الرجال:۷۲/۵.

پدې حديث باندې اشكال دادې چه ددې په سند كښې دحسن اضافه ده خود امام شعبه نورو شاګردانو ددې راوی د واسطې نه بغير نيغ په نيغه قتادة عن أنس په طريق سره حديث روايت كړې دې.[1]
د شرابو څکلو په سلسله كښې كورو لګولوسره متعلق داحديث شعبة عن قتادة عن أنس په طريق سره امام بخاری رحمه الله «كتاب الحدود، باب ماجاء في ضرب شارب الخمر» كښې (۶۷۷۳) امام مسلم رحمه الله هم «كتاب الحدود، باب حد الخمر» كښې (۴۴۵۲) اودغه شان امام ترمذی رحمه الله هم «كتاب الحدود، باب ماجاء فی حد السكران» كښې (۱۴۴۳) لاندې ذكر كړې دې.
حافظ ابن حجر رحمه الله دحديث دې سند سره متعلق په كوم كښې چه امام قتاده رحمه الله اودحضرت انس رضي الله عنه په مينځ كښې دراوی حسن اضافه كړې ده فرمائي: «إنه من المزيد في متصل الأسانيد» يعنى داسند دهغه اسانيدونه دې په كوم كښې چه د راوی اضافه ده.[2]
دريم حديث دادې: «أخبرنا الحسن بن سفيان، حدثنا أحمد الدورقي، حدثنا شبابة، حدثنا شعبة عن عبدالله بن دينار عن ابن عمر أن النبي صلى الله عليه وسلم نهي عن القزع» يعنى حضورپاك د قزع نه منع فرمائيلې ده. دقزع مطلب دادې چه د ماشوم د سرد بعض حصې نه ويښته پريكول او په بعض حصه باندې باقى پريخودل، نوحضورپاك ددې عمل نه منع فرمائيلې ده.
په دې حديث باندې هم دغه اشكال دې چه دا د امام شعبه رحمه الله نه شبابه بن سوار رحمه الله نه علاوه بل چانه دې روايت كړې. ددې رواياتود ذكركولونه پس په آخره كښې ابن عدى رحمه الله فيصله كولوسره فرمائي: «وشبابة عندي إنما ذمه الناس للإرجاء الذي كان فيه وأما في الحديث فإنه لابأس به، كما قال علي بن المديني»[3] بل د امام ابوزرعه رحمه الله نه نقل دى چه شبابه بن سوار رحمه الله سره ددې چه دعقيدهٔ ارجاء قائل وو مګر هغه ددې خپلې عقيدې نه رجوع كړې وه.[4] اوس كه چرې دهغه رجوع دعقيدهٔ ارجاء نه ثابته ده نوبياخودخه قسم اشكال باقى نه پاتې كيږى اوكه چرې رجوع ثابته اونه منلې شى نوبيا هم شبابه بن سوار رحمه الله ته په حديث باب كښې تقريباً ټول ائمه حديث ثقه اوصدوق تسليم كړې دې. (كمامر)[5]
چنانچه ابن حبان رحمه الله هغه په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې.[6] اوهغه ئې مستقيم الحديث ګرځولې دې.[7] علامه ذهبي رحمه الله فرمائي چه دهغه پيدائش ۱۳۰ هجرى كښې شوې دې او انتقال په ۲۰۶ هجرى كښې شوې.[8] ابن حبان رحمه الله او امام بخارى رحمه الله دهغوى د وفات كال ۲۰۴ او ۲۰۵ هجرى نقل كړې دې.[9]

---

[1]) الكامل فى ضعفاء الرجال:۷۲/۵.
[2]) الكامل فى ضعفاء الرجال:۷۲/۵.
[3]) الكامل فى ضعفاء الرجال:۷۲/۵.
[4]) ميزان الاعتدال: ۲۶۱/۲ تاريخ بغداد:۴۰۶/۱۰ تهذيب التهذيب: ۱۴۸/۲ تهذيب الكمال: ۳۴۸/۱۲ هدى السارى: ۵۸۰ سير أعلام النبلاء: ۵۱۴/۹.
[5]) الرواة الثقات المتكلم فيهم بما لايوجب ردهم، ص: ۱۰۷ دارالبشائر الإسلامية.
[6]) ۳۱۲/۸.
[7]) حواله بالا.
[8]) سير أعلام النبلاء: ۵۱۵/۹.
[9]) كتاب الثقات لابن حبان: ۳۱۲/۸ التاريخ الكبير: ۲۷۰/۴.

شعبة: دا امیرالمؤمنین شعبة بن الحجاج بن الودرعتکی واسطی بصری رحمه الله دی. ابوبسطام د دوی کنیت دی اوددوی په جلالت شان او امامت باندې دټولو اتفاق دی. ددوی حالات کتاب الإیمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده لاندې تیر شوی دی.[1]

حسین المعلم: دا حسین بن ذکوان مکتب معلم بصری رحمه الله دی ددوی حالات کتاب الإیمان باب من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه لاندې تیرشوی دی.[2]

عبدالله بن یزید: دامشهور تابعی عبدالله بن بریده (بضم الباء الموحدة وفتح الراء وسکون الباء آخر الحروف وبالدال المهملة) ابن الحصیب (بضم الحاء وفتح لاصاد المهملتین وسکون الباء آخر الحروف وفي آخره باء مؤحدة) الاسلمی المروزی رحمه الله دی. ددوی کنیت ابوسهل دی د "مرو" قاضی پاتې دی. اودې اودده رور سلیمان بن بریده دواړه غبرګونی وو.[3]

دوی د خپل پلار بریده، ابن عباس، ابن عمر، ابن مسعود، عبدالله بن مغفل، ابوموسی اشعری، ابوهریره، حضرت عائشه، حضرت سمره بن جندب، عمران بن الحصین، حضرت معاویه، مغیره بن شعبه، بشیر بن کعب، حمیدبن عبدالرحمن حمیری، ابوالاسودالدئلی، حنظله بن علی الاسلمی، ابن المسیب بن یعمر رضي الله عنهم ورحمهم الله وغیره نه د حدیث روایت کړی.

اوددوی نه بشیر بن المهاجر، سهل بن بشیر، ثواب بن عتبه، حسین ذکوان، حسین بن واقد المروزی، داؤد بن ابی الفرات، دواړو خامنو سهل بن عبدالله بن بریده اوصخر بن عبدالله بن بریده، عامر شعبی، عامراحول، عبدالله بن عطاء المکی، عبدالکریم بن سلیط بصری، عثمان بن غیاث، مالك بن مغول، مطر الوراق اوقتاده رحمهم الله وغیره حدیث روایت کوی.[4]

ابوبکر الاثرم رحمه الله فرمائی چه ما دامام احمدبن حنبل رحمه الله نه د بریده د دواړو خامنو عبدالله اوسلیمان باره کښې تپوس اوکړو نوامام احمدبن حنبل رحمه الله اوفرمائیل چه دسلیمان بن بریده باره کښې زما په زړه کښې هیڅ خبره نشته دی. (یعنی هیڅ د عیب څه خبره یا قابل تنقید څه خبره په هغه کښې نشته) اوترکومې چه تعلق دی د عبدالله بن بریده نو (د څه خاموشئ نه پس) وکیع رحمه الله فرمائی چه ائمه حدیث د عبدالله بن بریده په نسبت د سلیمان بن بریده زیات تعریف کولو.[5] او په یوروایت کښې دی چه وکیع رحمه الله اوفرمائیل ((کان سلیمان أصحهما حدیثا)).[6]

امام عجلی رحمه الله فرمائی ثقة.[7] امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی ((عبدالله بن بریدة الذي روی عنه حسن بن واقد ماأنکرها)).[8] ابن حبان رحمه الله دهغوی ذکر کتاب الثقات کښې کړی.[1] ابن معین رحمه الله او امام حاتم رحمه الله فرمائی ثقة.[2]

---

[1]) کشف الباری: ۶۷۸/۱
[2]) کشف الباری: ۴/۲.
[3]) عمدة‌القاري:۴۶۸/۳تهذیب الکمال: ۳۳۱/۱۴تهذیب التهذیب: ۱۵۷/۵سیرأعلام النبلاء:۵۰/۵.
[4]) دتلامذه اوشیوخ دپاره اوګورئ تهذیب الکمال: ۳۳۰/۱۴-۳۲۹.
[5]) تهذیب الکمال: ۳۳۱/۱۴تهذیب التهذیب: ۱۵۷/۵سیرأعلام النبلاء:۵۱/۵.
[6]) تهذیب الکمال: ۱۳۳/۱۴تهذیب التهذیب: ۱۵۷/۵.
[7]) معرفة الثقات للعجلی: ۲۲/۲.
[8]) حواله بالا.

ليكن امام بغوى رحمه الله دمحمدبن علي جوزجاني رحمه الله په حواله سره امام احمدبن حنبل رحمه الله نه د عبدالله بن بريده په هغه رواياتوكښې كوم چه دې د خپل پلار بريده نه روايت كوى تضعيف نقل كړې دې.[3]

هم دغه شان ابراهيم حربى رحمه الله فرمائى: ((عبدالله أشعر من سليمان ولم يسمعا من أبيهما وفيما روئت عبدالله بن بريدة عن أبيه أحاديث منكرة وسليمان أصح حديثا)) يعنى عبدالله بن بريده دخپل رور سليمان بن بريده نه د زيات مشهوردې. خود دواړوروڼړود خپل پلار بريده نه سماع ثابته نه ده او بيا هغه روايات كوم چه عبدالله دخپل پلار نه روايت كوى منكرروايات دى اودحديث په معامله كښې د عبدالله په مقابله كښې سليمان بن بريده اصح دې. د دې اقوالو نه معلوميږى چه ددوى دخپل پلار نه سماع ثابته نه ده اوكوم روايات چه هغوى د خپل پلار نه نقل كوى هغه منكر روايات دى.[4]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه (سره ددې دعبدالله بن بريده دخپل پلارنه سماع ثابته نه ده او كوم روايات چه هغه د خپل پلار نه كوى هغه منكر روايات دى مګر داخبره هم مسلم ده چه) د عبدالله بن بريده په صحيح بخارى كښې دخپل پلار بريده نه صرف يو روايت دې. (باقى روايات او واسطوسره نقل دى. په هغې كښې د بريده واسطه نشته) اوددغه يو روايت په تخريج بندې امام مسلم رحمه الله هم د امام بخارى رحمه الله موافقت كړې دې.[5] عبدالله بن بريده د خپل پيدائش دكال په حواله سره فرمائى چه زماپيدائش د عمر رضي الله عنه په دورخلافت كښې دحضرت عمر رضي الله عنه د خلافت نه درې كاله پس شوې.[6]

احمدبن سيار المروزى رحمه الله فرمائى چه د عبدالله بن بريده انتقال د "مرو" يوكلى جاورسه كښې شوې اودسليمان بن بريده انتقال هم د "مرو" په لوكلى قنين ښې شوې اوددواړو دمرګ په مينځ كښې لس كاله فاصله ده. يعنى د سليمان بن بريده انتقال د عبدالله بن بريده نه لس كاله وړاندې شوې.[7]

دعبدالله بن بريده انتقال د اسدبن عبدالله د ولايت په زمانه كښې شوې دغه وخت هغه د قضاء په عهده باندې وو.[8]

ابن حبان رحمه الله فرمائى عبدالله بن بريده اوسليمان بن بريده دواړه غبرګونى روڼړه وو. د دوى پيدائش د حضرت عمر رضي الله عنه د دور خلافت په دريم كال كښې ۱۵هجرى كښې شوې. د سليمان بن بريده انتقال په "مرو" كښې ۱۰۵ هجرى كښې شوې هغه دقضاء په عهده باندې فائز وو دهغوى نه پس په دغه عهده باندې دهغوى رور عبدالله بن بريده اولګيدو تردې چه دهغوى انتقال هم په دغه عهده باندې۱۱۵هجرى كښې اوشو. اوكوم حضرات چه داوائى د دواړو روڼړو انتقال په يوورځ شوې ددې هيڅ ثبوت نشته دې اوفضول خبره ده.[9]

---

[1]) ۱۶/۵.

[2]) تهذيب الكمال: ۳۳۱/۱٤تهذيب التهذيب: ۱۵۷/۵سيرأعلام النبلاء:۵۱/۵.

[3]) إكمال تهذيب الكمال: ۲۵۷/۷تهذيب التهذيب: ۱۵۸/۵.

[4]) حواله بالا.

[5]) هدى السارى:۵۸۵.

[6]) تهذيب الكمال: ۳۳۱/۱٤تهذيب التهذيب: ۱۵۷/۵سيرأعلام النبلاء:۵۱/۵.

[7]) حواله بالا.

[8]) حواله بالا.

[9]) سيرأعلام النبلاء:۵۲/۵ تهذيب الكمال: ۳۳۲/۱٤تهذيب التهذيب: ۱۵۷/۵ - ۱۵۸ كتاب الثقات لابن حبان: ۱۶/۵.

سمرة بن جندب: دا مشهور صحابی رسول حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه دې. ابن اسحاق رحمه الله فرمائی هغوی د انصار حليف وو.(۱) د دوی نسب سليمان بن سيف رحمه الله داسې بيان کړې دې: «سمرة بن جندب (بضم الجيم وفتح الدال وضمها) بن هلال بن جريج (كذا في الاستيعاب وفي تهذيب الكمال، وتهذيب التهذيب، حديج، أي: بضم الحاء وفتح الدال، وفي تهذيب الأسماء: حريج، أي: بحاء مهملة مفتوحة ثم راء مكسورة) بن مرة بن حزن بن عمرو بن جابر ذي الرياستين الفزاري» ابن اسحاق او نورو نسابين وئيلي دی چه دهغوی رضی الله عنه تعلق بنی قزاره بن ذيبان بن بغيض بن ديث بن غطفان الفزاری سره دې.(۲) ددوی کنيت ابوسعيد دې خو بعض حضراتو ددوی کنيت ابوعبدالله اوبعض ابوعبدالرحمن او بعض ابومحمد اوبعض ابوسليمان ذکرکړې دې.(۳)

حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه وړوکې شاتن وو چه د هغوی د والد جندب انتقال شوې وو. دحضرت سمره بن جندب رضی الله عنه مور هغه ځان سره مدينې ته راوستلو. دلته هغې ته د ډيرو خلقو د طرف نه دنکاح پيغامات ملاؤشو مگر هغې دا شرط کيخودې وو چه هغه به صرف داسې سړی سره واده کوی چه دهغې د ځوئی سمره د هغه د بالغ کيدو پورې کفالت هم کوی. د دې شرط په منلوسره دانصار يوسړی هغې سره واده اوکړو اوبيا هغوی خپلې مور سره هم په انصار کښې اوسيدلو.(۴)

حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه ته دحضورپاك رضی الله عنه د طرف نه د غزوه احدپه موقع په جنگ کښې د شرکت کولواجازت ملاؤشوې وو اوبيا هغوی په نورو ډيرو غزواتوکښې د حضورپاك سره د شرکت سعادت حاصل کړو.(۵)دې نه پس هغوی رضی الله عنه په بصره کښې سکونت اختيارکړې وو. زياد چه په کله د بصره نه دکوفې طرف ته تللو نوشاته به ئې ځان پسې سمره بن جندب رضی الله عنه خپل نائب مقررکولوسره تللو اوکله چه به دکوفې نه بصره طرف ته تللو نوهغه به ئې دکوفې نگران مقررکولوسره تللو. دغه شان به حضرت سمره رضی الله عنه شپږ مياشتې د کوفې نگران وو او شپږ مياشتې به د بصره نگران وو. بيا چه کله دانتقال وخت شو نو بياهم حضرت امير معاويه رضی الله عنه هغوی تقريباً يوکال پورې د بصره نگران اوساتلو اوبيائی دې معزول کړو.(۶)

حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه د حروريه سخت مخالف وو اوکله چه به هم هغوی له د حروريه څوك سړې راوستې شو نوهغوی به هغه له موقع ورکولونه بغير قتل کولو. هغوی به فرمائيل «شر قتلى تحت أديم السماء، يكفرون المسلمين ويسفكون الدماء» يعنی داخلق په مخ دزمکې باندې بدترين مقتول دی داخلق دمسلمانانوتکفيرکوی او دهغوی وينې توئيه وی. هم دغه وجه ده چه حروريه او کوم خلق چه هغوی سره په عقيده کښې نيزدې نيزدې دی په حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه باندې سخت طعن کوی

---

(۱) تهذيب التهذيب: ۱۱/۲الاستيعاب فی معرفة الأصحاب:ص: ۳۰۰تهذيب الكمال:۱۳۱/۱۲.

(۲) الاستيعاب فی معرفة الأصحاب باب سمرة ص: ۳۳۰رقم الترجمة: ۹۹۶ تهذيب الأسماء واللغات:۲۳۵/۱ تهذيب الكمال: ۱۳۰/۱۲.

(۳) الاستيعاب فی معرفة الأصحاب باب سمرة ص: ۳۳۰رقم الترجمة: ۹۹۶ تهذيب الأسماء واللغات:۲۳۵/۱ تهذيب الكمال: ۱۳۰/۱۲.

(۴) الاستيعاب فی معرفة الأصحاب باب سمرة ص: ۳۰۱ تهذيب الكمال: ۱۳٤/۱۲.

(۵) الاستيعاب فی معرفة الأصحاب باب سمرة ص: ۳۰۱ تهذيب الأسماء واللغات:۲۳۵/۱ تهذيب الكمال: ۱۳٤/۱۲ .

(۶) الاستيعاب فی معرفة الأصحاب باب سمرة ص: ۳۰۱ تهذيب الأسماء واللغات:۲۳۶-۲۳۵/۱ تهذيب الكمال: ۱۳۲/۱۲ تهذيب التهذيب: ۱۱۶/۲.

اوبدي ردي وريسي واني.[1]
ابن سيرين رحمه الله امام حسن رحمه الله اود بصره اكابرعلماء اوفضلاء به دهغوى ډير تعريف كولو.[2]. ابن سيرين رحمه الله به فرمائيل: «في رسالة سمرة إلى بنيه علم كثير»[3] يعنى دحضر سمره بن جندب رضي الله عنه دخپلو ځامنوطرف ته ليكلي شوى خط كښې ډيرې علمى خبرې دى. دې نه علاوه به ابن سيرين رحمه الله فرمائيل: «كان عظيم الأمانة، صدوق الحديث، يحب الإسلام وأهله»[4]
حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه د حفاظ صحابه كرام رضي الله عنهم نه وو اوهغوى په كثرت سره دحضورپاك نه احاديث روايت كړى دى.[5]
يوځل دهغوى او عمران بن حصين رضي الله عنه په مينځ كښې خبرې اترې روانې وې چه په دې دوران كښې حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه اووئيل چه ما دحضورپاك نه داخبره محفوظ كړې ده چه حضورپاك به په مانځه كښې دوه سكتې كولې. يوه دتكبيرتحريمه نه پس او دويمه سكته به ئې د ولاالضالين نه فارغ كيدو نه پس كوله. حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه داخبره اونه منله چه حضورپاك به دوه سكتې فرمائيلې. دا اختلاف مدينې ته د ابى بن كعب رضي الله عنه طرف ته يوړلې شو نوهغوى جواب وركړو چه «أن سمرة قد صدق وحفظ» يعنى حضرت سمره رضي الله عنه ټيك وئيلى دى اوهغه دا خبره محفوظ كړې ده.[6]
حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه ۱۲۳ احاديث روايت كړى دى په كوم كښې چه دوه احاديث داسې دى دكوم په تخريج چه د شيخين اتفاق دې يعنى دا دواړه احاديث امام بخارى رحمه الله اوامام مسلم رحمه الله دواړو په خپل خپل صحيح كښې روايت كړى دى. دې نه علاوه دوه احاديث داسې دى كوم چه صرف امام بخارى تخريج كړى دى اوڅلور داسې دى چه امام مسلم تخريج كړى دى[7]
حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اد ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه نه احاديث اوريدلى دى اودهغوى نه د هغوى دواړو ځامنو سليمان اوسعد عبدالله بن بريده، زيد بن عقبه، ربيع بنعميله، هلال بن سياف، ابورجاء العطارى، عبدالرحمن بن ابى ليلى، ابونضره العبدى، ثعلبه بن عباد او حسن بصرى رحمهم الله وغيره داحاديث روايت كړى دى.[8]
امام بخارى رحمه الله فرمانى چه دهغوى انتقال د ابوهريره رضي الله عنه نه پس شوې اوحضرت ابوهريره رضي الله عنه انتقال ۵۸هجرى كښې شوې.[9]

---

[1] الاستيعاب فى معرفة الأصحاب باب سمرة ص: ۳۰۱ تهذيب الأسماء واللغات:۲۳۶-۲۳۵/۱ تهذيب الكمال :۱۳۲/۱۴ تهذيب التهذيب:۱۱۶/۲.

[2] حواله بالا

[3] حواله بالا.

[4] الاستيعاب فى معرفة الأصحاب باب سمرة ص: ۳۰۱ تهذيب الأسماء واللغات:۲۳۶-۲۳۵/۱ تهذيب الكمال :۱۳۲/۱۲ تهذيب التهذيب:۱۱۶/۲.

[5] الاستيعاب فى معرفة الأصحاب ص: ۳۰۰.

[6] الاستيعاب فى معرفة الأصحاب ص: ۳۰۰رقم الترجمة: ۹۹۶ تهذيب الكمال:۱۳۲/۱۲.

[7] تهذيب الأسماء واللغات:۲۳۶/۱ عمدة القارى:۴۶۸/۳.

[8] دتلامذه اوشيوخ دپاره اوګورئى تهذيب الكمال: ۱۳۱/۱۲.

[9] التاريخ الكبير: ۱۷۶/۴.

ابن عبدالبر رحمه الله فرمائي چه دحضرت سمره بن جندب رضي الله عنه انتقال بصره كښې ۵۸هجري كښې شوې دې اودهغوى دمرګ سبب دا شوې وو چه هغوى كزاز نومې يوبيمارئي (چه زياته يخنى يا د زياتې وتلونه رڅ شروع كيدو په صورت كښې كيږي) راګيركړې وو. ددې د علاج د پاره هغوى حكم وركړو په يولوئى ديګچى كښې اوبه اوخوټكونى. په يولوئى ديګچى كښې اوبه اوخوټكولې شوې او په هغې دپاسه ئې يودناستې ځائې جوړكړو كوم ته چه به لوګې رسيدې شو. هغوى په دغه ځائې ناستې سره ګرمائش حاصلولو چه ناڅاپى هغوى په دغه ګرمو اوبوكښې وريړيوتل او وفات شو. لكه چه دحضورپاك ددې ارشاد تصديق وو «آخركم موتاً فى النار» يعنى تاسو صحابه كرامو كښې به داخير خلقو مرګ د اور په سبب كيږي. د آخرى صحابه كرام رضي الله عنهم نه حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه حضرت ابوهريره اوحضرت ابومحذوره رضي الله عنهم انتقال هم دغه شان د اور په سبب اوشو.[۱]دهغوى رضي الله عنه د وفات د كال سره متعلق يوقول داهم دې چه دهغوى انتقال ۵۹هجرى په آخركښې يا د ۶۰هجرى په شروع كښې شوې.[۲]

شرح حديث

قوله::أن امرأة: امرأة نه مراد حضرت ام كعب انصاريه رضي الله عنها ده. امام مسلم رحمه الله عبدالوارث عن حسن المعلم په طريق سره ددې دنوم صراحت كړې دې.[۳]

قوله::ماتت فى بطن:

يواشكال اودهغې جواب: سوال دا پيداكيږي چه خيته د مرګ سبب نه جوړيږي بيا دلته د ظرفيت څه توجيه ده؟ جواب دادې چه دلته في د ظرفيت په معنى كښې نه ده بلكه تعليليه او سببيه ده اومعنى داده چه د دغه ښځې انتقال د خيټې د بيمارئى د وجې نه شوې وو. لكه چه په حديث كښې راځى: «فى النفس المؤمنة مائة إبل» أي بسبب قتل النفس المؤمنة منة تجب مائة إبل. دغه شان د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارك دې: «إن امرأة دخلت النار فى الهرة» يعنى: لأجل الهرة، أوبسبب الهرة. دغه شان په قرآن كريم كښې هم في د سبب اوعلت په معنى كښې استعمال شوې ده لكه چه د الله تعالى ارشاد مبارك دې: ﴿فَذٰلِكُنَّ الَّذِىْ لُمْتُنَّنِىْ فِيْهِ﴾ أي:لأجله.[۴]

د بعض حضراتو ويناده چه امام بخارى رحمه الله ته دلته وهم شوې دې اوهغه وهم دادې چه هغه د «ماتت فى بطن» مطلب دا ګنړلې چه ددې ښځې انتقال د ولادت د وجې نه شوې وو اوپه دې وجه ئې ترجمة الباب داسې قائم كړو. «باب الصلاة على النفساء». جواب دادې چه امام بخارى ته وهم نه دې شوې بلكه

[۱]) تهذيب التهذيب: ۱۱۶/۲تهذيب الكمال: ۱۳۳/۱۲ الاستيعاب فى معرفة الأصحاب ص: ۳۰۱.

[۲]) الثقات لابن حبان: ۱۷۴/۳ التاريخ الكبير: ۱۷۷/۴تهذيب الأسماء واللغات: ۱/۲۳۶ تهذيب الكمال:۱۳۴/۱۲ تهذيب التهذيب:۱۱۶/۲.

[۳]) فتح البارى: ۴۲۹/۱عمدة القارى: ۴۶۸/۳ صحيح الإمام مسلم كتاب الجنائز باتب أين يقوم الإمام من الميت للصلاة عليها رقم الحديث: ۲۲۳۵.

[۴]) عمدة القارى:۴۶۸/۳شرح الكرمانى ۲۰۶/۳.

اعتراض كونكي پخپله په وهم كښې راګيرشوي دي، ځكه چه كتاب الجنائزكښې ((باب الصلاة على النفساء)) او ((باب أين يقوم الإمام من المرأة)) لاندې حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه نه روايت دي: ((صليت وراء النبي صلى الله عليه وسلم على امرأة في نفاسها، فقام عليها وسطها)) چنانچه په روايت كښې تصريح شته چه دام كعب انصاريه رضی الله عنها انتقال د خيټې د بيمارئى يعنى نفاس د وجې نه شوې وو.(١)

قوله: فقام وسطها:

دجنازې مونځ دامام دپاره د اودريدوځائى: امام د جنازې مونځ كولووخت كښې به دمړى د كوم اندام په محاذاتوكښې اودريږى؟ نودا د ائمه اربعه په مينځ كښې يوه ا ختلافى مسئله ده.

د مالكيه مذهب: په دې سلسله كښې د امام مالك رحمه الله مذهب دادې: ((وصفة الموقوف المندوب فى صلاة الجنازة أن يقف الإمام ومثله المنفرد فى الصلاة على الرجل عند وسطه، وفى الصلاة على المرأة عند منكبيها))
اصحاب مالك رحمهم الله فرمائى چه د ښځې د اوږو په محاذات كښې د اودريدو حكم په دې وجه كړې شوې دې ځكه چه په وسط كښې (مينځ، عجيزه، سرين) محاذات كښې اودريدوكښې دخيالاتو ګډوډ كيدو انديښنه ده اوداكوم چه په حديث سمره بن جندب رضی الله عنه كښې د حضورپاك عمل نقل دې چه حضورپاك د ښځې د مړى جنازه كولووخت كښې دمړى مينځ محاذات كښې ولاړ وو نوچونكه دحضورپاك ذات مبارك او پاك خيالات د ګډوډ كيدونه محفوظ او معصوم دې په دې وجه ددې حديث نه اشكال نه دى كيدل پكار.

دشوافع مذهب: دامام شافعى رحمه الله نه په دې مسئله كښې هيڅ نص نه دې نقل. البته اصحاب امام شافعى رحمهم الله فرمائى د ښځې د جنازې مونځ كښې مسنون عمل دادې چه امام دهغې سرين (وسط) محاذات كښې اودريږى ځكه چه دحضرت انس رضی الله عنه نه ثابت دى چه هغه به د ښځې د جنازې په مونځ كښې دمړى مينځ يعنى سرين په محاذات كښې اودريدو او د مړى د جنازې دپاره دهغه د سر په محاذات كښې اودريدو. بيا چه كله علاء بن زياد رحمه الله دهغوى نه سوال اوكړو چه آيا حضورپاك به هم د ښځې په حق كښې سرين محاذات كښې اود سړى په حق كښې د سر محاذات كښې اودريدو؟ نوحضرت انس رضی الله عنه اوفرمائيل اوجى.(٢)

اودسړى د جنازې په معامله كښې د شوافع نه دوه قسمه قول نقل دې. امام ابوعلى طبرى، امام الحرمين، امام غزالى او امام صيدلانى رحمهم الله فرمائى چه امام دې په جنازه كښې د سړى د سينې محاذات كښې اودريږى. خو د جمهور متقدمين اصحاب امام شافعى رحمهم الله په دې باندې اتفاق دې چه امام دې د سړى په جنازه كښې د مړى د سر محاذات كښې اودريږى. ددې دليل هم د حضرت انس رضی الله عنه هم دغه پورته ذكرشوې روايت دې. بل ددې حضراتو استدلال د حديث الباب (حديث سمره بن جندب رضی الله عنه) نه هم دې. حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه فرمائى چه ما د حضورپاك په اقتداء كښې د يو داسې ښځې د جنازې مونځ كړې د كومې انتقال چه د بچى پيداكيدود وجې نه شوې وو حضورپاك

---

(١) شرح الكرمانى: ٢٠٦/٣عمدة القارى: ٤٦٨/٣فتح البارى: ٤٢٩/١.

(٢) سنن أبى داؤد كتاب الجنائز باب أين يقوم الإمام من الميت إذا صلى عليه رقم الحديث: ٣١٩٤جامع الترمذى كتاب الجنائز باب ماجاء أين يقوم الإمام من الرجل والمرأة رقم الحديث: ١٠٣٤سنن ابن ماجه كتاب الجنائز باب ماجاء فى أين يقوم الإمام إذاد صلى على الجنازة رقم الحديث: ١٤٩٤.

دهغه ښځې وسط (محاذات) کښې ولاړ وو.

علامه نووی رحمه الله فرمائی: «السنة أن يقف الإمام عند عجيزة المرأة بلا خلاف للحديث، ولأنه أبلغ في صيانتها عن الباقين، وفي الرجل وجهان: الصحيح باتفاق المصنفين، وقطع به كثيرون وهو قول جمهور أصحابنا المتقدمين أنه يقف عند رأسه. والثاني:..... قاله أبوعلي الطبري.... عند صدره، وهذا اختيار إمام الحرمين والغزالي، وقطع به السرخسي. قال الصيدلاني: وهو اختيار أئمتنا، وقال الماوردي: قال أصحابنا البصريون: عند صدره، والبغداديون عند رأسه، والصواب ما تقدمته عن الجمهور، وهو عند رأسه»[1]

د حنابله مذهب: دامام احمدبن حنبل رحمه الله مذهب دادې چه د ښځې دجنازې د مونځ دپاره به امام د هغې په وسط يعنى عجيزه (سرين) محاذات کښې اودريږى اودسړى په حق کښې به دهغه د سينې محاذات کښې اودريږى. علامه زرکشی رحمه الله فرمائی چه دا روايت دامام احمدبن حنبل رحمه الله نه د هغه اصحاب (شاګردانو) روايت کړې دې اوهم دغه د جمهور اصحاب امام احمدبن حنبل رحمهم الله مذهب دې. دې نه علاوه هم دوه نور روايتونه نقل دى. د اثرم رحمه الله په روايت کښې دى چه دسړى د اوږو په محاذاتوکښې به اودريږى او په يو روايت کښې دى چه د سړى د سر محاذت کښې به اودريږى لکه چه په حديث د حضرت انس رضي الله عنه کښې ذکردى.

اصحاب امام احمد بن حنبل رحمهم الله فرمائى چه د سر په محاذات کښې اودريدل يا د اوږدو په محاذات کښې اودريدل يا د سينې په محاذات کښې اودريدل دا ټول نيزدې نيزدې دى. بس په دې کښې په يومقام کښې اودريدونکې سړې د قرب مکان د وجې نه بل خائى ولاړ محسوس کيږى.

چنانچه زرکشى رحمه الله فرمائى: «والإمام يقوم عند صدر الرجل وعند وسط المرأة، نص أحمد على هذا في رواية عشرة من أصحابه، وعليه عامة أصحابه، وروي عنه أنه يقف عند رأس الرجل وهو الذي قاله أبو محمد في المقنع، والكافي، وهو المشهور في حديث أنس. قا أبوبركات: والقولان متقاربان، فإن الواقف عند أحدهما يمكن أن يكون عند الآخر، لتقاربهما، فالظهر أنه وقف بينهما، وقد قال أحمد في رواية الأثرم: يقف من الرجل عند منكبيه».[2]

لکه چه دامام شافعى رحمه الله او امام احمد په مذهب کښې څه خاص فرق نشته دې. بلکه دواړه مذهبونه نيزدې نيزدې دى اوبيا د دواړو مذاهبو استدلال هم د حديث حضرت انس رضي الله عنه او حديث سمره بن جندب رضي الله عنه نه دې. هم دغه وجه ده چه علامه قدامه رحمه الله فرمائى: «فأما قول من قال: يقف عند رأس الرجل، فغير مخالف لقول من قال بالوقوف عند الصدر، لأنهما متقاربان، فالواقف عند أحدهما واقف عند الآخر».[3]

د احناف مذهب: د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله نه په دې سلسله کښې مختلف اقوال نقل دى. ړومبې روايت دادې چه امام د جنازې په مونځ کښې دمړى د سينې په محاذات کښې اودريږى که مړې سړې وى اوکه ښځه. دا داحناف په نيز راجح او قول مختاردې.[4]

دويم روايت دادې چه امام به په جنازه کښې د سړى د سر محاذات کښې اود ښځې د سرين محاذات کښې اوديږى. علامه عينى رحمه الله فرمائى چه د ابن ابى ليلى رحمه الله او ابراهيم نخعى رحمه الله هم دغه قول

---

[1]) المجموع شرح المهذب: ۱۸۳/۵مكتبة الإرشاد، العزيز شرح الوجيز المعروف بالشرح الكبير:۴۳۲/۲الحاوى فى فقه الإمام الشافعي: ۵۰/۳دارالكتب العلمية.

[2]) المغنى لابن قدامة:۴۵۳/۳-۴۵۲دارعالم، شرح الزركشي: ۳۳۰/۳-۳۲۹مكتبة العبيكان.

[3]) المغنى لابن قدامة:۴۵۳/۳.

[4]) البناية شرح الهداية:۲۲۵/۳-۲۲۴بدائع الصنائع:۳۳۹/۲ شرح فتح القدير:۱۳۰/۲رشيديه.

دي. «اوهم دا د شوافع حضراتو مذهب هم دی». دریم روایت دادې چه امام دې په جنازه کښې د سړی سرین محاذات کښې اود ښځې د سینې محاذات کښې اودریږی.[1]
دامام ابویوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله مذهب دادې چه امام دې په جنازه کې دښځې په حق کښې دهغې سرین محاذات کښې اود سړی په حق کښې د دهغه د سرمحاذات کښې اودریږی. هم دا د امام ابوحنیفه رحمه الله دویم روایت دې.[2] بل فقهاؤ د ابن ابی لیلی رحمه الله نه هم مختلف اقوال نقل کړی دی. چنانچه علامه کاسانی رحمه الله فرمائی چه د ابن ابی لیلی رحمه الله په نیز مشهور دادې چه امام دې په جنازه کښې د سړی د سرین محاذات کښې اود ښځې د سینې محاذات کښې اودریږی.[3] دویم قول دادې چه امام دې د سړی د سر په محاذات کښې اود ښځې سرین په محاذات کښې اودریږی لکه چه د امام ابوحنیفه رحمه الله دویم روایت دې.[4]اودریم قول دادې چه دسړی دسینې محاذات اوډ ښځې سرین محاذات کښې دې اودریږی.[5]
حاصل دا چه په دې مسئله کښې د ائمه احناف اقوال ډیر زیات اومختلف دی. البته راجح مشهور اوقول مختار هم دغه دې چه د احنافو په نیز امام د جنازې مونځ کښې د مړی د سینې محاذات کښې اودریږی که هغه مړې د سړی وی اوکه د ښځې وی اوهم دغه د روایت نه هم ښکاره دی. چنانچه علامه سرخسی رحمه الله فرمائی: «وأحسن مواقف الإمام من الميت في الصلاة عليه بحذاء الصدر»[6]يعنی د جنازې د مونځ کولوِوخت کښې د امام د اودریدوِدپاره خوښ کړې شوې ځائی دادې چه هغه دې د مړی د سینې محاذات کښې ولاړوی که مړې د سړی وی اوکه د ښځې.
اوعلامه عینی رحمه الله فرمائی: «وفي "التحفة" و "المفيد": المشهور من الروايات عن أصحابنا في الأصل وغيره أن يقوم من الرجل والمرأة بحذاء الصدر»[7] يعنی داصحاب نه نقل شوی روایاتو کښې مشهور روایت هم دغه دې چه امام دې دمړی د سینې محاذات کښې ولاړ وی که مړې د سړی وی اوکه د ښځې.
داحناف مستدل: د احنافو استدلال دادې چه (صدر) سینه په ټولو اندامونو کښې لویه ده اشرف الاعضاء ده ځکه چه په سینه کښې زړه وی او زړه د ایمان مرکز اودعلم وحکمت معدن دې. اوچونکه هم د ایمان د وجې نه د چاجنازه کولې شی نود سینې په محاذات کښې اودریدل به دې طرف ته مشیروی چه د ایمان په وجه د دې سړی شفاعت او سفارش کولې شی.[8]
د حضرت انس رضي الله عنه د حدیث نه استدلال صحیح نه دې: دحدیث انس رضي الله عنه نه استدلال په دې وجه صحیح نه دې ځکه چه په دې حدیث کښې اضطراب دې په بعض طرق کښې «**عندرأس الرجل او عند وسط المرأة**» کلمات دی مګر بعض کښې «**حيال صدر**» اوبعض کښې «**حيال منكبيه**» کلمات هم دی.

---

[1] البناية شرح الهداية:۲۲۵/۳.
[2] المغنى لابن قدامة:۴۵۲/۳ البناية شرح الهداية:۲۲۵/۳.
[3] بدائع الصنائع:۳۳۹/۲.
[4] البناية شرح الهداية:۲۲۵/۳.
[5] المبسوط للسرخسي:۱۱۸/۲.
[6] المبسوط للسرخسي:۱۱۸/۲.
[7] البناية شرح الهداية:۲۲۵/۳.
[8] تبيين الحقائق:۲۴۲/۱ إعلاء السنن: ۲۲۶/۸.

لهذا اوس يو اخستل اودليل نيول به صحيح نه وى. (١)
اوكه چرې حديث انس رضي الله عنه مضطرب اونه منلې شى نوبياهم جواب دادې چه په هغه زمانه كښې به جنازې پوره نه وې پټې شوې. په دې وجه به د ښځې په حق كښې مناسب هم دامعلوميدل چه د ستر په محاذات كښې دې امام ولاړ وى دې دپاره چه امام دمړى او قوم په مينځ كښې حائل شى اودا طريقه به د ښځې دپاره استر يعنى زياته د ستر سبب وه. ليكن اوس خو جنازې منعوش يعنى په مكمل توګه باندې پټې وى په دې وجه اوس د ستر په محاذات كښې د اودريدو څه خاص وجه پاتې نه شوه. لهذا اوس د ايمان مركز يعنى د سينې په محاذات كښې اودريدل زيات مناسب دى. چنانچه هم په دغه حديث انس رضي الله عنه آخركښې راوى حديث حضرت نافع ابوغالب فرمائى: «فسألت عن صنيع أنس.... رضى الله عنه...... فى قيامة على المرأة عند عجيزتها؟ فحدثونى أنه إنما كان لأنه لم تكن النعوش، فكان يقوم الإمام حيال عجيزتها يسترها من القوم»(٢)
يعنى ما دحضرت انس رضي الله عنه ددې عمل باره كښې تپوس اوكړو چه هغه د ښځې د رين محاذات كښې داودريدو په صورت كښې اختياركړل، نوخلقو ماته دابيان كړل چه داسې دنعوش بندوبست نه كيدود وجې نه وو د كوم د وجې نه چه به امام د ښځې د سرين محاذات كښې اودريدلو دې دپاره چه هغه د قوم او نوروخلقود نظرونونه پټ اوساتى.
دوه اشكاله اودهغې جواب: په دې تاويل باندې دوه اشكاله كيږى. رومبې اشكال دادې چه دامام ابوداؤد رحمه الله په طريق سره نقل شوې حديث حضرت انس رضي الله عنه لاندې ددې خبرې تصريح ده چه كله د ښځې جنازه پيش كړې شوه نو په هغې باندې د شين رنګ كپړه پرته وه. چنانچه د روايت په الفاظو كښې «فقربوها وعليها نعش أخضر» لهذا ذكركړې شوې تاويل صحيح نه دې. څكه چه حضرت انس رضي الله عنه دمنعوش كيدونه باوجود وسط (په محاذات) كښې اودريدو سره مونځ وركړو. او دويم اشكال دادې چه كله وړاندې كړې شوې جنازه منعوش وه نوبيا د ابوغالب رحمه الله نه ددې خبرې د نقل كولو څه مقصد دې چه «لأنه إنما لم تكن النعوش؟» اوبيا دابوغالب رحمه الله نه بيان كونكى ټول په ټول مجهول هم دى.
جواب دادې چه حضرت ابوغالب رحمه الله ته دا وئيلى شوى وو چه حضرت انس رضي الله عنه د خپل اسلاف تقليد اواتباع كړې ده دهغه داسلاف عمل هم دغه وو چه هغوى به د جنازې نه منعوش كيدو په صورت كښې د وسط په محاذات كښې اودريدل. اوس حضرت انس رضي الله عنه د دغه علت رعايت اونه كړو بلكه هغوى هم د اسلاف اتباع كولوسره د وسط په محاذات كښې اودريدو سره د جنازې مونځ وركړو. لهذا اوس مطلب دادې چه بيان كونكو حضرت ابوغالب رحمه الله ته دا اووئيل چه حضرت انس رضي الله عنه د اسلاف اتباع كړې ده اوداسلاف طريقه هم دغه وه څكه چه په هغه زمانه كښې به جنازې منعوش نه وې.
اوچه تر كومې تعلق دې د هغه روات چاچه حضرت ابوغالب رحمه الله نه دا روايت ذكركړې نوسره ددې چه هغوى مجهول دي ليكن دا هم يواصل اوقاعده ده چه د قرون اولى د محدثينو جهالت نقصان وركونكې نه دې.(٣) اوبيا عين ممكن دى چه هغه جنازه منعوش وى كومه چه د حضرت انس رضي الله عنه

---

(١) تبيين الحقائق:١/٢٤٢ إعلاء السنن: ٨/٢٦.
(٢) حواله بالا، والرواية المذكورة رواها الإمام أبوداؤد فى كتاب الجنائز باب أين يقوم الإمام من الميت إذا صلى عليه رقم الحديث: ٣١٩٤.
(٣) إعلاء السنن: ٨/٢٢٧-٢٢٦.

مخې ته راولې شوه خوپه دې سره دا نه لازم کیږی چه د کومو ښځو جنازه حضورپاك پخپله کړې وی دهغوی جنازې هم منعوش وې لهذا زمونږ ذکرکړې شوې تاویل صحیح دې.(۱)
بل د حدیث حضرت انس ﷺ په مقابله کښې مونږ د حدیث سمره بن جندب ﷺ نه استدلال کوو ځکه چه په دې روایت کښې رسول الله ﷺ دهغه ښځې جنازه د مړی په وسط کښې اودریدو سره کړې. په دې روایت سره زمونږ د مذهب تائید کیږی (سره ددې چه شوافع اوحنابله هم ددې روایت نه په خپل مذهب باندې استدلال کوی او لفظ وسط متحرك السین لوستلو سره ددې نه مراد عجیزه اوسرین اخستې دی) اوهغه داسې چه په دې روایت کښې لفظ وسط استعمال شوې دې اودا لفظ دوه شان سره لوستلې شی. د سین په حرکت سره اود سین په سکون سره. په رومبی صورت کښې به دا اسم وی او دې نه مراد به هر هغه ځیز شی چه د دوو ځیزونو په مینځ کښې په هرځائی کښې چه وی. بل د وسط استعمال په متصل الاجزاء کښې کیږی اود وسط استعمال متفرق الاجزاء کښې کیږی.(۲)
هم دغه وجه ده چه ((جلست وسَط القوم)) ونیل صحیح نه دی ځکه چه دوسط استعمال په متصل الاجزاء کښې کیږیٔ او قوم متفرق الاجزاء دې. او ((جلست وسَط الدار)) ونیل صحیح دی ځکه چه دار متصل الاجزاء دې او دواړه یعنی وسط او سط صدر (سینه) جوړیدې شی. د وسط په صورت کښې د بدن مینځمې حصه سینه داسې جوړیږی چه دواړه خپې دواړه لاسونه اوسر په اطراف کښې دی ددې ویستو سره باقی بدن د سرین نه واخله ترڅټ پورې باقی پاتې کیږی اوښکاره خبره ده چه دې کښې صدر (سینه) وسط او بالکل مینځمې حصه جوړیږی. د اطراف د ویستلو ضرورت ځکه پیښ شو ځکه چه د وسط استعمال متصل الاجزاء کښې کیږی په کوم کښې چه تفریق نه وی.(۳) اودوسط په صورت کښې د سرنه واخله ترخپو مینځمې حصه ټول وسط دې اوداسې هیڅ یو اشکال هم باقی نه پاتې کیږی.
چنانچه: ((الساکن متحرك والمتحرم ساکن)) مشهوره مقوله هم ددې مقتضی ده.(۴)
دعلامه سرخسی قول: علامه سرخسی فرمائی چه هم سینه په حقیقت کې وسط دې ځکه چه دې نه پورته سراودواړه لاسونه اودې نه ښکته خیټه اودواړه خپې دی اودغه سان صدر(سینه)وسط جوړیږی.(۵) بل دا تاویل هم ممکن دې چه حضورپاك مونځونه هم د صدر محاذات کښې اودریدوسره کړی دی. مګر په یوه موقع درسول الله ﷺ خیال دسر طرف ته او په بله موقع میلان دعجیزه (سرین) طرف ته شوې. دکوم نه چه راوی دا ګمان کړې چه حضوراکرم د دواړو په مینځ کښې تفریق کړې دې.(۶)
بل د احنافو تائید دحضرت ابن عمر ﷺ د عمل نه هم کیږی ځکه چه هغوی به د ښځو او سړو په جنازو کښې د قیام په اعتبارسره فرق نه کولو بلکه دواړه به نی برابر ګڼړل.(۶)
دغه شان سعید ﷫ په خپل سندسره دامام شعبی ﷫ نه روایت کوی چه کله ام کلثوم بنت علی اودهغې ځونی زید بن عمر ﷺ انتقال شو اودهغوی جنازه نی راوړله نودهغه وخت امیر دهغوی

(۱) البنایة شرح الهدایة: ۲۲۷/۳.
(۲) النهایة لابن الأثیر: ۱۸۳/۵تاریخ العروس: ۱۷۵/۲۰-۱۷۳الفروق اللغویة: ۳۰۸ ارالعلم والثقافة .
(۳) بدائع الصنائع: ۳٤۰/۲.
(۴) تاج العروس: ۱۷۸/۲ التراث العربی.
(۵) المبسوط للسرخسی: ۱۱۸/۲شرح فتح القدیر: ۱۳۱/۲تبیین الحقائق: ۲٤۲/۱.
(۶) شرح فتح القدیر: ۱۳۱/۲بدائع الصنائع:۳٤۰/۲.
(۷) مصنف عبدالرزاق کتاب الجنائز باب أین توضع المرأة من الرجل رقم الحدیث: ٦۳٤۸

جنازه اوکړه اود دواړو سرونه اوخپې ئې برابر کیخودې.(١)
هم دغه شان داهل مکه اواهل مدینه عمل هم دښځو اوسړو په حق کښې د برابرئی دې. په روایت کښې دی چه کله حضرت سعیدبن جبیر رحمه الله مکې ته تشریف راوړو اوهغه اولیدل چه اهل مکه د ښځې اوسړی په یوځائې جنازه کولو کښې د ښځې اوسړی په مینځ کښې د قیام په اعتبارسره فرق نه کوی نودوی غوښتل چه دا خلق دې دښځې سر دسړی په مینځمې حصه د بدن محاذات کښې کړی خواهل مکه دهغه خبره اونه منله. لهذا ددې روایاتونه دا ثابتیږی که چرې د سړی اوښځې په حق د قیام په سنت کښې فرق وې نود حمضرت ابن عمر رضي الله عنهما اواهل مکه اواهل مدینه عمل به هم تسويه بين الرجل والمرأة نه وې.(٢)

د علامه رشیداحمدګنګوهی رحمه الله قول: علامه رشیداحمدګنګوهی رحمه الله فرمائی چه د جانض اونفساء وغیره په حق کښې دامام دپاره سنت قیام دادې چه دکټ په وسط (مینځ) کښې اودریږی دې دپاره چه ستر اوشی ځکه چه په هغه زمانه کښې دنعوش بندوبست نه کیدلو. بیا چه کله ددې نه استغناء اوشوه اودنعوش انتظام شروع شو نوچونکه «النساء شقائق الرجل» یعنی ښځې د سړو په شان دی په دې وجه ددې انتظام نه پس دهغوی حکم هم په سنت قیام کښې د سړو په شان شو.(٣)

هم ددې مضمون طرف ته حافظ ابن حجر رحمه الله هم «كتاب الجنائز باب أين يقوم من المرأة والرجل» کښې اشاره کړې ده او په هغه باب کښې هم دغه حدیث سمره بن جندب رضي الله عنه ذکر دې. چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په هغې کښې په ښځو باندې د جنازې د مونځ دمشروعیت بیان دې. ځکه چه د ښځې دنفاس والا کیدل غیر معتبروصف دې اود ښځې ښځه کیدل دواړه احتماله لری. ددې خبرې هم احتمال دې چه دادې معتبره اوګنړلې شی اوددې خبرې هم احتمال دې چه غیرمعتبره دې وی. که معتبرئی اوګنړله نود جنازې په مونځ کښې د ښځې مینځ ته اودریدل د ستر په غرض دی اوهم دا د ښځې په حق کښې مطلوب هم دی اوکه چرې غیرمعتبر ده نو په مینځ کښې د اودریدو حکم هغه وخت وو کوم وخت چه د ښځودپاره دنعوش انتظام نه وو. او اوس چه انتظام شوې دې نود مطلوبه ستر حصول شوې دې اوهم په دې وجه امام بخاری رحمه الله ترجمة الباب په سوالیه اندازکښې پیش کړې او اراده ئې دا ده چه د ښځې اوسړی په مینځ کښې دامام د قیام په مسئله کښې هیڅ فرق نشته دې. او داسې ئې د حضرت انس رضي الله عنه د روایت د تضعیف طرف ته اشاره اوکړه کوم چه امام ترمذی رحمه الله او امام ابوداؤد رحمه الله تخریج کړې دې. په کوم کښې چه دی حضرت انس رضي الله عنه د سړی په حق کښې اودښځې په حق کښې دقیام په اعتبارسره فرق کړې دې اودائې سنت ګرځولې دی.(٤)

د حدیث تر جمة الباب سره مناسبت: دحدیث ترجمة الباب سره مناسبت دادې چه په دواړوکښې یو شان مضمون ذکر دې یعنی په دواړوکښې دنفاس په حالت کښې وفات کیدونکې ښځه باندې د جنازې د مونځ کولو ذکر دې. البته داخبره په ځپل ځائې تیره شوې ده چه د امام بخاری رحمه الله دا ترجمه

---

(١) مصنف ابن أبي شيبة كتاب الجنائز باب جنائز الرجال والنساء من قال: الرجل مما يلي الإمام والنساء أمامن ذلک، رقم الحدیث: ١١۶٨٨.

(٢) إعلاء السنن: ٢٢٧/٨المغنى لابن قدامة:٤٥٤/٣-٤٥٣.

(٣) لامع الدراری: ٢٩٣/٢-٢٩١ الكنز المتواری:٣١٠/٣-٣٠٩.

(٤) فتح الباری: ٢٠١/٣الكنز المتواری: ٣١٠/٣الأبواب والتراجم: ۶٧ لامع الدراری: ٢٩٣/٢-٢٩٢.

کتاب الحیض سره مناسبت نه لري.[1]

اختلاف نسخ: په دې مقام دصحیح بخاري په نسخوکښې اختلاف موندلې شي بعض نسخوکښې باب بلاترجمه عنوان دې او بعض نسخوکښې باب عنوان دسره موجود نه دې اوحدیث مذکورئی باب سابق لاندې داخل کړې دې. شراح کرامو لیکلي دی چونکه دحدیث میمونه ﷺ حکم په باب سابق کښې موجود دحدیث د حکم نه مختلف دې په دې وجه امام بخاري رحمه الله ددواړو په مینځ کښې باب ونیلوسره جدا کړل لیکن ترجمه ئی قائم نه کړه.[2]

دباب بلاترجمه حکم: دابوزر په روایت کښې لفظ باب بلاترجمه موجود دې اودهغوی عادت دې چه هغوی داسې باب بلاترجمه باب سابق دپاره په منزله د فصل ګرځوی. دکوم تفصیل چه شاته ذکرکړې شوې دې. چونکه په حدیث میمونه ﷺ اوحدیث باب سابق کښې د حکم په اعتبارسره اختلاف دې په دې وجه امام بخاري رحمه الله په لفظ باب راوړلوسره د دواړو په مینځ کښې فصل اوکړو.

د اصیلي د روایت مطابق دحدیث میمونه k باب سابق سره مناسبت: باقي د اصیلي وغیره په روایت کښې لفظ باب موجود نه دې اوحدیث میمونه ﷺ د باب سابق لاندې داخل دې. په دې صورت کښې به دحدیث میمونه ﷺ د باب سابق سره مناسبت داشی چه په دې حدیث کښې په دې خبره باندې تنبیه ورکړې شوې ده چه حائضه اونفساء دواړه عین اوظاهري بدن په اعتبار سره پاکې دی اوددې دلیل دادې چه د حضورپاك کپړې د مونځ دوران کښې د حضرت میمونه ﷺ بدن سره لګیدې حال دادې چه هغه د حیض په حالت کښې وه. ددې نه معلومه شوه چه دحائضه عین او ظاهر پاك دی ګنی حضورپاك به خامخا خان ساتلو.[3]

د شیخ الحدیث زکریا رحمه الله نقداو رائې: شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمائی چه حدیث میمونه ﷺ د باب سابق سره کوم مناسبت بیان کړې شوې دې هغه سره ددې چه واضح دې مګر په داسې صورت کښې مسئله «باب الصلاة علی النفساء» سره متعلق نه پاتې کیږي. زما په نیز توجیه داده چه د امام بخاري رحمه الله حدیث میمونه ﷺ ذکرکولونه پس مقصد په حائضه ښځه باندې د جنازې مونځ جائز کیدل بیانول دی اوهم ددې دپاره نی حدیث میمونه ﷺ فوری راوړلو لیکن چونکه حدیث میمونه ﷺ د جنازې د مونځ په حق کښې منصوص نه وو په دې وجه ددې دپاره امام بخاري رحمه الله دترجمه تصریح اونه کړه بلکه هم دغه ترجمه په حدیث سره مستنبط کولوسره ثابته کړه او هغه داسې چه مخې ته ملاسته ښځه د مخې ته کیخودونکې جنازې په شان ده. نوچه څنګه ښځه په حالت د حیض کښې وی اومخې ته ملاسته وی اود مونځ کونکی کپړه هغې سره لګی نو په دې سره هیڅ نقصان لازم نه راځی. هم دغه شان که چرته د ښځې د حیض په حالت کښې یا دنفاس په حالت کښې انتقال اوشی نودهغې د جنازې مونځ به اداکولې شی په دې سره هم څه نقصان لازم نه راځی.[4]

په آخره کښې شیخ الحدیث زکریا رحمه الله فرمائی چه هم دغه توجیه د علامه رشیداحمد ګنګوهي رحمه الله دکلام نه هم مستنبط کیږي.

---

[1] عمدة القاري:۳/۴۶۷.

[2] عمدة القاري:۳/۴۷۰فتح الباري: ۱/۴۳۰الکنزالمتواري:۳/۳۱۱.

[3] فتح الباري: ۱/۴۳۰عمدة القاري:۳/۴۷۰ الکنزالمتواري: ۳/۳۱۱ التوضیح:۵/۱۴۴.

[4] الکنزالمتواري:۳/۳۱۲-۳۱۱لامع الدراري: ۲/۲۹۴الأبواب والتراجم:۶۷

د علامه رشيداحمد گنگوهي رحمه الله رائې: علامه رشيد احمد گنگوهي رحمه الله فرمائي چه امام بخاري رحمه الله داحديث **صلاة على إثر الحائض** په نسبت سره راوړلې دې او په شاته حديث کښې **صلاة على إثر النفساء** ذکرو اود هغې دپاره ترجمة الباب هم قائم کړې شوې وو. په حديث ميمونه رضي الله عنها کښې امام بخاري رحمه الله داخودلي دي چه د حائضه قرب دمونځ د صحت منافي نه دی. لکه چه داحديث د سابقه باب دپاره په منزله د نظير اومثال دې يعني په نفاس والا باندې مونځ کول داسې دی لکه چه څوک مونځ کوی اوحائضه ښځه دهغه مخې ته ملاسته وی نولکه څنگه چه دحائضه مخې ته سملاستل د مونځ د صحت منافي نه دی هم دغه شان په نفساء مړې باندې د جنازې مونځ کول هم صحيح او جائزدی. مګر دواړوکښې څه تفاوت شته. يوخودا چه شاتنی حديث کښې اوحديث ميمونه رضي الله عنها کښې دقرب په اعتبار سره تفاوت دی په دې معنی چه شاتنې حديث کښې قرب او دې حديث ميمونه رضي الله عنها کښې ذکرکړې شوې قرب نه کم دې. لکه چه ددواړو حديثونه بالکل واضح دی.

دويم دا چه په تيرشوی روايت باندې **صلاة على إثر النفساء** ترجمه قائم کړې شوې وه اوحديث ميمونه رضي الله عنها کښې دحائضه ذکر دې.

دريم دا چه شاتنی حديث کښې د امام مخې ته مړې کيدل مقصودی څيز دې خو په حديث ميمونه رضي الله عنها کښې مخې ته سملاستل يواتفاقي امر دې.

څلورم تفاوت دادې چه شاتنی حديث کښې په حقيقت کښې دعاده اوحديث ميمونه رضي الله عنها کښې حقيقي مونځ مراددې. نوچونکه په دواړو حديثوکښې په دغه پورتنو اعتبارات سره فرق دې په دې وجه امام بخاري رحمه الله په دواړو حديثوکښې باب بلا ترجمه راوړلوسره جدائی اوکړه څکه چه باب بلاترجمه دفصل په اراده سره راوړلې شي.(۱)

بعض حضراتو د علامه گنگوهي رحمه الله دا توجيه په يوبل انداز کښې ذکرکړې ده هغوی فرمائي چه «باب الصلاة على النفساء» نه شاته باب کښې د ابن عباس رضي الله عنهما په حواله سره تيرشوی دی چه مستحاضه به د دم حيض په انقطاع باندې فوری غسل کوی اومونځ به کوی دنور څه څيز انتظار به نه کوی اود استحاضه وينه دمونځ نه مانع نه ده. او که دحيض وينه وی نومونځ نه شي کولې. اوس سوال دا پيداکيږی چه که د حيض په زمانه کښې د ښځې انتقال اوشی چه په ناپاکنی کښې انتقال شوې نوآيا دهغې د جنازې مونځ به کولې شی؟ څکه چه د حالت حيض غسل مطهر نه دې اود مونځ دپاره طهارت شرط دې؟ امام بخاري رحمه الله د **صلاة على إثر النفساء** باب کيخودوسره اوخودل چه نفساء وی که حائضه په اصل سره ددواړو بدن پاك دې بيا په غسل سره هغه ظاهری لوث يعنی خرابې هم لرې شو اومرگ ايمان مستحکم کړو کوم چه عين طهارت دې. بيا په دې باندې په مونځ کولوکښې څه تردد دې اوچونکه د صلاة على الحائض باره کښې دامام بخاري رحمه الله د شرط موافق څه روايت نه وو لهذا باب بلاترجمه کيخودو سره دحضرت ميمونه د روايت نه د اشاره په توگه ددې په جواز باندې تنبيه اوکړه چه د حائضه بدن ناپاك نه دې.(۲)

---

(۱) لامع الدراری: ۲/ ۲۹٤الکنزالمتواری:۳/۳۱۲-۳۱۱.

(۲) إيضاح البخاری: ۱۵۵/۱۲مکتبه مجلس قاسم المعارف ديوبند، يوپی.

الحديث الثاني

[٣٢٦]-حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُدْرِكٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمَّادٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا أَبُو عَوَانَةَ اسْمُهُ الْوَضَّاحُ، مِنْ كِتَابِهِ، قَالَ: أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ الشَّيْبَانِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَدَّادٍ، قَالَ: سَمِعْتُ خَالَتِي مَيْمُونَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا كَانَتْ تَكُونُ حَائِضًا، لاَ تُصَلِّي وَهِيَ مُفْتَرِشَةٌ بِحِذَاءِ مَسْجِدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، «وَهُوَ يُصَلِّي عَلَى خُمْرَتِهِ إِذَا سَجَدَ أَصَابَنِي بَعْضُ ثَوْبِهِ»(١)[٣٧٢، ٣٧٤، ٤٩٥، ٣٩٢]

ترجمه: دحضرت عبدالله بن شداد نه روايت دې هغه فرمائي چه ماد خپلې ترور حضرت ميمونه رضي الله عنها حرم سركار دوعالم ﷺ نه اوريدلي چه فرمائيلې هغې به د حيض په حالت كښې كيدود وجې نه مونځ نه شوكولې اوزه به هغه وخت د رسول الله ﷺ د سجدې ځائى كښې ملاسته ووم او حضورپاك به په خپل وړوكى پوزكى باندې مونځ كولو اود سجدې په حالت كښې به د رسول الله ﷺ دكپړې څه حصه زما بدن سره لګيدله.

تراجم رجال

الحسن بن مدرك: دا مشهور محدث حافظ ابوعلى الحسن بن مدرك بن بشيرالسدوسى البصرى الطحان رحمه الله دې.(٢)

هغوى ديحيى بن حماد، محبوب بن الحسن اوعبدالعزيز بن عبدالله اويس رحمهم الله نه دحديث روايت كړې اودهغوى نه امام بخارى، امام نسائى، امام ابن ماجه، بقى بن مخلد اندلسى، احمدبنالحسين بن اسحاق الصوفى الصغير، احمدبن عمروالزنبقى، ابوبكر عبدالله بن ابى داؤد، عمر بن محمد بن بجير، محمدبن هارون الر ويانى اويحيى بن محمد بن صاعد رحمهم الله روايت كوى.(٣)

احمدبن الحسين صوفى رحمه الله فرمائى: «كان ثقة»(٤)

ابوعبيرالآجرى، امام ابوداؤد رحمه الله نه نقل كوى«الحسن بن مدرك كذاب، كان يأخذ أحاديث فهدبن عوف، فيلقنها/ فيلقنها على يحيى بن حماد» يعنى داامام ابوداؤد رحمه الله نه نقل دى چه حسن بن مدرك دروغژن راوى دې، ځكه هغه دفهد بن عوف نه احاديث اخستوسره دغه احاديث د يحيى بن حماد په وړاندې لوستل.(٥)

---

(١) قوله: ميمونة: الحديث، رواه الإمام البخارى فى كتاب الصلاة أيضاً، فى باب الصلاة على الخمرة، رقم الحديث: ٣٨١وباب إذا أصاب ثوب المصلى امرأته إذا سجد رقم الحديث: ٣٧٩وكذا رواه فى سترة المصلى، باب إذا صلى إلى فراش فيه حائض رقم الحديث: ٥١٨-٥١٧ والإمام مسلم فى كتاب المساجد، باب جواز الجماعة فى النافلة رقم الحديث، ١٥٠٤وأبوداؤد فى كتاب الصلاة باب الصلاة على الخمرة، رقم الحديث: ٦٥٦والنسائى فى كتاب المساجد باب الصلاة على الخمرة، رقم الحديث: ٧٣٩.

(٢) تهذيب الكمال:٣٢٤/٦ تهذيب التهذيب:٣٢١/٢الجرح والتعديل:٣٨/٣دارإحياء التراث العربى.

(٣) تهذيب الكمال:٣٢٤/٦ تهذيب التهذيب:٣٢١/٢ الكاشف: ٣٣٠/١.

(٤) حواله بالا.

(٥) تهذيب الكمال:٣٢٤/٦ تهذيب التهذيب:٣٢٢-٣٢١/٢.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه که امام ابوداؤد رحمه الله د حسن بن مدرك تکذیب په دې وجه باندې کړې وی چه هغه د فهد بن عوف نه احادیث اوریدو سره د یحیی بن حماد مخکښې لوستل نودا جرح بې بنیاد ده ځکه چه فهدبن عوف او یحیی بن حماد دواړه دابوعوانه الوضاح د اصحاب اوتلامذه نه دی اوحسن بن مدرك د یحیی بن حماد شاګرد دې. نوکه چرته یو طالب د خپل شیخ نه د درس د رفیق نه د یوحدیث متعلق په دې غرض سره سوال اکړی دې دپاره چه هغه ته پته اولګی چه هغه حدیث دهغه شیخ هم اوریدلې دې که نه، نودا عمل داسې نه دی چه ددې په بنیاد باندې څوك دروغژن اوګرځوي. خو بل طرف ته لوئی لوئی جلیل القدر ائمه نقد لکه امام ابوزرعه رحمه الله اوامام ابوحاتم رحمه الله دهغه دحدیث کتابت هم کړې دې اودحسن بن مدرك متعلق نی هیڅ قسم جرح نه ده کړې.([1])

دغه شان امام بخاری رحمه الله هم دحسن بن مدرك نه د یحیی بن حماد په طریق یوڅو روایات تخریج کړی دی سره ددې چه امام بخاری رحمه الله یحیی بن حماد او نورو شیوخ نه په علم حدیث حاصلولو کښې حسن بن مدرك سره شریك پاتې دې بلکه امام بخاری رحمه الله دحسن بن مدرك نه د وړاندې نه دې.([2]) داسې حسن بن مدرك دامام بخاری رحمه الله د صغار شیوخ نه شو.([3])

امام نسائي رحمه الله دحسن بن مدرك په خپلو شیوخوکښې تذکره کولوسره فرمائي ((بصري لابأس به))([4])، ابن عدی رحمه الله فرمائي: ((كان من حفاظ أهل البصرة))([5]) ابوحاتم رحمه الله فرمائي: "هوشيخ" ([6])مسلمه بن قاسم رحمه الله فرمائي: ((كتب عنه من أهل بلدنا ابن وضاح، وهوصالح في الروايه))([7])

یحیی بن حماد: دا مشهور امام اومحدث حافظ یحیی بن حماد بنابی زیاد الشیبانی البصری رحمه الله دې. ددوی کنیت ابوبکر دې اوبعض حضرات فرمائي چه ددوی کنیت ابومحمددې.([8]) دا د شیخ ابوعوانه خوم دې.([9])

هغوی د ابوعوانه، عکرمه بن عمار، امام شعبه، حمادبن سلمه، همام بن یحیی، جریر بن حازم اوجویریه بن اسماء رحمهم الله وغیره نه د حدیث روایت کړې دې. اوددوی نه امام بخاری، ابرهیم بن دینار بغدادی، ابراهیم بن مکتوم، یعقوب جوزجانی، اسحاق بن راهویه، اسحاق بن منصور الکوسج، حسن بن علی الخلال، حسن بن مدرك، دهغه خوئی حماد بن یحیی بن حماد شیبانی، ابو داؤد سلیمان بن سیف حرانی، شجاع بنمخلد، عبدالله بن عبدالرحمن دارمی، اب قدامه عبیدالله بن سعید السرخسی، محمدبن بشار بندار، محمدبن یحیی بن عبدالله الذهلی، محمدبن معمر الجران او احمدبن اسحاق السمادی رحمهم الله وغیره حدیث روایت کوی.([1]) د یحیی بن حماد رحمه الله نه د ټولو نه په آخره کښې دحدیث روایت کونکې ابومسلم

---

[1]) هدی الساری:۵۶۵.

[2]) هدی الساری: ص: ۵۶۵.

[3]) عمدة القاری: ۴۷۰/۳.

[4]) تهذیب التهذیب: ۲/۳۲۲ تسمیة مشائخ أبی عبدالرحمن أحمد بن شعیب بن علی النسائی وذکر المدلسین: ۸۵/۱ رقم الترجمة:۶۱ دارعالم الفوائد.

[5]) تهذیب التهذیب: ۳۲۲/۲.

[6]) الجرح والتعدیل: ۳۹/۳.

[7]) تهذیب التهذیب: ۳۲۲/۲.

[8]) تهذیب الکمال: ۲۷۶/۳۱تهذیب التهذیب: ۳۳۹/٤سیرأعلام النبلاء: ۱۳۹/۱.

[9]) حواله بالا.

ابراهيم بن عبدالله الكجى رحمه الله دي.[۲]
ابن سعد رحمه الله فرمائي: «كان ثقة، كثير الحديث»[۳] امام ابوحاتم رحمه الله فرمائي: ثقة.[۴] ابن حبان دهغوى ذكر كتاب الثقات كښې كړې دې.[۵] محمدبن نعمان بن عبدالسلام رحمه الله وائي: «لم أر أعبد منه»[۶] امام عجلى رحمه الله فرمائي: «بصري ثقة، وكان من أروى الناس من أبي عوانة.»[۷] امام بخارى رحمه الله دحسن بن مدرك رحمه الله نه روايت كوى چه دهغوى انتقال ۲۱۵هجرى كښې شوې.[۸]
أبوعوانة: دامشهور محدث ابوعوانه الوضاح اليشكرى رحمه الله دې. ددوى حالات بدء الوحى دڅلورم حديث لاندې تيرشوى دى.[۹]
سليمان: دا مشهورمحدث سليمان بن ابى سليمان ابواسحاق شيبانى كوفى رحمه الله دې. ددوى حالات كتاب الحيض باب مباشرت الحائض لاندې تيرشوى دى. ښكاره دې وى چه علامه عينى رحمه الله سليمان بنابى سنان فيروز وئيلې دې كيدې شى چه د كاتب غلطى وى صحيح هم سليمان بن ابى سليمان دې.
عبدالله بن شداد: دامشهور محدث عبدالله بن شداد بن الهادليثى رحمه الله دې. د دوى كنيت ابوالوليد دې اونوم ئې اسامه دې. ددوى حالات هم كتاب الحيض باب مباشرت الحائض لاندې تيرشوى دى.
ميمونة: دا ام المؤمنين حضرت ميمونه بنت الحارث رضي الله عنها ده. ددې حالات كتاب العلم باب السمر فى العلم لاندې تيرشوى دى.[۱۰]
دحديث سندسره يوڅو نكات: ددې حديث نه معلوميږى چه ددې حديث امام بخارى رحمه الله دخپل څان نه كم عمر شيخ حسن بن مدرك رحمه الله نه روايت كړې دې. امام بخارى رحمه الله اوحسن بن مدرك رحمه الله دواړه ديحيى بن حماد رحمه الله دحصول علم حديث په درس كښې شريك پاتې دى. بلكه امام بخارى رحمه الله دحسن بن مدرك رحمه الله نه قديم دې. نوچه څنګه امام بخارى رحمه الله دحسن بن مدرك رحمه الله نه روايت كوى هم دغه شان د يحيى بن حماد رحمه الله نه هم روايت كوى. په دې مقام باندې د يونكته خبره داده چه امام بخارى رحمه الله دا روايت دخپل شيخ حماد بن يحيى رحمه الله نه نه وو اوريدلې او چونكه حسن بن مدرك رحمه الله د يحيى بن حماد رحمه الله روايات پيژندل په دې وجه امام بخارى رحمه الله دا روايت د حسن بن مدرك رحمه الله نه روايت كړو.[۱۱]

---

[۱] تلامذه او مشائخ دپاره اوګورئى تهذيب الكمال: ۲۷۷/۳۱تهذيب التهذيب: ۳۴۱/٤ سير أعلام النبلاء: ۱۳۹/۱۰.
[۲] تهذيب التهذيب: ۳٤۹/٤.
[۳] الطبقات الكبرى لابن سعد: ۳۰٦/۷.
[۴] الجرح والتعديل: ۱۳۸/۹.
[۵] ۲۵۷/۹.
[۶] تهذيب الكمال: ۲۷۸/۳۱تهذيب التهذيب: ۳٤۹/٤ سيرأعلام النبلاء: ۱٤۰/۱۰.
[۷] معرفة الثقات للعجلى:۳۵۱/۲.
[۸] تهذيب الكمال: ۲۷۸/۳۱تهذيب التهذيب: ۳٤۹/٤ كتاب الثقات لابن حبان: ۲۵۷/۹سيرأعلام النبلاء: ۱٤۰/۱۰عمدة القارى:۴۷۰/۳.
[۹] كشف البارى: ٤۳٤/۱.
[۱۰] كشف البارى: ٤۲۰/٤.
[۱۱] فتح البارى: ٤۳۰/۱عمدة القارى: ٤۷۰/۳.

بل په دې سند کښې دیوبلې نکته خبره داده چه ابوعوانه وضاح رحمه الله دا حدیث دخپل کتاب نه بیان کړې دې. دخپلې حافظې په بنیاد ئې نه دې بیان کړې اود ابوعوانه باره کښې ائمه نقد اوجرح لیکلی دی چه کله هغه دخپل کتاب نه یوحدیث بیان کړی نودغه حدیث به دهغه حدیث په مقابله کښې زیات قوی اومعتبروی کوم چه هغه په خپله حافظه باندې یقین کولوسره بیان کړې وی. چنانچه ابن مهدی رحمه الله فرمائی: «کتاب أبي عوانة أثبت من هشيم»[۱]

امام احمد رحمه الله فرمائی: «إذا حدث أبوعوانة من كتابه، فهو أثبت وإذا حدث من غير كتابه، ربما وهم»[۲] امام ابوزرعه رحمه الله فرمائی: «أبوعوانة ثقة إذاحدث من الكتاب»[۳]

حضرت عبدالله بن شداد دحضرت میمونه رضی الله عنها خورنی اوحضرت میمونه رضی الله عنها دهغه ترور ده اود عبدالله بن شداد مور سلمی بنت عمیس اوحضرت میمونه رضی الله عنها دواړه په خپل مینځ کښې دمور شریك خوئندې دی.[۴]

شرح حدیث

قوله: كان تكون: په دې جمله کښې درې ترکیبی احتمالات دی ① كانت اوتكون نه یوزائده دې لکه چه دشاعر قول دې: «وَجِيرانٍ لنا كانوا كِرَامٍ» په دې مصرعه کښې كانوا زائده دې اوكرام حالت جزی کښې دې. اوجيران دپاره صفت واقع کیږی.

② دویم احتمال دادې چه كانت کښې موجود ضمیر قصه ددې اسم دې او تكون حائضاً دكانت دپاره خبر دې کوم چه په محلِ نصب کښې واقع دې.

③ دریم احتمال دادې چه تكون دتصير په معنی کښې دې کوم چه په محل نصب کښې واقع کیدو سره دكانت دپاره خبرواقع کیږی اودكانت اسم په دې کښې موجود ضمیر قصه دې کوم چه دحضرت میمونه رضی الله عنها طرف ته راجع دې اود تكون اسم په دې کښې موجود ضمیرقصه دې اوددې خبر حائضاً دې.[۵]

قوله: لاتصلي علامه عینی فرمائی چه لاتصلی "حايضاً" دپاره تاکیدی جمله ده.[۶] اوعلامه کرمانی رحمه الله لاتصلی سره متعلق یواحتمال خودا ذکرکړې دې چه لاتصلی "حائضاً" دپاره صفت دې اودویم احتمال ئې دا ذکرکړې دې چه لاتصلی دكانت خبر دې اومینځنې جمله یعنی تكون حائضاًحال واقع کیږی.[۷]

«مسجدرسول الله صلي الله عليه وسلم»: ددې نه مرادمعروف جمات نه دې چرته چه په جمع سره مونځ اداکیږی بلکه دې نه مراد په کورکښې موجوددحضوراکرم سجده ګاه ده کوم ځائی چه به حضورپاك مونځ کولو.[۱]

[۱]) فتح الباري: ۴۳۰/۱عمدة القاري: ۴۷۰/۳ الجرح والتعديل: ۴۰/۹تهذيب التهذيب: ۱۰۴/۱۱تهذيب الكمال: ۴۴۶/۳۰.

[۲]) عمدة القاري:۴۷۰/۳ الجرح والتعديل: ۴۰/۹ تهذيب التهذيب: ۱۰۴/۱۱تهذيب الكمال:۴۴۶/۳۰.

[۳]) عمدة القاري: ۴۷۰/۳ الجرح والتعديل: ۴۱/۹ تهذيب التهذيب: ۱۰۴/۱۱تهذيب الكمال:۴۴۷/۳۰.

[۴]) عمدة القاري:۴۷۰/۳.

[۵]) عمدة القاري: ۴۷۱/۳شرح الكرماني:۲۰۸/۳.

[۶]) عمدة القاري: ۴۷۱/۳.

[۷]) عمدة القاري: ۴۷۱/۳ شرح الكرماني:۲۰۸/۳.

قوله: :علی خمرته : الخمرة: بضم الخاء المعجمة وسكون الميم. دا د خمر نه مشتق دي او د خمر معنی ده پټولو راځی. او د خمرة سره متعلق شراح کرامو ليکلی دی ذې نه مراد وړه مصله او وړوکې جائې نماز دې کوم چه دکهجورو د پاڼونه په تار سره بونړلې شوې وی اودې ته د خمرة ونيلووجه داده چه هغه د زمکې دګرمئی نه اوديخنئی نه کولاؤ مخ او تلی بچ کوی او پټوی. هم ددې لونی ته حصير پوزکې وائی.[2] اوهم ددې نه خمار هم دې په کوم سره چه سرپټولې شی لکه د بنځودپاره لوپټه اود سړو دپاره پټکې.[3]

علامه ابن الاثير جزری رحمه الله ليکلی دی چه: «الخمرةُ: السجادة، وهی مقدار مايضع الرجل عليه وجهه فی سجوده من حصير أو نسيجة خُوص» يعنی خمرة جائې نماز ته وائی اوپوزکې د کهجورو دپاڼو نه بونړلې شوې جائې نماز کښې دننه دخمرة مقدار دومره دې په کوم چه انسان د سجدې په حالت کښې خپل ظاهری مخ ايږدی.[4] اوخمرة ونيلو وجه داده چه ددې تارونه په پاڼوکښې پټ وی.[5]

دې نه پس علامه جزری رحمه الله د سنن ابوداؤد په حواله سره يو روايت نقل کړې دې دکوم الفاظ چه دادی «عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: جاءت فأرة، فأخذت تجر الفتيلة، فجاءت بها، فألقتها بين يدي رسول الله صلى الله عليه وسلم على الخمرة التي كان قاعداً عليها، فأحرقت منها مثل موضع درهم»[6] اوبيا فرمائی چه په دې روايت کښې تصريح ده چه د خمرة اطلاق په لونی جائې نماز باندې هم کيږی چه دمخ داندازې نه زيات وی.[7]

قوله: :أصابنی بعض ثوبه : دسياق تقاضا خوادده چه أصابها کيدل پکار دی. جواب دادې چه «أنها كانت» نه وراندې قالت مقدردې. اوس مطلب داشو چه عبدالله بن شداد رحمه الله د أنها كانت نه واخله دوهويصلی علی خمرته پورې روايت بالمعنی کړې او أصابنی بعض ثوبه نی بعينه دحضرت ميمونه رضی الله عنها الفاظ سره روايت کړې.[8] علامه عينی رحمه الله فرمائی چه داجمله دحال کيدو د وجې نه په محل نصب کښې واقع ده اوقاعده داده چه جمله فعليه ماضيه ثبوتيه کله هم حال واقع کيږی نوبغيرد واؤ نه واقع کيږی يعنی دجملې په شروع کښې واؤ نه راځی.[9]

د حديث نه مستنبط احکام: ددې حديث نه شراح کرامو مختلف احکام مستنبط کړی دی: ① حائضه پاکه ده خکه چه هغه نجس وه نوحضورپاك به مونځ کولووخت کښې به حضورپاك خپلې کپړې

---

[1]) عمدة القاری: ۴۷۱/۳شرح الکرمانی:۲۰۸/۳فتح الباری: ۴۳۰/۱.
[2]) إعلام الحديث: ۳۷۲شرح الکرمانی: ۲۰۸/۳فتح الباری: ۴۳۰/۱عمدة القاری:۴۷۱/۳.
[3]) إعلام الحديث: ۳۷۲النهاية لابن الأثير: ۵۳۲/۱.
[4]) جامع الاصول فی احاديث الرسول: ۴۶۷/۵ النهاية لابن الأثير: ۵۳۱/۱.
[5]) النهاية لابن الأثير: ۵۳۱/۱.
[6]) أخرجه أبوداؤد فی كتاب الأدب باب فی إطفاء النار بالليل رقم الحديث: ۵۲۴۷
[7]) النهاية لابن الأثير: ۵۳۱/۱ فتح الباری:۴۳۰/۱.
[8]) شرح الکرمانی: ۲۰۸/۳.
[9]) عمدة القاری: ۴۷۱/۳.

حضرت ميمونه رضي الله عنها سره لګيدو ته نه پريخودې اوهم دغه حکم دنفاس والا دښځې هم دې. ③ حائضه ښځه که مونځ کونکی سره نيزدې هم وی نو په دې سره په مونځ کښې هيڅ خرابی نه راځی. ④ حائضه ښځه مونځ نه کوی. ⑤ د مونځ کونکی په وړاندې بستره خورولې شی. ⑥ دکهجورو دپاڼونه جوړشوی څيزباندې مونځ کولې شی.(¹) که هغه وړوکې وی اوکه لوئی. بلکه په داسې څيز باندې مونځ کول تواضع اومسکنت ته ډير نيزدې او ډير موزون دې. اومتکبرين چه رنګ په رنګ مصلو اوجائې نمازونو باندې مونځونه کوی هغه بهترنه دی اوبياخود بعض خلقو دپاره رينمی مصلې تيارولې ی. په هغې باندې مونځ کول مکروه دی. سره ددې چه رينمی کپړه د خپولاندې کول جائز دی مګر په دې سره د غرور او سرکشئی جذبات راپيداکيږی په دې وجه ناخوښه دی.(²)

د حديث ترجمة الباب سره مناسبت: ماقبل کښې داخبره تيره شوې ده چه صرفد ابوزرعه رحمه الله په روايت کښې په دې حديث باندې لفظ باب موجود دې. اوپه داسې صورت کښې دا باب د باب سابق دپاره په منزله دفصل دې. د کوم تفصيل چه وړاندې تيرشوې دې. اود اصيلی رحمه الله په روايت کښې لفظ باب موجودنه دې. نوددې نسخوپه اعتبارسره هم ددې حديث ميمونه ترجمة الباب باب الصلاة على النفساء سره مناسبت توجيه په شروع کښې تيره شوې ده.(³)

براعة اختتام: شيخ الحديث حضرت زکريا رحمه الله فرمائی دامام بخاری رحمه الله عادت دې چه هغه د کتاب په آخره کښې څه لفظ په اختتام باندې دلالت کونکې راوړی په هغه لفظ سره د کتاب د ختميدو طرف ته اشاره خوکيږی ليکن دې سره هغه انسان ته هم دهغه خاتمه وريادوی. دکوم مقصد چه دا وی چه ګورئی څنګه چه په دې کتاب کښې علمی مباحث ذکرکړې شوی دی اختتام ته اورسيدو، دغه شان به ستا د ژوند کتاب هم يوه ورځ خپل اختتام ته اورسيږی. لهذا غافل مه اوسيږه. اودلته دکتاب الحيض په اختتام باندې داسې ده چه امام بخاری رحمه الله دټولو نه آخری باب باب الصلاة على النفساء قائم کړې دې. په کوم سره چه دکتاب د اختتام طرف ته هم اشاره کيږی اود مرګ ياد هم تازه کيږی. شيخ الحديث زکريا رحمه الله فرمائی چه دا براعة اختتام مونږ د حديث ميمونه رضي الله عنها نه هم مستنبط کولې شو څکه چه په دغه حديث کښې دی لاتصلې اومونځ نه کول هم دمړی شان دې اوددې نه هم زيات واضح عبارت دې نه پس دې. «وهی مفترشة بحذاء مسجد رسول الله صلى الله عليه وسلم» اودا بالکل هم هغه شان صورت او منظر دې کوم چه د جنازې دمونځ وی.(⁴)

فائده: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی کتاب الحيض ټول ۴۷احاديث باندې مشتمل دې په دې کښې چه کوم احاديث مکرر دی که هغه په کتاب الحيض کښې يا چه کوم دکتاب الحيض نه وړاندې تيرشوی دی دهغې شمير ۲۲دې. ددغه ۲۲ نه لس احاديث په سندمتصل سره دی اوباقی ۱۲احاديث تعليقات اومتابعات دی. اوك احاديث چه مکررنه دی نه په کتاب الحيض کښې اونه دکتاب الحيض نه وړاندې تيرشوی دی هغه ټول ۲۵احاديث دی په کوم کښې چه يومعلق روايت دې اوباقی ۲۴ احاديث متصل سندسره دی اوهغه معلق روايت دادی: «کان يذکر الله على کل أحيانه».

(¹) شرح الکرمانی: ۲۰۸/۳ عمدة القاری: ۴۷۱/۳.

(²) عمدة القاری: ۴۷۱/۳.

(³) عمدة القاری: ۴۷۱/۳.

(⁴) الکنز المتواری: ۸۴/۲، ۳۱۲/۳ لامع الدراری: ۱۳۲/۱، ۲۹۴/۲.

امام مسلم رحمه الله هم بغیرد څلورو احادیثونه باقی ټولو احادیثوکښې دامام بخاری رحمه الله موافقت کړې دې او هغه څلور احادیث دا دی:

① حدیث عائشة رضی الله عنها: کانت إحدانا تحیض، ثم تقترص الدم... الحدیث.

② حدیث عائشة رضی الله عنها: ماکان لإحدانا إلا ثوب واحد...... الحدیث.

③ حدیث أم عطیة رضی الله عنها: کنا لا نعد الصفرة......... الحدیث.

④ حدیث ابن عمر رضی الله عنهما: رخص للحائض أن تنفر...... الحدیث.

اوکتاب الحیض کښې د حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم اوتابعین ټول ۱۵ آثار نقل دی اوټول معلق دی.[1]

[1]) فتح الباری: ۱/۴۳۰.

مصادر ومراجع

①	القران الكريم
②	الاستذكار، للإمام الحافظ أبي يوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر المالكي رحمه الله، المتوفى سنة ٤٦٣ دار إحيا التراث العربي
③	الإستيعاب في أسماء الأصحاب (بهامش الإصابة) للإمام الحافظ أبو يوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر المالكي رحمة الله عليه المتوفى سنة ٤٦٣ دار الفكر، بيروت
④	الإعتدال في نقد الرجال للإمام المحدث الحافظ أبي عبدالله بن محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي رحمة الله عليه المتوفى سنة ٧٤٨ هجري دار المعرفة/دار إحيا الكتب العربية
⑤	الإبواب والتراجم لصحيح البخاري للشيخ العلام محمد زكريا الكاندهلوي رحمه الله، المتوفى سنة ١٤٠٢ ايچ ايم سعيد كمپني
⑥	الأسماء المبهمة في الأنبار المحكمة لأبي بكر أحمد بن علي بن ثابت الخطيب البغدادي رحمه الله، بتحقيق الدكتور عزالدين علي السيد، مكتبة الخانجي، القاهرة الطبعة الثانية ١٤١٧ هجري......١٩٩٧م
⑦	الأعلام لخير الدين الزركلي دالعلم للملايين
⑧	» الأنساب، للإمام أبي يوسف سعد عبدالكريم بن محمد ابن منصور التميمي السمعاني رحمه الله المتوفى سنة ٥٦٢ هجري دالفكرت للطباعة والنشر
⑨	الأوسط في السنن والإجماع والإختلاف، للإمام أبي بكر محمد بن ابراهيم بن المنذر النيسابوري رحمه الله، المتوفى سنة ٣١٨ هجري دار طيبة الرياض
⑩	الباعث الحثيث شرح اختصار علوم الحديث للإمام الجليل الحافظ عماد الدين أبي الفداء إسماعيل بن كثير الدمشقي رحمه الله، المتوفى سنة ٧٧٤ هجري ألفه أحمد محمد شاكر، دار الكتب العلمية بيروت
⑪	البحر الرائق شرح كنز الدقائق للإمام العلام الشيخ زين الدين بن إبراهيم بن محمد المعروف بابن نجيم المصري الحنفي المتوفى سنة ٩٧٠ هجري دار الكتب العلمية
⑫	» البداية والنهاية للإمام الحافظ أبي الفداء إسماعيل بن كثير بالدمشقي رحمه الله المتوفى سنة ٧٧٤ هجري دار الكتب العلمية بيروت/دار إحيا التراث العربي
⑬	» البناية شرح الهداية للإمام المحدث الفقيه محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن الحسين، المعروف ببدر الدين العيني الحنفي رحمه الله المتوفى سنة ٨٥٥ هجري دار الكتب العلمية
⑭	البيان والتحصيل (في فقهة الإمام مالك) للإمام أبي الوليد محمد بن أحمد بن أحمد بن رشد القرطبي رحمه الله، المتوفى سنة ٥٢٠ هجري الغرب الإسلامي، بيروت
⑮	التاريخ الكبير للحافظ النقاد شيخ الإسلام أبي عبدالله بن إسماعيل بن إبراهيم البخاري رحمه الله المتوفى سنة ٢٥٦ هجري الموافق ٨٦٩ م در الكتب العلمية بيروت لبنان
⑯	التبيان في أعراب القران، للإمام المفسر أبو البقاء عبدالله بن الحسين بن عبدالله العكبري رحمه الله المروفى سنة ٦١٦ هجري بتحقيق علي محمد البجاوي قام بنشره، عيسى البابي الحلبي وشركاؤه
⑰	التحقيق في مسائل الخلاف، للإمام الحافظ جمال الدين أبي الفرج عبدالرحمن بن علي بن محمد الجوزي رحمه الله المتوفى سنة ٥٩٧ هجر دار الوعي العربي القاهرة الإحتمالان مكتبة ابن عبدالبر دمشق
⑱	التسهيل لعلوم التزيل، للشيخ الإمام العلامة أبي المفسر أبي القاسم محمد بن أحمد بن جزي الكلبي رحمه الله المتوفى سنة ٧٤١ هجري دار الكتب العلمية
⑲	التفسير التكبير /مفاتيح الغيب للإمام المفسر الكبير أبي عبدالله بن محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التميمي الرازي الملقب بفخر الرازي رحمه الله المتوفى سنة ٦٠٦ در الكتب العلمية بيروت

٢٠	التفسير المظهري، للعلامة القاضي محمد ثناء الله رحمه الله المتوفى سنة ١٢٢٥هجري بلوجستان بك دپو پاكستان
٢١	التفسير لابن كثير للإمام الحافظ عماد الدين أبي الفداء إسماعيل بن كثير الدمشقي رحمه الله، المتوفى سنة ٧٧٤ هجري وحيدي كتب خانه الإحتمالات/مؤسسة قرطبة
٢٢	التفسير للإمام أبي الحجاج مجاهد بن جبر القرشي المخزومي رحمه الله المتوفى سنة ١٠٤هجري دار الكتب العلمية بيروت
٢٣	التمهيد لما في المؤطا من المعاني والإسانيد للإمام الحافظ أبي عمر يوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر المالكي رحمه الله المتوفى سنة ٤٦٣هجري الكتبة التجارية مكة المكرمة
٢٤	التوضيح لشرح الجامع الصحيح، للإمام سراج الدين أبي حفص عمر بن علي بن أحمد الإنصاري الشافعي المعروف بابن ملقن رحمه الله المتوفى سنة ٨٠٤هجري وزراة الأوقاف والشئون الإسلامية
٢٥	الجامع لأحكام القرآن، للإمام أبي عبد الله بن محمد بن أحمد الإنصاري القرطبي رحمه الله المتوفى سنة ٦٧١ هجري دار إحياء التراث العربي
٢٦	الجرح والتعديل للإمام الحافظ شيخ الإسلام أبي محمد عبد الرحمن بن أبي حاتم محمد بن إدريس بن المنذر التميمي الحنظلي الرازي رحمه الله المتوفى سنة ٣٢٧هجري الطبعة الأولى بمطبعة دائرة المعارف العثمانية بحيدر آباد دكن الهند/دار الكتب العلمية
٢٧	الجوهر النقي على السنن الكبري (للإمام البيهقي) للعلامة علاء الدين بن علي بن عثمان المارديني الشهير بابن التركماني رحمه الله المتوفى سنة ٧٤٥ هجري مطبعة مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند حيدر آباد الدكن سنة ١٣٤٤ هجري
٢٨	الحاوي الكبير (في فقهة الإمام الشافعي) للإمام الفقهية أبي الحسن علي بن محمد بن حبيب الماوردي البصري رحمه الله المتوفى سنة ٤٥٠هجري دار الكتب العلمية بيروت
٢٩	الدر المختار للإمام العلام علاء الدين محمد بن علي بن محمد الحصكفي رحمه الله المتوفى سنة ١٠٨٨هجري دار علم الكتب الرياض
٣٠	الدر المصون في علوم الكتاب المكنون للإمام شهاب الدين أبي العباس بن يوسف ابن محمد بن إبراهيم المعروف بالسمين الحلبي دار الكتب العلمية
٣١	الرواة الثقات المتكلم فيهم بما يوجب ردهم للإمام الحافظ أبي عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي رحمه الله المتوفى سنة ٧٤٨هجري دار البشائر الإسلامية
٣٢	التاج والإكليل (في فقهة الإمام مالك) للعلامة أبي عبد الله بن يوسف بن أبي القاسم العبدري رحمه الله المتوفى سنة ٨٩٧ هجري دار الفكر بيروت
٣٣	السلوك في طبقات العلماء والملوك للشيخ بهاء الدين محمد بن يوسف بن يعقوب الجندي الكندي رحمه الله المتوفى قبل سنة ٧٣٢هجري الإرشاد
٣٤	السنن الكبري للإمام أبي بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي رحمه الله المتوفى سنة ٤٥٨هجري دار الكتب بيروت/مجلس دائرة المعارف الإسلامية بهند
٣٥	السنن الكبري للإمام أبي عبد الرحمن بن شعيب النسائي رحمه الله المتوفى سنة ٣٠٣ هجري إدارة التاليفات الأشرفية ملتان
٣٦	السيرة النبوية للإمام أبي محمد عبد الملك بن هشام المعافري رحمه الله المتوفى سنة ٢١٣هجري الكتبة العلمية بيروت لبنان
٣٧	الشرح الكبير مع حاشية الدسوقي للإمام أبي البركات أحمد بن محمد العدوي الشهير بالدردير رحمه الله المتوفى سنة ١٢٠١ هجري در الكتب العلمية
٣٨	الضعفاء والمتركون للامام الحافظ جمال الدين ابي الفرج عبد الرحمان بن علي بن محمد الجوزي رحمه الله المتوفى سنة ٥٩٧ هجري دار الكتب العلمية
٣٩	الطبقات الكبري للإمام محمد بن سعد بن منيع أبي عبد الله البصري الزهري رحمه الله المتوفى ٢٣٠ هجري دار صادر بيروت/مكتبة الخانجي القاهرة

٤٠	العزيز شرح الوجيز المعروف بشرح الكبير للإمام أبي القاسم عبد الكريم بن محمد بن عبد الكريم الرافعي القزويني الشافعي رحمه الله المتوفى ٦٢٣ هجري دار الكتب العلمية بيروت لبنان
٤١	العلل المتناهية للإمام الحافظ جمال الدين ابى الفرج عبد الرحمان بن على بن محمد الجوزي رحمه الله المتوفى سنة ٥٩٧ هجري دار الكتب العلمية بيروت
٤٢	اعلل الواردة في الأحاديث النبوية للإمام الحسن على بن عمران بن أحمد بن مهدي الدارقطني رحمه الله المتوفى سنة ٣٨٥ دار طيبة
٤٣	الفائق في غريب الحديث والأثر، للإمام الغة العلامة جار الله محمود بن عمر الزمخشري رحمه الله المتوفى سنة ٥٣٨ هجري دار الفكر
٤٤	الفتاوي الهندية المعروفة بالفتاوي العالمكيرة للعلامة الهمام الشيخ نظام وجماعة من علماء الهند الأعلام دار الكتب العلمية بيروت
٤٥	الفروق اللغوية للإمام الأديب اللغوي أبي هلال العسكري دار لعلم والثقافة القاهرة
٤٦	الفواكه الدواني على رسالة ابن زيد القيرواني للعلامة الشيخ أحمد بن غنيم بن سالم بن مهنا النفراوي الأزهري المالكي رحمه الله المتوفى سنة ١١٢٦ هجري درا الكتب العلمية بيروت لبنان
٤٧	الفوائد البهية للشيخ المحقق المحدث أبي الحسنات محمد عبد الحي بن محمد عبد الحليم الأنصاري اللكنوي الهندي رحمه الله المتوفى سنة ١٣٠٤ هجري قديمي كتب خانه
٤٨	الكاشف في معرفة من له الرواية في الكتب الستة، للإمام شمس الدين أبي عبد الله محمد بن أحمد بن الذهبي الدمشقي رحمه الله المتوفى سنة ٧٤٨ هجري دار القبلة للثقافة الإسلامية جدة مؤسسة علوم القران جدة
٤٩	الكافي (في فقه الإمام أحمد بن حنبل) الموفق الدين أبي محمد عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة المقدسي الدمشقي رحمه الله المتوفى سنة ٦٢٠ هجري دار هجر للطباعة والنشر
٥٠	الكامل في التاريخ للإمام العلامة عمدة المؤرخين أبي الحسن على بن أبي الكرم محمد بن محمد بن عبد الكريم بن عبد الواحد الشيباني المعروف بابن الأثير الجزري الملقب بعز الدين رحمه الله المتوفى سنة ٦٣٠ هجري دار الكتب العلمية بيروت لبنان
٥١	الكفاية على هامش القدير قبل هي للعلامة محمود بن عبد الله بن تاج الشريعة مؤلف الوقاية رحمه الله المتوفى سنة ٦٧٣ هجري المكتبة الرشيد كوئته
٥٢	الكنز المتواري للشيخ العلام محمد زكريا الكاندهلوي رحمه الله المتوفى سنة ١٤٠٢ هجري مؤسسة الخليل الإسلامي فيصل آباد
٥٣	الكنى والأسماء للإمام الحافظ أبي بشر محمد بن أحمد بن حماد الدولابي رحمه الله المتوفى سنة بتحقيق أبي قتيبة نظر محمد الفاريابي دار ابن حزم
٥٤	الكوثر الجاري إلى رياض أحاديث البخاري للإمام الجليل أحمد بن إسماعيل بن عثمان بن محمد الكوراني الشافعي ثم الحنفي رحمه الله المتوفى سنة ٨٩٣ هجري دار إحياء التراث العربي
٥٥	الكوكب الدري للإمام المحدث الشيخ رشيد أحمد الجنجوهي رحمه الله المتوفى سنة ١٣٢٣ هجري مطبعة ندوة العلماء لكنؤ
٥٦	المحكم والمحيط الأعظم للإما اللغة أبي الحسن على بن إسماعيل بن سيده المرسي المعروف بابن سيده رحمه الله المتوفى سنة ٤٥٨ هجري دار الكتب العلمية بيروت
٥٧	المحلى للآثار للإمام المحدث أبي محمد على بن أحمد بن سعيد بن حزم الأندلسي رحمه الله المتوفى سنة ٤٥٦ هجري دار الكتب العلمية بيروت لبنان
٥٨	طبقات المدلسين للإمام الحافظ أبي الفضل أحمد بن على بن الحجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله المتوفى سنة ٨٥٢ متكتبة المنار أردن
٥٩	المدونة الكبرى لإمام دار الهجرة مالك بن أنس الأصبحي رحمه الله المتوفى سنة ١٧٩ هجري دار صدر بيروت /دار الكتب العلمية بيروت
٦٠	المستدرك على الصحيحين للإمام الحافظ أبي عبد الله بن محمد بن عبد الله الحاكم النيسابوري رحمه الله المتوفى سنة ٤٠٥

	هجري دار الكتب العلمية بيروت لبنان
٦١	المصنف لابن أبي شيبة للإمام أبي بكر عبد الله بن محمد بن أبي شيبة رحمه الله المتوفى سنة ٢٣٥ هجري شركة دار القبلة/ مؤسسة علوم القرآن/إدارة القرآن والعلوم الإسلامية باكستان
٦٢	المصنف لعبد الرزاق للإمام المحدث أبي بكر عبد الرزاق بن همام الصنعاني رحمه الله المتوفى سنة ٢١١ هجري دار الكتب العلمية/المكتب الإسلامية بيروت
٦٣	المعجم الاوسط للإمام الحافظ أبي القاسم سليمان بن أحمد الطبراني رحمه الله المتوفى سنة ٣٦٠ هجري دار الحرمين بالقاهرة
٦٣	المعجم الكبير للإمام الحافظ أبي القاسم سليمان بن أحمد الطبراني رحمه الله المتوفى سنة ٣٦٠ هجري مكتبة العلوم والحكم
٦٥	المعرب في ترتيب المعرب للإمام اللغوي أبي الفتح ناصر الدين المطرزي رحمه الله المتوي سنة ٦١٠ هجري بتحقيق محمود فاخوري وعبد الحميد مختار مكتبة أسامة بن زيد حلب
٦٦	المغني في فقه الإمام أحمد رحمه الله موفق الدين أبي محمد عبد الله بن أحمد بن قدامة رحمه الله المتوي سنة ٦٢٠ هجري دار الفكر/دار عالم الكتب الرياض
٦٧	المنتقى (شرح مؤطا الإمام مالك) للإمام القاضي أبي الوليد سليمان بن خلف بن سعد بن أيوب الباجي رحمه الله المتوي سنة ٤٩٤ هجري دار الكتب بيروت لبنان
٦٨	المنهاج شرح النووي على صحيح الإمام مسلم للإمام العلامة الفقية الحافظ أبي زكريا محيي الدين بن شرف النووي رحمه الله المتوي سنة ٦٧٦ هجري دار المعرفة/المطبعة المصرية بالأزهر
٦٩	الموسوعة الفقهية وزارة الإوقاف والشئون الإسلامية
٧٠	المؤطا للإمام مالك بن أنس الأصبحي رحمه الله برواية يحيى بن يحيى الليثي رحمه المتوفى سنة ١٧٩ هجري دار الكتب العلمية بيروت/دار إحيا التراث العربي
٧١	النافع الكبير لمن يطالع الجامع الصغير (شرح الجامع الصغير للإمام الشيباني) للشيخ المحقق المحدث أبي الحسنات محمد عبد الحي بن محمد عبد الحليم الأنصاري الكنوي الهندي رحمه الله المتوفى سنة ١٣٠٤ هجري عالم الكتب بيروت
٧٢	النكت على كتاب ابن الصلاح للإمام الحافظ أحمد بن علي بن الحجر العسقلاني رحمه الله المتوفى سنة ٨٥٢ هجري بتحقيق الدكتور ربيع بن هادي عمير دار الراية للنشر والتوزيع
٧٣	النهاية في غريب الحديث والأثر، للإمام أبي مجد الدين أبي السعادات المبارك بن محمد الجزري المعروف بابن الأثر رحمه الله المتوفى سنة ٦٠٦ هجري
٧٤	النهر الفائق شرح كنز الدقائق للإمام سراج الدين عمر بن إبراهيم بن نجم الحنفي المتوفى سنة ١٠٠٥ هجري دار الكتب العلمية
٧٥	الإجماع للإمام العلامة أبي بكر محمد بن إبراهيم بن المنذر النيسابوري رحمه الله المتوفى سنة ٣١٨ هجري مكتبة الفرقان عجمان
٧٦	الإصابة في تميز الصحابة للإمام الحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن الحجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله المتوفى سنة ٨٥٢ هجري دار الفكر بيروت/دار الجيل بيروت
٧٧	أحكام القرآن للشيخ مولانا أشرف علي تهانوي رحمه الله المتوفى سنة ١٣٦٢ هجري إدارة القرآن والعلوم الإسلامية
٧٨	أسد الغابة في معرفة الصحابة للإمام بعز الدين أبي الحسين علي بن محمد الجزري المعرفو بابن الأثير رحمه الله المتوفى سنة ٦٣٠ هجري دار الكتب العلمية
٧٩	أعلام الحديث في شرح صحيح البخاري للإمام المحدث أبي سليمان حمد بن محمد الخطابي رحمه الله المتوفى سنة ٣٨٨ هجري مركز إحياء التراث الإسلامي جامعة أم القرى مكة المكرمة
٨٠	أنوار الباري للشيخ أحمد بن رضا البجنوري رحمه الله ادارة التاليفات الأشرفية ملتان
٨١	اوجز المسالك للإمام المحدث محمد زكريا الكاندهلوي المدني رحمه الله المتوفى سنة ١٤٠٢ هجري دار القلم دمشق

٨٢	بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع للإمام علاء الدین أبی بکر بن مسعود الکاسانی الحنفی رحمه الله المتوفی سنة ٥٨٧ هجري الطبعة الثانية (١٣٢٣ هجري) دار الكتب العلمية / الطبعة الثانية (١٤٠٦ هجري)
٨٣	بداية المجتهد ونهاية المقتصد للإمام القاضی أبی الولید بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد المالکی القرطبی رحمه الله المتوفی سنة ٥٩٥ هجري دار الكتب العلمية
٨٤	بذل المجهود للشیخ المحدث خلیل أحمد السهارنبوري رحمه الله المتوفی سنة ١٣٤٦ هجري مرکز الشیخ أبی الحسن الندوي
٨٥	بهجة النفوس وتحليها بمعرفة ما لها وما عليها، مختصر لصحيح البخاري للإمام المحدث الورع أبی محمد عبد الله بن أبی جمرة الأندلسی رحمه الله المتوفی سنة ٦٩٩ هجري مطبعة الصدق الخيرية بجوار الأزهر بمصر
٨٦	تاج التراجم للإمام أبی الفداء زين الدين أبو العدل قاسم بن قطلوبغا السودونی (نسبة إلى معتق أبيه سودون الشيخونی) الجمالی الحنفی رحمه الله المتوفی سنة ٨٧٩ هجري بتحقيق محمد خير رمضان يوسف دار القلم دمشق
٨٧	تاج العروس للشیخ أبی الفیض محمد بن محمد بن عبد الرزاق الحسینی الملقب بمرتضى الزبیدي رحمه الله المتوفی سنة ١٢٠٥ هجري در الهداية
٨٨	تاريخ الإسلام ووفيات المشاهير والأعلام للإمام شمس الدين أبی عبد الله محمد بن محمد أحمد الذهبی الدمشقی رحمه الله المتوفی سنة ٧٤٨ هجري دار الكتاب العربي
٨٩	تاريخ بغداد (مدينة السلام) للإمام الحافظ أبی بكر أحمد بن علی بن ثابت المعروف بالخطيب البغدادي رحمه الله المتوفی سنة ٤٦٣ هجري دار الغرب الإسلامي
٩٠	تبيين الحقائق للإمام فخر الدين بن عثمان بن علی الزيلعی الحنفی رحمه الله المتوفی سنة ٧٤٣ دار الكتب العلمية
٩١	تحفة الأحوذي بشرح الجامع للإمام الترمذي للإمام الحافظ أبی العلی محمد بن عبد الرحمان ابن عبد الرحيم كفوري رحمه الله المتوفی سنة ١٣٥٣ هجري دار الفكر
٩٢	تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف للحافظ المتقن جمال الدين أبی الحجاج يوسف المزي رحمه الله المتوفی سنة ٧٤٢ هجري المكتب الإسلامي بيروت الطبعة الثانية
٩٣	تحفة الباري شرح صحيح البخاري للإمام شيخ الإسلام يحيى بن زكريا بن محمد الأنصاري الشافعی رحمه الله المتوفی سنة ٩٢٦ هجري دار الكتب العلمية / دار ابن حزم / مكتبة الرشد
٩٤	تحفة التحصيل فی ذكر رواة المراسيل للحافظ ولی الدين أحمد بن عبد الرحيم بن الحسين أبی زرعة العراقی رحمه الله المتوفی سنة ٨٢٦ هجري مكتبة الرشد الرياض
٩٥	تذكرة الحفاظ للإمام الحافظ أبی عبد الله شمس الدين محمد بن عثمان الذهبی رحمه الله المتوفی سنة ٧٤٨ هجري دار إحياء التراث العربي / دائرة المعارف النظامية بهند
٩٦	ترتيب الصحاح للإمام أسماعيل بن حماد الجوهر رحمه الله المتوفی سنة ٣٩٣ هجري دار المعرفة بيروت لبنان
٩٧	تسمية مشائخ الإمام النسائی وذكر المدلسين للإمام أبی عبد الرحمن بن أحمد بن شعيب بن علی النسائی رحمه الله المتوفی سنة ٣٠٣ هجري دار علم الفوائد للنشر والتوزيع
٩٨	تعليقات على سير أعلام النبلاء للدكتور بشار عواد معروف مؤسسة الرسالة
٩٩	تعليقات على كتاب الحجة على أهل المدينة للإمام محمد بن الحسين الشيبانی للعلامة السيد مهدي حسن الكيلانی القادري عالم الكتب الطبعة الثالثة سنة ١٤٠٣ هجري
١٠٠	تعليق التعليق للإمام الحافظ أبی الفضل أحمد بن علی بن الحجر شهاب الدين العسقلانی الشافعی رحمه الله المتوفی سنة ٨٥٢ مكتبة الأثرية باكستان
١٠١	تقريب التهذيب للإمام الحافظ أبی الفضل أحمد بن علی بن الحجر شهاب الدين العسقلانی الشافعی رحمه الله المتوفی سنة ٨٥٢ دار الرشيد، سوريا حلب
١٠٢	تقرير بخاري للشيخ العلام محمد زكريا الكاندهلوي رحمه الله المتوفی سنة ١٤٠٢ مكتبة الشيخ كراتشی

الكتاب	رقم
تلخيص الحبير في تخريج أحاديث الرافعي الكبير، للإمام الحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن الحجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله المتوفى سنة ٨٥٢ مؤسسة قرطبة/دار المشكاة للبحث العلمي	(١٠٣)
تلقيح فهوم أهل الأثر في عيون التاريخ والسير للإمام الحافظ جمال الدين أبي الفرج عبد الرحمن بن علي بن محمد الجوزي رحمه الله المتوفى سنة ٥٩٧ هجري المطبعة النموذجية	(١٠٤)
تهذيب الأسماء واللغات للإمام العلامة الحافظ الفقيه أبي زكريا محيي الدين بن شرف النووي رحمه الله المتوي سنة ٦٧٦ هجري دار الكتب العلمية بيروت	(١٠٥)
تهذيب الكمال في أسماء الرجال للحافظ المتقن جمال الدين أبي الحجاج يوسف المزي رحمه الله المتوفى سنة ٧٤٢ هجري مؤسسة الرسالة	(١٠٦)
تهذيب اللغة للأزهري لإمام اللغة العلامة أبي منصور بن أحمد الأزهري رحمه الله المتوفى سنة ٣٧٠ هجري المؤسسة المصرية العامة للتأليف والنشر	(١٠٧)
جامع الأصول في أحاديث الرسول للإمام مجد الدين أبي السعادات المبارك بن محمد الجزري المعروف بابن الأثير رحمه الله المتوفى سنة ٦٠٦ هجري دار الفكر	(١٠٨)
جامع الترمذي للإمام الحافظ أبي عيسى محمد بن عيسى بن سورة ابن موسى الترمذي رحمه الله المتوفى سنة ٢٧٩	(١٠٩)
حاشية الدسوقي (على الشرح الكبير) للإمام العلام الشيخ محمد بن أحمد بن عرفة الدسوقي المالكي رحمه الله المتوفى سنة ١٢٣٠ هجري دار الكتب العلمية	(١١٠)
حاشية السندي على صحيح البخاري للإمام أبي الحسن نور الدين محمد بن عبد الهادي السندي رحمه الله المتوفى سنة ١١٣٨ هجري قديمي كتب خانه	(١١١)
حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح للإمام العلامة أحمد بن محمد بن إسماعيل الطحطاوي الحنفي رحمه الله المتوفى سنة ١٢٣١ هجري دار الكتب العلمية بيروت	(١١٢)
حجة الوداع وعمرات النبي صلى الله عليه وسلم للإمام المحدث محمد زكريا الكاندهلوي المدني رحمه الله المتوفى سنة ١٤٠٢ هجري الخليل الإسلامي كراتشي	(١١٣)
حلية الأولياء وطبقات الأصفياء للحافظ أبي نعيم أحمد بن عبد الله الإصفهاني رحمه الله المتوفى سنة ٤٣٠ هجري دار الفكر بيروت/دار الكتب العلمية بيروت	(١١٤)
خلاصة الخزرجي (خلاصة تذهيب تهذيب الكمال) للعلامة صفي الدين الخزرجي رحمه الله المتوفى سنة ٩٢٣ هجري مكتب المطبوعات الإسلامي بحلب	(١١٥)
دلائل النبوة لأبي بكر أحمد بن الحسين البيهقي رحمه الله المتوفى سنة ٤٥٨ هجري دار الكتب العلمية/المكتبة الأثرية لاهور/دار الريان للتراث	(١١٦)
رد المحتار للفقيه العلام محمد أمين بن عمر الشهير بابن عابدين رحمه الله المتوفى سنة ١٢٥٢ هجري عالم الكتب/دار الثقافة والتراث دمشق سورية	(١١٧)
رسالة شرح تراجم أبواب صحيح البخاري (المطبوع مع صحيح البخاري) للإمام المحدث الشاه ولي الله رحمه الله المتوفى سنة ١١٧٦ قديمي كتب خانه	(١١٨)
رسائل للفقيه العلام محمد أمين بن عمر الشهير بابن عابدين رحمه الله المتوفى سنة ١٢٥٢ هجري المكتبة الرشيدية كوئته	(١١٩)
روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني للعلامة أبي الفضل شهاب الدين السيد محمود الألوسي البغدادي رحمه الله المتوفى سنة ١٢٧٠ دار الكتب العلمية/دار إحياء الترث العربي	(١٢٠)
زاد المعاد في هدي خير العباد للإمام المحدث شمس الدين أبي عبد الله محمد بن أبي بكر الزرعي الدمشقي المعروف بابن القيم الجوزية رحمه الله المتوفى سنة ٧٥١ هجري مؤسسة الرسالة/مكتبة المنار الإسلامية	(١٢١)
سراج القاري للشيخ عبد الرحيم مد ظله رحمه الله عليه الجامعة القاسمية دار العلوم زكريا جهند	(١٢٢)
سنن ابن ماجه للإمام الحافظ أبي عبد الله محمد بن يزيد الربعي ابن ماجه القزويني رحمه الله المتوفى سنة ٢٧٣ هجري	(١٢٣)

دارالسلام	
سنن الدارقطني للإمام الحافظ الكبير علي بن عمر الدارقطني رحمه الله المتوفى سنة ٣٨٥ هجري دار نشر الكتب الإسلامية لاهور/مؤسسة الرسالة/دار المعرفة بيروت	١٢٤
سنن الدارمي للإمام الحافظ عبدالله بن عبدالرحمان الدارمي السمرقندي رحمه الله المتوفى سنة ٢٥٥ هجري قديمي كتب خانه	١٢٥
سنن أبي داؤد للإمام الحافظ أبي داؤد سليمان بن الأشعث بن إسحاق الأذدي السجستاني رحمه الله المتوفى سنة ٢٧٥ هجري دارالسلام	١٢٦
سير أعلام النبلاء للإمام شمس الدين أبي عبدالله بن أحمد بن عثمان الذهبي رحمه الله المتوفى سنة ٧٤٨ هجري مؤسسة الرسالة	١٢٧
شذرات الذهب في أخبار من ذهب للإمام شهاب الدين أبي الفلاح عبدالحئ بن أحمد بن محمد العكري الحنبلي الدمشقي رحمه الله المتوفى سنة ١٠٨٩ هجري دار ابن كثير	١٢٨
شرح ابن عقيل ألفية (الإمام جمال الدين) ابن مالك للعلامة النحوي بهاء الدين عبدالله بن عقيل العقيلي المصري الهمداني رحمه الله المتوفى سنة ٧٦٩ هجري قديمي كتب خانه	١٢٩
شرح الزرقاني على المواهب اللدنية للإمام محمد بن عبدالباقي بن يوسف الزرقاني رحمه الله المتوفى سنة ١١٢٢ هجري	١٣٠
شرح الزرقاني على المؤطا للإمام محمد بن عبدالباقي بن يوسف الزرقاني رحمه الله المتوفى سنة ١١٢٢ هجري العلمية	١٣١
شرح الزركشي للإمام شمس الدين أبي عبدالله بن عبدالله الزركشي المصري الحنبلي رحمه الله المتوفى سنة ٧٧٢ هجري مكتبة العبيكان/دار الكتب العلمية	١٣٢
شرح الطيبي على مشكاة المصابيح (المسمى ب الكاشف عن حقائق السنن) للإمام الكبير شرف الدين حسين بن محمد بن عبدالله الطيبي رحمه الله المتوفى سنة ٧٤٣ هجري إدارة القرآن والعلوم الإسلامية كراتشي	١٣٣
شرح الكرماني (الكواب الدراري) للإمام العلام شمس الدين محمد بن يوسف علي الكرماني رحمه الله المتوفى سنة ٧٨٦ هجري إحياء التراث العربي	١٣٤
شرح صحيح البخاري (المسمى بفتح الباري) للإمام زين الدين عبدالرحمن بن أحمد بن رجب الحنبلي رحمه الله المتوفى سنة ٧٩٥ هجري دار الكتب العلمية/مكتبة الغرباء الأثرية المدينة المنورة	١٣٥
شرح صحيح البخاري لأبي الحسن علي بن خلف بن عبدالملك ابن بطال البكري القرطبي رحمه الله المتوفى سنة ٤٤٩ هجري دار الكتب العلمية/مكتبة الرشد رياض	١٣٦
شرح لباب المناسك) المسلك المتقسط في المنسك المتوسط على لباب المناسك للإمام السندي رحمه الله للعلامة علي بن سلطان المعروف بملا علي القاري رحمه الله المتوفى سنة ١٠١٤ هجري دار الكتب العلمية بيروت	١٣٧
شرح مشكل الأثار للإمام المحدث الفقيه أبي جعفر أحمد بن محمد بن سلامة الطحاوي رحمه الله المتوفى سنة ٣٢١ هجري مؤسسة الرسالة	١٣٨
شرح المعاني الأثار للإمام المحدث الفقيه أبي جعفر أحمد بن محمد بن سلامة الطحاوي رحمه الله المتوفى سنة ٣٢١ هجري الكتبة الحقانية ملتان/عالم الكتاب	١٣٩
صحيح البخاري للإمام أبي عبدالله بن إسماعيل البخاري رحمه الله المتوفى سنة ٢٥٦ هجري دارالسلام	١٤٠
صحيح الإمام مسلم للإمام الحافظ أبي الحسن مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري النيسابوري رحمه الله المتوفى سنة ٢٦١ هجري دارالسلام	١٤١
صفة الصفوة للإمام العالم جمال الدين أبي الفرج عبدالرحمن بن علي بن محمد الجرزي رحمه الله المتوفى سنة ٥٩٧ هجر دار المعرفة	١٤٢
عارضة الأحوذي للإمام أبي بكر محمد بن عبدالله المعروف بابن العربي المالكي رحمه الله المتوفى سنة ٥٤٣ هجري دار الكتب العلمية بيروت لبنان	١٤٣

١٤٤	إعلام السنن للمحدث الناقد ظفر أحمد العثماني رحمه الله المتوفى سنة إدارة القرآن والعلوم الإسلامية دار الفكر
١٤٥	علل الحديث لابن أبي حاتم للحافظ أبي محمد عبدالرحمان بن أبي حاتم محمد بن إدريس الحنظلي الرازي رحمه الله المتوفى سنة ٣٢٧هجري مكتبة الملك فهد
١٤٦	عمدة القاري للإمام بدر الدين أبي محمد محمود بن أحمد العيني رحمه الله المتوفى سنة ٨٥٥ هجري دار الكتب العلمية/ إدار الطباعة المنيرية
١٤٧	فتح الباري للإمام الحافظ أحمد بن علي بن الحجر العسقلاني رحمه الله المتوفى ٨٥٢ هجري در المعرفة دار الكتب العلمية/ دار السلام
١٤٨	فتح القدير للشيخ الإمام كمال الدين محمد بن عبدالواحد المعروف بابن الهمام الحنفي رحمه الله المتوفى ٨٦١ هجري المكتبة الرشيد كوئته
١٤٩	فتح الملهم شرح صحيح مسلم للعلامة شبير أحمد عثماني رحمه الله المتوفى ١٣٦٩ هجري دار القلم
١٥٠	فضل الباري لشيخ الإسلام العلام شبير أحمد عثماني رحمه الله المتوفى ١٣٦٩ هجري إدارة العلوم الشرعيه بكراتشي
١٥١	فيض الباري على صحيح البخاري للفقيه المحدث الشيخ محمد أنور الكشميري ثم الديوبندي رحمه الله المتوفى ١٣٥٢ هجري دار الكتب العلمية المكتبة الرشيد كوئته
١٥٢	» الكامل في الضفاء للإمام الحافظ أبي أحمد عبدالله بن عدي الجرجاني رحمه الله المتوفى سنة ٣٦٥ هجري دار الكتب العلمية بيروت/دار الفكر بيروت
١٥٣	كتاب الأم للإمام محمد بن إدريس الشافعي رحمه الله المتوفى سنة ٢٠٤ هجري بتحقيق الدكتور رفعت فوزي عبدالمطلب دار الوفاء
١٥٤	كتاب التجريد للإمام المحدث الفقيه أبي الحسين أحمد بن محمد بن جعفر البغدادي القدوري رحمه اله المتوفى ٤٢٨ هجري دار السلام
١٥٥	كتاب الثقات للإمام الحافظ محمد بن حبان بن أحمد بن حاتم التميمي البستي رحمه الله المتوفى سنة ٣٥٤ هجري الموافق سنة ٩٦٥ دار الفكر
١٥٦	كتاب الحجة على أهل المدينة للإمام الحافظ المحدث الفقيه محمد بن الحسن الشيباني عالم الكتب
١٥٧	كتاب الفروع للعلامة الفقيه المحدث شمس الدين محمد بن مفلح المقدسي رحمه الله المتوفى سنة ٧٦٣ هجري مؤسسة الرسالة/دار المؤيد
١٥٨	كتاب المبسوط للإمام شمس الأئمة الفقيه أبي بكر محمد بن أحمد بن أبي سهل السرخي الحنفي رحمه الله المتوفى سنة ٤٩٠ هجري دار الكتب العلمية
١٥٩	كتاب المتفق والمتفرق لأبي بكر أحمد بن علي بن ثابت الخطيب البغدادي رحمه الله، المتوفى سنة ٤٦٣ هجري دار القادري
١٦٠	كتاب المجروحين للإمام الحافظ محمد بن حبان بن أحمد بن حاتم التميمي البستي رحمه الله المتوفى سنة ٣٥٤ هجري الموافق سنة ٩٦٥ دار المعرفة بيروت
١٦١	كشف الباري للشيخ سليم الله خان مدظله المكتبة الفاروقية كراتشي
١٦٢	كشف القناع عن متن الإقناع للشيخ العلامة فقيه الحنابلة منصور بن يونس بن إدريس البهوتي رحمه الله المتوفى سنة ١٠٥١ هجري عالم الكتب الطبعة الأولى سنة ١٤١٧ هجري
١٦٣	كشف المشكل من حديث الصحيحين للإمام الحافظ جمال الدين أبي الفرج عبدالرحمن بن علي بن محمد الجرزي رحمه الله المتوفى سنة ٥٩٧ هجر دار الوطن رياض
١٦٤	كشف المغطا عن وجه المؤطا (حاشية مؤطا إمام مالك) للشيخ أشفاق الرحمان الكاندهلوي رحمه الله قديمي كتب خانه
١٦٥	لسان العرب للإمام العلام أبي الفضل جمال الدين محمد بن مكرم ابن منظور الأفريقي المصري المتوفى سنة ٧١١ هجري إحياء التراث العربي/مؤسسة التاريخ الإسلامي بيروت لبنان/نشر أدب الحوذة قم ايران ١٤٠٥ هجري

١٦٦	مجمع بحار الأنوار للشيخ العلام اللغوي محمد طاهر الصديق الهندي الجراتي المتوفى سنة ٩٨٦ هجري الموافق سنة ١٥٧٨ طبع مطبعة مجلس دائرة المعارف العثمانية بحيدر آباد الدكن الهند
١٦٧	مختار الصحاح للإمام محمد بن أبي بكر بن عبد القادر الرازي رحمه المتوفى سنة ٦٦٦ هجري دار الكتب العلمية بيروت، لبنان
١٦٨	مختصر إختلاف العلماء للإمام المحدث الفقيه أبي جعفر بن أحمد بن محمد بن سلامة الطحاوي رحمه الله المتوفى سنة ٣٢١ هجري دائرة البشائر الإسلامية
١٦٩	مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح للعلامة الشيخ علي بن سلطان محمد بن القاري رحمه الله المتوفى سنة ١٠١٤ هجري دار الكتب العلمية بيروت
١٧٠	مسائل الإمام أحمد بن حنبل برواية ابنه عبد الله بن أحمد أبي الفضل صالح رحمه الله المتوفى سنة ٢٦٦ هجري الكتب الإسلامي / الدار العلمية بهند
١٧١	مسند الحميد للإمام المحدث أبي بكر بن الزبير القريشي المعروف بالحميدي رحمه الله المتوفى سنة ٢١٩ هجري للطاعة والنشر
١٧٢	مسند الإمام الأعظم (أبي حنيفة رحمه الله المتوفى سنة ١٥٠ هجري) برواية المحدث صدر الدين موسى بن زكريا الحصكي رحمه الله المتوفى ٦٥٠ هجري مع تنسيق النظام في مسند الإمام (للعلامة محمد حسن السنبلي رحمه الله) رتبة العلامة محمد عابد السندي رحمه الله المتوفى سنة ١٢٥٧ هجري نور محمد اصح المطابع كراتشي / قديمي كتب خانه
١٧٣	مسند الإمام أحمد بن حنبل للإمام أحمد بن حنبل رحمه الله المتوفى سنة ٢٤١ هجري مؤسسة الرسالة / عالم الكتب
١٧٤	مسند أبي عوانة للإمام الجليل أبي عوانة يعقوب بن اسحاق الاسفرائيني رحمه الله المتوفى سنة ٣١٦ هجري دار المعرفة بيروت لبنان
١٧٥	معارف السنن للشيخ السيد محمد يوسف بن محمد زكريا الحسيني البنوري رحمه الله المتوفى سنة ١٣٩٧ ايچ، ايم، سعيد كمپني
١٧٦	معالم السنن شرح سنن الإمام أبي داؤد رحمه الله لإمام أبي سليمان حمد بن محمد بن الخطابي البستي رحمه الله المتوفى سنة ٣٨٨ هجري طبعه وصححه محمد راغب الطباخ في مطبعة العلمية بحلب
١٧٧	معجم الصحاح للإمام إسماعيل بن حماد الجوهري المتوفى سنة ٣٩٣ هجري دار المعرفة بيروت لبنان
١٧٨	معجم المؤلفين تراجم مصنفي الكتب العربية لعمر رضا كحالة دار إحياء التراث العربي
١٧٩	معجم مقاييس اللغة لأبي الحسين أحمد بن فارس بن زكريا القزويني الرازي رحمه الله المتوفى سنة ٣٩٥ هجري دار الفكر
١٨٠	معرفة الثقات للإمام أحمد بن عبد الله بن صالح الحسن العجلي الكوفي رحمه الله المتوفى ٢٦١ هجري مكتبة الدار المدينة المنورة
١٨١	معرفة الصحابة لأبي نعيم للإمام المحدث العلامة أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن مهران المعروف بأبي نعيم الأصبهاني رحمه الله المتوفى سنة ٤٣٠ دار الوطن للنشر / دار الكتب العلمية بيروت
١٨٢	منال الطالب في شرح طوال الغرائب للإمام مجد الدين أبي السعادات المبارك بن محمد الجزري المعروف بابن الأثير رحمه الله المتوفى سنة ٦٠٦ هجري مطبعة المدني المؤسسة السعودية بمصر
١٨٣	منحة الباري (تحفة الباري) للإمام شيخ الإسلام يحيى بن زكريا بن محمد الأنصاري الشافعي رحمه الله المتوفى سنة ٩٢٦ هجري مركز الفلاح للبحوث العلمية / دار الكتب العلمية بيروت
١٨٤	نيل الأوطار شرح منتقى الأخبار للشيخ الإمام محمد بن علي الشوكاني رحمه الله المتوفى سنة ١٢٥٠ هجري دار الكتب العلمية بيروت لبنان
١٨٥	هدي الساري للإمام الحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن الحجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله المتوفى سنة ٨٥٢ دار السلام رياض
١٨٦	إرشاد الساري للإمام الحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن الحجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله المتوفى سنة ٨٥٢ دار الكتب العلمية / المطبعة الكبرى الأميرية ببولاق مصر المحمية سنة ١٣٢٣ هجري (الطبعة السابعة)

١٨٧	إكمال المعلم بفوائد مسلم للإمام الحافظ أبي الفضل عياض بن موسى بن عياض اليحصبي رحمه الله المتوفى سنة ٥٤٤ هجري در الوفاء للطباعة والنشر/دار الكتب العلمية بيروت
١٨٨	إكما التهذيب الكمال للعلامة علاء الدين مغلطائي ابن قليح بن عبدالله الحنفي رحمه الله ا المتوفى سنة ٧٦٢ هجري، الحديثية للطباعة والنشر
١٨٩	إكمال إكمال المعلم شرح صحيح مسلم للإمام عبدالله محمد بن خلفة الوشنائي الأبي المالكي البخاري المتوفى سنة ٨٢٧ أو ٨٢٨ هجري دار الكتب العلمية بيروت
١٩٠	إيضاح البخاري لشيخ فخر الدين أحمد رحمه الله مكتبة مجلس قاسم المعارف ديوبند يوبي
١٩١	الوافي بالوفيات للإمام الأدب المؤرخ صلاح الدين خليل بن إيبك الصفدي المتوفى سنة ٧٦٤ هجري دار إحياء التراث العربي بيروت لبنان